# د افغانستان د تجارتي قانون معرفي

## دویم چاپ

افغانستان د حقوقي زده کړو پروژه (ALEP)
د سټانفورډ د حقوقو پوهنځی
www.afghanistanlegaleducation.com
afghanistanlegaleducaiton@gmil.com

د سټانفورډ د حقوقو پوهنځی
کرون کوارډرنجل
۵۵۹ نیتن ابوت وي
سټانفورډ، کلیفورنیا، ۸۶۱۰ – ۹۵۳۰۵

**د افغانستان د حقوقي زده کړو پروژه (ALEP)**

**د (افغانستان د تجارتي قانون معرفي) د کتاب د محصلینو لیکوالو نومونه.**

**لیکوال:**

اونا او

راج نارایان

ماکس ریټنګ

سکاټ شایفر

اني سټفنز

الي شوګرمن

**ایډیټران:**

ویل هفنمن

دانیل لویس

نیکولاس مارټینز

**هغه محصلین چې د ۲۰۱۱-۲۰۱۲ کلونو په اوږدو کې یې د افغانستان د حقوقي زده کړو د پروژې (ALEP) غړیتوب درلود:**

کاترین بې لین

ویل هیفمن

جیمز(جک) کلونوسکي

نیکولاس مارټینز

جي مینګا

انګریډ پرایس

جولین سیم کوک

**هغه محصلین چې د ۲۰۱۰-۲۰۱۱ کلونو په اوږدو کې یې د افغانستان د حقوقي زده کړو د پروژې (ALEP) غړیتوب درلود.:**

سټفاني احمد

رُز لیدا ایهلر

الیزابت سپینوزوا

جن فارینګټن

ګابریل لدین

دانیل لوبس

نیکولاس ریډ

**هغه محصلین چې د ۲۰۱۰-۲۰۰۹ کلونو په اوږدو کې یې د افغانستان د حقوقي زده کړو د پروژې (ALEP) غړیتوب درلود:**

ایوان برکوبسټ

مورګان ګالنډ

سټیفني کوسنل هنډلر

مایکل سولمېر

**هغه محصلین چې د ۲۰۰۸-۲۰۰۹ کلونو په اوږدو کې یې د افغانستان د حقوقي زده کړو د پروژې (ALEP) غړیتوب درلود.:**

اونا او

راج نارایان

ماکس ریټنګ

سکاټ سکایفر

**هغه محصلین چې د ۲۰۰۷-۲۰۰۸ کلونو په اوږدو کې یې د افغانستان د حقوقي زده کړو د پروژې (ALEP) غړیتوب درلود.:**

السکنډر بنارد

جسون برګ

بنیامین جوسلوف

انی سټفنز ال لوبډ

| | |
|---|---|
| | الی شوګرمن<br>جيوفري سونسن |

**د افغانستان د حقوقي زده کړو د پروژې** (ALEP) **لپاره د پوهنتون سلاکاران:**

پروفيسر اريک جنسن

ډين لاري کرامر

**د افغانستان د حقوقي زده کړو د پروژې (ALEP) مافوق دوکتورا همکاران**

ټېلر سټريک لينګ (2011)

بريټان هېلر(2010)

حميد محمد خان (2009)

بنيامين جوسلوف (2008)

# لړليک


لومړی څپرکی  تجارتي قانون او اقتصادي وده ........ 1
۱. سريزه ........ 1
۲-د افغانستان عمومی اقتصادی وضعيت ........ 2
الف. د افغانستان محصولاتو ته يوه لنډه کتنه ........ 3
ب. وروستي اقتصادي اصلاحات ........ 4
ج. د افغانستان مارکيټونه (بازارونه) ........ 5
د. په افغانستان کې د سوداګرۍ پيلول ........ 6
۳- اسلامي تجارتي قانون ........ 10
۴- تجارتي قانون او اقتصادي پراختيا ........ 14
الف د ناقص تجارتي قانون نښې ........ 15
ب. تجارت او د هغې د حقوقی تنظيم تکامل ........ 17
۵ - د څپرکي لنډيز (پايله) ........ 25
اصطلاحات ........ 26
ماخذونه او سرچينې ........ 28
دويم څپرکی: په افغانستان کې د تجارتي قانون تاريخ ........ 29
۱ -سريزه ........ 29
۲ - پخوانی تجارت، سوداګري او قانون ........ 30
الف. له درانيانو وړاندې پېر (۱۷۴۷-۱۶۰۰) ........ 30
ب. دراني پېر (۱۷۴۷- ۱۸۰۰ز) ........ 31
۳ -د افغانستان د حکومت ثبات او تحکيم ........ 32
الف. امير عبدالرحمن خان (۱۹۱۹-۱۸۸۰) ........ 32
ب. د شلمې پېړۍ لومړي کلونه او امان الله خان ........ 34
۴ -د اوسني سيستم جوړېدنه ........ 36
الف. نادرشاه ........ 36
ب. ملي بانک، د افغانستان بانک او د افغانستان د مالي سکتور زېږېدنه ........ 37
ج.۱۹۴۰ او ۱۹۵۰ کلونه ........ 41
د. د ۱۹۶۴ کال اساسي قانون او ورپسې حقوقی اصلاحات ........ 45
هـ د مالي سکتور په وړاندې پراته خنډونه ........ 49
و. انقلاب او کورنی کړکيچ (۲۰۰۱-۱۹۷۳) ........ 56
۵ - د څپرکي لنډيز (پايله) ........ 62
اصطلاحات ........ 63
ماخذونه او سرچينې ........ 64
دريم څپرکی: په اوسني افغانستان کې د سوداګرۍ قانون ........ 66
۱ -سريزه ........ 66

۲ - په افغانستان کې حقوقي پلوراليزم او د تجارتي قانون سرچينې ........ 66
۳ - په افغانستان کې د سوداګرۍ رسمي سيستم ........ 70
الف- اساسي قانون ........ 70
ب- تصويب شوی قانون (قانون مدون( ........ 70
ج. اجرايوې برخه ........ 75
د-قضايي برخه ........ 81
هـ د قانون جوړونې ځانګه ........ 85
و. د ا فغانستان بانک ........ 86
ز. د افغانستان د پانګونې د ملاتړ اداره ((AISA ........ 87
۴ - په افغانستان کې غير رسمي اقتصاد سيستم ........ 88
الف. د حوالې له لارې بانکوالي ........ 89
ب. د غير رسمي اعتباري معاملاتو (CREDIT) کړنلارې ........ 91
۵ –د څپرکي نتيجه ګيري ........ 93
اخځليکونه ........ 94
څلورم څپرکی: قراردادونه ........ 94
۱ -سريزه ........ 96
۲ - په افغانستان کې د قراردادونو د حقوقوسرچينې ........ 97
الف  د افغانستان حقوقي نظام ته يوه لنډه کتنه ........ 97
ب: د واک د مراتبو سسلسله ........ 97
ج: د ۱۹۵۵ ز کال د تجارت اصولنامه: د کارولو بريدونو ته يې يوه لنډه کتنه ........ 98
د. د ۱۹۷۷ ز کال مدني قانون: د نوموړي قانون د کار او پلي کېدو کچې ته يوه لنډه کتنه ........ 100
۳-د قراردادونو دحقوقو کليدي مفاهيم ........ 101
الف قرارداد څه ته ويل کيږي؟ ........ 101
ب: يو قرارداد څنګه کولای شي د تړون بنه ځان ته غوره کړي؟ ........ 103
ج: د قرارداد د ابهام او يا نيمګړتيا له امله کومې ستونزې منځ ته راځي؟ ........ 109
د: هغه حقوق او مکلفيتونه چې له تړون څخه پيداکيږي، څنګه کيدای شي له اصلي متعهد څخه بل لوري ته منتقل شي؟ ........ 112
هـ کله چې له يوه قراردادسرغړونه کيږي، موږ بايد څه وکړو؟ ........ 114
۴ - په افغانستان کې د قراردادونو دحقوقو واقعيتونه ........ 117
الف: د قراردادونو په اړه د افغانستان قانون ........ 118
۵ - د وکالت د مهارتونو او وړتياوو کارول: د ګمارنې قرارداد ........ 123
۶ - د حکومت قراردادونه او د تدارکاتو قانون ........ 127
۷ - د څپرکي لنډيز (پايله) ........ 129
اصطلاحات ........ 131
اخځليکونه ........ 134
پنځم څپرکی: سهامي شرکتونه ........ 135

۱ - سریزه ........ 135
۲ - د شرکتونو د قانون سرچينې ........ 136
۳ - د استازيتوب (نمايندگۍ) قانون. ........ 139
الف د استازيتوب (نمايندگيو) او د استازيتوب د قانون د لګښتونو پر سر عايد. ........ 139
ب: د نمايندګۍ منځ ته راتګ او د استازي دندې. ........ 140
ج: د دريېم لورى په وړاندې د مالک مسووليت ........ 141
۴ - د سودا ګرۍ(بېزنس) د شکلونو بيا کتنه ........ 142
۵ - د شراکت قانون. ........ 144
الف د مشراکت رامنځ ته کېدل ........ 144
ب: د شراکت حقوق او مکلفيتونه ........ 147
ج: د مشارکت انحلال او د حسابونو تصفيه ........ 150
۶ - د محدود المسووليت او سهامي شرکتونو قانون ........ 152
الف د يوه حقوقي ايتلاف عنصرونه. ........ 153
ب: قانون د نمايندګيو د لګښتونو د کچې د را ټيټولو په برخه کې څه ډول هڅې کوي؟ ........ 163
ج: انحلال ........ 175
۷ - نتيج ګيري: د شراکتونو د قانون ارزونه ........ 175
۸ - د مهارتونو عملي کارول: کورنۍ کار ........ 177
اصطلاحات ........ 179
اخځليك ........ 182
شپږم څپرکی: تضامني راکړې ورکړې ........ 183
۱ - سريزه ........ 183
۲ - د افغانستان د تضامني راکړو ورکړو (معاملو) قانون ته يوه لنډه کتنه ........ 184
۳ - د تضامني معاملو له قانون څخه يو شمير کليدي اصطلاحات او تعريفونه ........ 185
۴ - د تضامني راکړې ورکړې بنسټونه ........ 188
۵ - د يوې تضامني معاملې عنصرونه ........ 189
الف د تضامني لګښت پرانېستل او ايجاد ........ 189
ب: د تضامني لګښتونو بشپړېدل ........ 190
ج: د تضامني لګښتونو ترمنځ د لومړيتوب د حق ټاکل ........ 193
د: د وثيقې لاس ته راوړل: د پور په بيا ورکړه کې د پوروړی د کمې. ........ 195
ج: د تضامني معاملې په اجراء او پلي کېدو کې د محکمو رول ........ 203
۶ - د تضامني معاملو د يوه اغيزمن او وتلي رژيم کليدې موخې ........ 204
۷ - شپږم څپرکي نتيجه ګيري ........ 208
اصطلاحات ........ 209
اخځليکونه او سرچينې ........ 210
اووم څپرکی: د مالياتو قانون ........ 211

١ -سریزه: ....................................................................................................................... 211
٢ -په افغانستان کې پر عایداتو مالیه: ................................................................................. 212
الف تاریخچه: .................................................................................................................... 213
ب: عایداتي سرچینې او د مالیې ورکولو وړ اشخاص: ....................................................... 213
ج: دمالیې عاید (:TAXABLE INCOME) ......................................................................... 215
د: مالیات او نرخونه ........................................................................................................... 219
هـ: مالیه راټولونه ............................................................................................................... 226
و: ارزونه (پایله) ................................................................................................................ 233
٣ -په افغانستان کې گمرکي عوارض ................................................................................... 234
الف: د گمرکونو تاریخچه او ستونزې ................................................................................ 235
ب: د گمرکاتو تشکیل او کړنلارې ...................................................................................... 236
ج: د گمرکي عوارضو محاسبه ........................................................................................... 240
د: له قانون څخه د تخلفاتو لپاره مجازات/جریمې ............................................................. 242
هـ: د استیناف غوښتنې بهیر ............................................................................................. 244
٤ -د مالیاتو نور ډولونه ........................................................................................................ 244
الف پر شتمنۍ مالیه/د شخصي جایداد مالیه ...................................................................... 244
ب: په غیرمنقول عاید مالیه ................................................................................................ 245
ج: په داخلي اجناسو مالیه ................................................................................................... 246
٥ -د مهارتونو عملي کارونه: کورنۍ دنده ............................................................................ 247
اصطلاحات ......................................................................................................................... 249
ماخذونه او سرچینې ............................................................................................................ 251
اتم څپرکی: د افغانستان مالي نظام او د هغه اړوند قوانین ................................................... 252
١ -سریزه ............................................................................................................................ 252
٢ -د مالي سیستم بنسټیز مفاهیم .......................................................................................... 253
الف: د سپما فعالیت ............................................................................................................ 254
ب: د ثروت او مالدارۍ د تولید فعالیت ............................................................................... 254
ج: د نغدیې جوړنې فعالیت: ((LIQUIDITY FUNCTION ................................................... 254
د: د اعتبار یا کړېډېټ فعالیت ( (CREDIT FUNCTION ..................................................... 254
هـ: د ورکړې( تادیې) فعالیت .............................................................................................. 255
و: له گواښ څخه د مخنیوي فعالیت ................................................................................... 255
ز: د پالیسۍ جوړولو فعالیت ............................................................................................... 255
٣ -د بانکدارۍ قانون ........................................................................................................... 256
الف: سریزه ........................................................................................................................ 256
ب: مرکزي بانک ................................................................................................................ 257
ج: تجارتي بانک ................................................................................................................. 260

۴- د ماتې( افلاس) قانون ........................................................................................ 268
۵ -د رسمي پور ورکولو سیستم د غیري رسمي سیستم پر وړاندې........................................ 269
اصطلاحات ........................................................................................................ 272
مأخذونه او سرچینې ................................................................................................ 274

## بسم الله الرحمن الرحيم

# د پيل خبرې

افغانستان، اوس مهال، د يوه حساس انتقالي پړاو څخه تيريږي. افغان ولس اوس د ټولنې او د هيواد د بيا جوړونې ستره دنده مخ پر وړاندې لرې. دغه ننګونه، که څه هم ويرونکې ده، خو د افغانستان د ځوان نسل لپاره دا زمينه برابروې چې د خپل هيواد د راتلونکې مشرانو په توګه د يو تاريخې او مثبت بدلون لامل وګرځي. که غواړو چې له دې فرصته څخه ګټه پورته شي نو پکار ده چې د افغانستان بشرې ځواک په سملاسې توګه ورغول شي او پياوړې کړې شي. په افغانستان کې په لسيزو اوږدو جګړو او شخړوکې نه يواځې دا چې ددې هيواد زيربناوې ويجاړې شوې دي بلکې هغه بنسټونه چې د راتلونکې مشرتابه په روزلو کې مهم رول لري هم په پراخه کچه له پراختيا او ودې وروسته پاتې شوې دي. هم له دې کبله ده چې دا هيواد اوس د مدافع وکيلانو/حقوقپوهانو له خورا ډېرسخت کمښت سره مخ دی. دغه کمښت د هر بل وخت په پرتله د انتقال په دې مهم پړاو کې ډېر احساس کيږي؛ ځکه چې د افغان دولت په بيا جوړونه کې د مسلکې مدافع وکيلانو ونډه خورا مهمه ده.

دغه اړتياوو ته په ځواب کې، د ۲۰۰۷ کال په مني کې د ستانفورد د حقوقو د پوهنځي له خوا د افغان پوهنتونو سره د نويو مدافع وکيلانو د روزلو په برخه کې د مرستې په موخه، د دغه پوهنځي د محصلينو په نوښت د افغانستان د حقوقي زده کړو پروژه پيل شوه. څېرنه، ليکل، او د ښه کيفيت لرونکې حقوقې نصابې کتابونو چاپول، او همدا رنګه د افغانستان په امريکايې پوهنتون کې د شته لوړې کچې حقوقې نصاب ته نوره پراختيا ورکول، د افغانستان د حقوقي زده کړو پروژې اهداف او کارې ساحه تشکيلوي. د افغانستان د حقوقي زده کړو پروژې پراخه لرليد د افغانستان د راتلونکې لپاره د داسې مشرانو په روزلو متمرکز دی څوک به چې د دې هيواد په بيا جوړونه او پر خپلو پښو درولو کې کارنده ونډه ولرې.

د افغانستان د حقوقي زده کړو پروژه (ALEP) غواړي له هغو وګړو او بنسټونو څخه مننه وکړي چې ددې پروژې پلې کول يې ممکن کړه. د پوهنځې څخه د افغانستان د حقوقي زده کړو پروژې سلاکاران ښاغلی اريک جنسن ( د سټانفورډ د حقوقو په پوهنځې کې د قانون د حاکميت پروګرام ګډ ريس ) او ښاغلی ليری کريمر(د سټانفورډ د حقوقو د پوهنځې ريس). د افغانستان د حقوقي زده کړو پروژه د امريکا د بهرنيو چارو وزارت د مخدره توکو پر وړاندې د مبارزې څانګې د درې کلنې مالي مرستې په ګډون د بيلابيلو خصوصي او عامه سرچينو څخه د پام وړ مرستې ترلاسه کړې دی. همدارنګه، د (ALEP) ډله د سټانفورډ پوهنتون جنرال قنسول او په افغانستان کې د امريکايي پوهنتون د امينه هيأت غړې اغلې ډيبورا زوموالټ د ملاتړ څخه هم ډيره مننه کوی. د افغانستان د حقوقي زده کړو پروژه (ALEP) د افغانستان د امريکايي پوهنتون سره د خپلو ګډو همکاريو په دوام باندی خوښې ښيې، او په ځانګړې توګه ددغه پوهنتون د رئيس ښاغلي ډاکټر مايکل سمېت او ددغه پوهنتون د حقوقو، سياسي او اجتماعی علومو د ډيپارټمنټ آمرآغلی ډاکټر بهار جلالي له مرستو څخه مننه کوی. په پاې کې، همدارنګه بايد وويل شي چې دغه کتاب په هيڅ ډول د آغلې ملالی واصل له ريښتينو هڅو او انګيزې پرته، چې ددغه پوهنتون له پيل راهيسې تر اوسه سوداګريزې حقوقي زده کړې تدريسوي، نه شوای رامنځ ته کېدای.

اريک جنسن – پالو التو، کليفورنيا – جون، ۲۰۱۱

# لومړی څپرکی: تجارتي قانون او اقتصادي وده

## ۱- سریزه

له هغه راهیسې چې په اتلسمه پېړۍ کې افغانستان د یوه آزاد هېواد په توګه راڅرګند شوی، سوداګری او تجارت د دی هیواد ستره عایداتی منبع پاتی شوی ده. افغانستان د هغه لویو تجارتی لارو د تقاطع په نقطه پروت دی چې آسیا یی له اروپا سره نښلوله او د نړی پر تاریخ یی اغیزی هر چاته څرګند دی. د ورېښمو افسانوي لاره نېغ په نیغه له افغانستان څخه تیرېده اود هغه کاروانونو لپاره چې له چین، هندوستان او د عرب ټاپو وزمې څخه به یې بیلابیل **توکي** راوړل، ترټولو غوره لار وه.

دا چې افغانستان د درې لسیزو د خونړی جګړی څخه د خلاصون په لور ګام اخلي، سوداګري او تجارت یوځل بیا ددغه هیواد د روښانه راتلونکي لپاره مهم ګڼل کیږي. اقتصادي پراختیا به په افغانستان کی د ثبات، سولې او هوساینې په رامنځته کولو کې مرسته وکړی. خو اقتصادي وده په تشه (خلا) کی نه رامنځته کیږي او تر ډېره حده په یو هیواد کی د قانون د واکمنی پر پلی کیدو پوری اړه لري. د خپلواکو محاکمو او د یو واضح او اغیزمن حقوقی چوکاټ شتون د سوداګرۍ د غوړېدو لامل ګرځي او په هېواد کې اقتصادي وده تشویقوی؛ په ځانګړی توګه تجارتی قوانین او بنسټونه،چې د تجارتی معاملو په تنظیم کی مهم رول لری، د تلپاتی اقتصادي ودې لپاره اړین ګڼل کیږی .

سوداګریز قوانین او بنسټونه د تجارانو او شرکتونو څخه ملاتړ کوی او هغوی ته دا ورتیا وربخښی چې خپله سوداګري پراخه کړي، له یوبل سره سیالي وکړي، خپل منځي شخړې هواری کړي، بازارونو ته لاس رسی پیدا کړي اوپه اسانی سره سوداګریز فعالیتونه ترسره کړي. یو ښه تجارتي قانون د ځمکو خاوندانو ته دا وړتیا ورکوي چې د خپلې شتمنی څخه پوره پوره ګټه واخلي. پدی برسیره، یو ښه تجارتی قانون نه یواځی دا چې بانګی ته لاس رسی اسانه کوي او د شرکت د ثبتولو پروسه ساده کوي، بلکی د قراردادونو پلی کیدنه او د پورونو بیرته اخیستنه هم تضمینوي. د سوداګریزو قوانینو ترڅنګ، د ښو بنسټونو شتون هم اړین دی؛ ځکه چې غیر منطقی او غیرمؤثره بیروکراسي او همدارنګه غیرمعقول اداري لګښتونه او په پراخه کچه د فساد او بډو شتون په ټوله کې د تجارتي قانون د پلی کېدو مخنیوی کوي. پراخ-بنسټه اقتصادي پراختیا، د قاضیانو، محکمو، د رسمي ثبت دفترونو، مدافع وکیلانو، خصوصی سکټور، او غیردولتی سازمانو(NGOs) په څیر د بیلابیلو کسانو او بنسټونو شتون ته اړتیا لري.

دغه څپرکی له نظري او عملي اړخه، د تجارتي قانون او اقتصادي پراختیا ترمنځ اړیکی څیړي. څپرکی د افغانستان د لویې اقتصاد د شاخصونو په ګډون د دغه هیواد د عمومي اقتصادي وضعیت په باره کی په یوه لنډه ارزونه پیلیږي. ورپسی په افغانستان کې د سوداګریز چاپېریال په اړه یو تحلیل وړاندی کیږی. همدارنګه، بیا دغه څپرکی د اسلامي سوداګرۍ قانون–چې پربنسټ یې له پیړیو راهیسې په افغانستان کې د راکړې ورکړې معاملې کیږي–په عمومي توګه ارزوي. د څپرکي دویمه برخه د قانون د واکمنی او اقتصادي ودې ترمنځ د اړیکو پر مساله تمرکز کوی او د یو هیواد په اقتصادی پراختیا کی د تجارتی قانون او بنسټونو رول ته کتنه کوي.

**مهم تعریفونه – د تجارت د قانون تعریف څه دی؟**

سوداګري د توکو او خدماتو راکړې ورکړې ته وایي چې د پیسو او یا نور توکو او خدماتو په مقابل کی ترسره کیږي. د تجارت قانون له هغو پراخو حقوقي مقرراتو څخه عبارت دي چې د یوه هیواد پر سوداګریزو اړیکو او راکړې ورکړې حاکم وي. قراردادونه، د شرکتونو جوړول او له منځه وړل، د جایداد پیر او پلور، بانکي معاملې، د پورونو او ضمانت مسایل، مالیاتي مسایل او همدارنګه سوداګریزې شخړو هواری د دی قانون محتوا جوړوی. د سوداګرۍ قانون د یوه هیواد د حقوقي جوړښت عمده برخه جوړوي.

**د مطالعې تمرکز**

د تجارتي قانون موخې څه دي؟ د قانون کوم مواد د سوداګريز فعاليتونو د تر سره کولو لپاره ډېر مهم ګڼل کيږي؟ ايا د اقتصادي ودی لپاره له د سوداګری حقوقی تنظيم اړين دي؟ او کومه غوره لاره شتون لری چی په بازار کې د بيلابيلو سوداګرو د منافعو تر منځ يو تعادل رامنځ ته کړي؟

## ۲- د افغانستان عمومی اقتصادی وضعيت

د افغانستان اقتصاد په چټکی سره پرمخ روان دی. هغه سوداګريزې معاملې چې افغان سوداګر يې ترسره کوي، ورځ- په ورځ لاپسې پېچلې کيږي. د سوداګری پراختيا تجاران دی ته اړباسی چی له خپل کور، کلی ، او قوم څخه د باندی د نورو بيګانه اشخاصو سره معامله وکړي. کورنی اړيکي او شخصي اعتبار- چی په دوديز ډول يی پدی هيواد کی سوداګريزی چاری کنټرول کړي دي- د هغه لويی پيچلو تجارتی معاملو د ترسره کولو لپاره چی ډير ښارونه او سيمی تر خپل پوښښ لاندی راولی، مناسب او موزون نه بريښي.

لکه څرنګه چی د افغانستان اقتصاد پرمختګ کړی دی، هم هغسی د دی هيواد تجارتی قانون هم پرمختګ کړی دی. په واقعيت کی د افغانستان حقوقي تجارتي سيستم لاهم د بيارغاونې په لومړي پړاونو کې قرار لري. په ۲۰۰۴ کال کې د افغانستان د اساسي قانون له تصويبيدو راهيسی، د سوداګری په برخه کی يو سلسله نوي قوانين جوړ شوي دي او يو سلسله نور د جوړيدو په حال کی دي. که څه هم ددی قوانينو تطبيق محدود پاتی شوي دي. تجارتی محاکم او دولتی ادارات په خپلو پريکړو کی تر ډيره په عرفي کړنو يا زړو قوانينو تکيه کوي. په زياترو مواردو کې، افغانان خپلې سوداګريزې شخړې د جرګو او شوراګانو په څيرد غير رسمي چينلونو له لارې حل کوي؛ ځکه چې ددی هيواد د رسمي سيستم له لارې د تجارتی قوانينو عادلانه او ډاډمن تطبيق لاهم د يوې جدي ستونزې په توګه پخپل ځايی پاتی ده.

افغانستان د ازاد بازار او يوه فعاله خصوصی سکټور اوږد تاريخ لري. له شک پرته، د يوه داسې سوداګريز چاپيريال رامنځته کول چې په کې د افغانستان سوداګريز فعاليتونه يوځل بيا پراختيا ومومي، په ټول هيواد کی د امنيت په تامين او همدارنګه په سياسی ثبات پورې اړه لري. د سوداګری د پراختيا لپاره بل مهم شی د يو داسی پياوړی قضايی سيستم رامنځ ته کول دي چی وکولی شي په اغيزمنه توګه قوانين او مقررات پلی کړي. د يو ساده، شفاف، او عادلانه حقوقی تجارتی چوکات د رامنځ ته کولو پرته، د خصوصی سکټور تقويه يو ناشونی کار دی.

دداسې قوانينو او مقرراتو جوړول او تطبيقول چې وکړای شي يو د باور وړ او کارنده سوداګريز چوکاټ رامنځته کړي، د افغانستان د راتلونکې لپاره مهم دی. دغه څېرکی، تجارتي قانون تعريفوی، بيلابيل اړخونه يې شرحه کوي او د تجارتي قانون او اقتصادي ودی ترمنځ پر اړيکه ځانګړی تمرکز کوي. همدارنګه، دغه څپرکی د تاريخ په اوږدو کی سوداګريز پرمختګونه او د هغوی د تنظيمولو په لارو چارو باندی رڼا اچوي. دغه څېرکی په راتلونکو څپرکو کی په تجارتی قانون کی د ځينی مشخصو موضوعاتو په هکله په تفصيل سره د بحث لپاره نظری اساس هم وړاندی کوي.

درې لسيزې جګړې او همدارنګه وچ کالي او نورو طبيعي ناورينونو د افغانستان اقتصاد ډير سخت زيانمن کړی دی. دغه هيواد د بل هر ځای په پرتله تر ټولو ټيټ **د سړی سر ناخالصو کورنی محصولاتو** په درلودلو سره د نړی تر ټولو زيات بی وزله هيوادونو په ډله کی ځای نيسي. د پرله پسې جګړو او شخړو په پايله کې، دا مهال افغانستان د لاندی ستونزو سره مخ دی: (1) **د بشري ځواک کمښت**- ځکه چی د جګړو په ترڅ کی ګڼ شمير خلک خويا مړه او ټپيان شوي دي او يا بيا هم له هيواده تښتيدلی دي؛ (2) **د مسلکی کدرونو کمښت** ــ ځکه چې زده کړه کمه ده او د هيواد لوستي کسان له هيواده وتلي دي؛ (۳) **زيانمن شوي يا د کاره لويدلی زيربناوی** ــ ددغه هيواد ډېری زېربناوې لکه د اوبو لګولو سيستم، د سړکونو شبکې او د لېږد رالېږد زېربناوې او د برېښنارسول او داسې نور ويجاړ شوي او د ګټې اخيستو نه دي ؛ او (۴) **د څمکو کمښت** ــ د شلخي مايونو د شتون او د جايداد پر سر د شخړو له کبله، ډېره لږ ځمکه د لاسرسي وړ ده. پدی سربيره جنګ جګړو پرتولنيزې پانګونې' هم خپل منفي

اغيز شيندلی دی، د بېلګې په ډول: دولتي اداره او د قانون واکمنی يی کمزوري کړي دي. په واقعيت کی د جنګ جګړو له امله افغانستان د دری لسيزو څخه زيات وخت د لاسه ورکړی چی کولی يی شو پدغه دوران کی د نورو هيوادونو په څير اقتصادی پرمختګ وکړي.

## الف. د افغانستان محصولاتو ته يوه لنډه کتنه

د افغانستان اقتصاد لا اوس هم تر ډيره حده په کرنی اتکا لري. د کرنيز سکټور محصولات لږ دي او په ډېر مشکله د يو کورنی لپاره بسنه کوي. د غلو دانو کرنيز حاصلات (معمولاً غنم) په دغه هېواد کې ډېر دود دي. د غلو دانو نور ډولونه او سبزيجات لکه انار، زردالو، او بادام هم ډېره ګټه لري او د افغانستان د بالقوه صادراتي محصولاتو په ډله کې راځي. ددې ترڅنګ، د افغانستان د مالداری سکټور هم د شيدو، غوښې او وړيو په څېر محصولات رامنځته کوي. ددغه هېواد تر ټولو جنجالي محصول کوکنار دي، چې د هېواد د کورنی ناچاړ شوو توليداتو لويه برخه جوړوي. که څه هم د افغانستان معدنی زيرمی لاتر اوسه پوری په پوره او سمه توګه ندی استخراج شوي، خو دغه هيواد د معدني سرچينو له اړخه بډايه هيواد دی چې د مسو، سکرو، ساختماني موادو او قيمتي ډبرو لويی لويی زيرمی پکی شتون لري. همدارنګه، په دغه هېواد کې د اوسپنې او سرو زرو لوېې زېرمې شته، چې تر اوسه ترې هېڅ ګټه اخيستل شوې نه ده. په دغه هيواد کې لويو صنعتي او توليدي کارخانو هم وده نه ده کړې او د ۱۹۷۰مې لسيزې په پای کې چې کومې کارخانې وې – چې زياتره يې دولتي وې–اوس يا له کاره لوېدلې او يا هم ډېر کمزوری فعاليت کوي. زياتره توليدي مصنوعات د هغو فعاليتونو پايله ده، چې د کرنې له سکتور سره تړاو لري، لکه کيميايي سره يا لاسي صنايع. د افغانستان د برېښنا سکټور ډېر لږ ظرفيت لري؛ افغانستان د ډېرې برېښنا د راواردولو توان نه لري او همدارنګه دغه هيواد د بريښنا د توليد او توزيع په برخه کی هم خپله ډيره لږه وړتيا ښودلی ده.

سوداګريز **خدمتونه** ډېر مهم دي او تر ډېره بريده په ګاونډيو هېوادونو کې د سختو تجارتي قوانينو او مقرراتو د شتون له کبله چی د غير رسمی تجارت په ځانګړي توګه د قاچاق لامل ګرځي، تشويق کيږي. د افغانستان مالي سکتور تقريباً په بشپړه توګه د غير رسمي اقتصادي سکتور په انحصار کی دی او مالي خدمتونه د *حوالو* له لارې ترسره کيږي. داسی هيلی هم شته چی د افغانستان اقتصادی بيارغاونه به د مالی خدمتونو ترلاسه کولو تقاضا نوره هم پسی زياته کړي. د افغانستان اقتصاد بايد د ټولو توليداتو او توليدي بهير له منځه چې په افغانستان کې شته يا بايد شتون ولري، يواځې هغه توليدات او صنعتونه ته پام وکړی چی ډېر باارزښته دي. د غاليو صنعت يو له هغو مهمو صنعتونو څخه دی چې جنګ جګړو پری دومره منفی اغيز کړی نه دی.په تقاضا باندی د سلا په ورکړه او ځينی وختونه بيا د خام موادو او پانګی په برابرولو سره، سازمان شوي تجاران پدی توانيدلي چی په تير ديرش کلونو کی خپل تجارتونه فعال وساتي او ور ته ادامه ورکړي. د تيرو کلونو تجربی که څه هم ګټوری دي، خو دغه تجارب پانګوالو يا دولت ته د بالقوه برياوو په اړه کوم ډاډ نشي ورکولی. د بيلګې په ډول، د کليفورنيا وچو ميوو د هندوستان د بازار يوه لويه برخه خپله کړې ده، په داسې حال کې چې دغه بازار په تير کې د افغانستان د وچو ميوو اصلي ځای ؤ. اوس کليفورنيا د دغه بازار لپاره د ميوو بيلا بيل ډولونه چی د هند د خلکو د ذوق سره سمون خوري او د وچو ميوو لپاره د تداوی په وړاندی کولو سره پدغه بازار کی د يو ډول تکنالوژيکی برتري څخه برخمند شوی دی.

د افغانستان د اقتصادي جوړښت يوه اصلي ځانګړنه ددغه هېواد پر ټولو بازارونو باندی د غير رسمي سکتور تسلط دی. د بيلګې په توګه: د بريښنا ډير مقدار په غير رسمي سکتور کې د کوچني جنراتورونو له خوا توليديږی او عرضه کيږی؛ د دغه بريښنا مقدار په دولتی دستګاوو کی د توليد شويی بريښنا د مقدار څخه زيات دی. ډېری کارپوهان داسی اټکل کوي چې په افغانستان کې له ۸۰ تر ۹۰ سلنې پورې اقتصادي فعاليتونه په غير رسمي سکټور کی ترسره کيږي او پدغه هيواد کی اوسنی اقتصادی وده هم تر ډيره حده د دغه سکټور د فعاليتونو پايله ده.

د رسمی سکټور مشخصات توضيح کول نسبتاً اسانه کار دی، ولی خو د غير رسمی سکټور توضيح چی پکی ډيری بيلابيل اقتصادي فعاليتونه ترسره کيږی، نسبتاً ګرانه کار دی. رسمی سکټور عبارت دی له هغه تجارتونو او شرکتونو چی د دولت سره ثبت وي ؛ پدی برسيره پخپله دولت هم د رسمی سکټوريوه برخه تشکيلوي. همدارنګه، په دغه سکتور کې هغه اقتصادي فعاليتونه هم شامل دي چې په حکومت کې ثبت دي، خو د ماليي د ورکړی معاف شوي دي، د بېلګې په توګه: نادولتي سازمانونه. د رسمی سکټور د باندی يو لړ نور فعاليتونه شتون لري چی لږ يا ډېر قانوني

دي.

په دغه هېواد کې ګڼ اقتصادي فعالیتونه پر 'ډول یا نوع' ولاړ دي، چې په اقتصادي مارکېټ کې د سوداګرۍ راکړې ورکړې لامل نه کېږي او یا هم د 'جنس په جنس' بنسټ پر مخ ځي. مزارعه–هغه اقتصادي معامله ده چې په کې کروندګر دا توافق کوي چې د خپل درمند یوه برخه له ځمکې د ګټې اخیستو په بدل کې د ځمکې څښتن ته ورکړي، چې دا د نوع یا In-Kind اقتصادي فعالیت یوه برخه ده. د قانوني چوکاټ څخه د باندې معاملې عبارت له هغه معاملو دی چې محصول یې قانوني وي، خو تولید یې یواځې هغه وخت قانوني کېدلی شي که چیرته د دولت سره په ثبت ورسیږي. دا ډول راکړه ورکړه معمولاً د کوچنۍ کچې وي او د صرافانو، د کوچنۍ هټیو او تجارانو، د وړو تولیدی فابریکو، او همدا رنګه د کرنې، او ساختماني سکټور فعالیتونه پکې شاملیږي. د دې ترڅنګ په افغانستان کې یو شمیر ناقانونه اقتصادی کړنې چې په ناقانونه توګه استخراج شوې معدني توکو د تجارت څخه واخله بیا تر افیونو د تولیده پورې فعالیتونه پکې شتون لري، هم ترسترګو کیږي؛ د بیلګې په توګه: د پنجشیر له درې څخه د زمردو قاچاق یا له چهارتراش لرګیو څخه غیرقانوني ګټه پورته کیدنه.

په افغانستان کې د **غیر رسمي** اقتصاد پراخه لمن نه یواځې دا چې د کمزورۍ حکومت والۍ لامل ګرځي او د دولت واک د ننګونو سره مخ کوي، بلکه په هیواد کی د ناامنۍ، د قانون د نه پلی کیدنی او همدا رنګه د اقتصاد په بیلابیلو برخو کی د رسمی سکټور د پانګونی لپاره د یو نه هڅونکی فضا د رامنځته کیدو لامل هم ګرځي. که څه هم د هیواد غیر رسمي اقتصاد متحرک دی، خو د دې وړ نه بریښي چې د افغانستان د اوږدمهاله اقتصادی ودی لپاره د یو انجن کار ورکړي ځکه چې هغه زیانونه، چې د غیر رسمي اقتصاد ناقانونه برخه یې دولتی اداراتو ته رسوي، د هغه ګټو په پرتله چې د دغه سکټور د فعالیتونو څخه د عایداتو په بڼه لاسته راځي، ډیر زیات دي. که له یو اړخه هغه عایدات چې د نارسمی اقتصاد د فعالیتونو له کبله د دولت لاسته ورځي، به نش حسابیږی، له بل اړخه د دولت د مخالفینو تمویل او همدا رنګه د فرصت طلبی او بازار انحصاروني زمینه برابرونه هغه څه دي چې د دغه سکټور د فعالیتونو له کبله راولاړیږي. دغه نارسمی اقتصاد نه دا چې د ملکیت د حقوقو ساتنه او ملاتړ نه کوي، بلکه د قراردادونو د رسمی کولو او پلی کولو لپاره د دولت وړتیا هم کمزوری کوي، د نوری پانګونی لپاره د پانګوالو لیوالتیا له مینځه وړی، او د کاراو تجارت په برخه کی د تخصص لاسته راوړو په مخ کی خنډ ګرځي. پدی برسیره، د افغانستان په نارسمی اقتصاد کی پانګوال تر ډیره بیا دی ته تمایل لري چې د ځمکو د پیرودنی په څیر کم خطر لرونکیو ساحو کی پانګونه وکړي او یا هم خپلی پیسی له هیواده څخه بهر ولیږدوي. د دی ترڅنګ په نارسمی اقتصاد کی پانګوال د خپلو تجارتونه په کوچني ساتلو او په بیلا بیلو سوداګریزو برخو کی په پانګونی سره د احتمالی زیانونو په کمولو هڅه کوي چې خپلی ګټی خوندي کړي؛ دغه کار نه یواځې د هغوي د تجارتونو د پراختیا چې د تولیدی توکو د واحدونو د قیمت د ټیټوالی لامل ګرځي مخه نیسی، بلکه په تولیدی او تجارتی فعالیتونو کی د نوی ټکنالوجی د کارولو په مخ کی هم خنډ ګرځي.

## ب. وروستي اقتصادي اصلاحات

د افغانستان د لویی اقتصاد ثبات د دغه هیواد د اقتصادي بیارغاونې اساس جوړوي. په ۲۰۱۰ مالی کال کی د هیواد کورنی ناخالصو تولیداتو په ۸،۲ سلنه په اندازه ډیروالی وموند. په تیر کال کی دغه ډیروالی ۲۰،۴ سلنه و. د دی اقتصادی ودی اصلی لامل د خصوصی سکټور لګښتونه دی چې د دی هیواد سره د نړیوالو د مرستو او همدا رنګه د امنیتي سکټور د لګښتونو پوري چې د ساختمانی چارو په ګډون د اجناسو او خدماتو د تولید لپاره یی اضافی تقاضاوی رامنځته کړی، تړاو لري.[1] سربېره پردې، د افغانستان حکومت د څه باندی یوی لسیزی لوړ انفلاسیون وروسته ، د پولی اصلاحاتو په برخه کی ځینی ښی لاسته راوړنی لري. دولت د خپل پولي سیاست د لیاری نه یواځې دا چې انفلاسیون یی تر خپل کنټرول لاندی ساتلی ، بلکه د ۲۰۰۳ کال راهیسی یی د اسعارو د تبادلې نرخونه هم تر یوه حده ثابت ساتلي دي. همدا رنګه د بودیجی جوړونی او اجرا په برخه کی د پام وړ اصلاحات رامنځته شوي دي. د دولتی تګلارو د تطبیق او د دی هیواد سره د نړیوالو مرستو د همغږی لپاره د یوی اغیزمنی

[1] اسیایي پراختیایي بانک، لیدنه ۲۰۱۰: سوېل–سوېلي اقتصادي تړاو، ۱۴۳(۲۰۱۱)، پر لاندې پته شته:
http://www.adb.org/documents/books/ado/2011/ado2011.pdf.

وسیلی په توګه د دولتی بودیجی کارول مخ پر زیاتیدو دي.

حکومت د مالي سیستم د بیا رغاونی او د خصوصي سکټور د ودی په برخه کی هم د پام وړ پرمختګ کړی دی. د افغانستا د مرکزی بانک د خپلواکه کولو او د بانکی سیستم لپاره د یو نوی حقوقی چوکاټ رامنځته کولو په موخه د ۲۰۰۳ کال په دوبي کې د افغان دولت لخوا د مالي سکتور اړوند (د مرکزي بانک قانون او د بانکوالی قانون) نوی قوانین تصویب شو. له هماغه وخته تر اوسه پورې د نوي حقوقي چوکاټ تر سیوري لاندې ګڼو بانکونو ته د فعالیت جواز ورکړل شوی دی. د ۲۰۰۲ په سپتمبر کې، د کورنی او بهرنی پانګونې په برخه کی نوی قانون وضعه شو او وروسته د ۲۰۰۳ کال د اګست په میاشت کې د افغانستان د پانګونې د ملاتړ اداره (AISA) جوړه شوه. تردې مهاله د مخابراتو عموي سکتور ته بهرنی لویه خصوصي پانګونه راجلب شوې ده. دغه سکټور د افغانستان په بیلا بیلو سیمو او ښارونو کی په ارزانه بیه د ګرځنده تیلیفون د خدمتونو د پراخه کولو په برخه کې ښی لاسته راوړنی لرلی دي. همدارنګه افغانستان د ګمرکي عوارضو او تعرفو د منطقي کولو او ساده کولو په ګډون د سوداګرۍ د ودې په موخه یو لړ اصلاحي پروګرامونه پلی کړي دي. د ګاونډیو هیوادونو سره د شته تجارتي تړونونو د نویوکولو په ګډون، یو لړ نور نوی تړونونه هم لاسلیک شوي دي.

د منځنۍ او سویلی اسیا تر منځ او همدا رنګه د نورو خوا او شا هیوادونو تر منځ د یو ځمکنی پل په حیث د افغانستان د تاریخی رول تکرار د دی هیواد لپاره د عایداتو په یوه ستره سرچینه بدلیدی شي. د یوګندا او لاووس په څېر په وچه کې د راګیر هېوادونو د تجربو څخه په ګټه اخیستنه افغانستان کولی شی د تجارتی اسانتیاوو په برابرولو، د ترانزیټ لپاره د راز راز لارو په پیدا کولو، د هوایی ټرانسپورټ په پراخه کولو، او د عبور د تړونونو په لاسلیکولو سره په خپل دغه نامساعد جغرافیوي موقعیت غلبه وموميږ. پدې برسیره، سیمه ییزه همکاري، د بازارونو په پراختیا، د لیرې واټن د سوداګرۍ د لګښتونو په راټیټولو او د بریښنا او اوبو په څیر د سیمه ییزو سرچینو په شریکولو سره کولای شي چې د افغانستان دغه جغرافیوي نیمګړتیا د افغانستان په ګټه بدله کړي.

د اوږمهاله سالمی سوداګریزی پراختیا موخی ته د رسیدو لپاره نه یواځی دا چې د بنسټیزو اصلاحاتو به برخه کی جدي هڅی وشي، بلکه د سوداګرۍ لپاره د یو پیاوړي او هڅونکي چاپیریال د رامنځته کیدو لپاره هم فوري اقدام وشي. د بیلګې په ډول: د افغانستان دولت هڅول شوی چې: (۱) د رسمي بانکي سیستم له لارې د نړیوالو او ملي لیږد لپاره د تادیې یو فعال سیستم عملي کړي، (۲) هغه قانوني ضوابط معرفي او عملي کړي چې پر بنسټ یې بهرنیو بانکونو او د پانګونې مشترکو بانکونو ته په افغانستان کې د فعالیت اجازه ورکړل شي، (۳) ترانزیتي تړونونه وکړي او هغه شرکتونو ته چې د لازمو خدمتونو توان لري، ترانسپورتي بیمې رامنځ ته کړي، (۴) د سوداګرۍ او پانګونې د ملاتړې او اسانه کوونکي رول ولوبوي، (۵) د افغانستان د سوداګرۍ د خونو لوی ملاتړ وکړي او په صادراتي برخو کې د دغو بنسټونو د فعالیتونو ملاتړ وکړي او (۶) د وړتیاوو لوړولو پروګرامونه جوړ او عملي کړي، چې په دې سره د مسلکي توب، بانکوالی، بیمې او ګمرکي قانون په برخه کې مهارتونه لوړ او عملي کړي. د افغانستان دولت دغه مشوره په ډاډه زړه منلې او د پانګونې په بېلابېلو برخو کې یې لوی اصلاحات راوستل پیل کړي دي.

## ج. د افغانستان مارکیټونه (بازراونه)

د خصوصي سکتور په مشرۍ اقتصادي پرمختیا د افغانستان په اوږدمهاله اقتصادي وده کې مهم دی. که څه هم په زیاتره مواردو کې د خصوصي سکتور د فعالیتونو په اړه بحثونه په دی انګیرنه ولاړ دي چې په افغانستان کی بازارونه ازاد دي او یواځی اړتیا د دی ده چې افغانان اقتصادی تشبث ته وهڅول شي. دغه انګیرنه په افغانستان کې د موجوده سوداګرۍ په برخه کې د غیر رقابتي چاپیریال ځانګړتیاوو ته په کتو سره، په بشپړه توګه سمه نه ده. په افغانستان کې د اقتصادي بازارونو جوړېدل له لویو سیاسي او اقتصادي مسایلو سره ډېره نژدې اړیکه لري. ناامنی لاهم په افغانستان کې د سوداګرو او اقتصادي فعالیتونو پروړاندې یوه جدي ستونزه ګڼل کیږي.

د طالبانو د رژیم تر نسکورېدو وروسته، د افغانستان سیاسي نظام په ناڅاپي توګه نوې بڼه غوره کړه، خو اقتصادي بهیرونه، ډولونه، او د دغه برخی لوبغاړي په لږه کچه اغیزمن شول. هغه سوداګر چې اوس د افغانستان په سوداګرۍ غلبه لري، له ۱۹۷۰ کال راپدېخوا فعال پاتی شوي دي. د

سوداګرانو نسبتاً یو کوچنی ډله د هیواد پر لویو سوداګریزو فعالیتونو کنټرول لري. دوی په ډېرې اسانی سره د اقتصادي فعالیتونو له صحنې نوي سیالان لیرې ساتي او د پانګې (چې دوي پانګې لري او نور خلک پانګې ته لاس رسی نلري)، سیاسی نفوذ، او د لوړی کچې عمودی پیوستون (د دوي شرکتونه نور شرکتونه یا د خدماتو عرضه کونکی لري چې د هغوی سره دوي راکړه ورکړه کوي) په لرلو سره اقتصادی ګټی ترلاسه کوي. په بازار کی د دغه ستونزو شتون له په افغانستان کی د اضافي پانګونی او همدغه ډول دغه هیواد ته د پانګو د بیرته راستنیدا په مخ کی خنډ ګرځي. هیواد ته ډېری راستون شوی سوداګر یواځی له دی ویری پانګونو ته زړه نه ښه کوی چې په اوسني سوداګریز چاپېریال کې یوازې (برلاسې ډله) ګټه کولای شي او بس.

په افغانستان کی سوداګریزه راکړه ورکړه تر ډېره حده د ټولنیزو شبکو او شخصی اړیکو پر بنسټ ترسره کیږی. دغه اړیکي یواځی په خپلوۍ او کورنیو اړیکو کې نه خلاصه کیږي، بلکه دغه اړیکي تر ډېره پر ګډو او مغلقو روابطو ولاړ دي، لکه کورني اړیکي، توکمیز او مذهبي مشترکات. دغه یادې شوې ټولنیزی شبکې سوداګرو ته د راکړی ورکړی ، پانګو ته د لاس رسي ، او همدارنګه د احتمالی سوداګریزه خطرونو په اړه لازم او اغېزناکه معلومات ورکوي. همدارنګه سوداګریز نخبګان د ملي، ولایتی او ځایی سیاستوالو او نظامی واکمنانو سره کلک شخصي او مالی اړیکي لري. دغه اړیکي د دواړو خواو لپاره ګټوری تمامیږي. سوداګر اقتصادي امنیت، مالیاتي معافیت او پولي باور او همدارنګه (په ځینو سکتورونو کې لکه ساختماني) ګټور قراردادونه ترلاسه کوي. حکومتي چارواکي یا د حکومت څخه د باندی نور زورواکي کسان (د بیلګې په ډول د ملیشو قومندانان) کولای شي چې د پانګونې سرچینې، د پیسو د سپینولو امکانات او همدارنګه د خپل ځان هر اړخیز نفوذ د پوځي اړیکو په مټ او همدارنګه اقتصادي ګټو او سیاسي قدرت له لارې ترلاسه کوي. د دی ترڅنګ ځایی زورواکي د اوبو او ځمکی په څیر مهم تولیدی عناصر هم په خپل کنټرول کی لري.

د افغانستان زیاتره بازارونه « غیر رسمي» دي؛ ځکه چې دوی د افغانستان د حکومت له مقرراتو بهر فعالیت کوي. سربېره پر دې، دا ډول بازارونه په یوه ډول نه یوه ډول د « نادولتي» قوانینو او نورمونو په مټ تنظیمیږي. ډیری دغه ډول نارسمی مقررات او نورمونه په ټولنیز نورمونو او بنسټونو کی ریښی لري. د بېلګې په توګه: د جنسیت مساله د غالیو په صنعت کی د کار او د مسولیتونو د ویش په برخه کی مهم رول لوبوي. په دې صنعت کې ښځې د قالین جوړونکو په توګه غلبه لري، خو د تولید په نورو پړاونو کی – چې نارینه په کې اصلي رو لوبوي- د هغوي شتون چندانې د لید وړ نه نه دی. د نویو قوانینو په تصوییبیدو او د وزارتونو او خصوصی سکټور ترمنځ د همغږی په زیاتیدو سره، د مارکیټونو په تنظیمولو کې د حکومت رول مخ پر زیاتیدو دی. د معلوماتو کمښت او د مالیو، ګمرکي تعرفو او نور حقوقی مسایلو په اړه خبراوید پوهاوي ټيټه کچه، د هغه سوداګرو او شرکتونه د ستونزو سره مخ کوي چې ډیری لږی سرچینی لری او په کابل کی ډیر په کوچنی کچه فعالیت کوي.

## د. په افغانستان کې د سوداګری پیلول

په افغانستان کې د یو شرکت د ثبتولو لپاره قانوني شرایط نسبتاً ساده او اسانه دی: په سوداګریزه محکمه کې ثبتول، د افغانستان د پانګونې د ملاتړ له اداري یا (AISA) یا نورو سکتورونو څخه د فعالیت د لومړي جواز ترلاسه کول، او همدا رنګه په ځینې سکټورونو کی د هغه سکټور اړوند د ځانګړي جواز اخیستل (لکه: هوټلونه، رستورانتونه، بیمه او صادراتي او وارداتي شرکتونه). د یوه ساده او اغیزمن سیستم د رامنځ ته کولو او د سوداګریز فعالیت د ثبت او راجستر او د لومړنی پانګونې د جواز ترلاسه کولو په برخه کې، افغانستان نسبتاً عملي او فعال کار کړی او د نړیوال بانک «د سوداګرۍ د پیل په جدول» کی د دغه بانک له خوا د ۱۸۱سروی شویو هیوادونو په ډله کی په ۲۲ کتار کی ځای نیسي. لاندې جدول د سوداګری د پیلولو په برخه کی د سیمی د نورو هیوادونو په مقایسه د افغانستان لاسته راوړنی توضیح کوي.




*Source: World Bank, Doing Business 2009, Country Profile for Afghanistan.*

خو په یاده شوې سروې کې د افغانستان د غه لوړه درجه تیر ایستونکې ښکاري؛ ځکه چې په افغانستان کې د یوه شرکت پیلول یوازې د ثبتولو او د لومړنی پانګونې د جواز په ترلاسه کولو سره پای ته نه رسیږي؛ بلکه ، په دغه هېواد کې یو شرکت تر رسمي راجسترولو وروسته، باید د خپلو مشخصو اقتصادي فعالیتونو پرمخ بېولو لپاره له بېلابېلو وزارتونو څخه جوازونه او نور اضافي جوازلیکونه ترلاسه کړي. د دا ډول جوازونو ترلاسه کول نه یوازې دا چې د تجارانو زیات وخت نیسي،بلکه هغوی ته قیمته هم تمامیږي. ددې مسالې د پوهېدو لپاره لاندې تبصرى ته پام وکړی:

**تبصره: په اوسني افغانستان کې د شرکت ثبتول او جواز ترلاسه کول**

د شرکت ثبتول او د پانګونې د جواز ترلاسه کول یوازې یو لومړنی ګام دی؛ او په هیڅ ډول په افغانستان کی د هغه ګڼ شمیر مشخصو اقتصادی فعالیتونو لپاره د جلا قانوني مجوز اخیستنی اړتیا له مینځه نه وړي. په دې فعالیتونو کې بانکوالي، د توکو لیږد رالیږد، بارول، امنیتي شرکتونه، بیمه او د بیمې نمایندګي، خصوصي پوهنتون، د سفر نمایندګي، د نړیوالو سیلانیانو د اوسیدو ځای، د ښاروبو کلینیک، د فلم جوړونه، چاپ، درمل جوړونه، هوټل او رستورانت، ساختمانی، د برېښنا نښلول، د درملو واردول، د حیواني درملو واردول، د ځمکې د مالکیت لیږد، د ودانۍ جوړول، د معدن استخراج، روغتیا پالنه، ودانول، سیلاني او اقتصادي کرنه شامل دي.

هر مرکه کېدونکي چې ددې موضوع په اړه مرکه ورسره شوې، په ډاګه کړې چې د دی جوازونو او منظوریو اخیستنی پروسه اوږده، غیر منطقي، نه اټکلیدونکي ، او د زیات لګښت غوښتونکی ده. یوه مرکه شوی څرګنده کړه چې هغه یواځې تر یو څو ساعتو دننه د ا فغانستان د پانګونې د ملاتړ له ادارې څخه د خپل پانګونی جواز په اخیستلو بریالی شو ، خو خو له یوه وزارت څخه د سکتوري جواز په اخیستو کې ان له څه باندې یوه کال راهیسې کړېږي او ستونزه یی لاهم هغسی پرځای پاتی ده. یو بل مرکه شوی ویل چې هغه هم د پانګونې لپاره جواز ډېر ژر ترلاسه کړ، خواوس له څلورو میاشتو راهیسې له سکتوري ادارو سره لاس او ګرېوان دی چې په دې منظور یې ۵۰۰۰ ډالره هم لګولي دي. پدی برسیره، ځینې سکتوري جوازونه په ښکاره ډول د روغتیا او د عامه امنیت د موخو لپاره توجیه کیدی شي، خو ډیری شمیر جوازونه داسی دی چی هیڅ کوم عامه ګټه نلري. ددغه ډول قانونی مجوزو د ورکړی لپاره کوم واحد او معیاری تګلاره شتون نلري، هر وزارت او اداره خپل قوانین او طریقې لري چې تر ډېره ناڅرګندې او په رسمي توګه چاپ شوې نه دي. له بلې خوا، وزارتونه او نورې اړوندې ادارې هم په دې تړاو تل له یو بل سره خبرې نه کوي او نه هم رسمي اړیکه لري. ددغو قانوني مجوزو له ځیني داسی دي چی د سوداګری او د صنایعو وزارت یا د آیسا سره

د یو شرکت د لومړني ثبت لپاره اساسي شرط؛ پدې معنا چې تر څو پورې یو نوی پیل شوی تجارت دا منظوریانې نه وي ترلاسه کړي، تر هغه وخته پورې دغه شرکت د خپل تشکیلاتو د جوړولو په څیر عادي ګامونه هم نشي پورته کولی.

**سرچینه**: *د امریکا د پراختیا نړیواله اداره*، د( ۲۰۰۷ ) د کار لپاره د افغانستان اجنډا

لکه څنګه چې په پورتنی تبصره کی یاده شوه، په افغانستان کې د بشپړ سوداګریز فعالیت پیلولو بهیر کولای شي ډېر لګښت وغواړي، که څه هم د ثبت او لومړني جواز ترلاسه کول په اسانی ترسره کیږي، خو ددې بهیر نور پاتې پړاوونه کولای شي ډېر وخت ونیسي. په افغانستان کې د سوداګرۍ د پرمخ بیولو لپاره چې دا مهال کوم ضروري ګڼ شمیر جوازونه یا منظورۍ ضروري دي، او همدارنګه د جوازونو په صادرولو کې د حکومت بې کفایتي یوه لویه اندېښنه ګڼل کیږي. دغه اضافي ګامونه د یوې سوداګرۍ د پیل پیلچتیا ډېروي او اداري فساد ته زمینه برابروي، له دې کبله دا کار د یوه مهم اقتصادي فعالیت د پیلولو مخه نیسي.

دویمه ستونزه دا ده چې ډېری وخت پانګه وال اړ کیږي چې د خپل جواز اخیستو لپاره ټول اړین اسناد په خپله برابر کړي، خو هغوي د دی کار د تر سره کولو لپاره ډېر لږ ضروري معلومات په اختیار کی لري. د معلوماتو د نشتوالي په صورت کی به د یو پانګوال لپاره پدی پوهیدل ستونزمن وي چې د قانون سره سم فعالیت کولو لپاره د کومو ګامونو پورته کول اړین دي. دغه بی خبري د دی لامل ګرځي چې پانګوال د خپل حقوقی مکلفیتونو په ترسره کولو کی د ستونزو سره مخ شي او د مکلفیتونو د نه ترسره کولو په صورت کی پر لویو لویو جریمو محکوم شي. د قانون د ماتونی ویره او د هغی په پایله کی د لویو جریمو د ورکړی له کبله پانګوال دی ته زړه نه ښه کوی چې په افغانستان کی پانګونه وکړي. د جواز د صدور او ترلاسه کولو د بهیر نه شفافیت اداري فساد ته زمینه برابروي: د بیلګی په توګه دولتي چارواکي د پانګوالو او سوداګرو څخه کومه ویره نلري چې ګواکی دوي د هغوي ناقانوني کړنی تر پوښتنې لاندی راولي ؛ ځکه چې دولتي چارواکی پدی ښه خبر دي چې سوداګر د قانون او مقرراتو څخه ناخبره دي. یواځې یو څو دولتي اداري د خپل ځان اړوند جواز د صدور د بهیر په اړه معلومات ورکوي، خو دا کار باید په پراخه کچه عملي شي.

دریمه ستونزه دا ده چې ګڼې دولتي اداري د تصویب او منظورۍ بهیر له خپلو جګپوړو چارواکو پیلوي نه له ټیټ پوړو چارواکو څخه، چې دا مساله پخپل ذات کې د جواز ورکولو د بهیر د ټکني کېدو سبب ګرځي. یو بل عامل چې دا مساله لاپسې ناوړه کوي، دا ده چې د یوه جواز منظوري کېدای شي چې د یوې بلې حکومتي ادارې له یوه بل جلا جواز ترلاسه کولو سره تړلی وي، معنا دا چې په یوه اداره کې ځنډ راتلل د ټول بهیر د دربېدو سبب ګرځي.

یادو اندېښنو ته په پام سره، د نړیوال بانک له خوا د سوداګرۍ پیل د جدول پرځای باید په افغانستان کې د یوې سوداګرۍ د پیلولو لپاره یو بل معیار او محک په پام کې ونیول شي، چې په دې صورت کې شاید د نړیوال بانک د یوه بل جدول چې د سوداګریزو اسانتیاوو له نظره هیوادونه درجه بندي کوي مناسب بریښي. په دې جدول کې د ۱۸۱ سروې شوو هیوادونو له ډلې افغانستان ته ۱۶۲ مقام ورکړل شوی دی. د یوې سوداګرۍ د پیل په لاره کې ستونزې لکه څنګه چې پاس وشاربل شوې، د افغانستان په سوداګریز چاپېریال کې د پراخو ستونزو نښې ګڼل کیږي.




**سرچینه:** نړیوال بانک، په ۲۰۰۹ کې د سوداګرۍ فعالیت، د افغانستان لپاره پروفایل

<u>**په افغانستان کې پانګې ته لاسرسی**</u>

نجیب الله د کابل په شاوخوا کې اوسیږي او د خښتو د تولید د یوې کوچنۍ بټۍ مدیرت او سرپرستي کوي. ددغې بټۍ له خوا تولیدېدونکې خښتې ټیټ کیفیت لري او په کابل او شاوخوا سیمو کی د ډیری ساختماني کارونو سره سره یې د خښتو پلور کم دی. سره له دی هم ددې بټۍ ښتن نه غواړي چې د نویو توکو لپاره، چې د خښتو د تولید د کیفیت او لاښه کولو لپاره ګټور پربوځي، پانګونه وکړي. نجیب الله د بټۍ د څښتن له پرېکړې سره همغاړی نه دی او پخپله په کابل کی د ساختماني توکو د بازار د پلټنې پریکړه کوي. د هغه پلټنې هغه دې پایلې ته رسوي چې هغه باید په خو ماشینو او الاتو سنبال خپله شخصي بټۍ پرانیزي تر څو وکولی شي په دی سره د لوړ کیفیت لرونکي خښتې تولید کړي. د لوړ کیفیت د خښتو لپاره په بازار کی تقاضا ډېره زیاته ده او هغه کولای شي چې دا ډول خښتې په ډیره ګټه وپلوري. له بده مرغه، د خښتو کاروباریان خپلو کارکوونکو ته کافي معاش نه ورکوي او نجیب الله د خښتو د یوې شخصي بټي د جوړولو او د اړتیا وړ توکو د رانیولو لپاره کافي پیسې نه لري.

اوس نجیب الله څرنګه کولای شي چې خپله مفکوره عملي او خپله سوداګري پیل کړي؟ هغه له خپلو ملګرو او کورنۍ څخه پیسې غوښتی شي؛ ځکه هغه کسان چې دی پېژني، پوهېږي چې نجیب الله یو ځیرک او د باوري سړی دی. که چېرې د هغه کورنۍ بې وزله وي، نو امکان نلري چې هغوی دی نجیب الله ته پیسی ورکړی شي. هغه کولی شي چې د یو بانک څخه پور وغواړي. خو څرنګه کولای شي بانک ته دا ډاډ ورکړي چې پور به یې بیرته ورکړي؟ او یا کیدای شي نجیب الله پخپل کار کې یو شتمن سوداګر یا پانګه وال د ګټې په مقابل کی شریک کړي.

دا چې نجیب الله د خپل کار د پیلولو لپاره د اړتیا وړ پیسې څرنګه پیدا کوي، پدغه جریان کی به هغه د احتمالی تجارتی خطرونو سره لاس و ګریوان کیږي کوم چې د اړتیا وړ پانګی ته لاسی رسی ستونزمن کوي. بانک یا کومه خصوصي پانګه وال به دا اندېښنه ولري چې د نجیب الله سوداګري شاید چندانې ګټوره نه وي او کیدای شي چې خپلې پیسې په ناپوهی سره ولګوي. یا دا چې د نجیب الله خښتې ښه خرڅلاو ومومي، خو هغه له خپلو مشتریانو څخه د پیرل شوو خښتو د پیسو په راټولولو کې له ستونزې سره مخامخ شي. او بل خوا د امکان لري چې نجیب الله د خښتو په پلور کې ګټه وکړي، او ورسره په څنګ کی بیا دا ادعا هم وکړی چې هغه دی د ګټې ډېره برخه واخلي ځکه چې دغه تجارت د هغه نوښت و. دا ډول او دی ته ورته نوری اندېښنو له امله د نجیب الله سوداګرۍ ته د پانګونې چمتو کول د خطره ډک کار دی. خو د سوداګرۍ

قانون کولای شي چې هغه ګڼ شمېر خطرونه چې پانګوال ورسره د نجیب الله د تجارتی فعالیتونو په څیر په نورو فعالیتونو کی په پانګونی سره مخ کیږی، راکم کړي.

د سوداګرۍ قانون څرنګه کولای شي چې د خطر په کمولو کی مرسته وکړي او د نجیب الله په سوداګرۍ کې پانګونه وهڅوي؟ لومړی، د یوه سوداګریز تشبث حقوقی بڼه او د پانګونی قرارداد به د خواوو حقونه او د هغوي ترمنځ د ګټی د ویش څرنګوالي مشخصوي. پدی برسیره، د مشتریانو سره قرارداد د خبنتو د پلور قیمت مشخصوي او د تجارتی فعالیت څخه د ګټی لاسته راوړنی په اړه پوره ډاډ رامنځ ته کوي.

دویم، د سوداګرۍ قانون کولای شي چې له یوی خوا د پانګه والو او پورورکونکو د ملاتړ د ضرورت او له بلی خوا د سوداګریزو فعالیتونو لپاره د متشبثینو د هڅونی د ضرورت تر منځ تعادل رامنځته کړي. لکه څرنګه چی پانګوال د خپلو پیسو د کاریدنی او د هغی څخه د ګټی د ترلاسه کونی په برخه کی د ډاډ او تضمین غوښتونکي دي، هم هغسی متشبثین هم د نوی سوداګریز فعالیت په پیلولو خوښ وي خو په دی شرط چی فعالیت د لړ احتمالی خطر لرونکی وي. د بیلګې په ډول، که چیرې نجیب الله د خپل تجارت د ناکامیدو په صورت کی د پانګه والو او پور ورکوونکو د پیسو د بیرته ورکړی لپاره په شخصی توګه مسول وي، هغه به په لومړی قدم کی د نوی تجارت پیلولو ته هیڅ زړه ښه نه کړي. له هغه ځای چی د نجیب الله د تجارت په څیر تجارتونه په یو هیواد کی د اقتصادی ودی انجن ګڼل کیږی، نو پدغه خاطر د قانون لپاره به دا سمه او مناسبه وی چی د تجارتی خطرونو په وړاندی د نجیب الله شخصی مسولیت محدود کړي.

یو ښه تجارتي قانون د اقتصادي ودې او پراختیا لپاره اړین ګڼل کیږي ځکه چی د تشبث زمینه پراخوي او د پیچلو اقتصادی معاملو ترسره کول اسانوي.

## ۳- اسلامي تجارتي قانون[2]

| د بحث پوښتنې |
|---|
| ❖ د ۲۰۰۴ کال د اساسي قانون له مخی د شرعی قانون رول څه دی؟ |
| ❖ د اوسني افغانستان پر سوداګرۍ شرعي قانون څه ډول اغیز لري؟ |

ددې کتاب دویم څپرکی به دی ته کتنه وکړی چی څرنګه د تاریخ په اوږدو کی شرعی قانون په افغانستان کی د تجارتی قانون د یوی مهمی سرچینی په توګه پدی هیواد کی په سوداګری خپل اغیز کړی دی. خو دې موضوع ته تر کتنې وړاندې، دا مناسبه بریښي چې په نني افغانستان کی د سوداګری په برخه کی د شرعی تجارتی قانون بنسټیز اصول وڅیړو. البته راتلونکی بحث په هیڅ وجه د دغه موضوع یو جامع او بشپړه څېړنه نه ده ، بلکه یوازې د دغه موضوع یوه لنډه پیژندنه ده. په راتلونکي هر څپرکي کې به د سوداګریز قانون د ځینی مشخصو برخو په تړاو د شرعي قوانین احکام هم په تفصیل سره مطالعه شي.

د افغانستان د ۲۰۰۴ کال اساسي قانون په خپله درېیمه ماده کې د اسلامي شریعت رول په رسمیت پیژني او دا په ډاګه کوي چې د افغانستان ټول سوداګریز قوانین د اسلام له سپېڅلي دین سره باید په ټکر کې نه وي. د دی ترڅنګ شریعت د تجارتي قانون د تفسیر په برخه کی هم مهمه

[2] . This Section draws heavily on Ali Adnan Ibrahim, *The Rise of Customary Businesses in International Financial Markets: An Introduction to Islamic Finance and the Challenges of International Integration*, 23 AM. U. INT'L L. REV. 661 (2008).

سرچینه ده. د ۲۰۰۴ کال د اساسي قانون یوسلو یو دېرشمه (۱۳۱) ماده په ډاګه وایي، کله چې اساسي قانون او یا په نورو قوانینو کی یو حکم موجود نه وی ، په دې صورت کې حنفي فقه (د اهل سنّت د حقوقي او فکري مکتبونو یو ) د پلی کېدو وړ ګرځي. په هغو مواردو کې چې حقوقي مسایل (د شیعه ګانو د شخصي موضوع ګانو له پلویانو) سره یې سروکار وي، د اساسي قانون ۱۳۱ مادې د اهل تشیع فقهې-د اسلامي فقهې یوه بله برخه چې معمولاً دغه برخه د جعفري فقهې د مکتب په نامه سره یادیږي –هم روا ګڼلې ده.

هغه مدوّن قوانین چې د ۲۰۰۴ د اساسي قانون له مصوبې وړاندې وضعه شوي دي، هم د افغانستان د سوداګریزو شخړو د حل په برخه کې د اسلامي شریعت په رول تاکید کوي. د ۱۹۷۷ کال مدني قانون (Civil Code) په ډاګه کوي چې: «په داسې مورد کې چې قانون حکم کړی وي، د اجتهاد کول جواز نه لري... »، خو «که چېرې په قانون کې حکم موجود نه وي، باید له حنفي فقهې، عرف او قضایی چلند له مخی حکم وشي. د ۲۰۰۴ اساسي قانون او د ۱۹۷۷ مدني قانون دواړه، پر یو شمېر هغو مسایلو محدودیت لګولی، چې په مستقیمه توګه اسلامي فقه په کې دخیله وي. دا چې د افغانستان قوانین له اسلامي قانون (شرعي قانون) سره په مطابقت کی جوړیږي، نو له دغه کبله مدون یا لیکل شوی قوانین هغه لومړنی مرجع ده چې باید محاکم د قراردادی شخړو د هواری لپاره ورته مراجعه وکړي؛ خو که چیرته قانون د یو موضوع په اړه سکوت کړی وی ، نو پدغه حالت کی بیا موضوع د فقهې په رڼا کی حل کیږي. په راتلونکو څپرکو کې به د شرعي قانون په اړه نورې بېلګې راوړل شي او د افغانستان پر تجارتي قانون به یې اغېز په ډاګه کړای شي.

اسلامي شریعت (شرعي قانون) هغه لاره ده چې د الله جل جلاله له لوري مسلمانانو ته ښودل شوې چې په رڼا کې یې خپل ژوند پرمخ یوسي. د ځمکې پرسر هېڅ داسې څواک نشته چې نوی شریعت رامنځ ته کړي او یا په هغه کې بدلون راولي؛ ځکه چې دغه قانون یو اسماني قانون دی. شریعت دوه اصلي او درې فرعي سرچینې لري، دوې اصلي سرچینې یې لومړی قرآن کریم او وحی ده چې پر حضرت محمد صلی الله علیه وسلم نازل شوی، دویم یې سنت دي، سنت د حضرت محمد صلی الله علیه وسلم د ژوند د کړو وړو او همدارنګه د اعتقادي مسایلو د کړو وړو د عملي کولو په معنا دي، چې پخپله حضرت محمد صلی الله علیه وسلم ترسره کړي دي. درې ثانوي سرچینې د علماوو له اجماع، قیاس او د فقیهانو استدلال ـاجتهاد–دی. دغه سرچینې (ثانوي سرچینې) د اسلامي فقهې د نامتوعلماوو په تفسیرونو مشتملې دي . که چېرې د شریعت دغه سرچینې تعقیب شي، تقریباً شریعت د یوه مسلمان وګړي د ورځني ژوند هر اړخ تر پوښښ لاندې نیسي.

د اسلامي سوداګری قانون اوږد تاریخ لري چې په اوومه او اتمه پیړی کی د مسلمانانو په فتوحاتو پورې اړه لري. هغه مهال پر اسلامي نړۍ د سوداګرۍ لویه لاره تېره وه او همدارنګه د لرغوني اسلامي دورې دغې سوداګریزې لار د اسلامي نړۍ د اقتصاد له پرمختیا سره ډېره مرسته وکړه. سوداګري، د لیرې –واټن سوداګرۍ، او بانکي فعالیتونه به تر ډېره د مسلمانانو تجارانو له خوا ترسره کیده. په دې وخت کې به مسلمانو سوداګرو اسعار تبادله کول، پورونه به یې ورکول او د کریډېټ به یې انتقالوو. د دی سره هم مهاله مسلمانو قاضیانو او حقوقپوهانو د دغه غوړیدلي بازار د تنظیم لپاره یو اغیزمن او کارنده شرعي حقوقي چوکاټ هم رامنځته کړی و. خو د انولسمی پیړی په لومړی نیمایی کی د شرعي تجارتي قوانینو کاریدنه د محدودیدو پر لور روانه شوه. د اتلسمی پیړی په وروستیو کلونو کی مصریان د ناپلیون د اشغال په مهال د هغه د سیکولر تجارتي قانون او د تجارتی شخړو لپاره د جلا محاکمو د شتون سره اشنا شول. په کال ۱۸۵۰ کی، عثماني امپراتوری د دغې فرانسوي تجارتي قانون یوه لویه برخه دخپلو تجارتي قوانینو برخه جوړه کړه او د خپلو سوداګریز قوانینو سیکولر کړل. همدا رنګه نورو هیوادونو هم د عثماني امپراتوری په پله قدم کیښود او تقریباً تر یوی پیړی پوری د تجارتي قوانینو د سیکولر کولو دغه پروسی دوام پیدا کړه او د اسلامي تجارتی قانون په اړه له نوي سره څیړنو او مطالعاتو دغه لړی ته د پای ټکی کیښود.

دا هېڅ د حیرانتیا خبره نه ده چې ووایو اسلامي نړۍ د تجارت او سوداګری یو اوږد تاریخ لري؛ ځکه چې د اسلام ستر پیغمبر حضرت محمد صلی الله علیه وسلم پخپله یو سوداګر و. اوس هم مسلمانان د سوداګری په ډګر کی ښه بوخت دی او داسی تجارتی فرصتونو په لټه کی یی چې د هغوي د عقیدی، شرعی احکامو ،او همدا رنګه د هغوی تجارتی تجربی او مالی معاملاتو سره سمون ولري. په قرآن کریم کې هم د سوداګرۍ په اړه ګڼ شمیر ایاتونه شته. دغه ایاتونه د سوداګرۍ پر اخلاقو راڅرخي او د هغو مشترکو عقایدو روښانوونکي دي چې د نړۍ نورو لویو دینونو هم په ډاګه کړي دي. قرآن کریم په مشخص ډول د قراردادونو په اړه غږېدلی، هغه مقررات یې ټاکلي چې د قراردادونو د باوري کېدو لپاره

ضروري دي، همدارنګه، په سوداګرۍ کې يې د اخلاقي اصولو او د سوداګرۍ اړوندو نورو قوانينو موضوعات راخيستي. همدارنګه، قرآن کريم د سوداګرۍ له مرکزي مقام څخه چې دغه شغل په اسلامي تمدن کې نړيوال ارزښت درلود، د سوداګرۍ اهميت د ښار د عصبي ريښې په توګه او د سيمې يا نړۍ په کچه په مکرر ډول راوړی دی. د اسلامي دورې له پيل راهيسې تر اوسه، د اسلام په معنوي جوړښت کې د توکو په ازادانه ډول لېږد د سوداګرۍ له اصلي عناصرو څخه ګڼل کېږي.

د ملکيت حقونه او د تجارت آزادي د شرعي تجارتي قانون مهم موضوعات دي. دا چې اسلامي قانون د يوه وګړي د شتمنۍ او ژوند ته په مساوي توګه پام کوي، په اسلامي قانون کې له شتمنۍ بې برخې کېدل او يا د بل چا د کار او هڅو په مټ له ممنوعه لارو چارو بډايه کېدل ،دواړه کرکجن ګڼل شوي دي. په عمومي توګه اقتصادي پرمختيا له ريسک سره تړاو لري، او په ټولو نويو فعاليتونو کې د خطر منل ضروري دي. له چل او ول پرته، عادلانه او مبهمې معاملې او د ريسک شريکوونکې د اسلامي مالي نظام نښه ده. اسلامي قانون له مسلمانانو غواړي چې د خپلو ژمنو درناوی وکړي.

## د بحث پوښتنې

- ❖ شرعي قانون تعريف کړی؟ شرعي قانون په پراختيا رڼا واچوی؟
- ❖ د تجارت او سوداګرۍ په اړه د اسلام دوديزه نظريه څه ده؟ په اسلامي نړۍ کې دا ډول نظريو څرنګه وده وکړه؟
- ❖ ايا قرآن کريم له سوداګريزو مسايلو په اړه کومه لارښونه کړې ده؟ که هو، نو په کومو مواردو کې او څه امر کوي؟

د شريعت له نظره هر هغه څه د اموالو په تعريف کې راځي چې دوه شرطونه پوره کړي: (۱) د فزيکي ملکيت امکان او (۲) د کارولو بالقوه ګټه ولري. ددې تعريف پر بنسټ، ګڼ پوهان به دې باور دي چې سوداګريزه بيمه له اسلامي قانون سره په ټکر کې ده؛ ځکه چې د خرڅلاو موضوع په کې تر حد ډېره ناڅرګنده او مبهمه ده. په اسلامي قانون کې شتمنۍ په باارزښته او بې ارزښته (د بېلګې په ډول: هغه شتمني چې ګټه اخيستل ترې جواز نه لري، لکه (شراب او د خوګ غوښه )، منقوله شتمنۍ او غيرمنقوله شتمنۍ او همدارنګه بدلون منونکې او بدلون نه منونکې شتمنۍ وېشل شوې. هره يوه ياده شوې برخه په اسلامي فقه کې خپل ځانګړي مفصل احکام لري. د نظريو په توپير کې ځينې حقوقي مسايل لکه د خرڅلاو يا اجارې لپاره اهليت (عمري حق) له دويم ځل خرڅلاو وړاندې د مالکيت د حق تصرف، ځنډول شوي نرخونه او له وړاندې د ادايني خرڅلاو.

د مالکيت کلاسيکه نظريه په اسلامي نړۍ کې د مطلق مالکيت او قسمي مالکيت ترمنځ د جلا کېدو سبب و، لکه: د عمري حق سربېره د شتمنۍ ملکيت، يا له دې څخه د يوه د ملکيت درلودل. خو د اسلامي نړۍ نوو علماوو ددې برعکس، مالکيت د حقونو يوه داسې ټولګه په پام کې نيسي، چې پر يو شمېر بنسټونو او وګړو د وېش وړ وي. دغه توپير د اسلامي (صکوکو) د رامنځ ته کېدو پايله ګرځي چې په کې د شتمنۍ قواله د معاملې وړ له خپل عُمري حق سره چې ځانګړې موخه لري او د ټولو ثانوي اجارو سره صادرې شوې او له شتمنۍ سره تړاو لري، لېږدول کېږي. د شتمنۍ مالکيت چې د مسؤوليت د رامنځته کېدو سبب ګرځي، په عمومي توګه يا د کفالې په بڼه او يا هم د تضميني تدابيرو په شکل تضمينيږي. کله چې د کفيل په لاس کې شتمنۍ ولوېږي، يوازې د معتمد د بې احتياطۍ يا بې باکۍ له کبله د زيان سبب ګرځي. له دا ډول توپيرونو راولاړېدونکي ريسک له امانتي اېښودو سره د اسلامي بانکوالۍ د کړو وړو په موخه او لګښت لرونکي مسايل صورت نيسي چې له لاندې ډول په مفصل ډول څېړل کېږي.

په اسلامي قانون کې دوه ډوله اساسي قراردادونه دي: وړيا او ناوړيا قراردادونه. ناوړيا قراردادونه د جانبينو راکړه ورکړه ده او دواړې غاړې يې د خپلو شخصي ګټو لپاره ترسره کوي. وړيا قراردادونه تر ډېره پر قوانينو او الهي احکامو تکيه کوي، او د قرارداد دواړه غاړې – چې دا ډول قراراداد لاسليکوي – خپل اجر له الله څخه غواړي. په ناوړيا قراردادونو کې د قرارداد دواړه غاړې په مساوي توګه د ګټې خپل ارزښتونه په پام کې نيسي او همدارنګه ددغو ارزښتونو د ارزونې لپاره بايد ټولو اړوندو معلوماتو ته لاسرسی ومومي. د قراراداد اسلامي قوانين دواړو غاړو ته اجازه ورکوي هر هغه شرطونه چې دوی لازم ګڼي، په قرارداد کې په ازادانه توګه ځای پرځای کړي، پرته له هغو چې په ډاګه يې مخنيوی نه وي شوی. يا په بل عبارت شريعت د قراداد په انعقاد کی د طرفينو په استقلال باور لري خو په شرط د دی چې د هغوی دغه معامله د منکراتو په کټګوري کی نه وي. د شريعت له مخی په قرارداد کی ددواړو غاړو رضايت د د قرارداد اساسي رکن دی. اسلامي کلاسيکه فقه د قرارداد نور اساسی ارکان هم په ګوته کړی دي چې پدی ډول دي: (۱) د قرارداد دواړو خواوو وړتيا يا اهليت (۲) د قرارداد ژبه، او (۳) د قرارداد د موضوع.

**د بحث پوښتنې**

- ❖ د کلاسيک فقهی د نظره ملکيت يا اموال څه تعريف لري؟ د معاصرې اسلامي نړۍ د علماوو تعريفونه له هغوی سره څه توپير لري؟
- ❖ کلاسيک فقه د قراردادونو په اړه څه نظر لري؟ د قراردادونود شرعی قانون عمده مباحث کوم يو دي؟

د دغه هڅونو ترڅنګ، قرآن کريم او شرعي قانون پر سوداګرۍ يو لړ محدوديتونه هم لګوي. په اسلامي قانون کې په پورونو باندی سود اخيستل، ناڅرګند قراردادونه، انحصار (څانته کول)، او د نرخ تثبيتول ممنوع شوي دي. له مسلمانانو غوښتل شوي چې له سود خوړلو يا توکو انحصارولو ډډه وکړي، چې د "نه توجيه کيدونکی زياتوالي" يا د "سود" په نامه سره يادېږي. همدارنګه، مسلمانان اړ دي چې پخپلو سوداګريزو معاملو کې له "ابهام" چې معمولاً د "غرار" يا " تر حده زيات بی باوري، خطر، او يا ګمان په اساس د تجارتي معاملو څخه ډډه وکړي. شرعي قانون سوداګري په مذهبی لحاظ حلال او روا کړنو پوری محدودوي. شريعت له ريسک سره په تړاو يوه مشخصه فلسفه لري؛ په دې معنا چې له مخکی څخه د سود ټاکلی او ثابت نرخ د پورورکونکی استثمار ګڼي او د دغه پرځای د پور ورکوونکي او پور اخيستونکي ترمنځ د "ګټې" او يا "زيان" د شريکولو په غوره والي قايل دی. دغه کار د خيرښېګڼې د يوی داسی فلسفی له مخی کيږی چې يواځنی هدف يې يواځی د ډيری ګټی ترلاسه کول نه دي. له همدې کبله، غير عادلانه معاملې او ناوړه ګټه کول د اسلام له نظره ناروا دي.

په اسلامي قانون کې "سود" کوم واحد تعريف نه لري. بل خوا پخپله قران کريم د "سود يا 'ربا' تعريف نه دی کړی. خو مونږ کولی شو چې د حديثو څخه په مرسته اخيستنی د سود په اساسي مفهوم پوهه شو. دا چې د "ربا" کلمه مشخص او يقيني تعريف نه لري، د پاکستان سترې محکمې د "استيناف شرعي محکمې" د هغې پرېکړې په تعقيب چې سود يې په ټولو ډولونو کې د نااسلامي والي له کبله له اساسي قانون سره په ټکر کې بللی و، رد کړ او "فدرالي شرعي محکمې" ته يې امر وکړ چې "په مسلمانو معاصرو هېوادونو کې د مالي نظامونو په اړه يوه هراړخيزه او ژوره پلټنه وکړي.

اسلام د پيل راهيسی د سود پر وړاندی خپله کرکه څرګنده کړه او په تدريجي توګه يې په مطلق ډول منع اعلان کړو. له اسلام وړاندې په عربستان کې د سود د باندی سود يا مرکب سود دود و او تر ټولو لوړی منع وګرځول شو. هغه مهال، عادي او معمول دود دا و چې د ټاکل شوې ورځې په رارسېدو سره به يوه اندازه سود ورکول کېده او له هغه تاريخ وروسته به مرکبه ګټه يا سود دوه برابره يا څو برابره د سود په نامه وراضافه کېده. په دې اړه د قرآن کريم وروستي اياتونه يا يې د ناروااوالي حکم ډېر روښانه او واضح و او د اسلامي علومو د يو شمېر پوهانو په اند، په مطلق ډول په سود باندی سود (مرکب سود) منع کوي.

د حديثو مطابق، په عمومي توګه 'ربا' يا سود په دوه ډوله وېشل شوی: (۱)"مؤجله ربا" چې له څه وخت تېرېدا وروسته د پور د نه اداکولو له کبله

رامنځته کيږي (دا تر اسلام وړاندې په عربستان کې د "مرکب سود" تر ټولو ډېر ناوړه ډول و)؛ (۲) د "زياتوالي سود" چې بېلابېلو يو ډول جنسونو او محصولاتو د کميت د تبادلې په لړ کې به رامنځته کېده. په "سُنّتو" کې پر دواړه ډول سود بحث شوی دی. متزايد سود هغې ګټې ته ورګرځي چې زياتوالی پکې راځي چې معمولاً له نغدي پور څخه رامنځته کيږي. په موثقو سنتو کې "متزايده ربا" منع شوې ده چې عمومي معيار يې داسې ګڼل شوی: "سره زر د سرو زرو په مقابل کې، سپين زر په سپينو زرو، غنم په غنمو، وربشې په وربشو، خورما په خورما او مالګه په مالګه، او همجنس د همجنس په مقابل کې چې لاس په لاس ورکول کيږي، هر راز زياتوالی پکې سود دی.

**د بحث پوښتنې**

- ❖ اسلام پر سوداګرۍ کوم محدوديتونه وضعه کړي دي؟
- ❖ سود يا ربح څه ته وايي؟ دا مساله ولې مهمه ده؟
- ❖ غرار څه ته وايي ؟ دا مساله ولې مهمه ده ؟
- ❖ ددې مسالې د تشخيص پرمهال، چې ايا کله کوم مشخص سوداګريز عمل له دغو مفاهيمو (محدوديتونو) څخه نقض کړي، له کومو ستونزو سره مخامخ کيږي؟

## ۴- تجارتي قانون او اقتصادي پراختيا

د يوه داسې ولس لپاره د تجارتي قانون اصلاح ډېره مهمه ده چې کلونه کلونه يې په جګړو کې تېر کړي وي. په داسې حال کې چې ګڼ پوهان د اقتصادي پراختيا او د قانون د واکمنۍ ترمنځ ټينګه اړيکه مني، خو دوی د علت او معلول ترمنځ د اړيکې په اړه يوه خوله نه دي. داسې چې ايا د قانون واکمني د اقتصادي پراختيا سبب ګرځي او که اقتصادي پراختيا د قانون واکمني منځته راوړي؟ دې پوښتنو ته ځواب ويل ګران کار دی او د پراختيايي اقتصاد په رشته کې د ګڼ شمير کتابونو موضوع تشکيلوي.

د افغانستان د تجارتي قانون په تړاو د خپل بحث لپاره موږ تر ډېره د نيو انسټيټيوناليسټ په نظريه باندی تکيه کوو. دغه نظريه پدی ډول استدلال کوي چې د يو مملکت د اداراتو کيفيت د هغې د اقتصادي ودې سره نيغ په نيغه تړاو لري. په يوه هېواد کې تر ټولو مهم بنسټ د هغه حقوقي سيستم دی. قوانين او حقوقي ادارات دولت او د هغې نورې فرعي څانګې د نافذو قوانينو تابع ګرځوي او محاسبه يې کوي. دولتي ادارات په هغه صورت کې يو ثابت او د قانون سره سم چلند لرلی شي که چيرته د يوه هېواد حقوقي سيستم ښکاره معيارونه مشخص کړي او د دغو معيارونو سرغړوونکو ته سزا ورکړي.

بريالی سوداګري د اقتصادي ودې له اصلي اسبابو څخه ده، خو دغه سوداګري د خرابو حقوقي بنسټونو او غير علمي قوانينو تر درنې سيورې لاندې تربتيږي. بېلابېلې سوداګرۍ نه يوازې سړکونو، د اورګاډو پټليو او بندرونو ته اړتيا لري، چې له لارې يې توکي اقتصادي بازار ته ولېږدوي، بلکې دوی مقرراتو، ټيټې او شفافې ماليې او همدارنګه اغېزناکه حقوقي سيستمونو ته هم اړتيا لري چې د خپلو سوداګريزو ربړو په حل لارو کې ګټه ترې اخلي. که چېرې حکومتي بنسټونه لږ کار کوي، بې کفايته وي او يا فاسد وي، سوداګر پر خپلو سوداګريزو دندو د تمرکز او د شتمنيو د توليد او سرچينو پرځای خپل وخت ضايع کوي. ښه قوانين او ځواکمن حقوقي او قضايي بنسټونه د سوداګرو چارې غښتلې کوي او دا وړتيا ورکوي چې د يوه سيستم په جوړولو سره په خپلو ګټورو دندو او اجرآتو کې بوخت واوسي. د اجرا کولو وړ ژمنې سوداګريز شريکان هڅوي چې د خپلو راکړو ورکړو درناوی وکړي؛ ځکه دوی پوهيږي چې د اړتيا پروخت به يې محکمه د سوداګريز تړونونو شرايط عملي کړي. د

اجرا کولو وړ ژمنو کمښت یا نشتوالی تر ډېره حده د سوداګریزو معاملو اړوندې لنبګتونه او اندېښنې ډېروي چې په دې توګه د سوداګرۍ لپاره د سوداګریزو فعالیتونو وده محدودوي.

بریالی تجارتونه او اقتصادي تشبثات د اقتصادي پراختیا انجن ګڼل کیږي، خو دغه فعالیتونه د خرابواو ناقصو حقوقي بنسټونو او قوانینو تر درنې سیورې لاندې ساه نشي اخیستلی. تجارتونه نه یوازې سړکونو، د اورګاډو پټلیو او بندرونو ته اړتیا لري، چې له لارې یې توکي اقتصادي بازار ته ولېږدوي، بلکې دوی مقرراتو، ټېټې او شفافې مالیې او همدارنګه د خپلو سوداګریزو شخړو د حل لپاره یو اغېزمن حقوقي سیستم ته هم اړتیا لري. که چېرې حکومتي بنسټونه لږ کار کوي، بې کفایته وي او یا فاسد وي، سوداګر پر خپلو سوداګریزو دندو د تمرکز او د شتمنیو د تولید او سرچینو پرځای خپل وخت ضایع کوي. ښه قوانین او ځواکمن حقوقي او قضایي بنسټونه د سوداګرو چارې غښتلې کوي او د قرادادونو د تنفیذ لپاره د یو پیاوړی سیستم به رامنځته کولو سره هڅوي ته دا وړتیا ورکوي چې په پېچلو او لویو معاملو لاس پورې کړي. د قراردادی ژمنو د پلي کیدنی ډاډ تجارتي شریکان دی ته هڅوي چې په خپلو ژمنو وفا وکړي؛ ځکه چې هغوي پوهیږي که دغسی ونکړی، نو محکمه به د قرارداد شرایط پلي کړي. د قرارداد د شرایطو د پلی کیدنی په اړه د ډاډ نشتوالی بی باوري ، ریسک، او تجارتي معاملی اړونده لګښتونه زیاتوي چی په پایله کی یی تجارتي او اقتصادي فعالیتونه محدودیږي.

له دې کبله، د سوداګریز قانون اصلاح لپاره د ګامونو اخیستنه د اقتصادی پراختیا د هر پلان مهمه برخه ده. حقوقي مقررات بازارونو ته توسعه ورکوي، له سوداګرۍ څخه مصنوعي محدودیتونه پورته کوي، د نویو فرصتونو لپاره لاره پرانیزي او د پورونو په ورکړه، د تادیاتو په ایسارولو او د راتلونکی ژمنو څخه په ګټه اخیستنی د پېچلو او لویو معاملو لپاره زمینه برابروي.

## الف. د ناقص تجارتي قانون نښې

د سوداګرۍ د قانون نشتوالی یا نیمګړتیا د یوه هېواد پر اقتصاد او بازارونو منفي او محسوس اغېز کوي. سوداګر دې ته میل لري چې د ناکاره تجارتي قوانینو د شتون له کبله رسمي سکتو هیڅ په خپل خاطر کی را نه وړي. دا مساله د څو دلایلو له کبله د اقتصادي ودې د مخنیوي سبب ګرځي: فرض کړئ چې سوداګرۍ له حکومت سره له ثبتولو ډډه کوي؛ ځکه چې په حکومت کې د سوداګرۍ د جواز اخیستو بهیر سترې کوونکی دی، تر حده زیاتې مالیې اخیستل کیږي د پانګونې شرطونه هم ډېر ګران دي. غیر رسمي سوداګرۍ معمولاً کوچنۍ پاتې کیږي؛ ځکه چې دوی په رسمي توګه ضروري پورونو، د تمیلوونکو بنسټونو مشخصو مرستو او هغو امتیازاتو ته چې د دولت له خوا برابریږي، لاسرسی نه شي پیدا کولی. په پایله کې، حکومت خپل هغه مالیاتي عواید چې د زیربناوو د ملاتړ لپاره ضروري دي، له لاسه ورکوي؛ لکه سړکونه، د برېښنا ارتباطي مزي، او داسې امنیت چې د یوه هېواد د فعال اقتصاد لپاره ضروري دی. په دا ډول وضعیت کې، شرکتونه خپل هغه ناقانونه محصولات پلوري چې شاید د خلکو لپاره خطرناک وي. کارکوونکي له روغتیایي امتیازاتو، تقاعد او د کاري مصؤنیت له ځانګړتیاوو بې برخې کیږي. په پای کې، هغه سوداګري چې له رسمي سیستم بهر پرمخ وړل کیږي، کاروباریان هڅوي چې له رسمي سیاسي نظام څخه په څنډه تیر شي او د خلکو دموکراتیک اشتراک ته زیان ورسوي.

د تجارتي قانون په نشتوالي کې، د پېچلې او لویې سوداګریزې معاملو ترسره کول امکان نه لري. په دا ډول وضعیت کې، یوازې ډېرې ساده معاملې په بازار کې دود کیږي. کوچنۍ معاملې په حقیقت کې هغه راکړه ورکړه ده چې ضمانت پکې ضرور نه دی او کېدای شي چې شرایط یې سم لاسي د زور او اجبار له لارې پلي شي.. په دا ډول معاملو کې دواړې غاړې په یوه ځای کې (پېرونکی او پلورونکی دواړه په یوه ځای کې وي) او یو وخت (جنسونه او پیسې ورکول هم هممهاله ترسره کیږي).

د بېلګې په توګه: زه غواړم یو کتاب وپلورم. او تاسې د خرڅلاو لپاره یو کتاب لرئ. زه کولای شم له تا سره وګورم، ستا پروړاندې کتاب وګورم او په بدل کې یې تا ته پیسې درکړم، په داسې ځای او وخت کې کوم حقوقي یا قانوني سیستم هم عملي کېدونی نه وي. له موږ دواړو هېڅ کوم یو هم محکمې ته د راکاږلو اړتیا نه لرو؛ ځکه چې زه مخکې له دې چې کتاب وپلورم، هغه وګورم. که چېرې هڅه وکړم چې ستا کتاب واخلم

او د پیسو له ورکړې پرته له دې ځایه ولاړ شم، په دې صورت کې تاسې کولای شئ چې په فزیکي توګه ما دروئ. خو که چېرې مونږ د یوه هېواد په بېلابېلو برخو کې اوسېږو او زه غواړم چې د تیلې فون یا برېښنالیک (ایمیل) له لارې ستا کتاب راونیسم، دا څرنګه؟ زه به تر هغه پورې تاسې ته د پیسو ورکړې ته حاضر نه شم چې کتاب مو رالېږلی نه وي؛ ځکه چې کېدای شي زه دا وېره ولرم چې تاسې پر خپله ژمنه ونه درېږئ (کتاب راونه لېږئ). همدارنګه، امکان لري چې تاسې د بېلابېلو دلایلو له مخې، تر هغه پورې چې ما پیسې درلېږلې نه وي، ما ته کتاب راونه لېږئ. د سوداګریز باوري قانوني سیستم په نشتوالي کې چې دا ډول معاملې بې په لړ کې ترسره کېږي، دا رنګه معاملې ناممکنې وي؛ ځکه چې ریسک او بې باوري له دا ډول قضیو سره ډېرې زیاتې وي.

د یوه کمزوري تجارتي قانون بله عمومي ځانګړنه دا ده چې سوداګري په انحصاري توګه د خپلې کورنۍ د غړو یا دوستانو سره یا د شخصي اړیکو پر بنسټ پرمخ یوړل کیږي. له ناشنا کسانو سره سوداګري له ریسک سره مل وي؛ ځکه چې کېدای شي هغو پر خپلو ژمنو ونه درېږي. که چېرې سوداګریز تړون نافذ نه وي، دا به منطقي وي چې تاسې یوازې له باوري کسانو سره معامله وکړئ. دلته شخصي اړیکې په دې مواردو کې د ځایناستي په توګه کار کوي او تاسې کولای شئ چې په دې تله (باور) خپل سوداګریز شریک وتلئ ترڅو ډاډ ترلاسه کړئ چې معاملې مو پر ژمنې ولاړې دي او سوداګریز شرطونه په حتمي ډول نافذېږي. پر دې سربېره، پر شخصي اړیکو تر حد زیاته تکیه کول، دا اختیار –چې تاسې له څه ډول کسانو سره راکړه ورکړه کولای شئ- محدودوي. که چېرې یو مشتري د توکو په رانیولو کې پر یوه ناشنا سړي باور وکړي، په دې صورت کې نورو او غوره توکو او ټیټو نرخونو ته لاره مومي؛ ځکه چې هغه لاهم کولای شي چې د اړتیا وړ توکي له بېلابېلو خلکو راونیسي، چې په دې کې له هغو سوداګرو د توکو اخیستل هم راځي چې تل د نړۍ په بېلابېلو برخو کې د تګ- راتګ په حالت کې وي. همداسې، ستر افغان پانګوال دا فرصت مومي چې ډېره ګټه ترلاسه کړي؛ ځکه چې هغوي د خپلو توکو د خرڅلاو لپاره لوی او پراخه مارکیټونه لري؛ په بله وینا، دغه کسان د توکو د خرڅلاو لپاره یوازې د کورنۍ پر غړو یا دوستانو پورې مقید او محدود نه دي.

مثلاً فرض کړئ: وروسته له هغه چې له تاسې مې کتاب وپېره، او د څه وخت لپاره مې ولوست، غواړم دا کتاب وپلورم او بل کتاب واخلم. زما د تره زوی چې له کوچنیوالي راهیسې سره پېژنو، د کتاب د اخیستو غوښتنه کوي او هماغه اندازه پیسې راکوي چې ما دا کتاب پرې اخیستی دی. که چېرې کتاب د برېښنالیک له لارې ورواستوم، هغه به دوه میاشتې وروسته له یوبل سره د لیدو پرمهال ماته پیسې راکړي. ما د هغه دا وړاندیز په یوه رستوران کې له خپلو ملګرو سره د خبرو پرمهال هغوی ته روښانه کړ. اوس، که چېرې زه دا کتاب خپل یوه ملګري ته ورکړم او هغه دا ژمنه وکړي چې دوه ورځې وروسته به دې رستوران ته ماته پیسې راوړي، نو دا چې د سوداګریزو ژمنو د ترسره کولو لپاره کوم سیستم هم نشته، احتمالاً دا غوره بولم چې دا کتاب د خپل تره زوی ته (هغه څوک چې زه پر هغه لا ډېر باور لرم) د لږو پیسو په مقابل کې خرڅ کړم، ان که چېرې پر یوه ناشنا سړي د کتاب په خرڅولو ماته ډېره ګټه هم وي.

د ناقص تجارتي قانون یوه بله نښه د محصولاتو لپاره د تبلیغاتو او بازارموندنې په هڅو باندې د باور نه لرل دي. سوداګر به هیڅ کله د یو محصول د مشخصاتو او خواصو په اړه تبلیغاتو باندې باور ونکړي، که چیرته په حقوقي سیستم کی د ناسمو معلوماتو یا د دروغ دعواوو لپاره مجازات یا مویدات شتون ونلري. په داسې مواردو کې چې په شخصي توګه پکې پر سوداګریزو توکو باور نه وي، معاملې محدودوي او د سیالۍ زمینو ته زیان رسوي. خرڅوونکي د خپل توکو او د خپلو سیالانو د توکو ترمنځ توپیر نشي کولی، او له دې کبله دا وړتیا نه پیدا کوي چې نوي تجارتي فرصتونو ته لار پیدا کړي. پدې سربیره، د تجارتي معاملو ترسره کیدل سوکه کیږي، ځکه چې هر اړخ باید په انفرادی توګه د قرارداد موضوع وارزوي. په پایله کې دا وضعیت د مسلکي خدمتونو د ورکړې په تشبثاتو باندې منفي اغېز کوي؛ ځکه چې د مسلکي سلاکارانو وړاندیزونه د باور وړ نه ګڼي.

اوس داسې وانګیرئ چې ما د خپل کتاب د ساتلو هوډ وکړ او د یوې غوره معاملې په لټه کې یم. د ورځپاڼې لوستلو پرمهال مې د یوه سیمه ییز کتابپلورنځي له لوري پر یوه سوداګریز اعلان سترګې ولګېدې، چې پکې راغلي د زړو کتابونو د رانیولو لپاره "لوړ قیمتونه" وړاندې کوي. د ورځپاڼې لوستلو پرمهال د بېلابېلو کتاب پلورنځیو لس نور سوداګریز اعلانونه لولم. اوس، که چېرې زه د بېلابېلو تجارتي اعلانونو د مقایسې هوډ ولرم، باید لسو کتاب پلورنځیو ته ورشم ترڅو پوی شم چې کومه یوه غوره نرخ راکوي. سربېره پردې چې پر سوداګریزو اعلانونو باور لرم، په

تدريجي ډول د خپلې خوښې له لېست څخه د هغو درېيو کتابپلورنځيو نرخونه انتخابوم، چې زما د کتاب په څېر د زړو کتابونو د رانيولو لپاره د "لوړو نرخو" وړاندې کولو ادعا کوي. د يوه سوداګريز سيستم موجوديت دا وړتيا راکوي چې په ورځپاڼو کې د کتاب پلورلو نمايندګيو له خوا د ځانګړتياوو پر بنسټ له خپل وخته په ګټې اخيستو سره د خپلې خوښې اخيستونکي وټاکم.

**د مطالعې تمرکز**

- ❖ کمزوری تجارتي قانون کومې نښې لري؟ کمزوري سوداګريز قوانين پر سوداګريزو او اقتصادي فعاليتونو څرنګه اغېز کولای شي؟
- ❖ ايا تاسې معمولاً له کوم ډول خلکو سره سوداګريزې معاملې کوئ؟ کورنۍ؟ ملګري او يا ناشنا کسان؟
- ❖ ايا ستاسې تر ټولو ډېره پېچلې وروستۍ اقتصادي معامله کومه وه؟

## ب. تجارت او د هغې د حقوقي تنظيم تکامل[3]

ګڼ اقتصادپوهان، پاليسي جوړوونکي او حقوقي کارپوهان د اقتصادي ودې د لا ښه کېدو په اړه پلټنې او مطالعې کړې دي. د هغوی پلټنو او څېړنو وښودله چې په يوه هېواد کې د اقتصادي ودې د ښه والي لپاره يوه واحده لاره نشته. اقتصادي وده تر ډېره د يو مملکت په ځانګړي حالاتو او شرايطو سره تړاو لري. همدغه پلټنې ښيي چې د مالکيت د حقونو د ساتنې، د قراردادونو عملي کولو، د ازاد بازار تنظيمولو په څېر د تجارتي قانون دغه اصول د هر هيواد په اقتصادي وده کې مهم رول لوبوي. نو پدغه اساس ضرورت د دی چې داسی اغيزمن ادارات رامنځته کړی شی چې دغه اصول په دسی يوه ښه پلي کړی چې ځايی اړتياوو ته ځواب ووايي او اقتصادي وده وهڅوی. همدارنګه د اداراتو طرحه او رامنځ ته کول نيغ په نيغه له ځايی محدوديتونو او همدارنګه له فرصتونو سره تړاو لري.

په دې څېرکي کې دغه لاندې پراګرافونو پدی خاطر شاملې شوي چې لوستونکي په افغانستان کی د تجارت او تجارتی قانون د تکامل د بهير په اړه فکر او غور کولو ته وهڅول شي. همدغه رنګه دا برخه به ستاسی سره د افغانستان پر وړاندی د شته ننګونو د تحليل او همدا رنګه د هغې لپاره د حل په پيدا کولو کی مرسته وکړي. کله چې تاسې لاندی ځينې برخې لولې ، پدی فکر وکړی چې په افغانستان کی کوم ډول تجارتي ادارات شتون لري او ايا هغوی د دی وړتيا لري چې د خلکو لومړنی اړتياوی پوره کړي او يا هم د هيواد د اقتصادي پراختيا لامل وګرځيدی شي. بيا دی ته پام وکړی چې کوم ادارات ډېر اهميت لري او هغوي د تجارتی اشخاصو د مثبت او منفی چلند لپاره د مکافاتو او مجازاتو څه ډول يو مکانيزم رامنځته کړی. خو بايد په پام کی ولری چې د د افغانستان ځانګړي شرايط او وضعيت به د دی هيواد لپاره تر ټولو غوره او مناسب تجارتی ادارات مشخصوي.

### سوداګري او بازار

عمومي مارکيټ او بازار هغه لومړنی اقتصادي بنسټ دی، چې اوږده تاريخي مخينه لري او د افغانستان په ګڼون په ګڼو هېوادونو کې د خلکو د ورځنې ژوند يوه مهمه برخه ده. لاندې بحث به د کلی د بازاره بيا تر نړيوال مارکيت پوری د سوداګريزو معاملو او د هغې د اړونده مقرراتو پراختيا تر څېړنی لاندی ونيسي. په دې بحث کې پر هغو اساسي ستونزو رڼا اچول کېږي چې د سوداګری قانون يې د له منځه وړلو په هڅه کې

[3] د کينيت د (د قانون حاکميت او اقتصادي پراختيا) کتاب څخه اخيستنه، د ۲۰۰۶ کال خپرېدنه.

دی او همدا رنګه هغه بدلونونه چې د وخت په تیریدا سره په دی قاونون کی رامنځته شوي.

په بازار کې، پیردونکی او پلورونکی، په شفاهی توګه قرارداد کوي، او بیا یو بل ته توکي یا پیسې ورکوي. پیسې او توکي دواړه په هماغه ځای (فزیکي ځای) او وخت کې هممهاله سره تبادله کیږي. که پیسی او توکي په یو ځایی کی شتون ونلري او جلا وی سره نو څه ستونزه په رامنځته شي؟ امکان لري چې په قرارداد کی د پیسو او د توکو د ورکړی موده له یو بله څخه جلا وټاکل شي؛ د بېلګې په ډول: کله چې پېرونکی اوس اخیستل شوی توکی له ځانه سره اخلي خو وروسته د پیسو د ورکړې ژمنه کوي. نو خرڅوونکی څه ډول باور کوي چې له ژمنې سره سم به اخیستونکی پیسې ورکړي؟ د سوداګرۍ د قانون د نشتوالي په صورت کې، شاید خرڅوونکی هر راز هغه معامله رد کړي چې نغدې پیسې پکې نه ورکول کیږي. کېدای شي همدغه ستونزه هله هم رامنځ ته شي کله چې د اخیستونکي په فرمایش د چمتو شوو توکو لپاره خرڅوونکي ته پیشکي پیسې ورکړل شي.

دغه ستونزې په داسې صورت کې چې د وخت او ځای له اړه جنسونه او د پیسو ورکړه پکې له یوبل څخه جلا وي، دوه برابره کیږي؛ یعنې په هغو مواردو کې چې خرڅوونکی او اخیستونکی دواړه په جلا ښارونو یا هېوادونو کې ژوند کوي. په دې صورت کې پلورونکی او پېردونکی کولای شي چې په لیکلې بڼه او یا د مسافرت د نمایندګی له لارې له یوبل سره هوکړې ته ورسیږي، خو د دواړو د ځایی جلاوالی له کبله شاید پیرونکی د پیسو د ورکړې د مخه د توکو د ورکړې غوښتنه وکړي. بل خوا خرڅونکی هم شاید دا اندیښنه ولری چې پیرونکي ته د توکو د رسیدو وروسته د هغه نیت بدل شی او پیسی یی ورنکړي. پدغه خاطر امکان لري چې هغه د پیرونکی څخه د مخه د پیسو غوښتنه وکړي. په ګڼو دا ډول مواردو کې، جنس (Quid) او پیسی (Quo) د وخت او ځای له پلوه له یوبل څخه جلا وي. مخکې به معمولاً جنسونه لیرې بازارونو ته وړل کېدل (او لاهم وړل کیږي) او د سیمه ییزو استازو په مټ به خرڅلاو ته وړاندې کېدل. دغو سوداګریزو کړو وړو دوه ډوله ستونزې رامنځ ته کولې: لومړی، که به تولیدوونکی په بازار کې تېر ایستل شو، هغه به اړ و چې د خپلو حقونو ددفاع په خاطر سیمه ییزو چارواکو ته مراجعه وکړي او داسې به انګیرل کېده چې هغه به دده په حق کې د یوه بیګانه (ناشنا) سړي په توګه چلند ونه کړي. دویم، تولیدوونکی اړ و چې پر یوې سیمه ییزې نمایندګی او یا "دلال" تکیه وکړي ترڅو د هغه لپاره د یوه خرڅوونکي په توګه کار وکړي. فرض کړئ که چېرې به یاد شوي 'استازي' په اسانی سره جنسونه یا ورکړل شوې پیسې (یا دواړه) ترلاسه کړل، او له معاملې پرته به ولاړ، په دې صورت کې به د تولیدوونکي شاید د خپلو پیسو د ترلاسه کولو لپاره ډیر لږ امکانات ولري.

دا ډول ستونزې د لیرې واټن سوداګرۍ پرمهال په ټوله اسیا او اروپا کې په منځنیو پیړیو کې ډېرې شدیدې وې. که څه هم ګڼو ښارونو او سوداګریزو مرکزونو خپل داخلي حقوقي سیستمونه لرل، خو دا توان یی نه درلود چې د خپلی واکمنی څخه د باندی سیمو کی د خپلو وګړو د هغه قراردادونه تنفیذ کړی چې دوي به پکې تېر ایستل کېدل. په نتیجه کې، د لیرې-واټن سوداګري ډېره محدوده وه. ان که د سوداګرۍ دواړه غاړې به د ښه نیت پر بنسټ له یوه او بل سره تفاهم کړی و، د پیسو او جنسونو جلاوالی د وخت او ځای له پلوه، کولای شوای یوه غاړه دې ته وهڅوي چې وروسته له هغی چې بله خوا د خپل مسولیت یو برخه ترسره کړی وي، د قرارداد په شرایطو کی د بدلو غوښتون وکړي. دغه ډول کار چې عموماً د قرارداد یو اړخ پکی خپل وجایب بشپړ کړي وي او بل اړخ یی غواړی د مقابل خوا د ضعیف موقعیت څخه ناوړه ګټه پورته کړي ***(ایکس اپورنیزم-*** **ex-post opportunism**) بلل کیږي او دا اوس هم د نړی په ګن شمیر هیوادونو کی یو عادی چلند دی. د حقوقي سیستم په مټ د قراردادونو عملي او ترسره کول، خلک پرته له اجباره خپلو ژمنو پوره کولو ته هڅیږي او د **ایکس اپورنیزم** څخه راولاړلی شوی منفي اغیزی له منځه ځي.

دغه ډول ستونزو چې په ټول اقتصادي فعالیتونو کی یی شتون درلود په هغه سیمو کی رامنځته کیدلی چې کوم حقوقی نظام به پکی شتون نه درلو او یا به دغه سیسټم دومره اغیزمن نه و چې د قراردادونو د پلی کیدنی په تړاو د د دواړو خواوو ترمنځ ډاډ رامنځته کړي. همدا رنګه دغه ستونزی یواځی تر سوداګری محدودی نه وی بلکه د مالی قراردادنو او د بیمی د معاملو – چې د پیسو او جنسونو د جلاوالي ښکارندویه دي- کی هم تر سترګو کیدلی.

که څه هم پیسې او جنسونه د وخت او ځای له پلوه له یو بل سره جلا وي، خو د معاملې دواړه غاړې یو پربل باور لري، بیاهم ځینې معاملې ترسره کېدای شي. که یې یو شمېر عوامل په ګوته کړو، دا ډول باور کولای شي چې د مقابل لوري ښه نوم چې د تکراري معاملو له لارې ترلاسه کېږي، د کورنیو اړیکو یا شخصي روابطو پربنسټ رامنځ ته شي. د قانون د واکمنی یو بدیل د د ټولنی د ډله ایز مسولیت یا قبیلوی سیستم دی. پدغه ډول یو سیستم کی په یو قوم قبیلی یا ټولنی پوری تړلي د بدو کړنو، درغلیو، او پورونو لپاره ټول کورن،قوم، او د هغه ټولنه پړه ګڼل کیږي. که چیرته یو کس د بلی کورنی او قوم سره د تړلي شخص پور او تاوان ورنکړي، نو په بدل کی یی د دغه سړی یا د هغه د خپلو خپلوانو شتمنی قبضه کیږي. دغه حقوقي سیستم داسې وخت کار کولای شي چې د پوروړي ټولنه د بهرنیانو د سوداګریزو توکو او معاملو څخه د محرومیدو له کبله پوروړی دې ته اړ کړي چې د خپلو ژمنو درناوی وکړي.. د پور په ورکړه کې د ټولنې پاتې راتلل د بهرنی ټولنې د تجارتي بندیز او له دوی سره د مالي معاملو د پرېکون (مقاطعې) لامل ګرځي. دلته که پام وکړو نو په دی سیستم کی یوه قوی مویده شتون لري: کوچنی تجارتي شخړه به پراخه کچه د تجارتی لیږد او خرڅلاو ستونزه راولاړه کړي چې د یوی ټولنی او قوم د اکثره غړیو پر ضرر به وي.

د ځایی شرایطو په اړه د معلوماتو کمښت او د خاوند یا اصلي او استازی ترمنځ د اړیکو ضعیفوالی په ستونزو د قابو موندلو لپاره یوه ښه لار د ښه اعتبار لرونکو بهرنیو استازو د یوي شبکی رامنځته کول وو. هغه مغربي سوداګر چې په یوولسمه میلادي پیړۍ کې د مدیترانې سمندر په شاوخوا کې یې فعالیت درلود، د خپلو توکو د خرڅلاو لپاره یې د سیمه ییزو استازو له ایتلاف ګټه اخیسته. که یوه سیمه ییز استازي به لوېدیځوال تاجر تېر ایسته، د استازي اعتبار او حیثیت به له منځه ولاړ، او بیا به په راتلونکې کې هېڅ کوم لوېدیځوال سوداګر له هغه سره د معاملې زړه نه ښه کاوه. په هر حال، د نوم او حیثیت د باور پربنسټ، شهرت خپل حد او حدود لرل؛ ځکه چې معمولاً دا ډول قرارداد هم پر یوې مشخصې ټولنیزې ډلې پورې تړي او د ټولنې ټول سوداګر په کې شامل نه دي.

یو بل متفاوت سیستم چې د "د تجارانو د قانون په نامه یادیده " هم شتون درلود. سوداګریزې ټولنو - معمولاً اصنافو - د هغه خصوصي مقرراتو د پلي کولو لپاره چې په تجارتي معاملو کی د دوی د چلند څخه اخذ کړی شوي و، خصوصي محکمی رامنځته کړي وی. د دودیزه سوداګرۍ د قانون سیستم تر یوه حده پر حیثیت ولاړ و؛ ځکه هغه سوداګر چې د خصوصي محکمې له پرېکړې یې سرغړاوی کاوه، د باور د له منځه تلو له ګواښ او د اعتماد د له لاسه ورکولو له خطر سره به مخامخېدل، او بیا به یې په لیرې واټن کې سوداګري نه شوای کولای. دودیز سوداګریز سیستم په تدریجي توګه د لومړني خرڅلاو له بریده وړاندې ولاړ او د 'مالي اعتبار' په څېر د صرافی حسابونه، بیمه او د سوداګرۍ پر ودې پورې اړوند نورې حقوقي سلامشورې یې هم له ځانه سره لرلې.

**د بحث پوښتنی**

- ❖ بازار څرنګه فعالیت کوي؟ په بازار کې کوم ډول سوداګریزې معاملې ډېرې دود دي؟ قراردادونه څرنګه پلي کیږي؟
- ❖ په سوداګریزه معامله کې د وخت او ځای له پلوه د پیسو او جنس جلاوالی پر تجارت څه اغېز پرېباسي؟ په سوداګرۍ کې باور څومره مهم دی؟
- ❖ د تاریخ په اوږدو کې په سواګریزو معاملو کې د پیسې او جنس د جلاوالی سره تړلی ستونزی څرنګه له حل شوي دي؟
- ❖ د تجارانو قانون یعنی څه؟ ایا تاسې ته افغانستان کې دې ته ورته بنسټونه معلوم دي؟

**د ملت-دولت پیدایښت**

د ملت-دولت د تکامل په بهیر کې د لیرې واټن سوداګرۍ او نورو سوداګریزو ستونزو د حل لپاره یو مرکزي نظام هم رامنځته شو. دولت-ملتونه د لومړي ځل لپاره د محکمو په رامنځ ته کولو وتوانېدل، د قراردادونو منل یې پر یوه جبرې چارې بدل کړل، سوداګرې یې پرمخ بوتله او له بهرنیو سوداګرو سره یې عادلانه چلند وکړ. په تېر کې، د سوداګریزو شخړو د حل او هوارۍ لپاره د دولت له جدي محدودیتونو څخه یو هم په خپل قلمرو پوره واک نلرل و. که څه هم دا امکان و چې یو پاچا به ظاهراً د خپل قلمرو پر ډېرې سیمو واک درلود، خو سیمه ییزو چارواکو (لکه نجیب کسان) یاغیانو، او دغه رنګ نورو عواملو د قانون په پلی کولو کې د دولت وړتیا (سیاسي قدرت) محدود ه کړې وه. په پایله کې، د سوداګریز شخړو حل تر پیړیو په اروپا کې یو ځایي مسله پاتې شوه. لکه: په فرانسه کې د نولسمې پېړۍ تر لومړیو کلونو پورې – کله چې ناپلیون د لومړي ځل لپاره خپل مشهور حقوقي اصلاحات تطبیق کړل- یو مرکزی حقوقي نظام شتون نه درلود. ایټالیا او المان د نولسمې پېړۍ تر څو وروستیو کلونو پورې هم د یوه متحد دولت-ملت په بڼه راڅرګند نه شو او انګلستان هم د څو پېړیو لپاره د محاکمو بیلا بیلا ډولونه لرل چې په یورنګه قضیو کې به یې پریکړو د یو بل سره توپیر درلود. تر هغه وخته چې په اروپایي هېوادونو کې د شخړو هوارۍ د ځايي واکمنانو په لاس وو، د نورو ټولو په وړاندی د ځایي سوداګرو ترڅنګ د دریدو دود ته لیوالتیا د اقتصادی او تجارتي پراختیا په مخ کې خنډ ګرځیده .

د دولت-ملت پیدایښت د حریص واکمن په بڼه د اقتصادی پراختیا او د قانون د واکمنی پر وړاندی نوی ګواښونه هم رامنځته کړل. دا ډول واکمنانو خپل قراردادونه تر پښو لاندی کوي او د د خپلو شخصی موخو لپاره د خپل رعیت شتمنی غصبوي او کاروي. له بده مرغه، په بیلابیلو هېوادونو کې دغه حریص واکمنان تر ننه خپلې مستبدې واکمنۍ ته دوام ورکوي. خو اوس پوښتنه دا ده چې ایا یو دولت-ملت څرنګه یو داسې نظام جوړولای شي چې په رڼا کې یې واکمنان په کافي اندازه ځواکمن وي، د قراردادونو د پلی کولو توان ولري او د وګړو له شخصي شتمنۍ ساتنه وکړای شي، خو پخپله واکمنان پدی قادر نشي چې پدغه حریصانه کړنو لاس پورې کړي؟ که چیری خلک په خپل دولت دا ډاډ ونلری چې د دوی زمکه به نه غصبوي، هغوي به هیڅکله هم دې ته زړه ښه نکړی چې پدغه ډول یو ځمکه کی پانګونه وکړي او برعکس ترجیح به ورکړي چې خپله شتمني د لالونو، جواهراتو، طلاوو او د نغدو پیسو په بڼه خوندي کړي. د دغه تضاد شتون په شتمنۍ تولیدوونکي ملکیتونو کې د پانګونی مخنیوی کوي او د اقتصادي پراختیا په مخ کی خنډ ګرځي.

**د بحث پوښتنې**

- ❖ د دولت-ملت پیدایښت څرنګه د سوداګریزو شخړو پر هوارۍ باندی اغیز وکړ؟
- ❖ آیا دولت-ملت د لیرې واټن سودګري ساده کړې او که یی ډېره پیچلې کړې ده؟ ولې؟
- ❖ ۳. حریص واکمن یعنې څه؟ یو حریص واکمن څرنګه پر تجارت او تجارتي قانون اغیز کوي؟

## قراردادونه او ملکیت

د باور وړ تجارتي قانون نشتوالی او خپلواکو قضایي اجرآتو نه موجودیت د اقتصادي ودې په لاره کې لوی خنډونه ګڼل کیږي. که څه هم معمولاً سوداګریزې معاملې تر ډېر حقوقي اجرآتو ته د کومی اړتیا پرته تر سره کیږي او سوداګر په دی خوښ یی چې د محاکمو څخه د باندی خپلی شخړی هواری کړی؛ خو سره له دی هم، د هغوی راکړه ورکړه او د قراردادونو پلی کیدنه د قانون تر سیوري لاندی ترسره کیږي. پدی سربیره، تجاران پدی پوهیږي چې محکمې تل د قراردادونو څخه راولاړې شوی منازعات د یو لړ قوانینو پربنسټ حل کوي، نو له دغه کبله هغوی دی ته اړ کیږی چې د یو بل په وړاندی خپل دریزونه نرم کړي او ژر یوی موافقی ته سره ورسیږي. له بلی خوا په هغه مواردو کی چې د تجارتي قانون د پلي کیدنی لپاره محکمی شتون ونلری، د زور او جنګ د لاری د قراردادنود پلی کیدنی هڅه کیږي.

د محکمو د وړتیا ټیټوالی او په هغوي بی باوري د اوږدمهاله او پیچلي قراردادونو اغیزمنه کاریدنه محدودوي. د هیوادونو اقتصادونو د پراخیدو سره

هم مهاله قراردادونه هم مهم او پیچلي شوي دي. د خلکو ډیری لومړني اړتیاوی تر هغه وخته پوری نشي پوره کیدی، تر څو چې په قراردادونو استناد نه وی شوی او پلی شوي نه وي. د بیلګې په ډول: قراردادونه د برېښنا د تولیدولو، د سړکونو جوړولو او د ګرځنده تیلېفونو د شبکو پراخولو لپاره اساسي عنصر ګڼل کیږي. همدارنګه کله چې د مالکیت حق مصؤن نه وي، خلک هڅه کوي چې خپلې شتمنې د زیوراتو او سرو زرو په بڼه چې حفاظت یې نسبتاً اسان دی، جمع کړي او دی ته زړه نه ښه کوي چې په ارزښت لرونکو مالی پانګو کی چې د جعل او تزویر امکان پکی ډیر دی او یا هم په ځمکو کی چې د غصب امکان یې هر وخت شتون لری ، پانګونه وکړي. جرم د اقتصادي ودې پروړاندې یو ستر خنډ دی؛ ځکه چې جرایم په عمومي توګه د مالکیت حقونه له ګواښ سره مخامخوي.

په بازارونو کې د عادي راکړې ورکړې د قراردادونو په پرتله اوږدمهاله معاملو قراردادونه ډېر پیچلي دي. د بیلګی په توګه د یو ودانې د جوړونی قرارداد تر غور لاندی ونیسی چې د قرارداد یوه خوا پکی خپل وجایب د یو څو میاشتو په اوږدو کی ترسره کوي. د بیلګی په توګه د کور پیرونکی پیرونکی یوه اندازه لازمې پیسې مخکې ورکوي یا لازم مقدار پیسې د قسط په توګه ورکوي. خو امکان لري چې د قراداد د بلی خوا چې کور جوړونکی دی، نیت بد شي او هڅه وکړي چې د تعمیر په جوړونه کی د ټیټ کیفیت مواد وکاروي. دا اندیښنه ځکه منځته راځي چې امکان لری د پیسو د ترلاسه کولو وروسته هغه د خپل مکلفیتونو د تر سره کولو لپاره ډېر لږه انګیزه ولري ؛ خو که چیرته یو بل عامل لکه د قرارداد د بل اړخ سره کورنی اړیکی ( د خپلوۍ عنصر Relational Element) او یا هم په راتلونکی کی د نورو تجارتي معاملو د لاسه وتلو اندیښنه (د معاملی د تکرار عنصر Game Repeat Element) ، شاید کورجوړونکی دی ته اړ کړي چې د خپلو ژمنو درناوی وکړي.

خو ستونزه هغه وخت رامنځته کیږي چې کله خلک د نااشنا وګړو یا د خپل قام او کلي څخه د باندی نورو خلکو سره تجارتي معاملو ته اړشي، نو بیا د خپلوی عنصر او د معاملی د تکرار عنصر کفایت نه کوي. له کلیوالو سیمو څخه سرحدي سیمو یا ښارونو ته د خلکو خوځښت د تجارتي شخړو د هواری لپاره د یو مشترک قانون د شتون اړتیا رامنځته کوي. په اوسنی نړۍ کې، اقتصادي وده له اوږدمهاله قراردادونو سره تړلې ده او خپلوی او اړیکی پکی کوم مهم رول نلري؛ لکه: د لویو زیربنایي پروژی قراردادونه د پورتني کور جوړنی قرارداد په مقایسه ډیر پیچلي دي. دغه ډول پروژی ډیر لګښتونه غواړي او په اندازه پیچلی دي چې حکومت یې په یواځې سر د عملي کولو توان نه لري. د زیربنایي قراردادونو حجم غټ او په زرګونو مادی لري چې د پیسو ورکړه یا نه ورکړه یا د هغې په ورکړه کی د تاخیر په ګډون ډیری نور مسایل پکی تنظیمیږي. د قراردادونو حقوق او د هغې پلی کیدنه له دواړو غاړو سره د هغوي د شخړو په حل کې مرسته کوي چې کېدای شي د یوه کال د څو میاشتني پړاو په بهیر کې -چې دغه قرارداد دوام لري -رامنځ ته شي.

د قرارداد دا ډول ستونزې په ځانګړې توګه هغه مهال ستونزمنې کیږي کله چې د قرارداد یوه خوا پخپله حکومت وي. د قرارداد خصوصي خوا د هغه دولتونو سره قرارداد لاسلیکولو کی زړه نا زړه وي چې د قانون واکمنی ته ژمن نه وي یا د کومی تجارتي شخړی د رامنځته کیدو په صورت کی د هغوی سره عادلانه چلند تضمین نکړي شي. د قرارداد د خصوصي خوا دغه اندیښنه د دی لامل ګرځي چې دولت ته د توکو او خدماتو رانیونه به ګرانه بیه تمام شي. دغه ستونزه ترډیره په هغه هیوادونو کی رامنځته کیږي چې د تجارتي شخړو د هواری لپاره خپلواک محاکم شتون ونلري.

خصوصي قرارداد کونکو د دغه ډول ستونزو او خطرونو له منځه وړلو لپاره معمولاً دوه لاری اختیار کړي دي: «حکمیت » او« مالي فساد». معمولاً د حکمیت په تړاو مواد د بهرنیو شرکتونو او حکومتي ادارو ترمنځ په قراردادونو کې ځایی په ځای کیږي. دغه ډول مواد د قرارداد د دواړو خواوو دا هوکړه څرګندوي چې هر راز سوداګریزې شخړې به په یوه خپلواکه، خصوصي او بې پرې (بې طرفه) محکمه کې حل کوي. خو بل طرفته کورني سوداګر د اسانتیا نلري چې د دولت سره په خپلو قراردادونو کی په یو دریم هیواد کی د حکمیت شرط کیږدي. نو ځکه هغوی هڅه کوي چې ځایی چارواکو ته در شوتونو او بډو په ورکړی سره نه یواځې د دولت د ژمنو عملي کول تضمینوي او له هغې د خوا د کومو د ستونزو د نه راولاړلو په اړه ډاډ ترلاسه کوي.

**د بحث پوښتنې**

- ❖ د سوداګرۍ او محکمو ترمنځ اړیکې څه دي؟
- ❖ د محکمو په نشتوالي کې، سوداګریزې معاملې څه ډول عملي کېږي؟
- ❖ د داسې یو قرارداد بیلګه وړاندې کړئ چې ستاسو په ورځني ژوند اغیز لري؟
- ❖ څرنګه پیچلي او اوږدمهال قراردادونه د سوداګرۍ پر وړاندې دودیزه محدودیتونو – لکه کورنیو او خپلوانو سره معامله-باندې برلاسي کېدای شي. ډول لاسبرې کېدای شي؟
- ❖ د خصوصي سکتور کاروباریان پر ناکاره بیوروکراسیو او فساد څرنګه غالب کېدای شي؟

## ځمکه او حقوقي نایقیني توب

د حقوقي نایقیني توب سرچینې څه دي؟ لنډ ځواب دا دی چې حقوقي نایقیني توب څګه رامنځته کېږي چې د مالکیت د حقونو تثبیت ډېرى وخت له رسمي حقوقي سیستم څخه د باندې صورت مومي. دودونه، ټولنیزو نورمونو چې په قبیله یا په یوه لویه کورنۍ کې شتون لري او همدا رنګه نارسمي حقوقي سیستم –چې د رسمي حقوقي سیستم څخه په جلا ډول فعالیت کوي– د ملکیت د حقونو ساتنه کوي. نارسمي حقوقي سیستم په هغو سیمو کې ډېر نفوذ پیدا کوي چې رسمي محکمې او دولتي ادارې پکې شتون ونلري او پدغه اساس هغوي دی وړ نه وي چې د وګړو د ملکیت د حقونو ساتنه وکړي شي. په یوه داسې ټولنه کې چې بهرني ورته لږ تګ-راتګ لري، دا وضعیت کومه ستونزه نه رامنځته کوي، خو د نفوس ډېرېدل او په لویه کچه د خلکو تګ راتګ بازار ته د نوي لوبغاړو د رانوتو لامل ګرځي. دغه نوي لوبغاړي شاید شتمن بهرني تجاران وي چې د پانګونو په لټه کې وي او یا هم لویې شرکتونه چې غواړي نوي فابریکې جوړې کړي، او یا بیا هغه ښارمیشته کسان وي چې د خاصو موخو لپاره ټولنې ته رامات شوي وي. په هر ترتیب چې وي دغه نوي کاروباریان به تر هغه وخت پورې د ځمکې پلور ته زړه ښه نه کړي تر څو پورې چې هغوي پر دې ډاډه نشي چې د ملکیت حقونه به یې په رسمیت وپیژندل شي او ساتنه به ترې وشي.

په ګڼو مخ پر وده هیوادونو کې، د ځمکې مالکیت غالباً د حقوقي ابهام او نایقیني توب په ټوکر کې نغښتل شوی دی. په ښارونو کې وضعیت ډېرى وخت د کلو او بانډو پرتله ناوړه وي؛ ځکه چې د ولایتونو په مقایسه په ښارونو کې ټولنیز نورمونه او دودیزه اړیکې دومره اغیز نلري. په کرنه کې اخته دهقانان په څرګنده د حقوقي نایقیني توب له کبله ګواښل کېږي؛ ځکه که ددوی د ځمکې مالکیت په رسمیت ونه پیژندل شي، نه یوازې خپله شتمني له لاسه ورکوي، بلکې د خپلو عایداتو سرچینه هم د لاسه ورکوي. د یو هیواد اقتصاد د حقوقي یقیني توب نشتوالی د یو هیواد اقتصاد ته ډېر زیانونه اړوي. په هغو ځایونو کې چې د ځمکې مالکیت په یوه دفتر کې رسماً نه وي ثبت شوی، کروندګر اړ دي چې خپل محدود امکانات د د کټارې، دیوالونو، ونو او نورو نښو په جوړولو باندې ولګوي؛ ځکه چې ددوو کورنیو ترمنځ د حدودو پیژندلو بله لاره نشته.

پدغه ټړاو یو بل مهم ټکی دا دی چې په هغه سیمو کې چې د ملکیت د ساتنې یا د هغه د حدود د تعین لپاره رسمي حقوقي ادارات شتون ونلري، د ځمکې څښتن د ځمکې په ګروۍ کې د ستونزو سره مخ کېږي. که چیرې هغه خپله شتمني په ګروۍ ورنه شي کړای، د پراختیا لپاره یې پیسې نه شي پورولای، او نه هم نوره ځمکه اخیستی او یا کومه سوداګري پیلولای شي. د کرنیزې ځمکې د ښیرازې په موخه پانګونه که هغه د اوبو لګولو په برخه کې وي، یا د اوبو د بند په اړه، او یا هم د نوي تخم په برخه کې، د محصول، حاصلخیزی، او کرنیز چاپیریال لپاره ډېر زیات اهمیت لري. د ځمکې د قبالې له لارې د حقوقي یقیني توب کچه لوړول، د ځمکې د ښیرازۍ لپاره زمینه برابروي، چې په نتیجه کې غوره حاصل لاسته راوړي؛ مثلاً: د نړیوال بانک یوه څېړنه مونږ ته راښایي چې څرنګه په تایلنډ کې هغه کروندګرو چې د ځمکو قبالې یې درلودې پدې

وتوانيدل چې په خپلو ځمکو کی نوره پانګونه وکړي، او په نتيجه کې د هغه کروندګرو په پرتله چې د عينی کيفيت په بی قبالو ځمکو کې يې کار کاوه، د دوی کرنيز محصولات په سلو کې ۱۴-۲۵ ډېر وو.

پدی سربيره، حقوقي يقيني توب د ځمکې ارزښت لاپسې ډېروي. نړيوال بانک په مستند ډول ښودلې چې څرنګه د برازيل، اندونيزيا او تايلنډ په کليوالو سيمو کې د ځمکی څښتنانو ته د رسمي قبالو د ورکړی وروسته د ځمکو په ارزښت يی ۴۳-۸۱ سلنه ډيروالی رامنځته شو. د امنيت رامنځته کول د پانګونی په برخه کی دوه پياوړی اغيزی لري. د امنيت استقرار نه يواځی د ځمکې په برخه کې د پانګونې لامل ګرځي، بلکې يوه بزګر ته په خپله ځمکه کی د پانګونی لپاره د پور اخيستنی وړتيا هم ورکوي . د نړۍ په ټولو مخ پر وده هيوادونو کې، قباله لرونکي کروندګر د نه قباله لرونکی کروندګرو په پرتله په اسانی سره کولی شی لوېي پورونه لاسته راوړي. د حقوقي يقيني توب نشتوالی د فعاله او تکړه کروندګرو لپاره د ستونزمن کوي چې د خپلو ځمکو دې څښتنان شي. دغه ستونزه چې د ټولنيز او اقتصادي پرمختګ پر وړاندی خنډ دی، د اوږدمهاله اقتصادی پراختيا وړتيا له منځه وړي.

بالاخره، که چيرې حقوقي مالکيت ناڅرګند وي، د ځمکې د ليږد وړتيا هم نامشخصه وي. د لېږ په برخه کی د حقوقي يقيني توب پرته هم امکان لري چې د ځمکې د پير لپاره بازار وموندلی شي.مي. که چېرې د پېرونکو او پلورونکو د کاروبار او خرڅلاو لپاره بازارونه يا مارکيټونه نه وي، ځمکه هم په سرعت او ګټوره توګه له يوه لاس نه بل ته نه شي انتقاليدی.

**د بحث پوښتنې**

- د حقوقي نايقيني توب ځينې سرچينې په ګوته کړی؟ دغه سرچينې د ځمکې له ملکيت سره څه ډول تړاو لري؟
- په افغانستان کی د حقوقي نايقيني توب په اړه ستاسی خپله تجربه څه ده ؟ همدارنګه ستاسی ملګري او کورنی پدغه برخه کی د کومو ستونزو سره مخ شوي دي؟ ايا هغه ځمکه چې ستاسې کورنی پرې اوسيږئ، قباله يی لري؟
- ولې د ځمکو او نورو نامنقولو شتمنيو په تړاو حقوقي يقيني توب مهم ګڼل کيږي؟ ايا تاسی پدی برخه کی کومه ښه بيلګه وړاندی کولی شي؟

## مالي سکتور

د مالي سکتور اهميت روښانه او ثابت دی. ګڼ شمير څيړنو د مالي ودې او ناخالصو داخلي عوايدو ترمنځ اړيکه ثابته کړې ده. همدارنګه دغه څيړنې دا هم ښئي چې د يو هيواد اقتصادي وده د هغې د بانکي سکټور او د ونډو د بازار په پراختيا پورې تړلې ده. د يوه هيواد د حقوقي نظام او مالي سکتور ترمنځ اړيکه هم ښه روښانه ده. د يوه هيواد د مالي سکتور د ودې لپاره قانون حياتي رول لري.

د مالي سکتور وده په تدريجي ډول د پيسو او جنس د جلاوالي په برخه کې ډېرې جدي ستونزې رامنځته کوي. د مالي معاملې تعريف څه په دا ډول دی: هغه معامله ده چې د قرارداد د دواړو خواوو د وجايبو د پوره کولو موده يوې د يو بل څخه جلا ټاکل شوې وي. د بيلګې په توګه د کريډټ په يوه معامله کې، پوراخيستونکې سملاسي او د پيشکي په توګه پيسې اخلي، خو پور ورکوونکي ته د هغه پيسې بيا څه وخت پس ورکوي. د يوه اغيزمن حقوقي نظام په نشتوالي کې، يوازې د شخصي اعتبار په اساس د پياوړي مالي سکتور رامنځته کولو هڅو هم کومه خاص نتيجه نده ورکړې. لکه څرنګه چې د ليرې-واټن سوداګرۍ په تدريجي توګه وده کړې، هم دغه رنګې د يو سوکه ارتقايي بهير په ترڅ کې مالي معاملو او مالي سکتور هم وده کړې ده.

## د پانګې بازارونه او ونډيز شرکتونه

معاصر اقتصادونه شديداً د ونډيزو شرکتونو له لارې د سوداګرۍ پر کړو وړو ولاړ دي. د معاصر اقتصاد لويه برخه فعاليتونه د يوه عادي خرڅلاو ځاى يا ورکشاپ په څير کوچنى فعاليتونه نه دي، بلکه هغه فعاليتونه دی چې ډيره پانګه غواړي او د يو انفرادي اقتصادي متشبث د توان څخه د ليرې دي. که څه هم ځيني وختونه د شراکتونو له لارې هڅه کيږي چې د اړتيا وړ پانګه برابر کړی شي، خو د شراکت دغه ماډل انعطاف منونکی نه دی او تر ډيره د کوچنيو تشبثاتو او د ځينې کسب ګرو له خوا کارول کيږي. د اوولسمې پيړې د پيل راهيسې د پانګو د لويو مقدارونو د رايوځاې کولو او د نويو تجارتي پروژو لپاره د پانګې د پيدا کولو په مقصد د ونډيزو شرکتونو کارول ډير شوي دي.

د ونډيزو شرکتونو ماډل ډير ژر په پراخه کچه دود شو ځکه چې دغه ډول تجارتي بنسټ د تجاراتو لپاره د ډيرو پانګو د يو ځاې کولو په ګډون يو لړ نورې ګټې وړاندې کولې. له دغو ګټو څخه يوه يې د ونډه والو محدود مسوليت دی، په دې معنا چې ونډه وال نه ،بلکه پخپله شرکت د شرکت د پورونو د بيرته ورکړې مسوليت په غاړه لري. د دې ماډل يوه بله ګټه د ونډيز شرکت حقوقي شخصيت دی، چې په لړ کې يې شرکت د دې جوګه کيږي چې د خپلو ونډه والو له لاسليک يا د هغوي له مخکينې منظورۍ پرته قراردادونه لاسليک کړي. د هر مالي نظام يوه مهمه دنده په بيلا بيلو توليدي فعاليتونو کې د پانګونې لپاره اقتصادي متشبثينو ته د خلکو له خوا سپما شوي پيسو ليږد دی. پدغه برخه کې هم، د ونډيز شرکت ماډل خپله ګټورتيا په اثبات رسولې ده. بايد ياده شي چې شرکت يو خالص حقوقي تخليق دی او د تجارتي قانون د نه شتون په صورت کې خپلې بقا ته ادامه ورکولې نشي. د شرکتونو د جوړولو لپاره د اسانتيا په رامنځته کولو سره تجارتي قانون په واقعيت کې په هيواد کې اقتصادي وده هڅوي.

## بانکي اعتبار يا کريډټ او بانکوالي

د مالي پراختيا لپاره د بانکي اعتباراتو بازارونه د پانګو د بازارونو په څير اهميت لري. په زياتره هيوادونو کې تجاران د عامه پانګو د بازارونو په پرتله د کريډټ په بازارونو کې په اسانۍ سره پانګې ته لاسرسی مومي. د پانګو په بازارونو کې ډيرې حقوقي مسايل د تجارتي قانون او همدا رنګه د منقوله اموالو د ګروې اړونده مقرراتو پورې تړاو لري. خو د کريډټ په بازارونو کې د لويو پورونو د ورکړې لپاره مهمه موسسه ده. بانکونه-په ځانګړې توګه مخ پروده هېوادونو کې-د سپما کونکو او د اقتصادي متشبثينو (چې د خلکو په پيسو په غير مالي برخو کې پانګونه کوي.) تر

منځګړو رول لوبوي. متشبثینو ته په سرعت او کم لګښت د سپما شوي پیسو لیږد د هیواد د اقتصادي ودې او پراختیا لپاره اړین بلل کیږي. د لیږد د یوې مهمې وسیلې په توګه بانکونه د یو ملت په اقتصادي پراختیا کې مهم رول لوبوي.

**۵ – د بحث راغونډیده**

په دې څپرکي کې دافغانستان د اقتصادي وضعیت او سوداګریز چاپیریال په ارزونې سره مونږ د افغانستان د تجارتي قانون څیړنه پیل کړه. ددغو دوو برخو درک کول د افغانستان د تجارتي قانون د بشپړې تاریخچې د ارزونې لپاره –چې تاکل شوې په دویم څپرکي کې پرې بحث وشي– ډیر ضروري دي. همدارنګه، په دې څپرکي کې مونږ د اسلامي سوداګریز قانون په اړه –چې په افغانستان کې یوه ډیره مهمه موضوع ده او پدې کتاب کې به ورته هم لازم پام وشي-بحث پیل کړو.

همدارنګه، په دې څپرکي کې، د قانون او اقتصادي ودې ترمنځ په رابطه باندې لنډ بحث او د دغه تړاو په اړه د موجودو نظریاتو څخه په توپیر نظریات وړاندې شو. په راوړل شوو نظریو کې یوه هم د "د نیو انستیټیوشنالسټ" نظریه ده، دغه نظریه دا استدلال کوي چې د یوه هیواد د ادارو کیفیت د هغه د اقتصادي ودې سره مستقیم تړاو لري. همدارنګه، دغه نظریه دا هم ښیئ چې ولې د تنفیذ وړقراردادي ژمنې یا تعهدات د سوداګرې لپاره کلیدي او مهم دي. د دغه ډول تنفیذ وړ قراردادي ژمنو نه شتون د بې باوریو خطرونو او د سوداګریزې راکړې ورکړې سره تړلي لګښتونه زیاتوي چې دغه امر پخپله د سوداګرې او اقتصادي پراختیا په مخ کې خنډ ګرځي. په بازار کې د کوچنیو معاملو په څیر ساده سوداګریزې معاملې قوي سوداګریزو قوانینو (یا ددا ډول مسایلو لپاره کوم بل عادي تجارتي قانون) ته اړتیا نه لري؛ ځکه چې د معاملو پرمهال ژمنې په شخصي توګه عملي او ترسره کیږي. البته کله چې پیسې او جنس له یو بل څخه جلا وي، سوداګري لاپسې پیچلې کیږي. د سوداګرو د ملاتړ او دغه رنګه د پیچلو تجارتي معا ملاتو د ترسره کول لپاره هڅوي ته د وړتیا د ورکړې په خاطر، سوداګریز قانون هم د وخت په تیریدا سره بدلون موندلی او پرمختګ یې کړی دی.

په راتلونکی څپرکی کی به د افغانستان د تجارتي قانون ارتقا او پرمختګ ته یو کتنه وشي. کله چې تاسې دویم څپرکی لولئ، د هیواد پر اقتصادي وضعیت باندې د افغانستان د تجارتي قانون او اداراتو د اغیز په اړه فکر وکړی.

# اصطلاحات

### پانګه Capital

دا د تولید د عواملو یا سرچینو له څلور ګونو اساسي کټګوریو څخه یوه ده. په هغه جوړ کړی شوی (یا له مخکې څخه تولید شوي ) توکي هم پانګه ګڼل کیږي چې د نورو شیانو د جوړولو او تولید لپاره کارول کیږي. د دې ډول پانګې بېلګې فابریکې، ودانۍ، باروړونکې موټرې، ماشین الات، او نور وسایط دي چې د اشخاصو یا شرکتونو له خوا د تولیدی موخو لپاره کارول کیږي.

### سوداګري Commerce

سوداګري د توکو او خدماتو راکړې ورکړې ته وایي چې د پیسو او یا نور توکو او خدماتو په مقابل کې ترسره کیږي.

### تجارتي قانون Commerce law

د قوانینو هغه لویه ټولګه چې د یوه هیواد پر سوداګریزو اړیکو او سوداګرۍ واکمن وي، په دې کې قراردادونه، د شرکت جوړول او له منځه وړل، د جایداد پیر او پلور، بانکي معاملې، د پورونو او تضمین مسایل، مالیاتي مسایل او همدارنګه د سوداګریزو شخړو حل او هوارول شامل دي.

### رسمي اقتصاد Formal Economy

هغه اقتصادي فعالیتونه چې مالیه ترې اخیستل کیږي او د حکومت په ناخالصو داخلي محصولاتو (GDP) کې شامل وي.

### توکي Goods

هغه فزیکي عینی او ملموس محصولات دی چې د خلکو د غوښتنو او اړتیاوو د پوره کولو لپاره کارول کیږي، لکه سبزیجات، ګاډي او کتابونه.

### داخلي ناخالص محصولات Gross Domestic Product (GDP)

د یو کال په اوږدو کې د یو هیواد دننه د ټولو تولید شوي توکو او خدماتو مجموعی ارزښت د هغه هیواد داخلی ناخالص محصول بلل کیږي. یا په بل عبارت د حکومت دا رسمي اټکل چې د یوه کال په اوږدو کې د هېواد اقتصاد څومره محصول تولید کړی دی.

### بشري پانګه Human Capital

د یو کس د پوهې، تجربې او روزنې ټولګه. د بشري پانګې جوړونې تر ټولو د یاد وړ میتود د زده کړې او رسمي روزنې له لارې د انسان د وړتیا لوړول دي.

### نارسمی اقتصاد Informal Economy

هغه اقتصادي فعالیتونه دي چې نه خو د دولت خزانی ته کومه مالیه ورکوي او نه هم د دولت لخوا څارل کیږي او همدا رنګه د یوه هیواد په ناخالصو داخلي محصولاتو (GPD) کې هم نه شاملیږي.

### زیربنا Infrastructure

هغه پانګه چې د لیږد رالیږد، مخابراتو او بریښنا د وېش لپاره ګټه ترې اخیستل کیږي. وړاندې له دې چې سوداګریزه پانګه خپل کار ترسره کړي، زیربنا د ملی اقتصاد لپاره اړین اساسی تهداب برابروي.

### د سړي سر عاید-لکه په داخلي ناخالصو محصولاتو کې Per Capita – as in GDP

داسې چې د هر سړي پر سر اندازه کیږي.

**خدمتونه Services**

هغه فعالیتونه چې په مستقیم ډول د خلکو د غوښتونو او اړتیاوو د پوره کولو لپاره ترسره کیږي او د فیزیکی عینی او ملموس محصولاتو تولید پکی شامل نه وي؛ لکه د معلوماتو پلورل، د تفریح او ساعت تیری پروګرامونه او همدا رنګه ښونه او روزنه.

# Sources Consulted

Ali Adnan Ibrahim, The Rise of Customary Businesses in International Financial Markets: An Introduction to Islamic Finance and the Challenges of International Integration (2008)

Booz Allen Hamilton, Commercial Law and Microeconomic Reform (2007)

Chibli Mallat, Commercial Law in the Middle East: Between Classical Transactions and Modern Business (2000)

Dani Rodrick, One Economics-Many Recipes (2007)

Frederick Perry, Shari'ah, Islamic Law and Arab Business Ethics (2007)

Kenneth W. Dam, The Law-Growth Nexus: The Rule of Law and Economic Development (2006)

Michael Stepek, The Importance of Commercial Law in the Legal Architecture of Post-Conflict "New" States (2008)

Nicholas Foster, Islamic Commercial Law: An Overview (2006)

USAID, Afghanistan's Agenda for Action (2007)

World Bank, Doing Business 2009, Country Profile for Afghanistan (2009)

# دويم څپرکی: په افغانستان کې د تجارتي قانون تاريخ

## ۱ – سريزه

د افغانستان د اوسني سوداګريز حقوقي سيستم پيژندنه د دغه سيستم د رامنځته کيدو او پراختيا د تاريخ د لوستلوپرته ناشوني ده. دغه څپرکی به د افغانستان هغه بډايه حقوقي تاريخ وڅيړي چې په پيړو پيړو لرغونتيا لري او په ترڅ کی به يی له ۱۸مې پيړۍ نيولې تر اوسه د افغانستان د تجارتي قانون پر تاريخ تمرکز وشي. دغه څپرکی (چپتر) له يوزيات شمير داسې بېلګو ډک دی چې په تاريخی لحاظ په افغانستان کی د سوداګريزو قوانينو اهميت په ډاګه کوي. د نړۍ د سوداګرۍ او تجارت بدلېدونکي بڼې ډېرې وختونه په افغانستان کی د سياسي، اقتصادي او قانوني پرمختګونو او بدلونو لامل ګرځي: د موضوع د معرفي لپاره د طالبانو د راپورته کيدو په اړه لاندی مثال ته پام وکړۍ.

په ۱۹۸۰ مو کلونو کې د پراخ لېرد را لېرد يو داسې سيستم جوړ شو چې پر بنسټ به يې په افغانستان کې مقاومت کوونکو ځواکونو ته له پاکستانه توکي لېږدول کېدل. د ترانسپورت ددې ګټور سيستم له لارې د افغانستان له لارې له پاکستانه د منځنی آسيا هيوادونو ته د توکو لېږدول پيل شول. افغانستان يوځل بيا د شوروي اتحاد د پخوانيو جمهوريتونو لپاره چې اوبو ته لار نه لري د يوې سوداګريزې لارې بڼه خپله کړه. له دغې سوداګرۍ نه زرګونو افغان سوداګرو، کسب ګرو، د لاريو چلوونکو او د تصفيې خونو لرونکو ګټه اخيستله. ددې د سوداګرۍ د ودې د دوام پر وړاندې تر ټولو ستر خنډ د قانون او اصولو نه شتون و. په ټول افغانستان کې پر لويو لارو داسې پوستې پرتې وې چې لوړې ماليې يې اخيستې، موټر چلوونکي يې ځورول، په زور يې پيسې ځنې اخيستې او مساپر يې وهل ډبول. د لارو بندېدو او يادو پوستو افغانستان ته د توکو راتګ ورو کړ او سوداګر يې اړ کړل چې له اندازې ډېر لګښتونه وکړي. سوداګريزې ټولنې او د موټرو خاوندان له دې حالته تر پوزې راغلي و او د حل لارو د موندلو هڅې يې پيل کړې.[4]

هغه مهال د ملېشو دريو ډلو له سرحدي ښار سپين بولدکه تر کندهاره غځېدلې بدنامه او اورده لويه لار په واک کې لرله او پر دې لار يې د کندهار د حکومت لپاره له سوداګرو او باروړونکو موټرو په زور پيسې او ماليې اخيستلې. د ۱۹۹۴ کال په اګست کې د وسله والو ملېشو قوماندانانو په يوه پاټک کې د ۳۰ لاريو يوکاروان چې له پاکستانه ترکمنستان ته پرلاره و ودراوه. د لويو لارو په اوږدو کې ځايي ټولنې د قانون او اصولو له نشتون څخه تر پوزې راغلي وې. ملامحمدعمر چې د يوې ديني مدرسې مشري يې پرغاړه لرله له خپلو پخوانيو جنګيالو وغوښتل چې د عدالت په نامه راپورته شي. طالبانو د قوماندانانو لخوا درول شوی د لاريو کاروان ازاد کړ او بيايې دغه لويه لار له هغو پوستو او پاټکونو پاکه کړه چې په زوره به يې له سوداګرو او مساپرو پيسې اخيستلې. طالبانو د له بدچلند سره مخامخ شويو ځايي وګړو د ژغورونکو بڼه خپله کړه او د دواړو افغانستان او پاکستان د سوداګرو ملاتړ يې خپل کړ. دې ته په کتو سره ويېلی شو چې د طالبانو را پورته کېدو نيغ په نيغه د سوداګرۍ او د سوداګرۍ لپاره د يو فعاله او اغيزمن حقوقي سيستم د نه شتون سره تړاو درلود.

**مطالعې تمرکز**

❖ کله چې تاسو د افغانستان د تجارتي قانون تاريخ لولئ، دې ته پام وکړئ چې دغه تاريخ اوسني افغانستان ته په بڼې ورکولو کې څه رول لوبولای شي. کوم ځانګړی تاريخي پېر يا پېښه تر ډېره پر اوسني افغانستان د پام وړ اغېز ښندلای شي او ولې؟

[4] پورتنی متن په ډېره پيمانه د «طالبان او د افغانستان ناورين» له کتاب څخه را اخيستل شوی( رابرت د. کريوز و امين طرزی، نشر 2008 ميلادی کال)

## ٢ - پخوانی تجارت، سوداګري او قانون

### الف. له درانیانو وړاندې پېر (١۶٠٠-١٧۴٧)[5]

افغانستان د آسیا، عرب ټاپو او اروپا ترمنځ د ځمکني تجارت د سترو لارو پر سر پروت دی. مرکزي اسیا او افغانستان تر ١۵ مې پېړۍ پورې د دې وچو ترمنځ سوداګرۍ باندې نژدې پوره انحصار درلود. د سوداګرۍ لپاره د سمندري لارو موندل چې خوندي، ارزانه او چټکې دي په نړیواله سوداګرۍ کې د افغانستان واکمن رول تر سیوري لاندې راوست. د تجارتي توکو د لېږد رالېږد لپاره د نویو سمندري لارو کارونې له افغانستانه د توکو د تېرېدو کچه راټیټه کړه او په دې توګه یې ددغه هیواد د ښاري مرکزونو غوړېدا له خطر سره مخامخ کړه. د افغانستان په یوزیات شمېر برخو کې د اقتصادي فعالیتونو په کمیدو سره سوداګر هم کمزوري شول او سیاسي ځواک له ښاري مرکزونو څخه د ځمکو لرونکو خانانو (ملکانو) ته انتقال شو. په افغانستان کې د مرکزي واک نشتون او ترڅنګ یې د دغه هیواد په بیلابیلو سیمو کی د راز راز دودنو شتون، د سوداګریزی پراختیا مخه لاپسی ډب کړه .

د هالند- ختیځ هند کمپنۍ په څیرد ګډو-ونډیزو شرکتونو را منځته کېدا په سمندرونو کی د اروپایی هیوادونو نظامی زبرځواکي او په سمندري تجارت د هغوي کنټرول لاپسی پیاوړی کړ. ددې ترڅنګ دی شرکتونو د سپما، خطر اخیستنی یا ریسک اخیستنی او اداري چارو په جلا کولو سره وکولی شو چی د اوږد-واټن په سوداګری او د لیری پرتو هیوادونو یا بازارونو کی د پام وړ بریاوی ترلاسه کړي.سوداګرۍ بازار ګوښی کړي. پدی سربیره، د سایبریا سیمی ته د روسیي هیواد غزیدنه او پراختیا او د دغه هیواد لخوا د ختیز په لور د یو نوی تجارتی لار په جوړولو سره هم د یو سوداګریز مرکز په توګه د افغانستان موقف زیانمن شو. روسیي ډېر ژر د کسپین د سمندر په شا او خوا سیمو کی کیدونکی تجارت تر خپل تسلط لاندی راوست.

سوکه سوکه اروپایی تجاران پدی وتوانیدل چی خپل مسلمان سیالان- څوک چی یا په یواځی او یا د شراکت په بڼی د تجارت کولو سره بلد و- رالاندی کړي. ځایي سوداګرو په ډېرې سختی سره له اروپایي کاروباریانو سره رقابت کولای شوای، ځکه دوی د منظم بانکي سیستم، کریډټ، حکومتي ملاتړ او مرستو، سوداګریزو ادارو او په غیراسلامي هیوادونو کې د دایمي دیپلوماټیک ماموریت له اسانتیا بې برخې ؤ. په اسلامي هیوادونو کې نړیوال تجارت له دې لامله هم زیانمن شو چې د مغلو او صفویانو امپراطوریو د بهرنی سوداګرۍ پر ګټورو توکو د سلطنتي انحصار ادعا لرله. ددې ترڅنګ د اړیکو او لېږد رالېږد د کمزوري سیستم له لامله هم سوداګري له ستونزو سره مخامخ شوه. په افغانستان کې د سړکونو حالت دومره ناوړه ؤ، چې له پېښوره ترکابله سفر ۴۵ ورځې نیولې. ډېری توکي لاهم پر بارووړونکو ژوو لېږدول کېدل، ځکه چې د ګاډو کارول نه و عام شوي. پر لویو لارو تلونکو مساپرو او سوداګرو تل د لارو وهونکو له بریدونو ویره درلوده. د سوداګریزو لارو نه خوندیتوب او د مرکزي حکومت نشتوالي سوداګر اړ کړي و چې د ځان د دفاع لپاره ډېر شمېر په ګډه سفر وکړي. پر پورته یادو شویو ستونزو سربېره په هیواد کې د ګمرکونو د یو ګوني سیستم نشتوالي د سوداګرۍ پر وړاندې لا نور خنډونه جوړ کړي وو.

له پورته یادو شویو ستونزو سره سره د ١٧ مې پېړۍ په پیل کې له افغانستانه د پام وړ سوداګریز توکي تېرېدل. هر کال تقریبا ١۴٠٠٠پر توکو بار اوښان د افغانستان له خاورې اوښتل. د افغانستان د سوداګرۍ زیربناوی کمزوری اود دغه هیواد په ختیځ کی د قبایلو مخ پر زیاتیدونکي زور نوری هم تضعیفولی. دغو ډلو د هیواد د ښاري مرکزونو لکه کابل، کندهار، جلال آباد او غزني ترمنځ غزیدلی مهمی تجارتی لاری تر خپل کنټرول لاندی لرلی او له سوداګرو او مساپرو یې د پام وړ مالیې اخیستلې. له ١٧ مې پېړۍ را پدېخوا د سمندري تجارت د ودې، د لویو لارو د نه خوندیتوب او د سیمه ییزو شخړو( د فارسیانو- عثمانیانو او مغلو- فارسیانو جګړې) له لامله د افغانستان له لارې ځمکنی تجارت ډېر کم شو. بوره،

[5]-دغه برخه د وارتان ګریګورین (د افغانستان نوی ظهور: سیاسي او مدرنیزاسیون) کتاب څخه اخیستل شوی. ( 1880- 1946 میلادی، نشر 1969

چاى او نور د اړتيا وړ توكي چې په عنعنوي توګه يې لېږدېدنه د افغانستان له لارې کېدله، نور د فارس خليج له لارې لېږدول کېدل.

د يو پياوړي مرکزي دولت نشتوالي او د سوداګرۍ په کمېدو، د افغانستان اقتصادي پراختيا ته هم زيان ورسېد. ځمکه لرونکو خانانو (ملکانو) او قبايلي مشرانو ښاري مرکزونه او سوداګر د خپلسري مالي، قضايي او اداري مقرراتو تابع کړل. د مسلمانو کسبګرو او سوداګرو ټولنې دومره پياوړې نه وې چې د ځمکو د خانانو او قبايلي مشرانو د سياسي او اقتصادي تجاوز پر وړاندې ودرېږي. د يادو ټولنو دريځ له دې لامله هم ډېر کمزورى و چې د خپل فعاليت لپاره يې د اسلامي قانون په رڼاکې کوم قانوني بنسټ نه درلود. همداراز سود، د سود پر بنسټ بانکوالى او دغه ډول نور اقتصادي فعاليتونو سره د شريعت اختلاف ددى لامل ګرځيده چې په ځينو تجارتي ټولنو کى غړيتوب محدود پاتې شي؛ لکه بانکى خدمتونه چې يواځې به د يهودو، هندوانو او عيسويانو له خوا ترسره کيدل. په داسې حال کې چې د افغانستان ښاري اقتصاد په کمزورې توګه پر مخ روان و، د سوداګرو، صنعتکارانو او د لاسي توکو د جوړوونکو شمېره هم کمه شوه او هغه سياسي زور يې له لاسه ورکړ چې پخوايې درلود. د ځمکې د ملکانو زور ډېر شو او دوى ثابته کړه چې د سياسي، قانوني او اقتصادي اصلاحاتو د هڅو پر وړاندې به د يوه جدي خنډ په توګه موجود وي.

**د بحث پوښتنې**

- ❖ د افغانستان جغرافيايي موقعيت څنګه د هغه سوداګريز پرمختګ اغېزمن کړى؟
- ❖ د سمندرى لارو په پيدا کيدو د افغانستان په سوداګرى څه اغيز وشو؟
- ❖ د سوداګرۍ پر وړاندې ځينې عمده خنډونه کوم يو و؟ دغه خنډونه څنګه د منځه ليرى کړل شو؟
- ❖ د افغانستان په ښاري اقتصاد کې د کسبګرو ټولنو څه رول درلود؟ په دې برخه کې د اسلام او ديني لړکيو رول څه و؟

## ب. دراني پېر (۱۷۴۷– ۱۸۰۰)

کندهار په تاريخي توګه د افغانستان يو تر ټولو لوى سوداګريز مرکز پاتې شوى دى. دغه ولايت د هند او فارس ترمنځ د سوداګريزو لارو پر سر چې د افغانستان له سويلي برخې تېرېږي يو مهم ښار ګڼل کېده. کندهار د سوداګرۍ داسې يو مهم مرکز و چې مغلواو صفويانو د هغه د کنټرول د ترلاسه کولو لپاره ډېرې جګړې کړې دي. کندهار همدارنګه د احمدشاه ابدالي پلازمېنه هم وه چې په ۱۷۴۷ کال کې يې د دراني امپراتورى بنسټ کېښود. د دراني پېر په اوږدو کې هم سوداګري او د کاروانونو تېرېدل د افغانستان د اقتصاد مهم محورونه ګڼل کېدل.

ددې دورې په لړ کې هندي سوداګر د افغانستان په ټولو ښارونو کې ډېر فعال شول. دوى په بېلابېلو برخو کې کار کاوه، په تېره بيا په بانکدارۍ او د پورونو په توګه د پيسو په ورکولو کې. کابل د هندي دودونو په زغملو او له هندي سوداګرو سره د درنو ديني لړکيو په توګه چلند کې شهرت درلود. په افغانستان کې مېشتو هندي سوداګرو لوېې شتمنې درلودې اوحکومت تربنه د جزيې په نامه ځانګړې ماليه اخيستله، چې يوازې له غيرمسلمانو خلکو څخه به اخيستل کېده.هندي بانکوالو د کرېډېټ سيستم پراخ کړ او خصوصي او دولتي سکتورونو ته يې پورونه ورکړل ( چې پوځي او نورې دولتي اداری تمويل کړي) او همداراز دوى په دى هيواد کې د پانګې لومړي برابروونکي وو. هندي سوداګرو او پور ورکوونکو همدارنګه د هيواد د مالي اداراتو په مديريت کې مهم رول درلود. دوى د دراني چارواکو په استازيتوب له خلکو مالېې ټولولې، پوځ ته يې توکي برابرول او د احمدشاه بابا لښکرکشيو ته يې مالي امکانات تيارول. هندي سوداګر د ښارونو په مرکزونو او ولايتونو کې د حکومتي مالي ادارو او مالېې ټولونې پر مهمو پوستونو وګومارل شول.

د نولسمی پیړی د پیل په لومړی نیمایی کی د افغان انګلیس جګړو او د امیر دوست محمد خان په مشری د نورو پوځي کمپاینو له کبله په افغانستان کی تجارت او سوداګري هم کمه شوه. قبایلو پر هره سوداګریزه لار د له حده ډېرو پیسو په اخیستو د تجارتي کاروانونو پر وړاندې خنډونه جوړول. په دې اړودوړ کې ښاري مرکزونو عواید له لاسه ورکړل او د هیواد سترې سوداګریزې ادارې له سخت زیان سره مخامخ شوې، خو د کابل سوداګري ته د دغه ښار د موقعیت له لامله ډېر زیان ونه رسېد. دغه ځای د هندوکش له غرونو د تېرېدونکو او را اوښتونکو کاروانونو د پیل او پای او همدارنګه د توکو د ذخیرې په زړه پورې مرکز پاتې شو. هغو سوداګرو چې له کابله یې د مرکزي آسیا پر لور حرکت کاوه په نورماله توګه د جامو، کشمیره شالونو، بورې، شیریني، د دېګ د دارو، نیل او داسې نورو توکو سوداګري پرمخ بېوله. سوداګرو له هغې خوا آسونه، طلایي غاړکی، خام وریښم او داسې نور توکي کابل ته لیږدول. په دې وخت کې افغانستان ته له روسیې او اروپا نه هم ځینې توکي راوړل کېدل، چې په هغو کې وسپنیز لوښي، مس، فولاد، وسپنه، حلبي، چرم، ستنې، هنداري، عینکې او کاغذ شامل و. له هنده هم د افغانستان د لوړې طبقې خلکو د کارونې لپاره نیل، په طلایي تارونو اوبدل شوي کالي، ګڼ وریښم، جامې، بوره، د دېګ دارو، مالګه، وسلې او د پخلي توکي تلل. سوداګرو د یادو توکو په بدل کې له افغانستانه اسان، وړی او میوه وړله.

له منځنی اسیا سره سوداګري په مخ پر ډېرېدونکې توګه د لیږد را لیږد د بیو د لوړېدو، شخړو او بې نظمه مالیو له لامله له ستونزو سره مخامخ وه. د بېلګې په توګه د مرکزي اسیا او هند کاروانونه وړاندې تر دې چې کابل یا غزني ته ورسېږي لس یا اته ځله درول کېدل او ډېرې پیسې ځنې اخیستل کېدې. له دې سره سره په ۱۸۴۹ کال کې د بریتانویانو لخوا د پنجاب له نیولو وروسته د کابل سوداګري وغوړېده. بریتانویانو غوښتل چې د افغانستان بازارونه پرانیزي او په اروپا کې د افغان تولیداتو د پلورلو لپاره لار اواره کړي. ددې په پایله کې د سوداګریزو توکو تعرفې راکمې شوې او د کاروانونو د خوندیتوب لپاره د ساتونکو د ګومارلو وړاندیز وشو. ددې اقداماتو په پایله کې بریتانوي توکي مخ په ډېرېدونکې توګه د افغانستان له لارې مرکزي اسیا ته رسول کېدل. په دې تجارت کې افغان سوداګرو ډېره لږه ونډه لرله، داځکه چې ډېری وختونه هندي، یهودي او ارمني سوداګرو د شتمنو انګلیسي او روسي سوداګرو په استازیتوب تجارت پرمخ بیوه.

**د بحث پوښتنې**

- ❖ د افغانستان په سوداګریز پرمختګ کې د کندهار تاریخي رول څه و؟
- ❖ افغانستان ولې په بیا بیا د بېلابېلو امپراطوریو هدف ګرځېدلی دی؟
- ❖ هندي سوداګرو او بانکوالو د افغانستان په دې دوره کې څه رول درلود؟
- ❖ له بریتانوي او نورو پوځونو سره جګړو سوداګري څومره اغېزمنه کړه؟

## ۳ – د افغان دولت تحکیم

### الف. امیر عبدالرحمن خان (۱۸۸۰–۱۹۱۹)

د افغانستان د سوداګری د قانون تاریخ په واقعیت کی د امیر عبدالرحمن خان له وخته پیلیږي. د هغه سلطنت په افغانستان کې د یوه نوي حکومت پیل باله شي. په دې پېر کې بېلابېلې ادارې چې پر بنسټ یې اوسنی قضایي سیستم هم رامنځته شوی جوړې شوې. یوزیات شمېر قانوني اصلاحات چې عبدالرحمن خان رامنځته کړي اغیز یی تر ننه د افغانستان په تجارتي قانون او اداراتو کی لیدل کیږي.

عبدالرحمن خان په ۱۸۸۰ کال کې له پاچا کېدووروسته سملاسي د خپلی واکمنی د پیاوړی کولو او ولایات د مرکزی حکومت د تابع کولو لپاره هڅې پيل کړې. د هغه يو لومړيتوب داو چې محکمې او قانوني سيستم مرکزي او منظم شي. د حکومت د قانون د عملي کولو لپاره د محکمو يو هر اړخيز سيستم په هره ولسوالی کې جوړ شو. هغه وخت د قانون درې سرچينې موجودې وې: اداري يا مدني قوانين، شرعي قانون ،او قبايلي قانون؛ خو شاهي فرمان د قانون پر هرې بلې سرچينې فوقيت درلود. د محاکمو سيستم پر دوو څانگو وېشل شوي و: شرعي محکمې او حکومتي محکمې. شرعي محکمو د فاميل ، جزا، او د شخصيه احوالو پوری اړونده قضيې څيړلی او حکومتي محکمو د سوداگری، ماليو او حکومتي کارکوونکو قضيې حل کولې.

سوداگريزه محکمه چې د حکومتي محکمې برخه وه، د اميرعبدالرحمن خان يو مهم ابتکار بلل کېږي. دغه محکمه د پنچات محکمې په نامه مشهوره وه چې په ۱۸۹۳ کال د امير لخوا د تجارانو ترمنځ شخړو د حل کولو په موخه رامنځته شوه. پنچات محکمه په پيل کې له څلورو مسلمانو او دريو هندو قاضيانو جوړه وه، خو د وخت په تېرېدو د محکمې په جوړښت کې د مسلمانانو تناسب نسبت هندوانو ته بدل شو. د محکمې هر غړی يو باوري او بانفوذه سوداگر و چې د خپلو هم مسلکانو له خوا يې درناوی کېده. محکمې تجارتي شخړې د سوداگريزو عرفونو يا دودونو، قراردادونو او نورو شواهدو او اسنادو پر بنسټ حل کولی. د پنچات محکمې د ځانگړي جوړښت امتياز عبدالرحمن ته ورکول کېږي؛ هغه په دې توگه غوښتل چې هندي سوداگر د شرعي محکمو له پرېکړو چې د شرعي قانون پر بنسټ کېدې، وساتي او په دې سره سوداگري وهڅوي.

په ۱۸۹۵ کال کې داسې يوه تجارتي قضيه امير عبدالرحمن خان ته وړاندې شوه چې په کې يوه افغان سوداگر د خپلو هغو پيسو د ترلاسه کولو غوښتنه کړې وه، چې د هغه په وينا د افغان انگليس د دوهمې جگړې په لړ کې يې بريتانوي پوځيانو ته وسلې او توکي اخيستي و، خو لا هم بريتانويانو دغه پيسې نه وې ورکړې. امير د کابل ښار تنه پېژندل شوي سوداگر ددې قضيې د اوارولو لپاره وگومارل، چې په هغو کې يو بريتانوی هم و. د مدعي سوداگر لخوا د وړاندې شويو اسنادو له څېړلو وروسته محکمې د هغه ادعا بېځايه وبلله. يادې محکمې ته د دواړو کورنيو او نړيوالو غړو ټاکل پنچات محکمې ته ورته و، چې مسلمانو او غيرمسلمانو کسانو اوږه په اوږه کار په کې کاوه.

په هغه وخت کی په کابل کې يوه مهمه محکمه د خانه علوم په نامه وه چې له پلازمېنې بهر محکمې يې څارلې او په افغانستان کې يې د استيناف د تر ټولو سترې مرجعې په توگه کار کاوه. په عين حال کې د هرې محکمې د هرډول پرېکړې وروستی واک د عبدالرحمن په لاس کې و. هر چا به چې ادعا لرله قضيه يې د محکمې لخوا سمه نه ده حل شوې، کولای يې شوای خپله امير ته وړانديز وکړي. عبدالرحمن د شکايتونو د اورېدو اوونيزې غونډې درلودې، چې په هغو کې به هرچا د خپلې ستونزې او قضيې په هکله مالومات ورکول او د ستونزې د اواری غوښتنه به يې کوله. شاه د ښځينه شکايت کوونکو لپاره ځانگړې ورځې غوره کړې وې. په قانوني سيستم کې بل بنسټيز بدلون د شرعي قانون او محاکمی د اصولو تدوين وو. اميرعبدالرحمن خان حنفي فقه د افغانستان د رسمي قانون په توگه اعلان کړه. هغه همدارنگه د قاضيانو لپاره يو لارښود جوړ کړ چې د قاضيانو اساسات يا اساس القضات ورته ويل کېده. په دې لارښود کې قاضيانو ته د محکمې اصول او د قضايي تصميمونو د نيولو لارښوونې ښودل شوې وې.

امير سوداگري او تجارت د افغانستان د بډايه کېدو تر ټولوستره سرچينه بلله. د افغانستان، هند، روسيې او فارس ترمنځ سوداگري د هغه په واکمنی کې د نوموړي د اصلاحاتو پر بنسټ پراخه شوه. امير د گمرکونو د چارو په معقولولو او د پېچلو سوداگريزو سيستمونو په له منځه وړلو په نسبي توگه د ولايتونو ترمنځ د کاروانونو تگ راتگ آزاد کړ. هغه د کاروانونو يوه اداره رامنځته کړه چې د يوه قافله باشي ( دکاروانونو مشر) لخوا رهبري کېده. د کاروانونو اداري د ملېشو د يوه کوچني ځواک پر مټ او د سوداگری، خزانې او عوايدو د څانگو په همکاری د مساپرو او سوداگرو د خونديتوب، تدارکاتو او ترانسپورتي اړتياو د پوره کولو مسووليت پرغاړه درلود. امير د گمرکونو د چارو د ساده کولو او د سوداگری د اسانه کولو په موخه پر ټولو صادراتو او وارداتو د ۲،۵٪ ماليې ستندرد رامنځته کړ. هغه همدارنگه د سوداگری ځايي شوراگانې جوړې کړې چې سيمه ييزو سوداگرو ته يې پورونه ورکول. ددې ترڅنگ يې د پورونو يو حکومتي صندوق رامنځته کړ چې د بانک په توگه يې کار کاوه.

په دې دوره کې د سوداگری له ودې سره سره بياهم د هغې کچه په پراخه توگه کښته پورته کېده. د انگلستان او روسيې ترمنځ سوداگريزې

سیالي او د امیر لخوا رامنځته شوې خنډ جوړوونکې تعرفې ددې بدلونونو سترلاملونه وو. په ۱۸۸۰ مو کلونو کې روسېې د مرکزي آسیا په مارکېټونو کې د بریتانوي او هندي توکو د مخنیوي لپاره یوزیات شمېر سوداګریز اصول وضع کړل. دغو قوانینو په ترانزیت سوداګرۍ کې د افغانستان ځای سخت زیانمن کړ. امیر د افغان صادراتو د هڅولو کوښښ کاوه، خو په عین حال کې یې بهرنیو هیوادونو ته د افغان پانګې تلل محدودول. هغه د مالګې او داسې نورو اساسي توکو پر واردولو هم بندیز لګولی و. امیرعبدالرحمن خان د لرګیو پر صنعت خپل شخصي انحصار لګولی و او افغان سوداګرو ته پرته له دې چې سود ترې واخلي د پورونو په ورکولو یې د هیواد اقتصاد هم تر خپل کنټرول لاندې راوستی و. د نوموړي د واکمنۍ پر مهال افغان سوداګرو د سوداګرۍ بېلابېلې ګټورې برخې له لاسه ورکړې، ځکه چې افغانستان له بهرنیو حکومتونو سره ډېر تړونونه نه درلودل. د سوداګریزو تړونونو کمښت، لوړې ګمرکي تعرفې او د ترانزېت ټکسونه په ګډه ددې لامل شول چې د افغانستان اقتصاد له زیان سره مخامخ شي.که څه هم امیر د سړکونو پر جوړولو تمرکز کاوه، خو بیاهم ترانسپورټي بنسټونه له ستونزو سره مخامخ وو. د کابل او پېښور ترمنځ تر ټولو ستره لار به یوازې دوه ورځې په اوونۍ کې پرانیستې وه. ددې ترڅنګ به هغو قبایلو ته هم د سوداګرو لخوا پیسې ورکول کېدې چې د لارو ساتنه به یې کوله.

**د بحث پوښتنې**

- امیر عبدالرحمن خان څنګه د افغانستان په حقوقي سیستم کی اصلاحات رامنځته کړه؟
- هغه مهال څه ډول قوانین موجود وو؟ د محاکمو جوړښت څنګه وو؟
- پنچات کورت څه شی و؟ د هغې مسوولیتونه څه وو؟ د هغې جوړښت څنګه و؟ ستونزې یې څنګه حل کولې؟ آیا هغه شان محکمه دامهال په افغانستان کې فعاله ده؟ که وي ولې او که نه وي نو ولې؟
- د سوداګرۍ په اړه د امیر نظر څه و؟ په افغانستان کې د سوداګرۍ د غوړېدا لپاره هغه کومې پالیسیانې تعقیبولې؟ آیا دغو پالیسیانو سوداګرو ته ګټه رسوله؟ که رسوله یې ولې او که نه یې رسوله نو ولې ؟

## ب. د شلمې پېړۍ لومړي کلونه او امان الله خان

له امیر عبدالرحمن خان وروسته د هغه زوی حبیب الله خان په ۱۹۰۱ کی واک ته ورسېد. حبیب الله د خپل پلار د قضایي سیستم بنسټیز اصول پرخپل حال وساتل، خو د ځان لخوا یې هم یو شمېر اصلاحات په کې راوستل. د هر ولایت والي ته قضایي واکونه او د مدني او جنایي قضیو دواړو د څېړنې صلاحیت ورکړل شو. د سوداګرو ترمنځ ټولې شخړې او همدارنګه مدني عریضې پنچات محکمو ته راجع کېدې. پر ۱۹۱۹ کال له وژل کېدو وړاندې، امیرحبیب الله خان همدارنګه د افغانستان د ترانسپورت او مخابراتو د زیربناو، بانکي اسانتیاو او سوداګریزو پالیسیو د نوي کېدو هڅه وکړه.

د ۱۹۰۰ کلونو په سر کې د افغان سوداګرو یو کوچنۍ ټولګی رامنځته شوی و. دغه ټولګی له ملکانو ( د ځمکو له سترو خاوندانو) او یو شمېر بډایه کوچیانو جوړ و، چې د خپلو شتمنیو په یوې برخې یې په سوداګرۍ کی پانګونه کړې وه. سوداګري لاهم په ابتدايي توګه ترانزیت سوداګري پاتې شوه چې د یو شمېر بهرنیو منځګړو له لارې پرمخ بیول کېده. په ۱۹۱۹ کال کې د افغان انګلیس له دریمې جګړې وروسته افغانان په دې وتوانېدل چې د ځان لپاره سوداګریز شریکان پخپله خوښه وټاکي. په ۱۹۲۱ او ۱۹۲۳ مو کلونو کې له انګلیسانو سره شوي تړون افغانانو ته اجازه ورکړه چې پرته له بهرنیو دلالانو او منځګړو له هندي بندرونو مخامخ خپل هیواد ته توکي وارد او صادر کړي. په دې دوره کې ترانسپورټېشن او سړکونه ښه شول او په ۱۹۲۳ کال کې دا شونې وه چې د چمن-کندهار پر سړک دې موټر وځغلول شي. دغه حالت د افغان

سوداګرو د يوه داسې ټولګي جوړېدو ته لار اواره کړه چې د کافي پانګې پر مټ د اورده واټن سوداګرۍ د پام وړ برخه کنټرول کړي.

له حبيب الله خان وروسته د هغه زوی امان الله خان واک خپل کړ. د نوموړي د واکمنۍ پرمهال د افغانستان اقتصاد ډېره لږه وده وکړه، ځکه چې نوموړي د هيواد د اقتصادي غوړېدا لپاره کوم منظم پلان نه درلود. په ۱۹۲۰ کلونو کې په افغانستان کې هيڅ کومه ستره کرنيزه او صنعتي پروژه بشپړه نشوه. د افغان اقتصاد تر ټولو پياوړي سکتورونه سوداګري او حکومتي کارځايونه وو. لاهم د ګمرکونو لانجمنې چارې د سوداګرۍ پر وړاندې د خنډ په توګه پاتې شوې. امان الله خان هغه ماليې له منځه يوړې چې فکر کېده د ګمرکونو د کارکوونکو لخوا په کې پيسې وهل کېږي. يو ځانګړی رسوا ټکس چې نوموړي له منځه يووړ د څهل يکه په نامه و، چې د هر بار، هر وزن، هر قيمت، هرې شمېرې او هرې ټوټې څلوېښتمه برخه به په کې حکومت ته ورکول کېده. ددې ماليې په لړ کې ډېر داسې شکونه رامنځته شوي او چې د ګمرکونو کارکوونکو به له سوداګرو له ټاکل شوې اندازې ډېرې پيسې اخيستلې. د ريوټونو له مخې د ګمرکونو کارکوونکو د بډو يا ممنوع کمېشن په توګه د وارداتو له شننې لس سلنه اخيستله. د وزن او کچې مالومولو د يو ګوني سيستم نه شتون د فساد رامنځته کېدو ته لا ډېره لار اواره کړې وه.

امان الله خان د سوداګرۍ د هڅونې او په ګمرکونو کې له فساد سره د مبارزې په موخه بېلابېل ګامونه پورته کړل. د نوموړي په واکمنۍ کې ټول واردات د لاندې دريو کټګوريو په يوه نه يوه ډول کې راتلل: ۱. ديني ادبيات، جګړه ييز خبرونو په اړه مواد او يو شمېر بېلابېل توکي چې ماليه نه ترې اخيستل کېده. ۲. په اروپا کې جوړ شوي تجملي توکي چې په هغو کې قيطي، مردکي، سګرټ، تصويرونه، بوره او ګبنی شامل و، چې ۱۰۰ په سلو کې ماليه ترې اخيستل کېده. ۳. غيرتجملي توکي، چې په بېلابېلو کچو ماليې ترې اخيستل کېدې. په وروستۍ کټګورۍ کې چای (۴۰ په سلو کې ماليه)، جامې (۱۵ په سلو کې ماليه) او د ګټورو توکو پراخه کټګوري، چې په هغو کې بوټان، د خاورو تېل، تېل او ګاز شامل و او ۲۵ په سلو کې ماليه ترې اخيستل کېده. امير همدارنګه يوزيات شمېر ګمرکي چارواکي له دندو ګوښه کړل او پرځای يې درانه او د ښه شهرت لرونکي سوداګر په دندو وګومارل او غوښتنه ترې وشوه چې ټول اسناد به ساتي او وخت په وخت به رپوټ ورکوي.

امان الله خان د خپلې واکمنۍ په لړکې د سترو قانوني او سياسي اصلاحاتو د راوستو له لامله مشهور دی. هغه په ۱۹۲۳ کال کې د افغانستان لومړی اساسي قانون جوړ او عملي کړ. دغه اساسي قانون د قبايلي او ديني مشرانو عنعنوي اغېز محدود او سياسي قوت يې د شاه په حکومت کې متمرکز کړ. قانون همدرانګه له رسمي او حکومتي محکمو پرته د ټولو محکمو په ترلو سره د مذهبي محکمو زور هم اوبه کړ. د امان الله خان د وخت د اساسي قانون ۵۵ مې مادې د شوراګانو او جرګو او د شخړو د حل کولو د ټولو هغو ادارو د بندېدو امر وکړ چې له حکومتي محکمو بهر يې کار کاوه. اساسي قانون همدارنګه له محکمو غوښتې و چې د شخړو د حل په لاره کې دې د شرعي قانون پر ځای سکولر اصولو ته لومړيتوب ورکړي. دې ته په کتو د ۱۹۲۳ کال اساسي قانون په افغانستان کې د موجودو عنعنوي واکمنو او علماو د مشرانو او غړو لپاره يو سخت چلنج ثابت شو، له همدې لامله دوی د شاه پر وړاندې بغاوت پيل کړ. په ۱۹۲۵ کال کې شاه د يوې بلې لويې جرګې له لارې په قانون کې اصلاحات راوستل. په دغو اصلاحاتو کې د مرکزي حکومت د واکونو راکمول او اسلام ته په حکومتي او قضايي چارو کې د ډېر رول ورکول شامل و.

شريعت په عنعنوي شکل سره د تاريخ په اوږدو کې د افغانستان په بېلابېلو قانوني او قضايي برخو حاکم پاتې شوی دی، چې د ملکيت او قراردادونو قوانين يې دوه سترې بېلګې دي. په هر حال د اميرامان الله خان د واکمنۍ پرمهال به د افغانستان مذهبي او سکولر محکمې ډېری وخت په جګړه کې وې او هر يوې به هڅه کوله چې ډېرې عريضې واخلي او ډېرې شخړې اوارې کړي. د دغه محکمو به تل پدی لانجه وه چې د بزګر او د ځمکې د خاوند ترمنځ د مزد پرسر د لانجې حل د شرعي محکمې واک دی او که د تجارتي محکمې. امان الله خان هڅه وکړه چې د څلورګونو يا د څلور پړاوونو لرونکي قضايي سيستم په رامنځته کولو سره دغه شخړې له منځه يوسي. په ياد سيستم کې تر ټولو ټيټه محکمه د پخلاينې محکمه وه چې محکمه اصلاحيه بلل کېده. له هغې وروسته لومړنۍ يا ابتداييه محکمه وه، بيا ولايتي يا مرافعه محکمه وه او په پای کې د تميز محکمه وه.

د پخلاينې يا ابتداييه محکمه د محدود صلاحيت لرونکې محکمه و چې پريکړې يې په بشپړه توګه د دواړو خواو پر رضايت ولاړې وې. دوی يوازې د مدني او سوداګريزو قضيو د څېړنې واک درلود. د دې محکمو د تصميم په اړه استيناف غوښتنه هم نشوای کېدلای ځکه چې پرېکړه

يې د دواړو خواو له موافقې وروسته اعلانېده. د پخلاينې محکمو د ۱۹۳۹ کلونو تر نيمايي پورې کار وکړ، خو وروسته له هغې له منځه ولاړې چې ځانګړې سوداګريزې محکمې رامنځته شوې.

په سيکولر قوانينو باندی تمرکز او دمذهبي لړکيو د غړيتوب له کبله مذهبی مشرانو د پنچات محکمی مخالفت کاوه. هغو علماو چې د ۱۹۲۴ کال په لويه جرګه کې يې برخه درلوده پر حکومت غږ وکړ چې دغه محکمې له منځه يوسي او واک يې شرعي محاکمو ته وسپاري. علماو پدغه تړاو يو پريکړه ليك وړاندی کړ چی سملاسی د جرګی لخوا ومنل شو. دا دی باعث شوه چی امان الله خان د شرعی محاکمو په چوکاټ کی د سوداګريزو شخړو د څيړنی په موخه د جلا تجارتی محکمی د جوړيدو قانون وضع کړي. ور پسې د سوداګريزو محکمو د اجراتو او چارو د تنظيم په موخه يو بل قانون هم وضع شو.

د نوموړي شاه په پېر کې د افغانستان جزايی قوانين وليکل او په يوه ټولګه کی راغونډ کړل شو او په ۱۹۲۴ کال کې يو د يوجامع او بشپړ جزايی کوډ په توګه چاپ شو. د دغه قانون يو شمېر مواد د مدنی او ملکيت د حقونو په ګډون د سوداګريزو موضوعات سره تړاو درلود. په قانون کې راغلي و چې شخصي شتمنی بايد له په زور اخيستو او حکومتي رشوتونو خوندي وي ( ۲۲۹-۳۳ مې مادې) د قانون ۲۲ مه ماده يو شمېر داسې مبهمې جملې هم لرلی چې پکی هڅه شوی وه چی يو شمير تجارتي موضوعات د مذهبی مشرانو د واکه څه وباسي. دغه ماده داسی صراحت لري: په داسې شرايطو کې چې د يوه تجارت کول قانون ماتوي يا د يو چا له لوري د قانون د ماتېدو لامل ګرځي، په هغه صورت کې دې د شرعي سزا نه تطبيقيږي. دغه بنديز په اغېزناکه توګه په سوداګری پورې د اړوندو شخړو پرسر راپورته شويو جرمونو ته د شرعي سزا ورکول منع کوي.

**د بحث پوښتنې**

- ❖ د افغانستان پر قانوني سيستم د امان الله خان اغېز څه و؟
- ❖ کوم سوداګريز اصلاحات هغه تعقيب کړل؟ هغه له فساد سره څنګه مبارزه وکړه؟ آيا ورته اصلاحات کولای شي له اوسني افغانستان سره مرسته وکړي؟
- ❖ د ۱۹۲۳ کال په اساسي قانون کې څه مهم و؟ دغه قانون څنګه وکړای شوای قانوني سيستم ته بيا بڼه ورکړي؟ آيا دغه بدلونونه مثبت و که منفي؟
- ❖ ولې په ۱۹۲۵ کال کې اساسي قانون باندې بيا کتنه وشوه او بدلون په کې راوستل شو؟ څنګه هغه اصلاح شو؟ دغو اصلاحاتو سوداګريز قوانين څومره اغېزمن کړل؟
- ❖ د پخلاينې محکمې کومې وې؟ آيا ددغو محکمو کومه بېلګه د اوسني افغانستان په قضايي سيستم کې وينی؟

## ۴ – د اوسني سيستم جوړېدنه

### الف. نادرشاه

د افغانستان د تجارتي قانون د تکامل بل پړاو په ۱۹۳۰ کی د محمدنادرشاه د واکمنه کيدو پرمهال رامنځته شو. هغه هوډ درلود چې نوی اساسي

قانون جوړ کړي، خو دا هڅه يې هم کوله چې نوی قانون د امان الله خان د اساسي قانون په برخليک له اخته کېدو وژغوري. د ۱۹۳۱ کال اساسي قانون د فرانسې، ايران او ترکيې د هغه وخت د اساسي قوانينو پر بنسټ ولاړ و، خو علماو يې په جوړولو او موادو کې ژور اغېز درلود. اساسي قانون د اسلام حنفي فقه چې سنيان يې پيروي کوي، د افغانستان د رسمی قانون په توګه اعلان کړه. پدی سربيره ، د نوي اساسي قانون له مخی شرعي قانون د نوی تاسيس شوي پارلمان لخوا په جوړ شويو قوانينو فوقيت درلود. سره له دی چې د دغی قانون د ۸۸ مې مادې له مخی ټول محاکم مکلف و چې د حنفي مذهب له اصولو سره برابرې پرېکړې وکړي؛ خو د محکمی تشکيل او د هغی د فعاليت تنظيم د وضعی قوانينو د لاری ترسره کيدل.

په ۱۹۳۱ کی په کابل کې د سوداګريزو شخړو محکمه جوړه شوه. وروسته بيا ورته محکمو په کندهار او مزارشريف کې هم کار پيل کړ. د کابل د سوداګرۍ خونې به د يادو محکمو د پرېکړو و په اړه استيناف غوښتنو باندې غور کاوه. متاسفانه د سوداګرۍ خونه او د سوداګرۍ وزارت شورا دواړه د اړينو قضايي تجربو له کموالي سره مخامخ وې. په ۱۹۴۰ مو کلونو کې د يوی ناکامی هڅی په ترڅ کی د دواړو تجارتی ادارو د حقوقي لارښونی په موخه د بانک د ديوالي کېدو يا ورشکستګی ، د کمېشن کارۍ ، او د سوداګريزې ثبتونې په تړاو نوي قوانين جوړ کړل.

## ب. ملي بانک، د افغانستان بانک او د افغانستان د مالي سکتور زېږېدنه

يوه اروپايي ګرځندوی چې په ۱۹۱۶ کال کې يې له افغانستانه ليدنه کړې ،کاږي چې هغه مهال په دې هيواد کې بانکونو شتون نه درلود او کاغذي پيسی هم ډېرې لږې ليدل کېدې. پيسی به د اسونو په واسطه له هنده راوړل کېدې. د بانکوالی په هکله د اسلام اندېښنو، پدی اړه شته ټولنيزو نورمونو او د قراردادونو د پلی کيدنی وړ يو حقوقی سيستم نشتوالي ته په کتو ، دداسې حالت شتون د تعجب وړ نه دی. په افغانستان کې د ۱۹۲۰مو او ۱۹۳۰ مو کلونو په لړ کې د پام وړ بدلونونه راغلل. پر ۱۹۳۲ کال کابل د سړک په واسطه له پيښور، کندهار او مزار شريف سره وتړل شو. زموږ د بحث لپاره تر ټولو مهمه موضوع داده چې په دې دوره کې د افغانستان مالي سکتور وزېږېد او لومړني تجارتي قوانين يې جوړ شو.

په افغانستان کې د بانکوالی او نوې سوداګرۍ تاريخ تر ډېره بيا د يو شمېر کارپوهه کسانو له فعاليتونوسره تړلی دی: عبدالمجيد زابلی ( چې د هرات و)، لوی شېرخان، ناشر غلزی (چې د قره باغ و) او عبدالعزيز لندنی. لندني په افغانستان کې د قره قل صنعت بنسټ کېښود، چې له دوهمې نړيوالې جګړې وړاندې او وروسته يې د دې هيواد د عوايدو لويه برخه جوړوله. هغه همدارانګه د افغانستان او روسيې تر منځ د سوداګريزو اړيکو په جوړولو کې مهم رول ولوباوه او د افغاني توکو لپاره يې د روسيې مارکېټونه پرانيستل. نومړي وروسته د کرنيز اصلاحاتو، د بهرنی پانګی د راجلبولو او د افغانستان د صنعتی کولو په برخه کی ډيری هڅی وکړی.

په ۱۹۲۴ کال کې زابلي د هرات د نورو سوداګرو په ملګرتيا له روسيې سره د سوداګرۍ په موخه په افغانستان کې لومړنی ګډ ونډيز شرکت تاسيس کړو. په ۱۹۲۹ کی د روسيې له يوه اوږده سوداګريز سفره تر راستنېدو وروسته زابلی د نوي شاه نادرخان لخوا احضار شو. شاه په دې اړه اندېښمن و چې ټول صادرات، واردات، ترانسپورټېشن، دلالي او نور سوداګريز خدمات د بهرنيانو پر مټ ترسره کېدل. هغه له زابلي نه وغوښتل چې داسې يو سوداګريز پلان جوړ کړي چې پر بنسټ يې خپله افغانان په دغو فعاليتونو کې ونډې اخيستو ته وهڅول شي. پر همدې مهال زابلي د افغانستان د تر ټولو لومړي بانک د جوړولو هوډ وکړ. د نادرخان د واکمنی د عدليې وزير چې د شرعي قانون د عملي کولو مسوولیت يې پر غاړه و استدلال کاوه چې بانکوالي د اسلامي شريعت سره په ټکر کې ده. نادرشاه هم د امان الله خان پر برخليک د اخته کېدو له وېرې د زابلي د طرحې مخالفت وکړ. د دې پرځای شاه زابلي ته اجازه ورکړه چې د بهرنی سوداګرۍ او کورني اقتصاد د تنظيم لپاره د ونډو نوی شرکت چې شرکت سهامي افغان نوميده، جوړ کړي. زابلي او د هغه شريکانو ته د بورې، تېلو او موټرو د واردولو، د پنبې، قره قل او نورو ټولو صادراتو د انحصار حق ورکړل شو. د ونډو ددې کمپنی د ۵،۲ ميليونه افغانيو ټولې پانګې ۷،۱ ميليونه روپۍ د حکومت لخوا ورکړل شوې.

کله چې په ۱۹۳۱ کال کې د افغانستان اقتصاد سخت زيانمن شو، زابلي د هيواد د لومړي بانک د جوړولو لپاره خپل پلان له سره رامخې ته کړ. د هغه په اند نوي بانک کولای شوای کاغذي روپۍ چاپ کړي، پورونه ورکړي او پر دې ټولو سربېره خصوصي تشبث ته لاره اواره کړي.

وروسته کلونو کې افغان سهامي شرکت له سره تنظیم شو او پر ۱۹۳۳ کال دغه شرکت په رسمي توګه پر افغان ملي بانک بدل شو. بانک ډېر ژر د پانګې په ډېرولو پیل وکړ. په دې توګه د بانک پانګه چې په ۱۹۳۳ کال کې ۱،۷ میلیونه افغانۍ وه، په ۱۹۳۷ کال کې ۶۰ میلیونو افغانیو ته اوچته شوه. له دې سره سره افغان ملي بانک ډېر ژر له دې لامله له ستونزو سره مخامخ شو چې په اسلامي نظام کې سود ته اجازه نشته. همدې ستونزې ته په کتو بانک د پرته له سوده پورونو ورکول پیل کړل، خو پر پور اخیستونکو یې دا شرط کېښود چې د پیسو د بېرته ورکولو په بدل کې به ټکټ پولي ورکوي. په دې سره بانک ته د ګټې داسې لار برابره شوه چې نه سود په کې و او نه هم له شریعت سره په ټکر کې وه. د کار په لومړیو شپږو کلونو کې افغان ملي بانک پوره بریالی و او پانګه یې په سلګونو ځله لوړه شوې وه. دغه غوړېدنه د نړۍ سخت مالی او اقتصادی رکود ته په کتو، بیخي بې مخینې وه.

بانک د ۱۹۳۰ مو کلونو په لړ کې له دې لامله چې افغان حکومت یې ملاتړ کاوه په چټکۍ سره وغوړېد. ملي بانک ته په افغانستان کې د بهرنیو اسعارو د ادلون بدلون واک ورکړل شوی و او په ۱۹۳۵ کال کې یې د تبادلې ټاکل شوې بیه ومنله. له بانک سره هوکړه شوې وه چې ۱۰۰ بهرنۍ روپۍ به په ۳۹۶ افغانیو اخلي او په ۴۰۰ افغانیو به یې پلوري. ملي بانک له هغه وروسته ډېر ژر د کابل د پیسو د بازار د له منځه وړو مسوولیت هم پرغاړه واخیست او د افغانستان د بهرنۍ سوداګرۍ پراخې ونډې یې هم له بازاره واخیستې. ددغه حرکت یوه برخه چې پر بهرنۍ سوداګرۍ یې د مذهبي لږکیو( هندوانو او یهودانو) د لاس بري د له منځه وړو په اړه د حکومت هیله پوره کوله د واکمن لوري لخوا وهڅول شوه. ملي بانک همدارنګه له حکومت سره د مالیې وزارت د پیسو د چاپولو په برخه کې هم مرسته کوله چې له ۱۹۳۶ کاله پیل شوي و. ددې ترڅنګ خلکو کولای شوای خپلې کاغذي روپۍ په بانک کې د سپینو زرو پر افغانیو واړوي.

د افغانستان بهرنۍ سوداګري او عمومي تجارتي فعالیتونه په داسې حال کې د ملي بانک د بنو او متحرکو پالیسیو له لامله پراخ شول چې په نړۍ کې ستر اقتصادي بحران روان و. بانک سوداګرو ته پورونه ورکول، د چک سیستم یې معرفي کړ او د پیسو د لېږد چاره یې وکاروله، خو د افغانستان د ودې لپاره د هغه تر ټولو لویه مرسته د صنعت ملاتړ و. د ۱۹۳۲ او ۱۹۳۴ مو کلونو ترمنځ د بانک تر سیوري لاندې د ونډو ۳۰ کمپنۍ رامنځته شوې. بانک د ۱۲ په سلو کې سود په بیه خپل هر ډول کریډتونه او پورونه پراخ کړل. ملي بانک د افغانستان له حکومت سره ډېر نژدې اړیکي لرل چې د ۱۹۳۰ کلونو په پای کې لاښه شول.

**د بحث پوښتنې**

- نادرشاه څنګه محکمې اصلاح کړې؟ کوم نوي تجارتي قوانین هغه تصویب کړل؟ کومو بهرنیو بېلګو نه د افغانستان په نوي اساسي قانون کې کار اخیستل شوی و؟
- عبدالمجید زابلی، لوی شېرخان، ناشر غلزی او عبدالعزیز لندني څوک وو؟ د افغانستان په سوداګریز سیستم کې د هغوی رول څه و؟
- شرکت سهامي افغان کوم ډول شرکت و؟ د هغه تاریخي اهمیت څه دی؟
- ملي بانک کوم بانک دی؟ څه وخت هغه جوړ شو؟ څنګه جوړ شو؟ کوم خنډونه یې لاندې کړل؟ آیا د دې بانک جوړېدل د افغانستان تجارتي قانون ته مهم و؟ ولې او ولې نه؟

**په افغانستان کې د پیسو د خدماتو رامنځته کېدل**

افغانی د افغانستان د پولي واحد په توګه په هغه قانون کې معرفي شوه چې د ۱۹۲۵ کال د مارچ پر ۱۴ مه تصویب شو. د هغه مهال افغانی د سپینو زرو یوه سکه وه چې ۱۰ ګرامه وزن یې درلود او د کابلی روپۍ پرځای رامنځته شوه. د همدې قانون په رڼا کې دوه نورې د سروزرو سکې هم جوړې شوې چې ۶ او ۳ ګرامه وزنونه یې درلودل او هر یوې د ۲۰ او ۱۰ افغانیو ارزښت درلود.

لس کاله وروسته له هغه د ۱۹۳۵ کال د اکتوبر پر ۲۶ مه په افغانستان کې د بانک نوټونو د دوران قانون عملي شو. دې قانون کې راغلي و چې د پیسو د خپراوي واک خپله د مالیې وزارت یا ملي بانک لري. د کاغذي پیسو لپاره په ۱۹۲۰ مو کلونو کې شوې پخوانی هڅه ناکامه شوه. په ۱۹۳۰ مو کلونو کې د کاغذي پیسو له خپراوي وړاندې، افغان سوداګرو په نورماله توګه بهرنی روپۍ ( انګلیسي سره زر، د مالیې وزارت نوټونه او داسې نور) یا هغه چکونه کارول چې له هندي بانکونو د ډېرو پیسو د ایستو لپاره جوړ شوي وو.

په ۱۹۳۹ کی د افغانستان بانک جوړ او د بانک نوټونو د چاپولو واک ورکړل شو. د بانک د قانون ۱۹ مې مادې په ډاګه ویل چې بانک د لنډمهاله پورونو یا امانتونو د ورکړې په خاطر باید لږ تر لږه د پورونو د ارزښت ٪۳۰ د سرو زرو، سپینو زرو، ازادو بهرنیو پیسو، د سوداګریزو پورونو چې په ۱۵ ورځو کې یې پیسې ورکول کیږي او هغو بانکونوټونو چې د بانک نوټونو د ساتونکې کمېټې ته رسېدلي وي په شکل خپلوي. د بانک نوټونو د ساتنې کمېټه د پارلمان له دوو غړو، د کابینې له یوه غړي، د سترې محکمې له مشر، د افغانستان بانک له مشر، د مالیې له وزیر او په بانک کې له حکومتي مفتشه جوړه وه. د کمېټې د غړو کاري دوره دوه کاله وه او د نویو چاپ شویو بانک نوټونو د ارزونې، د پخوانیو پیسو د له منځه وړو او د بانک نوټونو د بېرته سمولو لپاره یې حساب کنټرولاوه.

سرچینه: ماکسویل جی. فرای، د افغانستان اقتصاد ۱۱۲-۱۳-۱۹۷۴

**د بحث پوښتنې**

- ❖ په کوم کال کی افغانی د افغانستان د پولي واحد په توګه مروج شوی؟
- ❖ د افغانستان د پیسو چاپ څنګه تر قانون لاندې منظم شول؟

پر ۱۹۳۹ کال په کابل کې یو مرکزي بانک چې د افغانستان بانک و جوړ شو. دغه بانک ته په ټول افغانستان کې د پیسو د چاپ د انحصار امتیاز ورکړل شو او دغه ترڅنګ به یی ځایي او ملي حکومتي اداراتو ته بانکي خدمتونه هم برابرول. بانک ملي د مرکزي بانک په جوړولو کې له حکومت سره مرسته وکړه او د ملي بانک یو زیات شمېر کار کوونکي چې په هیواد کې د بانکوالی په برخه کی یواځیني روزل شوي کسان وو له نوي بانک سره یوځای شول. د افغانستان بانک په ۱۹۴۲ کال په کندهار کې خپله لومړی څانګه پرانیسته او د ۱۹۴۰ مو کلونو په لړ کې یې پنځه نورې څانګې هم جوړې کړې. تر ۷۰ مو کلنو د بانک د کورنیو څانګو شمیر تر ۵۰ او ښتی وو او بانک پدی توانیدلی و چی د لندن او نیویارک په څیر ښارونو کی خپلی دو بهرنی څانګی پرانیزي. له دې سره سره چې د بانک څانګې په چټکی سره ډېرې شوې، خو بانک ډېر لږ پورونه ورکړل، د ساتنې د ګوتو په شمار حسابونه یې ومنل او د چک د تصفیه سیستم یې نه درلود.

پر همدې مهال د ملي بانک پر فعالیتونو د حکومت بدګوماني ډېره شوه او د هغه د کتابونو او اسنادو پلټل یې پیل کړل. ملي بانک خپل انحصار له لاسه ورکړ او د بهرنیو استعارو پر تبادلې یې هم خپل کنټرول د افغانستان بانک ته وسپاره. عبدالمجید زابلی له دې سیاسي لانجو روغ ووت او پر ۱۹۳۹ کال د ملي اقتصاد وزیر وټاکل شو. هغه وکړای شوای د ۱۹۴۰ مو کلونو په لړ کې د دواړو بانکونو سوله ییز یوځای شتون یقیني کړي.

**بهرنی اسعار او د اسعارو بازار**

د لرغونو سوداګریزو لارو د تیریدو له امله د بهرنیو اسعارو تبادله په افغانستان کی په پیړو اوږد تاریخ لري. له ۱۹۳۰ مو کلونو وړاندې په افغانستان کی د بانکونو د نشتوالي له کبله د کابل او کندهار بازارونو د بهرنیو اسعارو د تبادلې ټولې چارې پرمخ بېولې. په همدې وخت کې شاوخوا ۴۰-۳۰ صرافانو په کابل او ۱۵-۱۰ په کندهار کې په فعالیت بوخت وو. د افغان سهامي شرکت د جوړېدو او له هغه وروسته د ملي بانک په رامنځته کېدو سره صرافان په پراخه کچه اغېزمن شو. په ۱۹۳۵ کال کې د تبادلې د ټاکل شویو بیو له لارې د ټولو بهرنیو اسعارو د تبادلې انحصار بانک ته ورکړل شو او د بهرنیو اسعارو د ټولو شخصي کاروباریانو د فعالیت مخه ونیول شوه.

په ۱۹۳۸ کال کې ملي بانک ته دا په ډاګه شوی وه چې کولای شي په کابل او کندهار کې د صرافانو فعالیتونو ته د پای ټکی کیږدي. دغو صرافانو ته یوځل بیا هغه مهال چې ملی بانک د بهرنیو اسعارو د تبادلې توان له لاسه ورکړ لنډه موقع په لاس ورغله، خو د افغانستان بانک په ۱۹۳۹ کال کې پر بهرنیو اسعارو د کنټرول په راوستو یوځل بیا دغه صرافان په نبنه کړل. خو د مرکزي کنټرول دغه نوی سیسټم په دغه کار کی پاتی راغی او دا ځکه چې د مارکیټ دتبادلې بیې پرخپل ځای پاتې شوې. په ۱۹۴۷ کال کې مرکزي بانک بېرته د ۱۹۳۸ کال سیستم ته ور وګرځېد او دایې ومنله چې د ازاد بازار مخه نه شي نیول کېدای. وروسته بیا په ۱۹۵۱ کال کې حکومت ۲۶۳۲ ګڼه فرمان صادر کړ چې په کې د ۱۹۳۸ کال سیستم ته د ۱۹۴۷ کال بېرته ستنېدل منل شوي وو، خو دغه فرمان یو شمېر اړتیاو ته د پېچلتیاو په ورکولو سره یواځې د کاغذ پرمخ د یوه مړ لیک په توګه پاتې شو.

په ۱۹۶۳ کال کې د بهرنیو اسعارو د تبادلې د ډېرې خوځوولې بیو مخه ونیول شوه. دوه کاله وروسته د افغانستان بانک د پیسو له نړیوال صندوق سره یو تړون وکړ چې د کابل د پیسو په بازار کې د بیو د تنظیم لپاره د آزادې تبادلې بیه وساتي. له همدې لامله ۱۹۶۵ کال د پیسو د بازارونو د بیا زیږیدنی کال بلل کیږي. وړاندې تر دې د بهرنیو اسعارو کاروباریان په ابتدایي توګه یا هندوان او یاهم یهودان وو. په ۱۹۶۷ کال کې د عربو او اسراییلو له جګړې وروسته هېڅ یوه یهودي ته هم د پیسو د تبادلې لایسنس ورنکړل شو. کله چې د افغانستان بانکداري په ۱۹۶۰ مو او ۱۹۷۰ مو کلونو کې له ستونزو سره مخامخ شوه، د پیسو بازارونه له سره وغوړېدل. د دغو بازارونو د سوداګرۍ کچه او پېچلتیا په ډراماتیکه توګه زیاته شوه. متاسفانه حکومت ددې توان نه درلود چې له دغه مخ پر ودې تجارته مالیې واخلي ځکه چې د ۱۹۵۱ کال فرمان دغه شان فعالیتونه په تخنیکي توګه ناقانونه بللي وو. د همدې له مخې د پیسو کاروباریانو ته د هغوی د سوداګریو د ثبتولو او یاهم د رسمي بانکي حسابونو د لرلو اجازه نه ورکول کېده.

*سرچینه: ماکسویل جې. فراي. د افغانستان اقتصاد ۳۶-۲۳۴ - ۱۹۷۴*

**په افغانستان کې د مالیې د عوایدو تاریخ**

د افغانستان حکومت د لومړۍ او دوېمې نړیوالې جګړې په لړ کې ناکافي عواید درلودل. ددې ستونزې لومړنی لامل د دې حکومت هغه مالیاتي سیستم و چې یکی په ځمکو او څارویو باندی د هغوی د ارزښت د فیصدی په اساس مالیه تطبیقیدله. د دی ترڅنګ په اکثرو وارداتو باندی د بالفعله مالیو شتون او پر بهرنۍ سوداګرۍ یې کچه اتکا هغه نور عمده لاملونه چې د افغان دولت عواید یې کم کړي و. په ۱۹۲۶کال کې امان الله

خان په ماليو کې د نغدو پيسو اخيستل رامخې ته کړل، چې وړاندې تردې به جنس د ماليې په توګه اخيستل کېده. د ځمکو او څارويو حکومتي کلنی ماليې ۶۲،۵٪ کې يا ۳۰ ميليونه افغانيو ته لوړې شوې. په ۱۹۴۸ کال کې دغه ماليه ٪۲۶ او په ۱۹۷۲ کال کې بيا ٪۱ ته راټيټه شوه. د ۱۹۳۱ کال اساسي قانون د لويې جرګې له هوکړې پرته د نويو ماليو اخيستل او ياهم د شته ماليو بدلون ناقانونه وبلل. په دې لړ کې د ماليو کموالی تر ټولو ستره ستونزه وه. حکومت په ۱۹۵۶، ۱۹۶۵، ۷۳-۱۹۷۲ کلونو کې د ماليو د راټولو او د هغو د کموالي د مخنيوي لپاره همغږې هڅې وکړې چې کومه بريا يې نه درلوده.

بهرني وګړي او په افغانستان کی فعاله بهرني شرکتونه هغه يواځني اشخاص و چې په منظمه توګه يې خپلې ماليې ورکولې. د ماليی د سيستم يو ستره نيمګړتيا داوه چې د عايداتو د راټولو سيستم سخت غير مرکزي شوی و. د ۲۸ ولايتونو هر يوه د ماليو ټولولو خپل سيستم درلود. سيستمونه د موجوده قوانينو پربنسټ نه و ولاړ، بلکې تر ډېره يې په عنعنوي توګه فعاليت کاوه. د عايداتو، ځمکې يا سوداګرۍ د عايداتو او ماليو په اړه د قانون پوهه او قانون ته درناوی تر ډېره نه و موجود. د افغانستان د مالي قوانينو په اړه د پوهې کموالي دې ته لار اواره کړې وه چې د ماليې چارواکي د خپل زړه مطابق او له پخوا نه سنجول شوي اقدامات وکړي. د ځمکو زورورو خاوندانو به پر ماليې راټولوونکو د خپل اغېز له لارې د ماليې له ورکولو غاړه غړوله.

حکومت په ټوليزه توګه د وارداتو او صادراتو په چوکاټ کې د بهرنی سوداګرۍ پر ماليو ولاړ و. د کابل په ګمرک کې د رشوتونو او بډو شتون يوه بله ستونزه وه. د اړتياوړ اسنادو او د ګمرکي صفايي لپاره د کوم لاسليک د اخيستو په بدل کې د بخشش په نامه د پيسو اخيستل يو عام کار ګرځېدلی و. د ۱۹۷۰ مو کلونو په پيل کې دغه سيستم په ښکاره او د ټاکل شويو بيو پر بنسټ فعاليت کاوه.

*سرچينه: ماکسوېل جې، فرای، د افغانستان اقتصاد* ۱۵۵ - ۱۹۷۴

**د بحث پوښتنې**

- د افغانستان بانک کوم بانک دی؟ څه وخت جوړ شو؟ ولې جوړ شو؟ کوم صلاحيتونه يی لرل؟ د بانک جوړښت څنګه و؟
- د افغانستان د صرافانو تاريخي اهميت څه دی؟ په ۱۹۳۰مو کلونو کې د رسمي بانکونو رامنځته کېدا پر هغوی څه اغېز وکړ؟ حکومتي پاليسيو څنګه ددغو کاروباريانو فعاليتونه بدل کړل؟
- په تاريخي توګه، د افغانستان د حکومتي عايداتو لومړنی سرچينې کومې وې؟ قانون ددغو عايداتو راټولول څنګه تنظيم کړي وو؟ هغه يو شمېر خنډونه کوم وو چې د عايداتو د ټولولو په ګډون اساسي قانون رامنځته کړل؟ آيا دغه ستونزې اوس هم موجودې دي؟

## ج.۱۹۴۰ او ۱۹۵۰ کلونه

شاه محمود خان (۱۹۵۳-۱۹۴۶) د خپلې واکمنی په لومړي پړاو کې په افغانستان کې داسې يوحکومت جوړ کړ چې د خلکو پر ريښتيني استازيتوب ولاړ و، داسې چې يوه ټاکل شوي پارلمان قانون تصويباوه نه داچې قانون به مخامخ د شاه لخوا جوړيده. د افغانستان د سوداګريزو محکمو د پرمختګ بل پړاو پر ۱۹۴۹ کال د هغه په پېر کې وشو. د عدليې وزارت تر مشرۍ لاندې د درې ګونو محکمو يو سيستم جوړ شو. دوه نورې محکمې چې د سوداګرۍ استيناف محکمه او د سوداګرۍ د تميز محکمې وې هم رامنځته شوې. دواړه محکمې په کابل کې وې او د ټول هيواد د سوداګريزو لانجو د حل کولو صلاحيت يې درلود.

په ۱۹۵۳ کال کې داود خان شاه محمود له مخې لرې کړ او خپله لومړی وزیر شو. د نوي لومړي وزیر په پېر کې تر ټولو مهم پرمختګ ښځو ته د زده کړو د زمینې برابرول و. داود خان همدارنګه د قانون د تدوین یوه ستره پروژه هم پیل کړه. سوداګریز قوانین په ۱۹۵۵ کال کې د سوداګرۍ د قانون او په ۱۹۶۳ کال کې د سوداګریزو محاکماتو د اصولو په تصویبېدو سره چې دواړه پر اروپايي په تېره بیا په سویسي ماډل ولاړ وو، تنظیم او یو کړای شول. د ۱۹۶۴ کال د اساسي قانون له اعلان وروسته سوداګریزې محکمې هم د سترې محکمې په مشرۍ د نوي قضايي سیسټم برخه وګرځېدلې.

د ۱۹۵۵ کال تجارتي قانون ددې لپاره جوړ شوی و چې پر ټولو هغو سوداګریزو معاملو تطبیق شي چې ددې قانون د اصولو په رڼا کې فعالیت کوي. دغه تجارتي قانون تر دې مهاله د افغانستان د تجارتي قانون د ابتدايي سرچینې په توګه کار کړی دی. ددې قانون یو مهم اصل مشخصوي چې شخړې باید د موجوده تجارتي قوانینو د تعبیرونو او ماناو په رڼا کې حل شي. په بله مانا، تجارتي قانون باید د شخړو د مناسب حل لومړنی منبع وي. د قانون د نه شتون په صورت کې ځايي او ځانګړي دودونه او رسوم ددې ستونزې د حل لپاره کارول کیږي، په داسې حال کې چې د تصمیم نیونې پر مهال ځايي رسومو ته پر عمومي رسومو ترجیح ورکول کیږي.

که څه هم د سوداګرۍ قانون د سوداګریزو شخړو د حل کولو لومړنۍ سرچینه ده، خو ددې قانون تطبیق په ځانګړې توګه سوداګریزو معاملاتو ته محدود شوی و. د قانون ۱۸مه او ۱۹مه ماده کې د هغو معاملو لیستونه ورکړل شوي چې د سوداګریزو معاملو په توګه پېژندل شوې دي. په هغو کې د لېږدېدونکې (منقول) شتمنۍ ترونونه، د بېلابېلو سوداګریو جوړول، ترانسپورټي او د وېش خدمات شامل دي.

د داود خان حکومت یوه نوې اقتصادي پالیسي جوړه کړه چې پر سوداګرۍ د حکومت د کلک کنټرول پر بنسټ ولاړه وه. ملي بانک او په افغانستان کې د خصوصي سکتور د ودې په اړه د هغه مخکښ رول ددې پالیسۍ تر ګوزار لاندې راغلل. د مالیې نوي وزیر عبدالمالک په ۱۹۵۵ کال د ملي بانک د فعالیتونو محدودول پیل کړل. د بېلګې په توګه، بانک اړ کړای شو چې په بېلابېلو تجارتونو کې خپلې ونډې پر حکومت باندې وپلوري. د افغانستان بانک د مالیې وزارت مالي استازی شو او د پیسو د خپراوي، د بانکي کرېډتونو د تنظیم، د بهرنیو اسعارو د تبادلې د کنټرول او د پانګونې د پرمختګ مسوولیت یې پر غاړه واخیست.

**بحث پوښتنې**

- ❖ د افغانستان پر سوداګریزو قوانینو د داود خان اغېز څه و؟ د ۱۹۵۵ کال تجارتي قانون ولې مهم دی؟
- ❖ د داود خان اقتصادي پالیسیو څنګه د افغانستان پر تجارتي قانون اغېز وکړ؟
- ❖ په دې پېر کې د ملي بانک او د افغانستان بانک رولونه څنګه بدل شول؟

**د هلمند سیند پروژه**

هلمند سیند چې له هندوکش غرونو یې سرچینه اخیستې په افغانستان کې تر ټولو اوږد سیند دی. په ۱۹۴۵ کال کې افغان حکومت پر یوې سترې زیربنايي پروژې کار پیل کړ چې موخه یې د سیند د موسمي اوبو کنټرولول و. د هلمند د سیند اوبه د افغانستان ۴۰ په سلو کې کرنیزې ځمکې خړوبولې او د هیواد د ټول نفوس پر یو پر پنځمه برخه یې اغېز درلود. د بندونو او کانالونو د جوړولو له لارې د یاد سیند د اوبو اداره کولو دښتې

ځروبولې او د افغانستان بېلابېلو ښارونو ته يې د اوبو يوه ثابته سرچينه برابروله.

حکومت په دې اړه له موریسن نوډسېن شرکت سره خبرې پيل کړې او د ياد شرکت افغانستان څانگه يې جوړه کړه. په لومړي پړاو کې د سروې د بشپړاوي، سړکونو د جوړېدو او د دوو بندونو او يوه کانال د جوړولو د کار د پيل لپاره ۱۰،۷ ميليونه ډالرو ته اړتيا وه. د پروژې ټول قيمت ۷،۶۳ ميليونه ډالره و، چې ۷،۵۳ ميليونه ډالره په کې د بهرنيو اسعارو په توگه شامل و.

پروژه له پيله د بيوروکراسي او بشري قوې له ستونزو سره مخامخ وه. د هر لوري د مسووليت د ساحې په اړه سوتفاهم يوه عادي خبره وه. په ۱۹۴۹ کال کې د پروژې لگښتونه په حيرانوونکي ډول اوچت شول. د ملي اقتصاد وزير ښاغلي زابلي د امريکا د صادراتو–وارداتو له بانکه د ۵۵ ميليونه ډالرو پور غوښتنه وکړه، چې بالاخره د همغه کال په پای کې ۲۱ ميليونه ډالره پور ورکړل شو. په ۱۹۵۱ کال کې افغان حکومت له MKA څخه وغوښتل چې د پروژې د ټولو هغو انجنيري چارو مسووليت پر غاړه واخلي چې وړاندې تر دې يې هوکړه شوې وه. په ۱۹۵۲ کال کې حکومت له ډېر ځنډ وروسته د پروژې د عملي کولو د څارنې په موخه د هلمند د پروژی اداره جوړه کړه. ددغې ادارې مشر ته د کابينې د غړي درجه ورکړل شوه. دوه بنده له مهالوېش وړاندې بشپړ شول، خو د کانالونو کار په يوه سخته ننگونه بدل شو. په ۱۹۵۳ کال کې د امريکا صادراتو–وارداتو بانک يادې پروژې ته د ۵،۱۸ ميليونو ډالرو پور بله ټولگه ورکړه.

د داود خان حکومت د هلمند پروژی په اداره کې د کمزوري منجمنټ، اختلاس او فساد رپوټونو له لامله اندېښمن و، له همدې لامله يې د نوموړې ادارې يو شمېر کار کوونکي له دندو گوښه کړل. د هلمند پروژی سنبالوونکی دفتر ډېر غندل کېده، خو د هغه د حالت د ښه والي لپاره ډېر څه نه کېدل. په دغه دفتر کې يوه با استعداده افغان ډله د کمو پيسو او نه پاملرنې له لامله تر د ستونزو سره مخ شوه. په ۱۹۵۷ او ۱۹۵۹ مو کلونو کې سختو سيلابونو د پروژی پلې کول پېچلې کړه. په ۱۹۵۹ کال کې د MKA قراردادونه لغو شول. د MKA پر ځای د امريکا او دريم هيواد د تخنيکرانو يو سيستم رامنځته شو چې نوې رامنځته شوې افغان رغنيزې ډلې (ACU) ته به يې مشورې ورکولې.

*سرچينه: لوويس دوپرې، افغانستان.*

**د بحث پوښتنې**

- ❖ د هلمند پروژه کومه پروژه وه؟ د يوه هيواد د پرمختگ لپاره بنسټيزې پروژې ولې مهمې دي؟
- ❖ په دې پروژه کې ستر گډونوال څوک وو؟ تجارتي قانون ( کورني، بهرني او نړيوال) څنگه دغه پروژه اغېزمنه کړه؟
- ❖ پروژه له کومو ستونزو سره مخامخ وه؟ آيا دغه ستونزې قانوني، تخنيکي يا د کارکوونکو په اړه وې؟ څنگه هغه حل شوې؟
- ❖ د اوسنيو بنسټيزو پروژو په اړه د هلمند پروژه تاريخ څه لارښونه کوي؟

**د هلمند سيند پروژه**

هلمند سيند چې له هندوکش غرونو يې سرچينه اخيستې په افغانستان کې تر ټولو اوږد سيند دی. په ۱۹۴۵ کال کې افغان حکومت پر يوې سترې زيربنايي پروژې کار پيل کړ چې موخه يې د سيند د موسمي اوبو کنټرولول و. د هلمند د سيند اوبو د افغانستان ۴۰ په سلو کې کرنيزې ځمکې

خړوبولې او د هېواد د ټول نفوس پر يو پر پنځمه برخه يې اغېز درلود. د بندونو او کانالونو د جوړولو له لارې د ياد سيند د اوبو اداره کولو دښتې خړوبولې او د افغانستان بېلابېلو ښارونو ته يې د اوبو يوه ثابته سرچينه برابروله.

حکومت په دې اړه له موريسن نوډسېن شرکت سره خبرې پيل کړې او د ياد شرکت افغانستان څانګه يې جوړه کړه. په لومړي پړاو کې د سروې د بشپړاوي، سړکونو د جوړېدو او د دوو بندونو او يوه کانال د جوړولو د کار د پيل لپاره ۱۰،۷ ميليونه ډالرو ته اړتيا وه. د پروژې ټول قيمت ۷،۶۳ ميليونه ډالره و، چې ۷،۵۳ ميليونه ډالره په کې د بهرنيو اسعارو په توګه شامل و.

پروژه له پيله د بيوروکراسي او بشري قوې له ستونزو سره مخامخ وه. د هر لوري د مسووليت د ساحې په اړه سوتفاهم يوه عادي خبره وه. په ۱۹۴۹ کال کې د پروژې لګښتونه په حيرانوونکې ډول اوچت شول. د ملي اقتصاد وزير ښاغلي زابلي د امريکا د صادراتو–وارداتو له بانکه د ۵۵ ميليونه ډالرو پور غوښتنه وکړه، چې بالاخره د همغه کال په پای کې ۲۱ ميليونه ډالره پور ورکړل شو. په ۱۹۵۱ کال کې افغان حکومت له MKA څخه وغوښتل چې د پروژې د ټولو هغو انجنيري چارو مسووليت پر غاړه واخلي چې وړاندې تر دې يې هوکړه شوې وه. په ۱۹۵۲ کال کې حکومت له ډېر ځنډ وروسته د پروژې د عملي کولو د څارنې په موخه د هلمند د پروژې اداره جوړه کړه. ددغې ادارې مشر ته د کابينې د غړي درجه ورکړل شوه. دوه بنده له مهالوېش وړاندې بشپړ شول، خو د کانالونو کار په يوه سخته ننګونه بدل شو. په ۱۹۵۳ کال کې د امريکا صادارتو– وارداتو بانک يادې پروژې ته د ۵،۱۸ ميليونو ډالرو پور بله ټولګه ورکړه.

د داود خان حکومت د هلمند پروژې په اداره کې د کمزوري منجمنټ، اختلاس او فساد ريپوټونو له لامله اندېښمن و، له همدې لامله يې د نوموړې ادارې يو شمېر کار کوونکي له دندو ګوښه کړل. د هلمند پروژې سنبالوونکی دفتر ډېر غندل کېده، خو د هغه د حالت د ښه والي لپاره ډېر څه نه کېدل. په دغه دفتر کې يوه با استعداده افغان ډله د کمو پيسو او نه پاملرنې له لامله تر د ستونزو سره مخ شوه. په ۱۹۵۷ او ۱۹۵۹ مو کلونو کې سختو سيلابونو د پروژې پلې کول پېچلي کړه. په ۱۹۵۹ کال کې د MKA قراردادونه لغو شول. د MKA پر ځای د امريکا او دريم هيواد د تخنيکرانو يو سيستم رامنځته شو چې نوې رامنځته شوې افغان رغنيزې ډلې (ACU) ته به يې مشورې ورکولې.

*سرچينه: لوويس دوپرې، افغانستان.*

**د بحث پوښتنې**

- د هلمند پروژه کومه پروژه وه؟ د يوه هيواد د پرمختګ لپاره بنسټيزې پروژې ولې مهمې دي؟
- په دې پروژه کې ستر ګډونوال څوک وو؟ تجارتي قانون ( کورني، بهرني او نړيوال) څنګه دغه پروژه اغېزمنه کړه؟
- پروژه له کومو ستونزو سره مخامخ وه؟ آيا دغه ستونزې قانوني، تخنيکي يا د کارکوونکو په اړه وې؟ څنګه هغه حل شوې؟
- د اوسنيو بنسټيزو پروژو په اړه د هلمند پروژه تاريخ څه لارښونه کوي؟

له سختو اقتصادي پاليسيو سره سره، د داود خان په حکومت کې بانکداري وده وکړه. هر وزارت غوښتل خپل بانک ولري او ډېر ژر يې هغه جوړ کړل. د کار او ټولنيزو چارو وزارت له وړاندې د پورونو او ساختماني يو بانک درلود چې په ۱۹۴۸ کال کې جوړ شوی و، خو د سوداګرۍ، کرنې او کانو او صنايعو وزارتونو ټولو د ۱۹۵۴ او ۱۹۵۷ کلونو ترمنځ خپل خپل بانکونه پرانيستل.

یوازې په یوه لسیزه کې یوه سوداګریز بانک، پښتني تجارتي بانک او درې نورو اختصاصي بانکونو د ملي بانک او افغانستان بانک په خواکې خپل فعالیتونه پیل کړل.

که څه هم بانکونو د افغانستان پر محدود او کوچني مالي سیستم باندی تسلط درلود، خو دا په هیواد کې یواځینی مالي ادارې نه وې. د بانکونو ترڅنګ د تقاعد صندوق، د پورونو مرستندویه شرکتونه او د پیسو بازارونه هم په دې برخه کې د یادولو وړ دي. په ۱۹۶۳ کال کې د افغانستان د بیمې د کمپنۍ له جوړېدو وړاندې، په کابل کې د بیمې دریو کوچنیو ادارو کار کاوه، چې د نوي ډېلي سټرلېنګ انشورنس، نارترن انشورنس او انګوستراخ ( د شوروي د بیمې شرکت یوه څانګه وه) شرکتونه و. د تقاعد صندوق په ۱۹۴۴ کال کې جوړ شو او تر ۱۹۷۰ مو کلونو یې د حکومتي تقاعد پیسې ورکولې. د کابل او کندهار د پیسو بازارونو په افغانستان کې د غیر رسمي کرېډتونو یوه پراخه شبکه رامنځته کړې وه.دوی د سود تر ټولو لوړ قیمتونه رامنځته کړي و او د رسمي تجارتي بانکونو ورته خدمات یې وړاندې کول.

**د افغانستان مالي ادارې**

| اداره | د جوړېدو نېټه |
|---|---|
| ملي بانک (خصوصي) | ۱۹۳۲ |
| صنعتي پراختیایي بانک ( خصوصي) | ۱۹۷۳ |
| د افغانستان بانک (دولتي) | ۱۹۳۹ |
| رهني او ساختماني بانک (دولتي) | ۱۹۴۸ |
| پښتني تجارتي بانک (دولتي) | ۱۹۵۴ |
| کرنیز پراختیایي بانک (دولتي) | ۱۹۷۰ |
| د افغانستان د بیمې کمپنۍ | ۱۹۶۳ |
| د بیمې درې ادارې | مالومه نه ده |
| د کوهدامن د همکاره پورونو اداره | ۱۹۶۹ |
| د بغلان د همکاره پورونو اداره | ۱۹۷۱ |
| د کابل د پیسو بازار | مالومه نه ده |
| د کندهار د پیسو بازار | مالومه نه ده |
| د تقاعد صندوق | ۱۹۴۴ |

سرچینه: ماکسوېل جې. فرای، افغان سوداګري ۹۳-۱۹۷۴

**د بحث پوښتنې**

۱. په افغانستان کې د داود خان د پېر مشهورې مالي ادارې کومې وې؟ کومه اداره مهمه وه؟ ولې؟

۲. بانکونه ولې تر ټولو لوړې مالي ادارې وې؟

## د. د ۱۹۶۴ کال اساسي قانون او ورپسې حقوقي اصلاحات

داودخان په ۱۹۶۳ کال کې استعفا وکړه او پر ځای یې ډاکټر محمد یوسف لومړی وزیر وټاکل شو. نوي لومړي وزیر اعلان وکړ چې د دولتي

اقتصاد چارې به دغسې په مخ روانې وي، خو ترځنګ به خصوصي سکتور هم وهڅول شي او ملاتړ به يې وشي. ډاکټر يوسف او شاه ډېر ژر د يوه نوي اساسي قانون د جوړولو هر اړخيزې هڅې پيل کړې. دوی د اساسي قانون د بيا کتنې يوه کمېټه جوړه کړه، چې دې کمېټې د ۱۹۶۴ کال په مې کې د اساسي قانون يوه مسوده د ۴۵۵ غړو لرونکې لويې جرګې ته وړاندې کړه. لويې جرګې هم د اساسي قانون د مسودې ډېرى مادې پرته له دې چې ډېر بحث دې ورباندې وکړي تصويب کړې؛ خو جرګې د محکمو په اړه مواد ته ډېره پاملرنه وکړه. ډاکټر يوسف په ۱۹۶۵ کال کې د لومړي وزارت له پوسته لرې کړای شو او پرځای يې ډاکټر محمد هاشم ميوندوال دنده پيل کړه. له ۱۹۶۵ کاله تر ۱۹۷۳ مه پېر چې شاهي رژيم ونړېد د افغانستان په حقوقي تاريخ کې تر ټولو ډېره ځلانده پېر ګڼل کيږي. په دې دوره کې تر ټولو ډېر قوانين را ټول او تنظيم شول چې پيل يې داود خان کړی و. په ياد پېر کې هر اړخيز جنايي، مدني او د جنايي بهير قوانين تصويب شول. په هغه مهال کې جوړ شوي يو زيات شمېر قوانين اوس هم پلي او کارول کيږي.

د ۱۹۳۱ کال د اساسي قانون خلاف د ۱۹۶۴ کال اساسي قانون، د شرعي قانون په پرتله هغه وضعي قوانينو ته ډېر اهميت ورکړو چې د پارلمان لخوا به تصويبېده او شاه به توشيح کوو. د قانون په ۱۰۲ مه ماده کې له محکمو غوښتل شوي وو چې پر قضاياو لومړی د اساسي قانون اصول عملي کړي، وروسته له هغه د افغانستان وضعي مدون قوانين. شرعي قانون يوازې پر هغو قضيو عملي کېده چې د هغو په اړه به کوم قانون شتون نه درلود. دا د ۱۹۳۱ کال له اساسي قانون سره يو توپير و، ځکه چې په هغه قانون کې له محکمو غوښتل شوي و چې خپلې پرېکړې د حنفي فقهې پر بنسټ وکړي. قضا د سترې محکمې لخوا رهبري کېده او د اساسي قانون سره د پارلمان لخوا تصويب شوي قوانين د مطابقت په اړه د پريکړې واک يې درلود. ستره محکمه د دولت د نورو څانګو (پارلمان او اجرايه قوه) په شان يو مستقل ځواک و.

له هغه ځايه چې د ۱۹۶۴ کال اساسي قانون د افغانستان د نوي قضايي سيستم لپاره يو عمومي کاري چوکاټ برابر کړی و، د ۱۹۶۷ کال د محکمو د صلاحيت او تشکيلاتو قانون دغه سيستم ته نوره مفصله اډانه رامنځته کړه. ستره محکمه په افغانستان کې تر ټولو ستره قضايي مرجع وه او هغې د نوې جوړې شوې قضا ځارنه کوله. درې ګونی محکمو نه يوه محکمه جوړه شوه او د سترې محکمې يوه برخه وګرځېده. د سوداګرۍ خونې تميز په ټولو سوداګريزو او کارګري شخړو کې د استيناف د وروستی محکمې په توګه کار کاوه. د سوداګريزو شخړو په اصطلاح کې صنعتي شخړې، د امتياز حقونه، د لېږد رالېږد، تقاعد او بيمې اړوند ټولې شخړې شاملې وې.

د محاکمو د صلاحيتونو او تشکيلاتو قانون د ولايتونو په کچه د محاکمو په اجراتو کی يووالی رامنځته کړو. سوداګريزې محکمې چې پخوابې ځانته کار کاوه ، د نوې جوړې شوې ولايتي محکمې سره يوځای کړی شو چې سوداګرۍ خونه بلل کېده. له دې لامله چې سوداګريزې شخړې تر ډېره په ښارونو کې وې او په کليوالو سيمو کې ورته پيښې کمې رامنځته کېدې، په لومړي سرکې سوداګريزې محکمې يوازې په سترو ښاري سيمو کې جوړې شوې. ددغو محکمو شمېره په تدريجي ډول سره ډېرېده او په کوچنيو ښارونو کې هم ورته محکمې جوړې شوې.

د ۱۹۶۴ کال د اساسي قانون له مخې، د سوداګرۍ محکمې که څه هم د قضايي سيستم يوه برخه وه، خو ډېر واک او خپلواکي يې لرله. ددې قانون د لاربښونې سره سم د دغې محکمې د پروسيجر په اړه يو قانون جوړ شو چې محکمې ته يې واک ورکاوه چې د قرارداد د دواړو خواوو په توافق د هغو د شخړو په هواري لاس پورې کړي، لومړني قرارونه صادر کړي، عريضې واوري، ستونزې حل کړي، ثبوتونه او شواهد وګوري، قضايي تصميم و نيسي او پر استيناف غوښتنو غور وکړي. سوداګريزې محکمې ته همدارنګه واک ورکړل شو، چې د حکم په توګه د دواړو خواو ترمنځ شخړه اواره کړي. دغه قانون په سوداګريزو شخړو او محکمو کې د سترې محکمې رول محدود کړ.

**د بحث پوښتنې**

- ❖ د ۱۹۶۴ اساسي قانون د افغانستان په حقوقي سيستم کی کوم بدلونونه رامنځته کړه؟ کوم اصلاحات ډېر مهم وو؟ ولې؟

- د ۱۹۶۴ کال اساسي قانون څنګه قضايي سيستم ته نوې اړانه جوړه کړه؟ پدغه قاونو کی د قوانينو سلسله مراتب په څه ډول و؟ آيا دغه بدلون مثبت و که منفي؟ ولې؟

- د محاکمو د صلاحيتونو او تشکيلاتو قانون په اړه توضيحات ورکړی؟ دغه قانون د افغانستان پر تجارتي قانون څه اغېز درلود؟

- سوداګريزې محکمو له نورو مدني محاکمو سره څه توپير درلود؟

د نوي ساده شوي او موثر قضايي سيستم له رامنځته کېدو سره سره د محکمو ترمنځ دهغوی د واک د ساحې په اړه لانجو دوام درلود. ستره محکمه هم په ۱۹۶۸ کال کې د سوداګريزو محکمو د قضايي قلمرو پر سر له د دغسی يوې شخړې سره مخامخ شوه. دغه شخړه د سلم (وړاندې پلور)، شراکت (تجارتی شراکت) او مضاربت (د ګټې شريکول) په اړه وه. دغه ډول قضيې د حنفي فقهې لخوا پېژندل شوې وې او د معمولي چارو مدني او جزايي محاکمو چې اوس د شرعي محکمو پرځای فعالې وې په عادي ډول دغه شان قضيې حل کولې، هغه هم په داسې وخت کې چې سوداګريزې محکمې له ۱۹۳۱ کال راهيسې په افغانستان کې فعالې وې. د سترې محکمې د حوزوی صلاحيت څخه راولاړشويو شخړو د ديوان مشر مولوي صافي دغه ستونزه سترې محکمې ته راجع کړه. هغه ټينګار کاوه چې د شرعي قراردادونو او شرعي دعوو قضيې دې د مدني او جزايي محکمو ته وسپارل شي. هغه استدلال کاوه چې د قضايي واک د معلومولو په خاطر بايد دی ته پام وشي چې آيا سوداګريز اسناد شرعي اصطلاحات يا احکام لري او که نه؟ سترې محکمې په لاندې دلايلو سره د هغه د غوښتنو مخالفت وکړ:

۱. مضاربت يو داسې تړون دی چې يو چاته صلاحيت ورکوي چې د سوداګرۍ لپاره د بل چا له پانګې استفاده وکړي، په دې شرط چې ګټه او تاوان به د دواړو ترمنځ شريک وي. دا يوه ښکاره سوداګريزه معامله او داسې موضوع ده چې بايد سوداګريزې محکمې يې حل کړي.

۲. د سوداګرۍ د قانون د ۱۹مې مادې د ۸ مې فقری له مخې د سوداګريز شراکت معاملې پرته له دې چې د شريکانو نيت په کې په پام کې ونيول شي سوداګريزې دي.

۳. په بنسټيزه توګه سلم يوه سوداګريزه معامله نه ده، بلکې هر چېرې چې د سلم توکي د سوداګرۍ په موخه اخيستل شوي وي، له دغسې معاملو راپورته شوې دعوې کېدای شي سوداګريزې دعوې وبلل شي.[6]

د محاکمو د صلاحيت په اړه يوه ورته پېښه د بزګرانو ترمنځ را پورته شوه. د محاکمو د صلاحيتونو او تشکيلاتو قانون له حکم سره سم کارګري او سوداګريزې شخړې بايد سوداګريزو محکمو ته راجع شوې وای. د کندهار ولايتي محکمې دا موضوع را برسېره کړه او سترې محکمې څخه استدعا وکړه چې آيا بزګران ددې قانون د احکامو له مخې کارګر بلل کېږي او که نه؟ سترې محکمې پرېکړه وکړه چې د ټولو هغو کسانو چې په فابريکو يا حکومتي کارځايونو يا هم نيمه حکومتي او خصوصي تشبثونو کې کار کوي د هغوی شخړې سوداګريزو محکمو ته راجع کېږي. له دې لامله چې د بزګرو او بزګرو او د ځمکې د خاوندانو ترمنځ اړيکي په قانون کې نه وې روښانه شوې، له همدې لامله د بزګرو اړونده قضيې بايد د شرعي قانون سره سم ابتدايي محکمو کی حل و فصل شي.

**د بحث پوښتنې**

6 - Supreme Court Circular No. 1234/24.II.1347/1968

❖ د محاکمو ترمنځ د صلاحیتونو په سر لانجې څه معنا لري؟ دغه ستونزې ولې په ۱۹۶۰ مو کلونو کې په افغانستان کې ډېرې وې؟

❖ د محاکمو ترمنځ په صلاحیتونو په سر شخړو څنګه تجارتي قانون تر اغېزې لاندې راوستی و؟

❖ ستري محکمې څنګه په خپل د ۱۹۶۸ کال تصمیم کې د سوداګریزو محکمو ترمنځ په صلاحیتونو باندې شخړه اواره کړه؟ آیا تاسو له دې تصمیم سره راضي یاست؟ ولې او ولې نه؟

❖ ستاسو په اند په نني افغانستان کې د محاکمو تر منځ په صلاحیتونو باندې کوم ډول شخړې موجودې دي؟

قانون او آزاد تشبث

د ۱۹۶۷ کال د فبروری پر ۲۲ مه افغانستان د پانګوالې یو نوی قانون وضع کړ. د نوي قانون د رامنځته کولو موخه داوه چې په افغانستان کې آزاد تشبث تشویق شي او د دولتي اقتصاد ډول چې پخوانیو حکومتونو یې پلوي کوله له منځه ولاړ شي. قانون د لا ډېرو پیاوړو قانوني خوندیتوبونو په رامنځته کولو سره د دواړو افغانانو او بهرنیانو لخوا خصوصي پانګونه هڅوله.
افغان حکومت ورته یوه هڅه په ۱۹۵۵ کال کې هم هغه مهال کړې وه چې په تشبثاتو کې یې د بهرنۍ پانګونې د هڅونې لپاره یو قانون تصویب کړ. د هغه قانون موخه په هیواد کې د بهرنیو اسعارو د تبادلې او یا ساتنې له لارې د ډېرو عایدو لاسته راوړل و. پر دغه قانون په ۱۹۵۸ او ۱۹۶۰ کال کې له سره کتنه وشوه او تعدیل شو خو د بیوروکراتیک خنډونو او د یو منظم مالي سیستم د نه شتون له امله کوم خاص اغیز نه درلود.
لاندې جدول په لنډه توګه د دواړو قوانینو ترمنځ ورته والي او توپیرونه ښودلي دي. په ګوت نیوونکې توګه د دواړو قوانینو ترمنځ توپیرونو ته انتقادي کتنه به د تجارتي قانون او اقتصادي ودې ترمنځ د اړیکو په موندلو کې مرسته وکړي.

*سرچینه: لوویس دوپرې، په افغانستان کې آزاد تشبث*

| د بهرنۍ او خصوصي پانګونې قانون (۱۹۶۷) | په افغانستان کې د بهرنۍ خصوصي پانګونې د هڅونې قانون (۱۹۵۸) |
|---|---|
| دواړو کورنۍ او بهرنۍ پانګونې ته پام کوي او دواړو سره یو ډول چلند تضمینوي. | یوازې بهرنۍ پانګونې ته پام کوي |
| لومړۍ ماده– د قانون موخه داده چې خصوصي تشبث تشویق او خوندي کړي | لومړۍ ماده –بهرنۍ خصوصي پانګه تعریفوي |
| ۲مه ماده– پانګوونکي باید د پانګونې کمېټې لخوا چې د تجارتي قانون د حکم سره سم په بېلابېلو صنعتونو کې د پانګونې د هڅونې په موخه کار کوي د پروژې منظوري ترلاسه کړي. | ۴مه ماده– په یو شمېر برخو کې پانګونه هڅوي، لومړیتوب هغې پانګونې ته ورکوي چې بهرنۍ اسعار ډېروي یا یې سپما کوي. |
| ۳مه ماده– د ټولو ګټو د مالیې پنځه کلن معافیت، د کمپنۍ د کارونو لپاره د اړینو او په کور دننه نه پیداکېدونکو توکو پر وارداتو د پنځه کلنې مالیې معافیت، د پانګوالو پر عاید د مالیې او شرکتي ټکس معافیت. | ۵ مه ماده: د درې کلونو لپاره شرکتونه د مالیې د ورکړې څخه معاف دی خو پدې شرط چې د مالیې معافیت په کال کې د ټولې ثبت شوې پانګې د ۱۵ په سلو کې وانه وړي. د اړینو توکو پر وارداتو درې کلن معافیت، د پانګوالو پر عوایدو درې کلن معافیت |
| ۷ مه ماده– د افغان او بهرنیو پانګونو او پانګوالو ترمنځ د تبعیض نه | ۵ مه ماده–د افغان او بهرنیو پانګونو ترمنځ د تبعیض نه شتون. |

| | |
|---|---|
| شتون. | |
| ۱۲مه ماده–هر افغان او بهرنی تبعه کولای شي ونډې ولري. | ددې موضوع يادونه نه ده شوې |
| ۱۹-۱۸ مې مادې–بهرني اتباع کولای شي د هيوادونو يا د هيوادونو د اتباعو ترمنځ د پانګونې د شخړو د حل د معاهدې پر بنسټ له حکميته برخمن شي يا د پروسيجر له مخې له خصوصي حکميت څخه ګټه واخلي. | په قانوني توګه حکميت هيڅ امکان نه درلود (که څه هم غير رسمي حکميت معمول و). |

**د بحث پوښتنې**

- د دواړو قوانينو ترمنځ تر ټولو مهم توپيرونه کوم دي؟ څه فکر کوئ چې دغو توپيرونو څنګه خصوصي تشبث اغېزمن کړی و؟
- تاسی د ۱۹۵۸ کال په قانون کې د نورو کومو بدلونونو وړانديز لرئ؟

## هـ د مالي سکتور په وړاندې پراته خنډونه

د ۱۹۵۰مو کلونو په وروستيو او د ۱۹۶۰مو کلونو په پيل کې دا ښکاره شوه چې د افغانستان مالي سکتور پياوړی نه دی. په سرعت سره د لوېديځ ډوله مالي سيستمونو رامنځته کول څکه ستونزمن و چې په افغانستان کې دغه ډول مالياتي سيستم ډېره لږه مخينه لرله. عنعنوي مالي توکي يا اسناد په ابتدايي ډول ثابت او نه بدلېدونکي وو چې ډېری خلک نه و ورسره بلد. په دغو اسنادو کې آن لا د پور او وړيا مرستو ترمنځ ښکاره توپير نه ليدل کېده او خلک له ستونزو سره مخامخ و. ددې پايله داوه چې خلکو بانک ته ډېرې لږې پيسې اچولې او حکومت اړ و چې په بانکونو کې د پيسو د کچې د ثابت ساتلو لپاره په منظمه توګه هلته پيسې واچوي. له بهرنيو بانکونو سره د افغان بانکونو د سيالیو کموالي دې ته لار اواره کړې وه چې د افغانستان په بانکونو کې دې بې کفايتي ببرته زور واخلي.

په مالي سکتور کې ستونزې د حکومت د پاليسی له لامله نورې هم ډېرې شوې وې. حکومت خصوصي سکتور ته د ځانګړې شوي کرېډټ پر کورني مبلغ محدوديتونه وضع کړل. هغه خصوصي شرکتونه چې پانګې ته يې اړتيا لرله اړ شوې چې د لوړی ګټې په ورکولو سره له نورو سرچينو پيسې لاسته راوړي . په دې پېرکې اقتصادي وده د ځنډ سره مخ شوه، څکه چې خصوصي سکتور ته برابرې شوې کورنی مالي سرچينې ډېرې کمې وې. له مالي ادارو د اخيستل کېدونکو پورونو د سود کچه د دوو لسيزو په اوږدو کې پرخپل ځای پاتې وه او بدله نشوه. د پيسو په بازارونو کې هم بيې په چټکی سره لوړې شوې. په کليوالو سيمو کې د سود کچې د لوړوالي له امله کروندګرو و نشو کړای چی د ابتدايي کرنی څخه تجارتي کرنی ته ارتقا وکړي. يوازې د ګوتو په شمار پور اخيستونکو کولای شوای د پيسو اخيستو په مقابل کې د بانک لخوا وضع شوي لږ تر لږه شرايط پوره کړي او پيسې ترلاسه کړي. دغه شرايط د بانک له خپلې هغې ناکامۍ سره تړلي و چې نه يې شوای کولای پورونه پر خپل وخت سره راټول کړي او يا د ګروي شويو توکو څخه خپلی پيسی بيرته ترلاسه کړي.

په افغانستان کې د وړاندې شوي کرېډټونو او بيلابيلو پورونو حجم په ۱۹۶۰ مو کلونو کې کم شو. ددې مالي را لوېدنې لومړنی لامل هغه ستونزه وه چې بانکونه د خپلو پورونو په راټولولو کې ورسره مخامخ شول. بانکونو نه غوښتل د موجودو قوانينو په سيوري کې د ناکافي خونديتوب له لامله نويو پور اخيستونکو ته پيسې ورکړي يا صنعت او کرنې ته د کريډټونو مودې وغځوي. د دواړو پور ورکوونکو او پور اخيستونکو حقوق، مکلفيتونه او دندې په قانون کې په ښکاره توګه نه وې تعريف شوې. د يوه پياوړي مدني قانون، د کريډټونو د خونديتوب د قانون او د بانکدارۍ د عمومي قانون نه شتون او ورسره د بانکونو او سوداګريزو محکمو بې تجربې کارکوونکي ټول د افغانستان د مالي سکټور د پراختيا پخ مخ کی خنډ

وګرځیده. په دې دوره کې یوزیات شمېر حقوقي ستونزې راولاړې شوي چې لاملونه یې پر مرهونه باندی د مرتهن کنټرول دوام، د محکمو ورو او بېکاره کړنلارې، د پور اخیستونکو اغېز او نفوذ، د اداري فساد موجودیت او د محاکمو د کارکوونکو ناوړتیا وه.

**د بحث پوښتنې**

- د افغانستان مالي سکتور ته د ۱۹۵۰ او ۱۹۷۰ مو کلونو په لړ کې څه پېښ شول؟
- د افغانستان د تجارتي قانون او دغو مالي پرمختګونو ترمنځ څه اړیکي موجود وو؟

## د کرنې پراختیایي بانک ۱۹۷۲-۱۹۷۱

د افغانستان د کرنې د پراختیا بانک د ۱۹۷۱ او ۷۲ کلنو بېلابېل رپوټونه جوتوي چې کمزورو سوداګریزو قوانینو څنګه د افغانستان د مالي سکتور د ودې مخه نیولې وه او د دغه هیواد اقتصادي غوړېدا یې ورو کړې وه. د یادو رپوټونو متن کټ مټ لاندې را اخیستل شوی دی. د دې متن لوستل سړی په ډېره ښه توګه د افغانستان د مالي سکتور او سوداګریزو قوانینو عمق ته بیایي او د یوزیات شمېر هغو موضوعګانو د اهمیت بېلګې ورته برابروي چې په دې کتاب کې را خیستل شوې دي.

دغه متن همدارنګه بیانوي چې په لومړي څپرکي کې وړاندې شوې نظري اساسات څنګه د افغانستان له راتلونکي اقتصادي ودې سره په جدي توګه تړلې ده. د راتلونکو څو مخونو په لوستلو سره تاسو د افغانستان په اقتصادي وده کې د کرنې، د ځمکې د ملکیت او سوداګریزو قوانینو د رول په هکله فکر وکړئ.

### ۲. د افغانستان د کرنې پراختیایي بانک په وړاندې پرتې ستونزې

الف. د کریدت (اعتبار) د وېش په تړاو ستونزې

د افغانستان د کرنې پراختیایي بانک د بانکدارۍ د عمومي اصولواو خپل داخلي مقرراتو سره سم هغه اشخاصو ته پورونه ورنکړل چې د دغه بانک د شرایطو د پوره کولو توان یې نه درلود. د پورونو د خوندیتوب یا ضمانت په برخه کې د افغانستان د کرنې پراختیا بانک لاندې توکي منلي دي: نه لېږدېدونکې شتمنی (ځمکه، هټی، کورونه او داسې نور) لېږدېدونکې شتمنی لکه زراعتي تولیدات، چې په هغو کې د څارویو اړونده تولیدات، سوداګریز توکي او بیه لرونکې پاڼې، د مالي او کرنیزو ادارو ضمانتونه. د خپلو لنډمهالو او اوږدمهالو پورونو د خوندیتوب لپاره د کرنې بانک په عمومي توګه نه لېږدېدونکې شتمنی د تضمین په توګه غواړي.

د دغه ډول تضمین برابرول تراوسه هم د تضمین په اړه د هغه دولتی مقررې په بنسټ ترسره کیږي چې د مالیې وزارت لخوا جوړه شوی او کابینې تصویب کړی. د ځمکې د ګرو کولو لپاره د ځمکې خاوند په یوه محکمه کې (د وثایقو محکمه) د دوو شاهدانو پر وړاندې قسم خوري، چې هغه د خپلې ځمکې یوه ټاکل شوې برخه د بانک لخوا د برابر شوي پور په مقابل کې په ګروي ورکوي. که پور اخیستونکی د پیسو د بېرته ورکولو توان ونه لري د ترون له مخې بانک حق لري چې ګرو شوې ځمکه پرته له دې چې د محکمې نور پړاوونه تر سره کړي وپلوري.

خو د عمل په ډګر کې پدغه سیستم کی د یو شمېر نیمګړتیاو له کبله بانکونه دی زړه نه ښه کوي چې دغه رنګه یو تضمین (وثیقه) د ومني. دا کار عمدتاً د لاندی دلایلو له مخی صورت مومي:

۱. تر اوسه پورى د املاكو سروى نه ده بشپړه شوې، نو پدغه خاطر د ګروې يا د ضمانت اندازه او ماهيت په برخه كى شكونه شتون لري.
۲. په ناسمه توګه د ځمکې ثبت يا د رسمي اسنادو نشتوالى د ځمكو د مالكيت په اړه شكونه زيږوى چى ايا د ځمكى قبضه لرونكى هم په واقعيت كى د ځمكى څښتن دى او كه څنګه؟
۳. د هيواد په بېلابېلو برخو کې د حقآبى ( د اوبو د استعمال تبعى عينى حق) بيلا بيل دوديز حقونه چې د شتمنى د ارزښت په تعينولو كى لويه برخه لري، د ضمانت د نه خونديتوب په اړه اندېښنې ډېروي.
۴. د ځمكې د اندازه كولو بيلابيل ستنډرډونه لكه تخم ريز، پيكل، قلبه او داسې نور ياده ستونزه لا ډېره لويه كړې ده.
۵. سربيره پردى د پور د وركړى رسمي ژمنه (پروميزرى نوټ- Promissory Notes ) هم د بانك د شرايط سره سمون نه خوري . د محكمې د چارواكو ليكنې داسې وي چې سمې نه لوستل كيږي او دغه كار په اسانى سره كولاى شي په رسمي توګه د اسنادو د منل كېدو مخه ونيسي.

**ب. د پور د قراردادونو څخه د راولاړ شويو لانجو هوارى**

۱. پورونه په قرارداد كى د ذكر شويو شرايطو سره سم د تضمين په مقابل كى وركول كيږي . قرارداد د دواړو لورو حقونه او مكلفيتونه ټاكي. تجارتي قانون حكم كوي چې په دې معاملو پورې اړونده لانجې بايد سوداګريزو محكمو ته راجع شي. خو ولى يو لړ ستونزى ـ لكه د پور اخيستونكو او بانك د وكيلانو نه حاضرېدنه ــ د دې لامل ګرځى چې قراردادونه دې په محكمه كې ثبت نه شي. البته دغه ډول ستونزو بيا نورى اضافي ستونزى راولاړوي؛
۲. د هيواد په يوزيات شمېر سيمو كې د سوداګريزو محكمو نه شتون په بېلابېلو حالتونو كې د قراردادونو ثبت ناشونى كوي؛
۳. د ثبت څانګه (وثايق) د چټك ثبت پر وړاندې خنډونه جوړوي او په دې توګه په چټكى سره د قضيو د ثبتولو مخه نيول كيږي.

**ج. د پورونو د راټولولو ستونزې**

كه څه هم پور اخيستونكى د تضمين شوي مال د پلورلو واك بانك ته وركوي او د هغه ګاونډى هم ژمنه كوي چې د پور د نه وركولو په صورت كې به ټاكل شوې ځمكه رانيسي، ډېرى وختونه بانك د لاندې عاملونو له لامله په دې نه توانيږي چې هغه ځمكه وپلوري:

۱. د ولسوالى يا سيمې اوسېدونكي د وېرې او يا هم مهربانى له مخې د ځمكې له اخيستو ډډه كوي.
۲. حقدار ګاونډى دومره پيسې نه لري چې ځمكه دې واخيستلاى شي يا هغه هم غواړي له پور اخيستونكي سره مرسته وكړي.
۳. قضايي چارواكي به د پور اخيستونكي له هوكړې پرته ځمكه بانك ته نه لېږدوي. كه چېرې هغه بانك ته ولېږدول هم شي، بانك به د هغې د ادارې توان ونه لري. د يوه ادارې ټيم جوړول ډېر لګښت غواړي.
۴. د پورونو راټولول يوه بله برخه ده چې بانك ورباندې كوم واك نه لري او دا مهال دغه مسووليت حكومتي ادارو ته وركړل شوى دى. دغه ستونزى يوزيات شمېر نورې ستونزې هم راپيدا كړې دي.

**د. د پور اخيستونكي ستونزې**

د كوپراتيفونو يا مرستندويه شركتونو، د ځمكو د قبالو او نورو ضمانتونو د نه شتون له لامله يو زيات شمېر بزګران له كرنيزو پورونو بې برخې كيږي. آن لا هغه بزګر چې د ځمكو قباله لري د پورونو اخيستو پر مهال له هغو سختو ستونزو سره مخامخ شوي دي چې د پور د وركړى د رسمى ژمنى (پروميزورى نوټ- Promissory Note ) او روحي پلوه راپورته كيږي.

*سرچینه: ماکسویل جې. فرای، د افغانستان اقتصاد ۱۹۷۴-۴۰-۱۳۹*

**د کرنې پراختیایي بانک د منځ مهاله پورونو د ضمانت ستونزې**

منځ مهاله پورونه په عمومي توګه ددې لپاره بزګرانو ته ورکول کیږي چې هغوی یې پر مټ د بیړنې اړتیا وړ توکي لکه پرمختللي تخمونه، سره او د حشرو ضد کیمیاوي توکي اخلي او د هغوی بازار موندنه سره کوي. ددې ډول پورونو لپاره نه لیږدېدونکې شتمنې د تضمین په توګه اخیستل کیږي. په دې برخه کې د کرنې پراختیایي بانک له لاندې ستونزو سره مخامخ کیږي:

۱. په انفرادي توګه د هر بزګر لپاره چې بنایي شمیر یې د یو میلیون څخه زیات وي، د کریډت چمتو کول او توزیع کول یوه غټه ستونزه ده.
۲. بزګرانو ته د کرنیزو او حیواني تولیداتو پر وړاندې د پورونو ورکول هم له ستونزو خالي نه دي. ددې دواړو لامل دادی چې د کوپراتیفونو سیستم معمول نه دی او همدارنګه د مارکېټینګ سیستم هم پرته له څو شیانو لکه بوره، چغندر او پنبه د نورو هغو لپاره نه دی غوړېدلی. ددې ترڅنګ د کرنیزو تولیداتو خرڅلاو هم کنټرول شوی نه دی او د پورونو راټولول ستونزمن دي.
۳. د تضمین په بدل کې د لنډمهالو پورونو اخیستو په موخه د پرومیزوري نوټ برابرول او همدارنګه په سوداګریزو محکمو کې د دغو پورونو اړوندو قراردادونو ثبتول یو شمېر ستونزې را پیدا کوي، چې دغه ستونزې د ورځې تر بلې ډېرېدونکو پورونو وېشل ناشوني کوي. په ځانګړې توګه بنایي له نیم میلیون ډېر بزګر په راتلونکي موسم کې بنورې ته اړتیا ولري. که څه هم د بزګرانو د اړتیا د پوره کولو لپاره د بنورې جوړونې افغان کمپنی رامنځته شوې دي، خو په ټول هیواد کې د زېرمتونونو د نشتوالي له لامله نه شي کېدای ټولو بزګرانو ته بنوره ووېشل شي.

**۲.۳ ضمانتونه**

دا مهال د ضمانت یواځینی کارېدونکې بڼه د ځمکې ګروي ده. په ضمانت کې د ځمکې ورکړه په محکمه کې د یوه حقوقي عمل له لارې ترسره کیږي . د ځمکې د ګروي لیک یوازې د ځمکې خاوند ته ورکول کیږي. بانک همدارنګه د هغه چا د ځمکې ګروي هم قبلوي چې پور اخیستونکی نه وي. د ځمکې د ګروي پروسیجر یا بهیر چې باید محکمې منلی وي ډېر وخت نیسي او ستونزمن دی. د ضمانتي توکو وروستي اسناد د محکمې له لورې د قبالې پر بنسټ ورکول کیږي چې د ځمکې د ملکیت اصلي حالت نه ښیي. د کرنې پراختیایي بانک هم نه شي ډاډمنېدای چې د ځمکې د ګروي دغه تضمین معتبر وبولي او پر بنسټ یې د پوروړي پرخلاف دعوا سوره کړي.

د کرنې د پراختیا بانک په دې نظر دی چې د کروندګرو د هڅونې او د پورونو په برخه کې د فعالیت د پراخولو په موخه باید چې د حقوقي اسنادو او پروسیجرونو د ساده کولو لپاره ګامونه پورته شي. که چیرې بزګر د بانک پور نه ورکوي، د خپلو پیسو د لاسته راوړنې یواځینی لاره چې بانک یې لري هغه د ګرو شوې ځمکې پلورل دي. د ضمانت د اوسني سیستم تر سیوري لاندې د ځمکې پلورل نه یوازې داچې قانوني ستونزې لري، بلکه د پلور په عملي ډګر کې هم له ګڼو ستونزو سره مخامخ کیږي. له دې لامله چې ضمانت د ځمکې د خاوند د ګاونډي پر امضا ولاړ دی او هغه باید ووایي د کومې ستونزې د راپیدا کېدو پر مهال به ځمکه اخلي، کله داسې هم کیږي چې همدغه ګاونډی له خپلې ژمنې اوړي. هغوی ادعا کوي چې پیسې نه لري یا هم غواړي د ځمکې له خاوند سره بنه اړیکې وساتي له همدې لامله یې د ځمکې اخیستو ته زړه نه ښه کوي. داسې هم کیږي چې لاسلیک کوونکی ګاونډی مړ کیږي، د هغه وارثان نه غواړي د خپل مشر لخوا منل شوې شرایط پوره کړي او یا هم غاړه ورته کیږدي. که چیرې د ځمکې د خرڅلاو خبره شي، له بل ځایه راغلي یوه چاته ډېره ستونزمنه ده چې هغه واخلي، ځکه چې کېدای شي په راتلونکي کې هغه له خپلو ګاونډیانو سره په ستونزو اخته شي. د کرنې پراختیایي بانک لخوا په اوسني سیستم د ځمکو رانیول به پر اوسنیو ستونزو یوزیات شمېر نورې ستونزې هم ور ډېرې کړي.

په ټوله کی بزګران له ځمکو پرته نور کوم څه نه لري، لکه په کمپنیو کې ونډې، حکومتي ضمانتونه، په حکومتي ساتنځایونو کې د قیمتي توکو د ساتنې سندونه، د نورو بانکونو ضمانتونه یا نوره منقوله شتمني، چې ډېر ارزښت ولري او د کرنې پراختیا بانک د ضمانت په درد ولګېږي. د ځمکې د ضمانت د لاسته راوړو په قانوني لاره کې په را پورته کېدونکو ستونزو سربېره، د ځمکو د هغو خاوندانو دقیقه شمېره چې دغه ضمانتونه لاسته راوړي ډېره محدوده ده، ددې لامل دادی چې د ځمکې ډېر لږ شمېر خاوندان په خپل نامه د ځمکو دقیقه ثبتونه لري له همدې لامله یوازې دوی کولای شي د ځمکې قبالې جوړې کړي. په ډېرو پېښو کې داسې هم شوي چې ځمکه د کورنی پر څو غړو پورې تړاو ولري، هغه چې یاده ځمکه ورته له پلار، نیکه یا داسې بل کوم چا نه په میراث پاتې وي. په داسې پېښو کې د ګروي لپاره باید د کورنی د ټولو غړو موافقه واخیستل شي. لکه څرنګه چې تجربې ښودلې دا هم یو ډېر ستونزمن کار دی.

### ۳.۳ د پورونو راټولونه

#### ۳.۳۱ لنډمهالي پورونه

د هغو لنډمهالو کرېډتونو یا پورونو راټولول چې د پنځې کمپنیو PACCA ( په افغانستان کې د کرنیزو کوپراتیفونو او کریدتونو پروژه) او د کرنیزو سوداګریو تشبثاتو ته ورکړل شوي د ۹۰ او ۱۰۰ په سلو کې په کچه راضي کوونکي دي. خو په عین حال کې د کرنیزې ښورې د اخیستو لپاره د ورکړل شویو کرېډتونو راټولول راضي کوونکي نه دي. د ۱۳۵۰ کال د لګښت لپاره چې د ۱۳۵۱ کال د میزان له اولې د همدې کال د حوت در ۲۹مې نېټې پورې وخت پر بنسټ حساب شوی په ټول هیواد کې د بېرته راټولونې منځنی کچه ۶۳ په سلو کې وه، چې په هغو کې ۲۸ په سلو کې له کابل او ۱۰۰ په سلو کې له بامیان د راټولېدو اختلاف موجود و. ددغې کمزورې پایلې لامل دا حقیقت دی چې د پورونو د راټولولو لپاره کافي هڅې نه دي شوي او ددې اړتیا ده چې شاهي حکومت پر خلکو لا نور فشار واچوي.

#### ۳.۳۲ منځ مهالي پورونه

د کرنې پراختیایي بانک لخوا د فردي پورونو راټولولو کچه هم راضي کوونکې نه ده. د بېلګې په توګه د ۱۳۵۱ کال په لومړیو لسو میاشتو کې د منځنی کچې پورونو د بېرته ترلاسه کولو کچه په ټاکل شوي موده کې۷۶ په سلو کې ته راولوېده. هغه پورونه چې په خپل وخت نه و راټول شوي د وخت تېرو پورونو په ډله کې حساب شول چې د راټولولو کچه یې له دې هم ټیټه وه. د ضمانت له پورته یاد شوي سیستم سره د کرنې د پراختیا بانک د ستونزو پایله داشوه چې بزګرانو ته کره پته ولګېده چې د ځمکې پر ګروي د دعوی اقامه د بانک لپاره لږه یا ډېره بې ګټې ده. ددې ترڅنګ دا په پراخه کچه مالومه شوه چې حکومت د ښورې د کرېډتونو په بېرته راټولولو کې جدي ګام نه پورته کوي. دې کار طبیعتا د کرنې د پراختیا بانک پر راټولونو اغېزې لرلې.

**د بحث پوښتنې**

- ❖ د افغانستان د کرنې پراختیایي بانک له کوم ډول ستونزو سره مخامخ و؟
- ❖ د کرېدت یا اعتبار د وېش چارې ولې ستونزمنې وې؟ د قانوني سیستم کومو ځانګړنو په دې ستونزو کې ونډه لرله؟
- ❖ د پورونو د قراردادونو څخه د راولاړشویو لانجو هواری ولې ستونزمن و؟ دغې ستونزې څنګه د افغانستان له سوداګریزو قوانینو سره تړاو درلود؟

- ❖ د کرنې پراختيا بانک د پورونو په راټولولو او ضمانتونو څخه د خپل پور د ترلاسه کولو په لاره کې له کوم ډول ستونزو سره مخامخ و؟ ايا د افغانستان تجارتي قوانينو کولی شو چی دغه ستونزی هواری کړي؟ که چيرته کولی يی شو نو څرنګه؟ او که نه يی شو کولی نو ولی؟
- ❖ د کرنې پراختيا بانک د منځ مهالو پورنو په برخه کی د کوم ډول ستونزو سره مخامخ و؟
- ❖ د ضمانت او پور د راټولولو په لاره کې ستونزه څه وه؟
- ❖ د کرنې پراختيايي بانک له تجربونه د اوسني افغانستان په بانکي سيستم کې څه ډول کار اخيستل کېدای شي؟ آيا سوداګريز قوانين په ځايي عرفونو او يا هم د پور ورکولو په دوديز ډول کی کوم بدلون راوستلی شي؟

رهني او ساختماني بانک هم له هغو چلنجونو سره لاس او ګرېوان و چې د کرنې پراختيايي بانک ورسره مخ و. دغه بانک د پورونو د راټولولو لپاره بېلابېلې هڅې وکړې، خو د کورنيو چارو وزارت ډېره لږه مرسته ورسره وکړه. وزارت هغه کسان چې پورونه يې نه و ورکړي احضار کړل، خو د پور په بدل کی د هغوي د شتمنيو د پلورلو په برخه کی هغسي چی لازمه وه ، همکاری ونکړه. ددې پايله دا شوه چې پوروړو خپل پورونه بيرته ورنکړل. په ۱۹۶۹ کال کې د بانک عالي شورا ټولو هغو کسانو ته چې پورونه يې نه و ورکړي وليکل او ترې وې غوښتل چې په يوه مياشت کې خپل پورونه ادا کړي او د نه ورکړی په صورت کی ورته ګوابنه شوې وه چې شتمنی به يې ضبط او وپلورل شي. شورا همدارنګه يو وکيل هم ونيوه چې دغسې دعوې اقامه کړي، خو له دې هاخوا نور ګامونه وانخيستل شول او ستونزه هماغسې پخپل ځای پاتی شوه.

ونهه والو ته د رهني او ساختماني بانک د ۱۹۷۱ کال په کلني رپوټ کې د پوروړو لخوا د پيسو د بېرته نه ورکولو جدي ستونزه په ټکو کې ياده شوې وه. پر پورونو د ځو ځلي سود پيسې داسې ځای ته رسېدلې وې چې د پور کچه د ګرو شويو ځمکو له بيې اوښتله. کله به چې د ځمکو د خرڅولو هڅه وشوه، نو ثالثو اشخاصو به هم پکی د حق ادعا کوله او په دې توګه يی د پلور مخه نيول کېدله. په ۱۹۷۰ کال کې دغه ستونزه هغه وخت لاپسی پيچلی شوه چی کله په ۱۹۷۰ کی کابينی د بانکونو له خوا د ګرو شويو ځمکو د قبالو په ساتلو ممانعت رامنځته کړو. بانک ګرو شوې شتمنی بيمه کړی نه وی ، نو کله چې نه بيمه شوی ګروي شوې شتمني له منځه ولاړې، پور اخيستونکو دسې فکر وکړ چې د پيسو د بېرته ورکولو لپاره لکه چې ددوی مکلفيت هم له منځه تللی وي.

د ۱۹۷۲ کال رپوټ هم د پورونو د بېرته راټولولو پر ستونزو تمرکز درلود. د پارلمان د عامه چارو او مخابراتو کمېټې د بانک ستونزې جدي ونيولې او امرېې وکړ چې ژر تر ژره دې د ګرو شويو شتمنيو پلورلو ته زور ورکړل شي. د بانک دوه استازي د کورنيو چارو وزارت د راټولنې له څانګې سره د کار لپاره وټاکل شول. د کابينی ۹۶۲ مصوبې له مخې چی د پاچا له خوا د جون په مياشت کی منظور شوه، وزارت ته د بانک د نه وصول شويو پورونو د راټولو لاربښونه شوی وه. په دې سره هم د حکم د عملي کېدو لپاره کومې هڅې ونشوې. پارلمان يوځل بيا بانک ته لاربښوونه وکړه چې دغه شتمني وپلوري، دا هغه څه و چې بانک يې د ترسره کولو لپاره د ماليې وزارت د همکاری غوښتنه وکړه. په حکومت کې هيچا هم کله د پورونو د راټولولو مسووليت پر غاړه وانخيست. سوداګريزو بانکونو هم د بېرته نه ورکړل شويو پورونو پراخ حسابونه درلودل. يوزيات شمېر بانکونو خپلې سرچينې له لاسه ورکړې وې او د ۱۹۷۰ مو کلونو په لومړيو کې په ډېر سخت اقتصادي حالت کې ول. يوازنی استثنا ملي بانک و، چې د پور ورکولو ډېره محتاطه لار يې کاروله او تر ډېره يې د خپلو څانګړو کمپنيو مالي ملاتړ کاوه.

**په ۱۹۷۰ مو کلونو کې د افغان بانکوالو له خوا غوښتل شوي حقوقي اصلاحات**

۱. د بانکي پورونو لپاره د رهني قرادادونو قانون
۲. د ټولو بانکي پورونو د قانوني ثبتونې دفتر

۳. د بانکي پورونو د بېرته ورکولو د اجرا ځانګړې محکمه
۴. د مشروطې شتمنۍ د ګروي قانوني حکمونه
۵. د کرنیزو محصولات باندی د ګروی د حق په اړه قانوني احکام
۶. لیټر اف کریډېټ یا اعتبارلیک په وړاندې د پورونو په اړه قانوني احکام
۷. د ملکیتونو یوه بشپړه سروې
۸. د ټولو مالي اسنادو په اړه قانوني احکام
۹. په ګروی یا مرهونه باندی مطلق حق او په اتومات توګه د هغې د لیږد په اړه د مفصلو مقرراتو وضع کول
۱۰. د پور د نه ورکړې په صورت کې د شتمنۍ د مالیکت د اخیستو مفصل احکام
۱۱. د غیرمنقولو شتمنیو د ګروي قانوني احکام
۱۲. د ګمرکونو د چارواکو لپاره د مسوولیتونو د ځانګړي کول، چې واردات یوازې د ټولو اړینو اسنادو او یوې دورې په پام کې نیولو سره د بانکي ضمانت په مقابل کې وبښي چې وروسته بیا دغه توکي د بانک د مالکیت یوه برخه شي.
۱۳. دا تشخیصول چې د توکو د وارداتو پورونه باید په څه ډول تضمین شي
۱۴. د صادراتو د پورونو د بېرته ورکولو په اړه مفصل اصول
۱۵. د مالي دیوالي کېدو په اړه د پورونو د بېرته ورکړې مفصل اصول
۱۶. د پورونو د نه ورکړې د هر ډول پېښې په وړاندې د محکمې داړ کېدو مفصل اصول چې د پوروړي شتمني ضبط کړي.

سرچینه: ماکسوېل جې فرای، د افغانستان اقتصاد

په ۱۹۶۰ مو او ۱۹۷۰ مو کلونو کې د افغانستان غیر بانکي مالي اداري د شمېر او اهمیت له لامله د ګوتو په شمار پاتې شوې. د بیمې د نه معمول کېدو ستونزه په جدي توګه پرځای پاتې وه، آن که به افغانستان له نورو هغو هیوادونو سره پرتله شو چې د پرمختګ په ورته پړاو کې به و او یا به یې هم کرنیز اقتصاد درلود توپیر به ډېر زیات و. د افغانستان د بیمې کمپنۍ ددغه هیواد په کوکاکولا کمپنۍ او دکابل په انټرکانټیننټل کې ډېره لږه ونډه درلوده. له موټرو نیولې تر کورونو پورې ټولې شتمنۍ بې بیمې وې. په پایله کې هېڅ یوه چا چې بیمه یې ورکوله په افغانستان کې کار او ژوند نه و کړی. د تقاعدۍ صندوق د خپل کلني عاید ۴۳ په سلو کې ته ورسېد. دغه صندوق ته هر رسمي کارکوونکي د خپل معاش ۳ په سلو کې برخه ورکوله. د صندوق پاتې ۵۷ په سلو کې د حکومت له یوه کلني تخصیص نه پوره کېده. د بغلان او کوهدامن کوپراتیفونه کوچنی او ازمايښتي پروژې وې چې له ۱۰۰۰ ډېر بزګران یې رانغاړل. دې شرکتونو د سره ټړلو او همغږو عملیاتو بڼه خپله کړې وه چې بزګرو ته یې مالي پورونه، تخنیکي مرستې او د مارکېټنګ په اړه سلامشورې ورکولې.

## د بهرنی سوداګرۍ تمویل یا ملاتړ

له جوړېدو را پدېخوا د ملي بانک، د افغانستان بانک او د پښتني بانک تر ټولو ستره دنده د صادراتو مالي ملاتړ و. د امنیت او د محاکمو د کارنده پروسیجر نه شتون ددغو پورونو چارې له ستونزو سره مخامخ کړې وې. معلامله کوونکو هیوادونو ته د صادراتو پر وړاندې د صادراتو پورونه یوه استثنا وه، ځکه لاسته راغلې پیسې باید د افغانستان بانک لخوا تېرې شوې وای. د وارداتو ملاتړ د صادراتو په پرتله ډېر عادي و، په دې توګه چې بانکونو به د باور لیټرز اف کریډېټ یا اعتبارلیکونو پر وړاندې د وارداتو پورونه ورکول. د یادونې وړ ده چې دغه اعتبار لیکونه به هم د پور ورکوونکو بانکونو لخوا وېشل شوي وو. تر هغه وخته هم د بهرنیو اسعارو تبادلې په بانکونو کې نسبت د پیسو بازارونو ته ډېر لګښت درلود. د پیسو له بازاره د وارداتو د پورونو اخیستلو د حوالې، هندي سنات یا بنات بڼه خپلوله.

په کابل کې یو شمېر سوداګریز نمایندګیانی وی چې د خپلو هیوادونو د تولیدکونکو په استازیتوب یې کار کاوه. د یوې نمایندګی ښه مالی وضعیت هغې ته ددې وخت ورکاوه چې د پلورونکي سوداګریز توکي په ٪۲۵ مخکې ورکړې سره لاسته راوړي او ژمنه یې کوله چې وروسته د توکو په لاسته راوړلو سره به حساب ورسره کوي او یا به هم له لومړي هیواده د توکو له لېږد درې میاشتې وروسته له هغه سره حساب کتاب کوي. د افغانستان د نړیوالې سوداګرۍ اداري له سویس بانکه یو تضمین ترلاسه کړ چې پرېنسټ یې د یاد بانک په اصولو د برابرو وارداتو توان ومونډ. کمېشن کارو سوداګریزو شرکتونو سوداګر ته د واردو شویو توکو له رسېدو وړاند د ټولو پیسو پر ورکولو ټینګار کاوه. دا هم منل شوې وه چې سوداګریز شرکتونه به د حکومتي سکتور لپاره پرته له دې چې ټولې پیسې له وړاندې ورکړل شي کمېشن کاري نه کوي.

*سرچینه: ماکسویل جې. فرای، د افغانستان اقتصاد*

**د بحث پوښتنې**

- ❖ بانکي چارواکو د کومو قانوني اصلاحاتو غوښتنه کوله؟ ولې یې دغه اصلاحات غوشتل؟ کوم شی ډېر مهم و؟ ولې؟
- ❖ آیا د کرنې پراختیا بانک ریوټ او د رهني او ساختماني بانک مالوماتو د یادود قانوني اصلاحاتو د اړتیا ملاتړ کاوه؟ که داسې و، څو مشخص مثالونه ورکولای شئ؟ که داسې نه وه، نو ولې؟

## و. انقلاب او کورنی کړکیچ (۲۰۰۱-۱۹۷۳)

له ۱۹۷۳کاله تر ۲۰۰۱ پورې پېر د افغان قضایي سیستم د زوال او دریو لسیزو کړکیچ پېر بلل کېږي. پدغه پېر کی یواځینی ستر تجارتي پرمختګ د ۱۹۷۷ کال مدني قانون جوړیدل و. (لاندې خبرې ورباندې شوې دي). له همدې لامله په دې برخه کې دومره اوږد بحث نه کوو لکه په نورو برخو کې چې وشو.

په ۱۹۷۳ کال کې داود خان د مارکسیستو یا کمونیستو ډلو په ملاتړ په افغانستان کې د شاه پر ضد کودتاه وکړه. هغه شاهي نظام له منځه یووړ او خپل ځان یې لومړی وزیر ونوماوه. نوموړي د یوه فرمان له مخې تر هغې چې په ۱۹۷۷ کال کې نوی اساسي قانون جوړېده، د هیواد ټولې حکومتي چارې په خپل لاس کې واخیستې. د ۱۹۷۷ کال اساسي قانون له پخوانیو هغو توپیر درلود. په دې قانون کې په صراحت د ښځو د حقونو څخه ملاتړ شوی و او د اسلامي قانون په رول یکې دومره ټینګار شوی نه و. اساسي قانون د سوسیالیستی اقتصاد پر اصولو ټینګار کړی و. د قانون ۱۷مې او ۱۸ مې مادې حکومت هڅولی و چې اقتصادي چارې منظمې کړي او ۱۳ مې مادې بیا د هیواد د ټولو طبیعي سرچینو د ملي کېدو خبره کړې وه. په دې پېر کې د داود خان بل ستر ګام د ځمکو بیا وېش و، چې په دې سره یې غوښتل د شخصي ملکیت لمن کلیوالو سیمو ته هم وغځوي. هغه ستره محکمه له منځه یوړه خو د ښکتو محاکمو اډانه یې پرځای وساتله، چې په هغو کې د ۱۹۶۸ کال د قانون په سیوري کې سوداګریزې محکمې هم راتللې. د ۱۹۷۷ کال اساسي قانون ستره محکمه بېرته را ژوندۍ کړه خو د قضا خپلواکي یې له منځه یوړه.

**د ۱۹۷۴ کال د ګمرکونو قانون**

د ۱۹۷۴ کال د ګمرکونو قانون په وارداتو باندی مالیی ، فیسونه او د نړیوالې سوداګرۍ او معاملو د ټکسونو چارې مشخصې کړې. قانون د تعرفې ۲۵ ډولونه معرفي کړل چې د تعرفې په ټولو ۸۸۸ کټګوریو کې یې کچه له ٪۷ نه تر ٪۱۵۰ پورې رسېدله. چارې د واردو شویو توکو پر افغان ارزښت (افغانی) حسابېدې چې بنسټ یې د تبادلې د ټیټ نرخ یوه مصنوعي کچه وه. قانون همدارنګه پر صادراتو یو شمېر فیسونه یا لګښتونه هم

رانغاړل چې په هغو کې د سوداګرۍ خونې لخوا راټول شوی د واردو شویو توکو ۲،۵٪ کې مالیه هم شامله وه. د ګمرکونو ادارو نه بلکې د سوداګرۍ خونې د ګمرکي ارزښت ټاکنه کوله. د ۱۹۷۴ کال قانون د ۲۰۰۵ کال د ګمرکونو د قانون په رامنځته کېدو سره له منځه ولاړ.

*سرچینه: ماکسویل جې. فرای، د افغانستان اقتصاد*

وړاندې تر دې چې ستره محکمه بېرته جوړه شي، داودخان د کمونیستي ځواکونو په مشرۍ یوې کودتا له لارې را وپرځول شو. د افغانستان د خلکو دیموکراتیک جمهوریت انقلابي شورا چې مشري یې نورمحمد تره کي کوله د افغانستان د نوي حکومت بنه خپله کړه. حکومت د انقلابي شورا لخوا د خپرو شویو فرمانونو او اصولو بر بنسټ چلېده. دغې شورا د ۱۹۷۷ کال له اساسي قانون د پرته نور ټول پخواني قوانین او اصول لغو کړل. اساسي قانون یواځې تر هغه پورې د اعتبار وړ و ترڅو چې یې د ډیموکراتیک جمهوریت د اهدافو سره سمون درلود. له دې وروسته ډېر ژر حکومت د موجوده قوانینو په تعدیلولو پیل وکړ. د سترې محکمې واکونه د عدلیې د وزیر په رهبرۍ د قضا عالي شوراته ولېږدول شول. په ۱۹۷۷ کال کې یو مدني قانون جوړ شو چې اوس هم عملي کېږي او د قراردادونو په ګډون یې ډېرې سوداګریزې چارې رانغاړلې. ددې قانون یوه ستونزه داده چې یوزیات شمېر عربي قانوني اصطلاحات لري چې په پښتو او دري ژبو کې خلک نه دي ورسره بلد او د قانون په متن کې هم نه دي تعریف شوي. همدالامل دی چې د دې قانون تفسیرول یو ستونزمن کار دی.
د ۱۹۷۹ کال په ډسمبر کې شوروي اتحاد پر افغانستان یرغل وکړ. شوروي ځواکونو ولسمشر حفیظ الله امین وواژه او د هغه پر ځای یې ببرک کارمل د افغانستان د نوي ولسمشر په توګه وګوماره. په ۱۹۸۰ کال کې انقلابي شورا د افغانستان د ډیموکراتیک جمهوریت د بنسټیزو اصولو په نامه یو موقت اساسي قانون اعلان کړ.

قانون جوړونی په برخه کی د شوروي ادارو او قانون جوړونی ماډل پیروي وشوه. د سیمه ییزو اقتصادي، سیاسي او ټولنیزو چارو مسوولیت سیمه ییزو جرګو ته ورکړل شوی و، خو دغو جرګو نشوای کولای د مرکزي حکومت له اجازې او تصویب پرته کار وکړي. له کارمل وروسته ډاکټر نجیب الله په دې موخه وګومارل شو چې د کمونیست رژیم پر وړاندې را غوړېدونکی بغاوت غلی کړي. د ۱۹۸۷ کال په جنوري کې د لویې جرګې لخوا یو نوی اساسي قانون ومنل شو. قانون قضا ته لاربښوونه کړې وه چې له قانون سره سم تصمیمونه ونیسي، خو داېې نه و مشخص کړې چې دغه قانون به حکومتي وي او که شرعي قانون.

**د بحث پوښتنې**

❖ د ۱۹۷۳ او ۱۹۷۹ مو کلونو ترمنځ د افغانستان د تجارتي قانون سیستم څنګه بدل شو؟ آیا دغه بدلونونه مثبت و که منفي؟ ولې؟

❖ د افغانستان پر قانوني سیستم د شوروي یرغل اغېزې څه وې؟

**په افغانستان کې د دولتي تشبثاتو (SOEs) تاریخ**

په افغان اقتصاد کې د دولت فعال ګډون هغو لومړنیو هڅو ته ورګرځي چې د هیواد د نوي یا مدرنیزه کولو په موخه د نادرشاه (۱۹۳۳–۱۹۲۹) تر واکمنۍ لاندې پیل شوې وې. ددې لاسوهنې عادي ډول داو چې شاه به د پام وړ سوداګرته د یوه تشبث انحصار ورکاوه چې هغه مهال د شرکت په نامه یادېده. ددې اصل لاندې به یاد شوي شرکت د خپلې ونډې یوه کوچنۍ برخه حکومت ته ورکوله. د ملي بانک له لومړنیو پانګونو څخه یوه هم په کندز کې د پنبې پاکولو شرکت و. دا د ډېرو ګوتو په شمار دولتي تشبثاتو له ډلې یو و چې په دې وروستیو کې خصوصي سکتور ته سپارل شوی دی. په افغانستان کې د اقتصادي ودې واقعا پلان شوې او رهبري شوې حکومتي هڅه د داودخان د لومړي وزارت (۱۹۶۳–۱۹۵۳) له پېرنه پیلیږي. په دې پېر کې یو شمېر کاملا دولتي شرکتونه د بهرنیو پورونو او تخنیکي مرستو پر مټ جوړ شول چې په هغو کې د اجناسو، سمنټو،

بورې او غنمو اړوند توکو د تولید چارې پرمخ بېول کېدې. په دې پیر کې په کابل او پلخمري کې د شوروي په مرسته یو شمېر سېلوګانې هم جوړې شوې.

د ۱۹۶۰ مو کلونو په منځ کې ددولتي سکتور اړوند صنایع له زیان سره مخامخ شول او په ۱۹۶۷ کال کې د بهرنی او کورنی خصوصي پانګونې یو قانون رامنځته شو چې موخه یې په هیواد کې د خصوصي پانګونې او خصوصي تشبثاتو هڅونه وه. داود خان په ۱۹۷۳ کال کې بېرته واک خپل کړ، خو داځل د لومړي وزیر نه بلکې د ولسمشر په توګه او د افغانستان اقتصاد یې بیرته د دولتي اقتصاد پر لوري روان کړ. ټول بانکونه چې په هغو کې ملي بانک هم شامل و په ۱۹۷۵ کال کې ملي کړای شول. ددې پایله داشوه چې ټول هغه تشبثات چې ډېره ونډه په کې د ملي بانک وه د دولتي سکتور برخې وګرځېدې. په ۱۹۷۸ کال کې د خلکو دیموکراتیک جمهوریت له واک ته رسېدو او په ۱۹۷۹ کال کې له شوروي یرغل وروسته د شوروي د پورونو او تخنیکي مرستو پر مټ د دولتي اقتصاد پراختیا د تمرکز ټکی وګرځېد.

په ۱۹۸۲ کال کې د شورویانو په مرسته یوزیات شمېر ملي اقتصادي پروژې پیل شوې وې، چې په هغو کې د طبعي زېرمو پلټل او را ایستل، په خواجه ګوګردک کې د ګازو د لیږد یوه فابریکه (چې دا مهال د افغانستان د ګازو د تصدی لخوا چې چلیږي خو فعالیتونه یې له ستونزو سره مخامخ دي) او د کاماز لاریو د خدماتو یو شرکت په کار پیل کړی و. په ۱۹۸۶ کال کې د کابل حکومت ادعا وکړه چې د افغان شوروي د همکاره پروژو کچه ۷۵٪ حکومتي سکتور او ۶۰ په سلو کې د هیواد د انرژۍ تولیدات را نغاړي. له ۹۰،۰۰۰ ډېر متخصصین او ماهر کار کوونکي ددې پروژو په لړ یا په شوروي کې وروزل شول. د نجیب الله تر رژیمه پورې ډېر ټینګار پر دولتي سکتور و، چې له ۱۹۸۶ کال وروسته نوموړي د خصوصي سکتور د هڅونې په موخه په اقتصاد کې د ازاد بازارځیني اصولو ته ځای ورکړو . په ۱۹۸۷ کال کې نجیب الله پر ټولو خصوصي، دولتي او ګډو سکتورونو غږ وکړ چې په ګډه د هیواد په اقتصادي وده کې ونډه واخلي او تمه یې وښوده چې دولتي سکتور به نور پر اقتصاد انحصار نه لري. په ۱۹۹۱ کال کې هغه مهال چې شوروي اتحاد د ړنګېدو په حال کې و او له سخت مالي کړکېچ سره مخاخ و، افغان حکومت د یو شمېر دولتي شرکتونو د خصوصي کېدو او د یوزیات شمېر حکومتي انحصارونو د له منځه تلو پلانونه اعلان کړل. د شوروي پوځي مرستو په پای ته رسېدو او په ۹۲-۱۹۹۱ کې د نجیب د حکومت په ړنګېدو سره دغه پروګرامونه هم له عملي کېدو پاتې شول.

له ۱۹۹۶-۱۹۹۲ کاله د مجاهدینو د حکومت په دوران کې له دې لامله چې مرکزي حکومتي اداره په کې له منځه ولاړ او پلازمېنه ورانه او له پامه وغورځول شوه، د یوزیات شمېر دولتي شرکتونو فعالیتونه ودرېدل یا هم د پام وړ کمښت په کې راغی. له ۲۰۰۱-۱۹۹۶ کال پورې د طالبانو په پېر کې سوداګریز فعالیتونه او صنعت ډېره لږ ورغول شو. په دې دوره کې بانکي فعالیتونه نه او تشبثات لاهم ناکاره او د لږې وړتیا وړ پاتې شول. د مجاهدینو او طالبانو دورو د پوره حکومتي او ګډ اقتصاد لږۍ کې د پام وړ پیچلتیا راوسته. په دې دورو کې د یوزیات شمېر کاروبارونو چارې د هغو کسانو لخوا پرمخ بېول کېدې چې خپله یې ځانونه د هغو برخو مشران ټاکلي و. د بېلګې په توګه په کابل کې د هویچست درملو فابریکه چې د دواړو حکومتي او خصوصي سکتورونو لخوا پرمخ بېول کېده او په داسې حال کې یې د مجاهدینو او طالبانو پر مهال هم په نوبتي توګه تولیدات درلودل چې د هغې اصلي جرمني پانګوالو (چې دغه فابریکه یې په ۱۹۶۸ کال کې پرانیسته) خپل ټول استازیتوبونه په ۱۹۹۱ کال کې له افغانستانه ایستلي وو. په دې توګه په ۲۰۰۲ کال کې دغې فابریکې چې اوس په قسمي توګه خصوصي شوې د مدیره هیت درلوده. دغه هیت فابریکه پرمخ بېوله او ګټې یې په فابریکې پورې تړلې وې؛ خو دغه هیت کوم مشروعیت نه درلود ځکه چې دوي د شرکت د قانوني مالکانو له خوا ټاکل شوي نه و.چلوونکي د هغې د اصلي خاوندانو لخوا نه و ټاکل شوي. د دولتي سکتورونو مالکیت د مجاهدینو او طالبانو په دورو کې لاډېر پېچلی و، په داسې توګه چې د حکومتي تشبثاتو یوه بې شمېره کچه ځمکه د شخړو د غیررسمي حل او نورو موخو لپاره کارېدله.

د افغانستان د دولتي او ګډو تشبثاتو پېچلی تاریخ ددې شننه ستونزمنوي چې څوک د څه شي خاوند دی او څوک باید د شرکت د له منځه تلو یا زیانمنېدو په صورت کې تاوان ورکړي. دې کار د خصوصي کېدو پر وړاندې سترې ستونزې جوړې کړې دي. یو زیات شمېر تشبثات د خپل عمر په لړ کې د مالکیت، مدیریت او دولت سره د اړیکو له نظره بېلابېل کسان او ستونزې لیدلي، چې دې حالت په خپل وار سره د یوزیات شمېر دعو لپاره لار اواره کړې او ددې تشبثاتو د پلورلو پرمهال یو زیات شمېر کسانو د تاوان د ورکړې غوښتنه کړې ده. په یوزیات شمېر پیښو کې د مالکیت د قانوني اسنادو نه شتون او د شرکت د فعالیت د دوران د فعالیتونو د ریوټ نشتوالي په دې اړه ستونزې لا ډېرې کړې دي. سربېره پردې

په افغانستان کې د ونډې د مالکیت د ثبت حکومتي اسانتیا نشته چې دې کار دا لا ستونزمنه کړې چې په یوه شرکت کې څوک څه شی لري. دا هم نه ده مالومه چې د خصوصي کېدو په لړ کې د مالکیت د شخړو د حل لپاره کوم ټاکلي اصول شته او که نه؟

*سرچینه: انا پیټرسن، جېمز بلېوېت او آصف کریمي، آیا آسه وړاندې ارابه راونیول شي؟ په افغانستان کې خصوصي کول او اقتصادي اصلاحات*

**د بحث پوښتنې**

- ❖ د لومړي ځل لپاره څه وخت دولتي تشبثات د افغان اقتصاد برخه وګرځېدل؟ د وخت په تېرېدو دوی څنګه وده وکړه؟ د افغانستان بانکونه څه وخت ملي کړای شول؟
- ❖ حکومتي تشبثات ولې په ۱۹۷۰ کلونو کې په شمېر او کچه کې ډېر شول؟
- ❖ په ۱۹۸۹ کال کې کله چې شورویانو افغانستان پرېښود، ډېری حکومتي تشبثاتو ته څه پېښ شول؟
- ❖ تجارتي قانون څنګه پر دولتي تشبثاتو اغېز وکړ؟ آیا باید افغانستان دولتي شرکتونه خصوصي کړي او یایې د دولت په ولکه کې وساتي؟ ولې؟
- ❖ د افغانستان د اوسنیو تجارتي قوانینو په سیوري کې کوم لاملونه د خصوصي کېدو پر وړاندې خنډونه جوړوي؟

شوروي ځواکونه په ۱۹۸۹ کال کې د مجاهدینو د پرلپسې بریدونو له لامله له افغانستانه ووتل، خو نجیب الله تر ۱۹۹۲ کاله پورې په واک کې پاتې شو. هغه په ۱۹۹۰ کال کې د محاکمو د صلاحیتونو او تشکیلاتو په اړه یو نوی قانون جوړ کړ. دغه قانون ډېر لږ اغېز درلود، ځکه چې طالبانو یوازې څو کاله وروسته له هغه بل قانون رامخې ته کړ. په ۱۹۹۲ کال کې افغانستان د مجاهدینو د بېلابېلو ډلو ترمنځ د کورنی جګړې ډګر و. پر همدې کال د مجاهدینو یو لنډمهالی حکومت جوړ شو. دې حکومت که څه هم له کابله بهر پر ډېرو لږو سیمو واک درلود، خان د افغانستان اسلامي دولت اعلان کړ. کله چې د ۱۹۹۲ کال په وروستیو کې برهان الدین رباني واک ته ورسېد، یو داسې نوی اساسي قانون یې جوړ کړ چې کله هم په افغانستان کې نه و پلی شوی. اسلامي شریعت د ټولو شخړو د حل کولو بنسټ وګڼل شو او سیکولر قوانین له کاره ولوېدل.

پر ۱۹۹۴ کال طالبان د مذهبي زده کوونکو(طالبانو) د یوې ډلې لخوا په سویلي افغانستان کې د نا امنیو پر وړاندې راپورته شول. طالبانو چې مشري یې ملامحمد عمر کوله په ډېرې چټکی د افغانستان یوزیات شمېر سیمې تر ولکې لاندې راوستې او د ۱۹۹۶ کال په سپټمبر کې یې پلازمېنه کابل هم ونیو. طالبانو د خپلې واکمنی په لومړیو کې فساد له منځه یووړ او نظم یې رامنځته کړ. افغانستان د یوه مذهبي حکومت ترسیوري لاندې راغی، چې ټول حکمونه یې پر دیني اصولو او د شریعت په یوه سخت دریځه تفسیر ولاړ وو. قانون په نامنظمه او نا برابره توګه عملي کېده. د طالبانو پر مهال په افغانستان کې لیکل شوي قوانین او د منظمو جزایي محکمو په څېر رسمي محاکمه کېدنی ډېر لږ ترسترګو کېدلی.

**پر عایداتو باندی د مالیې په قانون کې د طالبانو تعدیلات**

د ۱۹۶۵ کال پرعایداتو د مالیې قانون پر شخصي غوړېدونکو عوایدو باندې له ۴ تر ۶۰ په سلو کې په مترقی توګه مالیه وضع کوله او د شرکتونو پر عوایدو یې هم ۲۰ په سلو کې مالیه اخیستله. دا به ستونزمنه وي، چې د دې قانون دقیق جزییات او بڼه وړاندې کړو، ځکه چې هغه په تېرو ۴۰ کلونو کې د لږ تر لږه ۱۸ فرمانونو په واسطه تعدیل شوی دی. د مالیې وزارت د دغه قانون د هراړخیز او یوګوني ډول د رامنځته کولو هڅې کړې،

چې ټول اصلاحات په کې ځای شوي وي. سربېره پر دې وزارت او د هغه سیمه ییزو څانګو (مستوفیتونه) د مالیاتي اصولو په هکله بېلابېل نظرونه لرل او د غه قانون یې په یوه ډول نه عملي کاوه. به ۱۹۹۹ کال کې طالبانو د یوه فرمان پر بنسټ د مالیې د دریو کچو په ټاکلو سره د شخصي عاید ټکس اصلاح کړ. دغه درې کچې په لاندې ډول وې: ۱،٪۸٪ ۲۰٪ او یو لړ معافیتونه. دا نه ده مالومه چې آیا دغه قانون پلی شوی هم و که نه؟

د مالیې پر قانون د بېلابېلو عواملو له لامله نیوکې شوې دي. لومړی داچې قانون د نړۍ په هرګوټ کې اوسیدونکي افغان پر شخصي عوایدو عملي کېده. مهاجر افغانان چې غوښتل یې افغانستان ته راستانه شي، په بهر کې د ترلاسه کړو عایدو له ملاماتونکې او سختې مالیې سره مخامخ کېدل. پر شخصي عاید د ٪۶۰ لوړې مالیې وضع کول د نړیوالو ستندردونو سره سمون نه درلود. د مالیې لوړې کچې د مالیه ورکوونکو لخوا د دغه قانون منل ټکني کړي و او په ټکس کې یې درغلی هڅولې وې. د وروستي ټکي په توګه د مالیې د بیو جوړښت ډېر پېچلی او عملي کول یې هم پېچلی کار و، ځکه چې په هغه کې ۳۲ بېلابېل نرخونه ځای پرځای شوي وو.

*سرچینه: ادم بېنېت اېچ آل، د افغانستان بیارغونه*

**د بحث پوښتنې**

- ❖ د ۱۹۶۵ کال د مالیې قانون څه ډول قانون دی؟ په ۱۹۹۰ مو کلونو کې په هغه کې څنګه بدلونونه راغلل؟
- ❖ ولې پر دغه قانون نیوکې کیږي؟ آیا تاسو له دې نیوکو سره موافق یاستئ؟ ولې او ولې نه؟

پر امریکا د ۲۰۰۱ کال د سپټمبر د ۱۱ بریدونو له لامله نړیوالو پوځونو پر افغانستان یرغل وکړ او د طالبانو حکومت یې را وپرځاوه. د افغانستان د قانوني سیستم د بیارغونې د پیلولو په موخه ددې هیواد او نړیوالې ټولنې مشران د ۲۰۰۱ کال په نومبر کې د جرمني په بن ښار کې سره راټول شول. د همدې کال د ډسمبر په ۵ مه نېټه د بن کنفرانس افغانستان ته د یوې لنډمهاله اداري د جوړولو پر پرېکړه پای ته ورسېد. دغه کنفرانس داسې یو بهیر جوړ کړ چې د هغه له لارې به افغانستان کې یو نوی حکومت او نوی اساسي قانون جوړیږي. د دې تړون د یوې برخې په توګه حامد کرزی د افغانستان د لنډمهالې اداري مشر وټاکل شو او وروسته بیا نوموړي په ۲۰۰۴ کال کې رسما د ټاکل شوي ولسمشر په توګه خپل کار پیل کړ. د بن تړون همدارنګه د لویې جرګې د جوړېدو او د نوي اساسي قانون د لیکلو خبره هم وکړه. په ۲۰۰۴ کال کې لویې جرګې اساسي قانون تصویب کړ چې تر دې مهاله عملي کیږي. د افغانستان د اوسنیو سوداګریز قوانینو او قانوني بنسټونو په هکله به په راتلونکي څپرکي کې خبرې وشي.

په ۲۰۰۱ کال کې په افغانستان کې کوم فعاله بانکي سکتور شتون نه درلود. د ۱۹۹۴ کال پر پیسو او بانکوالی د کنټرول قانون تر هغه چې په ۲۰۰۳ کال کې نوي بانکي قوانین رامنځته شول ددې برخې چارې تنظیمولې. په مخکنیو رژیمونو کې که څه هم شپږو سوداګریزو بانکونو د کار جوازونه ترلاسه کړي و، خو تر ۱۹۹۵ کاله یې هیڅ‌اته هم کوم پور نه و ورکړی. د کمونیستانو او شوروي یرغل په لړ کې (۱۹۸۹-۱۹۷۳) د افغانستان بانکي سیستم ملي کړای شو او د کورنیو جګړو پر مهال لا ډېر زیانمن شو. په دغو دورو کې حکومت د بانکونو په اداره، مخامخ پور ورکونه او د سود په بیو کې لاسوهنه کوله. د طالبانو په پېر کې بانکونه د پورونو د ورکړې په مقابل کې د سود له اخیستو او د پېرودونکو د پیسو د ساتلو پر وراندې د سود له ورکولو منع شوي وو. د افغانستان بانک د شوروي د یرغل مهال ډوله منونکی خاصیت خپل کړی و، چې د پور د ورکړې او سود د کچې په ټاکلو کې یې مداخله کېدله. دې بانک د یوه عنعنوي مرکزي بانک په توګه خپل فعالیتونه بند کړي و. حکومت په سختۍ سره کولای شوای د ملکي مامورینو معاشونه ورکړي، په بنسټیزو پروژو پانګونه وکړي، مالیې او ګمرکي عواید راټول کړي او د مرستندویانو مرستې په اغېزناکه توګه وکاروي، ځکه چې د هیواد مالي سیستم ړنګ شوی و.

**د ۱۹۹۴ کال د پیسو او بانکونو قانون**

د ۱۹۹۴ کال د پیسو او بانکوالۍ قانون د مرکزي بانک د قانون او په عمومي توګه د افغانستان د بانکي سیستم لپاره کار کاوه. دغه قانون له ۱۹۹۴ کاله د ۲۰۰۳ کال تر سپټمبره تر هغو چې د افغانستان د بانکوالۍ اوسني قوانین رامنځته شول عملي کېده. یاد قانون سم جوړ شوی نه و، ډېرې ګونګتیاوې او اختلافي ځایونه یې لرل. د دغه قانون لومړی برخې د افغانستان قانوني روپۍ افغانۍ وټاکلې او ددې روپیو د ملاتړ لپاره یې د افغانستان بانک کې د ذخیرې ترټولو ټیټه کچه هم وټاکله. د قانون ۲ مې برخې د افغانستان بانک موخې، مسوولیتونه، توان او تشکیلات رانغاړل. قانون کې راغلي و چې د افغانستان بانک د حکومت د پیسو او پورونو د پالیسی اجرا کوونکی دی او ترځنګ به یې دغه بانک د افغانۍ ارزښت ساتي چې په هیواد کې بانکداري او سوداګریزې لېږدونې اسانه کړي. بانک ته واک ورکړل شوی و چې د نورو بانکونو او پورورکوونکو مرکزونو فعالیتونه به څاري او د بهرنیو اسعارو د بدلون او لیږد رالیږد چارې به تنظیموي. د دوهمې برخې په وروستیو کې د بانک تشکیلاتو ته کتنه شوې وه، چې په هغو کې د بانک عالي شورا، د پیسو او پور کمېټه، اجرایوي بورد، د څارونکو ډله او د بانک نوټونو د ساتنې د څار ګروپ شامل دی. د بانک تر ټولو لوړه برخه عالي شورا وه، چې له اتو وزیرانو جوړه وه. ددې ترځنګ لومړی وزیر او د افغانستان بانک مشر هم د شورا غړي وو. د قانون ۳ مه برخه خصوصي بانکونو او د بانکونو جوړولو اړتیاو ته ځانګړې شوې وه.

*سرچینه: ادم بېنېت آل، د افغانستان بیارغونه.*

**د بحث پوښتنې**

❖ د ۱۹۹۴ کال د پیسو او بانکدارۍ د قانون هدف څه و؟

❖ دغه قانون څو برخې درلودې؟ د قانون هره برخه د څه په اړه خبرې کوي؟

**په افغانستان کې شپږ جواز لرونکي بانکونه**

**۱. ملي بانک:** دغه بانک په ۱۹۳۳ کال کې جوړ شو او په افغانستان کې تر ټولو زوړ سوداګریز بانک دی. دغه بانک د خپل فعالیت په لومړیو ۴۰ کلونو کې خپلې چارې په کوردننه او بهر ډېرې پراخې کړې. په ۱۹۷۴ کال کې هغه ملي کړای شو او له هغه وخته را پدېخوا کاملا د افغانستان بانک لخوا اداره کېږي او د هغه ملکیت دی. دغه بانک په اغېزناکه توګه په ۱۹۹۲ کال کې مالي منځګړیتوب ودراوه.

**۲. پښتني تجارتي بانک:** دغه بانک په ۱۹۵۵ کال کې د مخ پر ودې سوداګریزې ټولنې لپاره د مالي خدماتو د چمتو کولو په موخه رامنځته شو. دغه بانک په لومړیو کې د افغان حکومت (د افغانستان بانک او د سوداګرۍ وزارت) اړوند بانک و، خو یو مدیره هیت یې هم درلوده چې د خصوصي او دولتي سکتور ټاکل شوې شمېره غړي یې لرل. بانک تر هغه پورې چې په ۱۹۷۴ کال کې ملي کړای شو ښې لاسته راوړنې لرلې. د ۱۹۹۰ مو کلونو په لومړیو کې د دغه بانک فعالیتونه د یو شمېر حکومتي چارو د پیسو د ورکړې او کم ارزښته سپما حسابونو پورې محدود شول.

**۳. د کرنې د پراختیا بانک:** نوموړی بانک په ۱۹۵۴ کال کې د کوچنیو بزګرانو او لاسي صنایعو د کاروباریانو د مالي ملاتړ په موخه جوړ شو. له یوه ناکام پیل وروسته دغه بانک په ۱۹۶۹ کال کې له سره تنظیم او بل نوم ورکړل شو. نوې بڼه ورکړل شوي بانک یوځل بیا د کرنیزو تولیداتو څنځیر ته چې له تولیده پیلېږي او بیا تر صادراتو رسېږي پر مالي مرستو تمرکز وکړ. دغه بانک له افغانستانه د شوروي ځواکونو له وتلو وروسته له کاره ولوېد.

**۴. د صادراتو د پراختیا بانک:** دغه بانک د مالیې وزارت، د سوداګرۍ د خونې او ځایي تولیدوونکو کوپراتیفونو لخوا په ۱۹۷۶ کال کې جوړ شو.

دې بانک په لومړيو کې ليټرز اف کريډټ يا اعتبار ليکونو مالي ملاتړ کاوه. د صادراتو د پراختيا بانک د طالبانو تر مهاله فعال و، خو د هغوی په واکمنۍ کې يې چارې وځنډول شوې.

**۵. د افغانستان د صنايعو د پراختيا بانک:** ياد بانک په ۱۹۷۳ کال کې د کورنيو ونډه والو او نړيوالو پانګوالو لخوا د يوه خصوصي مالي مرکز په توګه خپل کار پيل کړ. په هغه وخت کې به بانک خصوصي سکتور، حکومتي تشبثاتو او مشترکو تشبثاتو ته له تضمين سره او پرته له تضمينه اوږدمهالي او لنډمهالي پورونه ورکول. ددې بانک لخوا تمويل شوې ډېرې پروژې د قالينو، بوټونو، دارو درملو او په کابل کې د منسوجاتو پروژې وې. بانک په ۱۹۷۷ کال کې ملي کړای شو او د طالبانو د واکمنۍ پرمهال يې فعاليتونه په ټپه ودرېدل.

**۶. رهني او ساختماني بانک:** نوموړی بانک په ۱۹۴۸ کال کې د اوسېدو او سوداګريزو ځايونو د جوړولو د تمويل په موخه پرانيستل شو. بانک په ۱۹۷۴ کال کې ملي کړای شو او د وروستي ځل لپاره يې په ۱۹۹۵ کال کې پور ورکړ. په ۲۰۰۳ کال کې ددې بانک عمده فعاليتونه د بېرته ملکيت لاندې راغلو ودانيو او يو شمېر پورونو د کرايو راټول و.

*سرچينه: ادم بېنېټ ات ال، د افغانستان بيارغونه.*

## ۵. د بحث راغونډېدا

په افغانستان کې د تجارتي قانون تاريخ يو بډای او پېچلی مضمون دی. سوداګري او تجارت له درانيانو مخکې پېر راهيسې تر اوسه پورې ددې هيواد په تاريخ کې يو مرکزي رول لوبولی دی. د افغانستان د تجارتي قانون نوی سيستم په ځانګړې توګه ددې هيواد سوداګريزې محکمې آن د عبدالرحمن خان له مهاله رامنځته شوې دي. هغه افغان حکومت ټينګ کړ او د امان الله خان اصلاحاتو ته يې لار پرانيسته چې په هغو کې د هيواد لومړی اساسي قانون هم شامل و. نادر شاه، داود خان او له هغوی نه وروسته راغلو مشرانو ټولو د افغانستان د تجارتي قانون بنډ د سوداګريزو محکمو د جوړښت په له سره جوړولو، د نويو سوداګريزو قوانينو په عملي کولو او حکومت پر اقتصادي پاليسۍ د له سره تمرکز له لارې رامنځته کړې ده. د افغانستان د مالي سکتور زېږېدنه، وده او ورپسې ددې سکتور زيانمنېدل هغه چلنجونه بيانوي چې د افغانستان د تجارتي قانون سيستم په شلمه پېړۍ کې ورسره مخ شوی و او لاهم دوام لري.

ددې څپرکي د ډېرې مهمو مطالبو ډېر څه لاهم په اوسني افغانستان کې موجود دي. کله چې تاسو راتلونکی څپرکی لولئ، په ياد ولرئ چې پخوانيو افغان چارواکو څنګه له چلنجونو سره مبارزه کړې، لکه د فزيکي ضمانت له کمي، سيمه ييزې شخړې، د شرعي او سيکولر قانون ترمنځ سيالۍ، د سوداګريزو لارو له بدلېدو او داسې نورو سره. د افغانستان د تجارتي قانون اوسنی سيستم هم له ورته چلنجونو سره مخامخ دی او په سوداګريزه وده کې يوازې هغه مهال بريالاسته راوړل کېدای شي چې په تېر کې شويو کارونو او هغه څه ته پاملرنه وشي چې وړاندې تر دې نه دي شوي.

# اصطلاحات

**د ارزښت پر اساس ماليه ماليه Ad-Valorem Tax**

هغه ماليه ده چې د يو توکي يا خدمت د ارزښت له مخې مشخص کيږي. د خرڅلاو، عوايدو او شتمنيو ماليه د دې ډول درې مشهورې ماليې دي چې د حکومتونو لخوا اخيستل کيږي.

**اعتبار Credit**

په راتلونکي کې د پيسو، توکو ، خدمتونو يا کوم بل باارزښته شي په بدل کې د پيسو د ورکړې ژمنه ده. د ګاډو پورونه، ګروي، د اعتبار کارتونه، بيه لرونکې او سوداګريزې پاڼې او حکومتي لخوا صادر شوي بانډونه ټول د کريدت ډولونه دي.

**ګمرکي تعرفې Customs Duties**

هغه ماليه ده چې هيواد ته له راتلونکو يا له هيواده وتونکو توکو څخه اخيستل کيږي.

**د اسعارو د تبادلې ثابته بيه Fixed Exchange Rate**

د بهرنيو اسعارو د تبادلې يوه ټاکلې بيه ده او د حکومت په ځانګړې توګه د مرکزي بانک د فعاليتونو په پايله کې يې نرخ ثابت ساتل کيږي. د بهرنيو اسعارو د بيې د ټاکلو لپاره بايديو حکومت تياروي چې د اسعارو د تبادلې په بهرنيو مارکيټونو کې د اړتياوړ روپۍ وپلوري او وپيري.

**بهرني اسعار Foreign Exchange**

هر مالي سند چې پر مټ يې يو هيواد د بل هيواد پيسې اخيستلای يا غوښتلای شي او د هيوادونو ترمنځ په راکړه ورکړه کې کارول کيږي. د بهرنيو اسعارو ترټولو مهم ډول خپله پيسې دي، چې هغه پيسې له غوښتونکي هيواد پرته د بل هيواد وي.

**ګډه ونډيزه کمپنۍ Joint-Stock Company**

د سوداګريزو ادارو يو ډول: دا د شرکت يا شراکت يو ډول دی چې دوه يا له دوو ډېر حقيقي اشخاص په کې ښکېل وي. شريکانو ته د ملکيت اسناد (يا ونډې) د هرچا د مالي ونډې پر وړاندې ورکول کيږي او شريکان پر نورو د خپلو ونډو په پلورلو کې هر وخت د ګټو د لېږد په لاره کې ازاد دي. د ګډو ونډو کمپنۍ د محدود التزام ساتنه کوي، په دې توګه چې يو ونډه وال د خپل شراکت له کچې هاخوا د کمپنۍ د هيڅ کوم پور التزام پرغاړه نه لري.

**انحصار Monopoly**

د مارکيټ هغه جوړښت ته ويل کيږي چې يو شخص يا پلورونکی پکې يوه ځانګړي توکي يا خدمت عرضه يخ خپل واک کې لري او کوم بديل شتون ونلري.

**ګروي Mortgage**

ګروي پور ورکوونکي ته د پور د تضمين په توګه د ملکيت د سود لېږد (يا د قانون له مخې د هغه معادلې پيسې) دی چې دغه پور معمولا پيسې وي.ددې ترڅنګ ګروي په خپل نفس کې پور نه دی، بلکې دا د پور د ترلاسه کولو لپاره د پور اخيستونکي ضمانت دی چې ورکوي يې. په دې معامله کې شرط دادی چې د تضمين په توګه ورکړل شوی توکی يا ګټه به د ګروي د شرطونو له ادا کولو وروسته ددې توکو خاوند ته سپارل کيږي.

# ماخذونه او سرچينې

ادم بېنېت ات ال، د افغانستان بیارغونه، د پیسو نړیوال صندوق (۲۰۰۵)

د افغانستان د ۱۹۵۵ کال تجارتي قانون

احمد رشید، طالبان، پوځي اسلام، تېل او په منځنۍ آسیا کې بنسټپالي (۲۰۰۲)

امین طرزي، قضایي حکومت: په افغانستان کې د محکمو ارزونه او مرکزي کېدل، ۱۸۹۶-۱۸۸۳ (۲۰۰۳)

انا پېټرسون، له آسه وړاندې د ګاډۍ ځای پرځای کول: په افغانستان کې شخصي کېدنه او اقتصادي اصلاحات، AREU (۲۰۰۶)

بیرت فریدیریکسین، په افغانستان کې کاروانونه او سوداګري (۱۹۹۶)

جې. الیکساندر دیر، د افغانستان راتلونکې (۲۰۰۹)

لوویس دوپرې، افغانستان (۱۹۷۳)

لوویس دوپرې، په افغانستان کې آزاد تشبث: خصوصي سکتور او د پانګونې نوی قانون (۱۹۷۰)

ماکسوېل جې. فرای، د افغانستان اقتصاد: پیسې، مالیه او د اقتصادي پرمختګ ګوت نیوونکي فشارونه (۱۹۷۴)
محمدهاشم کمالي، په افغانستان کې قانون: د اساسي قوانینو، د ودونو د قانون او د قضا یوه څېړنه. (۱۹۸۰)

محمدخان، د افغانستان اساسي قانون او نور قوانین (۱۹۰۰)

رامین موسچتاغي، د نویو جوړو شویو افغان محکمو جوړښت او پولې، له بن تړون سره د قضا د رسمي سیستم پرتله (۲۰۰۵)

رابرت کریوس او امین طرزي، طالبان او د افغانستان بحران (۲۰۰۸)

سارا لیستر او ادم پېن، پیاوړې سوداګري: په افغانستان کې د ازاد بازار سیاست AREU (۲۰۰۴)

سارالیستر او زین الدین قاریف، په افغانستان کې د مارکېټونو پېژندنه، AREU (۲۰۰۴)

سکات لېوي، په مرکزي اسیا او د هغې په سوداګرۍ کې د هند نفوذ، ۱۹۰۰-۱۵۵۰ (۲۰۰۲)

USAID، د عمل لپاره د افغانستان اجنډا: د سوداګرۍ او سوداګریز چاپېریال پرمختګ (۲۰۰۷)

د امریکا د بهرنیو چارو وزارت، د ۲۰۰۸ کال د هیواد سوداګریز لارښود: افغانستان (۲۰۰۸)

وارتان ګریګورین، د نوي افغانستان ظهور: د اصلاحاتو او نوي کېدنې سیاستونه، ۱۹۴۶-۱۸۸۰ (۱۹۶۹)

نړیوال بانک، په افغانستان کې د پانګونې فضا (۲۰۰۵)

# دريم څپرکی: په اوسني افغانستان کې د سوداګرۍ قانون

## ۱ – سريزه

په ۲۰۰۱ ميلادي کال کې د طالبانو د رژيم له ماتې را وروسته، افغان دولت هڅه کړې ده چې د هېواد اقتصادي او حقوقي سيستم ورغوي. د ۲۰۰۴ کال اساسي قانون، د افغانستان د راتلونکې لپاره د اقتصادي ودې پر اهميت ټينګار کوي. د افغانستان د اساسي قانون لسمه ماده وايي: ″دولت، خصوصي پانګې اچونې او خصوصی تشبثات د بازار د اقتصاد د نظام پربنسټ د قانون له حکمونو سره سم هڅوي، ملاتړ يې کوي او مصؤنيت يې تضمينوي″ دا د اساسي قانون له احکامو څخه يو حکم دی، چې د اوسني افغانستان لپاره د سوداګرۍ د قانون اهميت په ګوته کوي.

د افغانستان د سوداګرۍ د قانون له مطالعې، د اقتصادي ودې او سوداګرۍ د قانون ترمنځ د اړيکو تر څېړلو وروسته، اوس دې ته تيار شوي يو، چې ددې کتاب: (په نني افغانستان کې د سوداګرۍ قانون)، اصلي موضوع ته ور وګرځو. بې له شکه له دويم او دريم څپرکيو څخه تر لاسه شوی معلومات خورا ګټور دي ځکه چې اوس مهال موږ په افغانستان کې د تجارت اوسني نظام د پېچلتيا سره مخامخ يو. پدې څپرکی به د دواړو يعنې د افغانستان د سوداګرۍ‌حقوقي نظام چې د هغه د نافذېدو اټکل کېږی، او همدارنګه په عمل کې د هغه د پلي کېدو، څرنګوالی بيان شي. د دې څپرکی په ورستيو کې به د افغانستان د سوداګرۍ د قانون په اړه، چې څه ډول فعاليت کوي، لا ښه او ګټور معلومات ترلاسه کړئ. همدارنګه په دې څپرکی کې به دا هم روښانه شي چې د پخواني نظام سره څه د هغه توپير په څه کې دی.

افغانستان يو داسې هېواد دی، چې د تقنيني پلوراليزم له مخې تعريف شوی. پدې ترتيب، د دې څپرکی بحث د افغانستان د سوداګرۍ قانون په څو ګونو سرچينو سره پيل کېږي. همدارنګه به په دې څپرکی کې د افغانستان د اوسنيو قوانينو او د دولت د مهمو ادارو لکه وزارتونه او د سوداګرۍ محکمې چې د دولت د رسمي نظام بنسټ جوړوي، په هکله هم بحث وشي. په عين حال کې به په دې څپرکی کې د افغانستان د سوداګرۍ قانون په سرچينو باندې، که هغه د رسمي سيستم څخه بهر او يا هم د رسمي سيستم په څنګ کې کارول کېږي ، هم معلومات وړاندې شي. شرعي قانون، جرګو او شوراګانو په ټوليز ډول د افغانستان د حقوقي پراختيا په برخه کې مرکزي رول لوبولی دی او په راتلونکې کې به هم د سوداګرۍ په قانون باندې زيات اغېز ولري. د دې ترڅنګ، د حوالې له لارې بانکوالي، غير رسمي پور ورکول هم نور هغه غيررسمي بنسټونه دي، چې په جزيياتو سره به پرې په دې څپرکی کې خبرې وشي.

## ۲ – په افغانستان کې تقنيني پلوراليزم او د تجارت د قانون سرچينې

تقنيني پلوراليزم هغه حالت ته ويل کېږي، چې په يوه هېواد کې د قانون جوړونې لپاره له يوې څخه ډېرې سرچينې وجود ولري. افغانستان داسې هېواد دی، چې د تقنيني پلورالېزم له مخې تعريف کېږی ، ځکه چې په دغه هېواد کې د سوداګرۍ د قانون په ګډون د قوانينو لپاره مختلفي سرچينې موجودې دي. له رسمي تدوين شوو قوانينو لکه تجارتي اصولنامې څخه پرته، په افغانستان کې غيررسمي(دوديز) قوانين او شرعي قانون هم شته دي.

د غيررسمي بنسټونو لکه جرګې او شوراګانې د رول په پام کې نيولو پرته ، دافغانستان د سوداګرۍ د اوسني حقوقي نظام په اړه هر ډول بحث کول به بشپړ نه وي. دغه غيررسمي بنسټونه په ځايي دودونو او رواجونو، مذهبي او ديني پراتيک باندې ولاړ دي، چې له پېړيو راهيسې په افغانستان کې شتون لري.

شوراګاني، هغه ځايي مذهبي او هم سيکولر بنسټونه دي، چې معمولاً د اړتيا له مخې د شخړو د اواری او يا هم د محلي مسلو د حل او فصل ،

حکومتولۍ ، د زېرمو د اوبو یا سرچینو د مدېریت په مقصد جوړېږي. په ټولیزه توګه درې ډوله شوراګانې یعنې د عالمانو شوراګانې (د اسلامي عالمانو شوراګانې)، قومي شوراګانې او د محلي قوماندانانو شورا ګانې شتون لري. جرګه شوراته ورته والی لري او د افغانستان په پښتون مېشتو سیمو کې فعالیت لري. اصلاً جرګه د رهبرانو یا مشرانو د راغونډېدو په معنا ده، چې په یوه لویه دایره کې د ستونزو د حل لپاره را ټولېږي او د هغو مسائلو په اړه بحث او پرېکړه کوي، چې د ټولو خلکو لپاره د اهمیت وړ وي. دغه ډول غیررسمي بنسټونه د افغانستان د سوداګرۍ او مدني قوانین نه پلی کوي، بلکې د هغه په ځای اسلامي شریعت، قبیلوي عرفي قوانین پلي کوي او یا هم د جرګې ګډونوال په ټوله ییز ډول له خپلې هوښیارۍ څخه په ګټه اخیستنې د ستونزو د حل لپاره جمعي پرېکړې کوي.

اکثره وخت د ″غیررسمي″ اصطلاح، په ساده او سرسري مفهوم سره تفسیر او تعبیرېږي، خو ښایي رښتینې معنا یې دا وي چې د افغانستان محلي قضایي نظام له لیکل شوو قوانینو څخه پرشفاهي دودونو زیاته تکیه کوي، په واقعیت کې سیمه ییزې پروسې ډېرې پېچلې وي. د پرېکړه نیونې ځایی نظام نوي والی له ورایه دپوهېدو وړ دي. د بېلګې په توګه: په یوه عادي جرګه کې پرېکړه د ښه پرمخ تللو اخلاقي اصولو ( لکه **پښتونولي)** تر سره کېږي . د ځینو مسلو په اړه پدې نظام کې آن یو داسې ښه سیستم هم بنسټیز شوی دی چې د هغه له مخې د جرګې د پرېکړو په اړه د مشرانو یوې لوړې غونډې ته استیناف هم تر سره کېدای شي. نو په دې اساس، دافغانستان ځایي قضایي سیستم او د افغانستان تدوین شوي قوانین زیات شمېر داسې ″دساتیر″ لري چې په واقعیت کې دغه بنسټونه عرفي قوانین پکاروي. ښایي یو شمېر حقوق پوهان د هغو پرېکړو خلاف وي، چې د ځایي قضایي نظام په واسطه پلي کېږي. په دودیزو یا عنعنوي قوانینو باندې یوه نیوکه، د ښځو په وړاندې د چلند څرنګوالی دی چې دابدایي اونا بشپړ نظام په توګه د هغه له پام غورځول درست او ګټور کار ندی؛ . اوس مهال دغه قوانین د اکثره افغانانو په ځانګړي ډول له لویو ښارونو څخه بهر میشت افغانانو ورځني ژوند ته سمون ورکوی.

دغه ډول قضایي لارې چارې ، اوس هم د پراختیا په حال کې دي اود سوداګریزو ستونزو د حل لپاره مهمې سرچینې بلل کېږي. په هغو سیمو کې، چې ابتدائیه محکمې یی زیات شمېر قضیې ولې اړین شمېر قاضیان نه لري، نو بیا دغه ډول بدیلې پروسې د ستونزو د حل لپاره ښې لارې ګڼل کېږي او وده مومي. همدرانګه په ځینو کوچنیو ښارونو کې، چې اوس مهال هلته ابتدایه محکمې فعالې نه دي، نو دا بدیلې لارې چارې یوازني وسیلې دي چې خلګ یې په مرسته خپلې ستونزې حل کولای شي. د افغانستان زیات وګړي او په ځانګړي ډول هغه خلګ چې په لیرې پرتو سیمو کې ژوند کوي، اوس هم دغه ډول جرګو او شوراګانو ته د خپلو ستونزو دحل لپاره مراجعه کوي، ځکه د دوی په آند دا بنسټونه تر ټولو عادلانه، اغېزمن او د لاس رسي وړ او د دولت د قضائي سیستم په پرتله د ځایی ارزښتونو څخه خبر لري. فساد، د مسؤلیت نشتوالی او ورو ځواب وینه، هغه دری نیوکې دي چې معمولاً په رسمي عدلي او قضایي سیستم باندې کېږي.

وروستی ټکی، چې باید وویل شي دا چې دا بدیلې لارې چارې په ځایي ټولنو کې جاري دي او په جمعي توګه کولای شي چې روانې ستونزې په دوستانه او ګټور ډول داسې چې په پای کې دواړه اړخونه راضي وي حل کړي او د دعوا دواړه خواوی د دوستي په فضاء کې یو له بل سره خپل ژوند ته دوام ورکړي. دا دافغانستان د غیررسمي قضایه سیستم د ښېګڼو څخه ځینې ګټې دي.

خو له دې سره سره، پدې درسي کتاب کې د سوداګرۍ په دې غیررسمي بنسټونواو سوداګري قانون باندې تمرکز نه دی شوی. ښایي دا ټکی د پوښتنې وړ وي، په داسې حال کې چې دغه سیستم په سم ډول کار کوي، نو بیا ولې رسمي عدلي او قضایي سیستم دومره مهم ګڼل کېږي؟ د دې کتاب موخه دا ده، ترڅو د افغانستان د وګړو په توګه تاسو چې د خپل هېواد راتلونکي مشران یاستئ، د سوداګرۍ له اوسنیو بنسټونو څخه خبر کړي، چې څه ډول عمل کوي. د قانون پوه په توګه او یا دا چې کله تاسو کار او بار یا سودګري پیل کوی دا ستاسو لپاره د اهمیت وړ ده ځکه چې تاسو به خپل فعالیت د هېواد د رسمي حقوقي نظام پر بنسټ پر مخ بیایی. په دې خبرې پوهېدل هم اړین دي چې د رسمي حقوقي نظام څخه څرنګه ګټه واخیستل شي ځکه چې دا هغه بنسټ دی چې د افغانستان دولت پرې تشکیل شوی دی. په دې رسمي حقوقي نظام کې بې سارې ګټې شته دي، چې د دې څپرکی په وروستیو او د کتاب په نورو برخو کې به پرې بحث وشي. خو غیررسمي بنسټونه یو شمېر نیمګړتیاوې هم لري. غیررسمي بنسټونه د کړندود، یوشانتوب، او په دودیزو محکمو کې د څارنې له شتون څخه بې برخې دي، او په ورته وخت کې، ځینې دغه ډول بنسټونه داسې پرېکړې کوي، چې شفافي نه وي .

په هرحال، د ښو اخلاقو درلودونکي يو حقوق پوه او يا د سوداګر په توګه ستاسې لپاره اړينه ده، چې له دغه ډول بديلو لارو څخه د دوو دليلونو په وجه خبر واوسئ. لومړی: حقوق پوه بايد د خپل مشتری د ستونزو د حل لپاره بېلا بېلې لارې چارې په پام کې ولري . ښايي څينې وخت غيررسمي لارې چارې د ستونزو د حل لپاره ترګردو ښې لارې وي څکه ممکن په دغه ډول لارو چارو باندې لګښت کم وشي او د ستونزو د ښکېلو غاړو لپاره دمنلو وړ وي. دويم: ښه به دا وي، چې د دغو بديلو سيستمونو او ستونزو د حل لارو چارو سره، چې په ټولنه کې خلک ورسره ژوند کوي، بلد و اوسو. دا متن، تاسې هڅوي ترڅو د ستونزو د حل لپاره د بديلو لارو چارو سيستمونه ولټوی ، فکر وکړئ او له هغه رسمي بنسټونو سره چې تاسې يې مطالعه کوئ، پرتله او لا پياوړي کړئ.

**د بحث وړ پوښتنې**

1. تقنيني پلوراليزم څه ته وايي؟ دافغانستان د حقوقي سيستم مهمه ځانګړتيا په څه کې ده؟ په افغانستان کې د قانون مختلفي سرچينې کومې دي؟
2. جرګه څه شی ده؟ شورا څه ته وايي؟ خلک ولې د خپلو ستونزو د حل لپاره، د رسمي محاکمو پر ځای شوراګانو او جرګو ته مخه کوي؟
3. د رسمي محاکمو د بالقوه سيستم ګټې څه شی دي؟ د غيررسمي بنسټونو بالقوه ګټې څه شی دي؟
4. که چېرې تاسې په سوداګريزه شخړه کې يو لوری ياست، نو د خپلې ستونزې د حل لپاره به کومې مرجع ته مخه کوئ؟

**رسمي سيستمونه د غيررسمي سيستمونو پرورانديې**

داسې فرض کړئ، چې درې کسان له مختلفو ولايتونو څخه د کابل په لور حرکت کوي، چې يو له لښکرګاه، دويم له تورغنډۍ او دريم يې له مزارشريف څخه. کله، چې دوی کابل ته رسيږي، نو خپلې پانګې سره يوځای کوي او يوه کوچنۍ سوداګري پيلوي. دوه اوونۍ وروسته يوه له دغو شريکانو څخه، پرته له دې چې نور شريکان خبر کړي، خپله ټوله پانګه له دفتر څخه وباسي او خپل لومړني ځای ته يې وړي. دا هم فرض کړئ چې په لښکرګاه، تورغنډۍ او مزارشريف کې د سوداګرۍ ستونزې په بېلابېلو قضايي لارو چارو حل کېږي او په کابل کې هم د مجازاتو کوم ځانګړی معيار نشته. ستاسې په فکر له دغه سړي سره، چې مالونه يې پخپل سر وړي دي بايد څه ډول چلند وشي؟ طبعي ده، چې په يو داسې نظام کې، چې هلته قضايي سيستم عنعنوي مقرارت پلي کوي، دې پوښتنې ته ځواب ورکول ګران دی، چې کوم قانون بايد پلی شي.

اوس دا هم په پام کې ولرئ، چې دغه ډول پېښې د افغانستان په سوداګرۍ باندې څومره ناوړه اغېزه کوي. که چېرې د هرات يو سوداګر باوري نه وي، چې د خوست شورا به د ده او د کوم بل سوداګر ترمنځ د کومې راپورته شوې سوداګريزې ستونزې ترمنځ عادلانه پرېکړه ونه کړي، نو په دې ډول حالاتو کې به دغه سوداګر نور له خوستي تجار سره د سوداګرۍ زړه ښه نه کړي. په ورته وخت کې، همدغه ډول فرضيه به د يو خوستي سوداګر لپاره چې په مزارشريف کې د پانګونې علاقه لري، هم احتمالاً وجود ولري. يعنې په دغه ډول حالاتو کې به اصلي سوداګر [پلورونکی] ښايي داسې فکر وکړي چې اړونده محلي شورا به حتی که حق د بل چا هم وي، نو له خپل ځايي سوداګر څخه به ملاتړ وکړي. په ځايي قضايي سيستم باندې د باور او اعتماد نه شتون د دې لامل کېږي، چې د سوداګرۍ او پانګونې نيسي.

په مدون تقنيني سيستم کې، دا پوښتنه نه مطرح کېږي چې کوم قانون بايد پلی شي، او خلک کولای شي، چې د سوداګرۍ په نظامنامه باندې باور او تکيه وکړي. دا مساله، په ځانګړي ډول په هغو قضيو کې اهميت پيداکوي، چې په سوداګرۍ کې دخيل شخص باوري نه وي، چې کوم ډول کړنه غيرقانوني ده. د سوداګرۍ د مدون شوي قانون په شتون کې، دغه ډول اشخاص کولای شي، د شورا او جرګې له مشورې پرته د خپل ځان لپاره يو مناسب ځواب پيداکړي. په بله وينا، قانون په يوه داسې پديده بدلېږي چې ټول ورته لاسرسی ولري او معياري شکل ځانته نيسي او

همدارنګه هغو کسانو ته، چې سوداګري کوي او هغو کورنیو او اشخاصو ته، چې له سوداګرۍ سره تړاو لري، ګټور او ارزښتناک تمامیږي.
د یادولو وړ وروستی ټکی دا دی، چې د سوداګرۍ د قانون په شمول د قوانینو تدوین په هېواد کې د بهرنی پانګونې سره مرسته کوي او په بین المللي اړیکو کې آسانتیا رامنځ ته کوي. پانګوال او همدرانګه بهرني حکومتونه د نافذو قواینو پر بنسټ د پانګونې په اړه پرېکړې کولای شي، او پدې توګه په محلي سیستم کې د کارپوهانو د سلا او مشورو د لګښت مخه نیول کیږي..

**د بحث وړ پوښتنې**

1. ولې غیررسمي بنسټونه په دومره کچه په افغانستان کې دود دي؟ ایا د دغه ډول بنسټونو شتون د افغانستان د حقوقي نظام دپیاوړتیا سبب کیږي اوکه د کمزورۍ؟

2. که چېرې تاسې په کومه سوداګریزه ستونزه کې ښکېل یا ستی، نو د هغې د حل لپاه به رسمي او که غیررسمي بنسټونو ته مخه کوئ؟ د سوداګریزو ستونزو د حل لپاره د مدونو قوانینو په پرتله له محلي دودونو پکارول څخه ګټه لري؟ د غیررسمي بنسټونونیمګړتیاوې په څه کې دي؟

3. د غیررسمي بنسټونود نتیجو د یوشان کولو، د تامین لپاره غوره لارې کومې دي؟ ایا غیررسمي بنسټونه دې د حکومتي چارواکو له خوا وڅارل شي؟ دا سیستم څه ډول فعالیت ولري؟

په بین المللي حقوقو ، د افغانستان د ۲۰۰۴ کال اساسي قانون، اسلامي شریعت، نظامنامو او جزایي قوانینو کي د ښځو د حقونو څخه د ملاتړ سره سره، ، له یاد شوو قوانینو څخه زیات شمیر ځایي سیستمونه ښځې له خپلو حقونو څخه بې برخې کړې دي. په ټولنه کې عنعنوي قانون د پلي کېدو له امله له ښځو سره ښه چلند نه کیږي او د دې کار دمخنیوي لپاره ښه لاره دا کېدای شي، چې مور له رسمي محاکمو څخه ملاتړ وکړو. له دولتي نظام څخه د ملاتړ بل دلیل ښایي دا وي، چې د افغانستان له پرمختګ سره به په هېواد کې سفر کولآسانه شي او خلک به په لا ډېر خوځښت کې راشي او دا به پخپل وار سره به د محلي نظامونو تر منځ توپیرونه لا ډېر روښانه کړي. د دې ډول فرضیو په وړاندې کولو سره به سیمه ییز او ملي قوانین او کړندودونه ورځ تر بلې معیاري شي او دویزو محلي قوانین به له پخوا نه کم رنګه شي.

په ټولیزه توګه،، ښایي دافغانستان حقوقي نظام ته ستره ننګونه دا وي چې دغه پېچلې معما په داسې ډول و ارزوي، چې د دواړو یعنې دولتي او ځایي نظامونو اندېښنو ته ځواب ووایی . ښایي د حل یوه ممکنه لاره دا وي، چې مخکې هم پرې بحث وشو، چې په دولتي سیستم کې د بدیل سیستم له اصولو لکه (( منځګړیتوب)) او (( همکارۍ)) څخه اقتباس و شي. د حل بله ممکنه لار ښایي دا وي، چې محلي سیستمونه د وضعي قوانینو په مرسته "اصلاح" شي او د ښځود حقونو په پام کې نیولو سره یې ځینې مسایل وڅېړل او په څرګنده په رسمیت و پېژندل شي. سره له دې، چې د دې دوو سیستمونو د ادغام لپاره ډېر وړاندیزونه شوي دي خو د هغو په ادغام کې د کتنې وړ پرمختګ نه لیدل کیږي. د شرعي محاکمو په ګډون د درېیو بېلابېلو عدلي سیستمونو شتون، د هېواد د حقوقي سیستم له موجودو ستونزو څخه ګڼل کیږي او دغه ستونزه د ښکېلو اړخونو له جدی ژمنتیا پرته نه حل کیږي. په ټولیزه توګه، په افغانستان کې دمختلفو سیستمونو ترمنځ وېش د دې لامل کیږي، چې د دغه هېواد قضایي او عدلي سیستم په توکل وچلیږي. دا په افغانستان کې تقنیني پلورالیزم د محدودیت سره مخ کوي، ځکه کله چې په هېواد کې د ستونزود حل لپاره رقیب میکانیزمونه سره یوځای شي د دې معنا ورکوي چې په افغانستان کې په واقیت کې د ستونزو د اغېزمن حل لپاره ډېرې کمې لارې چارې شتون لري چې معکوس نتیجه ورکوي.
خو له دې سره سره بیا هم ددې امکان شته چې دا سیستمونه په همغږې د شخړو د حل په برخه کې عمل وکړي او مثبتې تجربې سره شریکې کاندي، ښایي ښې پایلې ورکړي خو تر اوسه پورې په دې تړوا د حل کومه لاره نه ده تر لاسه شوې.

## ۳ - په افغانستان کې د سوداګرۍ رسمي سیستم

هماغسې، چې په دویم څپرکی کې پرې بحث وشو، د افغانستان د سوداګرۍ قانون په څو اړخیزه سرچینو ترتیب شوی دی. د دغه سرچینو هره برخه د افغانستان د تاریخ په یوه ځانګړې دوره کې رامنځ ته شوې چې د هغه په مرسته دولت د هماغه وخت ستونزې حل کړې. ځایي دودونه، قبیلوي او ملي عنعنات د خلکو ترمنځ په پرله پسې ډول د قراردادونو د اجراء لپاره کارول کېدل. په ورته وخت کې شرعي احکام او ارزښتونه هم په پراخه پیمانه د سوداګریزو راکړو ورکړو په وخت کې کارېدلې. همدارنګه ، په افغانستان کې د وخت دحکومتونو له خوا وضع شوي قوانینو د حقوقي اصل بڼه خپله کړې وه.

د تجارتي قوانینو دودیزو او نویو سرچینوسره سره، د ۲۰۰۴ کال اساسي قانون او همدرانګه ۱۹۷۷ میلادي کال مدني قانون دواړو په ځینو مسلو محدودیتونه وضع کړي دي، چې په مستقیم ډول باید د اسلامي فقې له مخي حل شي. د افغانستان د اساسي قانون ۱۳۰ ماده وایي، هرکله، چې اساسي قانون او یا نور قوانین ونه شي کړای، د کومې مسالې په اړه لارښوونه وکړي، نو په دې صورت حنفي فقه پلې کېږي. د اساسي قانون ۱۳۱ ماده بیا اهل تشیع ته اجازه ورکوي، چې" محکمې د اهل تشیع لپاره په شخصیه احوالو پورې مربوطه قضایاوو کې "له" جعفري فقې څخه کار واخلي". دغه ډول مسایل، چې د ۲۰۰۴ ز کال په اساسي قانون کې راغلي، په موضوعي قوانینو کې هم راغلي وو، چې د اساسي قانون له تصویب څخه وړاندې موجود وو.

## الف-اساسي قانون

د ۲۰۰۴ میلادي کال د جنوري په څلورمه، دافغانستان داساسي قانون لویې جرګې اوسنی اساسي قانون تصویب کړ. د ۲۰۰۴ کال اساسي قانون د افغانستان د اسلامي جمهوریت تر ګردو عالي حقوقي سند ګڼل کېږي. ټول هغه قوانین، چې د دې اساسي قانون له احکامو سره په ټکر کې وي او لغوه داعتبار وړ نه دي. د دې قانون له مخې، د افغانستان دولتي سیستم درې مهمې برخې لري او دا اساسي قانون د ولسمشر، ملي شورا او د قضائیه ارګان واکونه ټاکي. د دې ترڅنګ په دې قانون کې د ولایتي ادارو او لویې جرګې واکونه هم مشخص شوي دي. د افغانستان اوسنی اساسي قانون د ټولو وګړو بنسټیز حقونه د هغو ملکیت په ګډون یو په یو د فهرست په ډول بیان او تضمینوي. په عین حال کې، اساسي قانون د افغانستان د سوداګرۍ د نظام د جوړښت په اړه وړاندوینه کړې ده. د افغانستان اساسي قانون په لسمه او دیارلسمه مادو کې د هېواد نوی اقتصادي نظام ازاد بازار ښودلی دی . لطفاً اړونده مادې په مل شوي (ضمیمه شوي) سند کې مطالعه کړئ.

## ب- تصویب شوی قانون (مدون قانون )

د افغانستان د اساسي قانون د ۹۴ مادې له مخې، مصوب قانون هغه قانون دی چې د ملي شورا د دواړو مجلسونو له خوا تصویب او ولسمشر له خوا توشېح شي. اساسي قانون حکمونه د نورو قوانینو لپاره د مور یا څارونکي حیثیت لري. د اساسي قانون دریمه ماده په دې اړه داسې وایي ((په افغانستان کې هېڅ قانون نشي کولای چې د اسلام د سپېڅلي دین د معتقداتو او احکامو، مخالف وي)) هر هغه قانون، چې د افغانستان د ملي شورا له خوا د ۲۰۰۵ کال د اکتوبر میاشتې (کله چې دا شورا جوړه شوه) وروسته تصویب شوی وي، ترهغې چې د ملي شورا له خوا لغوه شوی نه وي او یا یې هم وخت پای ته نه وي رسېدلی، د اجرا وړ قوانینو څخه شمېرل کېږي.

خو له دې سره سره د دې واقعیت معلومول ډېر ګران کار دی، چې کوم وضعي قوانین په افغانستان کې عملاً نافذ دي. د ۱۹۶۰، ۱۹۵۰ او ۱۹۷۰ کلونو ډېری وضعي قوانین او حقوقي نظامنامې، چې خورا ډېر بحثونه او جنجالونه یې په اړه اوس هم شته، د بن د توافقنامې (۲۰۰۱ کال ډسمبر) له مخې اوس هم په هېواد کې نافذ دي.

د بن پریکړې دافغانستان د لنډ مهاله حکومت جوړښت ټاکلی و او دا یې هم روښانه کړې هر هغه قانون، چې د دغې پرېکړې له احکامو، نړیوالو

حقوقي مکلفیتونو او د افغانستان له اساسي قانون سره په ټکر کې نه وي، معتبر ګڼل ګېږي. هغه احکام او فرمانونه، چې د طالبانو په وخت کې صادر شوي، له نړیوالو توافقنامو او بین المللی حقوقو سره اړخ نه لګوي. خو دا هم لا تر اوسه روښانه نه ده، چې د کمونیستانو په وخت او همدارنګه د کورنیو جګړو په دوران کې صادر شوي احکام او قوانین معتبر ګڼل کېږي او که نه. په ورته وخت کې، د ملي شورا له خوا د نویو قوانینو په تصویب سره به چې موخه یې د پخوانیو قوانینو لغوه کول او عصري کول دي، د افغانستان د وضعي قوانینو تصویر لا روښانه شي.

د سوداګرۍ په اړه نور ګڼ شمېر مهم قوانین او نظامنامې هم شته چې په د دې رسالې په راتلونکو مخونو کې به یې په زیات تفصیل سره مطالعه کړي. په ټولیزه توګه، دغه قوانین په خپل چوکاټ کې، د افغانستان د سوداګریز نظام قانون ټاکي. لاندې په لنډ ډول وضعي قوانین تشریح شوي دي.

## د ۱۹۵۵ میلادي کال د تجارت قانون

د افغانستان دسوداګرۍ قانون (د تجارت اصولنامه) د شهید داوود خان په دوره کې تصویب شوی او له هغه وخت بیا تر اوسه شاوخوا پنځوس کاله تېرېږي، خو دغه قانون تر اوسه نافذګڼل کیږي. دغه قانون ۹۰۰ مادې لري او د تجارتي معاملو د ترسره کېدو لپاره طرح او تدوین شوی دی. د نوموړي قانون یا نظامنامې ځینې برخې لغوه او یا هم په مشخصو مادو سره تعویض شوي دي. د مثال په ډول: په نوي قانون کې یې له پخوانۍ نظامنامې څخه د سهامي او محدود مسؤلیت شرکتونو او همدرانګه د مشارکت قانون هغه برخې لغوه کړی دی چې ددې موضوعوتو سره اړه لري. ددې قانون اړونده مهمې برخې ددې کتاب په مل شوو سندونو کې راغلي دي.

## د ۱۹۷۷ کال مدني قانون

د ۱۹۷۷ ز کال د مدني قانون په ټولګه کې، د سوداګرۍ مسایل په ځانګړي ډول سوداګریز قراردادونه څېړل شوي دي. د دغه قانون په دویم څپرکی کې (( حقوقي معاملات)) څېړل شوي دی، چې دافغانستان د قراردادنو د قانون بنسټیزه سرچینه ګڼل کیږي. مدني قانون په سوداګریزه برخه ډېرې نیمګړتیاوی لري. د قراردادونو په اړه د هغه چلند ریسک بنسټیز کوي چې دا پخپل وار سره د قراردادي ژمنو پلي کول ستونزمن کوي. د ۲۰۰۳ او ۲۰۰۴ کلونو ترمنځ، د قراردادونو د قانون په اړه یوه مسوده ترتیب شوې ده، خو دغه طرحه تر اوسه نه  د ملي شورا له خوا تصویب او نه هم ولسمشر توشیح کړې ده.

د قراردادونو په نوي قانون کې هڅه شوې، چې حقوقي مهم اصطلاحات په روښانه ډول بیان شي، دقراردادونو د اعتبار مساله روښانه کړي، د هغه د عادلانه تطبیق لپاره زمینه برابره کړي او همدرانګه هڅه شوې، چې د قراردادونو د تفسیر لپاره ځانګړي قواعد مشخص کړي. د مدني قانون له ستونزو څخه یوه داده، چې خورا ډېر حقوقي عربي اصطلاحات پکې کارول شوي دي او دا داسې اصطلاحات دي، چې د افغانستان په رسمي ژبو دري او پښتو متونو کې چنداني عام نه دي. نو په همدې اساس، چې کله د دغه ډول اصطلاحاتو تفسیر او تعبیر کیږي، نو چنداني ډېر رښانه او واضح نه وي.

**د بحث او خبرو لپاره پوښتنې**

- ایا د ۲۰۰۴ کال اساسي قانون د افغانستان د سوداګرۍ له قانوني سیستم سره اړیکې او تړاو لري؟
- د افغانستان د سوداګرۍ غوره قوانین کوم دي؟ ولې دغه قوانین دومره د اهمیت وړ دي؟

## د محاکماتو د اصولو قانون

د افغانستان حقومي محاكم د نورو هېوادونو د حقوقي مدني سيستمو په څېر، د يو لړ مقرارتو او اصول سره په مطابقت فعاليت کوي، چې له وړاندې په قانون کې تعريف شوي وي. د مدني دمحاکماتو د اصولو قانون (Code of Civil procedure)، چې په ۱۹۹۰ کال کې تصويب شوی، هغه رسمي مقررات او اصول پکې راغونډ شوي، چې په مختلفو دورو کې ترې د دعواوو د اقامې لپاره کار اخيستل کېږي. په افغانستان کې د ۱۹۹۰ کال د مدني محاکماتو د اصولو قانون د رسمي اصولو يوه لويه ټولګه تسجيل کړې چې د دعوا د اقامې په اوږدو کې بايد مراعات شي.

افغانستان هم د نورو زيات شمېر هېوادونو په څېر د قضايي، مدني او جزايي نظامونو د څارلو لپاره بېلابېل قوانين اوکړندودونه تصويب کړي دي. د مدني قانون کړندود د ټولې حقوقي پروسې- په محکمه کې د دعوا له اقامې څخه نيولې بيا د دوسيې تر جوړولو، داچې آيا محکمه د کومې خاصې قضيې د څېړلو واك لري او که نه او همدارنګه د استيناف غوښتنې داصولو په شمول د ځان سره لري. همدارنګه د مدني محاکماتو د اصولو قانون هڅه کوي، په هغه عنعنوي لارو چارو لکه شورا او جرګه باندې، چې پر بنسټ يې ستونزې حل کېږي، محدوديت او قيودات وضع کړي. ددې قانون په ۴۹۰ ماده کې داسې راغلي دي: (( د مدني او عامه حقوقو په قضيو کې د غير قضايي غونډو تصميمونه او قرارونه د اعتباروړ ندي )) خو له دې سره سره، په محاکمو او حقوقي ادارو کې اوس هم په پراخه پيمانه د هغو پرېکړو ملاتړ کيږي، چې د شوراګانو له خوا کيږي. خو په عمل کې حقوق او محاکم په منظم ډول د شورا پرېکړې مني او تائيدوی.

همدارنګه، د مدني محاکماتو د اصولو قانون، د تجارتي محاکمو د اصولو قانون ته اعتبار ورکوي ، چې په ځانګړې توګه تجارتي محاکم اداره اود کامن لاو غوندې د قضاوت طريقه رامنځ ته کړي. د څو اړخيزه استماعيه سيستم خلاف، چې د مدني قانون په قضاوت کې عام دي، په دې ډول پريکړو کې د قضيې قاضي په خپله مساله تعقيبوي او د حقيقت د اسنادو پيداکول هم د ده په غاړه وي. هغه محاکم، چې د دغو دوو کړنلاو په اساس عمل کوي، داسې مقررات او محدوديتونه وضع کوي، چې په هغې کې قاضي په يو پړاويز ډول د قاضيانو له استماعيه غونډو وروسته د موضوع په اړه فيصله وکړي. د مدني محاکماتو د اصولو قانون په روښانه ډول داسې وايي قضا مظهر دی نه مثبت، ((۵۰۰ماده)) وروستی ټکی، چې بايد په پام کې ونيول شي، دا دی، چې د مدني محاکماتو د اصولو قانون هغه قانوني سرچينې، چې د ستونزو د حل لپاره ترې کار اخيستل کيږي، په ګوته کوي.

د ۱۹۶۵ کال کې د تجارتي محاکمو د اصولو قانون، په تجارتي ديوان کې د دعوا جريان تنظيموي. په دغه قانون کې يو لړ داسې لوايح وضع شوي، چې پربنسټ يې د مسالې دواړه اړخونه کولای شي خپله دفاع وړاندې کړي او اصلاح يې کړي. وروسته له هغې، چې اړين دلايل او ثبوتونه وړاندې شي، د محکمې قاضي يوه استماعيه غونډه راغواړي او د محاکمې لپاره تاريخ ټاکي. د قانون له مخې، يوه قضيه بايد له شپږو مياشتو څخه ډېر وخت ونه نيسي مګر په هغه صورت کې، چې دواړه اړخونه په قانوني ډول غايب وي او يا هم د مسالې وروسته والی د محکمې له خوا تاييد شي. خو په عمل کې بيا اکثره تجارتي قضې کلونه وخت نيسي. په افغانستان کې وروسته له هغې، چې محکمه خپله پرېکړه اعلان کړي، نو پلي کېدو لپاره يې اضافي وخت نيول معمولي خبره ده، ځکه چې پرېکړه ژر نه عملي کېږي. د تجارتي محاکمو د اصولو قانون د معياري سيستم له کمښت سره لاس او ګرېوان دی. د دعوې دواړه اړخونه مکلف نه دي، چې سلاکاران ونيسي نو له همدې لامله ډېر لږ تعداد دغه کار کوي.

په سترو پېچلو پېښو کې د کارپوهانو کمښت د دې لامل شوی، چې د حقوقي قضيو د پرېکړو کيفيت کچه کمه شي. په محکمه کې د يوې دعوې د ثبت لپاره کومې حق الزحمې ته اړتيا نشته، خو په معمولي ډول سره له قضاوت وروسته دصادر شوي حکم له مخې يوه اندازه پيسې ورکول کيږي او معمولاً دا پيسې بايلونکی لوری ورکوي. د حق الزحمې اندازه ( د حکم ۱۱ سلنه د قضيې ګټونکي؛ د دعوا يوه سلنه د بايلونکي عارض ته ) له لګښت او د قضايي خدماتو له لګښت سره تړاو نه لري.

**د بحث ور پوښتنې**

❖ د محاکماتو د اصولو قانوني موخه څه ده؟

- ❖ د افغانستان په محاکمو کې کوم قوانین قضایي اقدامات کنټرولوي؟
- ❖ د دغه قوانینو ځینې قوي برخې کومې دي؟ کمزورې نقطې یې کومې دي؟

## د سوداګرۍ نور قوانین

د ۱۹۵۵ ز کال د تجارتی محاکمو د اصولو قانون ۱۱۶ او ۴۷۰ مادي، تر دې وروستیو پورې د افغانستان د قراردادونو په قانون کې کارېدلې. د ۲۰۰۷ کال د جنورۍ په ۲۸ د ولسي جرګې د رخصتی په وخت د قراردادونو نوی قانون لاسلیک شو. دغه قانون ولسي جرګې ته واستول شو، خو تر اوسه ولسي جرګې نه دی تصویب کړي نو له همدې لامله دغه قانون تر اوسه د اجرایه قوې په فرمان سره نافذ ګڼل کېږي، خو بنایي ولسي جرګه پکې تعدیلات راوړي. دغه قانون د شرکتونو اړوند مسایل د سوداګرۍ له اصولنامې څخه بېل کړي دي او دواړه یې په بېلابېلو قانونونو تقسیم کړي دي، چې یو یې د سهامي شرکتونو قانون دی او بل هغه یې د محدود المسؤولیت شرکتونو د قانون په نوم یادېږي.

په ۲۰۰۷ ز کال کې د افغانستان دولت د مصالحې او حکمیت قوانین تصویب کړل. د حکمیت په قانون کې د افغانستان محلي دودونه، عنعنات او نړیوال میکانیزمونه راغونډ شوي دي. په دې قانون کې روښانه شوې، چې د تجارت له دواړو اړخونو څخه هر یو یې کولای شي، یو حکم غوره کړي او دواړه حکمونه کولای شي، چې په مشترک ډول درېیم حکم وټاکي. د محکمې درې واړه حکمونه حکمیت تشکیلوي. یوازې درېیم حکم (چې د دوو نورو ټاکل شوو حکما نو له لوري ټاکل کېږي) بې پرې پېژندل شوی دی. د محکمې پرېکړه، د درېیو تنو قاضیانو په مټ، چې د حکمیت بورډ غړي دي، په اکثریت ترسره کېږي.د حکمیت د دیوان حکم په هغه صورت کې په محکمه کې د پلي کېدو وړ دی چې بایلونکی لوری هغه رعایت نه کړي. د حکمیت د رایی په اړوند د استیناف غوښتلو څو لارې شته ځکه چې د حکمیت مقصد د محاکمو له سیستم څخه بهر په چټکتیا او اغېزمنتوب سره د پرېکړې کول دي.استیناف غوښتل په کړندود کې د نیمګړتیا په اړه صورت مومي ( د مثال په توګه حکم په سمه توګه کړندود نه عملي کوي)، نه د موضوع د ماهیت په اړه ( د مثال په توګه، که چېرې حکم د فاکتونو پر بنسټ غلطه پرېکړه کوي) (۴،۹ ، ۱۰،۲مادې)

### د بحث وړ پوښتنې

- ❖ د افغانستان د سوداګرۍ د قانون سیستم له کومو قوانینو څخه متشکل دی؟
- ❖ حکمیت څه شی دی؟ په افغانستان کې کوم قوانین پر حکمیت باندې ولاړدي؟ د حکمیت حکمونه څه ډول صادرېږي؟ د منځګړیتوب او حکمیت ترمنځ توپیر څه شی دی؟ د منځګړیتوب ګټې څه شی دي؟

د سوداګریز منځګړیتوب قانون له مخې، منځګړیتوب داسې بهیر دی چې: «د هغه پوسیله دواړه لوري د درېیم شخص او یا شخص («منځګړی»)څخه غوښتنه کوی تر څو ددوی سره د دوی د لانجې په سوله ایز حل کې مرسته وکړی» (۴ ماده). دا قانون داسې چارچوب وړاندې کوي چې د هغه په ترڅ کې دواړه لوري په خپله خوښه د بهرنی مرستې له لارې لانجه حل کاندي پرته لدې چې ددوې خبرې اترې به ددوې خلاف و کارول شي او په تدریجي توګه دوی د خپلې دعوا وړاندې کول او حکمیت پای ته رسوي. د منځګړیتوب داوطلبانه ماهیت هغه څه دي چې کړندودونه د دعوا له اقامې او حکمیت څخه بېلوي چې په ترڅ کې یی درېیم لوری د لانجې د حل په اړوند خپله پرېکړه په جبري توګه تحمیلوي. کله چې دواړه لوري د منځګړیتوب له لارې هوکړې ته ورسېږي، بیا دوی کولای د اختیار له مخې هغه یعنې هوکړه د قرارداد د اجباري برخې په توګه ومني (۳۷ ماده) منځګړیتوب د لانجو د اواري لپاره یوه مهمه مرستندوه وسیله ده چې په ترڅ کې یی د دعوا د اقامه کولو او حکمیت ته اړتیا نه پیدا کېږي.

په ۲۰۰۵ ز کال کې د افغانستان د خصوصي پانګونې قانون تصويب شو. د دې قانون هدف په هېواد کې د کورنيو او بهرنيو پانګونو د ظرفيت لوړول دي. د دې قانون په تصويب سره د بهرنيو او کورنيو پانګوالو ملاتړ کيږي او هغوی تشويقيږي، چې په دې کار سره د اقتصاد پرمختګ رامنځ ته کيږي، کاري زمينه برابرېږي او د دې لامل کيږي، چې خلکو د ژوند سطحه لوړه شي (۲ ماده ).

د پخواني قانون په پرتله، دا قانون پانګوال لږ تشويقوي او کمه انګيزه ورکوي خو په دې قانون کې د ستونزو د راپيداکو په صورت کې د حکومت په ګډون د ټولو اړخونو مسووليتونه په ډاګه شوي دي. په دې قانون کې د پانګونې عالي کميسيون (HCI) د جوړېدو غوښتنه شوي او همدارنګه يې د افغانستان د پانګونې د ملاتړ اداري (AISA) د جوړېدو حکم هم صادر کړی دی. د افغانستان د پانګونې په عالي کميسيون کې د ماليې وزارت، ددکرنې، اوبو لګولو او مالداری وزارت، د بهرنيو چارو وزارت، د اقتصاد وزارت، د افغانستان بانک رئيس، دکانو او صنايعو وزرات او د خصوصي سکتور دوه استازي چې رايه نه لری، برخه لري. دغه کميسيون د سوداګری وزارت له خوا رهبري کيږي او رياست يې د افغانستان د پانګونې د ملاتړ اداره يا ايسا پرمخ وړي.

**د افغانستان د خصوصي پانګونې قانون**

اتمه ماده: د کميسيون دندې او صلاحيتونه:

الف– په لومړۍ جلسه کې د کميسيون د غونډو او پرېکړو کړنلاره تصويبول او هغوی ثبت کول.

ب — په ټوله بيز ډول افغانستان د پانګونې د حالت څارل او په دغه قانون کې د ښه والي لپاره د تعديلاتو وړانديز ذيصلاح چارواکو ته

ج–د اداري چارو د لا ښه پرمختګ لپاره افغانستان د پانګونې د ملاتړ اداره رامنځ ته کول

د–دغه کميسيون همدرانګه صلاحيت لري، چې ددې قانون د پلي کېدو لپاره مقررې او قواعد تصويب کړي او يا د ايسا دفتر ته لاربښوونه وکړي، چې ورته مقررې او قواعد د څارلو لپاره د کميسيون له لارې تسويدکړي. د اړتيا په وخت کې په دې مقررو کې د هغو احکامو تدوينول شاملېږي، چې د پانګونې او د خصوصي سکتور د تشويق لپاره ترې کار واخيستل شي. خو په ورته وخت دا کميسيون نه شي کولای، چې د ماليې وزارت له رضايت او قناعت پرته، له پورته ذکر شوو مواردو علاوه پولي تشويق ډېر کړي.

س–دغه کميسيون په پيل کې يوه اندازه پيسې د حق الشموليت لپاره (Threshold Value) وضع او ټاکي. له ايسا سره تر سلا مشورې وروسته، دغه کميسيون د دې صلاحيت لري، که چيرې د تشبثاتو د پانګونه اندازه د حق الشمول له مبلغ سره مساوي وي، نو په دې صورت ثبت شوي تشبثات په رسميت وپېژني. د ايسا اداره دا صلاحيت هم لري، چې د دې قانون د پنځمې مادې مطابق هغه شرکتونه او ثبت شوي تشبثات، چې تمه کيږي، د پانګونې اندازه يې د حق الشمول له مبلغ څخه کمه وي، په رسميت وپېژني. کميسيون کولای شي، د هغه دلايلو پربنسټ، چې اړين يې بولي، داسې کړندودونه رامنځ ته کړي او وې څېړي، چې په مرسته يې د ايسا د پريکړو په اساس راجسترشوي تشبثات په رسميت نه دي پيژندل شوي.

ش–دا به د دې کميسيون له انحصاري واکونو څخه وي، چې د دې قانون په نورو احکامو کې لاس وهنه وکړي، کميسيون کولای شي، چې دولتي راجستر شوي تشبثات په رسميت و پيژني.

**د بحث وړ پوښتنې**

- ❖ په افغانستان کې خصوصي پانګونه څه ډول تنظیمیږی؟
- ❖ د افغانستان د خصوصي پانګونې قانون کوم مطالب بیانوي؟
- ❖ د پانګونې عالي کمیسیون څه شی دی؟ د دې کیمسیون واکونه کوم دي؟

د افغانستان بانک قانون او بانکوالی قانون دواړه په ۲۰۰۳ ز کال کې تصویب شول. دافغانستان بانک قانون د افغانستان د مرکزي بانک رول تعریف کړی دی او هغه ته یې واک ورکړی، چې پرته د حکومت له هر ډول مداخلې څخه د بانکوالی سیستم وڅاري. د بانکداری قانون دافغانستان بانک یو داسې بنسټ تعریفوي، چې د خلکو پیسې یا د خلکو د پرداخت وړ نور توکي د امانت په ډول ساتي او یا هم د خلکو له لوري د پانګونې لپاره پورونه وورکوي. د بانکداری قانون، بانکداری د جواز لپاره دوه مرحله یې پروسه ټاکلې ده. دغه قانون د نړیوالو معیارونو بهتره بېلګه ده. په دې قانون کې سالم مدیرت، د ممکنه خطر مدیرت او شفافه حساب ورکونه الزامي ګڼل شوي ده.

## ج. اجرایوې برخه

ولسمشر د دولت رئیس او د اجرایه قوې مشر دی. دی په نړیواله کچه د افغانستان استازیتوب کوي او په داخل کې بیا حکومت کوي. له ولسمشر سره د هغه لومړي او دویم مرستیال د کارونو په اجرا کولو کې مرسته کوي. د نورو دندو ترڅنګ ولسمشر د پوځي ځواکونو اعلی سر قوماندان، د لویې جرګې تشکیلول، د سترې محکمې دغړو انتصابول او ولسي جرګې ته د وزیرانو د ور پېژندلو دندې هم په غاړه لري. ولسمشر د یوه پالیسي جوړوونکي شخص په توګه کار کوي او په ځینو قوانینو کې داصلاحاتو وړاندیز هم کوي، چې د ملي شورا له خوا باید تصویب شي. په اساسي قانون کې ځینې داسې محدودیتونه هم شته، چې د ولسمشر واکونه محدودوي، چې دی یې باید پیروي وکړي.

د دولت اجرایه قوه له وزیرانو څخه تشکیل شوې ده، چې هر وزیر بیا په خپل نوبت د یوه وزارت مسوولیت په غاړه اخلي. هر وزارت دیوه وزیر له خوا، چې د ولسمشر له خوا ولسي جرګې ته معرفي کېږي او جرګه د اعتبار رایه ورکوي، اداره کیږي. اوس مهال په ټولیز ډول د دولت اجرایه قوه ۲۵ وزیران لري، چې هر وزیر یې په خپله برخه کې ځانګړي مسوولیتونه لري. د دې درسي کتاب لپاره مهم وزارتونه عبارت دي له: عدلیې وزارت، مالیې وزارت، اقتصاد وزارت او سوداګری وزارت. یاد شوي وزراتونه ځکه زموږ د مطالعې لپاه اړین دي، چې د افغان حکومت د ورځنیو فعالیتونو مسوولیتونه په غاړه لري.

### د عدلیې وزارت

عدلیې وزارت دافغانستان د اجرایه قوې یوه برخه ده، چې د قانون د ملاتړ او د هغه د ساتنې مسوولیت په غاړه لري. دغه وزارت د حکومت ډیر قضایې امور په غاړه لري، چې مهمې دندې یې په ټول هیواد کې د قوانینو تسوید، نشر، توزیع، حقوقي عامه پوهاوی، د محاکمو د سیستم له لارې د دولت دملکیت ملاتړ اوساتنه، د زندانونو اداره کول، د توقیف مرکزونو او د دارالتأدیبونو څارنه ده.

د۲۰۰۷ز کال د می په میاشت کې، مالیې وزارت ۱۳۰۰ داسې کا رمندان درلودل، چې د قوانینو او اسناد په تصحیح کې کار کاوه، چې له دې جملې څخه یې ۳۷۵ تنو په کابل کې کار کاوه. د عدلیې وزارت له ۸۰ سلنه ډېر کارکوونکي د لیسانس تر کچې یا له دې ټیټې کچې پورې زده کړې کړي دي او پاتې ۱۳ سلنه کارکونکي یې د لیسانس او تر هغه لوړې زده کړې لري.

یو له مهمو دندو څخه، چې د عدلیې وزارت یې مخ ته وړي، هغه د تقنین برخه ده. وزارت په دې برخه کې قوانین تسوید کوي، چې له هغې وروسته بیا د هیواد د مقننه قوې له خوا ا تصوبیږي.

د عدليې وزارت دتقنين برخه باید په ټولیزه توګه، د قانون مسوده (پیش نویس) افغانستان له اساسي او شرعي قانون سره په پرتله کوي، چې په مخالفت کې یې نه وي او د هیواد له نورو قوانینو سره هم باید په ټکر کې نه وي. د عدلیې وزارت د تقنین برخه د دغه وزارت له مهمو او اساسي برخو څخه ګڼل کیږي، ځکه له یوې خوا د تقنین برخه هغه قوانین چې ملي شورا یې تصویبوي، له ټولو اړخونو څیړي او له بلې خوا همدرانګه د تقنین برخه هغه مسوده، چې د قانون بڼه خپلوي، د افغانستان د نظام له مطابقت سره یې پرتله کوي، چې د بل کوم قانون سره په ټکر کې نه وي.

د عدلیې وزارت بله مهمه څانګه د حقوقو برخه ده. د وزارت د حقوقو دا برخه په حقیقت کې یو اجرایوي بنسټ دی، چې دخلکو د عریضو د اخیستلو او د قضایي مسایلو په پلې کولو کې بشپړ واک لري. دا څانګه د ستونزو د حل لپاره د بدیلو لارو ملاتړ کوي او افغانانو ته لومړني حقوقي خدمات برابروي. حقوقي څانګه ځکه د عدلیې وزارت په چوکاټ کې رامنځ ته شوې، ترڅو هغه شکایتونه ترلاسه کړي او وې څیړي، چې قضایي ماهیت لري. که څه هم له تخنیکي اړخه د شکایتونو ثبتول اختیاري ( نه اجباری) مسله ده، ( دمدني محاکمو د اصولو د قانون ۱۲ ماده ). خو په عملي ډګر کې مخکې له د، چې شکایتونونه محاکمو ته وړاندې شي، لومړی د حقوقو ریاست او د هغه اړونده مدیریتونو ته سپارل کیږي.

د افغانستان له ۳۶۵ ولسوالیو څخه په شاوخوا ۳۵۷ ولسوالیو کې حقوقي مدیریتونه شته، چې په ټولیز ډول په دغو مدیریتونو کې شاوخوا ۹۵۰ کسان کار کوي. د ولسوالیو او ولایتونو د حقوقو چارواکي شکایتونه څیړي او شکایت کوونکو سره مرسته کوي، چې فورمې څه ډول ډکې کړي او همدارنګه خلکو ته دا په ډاګه کوي، چې تر کومې کچې د ولسوالیو په محاکمو کې خپلې قضیې مخ ته وړی شي. په هغه صورت کې، چې قضیه له بدیلو لارو یعنې شوراګانو او قومي سپینږیرو له خوا حل نه شي او یا د قضیې دواړه اړخونه پرېکړه وکړي، چې مساله محکمې ته وړاندې کوي، نو په دې صورت کې قضیه محاکمو ته او د اړتیا په صورت لوړو نورو ارګانو ته وړاندې کیږي. په کابل کې حقوقي ریاستونو او اړوندو مدیریتونو یې د سوداګرۍ مسایلو په اړه ډېر څه نه دي کړي او ډیری وخت د منقولو جایدادونو په تصرف باندې تمرکز کوي، سره ددې چې ددې دندې وړاندوینه هم شوې ده. دا مساله باید ستاسې لپاره د حیرانتیا وړ نه وي، ځکه په ټول هیواد کې نږدې پنځه سلنه قضیې سوداګریز خاصیت لري. تر اوسه د سوداګریزه ستونزو د حل لپاره د قضایي چلند ته ډېره لېوالتیا نه لیدل کیږي.

**د بحث وړ پوښتنې**

- د عدلیې وزارت مسوولیتونه څه شی دي؟
- دعدلیې وزارت دوه مهم ریاستونه کوم دي؟ د دغو ریاستونو مهم رول کوم دی؟ ولې د دغه ډول بنسټونو دندې او رول مهم وي؟
- عدلیې وزارت د افغانستان د سوداګرۍ په سیستم کې کوم رول لوبوي؟
- ستاسې په فکر په عدلیې وزارت کې کومه څانګه یاشعبه مهم رول لري؟ حقوق که تقنین؟ ولې؟

## د سوداګرۍ اوصنایعو وزارت(MOCI)

د سوداګرۍ او صنایعو وزارت د افغانستان د خصوصي سکتور د پالیسی جوړولو اساسي بنسټونو څخه ګڼل کیږي. دغه وزارت د خصوصي سکتور لپاره دیو منظم چوکاټ او د همغږې پالیسی د جوړولو مسوولیت په غاړه لري.( د مثال په ډول: د مقرراتو او تقنیني اصلاحات، حقوقي کړندودونو پورې تړلي تشکیلاتو تقویه کول، د مالي پروګرامونو تشویقول او عامه پوهاوی...) دغه وزارت دخپلې رهبرۍ دا هدافو دلاسته راوړلو لپاره ستراتیژي ټاکي. د سوداګرۍ وزارت هڅه کوي، چې داسې یو چاپیریال رامنځ ته کړي چې په ترڅ کې یې سوداګري پرمختګ وکړي. په همدې خاطر دغه وزارت د سوداګرۍ په برخه کې د قانون ګذارۍ او دمقررو د تدوین لپاره چې د بین المللي سټاندارډونو سره سمون ولري، مهم رول په غاړه لري. دغه وزارت د سوداګریزو بنسټونو له خوا د یادو شوو مقررو او قوانینو د عادلانه او شفاف چې تطبیق لپاره باید کافي ظرفیت ولري او تر وسې هغه لګښتونه راکم کړي کوم چې سوداګریز بنسټونه یې د یاد شوو قوانینو د پلي کیدو لپاره ګالي.

د سوداګرۍ او صنايعو وزارت په ډله ييزو تجارتي پروژو کې د مشرتابه په څير رول ادا کوي، چې د ۱۹۵۵ کال تصويب شوې نظامنامې په اساس، اوسني افغانستان ته يو باثباته تجارتي نظامنامه يا قانون تصويب کړي. د همدې پروژې په مرسته،د سوداګرۍ او صنايعو وزارت لاندې خپلې کړنې عدليې وزارت ته تسليم کړي دي. ((د خصوصي پانګونې قانون، د حکميت قانون، د منځګړيتوب قانون، د مشارکت قانون، د سهامي شرکتونو قانون، د قراردادونو قانون، د کاپي، د اختراعاتو د ثبت او د تجارتي علايمو قانون، د استازيتوب قانون او د ستانداردونو قانون))

د سوداګرۍ او صنايعو وزارت د ګمرکي، بيمې، اجارې، د محاسبې معيارونه او نورو ټولو هغو قوانينو په اړه چې تجارت پورې تړلي وي، خپل نظر وړاندې کوي. پردې سربېره، د سوداګرۍ د نړيوال سازمان په وړاندې د يوه اساسي وزارت په توګه، د سوداګرۍ او صنايعو وزارت هڅه کوي چې د سوداګرۍ په برخه کې ټول قوانين او اصول د دغه سازمان د مقرراتو سره سمون ولري. په تېرو دريو کلونو کې د تجارت د قانونګذارۍ پروسه له جدي ستونزو سره مخامخ وه، چې يوه بېلګه يې په اړونده وزارتونو کې د ظرفيت کموالی دی(لکه د عدليې وزارت) ، د واحدې حکومتي ستراتېژۍ او پاليسيو نشتوالی ، د مرسته کوونکو ادارو او نړيوالې ټولنې ترمنځ د همغږي ستونزه هغه خنډونه دي چې د تېرو دريو کلونو په تجارت کې موجودوو. نو په دې اساس هغه اقدامات او نوښتونه چې د سوداګرۍ او صنايعو وزارت يې اوس کوي، يوازې د تجارتي قوانينو د پلي کېدو او آسانتياوو د رامنځ ته کېدو لپاره يو پيل دی او دا کار د دې وزارت له مهمو او اساسي کارونو څخه دی.

د سوداګرۍ او صنايعو وزارت يو غوره "تسهيل کوونکی" دی چې نويو سوداګريزو شرکتونو سره مرسته کوي تر څو د دې وړتيا پيدا کړي کړ په سوداګريزه محکمه کې ځانونه ثبت کړي. د سوداګرۍ او صنايعو وزارت، د افغانستان د پانګونې د ملاتړ ادارې ايسا له همغږۍ سره سم دغه رول او دندې تر سره کوي. دغه وزارت د نويو شرکتونو د ثبت لپاره ټول اړين اقدامات تر سره کړي او هغوي ته د پانګونې جواز ليک ورکوي. همدارنګه ياد شوی وزارت د ثبت شوو شرکتونو ډيټابيس په کار اچولی دی.

د سوداګرۍ او صنايعو وزارت د اداري تشکيل جدول




**د بحث وړ پوښتنې**

❖ د سوداګرۍ او صنايعو وزارت څه شی دی؟ د دغه وزارت مسوولیتونه کوم دي؟

❖ ياد شوی وزارت څه ډول د افغانستان د سوداګرۍ په قانون نفوذ کوي؟

❖ دغه وزارت د تجارت د راجستر کولو لپاره کوم رول لوبوي؟

## ماليې وزارت

ماليې وزارت د مالياتو راغونډولو، د بوديجې اجراء او مديريت، د عمومي لګښتونو تنظيم او کنټرولول، نورو حکومتي بنسټونو ته پيسې ورکول او د افغانستان د ګمرکونو څارل يې له مهمو دندو څخه دي. همدارنګه د ماليې وزارت د عامه شتمني او لګښت او افغانستان ته دبين المللي مرستې همغږې او مديريت مسؤليت په غاړه لري.

د افغانستان د ګمرکاتو رياست د ۲۰۰۵ کال د ګمرکاتو د قانون په اساس مکلف دی چې د ګمرکاتو عوايد راغونډ او اجرا کړي. د افغانستان د ګمرکاتو رياست له سرحدي غوره بنسټونو څخه ګڼل کيږي او د افغانستان ۵۳ سلنه کورني عوايد برابروي. ماليې وزارت په دې وروستيو کې د ۲۰۰۵ کال د مارچ او جون مياشتو ترمنځ د کورنيو عوايدو اصلاح شوې اندازه خپره کړه. په ياده شوې دوره کې، د افغانستان د کورنيو عوايدو مجموعه ۷۷ اعشاريه ۱۶ ميليونه ډالره ښودل شوې ده، چې د تېر ۲۰۰۴ کال د همدې مودې په پرتله ۴۰ سلنه لوړوالی ښيي. د ۷۷ اعشاريه ۴۵ ميليونه ډالرو له مجموعې څخه، چې د افغانستان د کورنيو عوايدو په شکل تر لاسه شوي، ۵۳ سلنه يې د افغانستان سرحدي ګمرکو څخه تر لاسه شوې دي، چې د لومړۍ دورې په يادې شوې دريو مياشتو کې ۴۱ اعشاره ۳۴ سلنه يې له ګمرکاتو څخه تر لاسه شوي دي. له دې ارقامو څخه داسې څرګنديږي، چې د لومړنۍ سرچينې په توګه په ګمرکي عوايدو تکيه په هېواد مخ په کمېدو ده.

**د افغانستان د ۲۰۰۵ کال د ګمراکاتو قانون**

**د افغانستان د ګمرک رياست مهمې کړنې او رول**

- د اجناسو د ارزښت ټاکل او هغوی اړوند عوايدو راغونډول
- د مالونو د قاچاق کشفول، څارل، مخنيو او هغوی په اړه راپور ورکول
- د ګمرکاتو له قانون څخه د سرغړونو کشفول او څارل
- د ګمرکاتو د قانون مطابق د ګمرکي مسايلو په اړه نړيوالې توافقنامې او معاهداتو په امضاء او برابرولو کې برخه اخيستل
- د ماليې وزارت په موافقه، د بهرني تجارت په اړه د ارقامو، معلوماتو برابرول او راغونډول او بيا يې سوداګرۍ وزارت او نورو بنسټونو ته ورکول
- د افغانستان د ګمرکاتو په ټولو سرحدونو کې د ګمرکي اجناسو څارل
- پر ګمرکاتو پورې تړلې ټول اړخونه کنټرول او تطبيقول
- د ګمرکي سوابقو ساتل د ټول هغو کړنو مخ ته وړل، چې د افغانستان د ګمرکاتو په قوانينو کې راغلي دي.

د افغانستان د ګمرکاتو رياست ددغو دندو د ترسره کولو لپاره، ۱۵۹۷ تنه ملکي ګمرکي مامورين استخداموي. د افغانستان د ګمرکاتو د رياست مرکزي دفتر په کابل کې دی او دغه رياست په ۱۴ رسمي سرحدي بندرونو او ۱۸ ولايتي سرحدونو کې په ټول هيواد کې فعاليت کوي. په دغو ګمرکونو کې مالونه محصول کيږي او راټولې شوې پيسې مرکزي دفتر ته استول کيږي. د افغانستان د ګمرکاتو د ښه والي لپاره، د نړيوالې ټولنې له خوا پراخې تخنيکي مرستې هم کيږي.

د ماليې وزارت همدارنګه د يو زيات شمېر دولتي تصديو د خصوصي کولو مسؤليت هم په غاړه لري. په افغانستان کې د خصوصي کولو لپاره کوم ځانګړی قانون نشته، خو د دولتي تصديو د ۱۹۹۱ کال په قانون يو لړ تغييرات راوړل شوي دي. د دولتي تصديو قانون په ۲۰۰۵ کال کې د ولسمشر له خو ا تعديل او د وزيرانو شورا له خوا تصويب شو او هغه وروستي تعديلات، چې په دې قانون کې راوړل شوي دي، په اساس يې ماليې وزارت ته اجازه ورکول شوې، چې د ارزونې د کميسيون په اساس يې پلی کړي. په دغه کميسيون کې ماليې وزير، د سوداګرۍ او صنايعو وزير، داقتصاد وزير او په اقتصادي چارو کې د ولسمشر مشرسلاکار غړيتوب لري.

د هغو تعديلاتو په اساس چې د دولتي تصديو په قانون کې راوړل شوي، کله چې د دولتي تصدی د خصوصي کېدو پرېکړه و شي، نو ماليې وزارت د دغه تصدی د انحلال او حسابدورکونې په اړه وزيرانو شورا ته يو وړانديز کوي. وروسته له هغې چې وزيرانو شورا دغه وړانديز ومني، ماليې وزارت د دې پروسې د پلي کولو لپاره يوه کميسيون ټاکي. سره له دې چې اقتصادي سلاکارانو تر دې دمه د خصوصي سازۍ لپاره د يوه خپلواک څارونکي بنسټ په رامنځ ته کولو باندې ټينګار کوي، خو دې کار تر اوسه کومه پايله نه ده ورکړې.

هغه عامه يا دولتي بنسټونه چې تر دې دمه په پرمختللو هيوادونو کې رامنځ ته شوي دي، د شکل او روش له مخې يو د بل سره توپير لري. ځينو هيوادونو لکه روسيې، بنګلديش، فليپين او نورو هيوادونو د دې کار لپاره خپلواک کميسيونونه جوړ کړي دي، خو دافغانستان په ګډون يو شميرنور هيوادونه لکه ماليزيا، مراکش، تونس او نورو د وزارتونو په داخل کې کميسيونونه جوړ کړي دي. د چيلي او مکسيکو په څېر نورو هېوادونو کې، بيا د خصوصي سازۍ پروسه په مقطعي ډول د غيرمتمرکزو ادارو له خوا مخ ته وړل کېږي.

**د بحث وړ پوښتنې**

1. ماليې وزارت څه ډول وزارت دی؟ د دغه وزارت مسووليتونه کوم دي؟

2. ولې مالي عايدات او ګمرکي عوارض مهم دي؟

3. د افغانستان د ګمرکاتو رياست څه ډول بنسټ دی؟ د دغه رياست اړيکې له ماليې وزارت سره څه ډول دي؟

4. د ماليې وزارت په افغانستان کې د دولتي تصديو په خصوصي کولو کې څه رول لري؟ د خصوصي کولو په پروسې باندې کوم قوانين نافذ دي؟ هغه ستونزې کومې دي، چې د خصوصي کولو په پروسه کې په عملي ډول ليدل کېږي؟

ماليې وزارت: تشکيلاتي جوړښت جدول




## د- قضايي برخه

**د مطالعې تمرکز**

د دې برخې د پيل لپاره، خپل  بشپړ درسي توکي له ځان سره ولرئ، د تشکيلاتو قانون او د افغانستان د محاکمو قضايي اختيارات په بېلابېل ډول مطالعه کړئ.

قضايي برخه د دولت يو له خپلواکو ارکانو څخه ده او د افغانستان له حکومت سره برابره ده. ستره محکمه دافغانستان تر ټولو ستر قضايي ارګان ګڼل کيږي چې دنده يې په ټيټو محکمو  باندې څارنه کول دي. ستره محکمه  نهه تنه غړي لري، چې د ولسمشر له خوا انتصابيږي او ولسي جرګه د يوې تقنيني دورې يعنې  پنځو کلونو لپاره رايه ورکوي. ستره محکمه هم د نورو محاکمو په څېر په څلورو ديوانونو وېشل شوې ده. د عمومي جزا ديوان، عامه امنيت ديوان ، مدني او عامه حقوقو ديوان او د سوداګرۍ ديوان. هر ديوان د يوه قاضي له خوا رهبري کيږي او دغه قاضي د

خپلې مربوطه څانگې د ټولو قضیو مسؤول دی. د سترې محکمې صلاحیتونه د افغانستان په اساسي قانون او همدارنگه د محاکمو د اختیاراتو او تشکیل د قانون په ۲۴ ماده کې روښانه شوي دي. هره پرېکړه چې ستره محکمه یې کوي، باید تسوید او نشر شي، چې عام خلک ترې خبر شي. د افغانستان د اساسي قانون او نورو ناقذه قوانینو پر بنسټ، ستره محکمه د ورسپارل شوو قضایاوو په اړه قضاوت کوي. که چېرې سترې محکمې ته د ورسپارل شوې قضیو په اړه په قوانینو کې حکم نه وي، نو په دې صورت کې ستره محکمه کولای شي د حنفي فقهې له مکتب څخه د ستونزې د حل لپاره کار واخلي.

مخکې له دې، چې قضیه سترې محکمې ته ورسېږي، باید لومړی په اړونده ولسوالۍ یا سیمه کې ابتدائیه محکمې یا قضایي سرچینو ته وسپارل شي او په اړه یې د یو درې کسیز پلاوي ټاکل اړین دي. ابتدايي محاکم هم دموضوع له مخې په بېلابېلو برخو وېشل شوي دي. د افغانستان په هر ولایت کې پنځه ابتدائیه محکمې شته، چې له ولایتي مرکزي ابتدائیه محکمې، د تنکیو ځوانانو ابتدائیه محکمه، د تجارت ابتدائیه محکمه، د ولسوالۍ ابتدایي محکمه او د کورنۍ ابتدایي محکمه څخه عبارت دي.

په ټولیزه توگه، د محاکمو د شمېرو له مخې، ۴۲ سلنه قضیې جزایي، ۳۷ سلنه قضیې مدني، څلور سلنه قضیې د کورني امنیت او اوه سلنه قضیې د سوداگرۍ په اړه محاکمو ته راجع کېږي. د قضیې باېلوونکی اړخ کولای شي، چې صادره شوې پرېکړه ولایتي استیناف محکمې ته راجع کړي. د محاکمو د قانون د ۵۳ مادې له مخې، د ابتدائیه محاکمو پرېکړې په لاندې مواردو کې نهایي گڼل کېږي: کله، چې د دعوې دواړه اړخونه پرېکړه ومني. کله، چې داستیناف طلبۍ وخت پوره شوی وي. کله، چې څمکه د یو لکو افغانیو او تر دې هم کم ارزښت ولري او یا په هغه صورت کې، چې دعوې په دواړو اړخونو پنځوس زره یا تر دې کمه نغدي جریمه کېښودل شوي وي.

کله چې داستیاف غوښتنې لپاره فرصت برابر وي، باېلوونکی لوری کولای شي، د خپل قناعت لپاره استیناف محکمې ته مراجعه وکړي. استیناف محکمه هم د موضوع له مخې په بېلابېلو څانگو وېشل کېږي. نو په دې اساس، بایلونکی لوری باید د موضوع اړونده څانگې ته مراجعه وکړي. په استیناف محکمه پنځه دیوانونه شته، چې د عمومي جزا دیوان، د کورني امنیت دیوان، د ملکي او فامیلي چارو دیوان، دعامه حقوقو دیوان، تجارتي دیوان او د تنکیو ځوانانو د چارو له دیوان څخه عبارت دي. استیناف محکمه کولای شي، د حقوقي دلایلو، شواهدو او واقعیتونو په اساس دابتدائیه محکمې پرېکړه، تایید یا رد او یا یې هم بېرته همدغې ابتدائیه محکمې ته راجع کوي. که چېرې بیا هم باېلوونکي اړخ وغوښتل چې د استیناف فیصلې په اړه بررسي وکړي، نو په دې صورت کولای شي سترې محکمې ته مراجعه وکړي. ستره محکمه د پخوانی محکمې پرېکړه د قانون د احکامو مطابق بررسي کوي.

**په افغانستان کې د محاکمو جوړښت**




**د بحث وړ پوښتنې**

1. په افغانستان کې د محکمو جوړښت څه ډول دی؟ د افغانستان په محکمو کې څو دیوانونه شته؟ د یوه شکایت لرونکي کس، د شکایت د څېړلو لپاره څو پړاوونه امکان لري؟

2. د قضايي محکمې و د تشکیلاتو او واکونو قانون کوم دی؟ دا قانون په څه ډول د افغانستان د محکمو پر جوړښت نافذ او واکمن دی؟

## سوداګريزې محکمې

په افغانستان کې د سوداګرۍ قراردادونو پر سر د راولاړو شويو شخړو د څېړلو، لومړنۍ بنسټ سوداګریزه محکمه ده. د محکمو د واکونو او تشکیلاتو د قانون ٤٥ ماده حکم کوي چې په هر ولایت کې باید یوه سوداګریزه محکمه جوړه شي. د افغانستان ستره محکمه له اداري او تشکیلاتي پلوه، سوداګريزې محکمې په اتو زونونو وېشي. له یادو زونونو څخه یوازې په دوو زونونو (کابل او مزار شریف) کې سوداګريزې محکمې فعالې دي. د کابل او ځينو نورو ښارونو سوداګریزه محکمې په جدي ډول قضاياوې (دوسيې) څېړې، خو په نورو ولایتونو کې سوداګريزې محکمې لا تر اوسه فعالې نه دي. د سوداګريزو محکمو د نشتوالي او یا غیابت په صورت کې د قضايي کړکېچونو په اړه د سوداګرۍ د خصوصي سکتور خونه او دیوان، د قضاوت او حکم صلاحیت لري. د سوداګريزو محکمو د اصول له ملکي محکمو څخه توپير لري چې په بېل قانون کې تسجيل شوی دی. هغه قضاياوې (دوسيې) چې په سوداګريزو اجارو پورې تړلې دي، تر ډېره په سوداګريزو محکمو کې څېړل کيږي، خو هغه قضاياوې (دوسيې) چې د ملکيتونو له نورو برخو لکه د معاملو له ډلې، قباله (قواله)، د ملکيت لېږد يا سپارنه او له رهن سره تړلې دي، تر ډېره د عمومي قضايي محکمو له لوري څېړل کيږي.

## د سوداګريزو محکمواصلاح

په افغانستان کې زيات شمېر سوداګريز کړکېچونه، د سوداګريزو محکمو د واک له پولې بهر حل او څېړل کيږي. په حقيقت کې ډېری سوداګر، سوداګريزو محکمو ته له تګ څخه ډډه کوي. ددې لپاره چې سوداګريز محکمې د افغانستان په حقوقي سيستم کې ارزښتناکه رول ولري، بايد ددې محکمو پروړاندې پرتې ستونزې ليرې شي. ددې محکمو قضايي پرېکړو ته بايد لاسرسي موجود او د عامو خلکو د خبرتيا وړ وی ترڅو راتلونکې قضايي پرېکړې د خلکو لخوا و ارزول شي او په راتلونکې کې د ورته پرېکړو د پايلو څرنګوالي د وړاندوينې وړ شي. سربېره پردې د سوداګريزو محکمو اوسنې کارکوونکې او آسانتياوې بايد ښې

شي او نوي سوداګريزې محکمې جوړې شي. اوسنی سوداګريزې محکمې د قضيو(دوسيو) د ليکلو او نظم د ساتلو د مامورينو له کموالي سره مخامخ دي او ډيری قاضيان چې د پېچلو سوداګريزو معاملو او ورڅخه د راولاړو شويو شخړو په اړه پرېکړې کوي، په اړينو ښوونيزو پروګرامونو کې ګډون نه دی کړی. تردې مهاله د قضائيه ښوونيزو پروګرامونو په اړه چې وکولای شي قاضيان د خپلو کارونو ترسره کولو ته اماده کړي، ډېر ابتدايي ګامونه اخيستل شوي دي. دغه راز په شپږو اداري زونونو کې چې د فعالو محکمو له کموالي سره مخ دي، د شپږو سوداګريزو محکمو جوړېدل، په پلان کې دي. يو ځل چې دا سوداګريزې محکمې فعالې شي او خپلې رښې او د وړاندوينې وړ پرېکړو په کولو پيل وکړي، نو دا برخه به زياتې پانګونې ته اړتيا ولري.

سره له دې ددغو محکمو تمويل د يوې جدي ستونزې په توګه پرځای پاتې ده. د سوداګريزو محکمو د سيستم رامنځته کول، د دولت او بهرنيو تمويلوونکو بنسټونو، لوېې پانګونې ته اړتيا لري. حتی د افغانستان د محکمو په اوسني جوړښت کې، هغه حق الزحمه چې د سوداګريزو محکمو له خدمتونو د ګټې اخيستنې لپاره ټاکل شوي دي، د هغو کسانو پروړاندې چې غواړي له دغو خدمتونو څخه ګټه واخلي، د يوه اساسی او بالقوه خنډ ګڼل کيږي.

که چېرې د افغانستان حکومت له سوداګريزو فعاليتو څخه د مالياتو د اخيستو له لارې، د سوداګريزو محکمو د تمويل لپاره اړين مالي امکانات برابر کړي وای، نو په هغه صورت کې په سوداګرو کې به له سوداګريزو محکمو د ګټې اخيستنې انګيزه ډېره اوچته شوې وه، ځکه چې د قرارداد د انفاذ (پلي کېدو) او د سوداګريزو شخړو د حل لپاره د يوې سمې او ډاډمنې سرچينې په جوړېدو سره به په داشان سوداګريزو فعاليتونو کې په احتمالي توګه ډېروالی راغلی وای. تراوسه څرګنده نه ده، چې په ټول هېواد کې به د سوداګريزو محکمو د سيستم د پلي کولو لپاره مالي امکانات او روزل شوي قاضيان برابر شي او که نه؟

سربېره پردې، په هغو ولايتونو کې چې د سوداګريزو محکمو له کموالي سره مخ دي، پرته له دې چې قضاياوې (دوسيې) د نورو ابتدايه محکمو او يا هم د ځينو کرنلارو او غير رسمي سرچينو لکه سيمه ييزو شوراګانو له لارې حل شي، بله لاره نشته. نو اړينه ده چې دولت په سوداګريزو محکمو کې د هغو قاضيانو کميت او کيفيت ډېر کړي، چې په شرايطو برابر دي او د بانکوالی، انرژۍ، سهامي شرکتونو او د ديوالي کېدو د قانون په برخه کې تخصص لري. پردې سربېره سوداګريزې محکمې بايد د سوداګريزو دعواوو د حل لپاره کاري او عملي کړندود (کاري تګلاره) برابره کړي.

ان په هغو ولايتونو کې چې سوداګريزې محکمې جوړې شوې دي، تر اوسه دا څرګنده نه ده چې په سوداګريز بنسټونو کې دا باور رامنځته شوی او که نه؟ چې دغه بنسټ د خپلو سوداګريزو شخړو د حل بنسټ وګڼي. په ۲۰۰۵ کال کې د نړيوال بانک لخوا په ترسره شوې سروې کې دا څرګنده شوه چې په تېرو دوو کلونو کې يوازې ۳۳۵ بنسټونه يا شرکتونه د پيسو د شخړو د حل په موخه سوداګريزو محکمو ته ورغلي دي.

لکه څرنګه چې تر سترګو کيږي، له ۲۰۰۵ کال راهيسې په ځينو خواوو کې وضعيت يو څه ښه والی موندلی، خو تر اوسه څرګنده نه ده چې سوداګريز بنسټونه ترکومه بريده پر سوداګريزو محکمو باور لري. داسې ښکاري چې د سوداګريزو محکمو د کار موثريت هغه مسايل دي چې بايد ورته پام وشي.

د راپورونو له مخې، هغو درېو شرکتونو چې د خپلو سوداګريزو شخړو د حل په موخه سوداګريزو محکمو ته ورغلي، ويلي دي چې د هغوی قضيو (دوسيو) ته په منځني ډول په ۳٤ اوونيو کې رسېدنه شوې ده. خو يو مثبت ټکی دادی چې ياد شرکتونه د سوداګريزو محکمو له پرېکړو خوښي او رضايت څرګند کړی دی. د سوداګريزو محکمو ستونزو ته په کتو سره، به دومره د حيرانتيا خبره نه وي چې ۸۰ په سلو کې سوداګريزې شخړې په افغانستان کې د شوراګانو او يا نورو غير رسمي سيستمونو له لارې حل کيږي.

**د بحث وړ پوښتنې**

- په افغانستان کې د محکمو جوړښت څه ډول دی؟
- د سوداګریزو محکمو او نورو ملکي محکمو ترمنځ په افغانستان کې کوم توپیرونه شتون لري؟ او دا توپیرونه څومره د ارزښت وړ دي؟
- ځینې هغه ستونزې چې افغانستان سوداګریز محکمې ورسره مخامخ دي کوم دي؟ او دا ستونزې څنګه کولای شي د شخړو د حل په موخه، د سوداګرو پر پرېکړو تاثیر او نفوذ وکړي چې محکمو ته ولاړ شي او یا ولاړ نه شي؟
- تاسې دا ستونزې څنګه حل کولای شئ؟

## هـ د قانون جوړونې ځانګه

ملي شورا د قانون د تصویب، تعدیل، لغوې او همداراز د دولتي بودیجې دتصویب مسوولیت پر غاړه لري. دا شوار هم په دوو مجلسونو وېشل شوې ده: ولسي جرګه او مشرانو جرګه. ملي شورا په اوسني افغانستان کې د قانون جوړونې رکن دی. ددې لپاره چې یو قانون اجرایي بڼه پیدا کړي، باید د ملي شورا لخوا تایید او تصویب او د ولسمشر لخوا توشیح شوې وي. همداراز د ولسي جرګې د رخصتیو پرمهال، ولسمشر هم کولای شي د خپل اجرایي فرمان له مخې یو قانون تصویب کړي. وروسته له دې چې ملي شورا بېرته خپله کاري دوره پیل کړي، کولای شي د ولسمشر فرمان لغو یا تعدیل کړي.

د ولسي جرګې غړي په هرو پنځو کلونویو ځل ټاکل کیږي، او د هر ولایت د استازیو شمېر د هغه نفوس په تناسب ټاکل کیږي. ولسي جرګه د ۲٤۹ غړیو درلودونکې ده، خو مشرانو جرګه، ۱۰۲ غړي لري، له درې برخو یې یوه برخه له ولایتي شوراګانو، بله برخه د ولسوالی له شوراګانو او پاتې برخه د ولسمشر لخوا انتصابیږي. ولسي جرګه د هغو نوماندانو د رد یا تایید ځانګړی صلاحیت لري، چې د ولسمشر لخوا وزارتونو او سترې محکمې ته وراپېژندل کیږي. د ملي شورا دواړه مجلسونه، د بېلابېلو کمېټو درلودونکي دي، چې هره یوه یې د سوداګرۍ په قانون پورې اړونده موضوعاتو سره سروکار لري.

**د ملي شورا جوړښت او تشکیلات:   مشرا نو جرګه او ولسي جرګه**



**د بحث وړ پوښتې**

- ❖ ملي شورا څه ته وايي؟ دا شورا څنګه تشکیلیږي؟ ددې شورا واکونه کوم دي؟
- ❖ دې شورا د افغانستان د تجارتي قانون په جوړېدو کې څه رول درلود؟

## و. د ا فغانستان بانک

د افغانستان بانک، د افغانستان مرکزي بانک دی. د افغانستان داساسي قانون په ۱۲ ماده کې راغلي دي:

(( دافغانستان بانک، د دولت مرکزي بانک او خپلواک بنسټ دی. د پیسو خپرول، د هېواد د پولي سیاست طرح او پلي کول، د قانون له حکمونو سره سم د مرکزي بانک واک دی. مرکزي بانک د پیسو په چاپولو کې د ولسي جرګې د اقتصاد له کمیسیون سره مشوره کوي. ددې بانک جوړښت او د کار ډول د قـانون له لیارې تنظیمیږي ))

د افغانستان بانک د ۲۰۰۳ کال قانون، مرکزي بانک ته واک ورکوي چې د افغانستان د پیسو بهرنی پالیسي وټاکي، تعریف او پلی یې کړي؛ بانک نوټونه او فلزي سکې نشر کړي، د افغانستان د بهرنیو پیسو د زېرمو رسمي اداره وساتي او نورو بانکونو ته چې د افغانستان په هره برخه کې موقعیت لري، د بانکدارۍ جواز لیکونه صادر کړي او ددې بانکونو چارې تنظیم او ترې څارنه وکړي. د افغانستان بانک ته پوره قانوني، عملیاتي او اداري خپلواکي ورکړل شوې، چې له دولت څخه په خپلواکه توګه خپلې موخې تعقیب کړي. بانک مکلف دی چې د حساب ورکونې د تأمین په موخه، د ورسپارل شویو چارو په اړه دوره یي راپور جوړ او پارلمان او عامو خلکو په واک کې یې ورکړي.

## ز. د افغانستان د پانگونې د ملاتړ اداره (AISA)

د افغانستان پانگونې د ملاتړ اداره (AISA)، یو له مهمو بنسټونو څخه ده چې په افغانستان کې د کورنی او بهرنی سوداگری د تشکیل او ثبتولو مسوولیت پرغاړه لري. د خصوصي پانگونې د قانون له مخې چې په ۲۰۰۵ کال کې تصویب شو، د ایسا اداره جوړه شوې، چې د پانگونې عالي کمیسیون (HCI) ته ځواب ورکوونکې ده. د ایسا اداره په سوداگریزو محکمو کې د ډېریو شرکتونو د ثبت او راجستر زمینه برابروي، د پانگونې جواز لیکونه صادروي او د جوازلیکونو ارشیف له ځان سره جوړوي او ساتي.

لاندې فعالیتونه او اقدامات د ایسا مسوولیتونه جوړوي: بېلابېلو سوداگریو ته اجازه ورکول، د جوازلیکونوا او رسمي تاییدي اسنادو پلټل، پانگه والو ته د پانگونې د قانون او مقررو، مالیه ورکولو، د کاري ځواک، بیمې، د ژوندانه چاپېریال د قوانینو او مقرراتو په هکله د معلوماتو چمتو او وړاندې کول او همداشانې په افغانستان کې د بې سارو جوړښتونو په اړه د معلوماتو ورکول. همداراز د بانکدارۍ، د کاري ځواک بیه، په افغانستان کې پانگونې ته د هڅوونکو امتیازاتو د موجودیت په اړه معلومات ورکول، د غیر منقول ملکیتونو د حاصلولو او اجاره اخیستلو په برخه کې له سوداگرو سره مرسته، پانگونې سره داړونده وارېدونکو توکو او تجهیزاتو په اړه د گمرکي حسابونو په ورکولو (تصفیه) کې سوداگرو ته د آسانتیاوو برابرول، د خبري کنفرانسونو له لارې په افغانستان کې د پانگونې د موخو په اړه د علمي سمپوزیمونو، په افغانستان کې د بهرنیو سفارتونو او په بهر کې د افغانستان د سفارتونو له لارې د اعلامیو تصویب او خپرول.

د افغانستان د پانګونې د ملاتړ اداره (AISA): تشکیلاتي جدول




**د بحث وړ پوښتنې**

- د افغانستان بانک څه شی دی؟ ددې بانک چارې د کوم حقوقي ر رژیم پر بنیاد اداره کیږي؟ ددې بانک واکونه کوم دي؟
- په افغانستان کې له پانګونې څخه د ملاتړ اداره څنګه اداره ده؟ ددې اداري د جوړېدو موخه څه ده؟د آیسا تشکیلاتي جوړښت څه ډول دی؟

## ۴– په افغانستان کې غیر رسمي سوداګریز بنسټونه

د ډېریو سرچینو د راپور له مخې، په افغانستان کې له ۸۰ – ۹۰ سلنې ډېر اقتصادي فعالیتونه، د غیر رسمي سکتور له مخې ترسره کیږي او د افغانستان شاوخوا ټول مالي او اعتباري معاملې په غیر رسمي سکتور کې پرمخ بېول کیږي. غیر رسمي اقتصاد معمولاً هغو اقتصادي فعالیتونو ته ویل کیږي چې د مالیې د ورکولو او له دولتي مقرراتو څخه د پیروي په موخه له دولت سره ثبت نه وي. یا په بل عبارت، غیر رسمي اقتصاد هغو ځانګړیو فعالیتونو ته ویل کیږي چې په رسمي سکتور کې مخ ته وړل کیږي، خو د

دولت له مقرراتو تېښته کوي او یا ورڅخه پیروي نه کوي. د غیر رسمي اقتصاد تعریف په دې پورې اړه لري چې تر کومه بریده زموږ د نظر وړ فعالیت په دولت کې ثبت دی او چارې یې د دولت د مقرراتو له لورې تنظیمیږي، نه دا چې هرڅومره چې یو اقتصادي فعالیت له رسمي سکتور څخه لیرې وي، غیر رسمي اقتصادي فعالیت وګڼل شي.

## الف. د حوالې له لارې بانکوالي

له ۲۰ کاله جګړې وروسته، د افغانستان رسمي مالي سکتور اوس د بیارغېدو په حال کې دی. جګړې او کورنۍ جګړې په دې هېواد کې د کورنۍ او بهرنۍ تادیې (پرداخت) د سیستم د له منځه تللو لامل شوې او په هېواد کې یې عملاً د پور ورکولو ټول فعالیتونه په ټپه درولي؛ د بانکي امانت د ترلاسه کولو په فعالیتونو کې د پام وړ کموالی راغی او له نړیوالو بانکونو سره د افغانستان ټولې اړیکې وشلېدې. د طالبانو د حکومت پرمهال د مالي خدمتونو د وړاندې کولو او تدارک قطع کېدل، کله چې افغانستان د نړیوالې ټولنې لخوا تر اقتصادي تحریم لاندې وو، ډېر زور وموند. د بانکدارۍ د سالم او رسمي سیستم د نه شتون له اامله په افغانستان کې یو پراخ او فعال غیر رسمي مارکېټ رامنځته شوی دی. په واقعیت کې افغانستان له تېرو سلو کلونو راهیسې د مالي خدمتونو په برخه کې په غیر رسمي مالي سکتور تکیه درلوده.

حواله داران یا د پیسو صرافان، د غیر رسمي بانکدارۍ او مالي خدماتو منظم سیستم په ټول هېواد کې برابروي. په عربي ژبه کې ((حواله)) د لېږد په معنی ده. په آسانۍ سره ویلای شو چې د حوالې معامله (حواله داري) عبارت دی د پیسو د لیږدولو څخه چې د اصلي کس یا مشتریانو لخوا غوښتنه کیږي او په اړونده هېوادونو کې د حوالې د برابروونکو لخوا ترسره کیږي. د کابل د صرافۍ مارکیټ چې اوسمهال پکې د ښار ډېر حواله داران فعالیت کوي، لږ ترلږه ۸۰ کلنه تاریخچه لري.

هغه صرافان چې په دې مارکېټ کې فعالیت کوي، په سنتي ډول له ډېرو کلونو راهیسې سوداګرو ته د بانکدارۍ، د خارجي پیسو د تبادلې، کورنۍ او بهرنۍ لیږدونې او د سپارل شویو پیسو د ترلاسه کولو یو لړ خدمتونه برابروي چې په دې وروستیو کې خپلو مشتریانو ته د ارتباطي اسانتیاوو لکه سټلایټ، فاکس او برېښنالیک خدمتونو هم برابروي. اوسمهال په دغه مارکېټ کې له ۳۰۰ ډېر راجسټر شوي صرافان فعالیت کوي. د اټکلونو له مخې په کابل او نورو ولایتونو کې د غیرقانوني او نه راجسټر شویو صرافانو، شمېر له ۵۰۰ څخه تر ۲۰۰۰ تنو پورې ده. صرافان مکلف دي چې خپله سوداګري د افغانستان بانک د نړیوالو چارو له ریاست سره ثبت کړي.

له بده مرغه د هغو کسانو لخوا چې د پیسو د تطهیر (Money laundering) او د مالي تروریزم په لټه کې دي، د حواله دارۍ سیستم په ډېرې آسانۍ سره زیانمنېدای شي. د حواله دارۍ له سیستم څخه ناوړه ګټه اخیستنه د هغو کسانو لخوا چې ترهګري تمویلوي، څه وخت مخکې په جدي توګه د رسنیو د پام وړ ګرځېدلې وه. د حواله دارۍ په سیستم کې د پیسو د لیږدوونکو او یا ترلاسه کوونکو هویت په ډېرې آسانۍ سره پټېدلی شي او دا وضعیتددې لامل کیږي چې ترهګر او مجرمان په آسانۍ سره وکولای شي خپلې پیسې ولیږدوي او یا هم په لویه کچه پیسې تطهیرکړي او په پایله کې جرم وکړي.

د پیسو د رسمي او غیر رسمي لیږدونې په منځ کې بنسټیز توپیر، په ځینو اسنادو او مدارکو پورې اړه لري چې هر یو یې له مشتریانو څخه ترلاسه کوي. مجرمان او ترهګر په رسمي مالي سیستم کې د پیسو د تطهیر له لارې له ځانه ځینې اسناد او شواهد پرځای پرېږدي چې د قانون د پلي کوونکو بنسټونو لخوا ددوی د جرمونو د

کشف او څېړلو په برخه کې هغوی زیانمنوي، په دې توګه اړونده بنسټونه کولای شي چې هغوی تعقیب کړي.

## ب. د غیررسمي اعتباري معاملاتو (Credit) کړندودونه

د ټولنیز، سیاسي او تاریخي بېلابېلو دلایلو له مخې، د افغانستان اقتصاد تر ډېره برېده غیر رسمي اقتصاد بلل کیږي چې د هغو بنسټونو، شبکو او اړیکو تر تاثیر لاندې دي چې له دولت سره راجستر نه دي او د دولتي مقرراتو تابع نه دي. سره له دې هم، دا (درسي کتاب) له پیل څخه تر پای پورې رسمي سیستم تر غیر رسمي سیستم غوره بولي؛ ځکه چې رسمي مالي سیستم له هغو بنسټونو ګډل کیږي چې له مخې یې دافغانستان نوی دولت رامنځته شوی دی. نو له دې امله د مالي اعتبار سکتور (Credit) د افغانستان د ټولنې د لومړنی تاریخي دورې له بېلګو څخه دی چې په آسانی سره نشو کولای پکې رسمي سیستمونه له غیر رسمي سیستمونو بېل کړو او پېچلتیا یې حل کړو.

د اعتبار یا رسمي پور (Credit) مفهوم په آساني سره کولای شو چې داسې پورونه په پام کې ونیسو او پوه شو چې ویشل کیږي او د قوانیو او قواعدو د نظام په اساس بېرته ورکول کیږي. د رسمي پورونو سرچینې د مالي بنسټونو لکه بانکونو، غیر دولتي سازمانونه (چې وړې قرضې ورکوي) او ان دا چې خپله حکومتي بنسټونه ګرځي. له بله پلوه غیر رسمي پور/اعتبار هغه پور دي چې له منظمو قانوني پولو بهر ورکول کیږي یا اخیستل کیږي او له همدې امله داشان یو زیات شمېر معاملې د څارلو وړ نه دي. غیر رسمي اعتباري معاملې/ پور ورکونې تر ډېره د دوستانو، خپلوانو او د نورو ټولنیزو اړیکو له مخې صورت نیسي او دا معاملې هغه کړندودونه دي چې ډېر افغانان خپل د اړتیا وړ مالي اعتبار ته لاسرسی پیدا کولای شي. د غیر رسمي مالي اعتبار راکړه ورکړه / پور ورکول د (( لوړې درجې انعطاف پذیری)) پر اساس توصیف کېدای شي چې هم د معاملاتو په رامنځته کېدو او هم د پورونو د بېرته سپارلو په شکل او کړنلارو کې څرګند دي.

مذهبي او اخلاقي مکلفیت چې اړو خلکو د لاس نیوي لپاره چې په اسلامي تعلیماتو کې راغلي دي یو له هغو عواملو او هڅوونکو څخه دی چې په افغانستان کې د غیررسمي پورونو/ مالي اعتبار د شتون زمینه برابروي. همداراز د غیر رسمي پور ورکولو سیستم تر ډېره پر ټولنیزو اړیکو ولاړ دی چې د معاملې د خواوو ترمنځ موجود دی او سربېره پردې د پورونو د بېرته سپارلو لپاره غالباً موده نه ټاکل کیږي او معمولاً ټولنیزو اړیکو ته د احترام په خاطر، په ځینو کمو مواردو کې د پور په بېرته سپارلو کې غفلت، د دواړو لوریو پر اړیکو ډېره بده اغېزه کوي.

په عمومي ډول په اکثرو مواردو کې د معاملې د لوریو ترمنځ د ټولنیزو تړاوونو ساتنه، د سوداګرۍ پر اصلي ماهیت غوره والی مومي او له دې کړندودونه څخه په ګټه اخیستنې دواړه لوري غواړي چې په راتلونکې کې د اړتیاوو د پیداکېدو په صورت کې د ځان لپاره د پور اخیستو او مرستې زمینه او لاره تضمین کړي. په پایله کې پور ورکوونکي معمولاً هغه مهال چې پیسو د ورکړې توان ولري، ورکوي او پور ورکوونکي هم دغه ډول چلند او مقدمې په دې هیله مني چې که په راتلونکې کې خپله له ورته ستونزو سره مخ کیږي او د پیسو قرض اخیستو ته اړتیا پیداکوي، وشي کولای په زغم سره له مقابل لوري ګټه واخلي.

په افغانستان کې د نړیوالو خیریه ټولنو ترمنځ دا باور چې په افغانستان کې د مالي پورونو ویش ته جدي تقاضا شتون لري ( او دې برخې ته پاملرنه نه ده شوې) د ځانګړي ډول رسمي قرضې د پراختیا او ترویج لامل شوی چې د وړو پورونو ورکړه ده. سره له دې یوځه چې باید هېر نه شي، دا باور چې د وړو پورونو ورکړه کېدای شي د غیر رسمي پورونو د ورکړې ځای ناستی شي، ډېر ساده باور دی.

په داسې حال کې چې واړه پورونه د نوښتونو او کارونو رامنځته کولو د هڅو د تمویل په موخه ورکول کیږي. یو لړ څېړنې چې د افغانستان د څېړنې او ارزونې د واحد (AREU) لخوا ترسره شوې، دا حقیقت څرګند کړی چې غیر رسمي پورونه په هېواد کې د پانګې د ډېرېدو یا د وړې سوداګرۍ د رامنځته کولو لپاره ترې کار واخیستل شي، زموږ د تصور پرخلاف ترډېره د افرادو د لګښتونو او بیړنیو اړتیاوو د پوره کولو لپاره ترې ګټه اخیستل کیږي. غیر رسمي پورونه چې په غالب ګمان ډېر وختونه د

لګښتونو د تامین او په ځانګړې توګه مشخصو پېښو لکه ودونو ته د تیارۍ نیولو او د کورنیو د یو لړ هغو اړتیاوو د پوره کولو په موخه په هغو فعالیتونو لګول کیږي چې ګټه ترې لاس ته نشي راتلای.

دوه نورې مفکورې چې وایي د رسمي پورونو سیستم کېدای شي چې د غیر رسمي پورونه یو ښه بدیل وي، د غیر رسمي پورونو سیستماتیکې او نظام مندې ګټې په پام کې نه نیسي، او یا هغه ته ژوره کتنه نه لري، ځکه د غیر رسمي پورونو انعطاف، د هغه موجودیت او د خلکو د مالي اړتیاوو د پوره کېدو په برخه کې د نسبي مالي خطر نشتوالی د دغه ډول پورونو له مهمو ځانګړتیاوو څخه دي. په حقیقت کې که چېرې تاسې هغه بحث په یاد ولرئ چې د تضامني معاملاتو په اړه مو درلود نو تاسې ته به روښانه شي چې د رسمي پور د تر لاسه کولو د یو شرط په توګه د وثایقو په لاس کې لرل، تر یوې زیاتې اندازې بې وزله او بې ځمکې کسان له رسمي پورونو بې برخې کړي دي.

د دې ترڅنګ د یادو شوو څېړنو پایلې ښيي چې واقعیت دادی چې د پور ورکولو رسمي او غیر رسمي سیستمونه په موازي توګه د بې برخې شوو کسانو د اړتیاوو د پوره کولو لپاره فعالیت کوي. د شواهدو له مخې ادعا کولای شو چې په حقیقت کې د وړو پورونو رسمي سیستم د غیر رسمي پورونو پرسیستم د پارازیت په توګه فعالیت کوي. له دې امله چې د رسمي پورونو په چوکاټ کې پور اخیستونکي د تقسیم اوقات او محدودیتونو سره مخامخ وي یو ځل بیا غیر رسمي پورته مخه کوي تر څو د رسمي ارګانونو په وړاندې خپل مالي مکلفیتونه چې د هرې ورځې په تېرېدو سره زیاتېږي، ادا کړای شي.

**د بحث وړ پوښتنې**

- ❖ ایا فکر کوئ امکان ولري چې په افغانستان کې د رسمي او غیر رسمي پور ورکولو سیستمونو ترمنځ وفق رامنځ ته کړو؟
- ❖ ایا تاسو کولای شئ چې په افغانستان کې نورې داسې برخې په ګوته کړئ چې په هغو کې هم د رسمي او غیر رسمي سیستمونو ترمنځ ټکر شتون ولري.؟
- ❖ ایا هغه ټکي چې د کتاب په دې برخه کې د دواړو سیستمونو ترمنځ د پېچلو اړیکو په اړه راغلي او یا مطرح شوي دي، کولای شي په یوه ډول ستاسو تصورات او برداشتونه (اخیستنې) ته په افغانستان کې د رسمي او غیر رسمي بنسټونو په اړه بدلون ورکړي؟ په کومو چلندونو؟

## ۵ – د څېرکي نتیجه ګیري

په دې څېرکی کې د افغانستان د تجارتي قانون چوکاټ په هغه ډول چې موجود دی تر ارزونې لاندې نیول شوی دی. په دې څېرکی کې بحثونو اساساً د افغانستان د رسمي سکتور لکه سوداګریزې محکمې، ددې هېواد وزراتونه او ملي شورا په اړه تمرکز درلود. همداراز د افغانستان نوی اساسي قانون او نور قوانین چې په یادو بنسټونو پلی او نافذ دی، تر څېړنې لاندې نیول شوي دي. په دې څېرکی کې څرګنده شوې ده چې اوس هم په افغانستان کې په اټکلیز ډول ۸۰ سلنه سوداګریزې شخړې د افغانستان د رسمي حقوقي بنسټونو بهر حل کیږي. د مطالعاتو او څېړنو شمېرې، ددودیزو کړنلارو او لارو چارو، لکه شریعت، د غیر رسمي پور ورکولو د سیستم او حوالې له لارې بانکدارۍ ارزښت روښانه کړی دی.

هغه مواد او مطالب چې په دې څېرکی کې وړاندې شول، په راتلونکو څېرکیو کې به په تفصیل سره تحلیل او و ارزول شي. تاسې به ددې مسالې په پوهېدو سره چې د افغانستان بنسټونه او سوداګریز قوانین باید څنګه فعالیت وکړي او په عمل کې څنګه

فعالیت لري، وتوانیږئ چې د قرارداد قانون، د شرکت قانون او نور موضوعاتو په اړه چې ددې کتاب په راتلونکو فصلونو کې راوړل شوي دي، په ښه توګه درک کړئ.

# اخځليکونه


بي نيټ اچ ال، ادم؛ دافغانستان بيارغونه، د پيسو نړيوال صندوق، چاپ، ۲۰۰۵ کال.

د افغانستان د ۱۹۵۵ ميلادي کال تجارتي اصولنامه

د سهامي شرکتونو او محدودلمسوليت شرکتونو قانون، ۲۰۰۷ کال

د افغانستان د ۲۰۰۵ کال د پانګونې قانون

دافغانستان حقوقي تعليمي پروژه، نشر ۲۰۰۸ ميلادي کال

د افغانستان د مشارکت قانون، تصويب ۲۰۰۷ ميلادي کال

پاترسن، ان نا، په چارو کې نا سم ترتيب او پای، په افغانستان کې اقتصادي خصوصي کول او سمونه، دافغانستان د تحقيقاتو او ارزونې واحد (AREU)، چاپ ۲۰۰۶ ام کال

د بن پريکړه، چاپ ۲۰۰۱ ميلادي کال

د افغانستان نوی اساسي قانون، چاپ ۲۰۰۴ ميلادي

فلورتجه کلين او ادم پين، دپيسو پيداکول، د افغانستان په لرې سيمو کې د غيررسمي پورونو ورکولو لارې چارې، دافغانستان د تحقيقاتو او ارزونې واحد (AREU)، چاپ ۲۰۰۷ ام کال

تي ير، جي. الکساندر؛ د افغانستان راتلونکي،چاپ،۲۰۰۹ ميلادي

موسيج تاغي، رامن؛ د افغانستان د نوو تشکيل شوو قضايي محکمو اختيارات، د افغانستان عدالتي رسمي سيتستم د بن له پريکړې سره سم، چاپ ۲۰۰۵ميلاد

مايم بو، ساموېل مونزيله، دکابل اسعاربدلوونکي، د افغانستان دحواله داری سيستم په اړه مطالعه، نړيوال بانک، چاپ ۲۰۰۳ ميلادي

سارا ليستر و ادم پين؛رونق درتجارت: په افغانستان کې دآزاد بازار سياست، دافغانستان د تحقيقاتو او ارزونې واحد (AREU)، چاپ ۲۰۰۴ ام کال

سارا ليزر ز او زين الدين کاريف؛ په افغانستان کې دمارکيټ فهم او درک؛ AREU، چاپ ۲۰۰۴ ام کال

USAID؛ افغانستان د عملکرد ځای: د پانګونې او سوداګری پرمختايي چاپيريال،چاپ،۲۰۰۷ ميلادي کال

د امريکا بهرنيو چارو وزارت، د ۲۰۰۸ کال سوداګريز رهنمايي: افغانستان، چاپ ۲۰۰۸ ميلادي کال

نړيوال بانک، په افغانستان کې دپانګونې حال او حالت، چاپ ۲۰۰۵ميلادي کال.

# څلورم څپرکی: قراردادونه

## ۱– سریزه

**مطالعې تمرکز**

په یوه سوداګریزه معامله کې د قراردادونو اغیزه څه ده؟ د یوه اقتصاد په پرمختیا کې د قراردادونو رول څومره اهمیت لري؟ ولې د قراردادونو  پلي کول مهم دی؟

اسد هغه ډوډۍ پخوونکی (نانوای) دی چې د هرات ولایت په یوه واړه کلي کې ژوند کوي. هغه د خپل ورور حمید الله او وراره نجیب الله سره یو ځای، د ډوډۍ د یوه پخلنځي خاوند دی. ټول په ګډه سره خپل کارونه په ښه شان سرته رسوي، اسد هره ورځ د ټولو خلکو د اړتیا وړ ډوډۍ پخوي، نجیب الله د پیروودونکو چارو ته رسیدنه کوي او حمید هره ورځ، پخلنځي ته نږدې د اوړو د یوې وړې کارخانې څخه د پخلنځي لپاره اوړه رارسوي. اسد د خپل پخلنځي او د هغه د اړینو چارو د پرمختیا او فعاله ساتلو په موخه، د خپل ورور او وراره په کوښښونو او هڅو باندې له اندازې زیات حساب کوي. هغه خوشاله دی او وایي چې د دې اړتیا نه شته چې په یوه نامعلوم او پردي کس باندې چې په سوداګریزو چارو نوی ګام ږدي، تکیه وکړي او هغه ته اجازه ورکړي څو د نوموړي په سوداګرۍ کې لاسوهنه وکړي. سربیره پر دې، یوه ورځ حمید تصمیم نیسي چې خپل ټاټوبي او د زیږیدلو ځای یعنې کندهار ته ولاړ شي. هغه خپله د اوړو کارخانه خرڅوي څو وکولای شي د کندهار په ښار کې د خپل ځان او نجیب الله د ژوند تیرولو لپاره یوه حویلۍ واخلي. نو اوس اسد نه شي کولای څو د پخلنځي چارې په یوازې توب سره پر مخ بوزي او هغه د تصمیم نیولو په یوه سخت پړاو کې قرار لري. نوموړی د سختې اړتیا له مخې غواړي د پخلنځي لپاره د اوړو  یو نوی ویشونکی او کار کوونکی پیدا او د هغه سره قرارداد لاسلیک کړي او یا هم د پخلنځي چارې په بشپړه ډول ودروي او وبې تړي.

هغه له زیات ځنډ فکر کولو وروسته تصمیم نیسي ترڅو د اوړو نوی ویشونکی او تهیه کوونکی  پیدا کړي، حمید هغه عبدل سره د اوړو د پلورنځي یو نوی خاوند دی، معرفي کوي. . خو دا چې اسد عبدل ښه نه پیژني، نو هغه نه پوهیږي چې آیا دغه نوی اوړه خرڅوونکی د اعتماد وړ کس دی که څنګه؟ د اوړو په ویشلو کې ناکامي او کمي کولای شي د اسد سوداګرۍ ته د پام وړ لوی تاوان واړوي او د دې لامل وګرځي چې اسد یوه ورځ د سوداګرۍ له ګټې په بشپړه توګه بې برخې شي او همدا ډول د هغه پیرودونکي او مراجعین ورڅخه ناخوښه وګرځي. هر څومره چې عبدل ټینګار کوي چې هغه د صادق او د اعتماد وړ سوداګر دی، خو حمید بیا هم د هغه په اړه یو څو پوښتنې او کتنې لري او په آسانۍ سره نه شي کولای څو د یوه پردي او نامعلوم کس سره د معاملې د ترسره کولو تصمیم ونیسي.

**د بحث  وړ پوښتنې**

داسې وګڼئ چې تاسو د حمید پر ځای یاستی. د پنځو هغو غوره ستونزو او تشویشونو په اړه فکر وکړی چې ستاسو او د عبدل د سوداګرۍ او راکړې ورکړې په اړه مو په ذهن کې راګرزي. که تاسو د حمید پر ځای وای، نو په دغې معامله کې به مو د خپلو ګټو د ساتنې او پاینښت لپاره څه ترسره کړي وو؟

اساساً، ترڅو پورې چې اسد د عبدل له لورې د سوداګرۍ یا بیزنیس په اړوند د ژمنو د تر سره کولو په هکله باور تر لاسه نه کړي، د هغه سره د کار او بار کولو په هکله زړه نا زړه دی. . همدا ډول اسد د هغو ستونزو په اړه چې امکان لري یوه ورځ د

ناوړه تفاهم پر اساس د دواړو ترمنځ رابرسیره شي، د ستړیا او خفګان احساس کوي. د بیلګې په ډول، اسد هره شپه مخکې له دې چې خپل پخلنځي وتړي، باید د اړتیا وړ اوړه پیدا کړي او د سبا لپاره ډوډۍ پخه کړي. اوس که عبدل آن یو څو ګنټې د اوړو په ویشلو کې وروسته والی وکړي، اسد نه شي کولای په پخلنځي او ګدام کې اوړه پیدا کړي او په پایله کې اسد د وړوکې سوداګرۍ د راتلونکې ورځې ګټه له لاسه ورکوي، ځکه هغه نه شي کولای څو په راتلونکې ورځ کې د پیرودونکو لپاره څه تیار کړي، همدا ډول اسد په دې فکر کې دی چې که عبدل د خپلو وعدو سره سم په کړنو کې ناکام او پاتې راشي، هغه نه شي کولای چې عبدل په سوداګرۍ کې د رامنځ ته شوي تاوان د مسوول په توګه په نښه کړي.

په هغه کلي کې چې دوی هلته فعالیت ترسره کوي، په معمولي ډول سوداګریزې چارې او شخړې د شورا له لارې پرې کیږي. نو په داسې شرایطو کې، دغه مسأله د شورا په غړو پورې چې د یاد شوي کلي له مشرانو او لویانو څخه جوړه شوې ده، اړه نیسي. نوموړې شورا لومړی هغې قضیې ته رسیدنه کوي چې د قرارداد او معاملې د لوریو له خوا دوی ته راجع شوې ده او بیلابیل اړخونه یې څیړي او له هغو وروسته تصمیم نیسي چې آیا د دواړو لوریو ترمنځ مخکې دغه ډول موافقې ترسره شوې دي، آیا د دواړو لوریو د موافقې سره سم یو لوری د مکلفیتونو په پلي کولو او اجراء کې پاتې راغلی دی. که شورا دا پیدا کړي چې د قرارداد او معاملې یو لوری د خپلو مکلفیتونو او مسوولیتونو په اجراء کې پاتې راغلی دی، نو په دې وخت کې به د حل لاره څه وي. اسد ښه پوهیږي چې که داسې پیښه وشي، نو دا به د عبدل خلاف دعوا وي، پداسې حال کې چې عبدل په اصل کې د هرات د ښار اوسیدونکی دی او په هغه ځای کې زیاتې اړیکې او انډیوالان لري، نو اسد په دې باور او یقین لري چې که د هغه او د هرات د یوه اصلي اوسیدونکې ترمنځ دغه ډول ستونزې او شخړې رامنځ ته شي، نو د هغه ځای ځایي شورا به خامخا د عبدل په ګټه پرېکړه کوي او هیڅکله به هم د اسد په ګټه پرېکړه صادره نه کړي.

د دې لپاره چې اسد د خپل ځان سره یو لړ داسې دلیلونه لري چې که چیرې نوموړی داسې ثبوتونه او واقعیتونه هم ولري چې د نوموړې په ګټه پریوزي، د هرات ځایي شورا به خامخا د دغه ولایت د ځایی سوداګر څخه خپل ملاتړ څرګندوي او نه له یوه بهرني کس څخه، هغه تصمیم نیسي چې د عبدل سره د خرڅلاو داسې یو قرارداد لاسلیک کړي چې د شخړو او ستونزو د راپورته کیدلو په وخت کې دواړه لوري وکولای شي یاد شوي قرارداد ته رجوع او د هغه پر بناء یې حل او څیړکی کړي. له دغې لارې څخه په ګټه اخېستو، د دوو لوریو ترمنځ د یوې سوداګرۍ له رسمي پیل وړاندې، د دواړو لوریو مکلفیتونه او مسوولیتونه په روښانه ډول څرګندیږي او په هغه باندې موافقه صورت نیسي او که د سوداګرۍ په چارو کې کومه نا خوښي او یا کومه کمي رامنځ ته کیږي، د هغو دلیلونو پر ځای چې د اسد په ذهن کې راګرځیدل، دوی کولای شي د دواړو لوریو ترمنځ له لاسلیک شوی قرارداد څخه د سوداګریزو شخړو او ستونزو د حل او فصل لپاره ګټه واخلي.

همدا ډول اسد له وړاندې پوهیدلو چې د پلورلو د قرارداد شتون کولای شي هغه تمې او هیلې چې نوموړی یې د یوه پیرودونکي په توګه له عبدل څخه د یوه پلورونکي په توګه لري، په څرګند ډول روښانه کړي، د بیلګې په توګه، که عبدل د اوړو په ورځني ویش کې ناوړتیا په ګوته کړې وای، نو په دې وخت کې یې کولای شول چې دلیل یې وړاندې کړی وای چې هغه یوازې د اوړو د ورځني ویش پر سر قراردادلاس لیک کړی دی او د هغو په موافقه لیک کې ځانګړی او مشخص وخت نه دی په نښه شوی، خو په یوه لیکلي مناسب قرارداد کې ناوړه تفاهم او تفسیرونه په لویه کچه لیرې کیږي او دا کار د قرارداد دواړو لوریو ته د دې ضمانت کوي چې د د دوی اړیکې ګټورې او اغیزمنې دي، ځکه دوی پوهیږي چې د دوی موافقه د پلې کېدو او د اجراء وړ ده.

په ساده ډول ویلای شو چې قراردادونه د ټولو سوداګریزو راکړو ورکړو لپاره یو مناسب بنسټ بلل کیږي. کله چې خلک د یو او بل سره سوداګریزې راکړې ورکړې ترسره کوي، قراردادونه د دې لپاره تدوین شوي دي څو په څرګند ډول وښیي چې په راکړه ورکړه کې هر یو لوری له بل لوري څخه د کومو شیانو تمه او هیله لري. که د قرارداد قانون په څرګند ډول روښانه او په سم او منظم ډول د پلی کېدو وړ دي ، د راکړې ورکړې (معاملې) دواړه لوري پوهیږي چې د قرارداد له مخې د دوی حقوق او

مکلفیتونه کوم دي او همدا ډول د قرارداد دواړه لوري پوره پوهیږي چې هغه حقوق چې دوی د دغه قرارداد په اساس له هغو څخه برخمن دي، د يوې منظمې او سمې لارې په اساس به پلي کیږي. د قراردادونو د حقوقو د نشتوالي په صورت کې، د معاملې دواړه لوري د دې باور او اطمینان نه شي ترلاسه کولای چې آیا دوی به د موافقې له ګټو او خوندونو څخه برخمن شي او که څنګه. د یوه لیکلي او رسمي قرارداد د نه شتون په وخت کې، دغه مسأله امکان لري چې چوپه او ګونګه پاتې شي، ، یا که دواړه لوري هم موافقه وکړي چې د دوی ترمنځ موافقه شتون لري، خو بیاهم کېدای شي چې د قرارداد دواړه لوري د موافقې څخه بیلابیل تفسیرونه او تعبیرونه ولري.

د بیلګې په ډول، په پام کې ونیسئ چې زه او تاسو داسې یو قرارداد کوو چې زه به ټول هغه غنم چې له کښت څخه یې درمند کوم، په تاسو باندې په یوه ثابت او مناسب قیمت باندې پلورم. که د هوا د خراب والي او ککړتیا له امله ټول غنم مخکې له دې چې درمند شي خراب شي، نو په دې وخت کې زما او ستاسو ترمنځ به قرارداد ثابت پاتې شي او که څنګه؟ اوس سره له دې چې ما له هغې ګټې چې په پام کې درلوده یوه وړه برخه هم نه ده ترلاسه کړې، آیا اوس هم زه په دې مکلف او ملزم یې څو خپل غنم په هغه قیمت چې پرې موافقه شوې ده، په تاسو باندې وپلورم؟ دغه ډول ګډوډۍ او شکونه د دې لامل ګرځي څو کم شمېر لوري د یو او بل سره راکړې ورکړې ته زړه ښه کړي او همدا ډول دا ددې سبب کیږي چې په ټولو بالقوه اقتصادي فرصتونو باندې ځینې محدودیتونه رامنځ ته شي. د قراردادنو حقوق دغه ډول شکونه او ګډوډۍ د یو لړ قواعدو او مقرراتو له لارې لیرې کوي او د قرارداد لوري کولای شي ترڅو د یادو شویو مقرراتو او قوانینو په رڼا کې خپلو احتمالي پوښتنو ته ځواب وواییي.

په دغه څپرکي کې به لومړی په افغانستان کې د قراردادونو په اړه معمولي سرچینې، واکونه او صلاحیتونه په لنډ او څرښنده ډول تر غور او څیړنې لاندې ونیول شي او همدا ډول روښانه به شي چې په اوسني افغانستان کې کوم قوانین پلي او جاري دي. له هغو ورسته به په دغه څپرکي کې د قانونه هغه مهم او کلیدي مفاهیم چې د ټولو هیوادونو په حقوقي نظام کې رواج لري، څرګند شي. افغانستان اوس هغه هیواد بلل کیږي چې په بالقوه ډول د دې وړتیا لري څو د خپل کورني او داخلي اقتصاد د پراختیا لپاره له نړیوالو سوداګریزو تجربو او کړنو څخه په بشپړه ډول ګټه واخلي. نو له دې امله، د افغانستان زیات پریکړه لیکونه به د نړیوالو او بهرنیو قراردادونو د قوانینو په پیروۍ تسوید شي. مهم او د پام وړ ټکی دا دی چې د د دغه هیواد په اقتصادي چارو کې لاس لرونکي کسان باید د قرارداد د هغو اصولو سربیره چې د افغانستان د قرارداد په قانون کې ځای پر ځای شوي، د افغانستان د قرارداد قانون د نړیوال او د ټولو هیوادونو د حقوقي اړخه درک او زده کړي.

په دغه څپرکي کې لومړی په افغانستان کې د قراردادونو د حقوقو په هکله د تاریخي مراجعو دسرچینو په وړاندې کولو سره پیلیږي او له هغه وروسته په افغانستان کې نافذ قوانین روښانه کیږي. بیا دا څپرکی هغه کلیدي نظریې په ګوته کوي چې د نورو بهرنیو هېوادونو په حقوقي سیستمونو کې شتون لري. افغانستان داسې یو هېواد دی چې بهرنۍ سوداګرۍ څخه د اقتصادي ودې لپاره د ګټې اخیستلو بالقوه وړتیا لري. پدې ترتیب، د افغانستان په حقوقو کې د تسجیل شوو اصولو سربېره، دا مهمه ده چې د قراردادونو  په حقوقو باندې د نورو هېوادونو د حقوقي سیستمونو له نظره هم پوه شو  ځکه چې کېدای شي د قراردادونو د بهرنیو حقوقو له مخې هم یو شمېر موافقتنامې تسوید او طرح شي. هره برخه د نظریې د تیوریکي عمومیاتو سره وړاندې کیږي چې ورپسې اړونده تنظیموونکي احکام راځي او په پای کې دغه څپرکی د دولتي قراردادونو یوه ځانګړې موضوع تر غور او څیړنې لاندې نیسي او د ځینو ځانګړو قراردادونو په اړه چې تاسو او ستاسو په شان نور کسان په سوداګریزو راکړو ورکړو کې ورسره مخامخ کیږی، د لوستونکو لپاره د پام وړ روښانتیاوې او څرګندونې وړاندې کوي.

## ۲ – په افغانستان کې د قراردادونو د حقوقوسرچینې

## الف د افغانستان حقوقي نظام ته یوه لنډه کتنه

څرنګه چې وړاندې ورڅخه یادونه وشوه، افغانستان د مدني قانون هیواد دی. په نړۍ کې مدني قانون د حقوقي نظام تر ټولو غوره ډول شمیرل کیږي چې په زیاته کچه په عامو قوینینو باندې تکیه کوي چې اکثرا په دوو برخو مدني او جزایي باندې ویشل کیږي چې د هغو په رڼا کې اړونده بنسټونه خپلې منځې شخړې پرې کوي. په دغه ډول حقوقي نظام کې قاضیان، شته شخړې د حقوقي قضایي قوانینو د پلی کېدو له لارې چې د تقنیني څانګې په واسطه لیکل کیږي او تصویبیږي، پرې کوي. د معمول عرفي قانون تر څنګ، د مدني حقوقي نظام په نړۍ کې د حقوقي نظامونو یو معمولترین ډول بلل کیږي چې تر احکامو لاندې یې عام قوانین له هغو پریکړو څخه چې د ځانګړو قضیو په اړه صورت نیسي، اخستل کیږي.

د بن پریکړه لیک چې په ۲۰۰۱ ز کال کې لاسلیک شوه، حکم کوي چې د افغانستان حقوقي نظام او چوکاټ به د اسلام د سپیڅلي دین د اصولو، نړیوالو معیارونو، د قانون د حاکمیت او د افغانستان د حقوقي عرف او رواجونو سره سم، جوړ او ترتیبیږي[7]. په اوس وخت کې افغانستان داسې یو قراردادیز قانون ( د قراردادونو قانون) چې په رسمي ډول تصویب، په څرګند ډول روښانه او تشریح او په پرله پسې توګه پلی شوی وي، په واک کې نه لري. په ۲۰۰۸ زکال کې، د افغانستان د تجارتي قانون د تدوین د لیږدي پروژې په جوړښت او تشکیل کې، د قراردادونو په اړه یوه نوې قراردادیزه مسوده د بهرنیو سلاکارانو له لوري ولیکل شوه[8]. د قراردادونو د نوي قانون دغه مسوده د قراردادونو په اړه یوه هر اړخیزه کړنلاره شمیرل کیږي چې په تدوین کې یې ټولې منل شوې نړیوالې لارې چارې او هم د افغانستان حقوقي دودونه او رواجونه په پام کې نیول شوي دي. د قراردادونو د دغسې یوه متحدالشکل او رسمي قانون تصویب، د ګټورو او اغیزمنو ټولنیزو او اقتصادي لارو چارو د ایجاد په برخه کې یو مهم او د پام وړ ګام بلل کیږي چې د افغانستان د اسلامي جمهوري دولت له لوري اخستل شوی دی. یو وارې که د قراردادونو دغه نوی قانون د افغانستان د حقوقي فرهنګ په یوه نه بېلیدونکې برخه تبدیل شوو، نو د دې تمه کیږي چې دغه قانون به وکولای شي په افغانستان کې د قراردادونو د پلي کېدو او جوړښت لپاره یو ساده او پراخه چاپیریال برابر کړي. د قراردادونو رسمي قانون کولای شي د افغانستان د خلکو سوداګریزو راکړو ورکړو او شخصي تعاملاتو لپاره د پام وړ باور او یقین له ځانه سره ولري.

په اوس وخت کې د افغانستان د قراردادونو د قانون حکمونه د ۱۹۷۷ ز کال مدني قانون او همدا ډول د ۱۹۵۵ ز کال د تجارت اصولنامې په ټولو متونو کې، چې دواړه د بن د پریکړوله خوا په رسمیت پیژندل شوي او د تأیید وړ ګرځول شوي دي، تیت او پرک پراته دي.

## ب: د واک د مراتبو سلسله

له تاریخي نظره ، افغانستان خپل د قراردادونوحقوق له څو ګونیو سرچینو څخه را ایستلی دی. هره یوه سرچینه د افغانستان د تاریخ د یوې ځانګړې دورې په ترڅ کې تدوین او تصویب شوې ده څو وکولای شي هر ډول نوې ستونزه چې په دې اړه رابرسیره شوې، پرې کړي. د خلکو ترمنځ د قراردادونو د پلي کېدو او جوړښت په برخه کې، ځایي، ملي او قومي رسمونو او رواجونو په پرله پسې توګه فعالیت لرلی دی، په ډیرو ځایونو کې د اسلامي حقوقو متنونه هم د خلکو ترمنځ د ډول ډول تعاملاتو په اړه، مناسبې لارښوونې او درسونه تیار کړي او په ډیرو ځایونو کې دغه ډول متنونه په قراردادونو باندې حاکم دي، همدا ډول د

[7] – په افغانستان کې د حکومتي د دایمي ادارو د بیا تاسیس اړونده چارو په اړه موافقه. دویم چاپ. د ملګرو ملتونو، د ۲۰۱۱ کال خپرونه. ۱۱۵۴ پاڼه. (د ۲۰۱۱کال دیسمبر) په لاندې ویبپاڼه کې موجود دي. (د موافقې په نامه یادیږي). ://www.afghangovernment.com/AfghanAgreementBonn.htm

[8] د افغانستان لپاره USAID، د چارو اجنډا. د سوداګریز چاپیریال پراختیا، ۳۲ پاڼه، د ۲۰۰۷ کال خپرونه. په لاندې ویب پاڼه کې د ترلاسه کېدو وړ دي. http://www.bizclir.com/galleries/country-assessments/Afghanistan.pdf.

پخوانیو واکمنیو ځینو مدونو قوانینو، د قراردادونو دحقوقو د پلي کېدو د څرنګوالي او تفسیر په اړه ځینې ګټورې قاعدې او مقررې وړاندې کړې دي. د ډول ډول سرچینو شتون چې افغانستان له هغو څخه د قراردادونو خپل حقوق را ایستلی دی، د دې واقعیت څرګندویي کوي چې د دغه هیواد د قراردادونو حقوق باید د وخت په تیریدلو سره داسې بشپړ شوی وای څو د اوس وخت شروطو او اړتیاوو ته یې هم ځواب ویلای وای.

په افغانستان کې د قراردادونو د حقوقو د مډرنو او سنتي سرچینو د پیاوړې، غني او متقابلې اغیزې او تعامل سربیره، د ۲۰۰۴ ز کال اساسي او د ۱۹۷۷ ز کال مدني قوانین دواړه، په مسایلو او قضیو باندې ځینې ځانګړې محدودیتونه پرې باسي چې باید په مستقیمه توګه د اسلامي فقهې د حکمونو سره سم تر غور او څېړنې لاندې ونیول شي. څرنګه مو چې په مخکینیو بحثونو کې ولوستل، د ۲۰۰۴ ز کال د اساسي قانون ۱۳۰ او ۱۳۱ مادې فقهې قضایې کړنو ته لارښوونه کوي او څرګندوي ی چې په کوم ځای کې له فقهي حکمونو څخه ګټه اخستل مناسبت لري.

سربیره پر دې، په دواړو سرچینو کې د فقهي حکمونو په وړاندې د حقوقي حکمونو تفوق او لوړوالی روښانه دی، څرنګه چې د ۱۹۷۷ ز کال د مدني قانون لومړۍ ماده په څرګند ډول وایي: (په هغو مواردو کې چې قانون موجود وي، اجتهاد روا نه دی، ددې قانون حکمونه د لفظ یا د هغې د فحوی په لحاظ د تطبیق وړ دی.). خو د صریح حقوقي حکم د نشتوالي په صورت کې د دغه قانون لومړۍ ماده د قضاوت واک حنفي فقهې ته سپاري څو له خپلو بنسټیزو اصولو څخه په ګټه اخیستو، د قضیې په اړه عدالت په غوره ممکنه لارو چارو باندې تضمین کړي. خو که د قضیې په اړه نه صریح قانوني حکم شتون ولري او نه هم د حنفي فقهې بنسټیز اصول هلته د پلي کېدوپلي کېدو وړ وي، په دې وخت کې د مدني قانون دویمه ماده دغه واک د محکمې د منصفه پلاوي حکم ته سپاري او هغه هم باید د هغه عمومي میثاق سره سمون ولري چې یاد شوی میثاق د قانون له حکمونو او د عدالت له اصولو سره په ټکر کې نه وي.

له دې امله چې په افغانستان کې ټول قوانین د اسلامي قانون په رڼا کې تسویدیږي، نو د محکمو لپاره حقوقي قوانین یوه بنسټیزه سرچینه شمیرل کیږي چې باید د قراردادونو د مسایلو د پرېکړې لپاره ورڅخه ګټه پورته کړي. د دغه واقعیت په منلو، چې په افغانستان کې د تجارتي قانون د مسایلو اړوند مذهبي او عرفي لارو چارو غور او مطالعه د دغه کتاب له بریدونو څخه بهر شتون لري، د دغه څپرکي زیات ټینګار او تمرکز په هغه اصل باندې دی نه د قراردادونو قانون په حقوقي چوکاټ  چې د ۱۹۵۵ کال د تجارت قانون پر بنسټ او د ۱۹۷۷ ز کال مدني قانون په ملتیا تدوین شوې دی، ستاسو معلوماتو او پوهې ته پراختیا او پرمختیا وروبخښي.

## ج: د ۱۹۵۵ ز کال د تجارت اصولنامه: د کارولو بریدونو ته یې یوه لنډه کتنه

د ۱۹۵۵ ز کال د تجارت اصولنامه د قراردادونو د قانون بیلابیل اړخونه تر بحث او غور لاندې نیسي او د دې لپاره لیکل شوې ده څو وکولای شي په ټولو سوداګریزو راکړو ورکړو چې په دغه اصولنامه کې ټاکل شوي دي، پلې او تطبیق شي. د تجارت اصولنامه د تصویب له نیټې څخه تر اوسه پورې په افغانستان کې د تجارتي قانون د بنسټیزو سرچینو په توګه کار کړی دی او د افغانستان اساسي وایی  هغه قوانین چې له دغه اساسي قانون څخه وړاندې تصویب شوي، که په څرګنده د نویو قوانینو سره په ټکر کې نه وی، د اعتبار وړ دي.. خو دا مساله چې په ۲۰۰۳ ز کال کې د اساسي قانون له تصویب وروسته، د دغې سوداګریزې اصولپاڼې کومې برخې د نویو قوانینو له خوا باطلې شوې دي، په سم ډول نه ده روښانه شوې. سربیره پر دې، د ( محدود المسوولیت او سهامي شرکتونو نوی قانون ) او همدا ډول د ( مشارکت نوی قانون ) دواړو په څرګند ډول د (د تجارت اصولنامه هغه برخې چې د سهامي شرکتونو او مشارکتونو له مسایلو سره سر او کار لري، باطلې اعلان کړې دي.

د تجارتي اصولنامې دويمه ماده په څرګند ډول وايي چې سوداګريزې شخړې او لانجې بايد د ( شته سوداګريزو قوانينو د معنى او تعبيرونو) سره سم حل او فصل شي. په بل عبارت، تجارتي قانون بايد داسې يوازينى سرچينه وګرځول شي څو د هغه پر بسټ د يوې شخړې مناسبه پايله وټاکل شي. د قانون د نه شتون په صورت کې بايد له ځانګړي او ځايي عرف او رواج څخه ګټه واخستل شي او په هغو کې هم، له عمومي عرف څخه بايد ځايي عرف ته ترجيح ورکړل شي.

د تجارت اصولنامې د مقررو پلي کېدو او کارول په ځانګړي ډول تر سوداګريزو راکړو ورکړو پورې محدود او تړل شوى دى. د تجارت اصولنامه له (ج) سرليک څخه لاندې، ځينې راکړې ورکړې په ځانګړي ډول د سوداګريزو شروطو وړ بلل شوې دي او د ځاني او منقول جايداد ( ۱۴ او ۱۵ مادې) او د کارکوونکو له ګمارلو ( ۱۶ ماده) څخه عبارت دي. د يادې شوې اصولنامې ۱۸ او ۱۹ مادې چې په لاندې ډول راوړل شوې دي، د محکمې لپاره ځينې مناسب او ګټور لارښوودونه برابروي تر څو محکمه وکولاى شي سوداګريزې معاملې له نا سوداګريزو معاملو څخه بيلې او توپير يې وکړي.

**د ۱۹۵۵ ز کال، د تجارت اصولنامه– ۱۸ ماده**

دا لاندې معاملې تجارتي دي:

- **أ.** هر ډول منقولو مالو د تهيه کولو تعهد او د هر ډول اعمالاتو او انشاآتو په ذمه اخيستل او قبلول
- **ب.** د فابريکې تأسيس ، د مطبعې د دستګاه دائرول، عکاسيو نشرلا او د کتابونو پلورل
- **ت.** د تياتر، سينما، د ننداړتونونو افتتاح او د عموميه مقاماتو پرانستل لکه هوټل، سرايونه د خوړو خونې او ددې شان نورو او کارکوونکو د تهيه کولو د پاره دفترونه او د ليلام ځايونه.
- **ث.** په وچه ، سيندونو او هوا کې د مسافرينو، حيواناتو او شيانو لېږدول.
- **ج.** د اوبو، ګيس، او بريښنا ويشل او د تيلفوني مخابراتو تأسيس

**د ۱۹۵۵ ز کال، د تجارت اصولنامه**

**۱۹ ماده:**

دا لاندې معاملې د اړونده لورو له څرنګوالي پرته، تجارتي معاملې شمېرل کيږي:

- **أ.** په کميشن کارکول
- **ب.** دلالي
- **ت.** د برات او حجت معاملې( که د شخص او يا وړونکي په نوم ثبت وي) او چک.
- **ث.** د صرافي معاملې.
- **ج.** د خصوصي او عمومي بانکونو معاملې.
- **ح.** د جاري حساب معاملې او په هغه پورې مربوطې مقاولې
- **خ.** د ګروي سندونو او رسيدونو په باره کښې چه د موضوعه مالو په مقابل د تجارت په عموموى ګدامو کې موجود شوي وي.
- **د.** د تجارتي شرکتونو تشکيل او د سهمونو پېرودل او پلورل.
- **ذ.** د مخاطراتو په مقابل کښې د هر ډول بېمې تړنه، که په اجرت سره و تړل شي او که په متقابله شرطونو سره.

**تبصره: د قرارداد د عرف په اړه د افغانستان مدني قانون**

په ټولي توګه، د مدني قانون په ټول متن کې دغه مفهوم،چې قراردادونه د دې پر ځای چې د پلی کېدو او اجراء وړ حکمونو او موادو په توګه په پام کې ونیول شي، باید د داسې وسایلو په توګه ورته وکتل شي چې کسان په خپله له هغو څخه منته او خدمت وکړي، په څرګنده ډول بیان شوی دی. که د سخاوت له مخې وغږیږو، د افغانستان مدني قانون په افغانستان کې د یوه پخواني رواج (عذر غوښتلو او بخښلو) څرګندويي کوي چې د دغه هیواد په ټول عرفي قانون کې د درک او میندلو وړ دی. د مدني قانون په پام کې نیول شوي لومړیتوبونه، له هغو کسانو څخه چې غواړي خپل قراردادیز مسوولیتونه او مکلفیتونه د محکمو له لارې ترسره کړي، په زیاته کچه د هغو کسانو ملاتړ کوي چې د قرارداد اړوند مکلفیتونو او مسوولیتونو په اجراء کې خپل ځان بې وسه او ناچاره بولي. په پای کې باید ووایو چې د افغانستان د قراردادونو قانون په اوسني شکل، په څرګند ډول د هغو موخو او لارو چارو په خلاف او عکس کار کوي چې آزاد بازار د هغو په لټه کې دی او هغه ځکه چې نوموړی قانون د قرارداد اړوند خطرونو لوړه کچه او میزان په رسمیت پیژندلی او غواړي بنسټیز یې کړي.

**سرچینه:** د امریکا د متحده ایالتونو پراختیایي اداره ( USAID )، افغانستان، د کړنو لپاره اجنډا: د کسب او کار او سوداګرۍ د چاپیریال پراختیا، د خپریدلو نیټه، ۲۰۰۷ ز کال.

## د. د ۱۹۷۷ ز کال مدني قانون: د نوموړي قانون د کار او پلي کېدو کچې ته یوه لنډه کتنه

د افغانستان مدني قانون چې په ۱۹۷۷ ز کال کې تصویب شوی وو، ځینې ستونزې درلودې او له همدې امله نن ورځ یاد شوی قانون د قراردادونو یوه نیمګړې او ناقصه سرچینه بلل کیږي، د مدني قانون په اړه لومړۍ مسأله د اعتبار د وړتیا مساله ده چې د نویو قوانینو د تصویب او وضعې له امله تر پوښتنې لاندې راغلې ده. سربیره پر دې، چې د ۲۰۰۴ ز کال اساسي قانون په روښانه ډول وايي: ټول هغه قوانین چې له اساسي قانون وړاندې تصویب شوي دي، خو چې د نویو قوانینو له خوا په څرګند او صریح ډول نه وي لغوه شوي، د پلي کېدو او د اعتبار وړ بلل کیږي. خو دا مسأله په بشپړه توګه نه ده روښانه شوې چې د مدني قانون کومې برخې باطلې او لغوه شوې دي. یوه بله ستونزه چې د مدني قانون په اړه وړاندې کیدای شي هغه دا ده چې د دغه قانون په موادو او متونو کې زیات عربي اصطلاحات او کلمې کارول شوې دي چې هغه کلمې په پښتو او دري کې معمول نه دي او له بله اړخه یاد شوي اصطلاحات او کلمې په قانون کې په سمه او روښانه توګه نه دي تعریف شوې، نو له دې امله امکان لري چې د دغه قانون حکمونه او مواد نه دي روښانه او څرګند شوي.

خو د پورته یادو شویو ستونزو سربیره، د ۱۹۷۷ ز کال مدني قانون اوس هم د قرارداد د مفاهیمو لپاره یوه مهمه سرچینه بلل کیږي او د محکمو د شته تصمیم نیولو لپاره یو بنسټ دی، څرنګه چې قاضیان د پرېکړې د صادرولو په وخت کې مدني قانون ته رجوع کوي او له هغه څخه ګټه اخلي، نو له دې امله موږ او تاسو ته ډېره مهمه او ګټوره ده څو د دغه قانون د کړنلارو او کارونو په اړه پوه او د پام وړ معلومات ترلاسه کړو.

د افغانستان مدني قانون، د هغو تخنیکي قوانینو او قواعدو او همدا شان کړنلارو لارښونه په ټینګار سره کوي، کوم چې د حقوقي شخړو او لانجو د حل او فصل لپاره اړینې دي. لکه دا چې د دولت کوم یو قانون باید د قرارداد له مکلفیت څخه راپورته شوې شخړې په اړه پلی شي. د یاد شوي قانون ۲۷ ماده په څرګنده وايي: هغه قانون چې د قرارداد په اړه پلی کیږي، شرایطو او خاصو حالاتو ته په پام سره، کولای شي چې د هغې محکمې د قضایي پرېکړې پر بنسټ چې د طرفینو د اوسېدو په سیمه کې موقعیت لري، د دواړو غاړو په موافقې یا د ځای پر بنسټ چېرې چې قرارداد شوی وي، تعیین او یا کېدای شي.

د مدني قانون د کړنو او اغیزو څخه یوه هم د بیلابیلو بنسټونو پیژندل دي او په ګوته کول دي یعنې دا چې کوم یو بنسټ او

مرکز کیدای شي د قانون د پلي کېدو په موخه باید د یوه حقوقي شخصیت په توګه په پام کې ونیول شي. د مدني قانون ۳۳۸ مادې، ځینې شرکتونه او مرکزونه په رسمیت پیژندلي دي او دغه یاد شوي بنسټونه او مرکزونه کولای شي د ریښتینیو کسانو په څیر، قرارداد تړي او یا د قراردادونو دحقوقو د حکمونو سره سم د بل کس په وړاندې خپله دعوا وړاندې کړي. مدني قانون د بنسټونو او جایدادونو ترمنځ چې د قرارداد د قانون لپاره په تړولنه کې یوه ګټوره اغیزه پرې باسي، یوه مهمه اړیکه ټینګوي.
اوس موږ د قراردادونو د حقوقو ځینې مهم او معمول ترین مفاهیم او اصطلاحګانې تر ژورې څیړنې او تحقیق لاندې نیسو.

## ۳- د قراردادونو دحقوقو کلیدي مفاهیم

سره له دې چې افغانستان داسې یو هیواد دی چې حقوقي نظام یې د مدني قانون پر بنسټ یې شکل نیولی دی، خو د قراردادونو دحقوقو ډېر اصول چې په دغه څپرکي کې تر غور او څیړنې لاندې نیول شوي دي، له عرفي قانون څخه سرچینه اخلي. د قرارداد عامه حقوق له هغې بڼې څخه عبارت دی چې زیاتو هیوادونه لکه ، انګلستان، پاکستان، هندوستان او د امریکې د متحده ایالتونو په ګډون ورڅخه ګټه پورته کوي. څرنګه مو چې لږ وړاندې ولوستل، سربیره پر دې چې په افغانستان کې هغه لړۍ چې پر بناء یې ټول قوانین له عرفي قانون څخه اخستل شوي او راایستل شوي دي، د مدني قانون د نظام سره توپیر لري، خو د قراردادونو د حقوقو مفاهیم چې په دغه برخه کې موږ تر بحث لاندې نیولي دي، په عمومي توګه د قراردادونو په حقوقو باندې پلي او د تطبیق وړ دي.

## الف قرارداد څه ته ویل کیږي؟

<u>د قرارداد تعریف او د قراردادونو د حقوقو موخې:</u>

هر حقوقي نظام د هغو ژمنو چې د حقوقي اړخه د پلي کېدو وړ بلل کیږي او هغو وعدو چې د اجراء وړ نه بلل کیږي، تر منځ په توپیر او تمایز باندې قایل دی. د اسد د کار او کسب حالت او شرایط ( هغه ډوډۍ پخوونکی چې وړاندې مو په اړه یې بحث وکړ) په یاد راوړئ. د عبدل لپاره د هرې یوې بوجۍ اوړو په وړاندې د هغه د ۵۰۰ افغانیو وړاندیز او د عبدل له خوا د یاد شوي وړاندیز منل، یو ډول ژمنه تر سترګو کیږي چې په اړه به یې قانون د اجراء او پلي کېدو وړ دی. موږ د حقوقي لغت پیژندنې په برخه کې دغه ډول ژمنې چې له حقوقي اړخه د پلي کېدو وړ وي، د قرارداد په نوم یادوو. خو که تاسو د خپل کاکا زوی ته د یوه هوټل د پرانستلو او پرمخ بیولو په برخه کې د مرستې او همکارۍ ژمنه ورکړې، دغه ژمنه د هغو وعدو له ډلې څخه نه ده چې په اړه یې قانون د اجراء وړ وشمیرل شي.

له مفهومي اړخه، د مدني قانون ۴۹۴ ماده د قرارداد د تعریف په اړه داسې وایي: (په عقودو کښې حقوقي تصرف د عقد د دواړو خواوو د ارادې په موافقه پوره کیږی او د هغې په اثر د دواړو خواوو څخه پر یوه التزام مرتبیږي). د دویم ځل لپاره د دغه تعریف مفاهیم د قراردادونو د حقوقو په اړه د (امریکې د قراردادونو دحقوقو په اړه په یوه رساله) کې څرګندیږي او په نوموړې رساله کې قرارداد داسې تعریف شوی دی: (قرارداد د ژمنې او یا د ژمنو له ټولمجموعې څخه عبارت دی چې د هغو د نقض او ماتولو په صورت کې، قانون جقوقي پټی او جبران برابروي او یا قانون د هغو اجراء، په هر څه ډول چې وي، د یوې دندې په توګه په رسمیت پیژني).[9]

[9]- د قراردادونو(دوهم) بیا ترتیب ( 1981 ز کال)

نو له دې امله، د قرارداد د کلمې او اصطلاح، اطلاق یوازې او یوازې په هغو کړنو باندې کیږي چې حقوقي پایله ولري. په ساده ډول ویلای شو چې قرارداد هغې پریکړې ته ویل کیږي چې د دوو لوریو ( د قرارداد د لوریو) تر منځ سرته رسیږي او د حقوقي پلې کیدونکې وسیلې خاوند وي. په پایله کې د قراردادونو حقوق، د رسمي وسایلو او کړنلارو ته د خلکو د اړتیا یوه پدیده ده چې پر بنا یې خلك کولای شي هم د خپلو ګټو او هم د سوداګریزو موخو د لاسته راوړلو په موخه د یو او بل سره مرسته وکړي.

په عمومي توګه، قراردادونه هغه وخت تړل کیږي چې دواړه لوري د یوه توکي د اخستلو او یا نه اخستلو په موخه، د یوه او بل سره په بالمقابل ډول د وعدو سپارښتنه وکړي. د هر قرارداد په متن او منځ کې د ( پریکړې او موافقې) عنصر شتون لري چې د دواړو لوریو تر منځ صورت نیسي. د دواړو لوریو تر منځ اړینه او بنسټیزه پریکړه په آسانی سره د ( وړاندیز ) او ( منلو ) په چوکاټ کې څرګندیږي، د بیلګې په ډول: احتمال لري چې تاسو خپل ملګري ته د ۲۰۰۰۰۰ افغانیو په بدل کې د هغه د موټر د اخستلو وړاندیز وکړی، اوس که ستاسو ملګری دغه وړاندیز ومني، نو ستاسو دواړو ترمنځ یو فرضي قرارداد رامنځ ته شو. نو په دې توګه، د قراردادونو د قانون د پیژندلو او کارولو لپاره لومړی ګام دا دی څو تاسو وپوهیږی چې (وړاندیز) او د (وړاندیز منل) څه وخت ترسره شوي دي.

د بیلګې په ډول: اسد او عبدل په خپل منځ کې پریکړه کوي چې عبدل به هره ورځ له غرمې وروسته په څلورو بجو یوه بوجۍ اوړه د اسد دکان ته سپاري او دا د قرارداد شروط او مواد دي چې دواړه لوريورباندې پریکړه او موافقه ترسره کوي. سربیره پر دې، یوه ورځ د عبدل موټر خرابیږي او نه شي کولای د اوړو د ویشلو کار په هغه وخت ترسره کړي چې په یاد شوي قرارداد کې ورباندې پرېکړه شوې ده. د قراردادونو د قانون د حکمونو سره سم، هر هغه وخت چې د قرارداد یو لوری ونه شي کولای څو خپلې ژمنې سرته ورسوي، نو داسې ویل کیږي چې نوموړي قرارداد مات کړی دی. هر کله چې د قرارداد یو لوری قرارداد مات کړي، هغه مکلف دی څو هغه بل لوري او یا لوریو ته اړول شوی تاوان او ضرر چې د قرارداد د ماتیدلو له امله رامنځ ته شوی دی، پټی او جبران کړي. په معمولي ډول هغه لوری چې قرارداد یې مات کړی دی مکلف دی څو ټولو کسانو ته اړول شوی تاوان په نغد ډول (پیسه ایز ډول) پرې کړي، خو ځینې وخت کیدای شي چې محکمه د قرارداد له ناقض څخه وغواړي څو د ټولو اړخونو د تاوان او ضرر د کمولو لپاره ځینې کړنې او کارونه ترسره کړي.

د قراردادونو دحقوقو وروستی موخه دا ده چې زیانمن شوی لوری باید وکولای شي له داسې ګټو او خوندونو څخه برخمن شي چې که قرارداد په سمه توګه سرته رسیدلای وی، نو هغه مبلغ او مقدار به یې په لاس راوړی وو. نو له دې امله، هر وخت چې محکمه او یا یو بل مقام وغواړي یاد شوي زیانونه وڅیري، په معمولي توګه اړول شوی زیان، زیانمن شوي لوري ته ( چې د قرارداد د ماتیدلو له امله یې په غواړه اخستي دي) د زیان د پټی او جبران او د زیان د پرې کولو په موخه تر غور او څیړنې لاندې نیسي او همدا ډول نیت به یې داسې وي څو د قرارداد ماتوونکی لوری باید د سرغړونې په سبب جریمه وګالي. د جزاء د قانون برعکس، په دې ځای کې ټینګار او تمرکز د تخلفاتو پر مخ باندې نه کیږي، بلکې زیات ټینګار او تمرکز د وعدو د بشپړتیا او اجراء د څرنګوالي ( چې دواړو لوریو ورباندې پرېکړه کړې ده) پر سر باندې صورت نیسي. ډیر وخت، کله چې یو لوری قرارداد ماتوي، ټول لوري ډیر د بدیلو ګامونو پر سر پرېکړه کوي، ځکه امکان لري چې د قرارداد اجراء کول زیات وخت نیسي او د قرارداد د لوریو لپاره قیمته تمامیږي.

**د حقوقي مفهوم کتنه: د قرارداد بهیر**

د قرارداد پیل او اجراء په هغه ژمنه مفروض دی چې د چنې وهلو سره د یوې برخې په توګه صورت نیسي. د چنې وهلو دغه مبادله، په معمولي ډول د وړاندیز بڼه ځان ته خپلوي چې د (وړاندیز کوونکي) په نوم د یوه کس له خوا ترسره کیږي او د (وړاندیز د لاسته راوړونکي ) په نوم د بل کس له خوا په مناسب وخت کې منل کیږي.

وړاندیز او یا عرضه هغه افهام او تفهیم ته ویل کیږي چې د وړاندیز کوونکي (offeror) اراده د حقوقي الزام د منلو لپاره څرګندوي. د وړاندیز کوونکي له لوري یو معتبر وړاندیز، د وړاندیز ترلاسه کوونکي (offeree) ته دا واک سپاري چې د منلو او قبلولو په څرګندولو سره، یو قرارداد ته بڼه ور وبخښي. هر کله چې د قرارداد یو لوری د قرارداد په سرته رسولو کې پاتې راشي، دغه حالت ته د قرارداد ماتول (نقض) ویل کیږي.

## ب: یو قرارداد څنګه کولای شي د قرارداد بڼه ځان ته غوره کړي؟

**د پام وړ او کلیدي تعریفونه: د اجراء وړ یوه قرارداد څلور عنصرونه**

**دوه اړخیزه خوښي او رضایت:** د وړاندیز کوونکي او وړاندیز لاسته راوړونکي ترمنځ منځي او شته پریکړه باید په داسې توګه د قرارداد په موادو او شروطو کې ځای پر ځای شي، چې د وړاندیز کوونکي له لوي صورت نیسي.

**کتنې او یا ملاحظات:** هغو شروطو او لاملونو ته ویل کیږي چې وړاندیز کوونکی او وړاندیز لاسته راوړونکی یې د پرېکړې په وخت کې، د قرارداد په اړه په پام کې نیسي او د قرارداد د بنې جوړونې لامل ګرځي.

**د وړتیا وړ لوري:** قانون یوازې د پلي کېدو وړ هغه قراردادونه د لوریو ترمنځ په رسمیت پیژني چې د دوی د ګامونو د حقوقي پایلو د درک او پیژندلو، وړتیا ولري

**د قرارداد :** قانون، د یوې حقوقي موخې. د نه لرلو په صورت کې هیڅ ډول تړون نه پلی کوي.

**هغه عنصرونه چې یو قرارداد له حقوقي اړخه پلي او د اجراء وړ ګرځوي:**

کله مو چې د قانون په اړه پوره معلومات ترلاسه کړل او پوهیږو چې قرارداد څه ته ویل کیږي، اوس باید وپوهیږو چې څنګه کولای شو یوه قرارداد ته داسې سمه او منظمه بڼه ورکړو څو په راتلونکې کې وکولای شي، له حقوقي اړخه د اجراء وړ وګرځي. زموږ لپاره روښانه ده چې اسد غواړي یو قرارداد بسته کړي، آیا یوازې د اسد اراده د یوه قرارداد د بڼه نیولو او د عبدل د حقوقي تقید لپاره کافي بلل کیږي او که څنګه؟ بې له شکه چې ځواب به (نه) وي. لکه چې پورته ورڅخه یادونه وشوه، د دې لپاره چې یوه ژمنه وکولای شي د قرارداد د لوریو ترمنځ د اجراء بڼه ځان ته خپله کړي، باید څلور اړین او بنسټیز عنصرونه ولري: د لوریو دوه اړخیزه خوښه او رضایت، عوضین (کتنې او پاداشونه)، د وړتیا او اهلیت وړ لوري او د قرارداد پلیتوب او اجراوالی.

**دوه اړخیز رضایت:** د لوریو ترمنځ دوه اړخیزه رضایت دې ته ویل کیږي چې یو لوری د خوښې وړ وړاندیز ترسره او بل لوری د پریکړې هغه شروط چې د وړاندیز کوونکي له لوري یې صورت نیولای دی، ومني. کله چې اسد د عبدل سره لیده کاته ترسره او هغه ته وړاندیز وکړي چې د دوو بوجیو اوړو په بدل کې به نوموړي ته ۱۰۰۰ افغانۍ پرې کوي او عبدل هم د یاد شوي وړاندیز سره خوښي او موافقه څرګنده کړي، نو په دې وخت کې ویلای شو چې د لوریو ترمنځ دوه اړخیزه رضایت شتون لري. ډیر وخت د پریکړې او توافق منونکي لوري، خپله پریکړه په لیکلې بڼه او یا شفاهي توګه رسما څرګندوي؛ د بیلګې په توګه: ( زه یې منم). سربیره پر دې، ځینې وخت د لوریو ترمنځ خوښي د دوی د ګامونو او کړنو څخه رامنځ ته کیږي، د بیلګې په توګه: که اسد خپل وړاندیز چې پورته مو په هغه اړه بحث وکړ، عبدل ته وروسپاري او د راتلونکې ورځ، له غرمې وروسته په څلورو بجو، د خپل دوکان په مخ کې دوې بوجی اوړه د ۱۰۰۰ افغانیو د بیل سره یو ځای پیدا کړي، نو دا په دې معنی دي چې عبدل د اسد

وړاندیز منلی دی، دا سربیره پر دې چې اسد یاد شوی وړاندیز په رسمي بڼه نه دی ویلی او یا نه دی لیکلی. په هغو ځایونو کې چې د پرېکړې وړ توکي ارزښت ډېر زیات وي او یا قرارداد د یو لړ ځانګړو موخو لپاره صورت نیولای وي، د قراردادونو حقوق لوري مکلف بولي څو خپل قرارداد او پریکړه په رسمي او لیکلې بڼه ترسره کړي. رسمي او لیکلې پرېکړه د دې لامل ګرځي څو د لوریو اړوند ناوړه فهمونو کچه راټیټه کړي.

د افغانستان حقوق د قرارداد او پرېکړې د منلو څخه د وړاندیز پر ماهیت باندې زیات ټینګارکوي ؛ د تجارت اصولنامه۶۱۰ او ۶۱۸ مادې چې د قرارداد د منلو بیلابیل اړخونه لکه د وخت اندازه چې د قرارداد د وړاندیز د منلو لپاره اړینه ده، د اړیکو د تأمین سرچینې چې د وړاندیز د منلو په هکله پیام لېږدکړي او دا چې څه وخت یو وړاندیز پلی کیږي، بیان او څرګندوي. هر کله چې د منلو ځواب، د هغو شروطو سره چې په وړاندیز کې بیان شوي دي، سمون ونه لري، نو په دې صورت کې د تجارت اصولنامې حکمونه، منل د یوه معکوس او سرچپه وړاندیز په توګه په پام کې نیسي چې په هغه کې اصلي وړاندیز کوونکی، د یوه معتبر قرارداد د تړلو او بڼه ورکولو په موخه، باید د وړاندیز ومني.

دویم دا چې قراردادونه **غور او کتنې** ته اړتیا لري. غور او کتنه یو مجرد مفهوم دی چې د ژمنې لپاره د یوې بنسټیزې انګیزې په توګه په پام کې نیول کیږي. قانون هڅه کوي څو هغه ژمنې پلې کړي چې د دواړو لوریو په ګټه پریوزي؛ ځکه زیات احتمال لیدل کیږي چې دغه ژمنې دې د تولید لامل وګرځي او عمومي هوساینې ته پراختیا ورکړي. نو له دې امله، قانون د دې مسألې د معلومولو لپاره چې آیا د لوریو ترمنځ کوم د اجراء وړ قرارداد او پریکړه شتون لري او که څنګه، غور او کتنه ( کتنې او بالمقابل پاداشونه ) تر څېړنې لاندې نیسي ځکه غور او کتنه داسې یو ثبوت بلل کیږي چې د چنې وهلو لپاره، د راکړې ورکړې او یا مبادلې په وخت کې صورت نیسي. هغه ژمنې چې عوضین ولري، د هغو وعدو سره چې په هوایي او خوشې ډول صورت نیسي، توپیر لري.

له کارونې او عملي اړخه، د عوضینو حتمي شتون په دې معنی دی چې د قرارداد لوري باید هغه لازم الاجراء قرارداد لاسلیک نه کړي چې له هغو څخه هیڅ شی هم په لاس نه راځي. هر کله چې یو لوری بل لوري ته، یو توکی، د بل شي د لاسته راوړلو له تمې پرته ورکوي، قانون د غې کړنې ته د تحفې او بخشش په نظر ګوري او هیڅکله یې د قرارداد د لاسلیک په توګه نه بولي. په ډېرو ځایونو کې د تحفې د ورکړې په موخه، یوه کس ته د بل کس ژمنه، د اجراء وړ قرارداد او پریکړه نه بلل کیږي.

**د بحث وړ پوښتنې**

- د اوړو د ویشلو په اړه د اسد او عبدل پریکړه او موافقه په پام کې ونیسئ. آیا په دغې بیلګه کې غور او کتنه شتون لري؟ آیا اسد به له دغې معاملې څخه کومه ګټه ترلاسه کړي؟ او عبدل به له دغې معاملې څخه کومه ګټه لاسته راوړي؟

- ولې قانون، دغه معامله د ثروت زیاتوونکې یوې معاملې په توګه په پام کې نیسي؟

دریم: قانون باید معلومه کړي چې آیا اسد او عبدل دواړه ددې وړتیا، ظرفیت او حقوقي واک لري څو د اجراء وړ یو قرارداد لاسلیک کړي. په بل عبارت، قانون یوازې هغه قراردادونه د اجراء او پلي کېدو وړ بولي چې په قرارداد کې لاس لرونکي کسان، د خپلو ګامونو او کړنو د پایلو د درک او معلومولو وړتیا ولري. څرنګه چې عبدل او اسد دواړه بالغ دي، خو فرض په دې باندې دی چې آیا دوی د هغه قرارداد چې دوی یې بسته کوي، لاسته راوړنې، پایلې او اغیزې درک کړې او پرې پوهیږي او که څنګه.

په عمومي ډول، ماشومان د اجراء وړ قرارداد د عقد او بسته کولو لپاره د وړتیا او اهلیت وړ نه بلل کیږي، ځکه دوی د خپلو کړنو

او ګامونو په پایله باندې نه پوهیږي او په دې برخه کې لازم پخوالی، شعور او تجربه نه لري. سره ددې چې لویان زیات وخت د وړو کسانو په توګه په پام کې نیول کیږي، خو یو لوری کولای شي د دغې مسلمې فرضیې د رد او یا نه منلو لپاره، ثبوت او شواهد وړاندې کړي. ځینې بېلګې چې په هغو کې د قرارداد د لوریو نه وړتیا ثابیتدلای شي، موقت لیونتوب او محجوري ده چې د زخم او یا د درمل له کبله اختسلو څخه پیدا شوې وي. په ډیرو ځایونو کې، هغه قراردادونه چې د داسې لوري سره صورت نیسي چې هغه د قرارداد وړتیا ونه لري، د اجراء وړ بلل کیږي. خو دغه ډول قراردادونه د ناوړ لوري او یا د هغه د استازي په غوښتنه فسخه کیدلای شي. نو له دې امله، د قرارداد وړ لوری د قرارداد د ناوړ لوري سره د قرارداد په کولو کې، د ځینو ګواښونو سره مخامخ کیږي. که دا ثابته شي چې قرارداد د وړ لوري په ګټه شوی دی، هغه لوری چې د وړتیا څخه بې برخې دی کولای شي یاد شوی قرارداد فسخه کړي او که قرارداد د ناوړ لوري په ګټه تړل شوی وي، نوموړی کولای شي قرارداد د اجراء او پلي کېدو وړ وبولي.

همدا ډول کله چې د قرارداد د یوه لوري خوښه او رضایت په زور او فشار سره ترلاسه شي، نو قانون دغه قرارداد معتبر نه بولي. د بیلګې په توګه: که عبدل اسد وډار کړي چې که د هرې یوې بوجی اوړو لپاره ۱۰۰۰ افغانی پرې نه کړي، د خپلو پیاوړیو سوداګریزو اړیکو څخه به ګټه واخلي او د اسد د سوداګرۍ لارې چارې به ګډې وډې کړي او اسد د ډار له مخې د هغه سره د قرارداد پریکړه کوي، نو دغه ډول د اجراء او پلي کېدو وړتیا نه لري؛ ځکه د اسد خوښه او رضایت د مناسبې لارې څخه ترلاسه شوی نه دی.

په دې توګه، قانون د دې لپاره څو وکولای شي د قرارداد د یوه لوري د خوښې او رضایت د نه منلو او رد لپاره د اکراه او فشار ځایونه په ګوته کړي، باید د ناوړه تهدید او ډار بیلګې چې په سختی سره د بل لوري د خوښې لامل ګرځي او یا د بل لوري خوښه او رضایت چې له دغه ډول تهدید او ډار څخه پیدا کیږي، په ګوته کړي. که یو کس له بل لوري څخه د ډار او تهدید له امله قرارداد ته ځان ورکړي، نو په دې وخت کې قرارداد د اجراء وړ نه بلل کیږي.

د جبر او ډار قضیه هغه وخت پیښیږي چې د قرارداد کوونکي لوري له خوا تهدید څرګند او روښانه وي. که ډاروونکی او زور اچوونکی کس د قرارداد د بل لوري د زیانمولو او یا هغو ته د تاوان اړولو نیت ولري، نو په آسانی سره تهدید او ډار، د ډاروونکي او زور اچوونکي لوري له خبرو او کړنو څخه درک کیدلای شي.

**د بحث وړ پوښتنې**

- داسې وګڼې چې عبدل د اوړو د پلورلو لپاره یو بل نوی پیرودونکی پیدا کړی دی او هغه دې ته مایل دی څو د اسد په پرتله اوړه په یوه لوړ نرخ باندې واخلي. اوس ستاسو په اند، ځینې داسې ممکنه دلایل چې اسد کولای شي خپله (ناوړتیا) اسد ته بهانه کړي او د هغه پر اساس خپل ځان له هغه قرارداد څخه چې د اسد سره یې ترسره کړی دی، معذور وبولي، کوم شیان کیدلای شي؟

- آیا پوهیږی چې (ناوړتیا) څنګه کیدای شي د قرارداد د اجراء په وړاندې د یوې بهانې او دفاعیې په ډول کار وکړي؟ هغه لوری چې د قرارداد په اړه یې خپل نظر ته تغییر ورکړی دی، څنګه کولای شي د خپلو ګټو د لاسته راوړلو په موخه دغه ډول بهانې د دفاع په توګه له خپله ځانه وړاندې کړي؟

- د یوه مدافع وکیل په توګه، تاسو څنګه کولای شی له (ناوړتیا) څخه ناوړه ګټه اخستل د یوې بهانې او یا ناوړه دفاع په توګه محدود کړی او کومې لارې چارې په دې اړه وړاندې کولای شې؟

په وروستی پوښتنه کې، قانون د یوه قرارداد د بحث وړ توکي د هغه د اجرایوي لارو چارو په موخه تر څیړنې او غور لاندې نیسي. هر هغه قرارداد چې حقوقي موخې ونه لري، د اجراء وړ نه بلل کیږي. دغه حقیقت په پایله کې د قانون ناتمایلي په ګوته کوي او هغه هم په هغو ځایونو کې چې قانون نه غواړي قضایي برخې ته اجازه ورکړي څو په هغو ځانګړو معاملو کې چې د قانون د صریح متن پر اساس، د ټولنې د عمومي هوساینې سره په ټکر کې وي، لاس وهنه وکړي. په دې وخت کې محکمې مکلفې دي څو د یوه اجرایوي بنسټ په توګه، په هغو ځایونو کې چې که قرارداد د ټولنې لپاره زیانمن وي او یا ونه شي کولای د قرارداد لوري د ناوړه او غیر عادلانه چنې وهلو څخه منع کړي، د محکمې له دایرولو ځان وساتي.

نو له دې امله، هغه قراردادونه چې د ناقانوني کړنو او اجراآتو سره کار لري او یا د داسې ډول کړنو چې له قانوني والي سربیره د ټولنې د عمومي اخلاقیاتو سره په ټکر کې پرتې وي، د اجراء وړ نه بلل کیږي. په پایله کې اسد نه شي کولای د یوه غله سره چې غواړي نوموړي ته د یوې اندازې پیسو په مقابل کې موټر غلا کړي، قرارداد و کړي. هیڅ محکمه نه شي کولای څو دغه ډول قراردادونه پلي کړي او که اسد غواړي چې د داسې پریکړې او قرارداد پر اساس، خپلې موخې ته ورسیږي نو مجرم پېژندل کیږي. په لنډ ډول ویلای شو چې یو قرارداد هغه وخت د اجراء وړتیا لري چې موخې او مقاصد یې شرعي او قانوني وي او بس.

**د قرارداد د بڼه غوره کولو او منلو (پذیرش) په اړه د تجارت اصولنامې غوښتنې**

د تجارت اصولنامه د افغانستان د محکمو لپاره ځینې مهم او د پام وړ لارښوودونه وړاندې کوي څو هغه وکولای شي معلوم د قرارداد څرنګوالی معلومکړي. تاسو به په لاندې ډول د تجارت اصولنامې څخه ځینې داسې مادې ولولی چې د قرارداد تر بڼه غوره کولو (شکلدهي) او منلو سره تړاو لري.

**د قرارداد د تکوین (بڼه غوره کولو) شروط او اړتیاوې:**

**۶۰۸ ماده:** د تجارتي عقدونو د پاره د دواړو خواوو رضا او موافقت کافي دي. د قرارداد تنظیم او د نورو مراسمو اجرا کول لزوم نه لري..

**۶۰۹ ماده:** که د قانون له مخې د عقد د پاره د یوه مخصوص شکل رعایت په تحریري ډول لازم وي او یا دواړه خواوې عقد د ځینو مراسمو د اجرا پورې لکه د مقاولې تنظیم موقوف پرې ایښی وي نو تر هغه وخته پورې چه ددې شکل رعایت و نشی او یا ټاکلي مراسم اجرا نشي، عقد نه اجرا کیږي....

**د یوه قرارداد د ایجاب او قبول شرطونه او اړتیاوې**

**۶۱۰ ماده: که** ایجاب د قبول لپاره د یوې ټاکلي مودې د تعیین په صورت شوی وي نو په دې صورت چې دواړه لوري حاضر هم وي، ایجاب کوونکی نه شي کولای چې د ټاکلي مودې له تیریدو څخه پخوا له له ایجاب څخه تېرشي. که ایجاب بې د مودې د ټاکلو څخه ترسره شوی وي، نو اعتبار یې نه پاتې کیږي خو په دې شرط چې د دواړو لوریو د حاضروالي په صورت کې قبول فوراً نه وي واقع شوی. هغه عقد چې د مخابراتي وسایلو په ذریعه لکه په تلیفون، سره وشي، د د هغه عقد حکم لري چې په حضور سره شوی وي.

**۶۱۱ ماده:** دهغه ایجاب لپاره جې د لیکنې په صورت واقع کیږي که موده نه وي ټاکلې شوې نو ایجاب کوونکی نشي کولای

پخوا له هغې مودې تېرېدو څخه چې د عرف له مخې قبول کوونکي ته د فکر کولو او د قبول د جواب ورکولو لپاره د هغې تېرېدل لازم دي له ایجاب څخه تېر شي.

**۶۱۲ ماده:** د قبول ځواب باید په یوه ټاکلي موده کې چې ایجابوونکي ته ورسیدلای شي، واستول شي. اوکه ځواب د ټاکلي مودې له تیریدلو وروسته ورسیږي، عقد نه ترسره کیږي، مګر که معلومه شي چې د قبول ځواب په ټاکلي لازمه موده کې ور رسول شوی دی، نو ایجاب کوونکی مجبور دی چې د ځواب د ځنډېدو په خصوص کې فوراً مقابل جانب ته د عقد د نه تړلو خبر ورکړي. او که نه دا عقد نه تړل کیږي.

**۶۱۳ ماده:** د مقابل لوري محضې سکوت قبول نه بلل کیږي، مګر په دې صورت چې دوه تاجران یو له بله سره دایمی تجارتي مناسبات ولري او یا یو له دې دوو تاجرانو څخه بل خپل ته مراجعه او هغه یې پخپل نامه د ځینو معاملاتو د اجرا لپاره وکیل ګرځولی وي هغه ایجاب چې له دوی څخه د یوه له خوا بل ته واقع کیږي نو مقابل طرف باید ته ژر تر ژره هغه ایجاب ځواب ورکړي او که نه، سکوت یې قبول بلل کېږي. هغه طرف چې ایجاب ردوي، د هغو مالونو په باره کې چې د ایجاب د تبلیغ په وخت کښې هغه ته لیږل شوی دی مکلف دی هغه تدبیرونه چې په (۷۶۲ – ۷۶۳ ) مادو کې بیان شوي دي، ونیسي.

**۶۱۴ ماده:** که د قبول ځواب د ایجاب سره موافق نه وي، عقد نه تړل کیږي. په دې صورت کې قبول د نوي ایجاب غوښتنه کوي.

**۶۱۵ ماده:** د دې لپاره چې په ایجاب او قبول پورې اړوند تلګرام د اعتبار وړ وبلل شي، نولازم دي چې په اثبات ورسیږي چې د لیږدوونکي کس لاسلیک ورباندې شته او یا تلګرام د هغه په اجازه صادر شوی دی.

**۶۱۶ ماده:** هغه ایجاب چې په لیکنه بسره کېږي، ایجاب کوونکي ته د قبول د ځواب د رارسیدلو له نیټې څخه عقد تړل کیږي، مګر که ایجاب کوونکی د قبول د ځواب له رارسیدلو څخه پخوا او یا په عین وخت کې د قبول کوونکي له اووښتو څخه خبر شي، ایجاب بې اثره کېږي.

**۶۱۷ ماده:** هغه عقد چې د مخابرې په ذریعه وشي، د قبول د ځواب د لیږلو له نیټې څخه تړل کیږي او داعتبار وړ بلل کېږی. لکه چې په ۶۱۳ ماده کې مقرره شوې ده. په هغه صورت چې قبول په صراحت سره لازم نه وي، عقد مخاطب ته د ایجاب د رسیدلو له نیټې څخه د اعتبار وړ دی.

**۶۱۸ ماده:** د یو ه تاجر فوت او یا اهلیت سلبېدل دده د تجارتي معاملاتو په خصوص کې په ایجاب او قبول کې د بطلان مستلزم نه کېږي، مګر داچې د هغه په خلاف دوی تصریح کړې وي او یا د معاملې له ماهیت څخه استدلال وشی.

<u>**د قرارداد د تر سره کېدو اړوند مطالباتو ځینې استثاوې.**</u>

په ځینو ځانګړو شرایطو کې، حتی که له پورته یادو شویو شرطونو څخه یو هم شتون ونه لري، محکمې کولای شي د قرارداد د تړلو پریکړه صادره کړي. فرض کړی چې ډوډۍ پخوونکی اسد د پام وړ برياوې لاسته راوړي او هغه په خپله په یوه مالداره او بډای کس باندې بدلیږي. هغه خبریږي چې ورراه یې نجیب الله غواړي واده وکړي. اسد نجیب الله ته ژمنه ورکوي چې هغه ته به یو کور اخلي. نجیب الله د خپل کاکا د ژمنې او خپل درک او شعور پر اساس، د یوه کور د اخستلو لپاره په عقد باندې پیل کوي. وروسته له دې په ډیر کم وخت کې د اسد او نجیب الله ترمنځ مخالفتونه پیداکیږي او په پایله کې اسد خپل وراره نجیب الله ته

خبر ورکوي چې نوموړی نه غواړي هغه ته پیسې ورکړي. نو له دې امله نجیب الله په خپل واک کې پوره او کافي پیسې نه لري څو وکولای شي کور پلورونکي ته یې ورکړي او په دې توګه د قرارداد د ماتیدلو یا سرغړونې د خطر او احتمال سره مخامخ کیږي.

سره ددې چې نجیب الله پوهیږي او دا مني چې د نوموړي سره د کاکا ژمنه یې له هغو عنصرونو څخه چې د یوه معتبر قرارداد د تړلو لپاره اړین بلل کیږي، بې برخې ده او له دې امله د اجراء کیدلو وړتیا نه لري، خو نوموړی تراوسه د دې احساس کوي چې د دغه ډول ژمنې پایلې ډیرې غیرعادلانه او بدې دي. آیا د قراردادونو حقوق له دغې ستونزې څخه د هغه د خلاصون لپاره کوم درمل نه دی وړاندې کړی؟

یو له هغو شرطونو څخه چې په هغه کې د قراردادونو حقوق یو قرارداد سره ددې  چې د قرارداد له اړینو او لازمي شرطونو څخه خالي هم وي، د اجراء وړ بولي،چې د ې ته بالفعل منل  (detrimental reliance) په نوم یادوي.  د قرارداد په عمل کې یا بالفعل منل هغه وخت صورت نیسي چې یو کس ژمنه سپاري او د خپلې ژمنې د بشپړولو لپاره پوره ګامونه ترسره کوي؛ او د ژمنې بل لوری په بل کس باندې د تکیې له امله کړنې ترسره کوي او همدا ډول د ژمنې د تعمیل لپاره د هغه کړنې هم د توجیه وړ وي. که د ژمنې دویم لوری د زیان پر غواړه اخستلو سربیره، په خپله ژمنه باندې ولاړ وي، نو په دې وخت کې محکمه د نوموړي لپاره درملنې او یا د حل لارې چارې پلټي او د بهرني کس له خوا ورکړل شوې ژمنه د قرارداد په توګه په پام کې نیول کیږي او بشپړتیا یې حتمي بلل کیږي. په ژمنه باندې تکیه او اعتماد، په قرارداد کې د دواړو لوریو لپاره د حقوقو او دندو د ایجاد یو متمایز او روښانه بنسټ شمیرل کیږي او هیڅکله هم د معاملې په شتون باندې تکیه نه کوي. نو له دې امله د اجراء وړ یوه قرارداد د ایجاد او پیژندلو لپاره د دوه اړخیزه عوضینو او یا دوه اړخیزه خوښې او رضایت معمولي او لومړني شرطونه او اړتیاوې، اړینې نه بلل کیږي. د نجیب الله او د هغه د پیسه داره کاکا په قضیه کې، محکمه احتمال لري دې ته ورسیږي چې نجیب الله په منطقي ډول په خپله ژمنه باندې عمل کړی دی او له دې امله د نوموړي کاکا (اسد) مکلف دی څو د (کور پلورونکي) په وړاندې خپله ژمنه عملي کړي.

همدا ډول که په یوه قرارداد کې تیروتنه شوې وي او یو دریم کس چې اصلا د قرارداد له لوریو څخه نه وي، له یادې شوې تیروتنې څخه ګټه پورته کړې وي، قرارداد په هغه باندې لازمي بلل کیږي؛ د بیلګې په ډول: که عبدل په تصادفي ډول خپل اوړه په هغه هوټل کې ویشلي وي چې د اسد په ګاونډیتوب کې واقع دی او د هوټل خاوند هم له یادو شویو اوړو څخه د خپلو ورځنیو چارو د مخ ته بیولو لپاره ګټه اخلي، نو په دې صورت کې دا ضمني قرارداد (implied contract) بلل کیږي. په پورتنې حالت کې، عدالت او انصاف داسې پرېکړه کوي چې د هوټل څښتن باید عبدل ته د زیان جبران په داسې توګه پرې کړي،  لکه چې د سره د دوی ترمنځ قرارداد صورت موندلای دی.

**د بحث وړ پوښتنې**

- ❖ څنګه امکان لري چې ځینې وخت قانون هغه قرارداد چې آن له څلورو اساسي او بنسټیزو عنصرونو څخه هم خالي وي، د اجراء وړ یوه قرارداد په توګه پیژني؟
- ❖ آیا قانون هڅه کوي چې د ضمني اشارې له لارې په یادو شوی شرطونو کې د قرارداد په شتون، کومې پایلې پیدا کړي؟
- ❖ هر کله چې یو قرارداد نامعلوم (مبهم) او نیمګړی وي، څه به پیښ شي؟

## ج: د قرارداد د ابهام او یا نیمګړتیا له امله کومې ستونزې منځ ته راځي؟

**هغه عمومي ستونزې چې د قرارداد د ابهام او نیمګړتیا څخه رامنځ ته کېږی**

تاسو په یاد راوړئ چې په پورتنی بیلګه کې، اسد په دې خفه دی چې د هغه او عبدل ترمنځ د ناوړه تفاهم مبدأ او سرچینه د نوموړي اقتصاد او سوداګرۍ ته د ناوړه او زیانمنو اغیزو او پایلو لامل وګرځید او په دې باور لري که د قرارداد شرطونه د دوی ترمنځ په سمه توګه ترسره شوي وای، نو زیاتې ګټې به یې ترلاسه کړې وای. څرنګه چې لږ وړاندې ورباندې بحث وشو، د قرارداد د لوریو لومړی تشویش او خفګان دا دی چې په قرارداد کې د دوی معقولې او منطقي تمې او هیلې څنګه ساتل کیدلای شي؛ دغه ډول خفګان په خپل وار سره په هغو لارو چارو کې چې د هغو پر بناء، قانون، د پام وړ قرارداد ښه نیول او انعقاد معلوموي او هم د قرارداد د شروطو او موادو د تفسیر او تعبیر په لاور چارو کې منعکس او راڅرګندیږي.

سربیره پر دې، په دې برخه کې اصلي ستونزه دا ده چې د قریب او نږدې په اتفاق نه شو کولای په ټولو قراردادونو کې (پرته له هغو قراردادونو څخه چې د واحدو او فوري معاملاتو لپاره ترل کیږي) د ټولو جزیاتو او واقعاتو لپاره چې د یوه قرارداد په ټول عمر کې پیښیږي، حکمونه ولیکو او ځای پر ځای یې کړو؛ د بیلګې په توګه: سره له دو چې د اسد او عبدل ترمنځ پریکړه شوې چې اسد به د هرې بوجۍ اوړو په وړاندې ۵۰۰ افغانۍ پرې کوي، خو امکان لري چې هغه بوجې چې اسد یې په پام کې لري د عبدل د پام وړ بوجۍ سره توپیر ولري. که عبدل په ریښتیني ډول ونه غواړي چې هغه لارې چارې چې هغه یې کاروي، عبدل ورباندې پوه شي، نو په دې وخت کې د قرارداد لوري د قرارداد له انعقاد څخه بیلابیلې اخستنې او انګېرنې لري. سره ددې چې اسد داسې فکر کوي چې د قرارداد مواد او شرطونه په ښه توګه څرګند او روښانه دي ( یعنې اسد به د هرې یوې بوجۍ اوړو په مقابل کې ۵۰۰ افغانۍ پرې کوي)، ولې هغه امکان لري پوه نه شي چې عبدل د اوړو د بوجۍ د لویوالي او کوچنوالي په اړه، له هغه څخه بیل درک او اخذ په سر کې لري، او دغه ستونزه تر هغه وخت پورې چې څو قرارداد نه وي لاسلیک شوی او عبدل د هغو د سرته رسولو لپاره ګام نه وي اخستی، نه معلومیږي.

په دې توګه، د هغو ستونزو له ډلې څخه چې قراردادونه ګواښوي، یوه هم د قرارداد په شرطونو او جزئیاتو کې د (بې باورۍ) ستونزه ده. تاسو کولای شی فکر وکړی چې دغه ستونزه په زیاتو ځایونو کې پیښیږي حتا په هغو ځایونو کې چې د قرارداد ټول لوري د قرارداد په ټولو شرطونو او موادو باندې موافقه لري، هم دغه شان ستونزې راڅرګندیږي. د اوړو د پلورلو لپاره د عبدل په وړاندیز کې، که چیرې نوموړی ځینې داسې جملې او کلمې وکاروي چې اسد د پیرووډونکي په توګه، د هغو د جملو پر بناء باور وکړي چې د پام وړ اوړه د یوه ځانګړي کیفیت څخه برخمن دي، بې له شکه عبدل به د دې تمه او هیله لري چې د عبدل سره د قرارداد په پایله کې به داسې اوړه ترلاسه کړي چې له یاد شوي کیفیت او څرګنوالي څخه برخمن وي؛ د بیلګې په توګه: عبدل امکان لري ژمنه ورکړې چې اوړه یې (ښه کیفیت ) لري، اسد امکان لري داسې انګېرنه ورڅخه وکړي چې د پام وړ اوړه د (بهترین کیفت څښتن) دي. که په هیلو او تمو کې د قرارداد د لوریو پورته توپیر د دوی ترمنځ د شخړې لامل وګرځي، نو په دې وخت کې د قرارداد تفسیر اړوند قانون ته راجع کیږي او قاضي باید په دې اړه تصمیم ونیسي.

سره له دې، هغه لوري چې د قرارداد مسوده برابروي، مجبور دي د یوه زیات شمیر دغه ډول ستونزو ( د بې باورۍ ستونزه ) سره چې د ماهیت له معنی څخه رابرسیره کیږي، مخامخ شي، څرنګه چې د قرارداد لوري نه پوهیږي چې راتلونکې پیښې او واقعات به په کوم ډول تګلاره کې ځای ونیسي، نو له دې امله دوی ته ډیره ستونزمنه ده څو د ټولو هغو شیانو په راتلونکې کې به پیښیږي او د قرارداد د لوریو په مکلفیتونو باندې به اغیزه پرې باسي، وړاندوینه وکړي. په دې توګه د دوی قرارداد د دغه ډول بې باورۍ په اړه چوپ پاتې کیږي. د قرارداد د وخت په زیاتیدلو سره دغه ستونزې چې د معلوماتو له نشتوالي او یا کمښت څخه رابرسیره کیږي، زیاتیږي. همدا ډول ځینې احتمالات کیدای شي په قصدي او عمدي ډول په قرارداد کې ځای پر ځای نه شي؛ ځکه د قرارداد لوري د دغه ډول احتمالاتو بالقوه پایلې په پام کې نه نیسي او له بله اړخه د یادو شوو احتمالاتو په سر خبرې اترې امکان

لري د لوريو د تفاهم او پوښتنو ګروپرنو پر سر ناوړه اغيزه پرې باسي.

**د قصور اصول: د قرارداد د تفسير او تعبير بنسټونه**

په دغه ډول قضيو کې د قرارداد قانون کوم ډول لاربنوودونه برابروي؟ د عمل له سرته رسولو وروسته، آيا مناسبه ده چې محکمه د قرارداد خلاوې او تشې، د قانوني د شرطونو او موادو له لارې چې د قرارداد د پلي کېدو د شرطونو سره مناسبت ولري، ليرې کړي؟ آيا د محکمې له خوا د دغه ډول خلاو او تشو ليرې کول، د قرارداد د داوطلبانو خوښه او رضايت، چې د قرارداد د بڼه جوړولو او انعقاد په وخت کې صورت نيسي، نه کموي؟

له عملي پيښې وروسته، ځينې وخت محکمې د يوه ناقص قرارداد د تشو او خلاو د ډکولو لپاره، له خپل قانوني واک څخه ګټه اخلي، خو په زيات کچه دغه ډول ناقص قراردادونه د قصور د قوانينو له خوا تر غور او څېړنې لاندې نيول کيږي. د قصور اصول هغو موادو او شرطونو ته ويل کيږي چې د قرارداد څرښنده (ضمني) برخه بلل کيږي، خو که د قرارداد حکمونو په څرګند ډول نه وي ويلي چې په دغه ځای کې ځانګړي حکمونه او مواد د پلي کېدو وړ دي؛ د بيلګې په توګه: که د قصور اصول وايي چې قرارداد په پرله پسې توګه جاري پاتې شي، محکمه داسې فرض کوي چې ياد شوی قرارداد تر هغه وخت پورې دوامدار بلل کيږي چې د قانون يو حکم، د قرارداد د پای ته رسيدلو وخت په ګوته نه کړي.

د تجارت اصولنامه۶۱۹ او ۶۲۳ مادې او د مدني قانون ۷۰۵ او ۷۲۹ مادې ، د قصور د اصولو يوه برخه بلل کيږي چې محکمې بايد ورڅخه د قرارداد د تفسير د شخړو د حل لپاره ورڅخه ګټه پورته کړي.

په افغانستان کې قانون، د قرارداد د ريښتيني موخې د اجراء او پلي کېدو ارجحيت بيانوي او ريښتيني موخه د قرارداد د انعقاد په وخت کې د قرارداد د لوريو له نيت څخه څرګندويي کوي. ذهني نيت ( Subjective intention ) هغه حقيقي نيت ته ويل کيږي چې د قرارداد لوري يې په خپل زړه او ذهن کې لري خو خبرې يې نه دي پرې کړې. سره له دې، څرنګه چې د قرارداد لوري په شخړه کې ښکيل دي، داسې تر سترګو کيږي چې د دوی ذهني نيتونه د يو او بل سره زيات اختلاف نه لري. په هغه شخړه کې چې د عبدل او اسد ترمنځ رابرسيره شوې ده، هر يو د ( ښه ) کلمې ته ځانګړې معنی او تفسير لري.

که اسد او عبدل تصميم ونيسي چې شخړه به يې د سوداګرۍ د قانون د حکمونو سره سم پرې کيږي، د سوداګرۍ قانون وايي له دې امله چې دوی نه شي کولای په ګډه سره يوه ريښتيني، همغږې او يو شان موخه ولري، نو د محکمې غړي لومړی بايد د عبدل او اسد ترمنځ د بسته شوي قرارداد منځپانګې (محتوا) ته رجوع وکړي او له دې وروسته هغه رسمونه او رواجونه چې د قرارداد د انفاذ په وخت کې رايج وو، تر غور او څېړنې لاندې نيسي څو وکولای شي د قرارداد د ابهام د تفسير لپاره يوه سريزه جوړه کړي. همدا ډول که دوی له دې وړاندې داسې معامله ترسره کړې وي چې په هغو کې عبدل خپل محصولات په اسد باندې پلورلي وي او هغه يې د ( ښه ) په کلمه توصيف او په ډلو ويشلي وي او اسد هم هغه پرته له کومې کتنې او نيوکې منلي وي، عبدل شته واقعيت ته په کتو، کولای شي په اسد باندې غلبه وکړي او ادعا وکړي چې اسد د ( ښه) مفهوم پيژندلی دی.

خو که چيرې د دوی ترمنځ دغه ډول سوداګريزه اړيکه شتون ولري، موږ مجبور يو چې د سوداګرۍ د قانون ترڅنګ، هغو رسمونو او رواجونو ته رجوع وکړو چې د دغه ډول معاملو په اړه د خلکو ترمنځ رايجې دي. که د موږ د باور او معلوماتو لپاره کوم رسم او رواج شتون ونه لري، نو په دې وخت کې د هيواد مدني او سوداګريز دواړه قوانين غواړي چې قرارداد بايد د وړانديز د لاسته راوړونکي په ګټه او د وړانديزکوونکي په خلاف تفسير شي.

همدا ډول قانون کولای شي ځينې نورې اجباري قاعدې اواصول( mandatory rules )، چې ځينې څرښنده (فرعي) مواد او حکمونو ته شامل او هيڅ لوری ونه شي کولای له هغو څخه سرغړونه وکړي، وضع کړي؛ ځکه د وضعي قانون موخه دا ده څو

یاد شوی قانون د لوریو لپاره مثبت پریوزي او له ټولنیزو ګټو څخه برخمن وي؛ د بیلګې په توګه: د امریکې په متحده ایالتونو کې زیات قضاوتونه او پریکړې د هغو میثاقونو او معاهدو پر سر صورت نیسي چې د تحویلی په څیر، په قرارداد کې د لوریو د ښه نیت او انصاف څرګندویي کوي. یعنې د قرارداد لوري نه شي کولای د مقابل لوري سره د کړنو لپاره، په خپله خپلې شرطونه او اړتیاوې وټاکي، بلکې دغه شرطونه د میثاقونو له خو ټاکل کیږي.

په لاندې ډول د سوداګریز او مدني قانون ځینې برخې چې د قرارداد د تفسیر سره تړاو لري او د شخړو د حل ته ځانګړې شوي، بیانوو.

**د سواګرۍ د تجارت اصولنامه ، ۱۹۵۵کال**

**د قرارداد تفسیر:**

**۶۱۹ ماده:** که د عبارت معنی چې په یوه سوداګریزه معامله کې لیکل کیږي واضح او منطقي وي، د هغه ظاهري معنی ته اعتبار ورکول کیږي. او که د مقصد منافي عبارت څرګنده معنی وي، نو پدې صورت کې مقصد ته اعتبار ورکول کیږي.

**۶۲۰ ماده:** په دې صورت کې چې عبارت د معددو تعبیرونو امکان ولري نو د طرفینو مشترک مقصد د بلې مقاولې له مندرجاتو یا له هغه عرف او عاداتو او احوالو څخه چې د مقاولې د تنظیم په وخت کې موجود وي او یا نظر د پخوانیو تطبیقاتو سوابقو ته ټاکل کیږي.

**۶۲۱ ماده:** په دې صورت کې چې عبارت متعدده او مشترکه معنی ولري، د هرې معنی افاده کولو ته چې نږدې وي، تفسیر یی په هماغه معنی سره کیږي.

**۶۲۲ ماده:** پدې صورت کې چې د مقاولې عبارت په ډېرو معناګانو سره تعبیر شي او له ۶۲۰ مې مادې سره سم، حقیقي مقصد ونه ټاکل شي، نو مقاوله د متعهدبر له او د متعهد له خلاف تفسیر کیږي.

**۶۲۳ ماده: د** قانون احکام او تجارتي عرف او رواج اعتبار په تجارتي معاملاتو کې مؤثر دی، بې له هغه حالت څخه چې دواړو خواوو صراحتاً د هغه په خلاف موافقت کړی وي.

**د ۱۹۷۷ ز کال مدني قانون:**

**۷۰۶ ماده:** په عقدونو کې د عقد دواړو خواوو د ظاهري ارادې په نظر کې نیولو سره، مقصودونو او معناګانو ته اعتبار ورکول کیږی ، نه لفظونو او حرفونو ته.

**۷۰۸ ماده:** د صریح په مقابل کې، دلالت اعتبار نه لري. که د دواړو مفهوم یو دبل معارض واقع شي نو صریح ته ترجیح ورکول کیږی.

**۷۱۱ ماده:** په خبره عمل کول د هغې د پرېښودو څخه ښه دي. تر څو چې خبره په یوې معنې حملېدای شي، د هغې پرېښودل جواز نه لري، که یی عمل متعذر شو نو پرېښودله کیږي.

**۷۱۷ ماده:** شک د پوروړی په ګټه تفسيريږي.

**د قرارداد د تفسير په وخت کې د رسم او رواج ځای:**

**۷۲۰ ماده:** کوم شی چې په عرف کې معروف وي د هغه څه په څېر دي لکه چې شرط اېښودل شوی وي.

**۷۲۱ ماده:** عادت که عام وي او يا خاص، د حکم مدار ګڼدای شي.

**۷۲۲ ماده:** عادت هغه وخت اعتبار لري، چې عموميت او اکثريت ولري. څېور اغلبيت ته اعتبار ورکول کيږي، نه نادر اغلبيت ته.

**۷۲۳ ماده:** کوم شی چې په عادت کې منع وي لکه چې په حقيقت کې منع وي.

**د بحث وړ پوښتنې**

- د تجارتي قانون ۶۲۲ او د مدني قانون ۷۱۷ مادې، څنګه کولای شي، د موټر لپاره د (ښه) د کلمې، چې ټاکلې ده زه به يې په تا پلورم، د تعبير او تفسير د ټاکلو په برخه کې د قاضي په پريکړه اغيزمنه پرې باسي؟ ستاسو په اند آيا دغه قانون عادل دی؟
- ستاسو په نظر، ولې قانون د قصور اصول وړاندېز کوي؟ آيا تاسو کولای شی د قصور له اصولو پرته، بل عادل قانون پيدا کړی؟

## د: هغه حقوق او مکلفيتونه چې له قرارداد څخه پيداکيږي، څنګه کيدای شي له اصلي متعهد څخه بل لوري ته منتقل يا و لېږدول شي؟

د قرارداد له لوريو څخه امکان لري يو لوری وغواړي چې د قرارداد خپل حقوق او امتيازات يو بل لوري ته و لېږدوی، ځکه د قرارداد تداوم امکان لري د هغه لپاره کومه معنی ونه لري. فرض کړئ چې اسد تصميم نيسي څو له خپل کار او بار څخه لاس په سر او د ډوډۍ پخلنځی خپل زوی ياسر ته وسپاري څو نوموړی وکولای شي د خپل کار او بار په مخ بوزي. اوس امکان لري چې اسد ته د قرارداد تداوم (له عبدل څخه د اوړو راوړل) نور کوم معنی او مفهوم ونه لري. د دې پر ځای چې اسد د يوه نوي قرارداد د عقد لپاره د عبدل سره تفاهم وکړي، اسد په آسانی سره کولای شي خپل حق چې د اوړو له راوړلو څخه عبارت دی، خپل زوی ته وسپاري. د حقوقو او مکلفيتونو دغه ډول لېږد ته سپارل (ASSIGNMENT) ويل کيږي. قانون علاقه مند دی څو دغه ډول سپارل ته رسميت وروبخښي؛ ځکه په اقتصادي چارو کې د اغيزمنتوب او ګټورتوب لامل ګرځي. په عمومي توګه، سپارل جايز بلل شوي دي، خو که قرارداد په صريح ډول هغه نه وي منع کړی.

**سپارل او واکدار کول**

هرکله چې تاسو يو واړې قرارداد ته ور داخل شی، هغه حقوق او امتيازات چې تاسو لپاره له قرارداد څخه پيدا کيږي، د مالکيت د

حقوقو په توګه په پام کې نیول کیږي. څرګنده ده، څرنګه چې تاسو د یوه منقول جایداد د مالکیت لپاره لکه کښت، د هغه د ټولو ګټو او امتیازاتو مستحق یاستی او د خپلو مکلفیتونو په وړاندې مسوول یاستی، همدا ډول کله چې تاسو د یوه اجراء وړ قرارداد یو لوری پریوزی، هماغه ډول مسوولیتونه او حقوق دربانديې پلي کیږي. د جایداد په ټولو ډولونو کې، د دې لپاره چې ولې دغه حقوق د لیږدولو وړ دي، زیات شمیر پیاوړي دلیلونه شتون لري.

همدا ډول امکان لري د قرارداد یو لوری وغواړي څو خپل مکلفیتونه او دندې د یوه قرارداد له لارې بل کس ته ولیږدوی. په هره اندازه چې نوموړی کس کولای شي خپل حقوق په آسانی سره لیږدوي ، ولې په آسانی سره نه شي کولای خپلې دندې یوه بل کس ته و لیږدوي. په هغو ځایونو کې چې هلته دندې شخصي او خصوصي ماهیت ونه لري، کیدای شي د وکالت له لارې یوه بل کس ته ولیږدوي ، خو په دې شرط چې د خدمتونو لاسته راوړونکی د هغه وکالت منظور کړي او ویې مني؛ د بیلګې په توګه: هغه سوداګر چې مکلف دی ماته یو ټن اوړه راوړي، امکان لري خپل مکلفیت یوه بل سوداګر ته ولیږدوي. که زه د پورته یاد شوي تغییر او لیږد سره موافق واوسم، نو قانون اجازه ورکوي څو دغه مکلفیت وکیل ته وروسپاري؛ ځکه اوړه کیدای شي د بدلې وړ وي (FUNGIBLE). په بل عبارت، د اوړو ماهیت له هغې مالونو څخه دی چې آزادانه او په آسانی سره په عین نمونه او ډول باندې بدلیدلای شي. زما له خوا د وکالت منل او تأییدول دا معنی لري چې زه باید د دویم سوداګر څخه د اوړو د لاسته راوړلو په وخت کې اوړه وګورم او معلومه کړم چې آیا انداز یې د هغو اوړو سره چې له اصلي سوداګر څخه مې ترلاسه کول، یو شان ده او که څنګه.

په عمومي توګه، که قرارداد یوه لوري ته د دې اجازه ورکوي او مکلف یې ګرځوي څو خپل خدمات چې د کیفیت له اړخ بې ساري دي، په خپله ترسره کړي. نو یو مشهور سندر غواړی نه شي کولای خپل مکلفیتونه، د یوه کانسرت د اجراء لپاره، یوه بل سندر غواړي ته وسپاري. همدا ډول که یو کس خپل مکلفیتونه یوه بل لوري ته وسپاري، تر څو چې سپارل شوي مکلفیتونه نه وي بشپړ شوي او همدا ډول تر څو چې اصلي لوري (هغه لوری چې وکالت یې منلی دی) هغه له مکلفیت څخه نه وي آزاد کړی، هغه ملزم او متعهد پاتې کیږي. نو په دې توګه هر څومره چې سوداګر وکولای شول خپله دنده یې ملګري ته وسپاري تر څو لومړي لوري ته د اړتیا وړ اوړه تهیه او تدارک کړي، خو که د هغه ملګری د اوړو په ویشلو او تهیه او تدارک کې ناکام پاتې شي، لومړی سوداګر د ټولو زیانونو لپاره مسوول او متعهد بلل کیږي، ځکه د هغه بل چاته سپارل شوې دنده، په سمه توګه نه ده ترسره شوې.

**د مفاهیمو بیا کتنه : د قرارداد د دندو او حقوقو لیږد**

سپارل او لیږد واکدار کول : هر کله چې له قرارداد څخه ترلاسه شوې ګټه او یا حق له اصلي لوري څخه بل لوري ته ولیږدول شي، نو دغه کار ته په اصطلاح کې (سپارل) (ASSIGNMENT) ویل کیږي.

واکدار کول : هر کله چې هغه دنده چې د قرارداد له مخې یوه کس ته سپارل شوې ده، له اصلي لوري څخه بل لوري ته ولیږدول شي، نو په اصطلاح کې ورته د ( وکالت سپارل) ویل کیږي. خو په یاد ولرئ چې سره له دو چې اصلي لوری کولای شي خپل مکلفیت یوه بل کس ته انتقال او تفویض کړي، ولې د سرته نه رسولو مسوولیت او التزام د اصلي کس په غاړه پاتې کیږي. په هغه وخت کې چې دندې شخصي ماهیت ولري او تر فرد پورې اړوند وي، نو د وکالت تفویض او سپارل نه دي رواه.

**د بحث وړ پوښتنې**

1. د سپارلو او د واکدارکولو یا تفویض ترمنځ څه توپیر دی؟

2. د قرارداد د دندو او مکلفیتونو د لېږد لپاره قانوني اجازه څنګه کیدای شي د اغیزمنتوب او ګټورتوب لامل وګرځي؟

3. یوه بیلګه په پام کې ونیسئ: وروسته له دې چې ته زما د ډوډۍ پخلنځی واخلې، زه غواړم له سوداګر څخه د اوړو د لاسته راوړلو خپل حق، تا ته انتقال کړم. نو دغه لېږد ولې زما لپاره ګټور دی؟ ستا لپاره؟ او د سوداګر لپاره؟ فکر وکړی، آیا که موږ دغه ډول ساده لېږد په پراخه کچه د ټول هیواد په اقتصاد کې تکرار کړو، تر کومې کچې کولای شو خپلې سرچینې او وخت ذخیره کړو؟

## هـ کله چې له یوه قراردادسرغړونه کیږي، موږ باید څه وکړو؟

### د قرارداد نقض او د هغو لپاره د لارو چارو پلټل

اوس فرض کړی چې هغه ډار چې اسد په خپل سر کې د سوداګرۍ په اړه لرلو، په واقعیت بدل شو، عبدل د اوړو په راوړلو کې، څرنګه چې ورباندې پریکړه شوې وه، ناکام او یا بې وسه کیږي. د قراردادونو د قانون سره سم، هر هغه وخت چې د قرارداد یو لوری د قرارداد د مکلفیت او دندو په ترسره کولو کې ناکام پاتې شي، نو موږ وایو چې هغه له قرارداد **څخه سرغړونه** کړی ده.

د قرارداد د نقض او ماتیدلو د موضوع سره تعامل د قراردادونو دحقوقویوه مهمه برخه جوړوي. څرنګه چې د اجراء وړ یوه قرارداد لپاره د یوې اغیزمنې کړندودونه نه شتون ( او یا د قرارداد د نقض له لامله د اړول شوي زیان لپاره د رغاونې نه شتون)، د هغه باور کچه چې قانون یې باید رامنځ ته کړي، ډیره ښکته بیایي. نو له دې امله قانون د قرارداد د ماهیت او شکل ارزښت د مناسبې درملنې او یا چاره پلټنې له لارې ساتي. د مدني قانون ۷۳۹ ماده، په هغو ځایونو کې چې قرارداد نقض او مات شوی وي، د زیان د پټې کولو او جبران لپاره داسې وایي: ( په هغه عقدونو کې چې د عقد دواړو خواووته الزام متوجه کوي نوکه یوې خوا خپل التزام تر سره نکړ ، بله خوا کولای شی چې د عقد د فسخ کېدو او د اقتضا په وخت کې د تعویض سره غوښتنه وکړي.)

وروسته له دې چې معلومه شي، چې د اجراء وړ قرارداد یو لوری نه شي کولی د ټاکلو شروطو سره عمل ترسره کړي، واک لرونکې محکمه باید تصمیم ونیسي چې د ناکام لوري مقابل لوری باید کوم ډول درمل ترلاسه کړي څو له هغه څخه په ګټه اخستو وکولای شي، هغه زیانونه چې د قرارداد د نقض له لامله ورباندې عارض شوي دي، جبران او پټې کړي. په عمومي توګه، د یوه قرارداد د نقض لپاره فرضي مرسته او کمک د پیسو کمک دی. همدا ډول امکان لري چې واک لرونکې محکمه د قرارداد ناقض او ماتوونکي ته امر وکړي څو د قرارداد له ماتیدلو د اړول شوي زیان د جبران لپاره، ځینې ځانګړي ګامونه واخلي. دغه ځانګړي ګام ته ( ځانګړې کړنې) ویل کیږي. همدا ډول ځینې وخت د قرارداد لوري مخکې له مخکې د خپلې پریکړې او موافقې د یوې برخې په توګه په ګوته کوي چې د قرارداد د نقض او ماتیدلو په صورت کې کوم زیانونه پیښیږي. دغه ډول زیان ته په قرارداد کې اټکل شوي زیان ه ویل کیږي. نو له دې لامله په لاندې ډول موږ د درمل (یا د زیان د جبران لارو چارو) ډولونه په خپل وار سره تر غور او څیړنې لاندې نیسو.

### نغدو پیسو مرسته

پیسې هغه وسیله ده چې په معمولي توګه د زیان د جبران او پټې په توګه، غیر ناقض (زیانمن شوي) لوري ته ورکول کیږي. محکمې غواړي څو زیانمن شوي لوري ته دومره اندازه پیسې ورکړي، څو د هغه مبلغ سره، چې په بریالیتوب سره د قرارداد د بشپړتیا په صورت کې یې تمه او هیله لرله، برابرې وي. د جبران په توګه د پیسو د ورکړې په اړه په تصمیم نیولو کې، محکمه

باید ځینې کړندودونه په خپل واک کې ولري څو د هغه پر بنسټ وکولای شي د زیان اندازه او کچه په سمه توګه محاسبه او په ګوته کړي چې د زیانمن شوي لوري لپاره څومره اندازه پیسې مناسبې دي.

په معمولي ډول خلک د ګټورو معاملاتو (wealth enhancing) په لار اچولو لپاره، قرارداد کوي. د اجراء وړ یوه قرارداد لاس لیک او بېه نیول د دواړو لوریو لپاره یو لړ هیلې منځ ته راوړي او قانون هم په خپل وار سره له دغه ډول هیلو او آرزوګانو څخه ساتنه او حراست کوي. کله چې محکمه تصمیم نیسي چې د زیانمنو لوریو لپاره، یوه اندازه پیسې د خسارې په توګه پرې کړي څو دوی وکولای شي د هغو ګټو او فایدو لپاره، چې ټاکلې وه د قرارداد د بشپړتیا په صورت کې به یې لاسته راوړي، خو ولې د دوی تمه او هیله د قرارداد د ماتیدلو له لامله پوره نه شوه، ورڅخه ګټه پورته کړي، نو له دې ځای څخه په آسانی سره کولای شی د احتمالي زیان (expectation damages) پر مفهوم او معنی باندې پوه شی. هغه حق ته چې د قرارداد بل لوری یې د ترسره شویو اجراااتو او کړنو څخه ترلاسه کوي، د مالکیت حق ورته ویل کیږي. که د قرارداد یو لوری قرارداد مات او نقض کړي، زیانمن شوی لوری مستحق دی څو هرڅومره ژر چې امکان وي، د هغو پیسو د اعادې لپاره، چې د قرارداد د بشپړتیا په صورت کې یې د ګټو په توګه لاسته راوړلې او د هغه مقام د ساتلو په موخه، چې د قرارداد د بشپړتیا په وخت کې یې تر خپلې ولکې لاندې راوستلی شو، د محکمې پرېکړې او قضاوت ته مراجعه وکړي. ډیر وخت د تمې وجه الخساره، په څو ځله له هغې اندازې څخه چې موږ یې فکر کوو، کمیږي. په دې اړه چې څه وخت او په څه ډول باید د ورته غوښتنو او ادعاګانو ترمنځ توپیر او تفکیک رامنځ ته شي، تصمیم نیول د جبران کولو د حقوقو (Remedy law) یوه ډیره ستونزمنه او جنجالي موضوع شمیرل کیږي.

د دغې موضوع د لاروښانتیا په موخه، د عبدل او اسد بیلګه په پام کې ونیسئ: د قرارداد پر اساس عبدل مجبور دی څو هره ورځ دوې بوجۍ اوړه د عبدل پخلنځي ته ورسوي. هر کله چې عبدل د یوې اونۍ وخت لپاره د اسد دوکان ته د اوړو په رسولو کې پاتې راشي، محکمه باید تصمیم ونیسي څو د اسد لپاره د تمې وجه الخساره پرې کړي، نو اسد به د څومره پیسو وړ وي؟

لومړنۍ او روښانه اندازه چې اسد یې وړ بلل کیږي، هغه اندازه ده چې اسد د اوړو د لاسته راوړلو لپاره پرې کړې ده خو ولې په بدل کې یې اوړه نه دي ویشل شوي. که اسد د یوې اونۍ وخت اوړو د لاسته راوړلو لپاره ۵۰۰۰ افغانۍ پرې کړې وي او عبدل د یوې اونۍ لپاره د اوړو په وړلو کې پاتې راغلی وي، نو په لومړي ګام کې اسد د ۵۰۰۰ افغانیو د لاسته راوړلو مستحق دی.

سربیره پر دې، اسد د دې لپاره څو وکولای شي خپلې سوداګرۍ ته ادامه ورکړي، باید یو نوی سوداګر پیدا او د یوه لنډ یادښت په استولو سره، له هغه څخه اوړه واخلي. په پایله کې اسد مکلف دی، د بیلګې په توګه، د هرې پوړۍ په وړاندې ۶۰۰ افغانۍ پرې کړي. د ( تمې د وجه الخسارې) لومړۍ موخه دا ده، څو غیر ناقض لوری (non-breacher)، چې په دې ځای کې د پام وړ کس اسد دی، په داسې ځای کې برقراروي چې د قرارداد د بشپړتیا په صورت کې یې کولای شول، هغه تر خپلې ولکې لاندې راولي. نو له دې لامله، د اضافي لګښتونو معقوله او منطقي محاسبه، چې اسد د قرارداد د ماتیدلو په پایله کې پر غاړه اخیستې ده، د تمې وجه الخسارې ته شاملیږي. په پای کې د تمې وجه الخساره، ټولو هغو له لاسه ورکړیو ګټو ته شاملیږي چې اسد د اونۍ په اوږدو کې، د ډوډۍ د تیارولو په موخه د اوړو د نشتوالي له لامله، په غاړه اخیستي دي.

## ځانګړې کړنې

که د قرارداد د ماتیدلو له امله، اړول شوي تاوانونه د پیسو له لارې په سمه توګه نه شي جبران کیدلای، زیات احتمال لیدل کیږي چې محکمه د قرارداد ماتوونکي لوري ته د ( ځانګړې عمل او کړنې) لارښوونه وکړي. معمولترین ځای او حالت چې د جبراني وسیلې په توګه، په پیسه ایزه وجه الخساره کې ناکافي او بې اغیزه بلل کیږي، هغه وخت دی چې قرارداد بې بیلګې وي، یعنې ورته قرارداد شتون ونه لري. که د یوې قطعې ځمکې د پلورلو لپاره قرارداد تر یوه فرد پورې منحصر وي، پیسه ایزه وجه الخساره

نه شي کولای، د زیانمن لوري هغه حقوق چې د قرارداد د بشپړتیا په صورت کې هغه لاسته راوړلای شول او یا هغه مقام چې د قرارداد د بشپړتیا په صورت کې یې تر خپلې ولکې لاندې راوستلای شو، اعاده کړي؛ ځکه په یادو شویو پیسو باندې نه شي کولای هماغه ډول ځمکه په یوه بل ځای کې واخلي. دغه بیلګه د نمونې په ډول په پام کې ونیسئ: که زه ستاسره د یوه ګړندي آس ( د سیالیو آس) د پلورلو قرارداد و کړم او وروسته خپل تصمیم بدل کړم. اوس که ته محکمې ته رجوع وکړې نو محکمه به ماته امر وکړي چې آس درته وسپارم؛ ځکه محکمه نه شي کولای په سمه توګه د هغو پیسو اندازه چې په دقیق ډول د یاد شوي آس د له لاسه ورکول له لامله د اړول شوي زیان تکافو وکړي، وټاکي. په عمومي ډول، پیاوړی ګمان او فرض دا دی، چې منقول جایداد تر فرد پورې منحصر دی، نو له دې امله، که د قرارداد ماتول د انتقال او یا ځمکې په اړه وي په دې وخت کې ځانګړی عمل یوازینی چاره بلل کیږي.

## دپه قانون کې اټکل شوی زیان

د مدني قانون ۷۳۱ ماده چې په لاندې توګه لیکل شوې ده، په څرګند ډول د ( زیانونو د نغدیې ) لپاره لاره خلاصه کړې ده او د قرارداد لوریو ته یې واک سپارلی څو ځینې زیانونه چې د قرارداد د ماتیدلو په وخت کې رامنځ ته کیږي، او د پیسو ورکولو له لارې باید جبران شي، په روښانه او څرګند ډول مشخص کړي. د زیانونو له نغدیې (liquidated damage) څخه ګټه اخستل، د قرارداد د لوریو لپاره زیات شمیر ګټې برابروي: لومړی، د قرارداد لوریو ته اجازه ورکوي څو یوه اندازه پیسې د قرارداد د ماتیدلو لپاره مخکې له مخکې تعیین کړي او له دغې لارې د خطرونو کچه محدوده کړي. دغه انتخاب په ځانګړي ډول هغه وخت ډیر ګټور دی چې زیانونه نامعلوم او یا سمه او دقیقه محاسبه یې سخته وي؛ دویم، د قرارداد لوریو ته اجازه ورکوي څو د ښه او کلک باور له مخې، له قرارداد څخه د پیدا شویو احتمالي زیانونو د کچې په اړه پوه شي. په پایله کې د قرارداد لوري کولای شي په آسانۍ سره، د بې باورۍ له رابرسیره کیدلو، په متقابلو چارو کې له وروسته والي او د قضایي لړۍ په موخه د لګښتونو له پرې کولو څخه ځان وساتي.

**مدني قانون ( ۱۹۷۷ ز کال)**

**د اټکل شوي زیان (ضمان)**

۷۳۱ ماده :د عقد دواړه خواوې کولای شي د تنفیذ د نشتوالي یا د اداکولو د وروسته والي په حالت کې، په عقد یا تر هغې وروسته موافقه کښې، د مستحق ضمان قیمت تحددید کړي.

۷۳۲ ماده: که پوروړی ثابت کړي چې ټاکل شوی ضمان عادلانه نه دی او دهغه ضرر سره چې د نه تنفیذېدو له امله پیدا شوی متناسب ندی، پورورکوونکی یی نه مستحق کیږي.

**د محکمې له لوري د زیانونو محاسبه**

۷۳۴ ماده: که د ضمان په اندازه دترمخه موافقه نه وه شوی یا په قانون کښې وربانديې صراحت نه وو شوی، محکمه کولای شی پور ورکوونکی ته د وارد شوی خسارې او د کاره پاتې کېدو په نظر کې نیولو سره، هغه و ټاکي..

سربیره پر دې، که محکمه معلوم کړي چې د زیانونو نغدیه د دې پر ځای چې د زیانمن شوي لوري زیانونه په سمه توګه جبران کړي، په قرارداد کې په زیاته کچه د ناقض د جریمه کولو په موخه کارول کیږي، کولای شي د زیانونو د نغدیې حکمونه بې اعتباره اعلان کړي. که محکمه معلوم کړي چې د زیانونو د نغدیې اندازه د دې لپاره زیاته ټاکل شوې ده څو د لوریو کړنې

الزامي وګرځول شي، نو په دې وخت کې ټاکل شوی حکم اعتبار نه لري. په دې توګه محکمه یوازې هغه حکم چې د زیان په اړه څرګند وي او د قرارداد له ماتیدلو څخه د احتمالي زیانونو د جبران په موخه د لوریو د ښه او صادقانه نیت څرګندویي کوي، معتبر بولي.

هغه دلیل چې محکمه یې د جریمې د ایښودلو په موخه د زیانونو له نغدیې څخه د ګټه اخستو پر سر ممنوعیت لګوي، دا دی، چې دغه ډول جریمو ته په کتو، هرکله چې د قرارداد ماتوونکی لوری احساس وکړي چې د دې پر ځای چې د قرارداد سره سم د کړنو او مکلفیتونو په بشپړتیا لګیا شي، په کمو پیسو سره کولای شي د زیانمن شوي لوري د زیان جبران وکړي، د قرارداد ماتیدلو ته نور هم هڅول کیږي. د ځینو محکمو نظر دا دی، چې د زیانونو نغدیه په دې شرط جواز لري چې زیانمن شوي لوري ته ور اړول شوي خساره کافي وي، څو وکولای شي له پام وړ مبلغ او اندازې څخه د متحمل شویو زیانونو جبران وکړي.

دا چې محکمې د قرارداد د ماتیدلو د موضوع سره څه ډول عمل ترسره کوي، په زیاته کچه د دې مسألې سره تړاو لري چې د قراردادونو قانون، د کړندودونه د جوړولو د پیچلتیاوو سره چې د تجارتي قانون د بیلابیلو اړخونو یوه نه بیلیدونکې مشخصه او برخه ده او موږ د دغه څپرکي په پیل کې ورباندې بحث وکړ، څرنګه عمل ترسره کوي. محکمه باید د قرارداد له شخړې څخه د پیدا شوې خسارې د ورکولو او ټاکلو په اړه داسې تصمیم ونیسي څو وکولای شي د زیانمن شوي لوري د حقوقو د ساتنې او حراست او د سوداګریز سکتور د اړتیا، چې د ټولو لوریو لپاره کوم چې د لومړي ځل لپاره یې د قرارداد بسته کولو لپاره علاقه مندي ښوودلې ده، اړینې هڅې برابرې کړي، په زیاته کچه توازن او برابروالی ایجاد کړي.

امکان لري د قرارداد بالقوه لوري د پیاوړیو قانوني کړنو او د درنو خساراتو د وضع کولو طرفدار وي څو وکولای شي د قرارداد د بشپړتیا او سرته رسولو په موخه زیات باور منځ ته راوړي، خو همدا ډول که د قرارداد احتمالي لوري پوه شي چې د قرارداد د ماتیدلو او نقض په صورت کې به د زیاتو زیانونو او خساراتو سره مخامخ شي، په دې وخت کې د قرارداد د بسته کولو لپاره خپله خوښه او علاقه مندي له لاسه ورکوي. دغه ډول تصورات او اخستنې په هغو حالتونو کې د واقعیت زیات اړخ پیدا کوي چې له اقتصادي پلوه، د قرارداد له بشپړتیا څخه د هغو نقض او ماتول اغیزمن او ګټور وي، خو هغه تحریف چې د خسارې د ټاکلو او ورکولو په برخه کې صورت نیسي، د ریښتینې اقتصادي خسارې له بریده چې غیر ناقض لوري ته ورکول کیږي، تجاوز کوي.

## ۴ – په افغانستان کې د قراردادونو دحقوقو واقعیتونه

د حقوقي چارچوب زیاتې برخې چې باید د خصوصي سکتورونو ترمنځ په پریکړو او موافقو باندې پلې شي او هغه وهڅوي څو په افغانستان کې خصوصي پانګونه او له هغو څخه ساتنه او حراست وکړي، لاتر اوسه هم د طرحې او تدوین په حالت کې دي. همدا ډول په افغانستان کې ځینې حقوقي نظامونه شتون لري چې د قرارداد د لوریو ترمنځ د سوداګریزو شخړو پر سر په یوه وخت کې پلي دي. د بیلګې په توګه: عرفي قوانین چې د شوراګانو له خوا پلي کیږي او رسمي حقوقي نظام چې د ۲۰۰۴ ز کال له اساسي قانون څخه په پیروۍ یې ښه غوړې کړې ده. اوس باید هڅې وشي څو دغه بیلابیل حقوقي نظامونه په بشپړ ډول د یوه او بل سره همغږې او پرتله کړي. د سوداګریزې محکمې نظام لاتر اوسه د پیل په حالت کې دی، اما له لویو ښارونو پرته، په نورو ډیرو کمو او محدودو ښارونو کې سوداګریزې محکمې عملا کړنې ترسره کوي. د افغانستان د محکمو پایلې او کړنې، د نړیوالو سوداګرو له نظره لاتر اوسه نامعلومې ترسترګو کیږي او له همدې لامله نړیوالې سوداګرۍ له هغو محکمو څخه چې په دغه هیواد کې فعالیت کوي، ګټه نه پورته کوي؛ ځکه په دغه هیواد کې لاتر اوسه د قراردادونو یو رسمي قانون شتون نه لري او د محکمو پرېکړې په ښه توګه د وړاندوینې وړ نه دي. سوداګریزه محکمه لاتر اوسه ډیره کمه وړتیا په واک کې لري څو وکولای شي پیچلو سوداګریزو شخړو او لانجو ته رسیده ګي وکړي او د پام وړ قضیې تر غو او څیړنې لاندې ونیسي.

## الف: د قراردادونو په اړه د افغانستان قانون

په هر حال، د سوداګرۍ دحقوقو بيلابيلې برخې د پراختيا او پرمختيا په حالت کې دي او د دې تمه کيږي چې د افغانستان د اقتصادي پراختيا لپاره د يوه ګټور سوداګريز چاپيريال د پرانستلو او ايجاد په برخه کې د قراردادونو د يوه ثابت قانون د ځانګړي اهميت د رسميت پيژندلو او د آزاد بازار ( په داسې ډول چې په هغو کې د بهرنيو سوداګرانو د راداخليدلو پر سر ډير کم موانع شتون ولري) پر لور د افغانستان د اقتصادي سيستم په تدريجي لېږد د ټينګار سره سره، د قراردادونو يو نوی قانون تصويب شي.

د تيرو څو کلونو په ترڅ کې، د امريکې د مدافع وکيلانو د انجمن په نوښت او تر څارنې لاندې د حقوق پوهانو يوې کميټې کار کولو څو له يوې خوا، د افغانستان په تجارتي قانون کې يو لړ اصلاحات راولي او له بله اړخه، د افغانستان د لوړ پوړيو چارواکو سره يې مرسته کوله څو د قراردادونو يو نوی قانون چې موخه يې په معاملو کې د باور او يقين پراختيا او د قرارداد د لوريو له مشروعه حقوقو او ګټو څخه ساتنه او حراست وي، تهيه او تدوين کړي. د دوی د کار لاسته راوړنې او محصول يعنې د افغانستان د قراردادونو قانون، د قراردادونو د قانون د حکمونو تيت او پرک لارې چې د افغانستان په سوداګرۍ او مدني قوانينو کې په تيت او پرک ډول ځای پر ځای شوې دي، له منځه بوتله او هغه يې په يوه خپلواک مدون قانون چې د يوه لاس اغيزې لرونکی وي، تبديل کړ.

د افغانستان د قراردادونو قانون د قراردادونو د آزادۍ مسأله، د لوريو دوه اړخيزه خوښه او حسن نيت د بنسټيزو اصولو په توګه په رسميت پيژندلي دي. د اوسني ليکل شوي قانون متن، د قرارداد بيلابيل کليدي او مهم اړخونه د لاندې ۸ څيزونو په ګډون تر غور او څيړنې لاندې نيولي دي: (۱) د قرارداد بڼه نيول (تکوين) او د يوه قرارداد اړين عنصرونه؛ (۲) د قرارداد اعتبار او پلې کېدلو څرنګوالی؛ (۳) د قرارداد کړنې او اجراآت؛ (۴) د قرارداد د تفسير قاعدې او قوانين؛ (۵) د قرارداد فسخه او وخت تيريدل؛ (۶) د قرارداد د حقونو او مکلفيتونو رسمي لېږد؛ (۷) د قرارداد د ماتيدلو په وړاندې چاره او پلټنه او (۸) د اصلي شخص او دلال اړيکې.

دغې مسالې ته په پام چې د افغانستان حکومت د دې تمه او هيله لري څو په هيواد کې د آزاد بازار اقتصاد ته لارې چارې برابرې او دغه اقتصادي سيستم ته پراختيا او پرمختيا وړپه برخه کړي، نوی ليکل شوی (مدون) قانون، يوه بشپړه برخه خرڅلاو او همدا ډول ځانګړې چاره پلټنې د ته چې خرڅلاو په معاملو کې پلې کيږي، ځانګړې کړې ده، همدا ډول په نوموړي قانون کې، ځينې څپرکي د بارتر معاملو، د حمل او نقل قراردادونو او د ګدام جوړونې تر قراردادونو پورې ځانګړي شوي دي.

د افغانستان د قراردادونو حقوق د اوسني افغانستان د اسلامي قوانينو په پيروۍ او پام کې نيول سره تسويد شوی دی. په پايله کې، د افغانستان د قراردادونو د حقوقو حکمونه او منځپانګې (محتوا) په زيات کچه د اسلامي هيوادونو لکه عربي متحده اماراتو، کويټ او مصر له مدونو قوانينو څخه الهام اخستی او د اسلامي قانون اصول په هغه کې په مناسب ډول ځای پر ځای شوي دي او همدا ډول، ياد شوي قانون د قراردادونو د اسلامي قانون د سنتي او تاريخي اړيکو ځينې ځانګړي او د پام وړ اصول لکه مضاربه او مرابحه په رسميت پيژندلي دي. په همدې توګه، د افغانستان د قراردادونو حقوق، د نورو پرمخ تلليو هيوادونو له متحده ايالتونو نيولې آن د چين تر جمهوري خلق پورې د قراردادونو د قوانينو له ځانګړو حکمونو او موادو څخه الهام اخستی دی. د يادونې وړ ده چې په هغو ځايونو کې يې الهام اخستی دی چې د يادو شويو هيوادونو د قوانينو حکمونه د اسلامي قانون سره په ټکر کې نه وي [10].

---

[10]- د افغانستان لپاره د امريکا د متحده ايالتونو د نړيوالې پراختيا اداره(USAID)؛ د چارو اجنډا: د سوداګريز چاپيريال پراختيا، 16 پاڼه، د 2007 ميلادی کال خپرونه. په لاندې بريښناليک کې ترلاسه کيږي: .http://Biziclir.com/gallaries/country-assessment/afghansitan.pdf

## د افغانستان د قراردادونو دحقوقو منځپانګې (محتوا) او جوړښت ته یوه لنډه کتنه

### لومړی کتاب: عمومي حکمونه:

1څپرکی: موخه او هدف
2 څپرکی: د قراردادونو بنسټیز او تکویني عنصرونه
3 څپرکی: د قراردادونو اعتبار او آثار
4 څپرکی: رسمیات، د قرارداد د فسخې حقوق او شرطونه
5 څپرکی: د قراردادونو پلي کېدل
6 څپرکی: د قراردادونو د تفسیر اصول
7 څپرکی: د قراردادونو تعدیل او بل چاته سپارنه
8 څپرکی: د قرارداد اصطلاح؛ د دندو سرته رسونه او د د وخت نه مخکې انقضاء
9 څپرکی: د قراردادونو ماتول او نقض
10 څپرکی: ځانګړي حکمونه

لومړی کتاب اصطلاحات او کلمې یې ډېر په څرګند ډول تعریف کړې دي ( ۲ ماده ) او په څرګند ډول وایي چې نر او ښځې د قرارداد د عقد په وړاندې د برابرې وړتیا خاوندان دي (۹ ماده). دغه کتاب څرګندوي چې د یوه قرارداد د بنه نیول او تکوین لپاره څلور بنسټیز عنصرونه اړین دي چې دغه څلور عنصرونه عبارت دي له: وړاندیز، قبول، شی او یا مشروع علت او مشروع موضوع، همدا ډول د کتاب په اوږدو کې دغه څلور عنصرونه په څرګند ډول تعریف شوي دي (۱۱-۱۵ مادې). همدا ډول لومړي کتاب بیلابیلې کلمې چې په یوه قرارداد کې پیدا کیږي لکه کمیت، کیفیت، نرخ او داسې نورې نوملړ کړې دي، خو په څرګند ډول وایي چې د یوه قرارداد د پلي کولو لپاره اړینه نه ده څو ټول پورته یاد شوي عنصرونه په پام کې ونیول شي. له دې وروسته په نوموړي کتاب کې، د قرارداد د ابطال د شروطو په ګډون، د احوالو او شرطونو بشپړ نوملړ چې امکان لري د قرارداد د اړیکې د تعمیل او پلي کېدو په ترخ کې څرګند شي، تر غور او څېړنې لاندې نیولي دي (۲۹- ۳۶). وروسته له دې، د اجراااتو او کړنو معنی او اغیزه (۴۷- ۵۴) او همدا ډول د قرارداد د تفسیر او تعبیر عمومي اصول ( ۶۰ ماده)، د قرارداد د پلي کېدو اړوند شرطونو او احوالو په توګه تر بحث لاندې نیولي دي. همدا ډول په لومړي کتاب کې، د قرارداد د ماتیدلو پایلې لکه جبران، خسارات او زیانونه، ځانګړي کړنې او د اټکل شوی زیان ( ۷۹- ۹۰ مادې) شاملې، تعریف او په څرګند ډول بیان شوې دي.

### دویم کتاب: د پلورلو قراردادونه

لومړی څپرکی: عمومي حکمونه
دویم څپرکی: تضمینات او اړوند حقوق
دریم څپرکی: د مالکیت لېږد؛ د ځانګړي خرڅلاو موخې او محدودیتونه
څلورم څپرکی: د زیان خطرونه [ ریسک ]
پنځم څپرکی: کړنې، نقض او چاره پلټنه
شپږم څپرکی: د پلورلو د قراردادونو ځانګړي ډولونه

دویم کتاب ( د قراردادونو قانون) د توکو د پلورلو منل شوې او قراردادیزې لارې چارې چې په ټولو اقتصادي بازارنو کې په پراخه کچه معمول او د پیدا کیدلو وړ دي، د لومړي ځل لپاره معرفي کړې دي. په دغه بحث کې مهمترینه مسأله د (تضمین)

مسأله د تضميناتو په ګډون چې تلويحا دغه اصل ته اشاره کوي چې پلورل شوي توکي د پلورلو د کيفيت څخه برخمن دي. يو بل نوی واقعيت چې په دغه کتاب کې تر غور او څيړنې لاندې نيول شوی دی هغه دا دی، چې د قراردادونو د نوي قانون د حکمونو او موادو سره سم، افغاني سوداګر کولای شي له قرارداد څخه نوې تمې او هيلې چې مخکې يې له هغو څخه صرف نظر کړی وو، ولري (۱۰۴– ۱۱۰) نوی قانون اخستونکو ته دا حق ورکوي څو هغه توکي چې د هغو اخستلو لپاره يې قرارداد بسته کړی دی، وآزمويي ( ۱۰۴ ماده) او همدا ډول دوی ته حق ورکړل شوی دی څو هغه ناقص توکي چې د ټاکل شويو معيارونو د ليست سره يې سمون نه وي خوړلای، ونه مني او رد يې کړي (۱۰۷ ماده). سربيره پر دې، په څرګند ډول خطر (ريسک) تعريف کړی او وايي چې د پلورل شويو قلمونو د خساراتو او يا زيانونو څخه پيدا شوی خطر (ريسک)، مخکې له ويشلو د پلورونکي په غاړه او وروسته له ويش د پيرودونکي په غاړه دی، خو که په قرارداد کې په کوم بل ډول پريکړه نه وي شوې ( ۱۱۸ ماده ). همدا ډول په دويم کتاب کې، د پلورلو يو زيات شمير قراردادونه چې امکان لري د افغاني اقتصاد او بازار په چاپيريال کې پيښ شي، په څرګند ډول تعريف کړي دي چې هغه عبارت دي له: د پلورلو هغه قراردادونه چې په بيلابيلو ځايونو کې د توکو د ويشلو اړتيا ولري (۱۳۴ ماده)، قسطي پېرودل او او بيا مالکً کېدل ( ۱۳۵ ماده)، د سوداګرو ترمنځ خرڅلاو ( ۱۳۶ ماده)، آزمايشتي خرڅلاو ( ۱۳۷ ماده)، د وړيا لېږد (FCA) د خرڅلاو قراردادونه (۱۳۸ ماده) او د بيمې د ورکولو سره د حمل او نقل قراردادونه (CIP) ( ۱۳۰ ماده). له دغو مفاهيمو څخه يو زيات شمير يې آرماني ته ستر ګو کيږي او له همدې لامله، د افغانستان اقتصاد په اوس وخت کې امکان لري د تحرک لپاره پوره وړتيا ونه لري چې له دغه نوښتونو څخه ملاتړ وکړي، خو دغه ياد شوي قراردادونه به په نږدې راتلونکې رابرسيره او بڼه ونيسي.

## دريم کتاب: استازيتوب (نمايندګي)

د استازيتوب موضوع د درېيم کتاب په پېنځم څپرکي کې تر غور او څيړنې لاندې نيول شوې ده.

## څلورم کتاب: ځينې نور ځانګړي قراردادونه

لومړی څپرکی: بارتر
دويم څپرکی: ډالی
درېيم څپرکي: د حمل او نقل قراردادونه [ باربري]
څلورم څپرکی: د ګدام کولو قراردادونه
پېنځم څپرکی: ځانګړي حکمونه

په څلورم کتاب کې، ځينې داسې ځانګړي حالتونه او وضعيتونه چې احتمال لري په افغاني چاپيريال او بازار کې راڅرګند شي او يا يې قرارداد وشي، تعريف او توصيف کړي دي. د قراردادونو په نوي قانون کې د ګدامونو د قرارداد ورګډول ( په ګدامونو کې د توکو ځای پر ځای کول)، د قرارداد هغه ډول چې په هغه کې د ګدام څښتن هغه توکي چې د امانت په ډول ورته سپارل کيږي، په ګدام کې ځای پر ځای کوي او ياد شوی کس د ګدام حق الزحمه پرې کوي، يو له ډيرو مهمو ګدامونو څخه شميرل کيږي؛ ځکه دغه ډول قراردادونه د افغانستان د اقتصاد د زراعتي جوړښت او ماهيت لپاره ځواب ويونکی او په دغه ډول سوداګريزه اړيکه کې د لاس لرونکو کسانو د خطرونو د کچې د راټيټولو لامل ګرځي.

## پنځم کتاب: متفرقه حکمونه

پنځم کتاب، د قراردادونو د پلي کېدو د نيټې او د هغو د پلي کېدو د څرنګوالي په ګډون د قراردادونو د نوي قانون اجرايوي او مهمو جزياتو ته شامل دی. همدا ډول دغه څپرکی په څرګند ډول وايي چې د قراردادونو د نوي قانون د پلي کېدو او انفاذ له نيټې وروسته، د قرارداد ټول قوانين او تر قرارداد اړوند ټول فرمانونه او مقررې باطلې دي او له هغه وروسته نور د اجراء وړتيا نه لري.

سرچینه: د امریکې د متحده ایالتونو نړیواله پراختیایي اداره ا(USAIDC)؛ افغانستان، د کړنو لپاره اجنډا: په افغانستان کې د سوداګرۍ د چاپیریال پراختیا؛ مخ 32- 34، د خپریدلو نیټه: 2007 ز کال.

**تبصره: د افغانستان د اقتصادي بازار په چاپیریال کې د قانون د پلي کېدو او تعمیم په وړاندې ننګونې.**

څرنګه چې ورڅخه یادونه وشوه، د افغانستان په اقتصادي بازارونو او همدا ډول په حقوقي برخه کې، د قراردادونو د نوي قانون تعمیم، د افغانانو د بنسټیز ذهنیت جوړونې په وړاندې لویې لویې ستونزې لري هغه په داسې ډول چې افغانان به له دې وروسته د سوداګریز موافقه لیک او تر هغو اړوند مکلفیتونو په اړه یو بل شان فکر پیدا کړي وکړي. د مدني قانون ژبه او ادبیات، د قانون د پلي کېدو او انفاذ پر ځای د عفوې او بخشش په پلوۍ د یوې ملي ټولنې څرګندویي کوي؛ چې هغه د قراردادونو په نوي قانون کې رد شوی دی او ویل شوي دي چې خلک باید د خپلو دندو او مکلفیتونو په وړاندې مسوول او ملزم وګرځول شي. د دغه قانون ( د قراردادونو د نوي قانون) ګټه اخستونکي او یا پلي کوونکي ډیر امکان لري چې لوی لوی سوداګر وي او غواړي د آزاد بازار د شرطونو سره سم، پرمختګ وکړي. له دې لامله دوی له لیکلو قراردادونو څخه پیروي کوي او له محکمو څخه د خپل اعتبار د پخولو او مستندولو په برخه کې د وسیلو په توګه ګټه پورته کوي. همدا ډول ځینې کوچني کسان او سوداګرۍ امکان لري د یو څه وخت لپاره هڅه وکړي څو په ځایي بنسټونو، جرګو او شوراګانو چې په دودیز ډول سوداګریزې شخړې او لانجې پرې کوي او سوداګریزې چارې مدیریت کوي، تکیه وکړي. سره ددې چې یاد شوي غیر رسمي بنسټونه په هیواد کې د بې سوادۍ له لامله فعالیت کوي او په معمولي ډول قضیې د یوه لیکلي لارښوود له لوري نه حل کوي، خو بیا هم ترې یوې اوږد مهاله راتلونکې پورې، د افغانستان د حقوقي چوکاټ یوه برخه جوړوي.

سرچینه او مأخذ: USAID، افغانستان، د کړنو لپاره اجنډا: د سوداګرۍ د چاپیریال پراختیا، ۳۴ م مخ، د خپریدلو نیټه: ۲۰۰۷ ز کال.

**د بحث وړ پوښتنې**

- ❖ آیا تاسو د دغه لیکونکي د خبرو سره چې وایي: د افغانستان د قراردادونو د نوي قانون تعمیم او پلیتوب، د سوداګریز قرارداد او د هغو د مکلفیتونو په اړه د افغانستان د خلکو د باور لپاره لومړی ذهنیت پیدا کوي او وروسته د ذهنیت د رغاونې لپاره کار کوي، موافق یاستی؟
- ❖ ستاسو په اند، د قراردادونو نوی قانون به په افغانستان کې له قرارداد څخه د خلکو په فهم او درک باندې کومې اغیزې پرې باسي؟

وروسته له دې چې دغه نوی قانون په رسمي ډول تصویب او پلي شي، امکان لري د سوداګریزو شخړو له پایلو څخه په زیاته کچه وړاندوینه وکړي او خلک به د سوداګریزو شخړو د حل او فصل لپاره د مخکې په پرتله په زیاته کچه د هیواد حقوقي نظام ته مراجعه وکړي.

که له تیرو وختونو څخه تر نن ورځې پورې د افغانستان د سوداګریزو قراردادونو د قانون وضعیت او حالت ته په ځیر وګورو، نو روښانه به شي چې د افغانستان حقوقي نظام لاتر اوسه د سواګریزو شخړو د حل او فصل په برخه کې هیڅ ډول غوره اغیزه او نقش نه دی لوبولای. په افغانستان کې ډیرې سوداګرۍ غواړي د خپلو سوداګریزو شخړو د حل او فصل لپاره له غیر رسمي

کړنلارو او میکانیزمونو څخه ګټه واخلي او له هغې لارې د خپل مالکیت حق ته اجرایي اړخ ورکړي؛ د بیلګې په ډول: د افغانستان له پانګونې څخه د ملاتړې اداره (AISA) ځینې وخت د پانګه اچوونکو تر منځ د شخړو د حل او فصل لپاره منځګړیتوب ته مراجعه کوي. د پانګونو ستونزې ډیر وخت له قراردادونو څخه پیدا کیږي او د قراردادونو د یوه څرګند او روښانه قانون د نشتوالي له لامله، د یوې رسمي سرچینې له لارې، موافقه لیکونه په سم ډول نه پلي کیږي. د تجارت بین المللي حقوقو په هکله د ملګرو ملتو د کمیسیون د اصولو (UNCITRAL) سره سم، د خصوصي پانګونې قانون، د شخړو د حل او فصل لپاره ځینې کړندودونه او میکانیزمونه وړاندې کړي دي، چې سربیره پر دې، دغه حکمونه لاتر اوسه نه دي تجربه شوي او اوس هم سوداګریزې شخړې د عرفي او سنتي سرچینو لکه شورا او داسې نورو غیر رسمي بنسټونو له لارې حل او فصل کیږي.

په نړیواله کچه، ځینې داسې کړندودونه او میکانیزمونه شته چې که د قرارداد لوري نړیوال سوداګر وي، په افغانستان کې د خپلو سوداګریزو شخړو د حل او فصل لپاره ورڅخه ګټه پورته کړي. افغانستان د ( د نړیوالو او د دوو دولتونو ترمنځ د پانګونې د شخړو د حل او فصل د معاهدې) یو لوری او همدا ډول د ( ۱۹۵۸ کال د نیویارک معاهدې ( چې د بهرنیو پریکړو د اجراء او رسمیت پیژندلو په اړه صادر او تصویب شوی دی) لاسلیک کوونکی دی. دغه نړیوالې موافقې، د نړیوالو سوداګریزو شخړو د حل او فصل لپاره یو حقوقي چوکاټ او محکمه وړاندې کوي. په عمومي ډول، که د قرارداد لوری، نړیوال بنسټ او یا نړیوال کس وي ( عامه خبر ده، که دغه بنسټ سوداګریز ماهیت لرونکی، یا غیر انتفاعي او یا هم د نړیوال سازمان د بنسټونو اړوند وي)، په دې وخت کې یوه فقره، د حکمیت تر نامه لاندې په خپل قرارداد کې ځای پر ځای کوي او یاده شوې فقره، د یوه بل هیواد قانون د حکم په عنوان په قرارداد کې قید کوي.

په پای کې، د هغو هڅو او کوښښونو په پایله کې چې د سوداګریزو شخړو د حل او فصل لپاره د یوه حقوقي سیستم او نظام د رامنځ ته کولو په برخه کې ترسره شوې د پام وړ پرمختګونه لاسته راوړل شوي دي. په دې وروستیو کې د سوداګریزو شخړو د حل او فصل لپاره دوه قانونونه تصویب شوي دي. لومړی قانون، د مصالحې او منځګړیتوب قانون، نوموړی قانون د قرارداد د لوریو لپاره داسې یو چوکاټ په واک کې ورکوي چې له هغه څخه په ګټه اخستو وکولای شي خپلې شخړې د یوې رسمي کړندودونه له طریقه حل او فصل کړي. غیر رسمي منځګړیتوب په افغانستان کې د سوداګریزو شخړو د حل او فصل لپاره یوه معمولي سرچینه او وسیله شمیرل کیږي، خو دغه یاد شوی قانون غواړي چې دغه ډول غیر رسمي میکانیزم غني او اغیزمن کړي. قانون د قرارداد لوریو ته دا په ګوته کوي، چې دوی څنګه کولای شي یو مصلح او منځګړی د خپلو شخړو لپاره وګماري او همدا ډول روښانه کوي چې د لوریو ترمنځ منځګړیتوب څنګه په مخ وړل کیږي. سربیره پر دې، دغه قانون محکمو ته لارښوونه کوي چې څنګه کولای شي هغه پریکړې چې د منځګړیتوب له لامله رامنځ ته کیږي، په پام کې ونیسي او په څه ډول دغه پریکړې پلې او عملي کړي.

دویم قانون، د سوداګریز حکمیت قانون دی چې د قرارداد د لوریو لپاره داسې لارې چارې برابروي څو له هغو څخه په ګټه اخستو وکولای شي حکمیت د خپلو سوداګریزو شخړو د حل او فصل لپاره د یوې وسیلې او آلې په توګه وټاکي. همدا ډول دوی واک لري څو په ګوته کړي چې حکمیت باید په ملي او یا نړیواله کچه صورت ونیسي. په دواړو حالتونو کې د افغانستان محکمې د شخړې په اړه حکم نه شي صادرولی او قضیه د حکمیت ټاکلې ادارې ته سپارل کیږي. ډیر احتمال لري د حکم لومړی او عمده کار، د حکمیت د موافقه لیک پر اساس د پریکړې د قانون معلومول او په ګوته کول دي. نو له دې لامله، سره له دو چې د قراردادونو قانون لاتر اوسه نه دی تصویب شوی، خو د قرارداد لوري کولای شي په خپل منځ کې پریکړه وکړي او د خپل موافقه لیک په اړه د یوه بل هیواد د قراردادونو قانون پلی کړي. د دغو قوانینو تصویب د سوداګریزو شخړو د حل او فصل د لارو چارو د ایجادولو په برخه کې یو مهم او د پام وړ ګام بلل کیږي او د غوره کړندودونو له طریقه د قراردادونو د پلي کولو او اجراء کولو لارې چارې برابروي.

## ۵ – د وکالت د مهارتونو او وړتیاوو کارول: د ګمارنې قرارداد

په دغه څپرکي کې، د اسد اړوند بیلګه کې داسې یوه پړاو ته رارسیدلي وو چې اوس اسد د اوړو د یوه نوي ویشونکي او تهیه کوونکي په لټه کې دی. نو پورتنی بیلګه په پام کې نیسو ترڅو وکولای شو د یوه قرارداد جوړښت او په ځانګړي ډول د یوه قرارداد ( چې د توکو د پلورلو لپاره ترل کیږي) برخې او عنصرونه مطالعه کړو. موږ اوس د قراردادونو یوه بل معمولي ډول ته رسیږو چې د ټاکنو له قرارداد څخه عبارت دی،

**د بحث وړ پوښتنې**

اسد اوس هم په دې لټه کې دی څو داسې یو کس پیدا کړي چې د دکان د چارو د پرمختګ لپاره د نجیب الله ځای ونیسي او له دې لامله، غواړي یو کس په کرایه کړي. د توکو د پلورلو د قرارداد د عنصرونو بحث او څیړنې ته په پام، آیا کولای شی څینې داسې مسایل چې د ګمارنې په قرارداد کې به د هغو سره مخامخ شو، پیدا کړی؟

**د حقوقي مسودې تمرین**

د حقوقو په مسلک کې، د قرارداد د مسودې دنده هغه کار دی چې مخکینی ترون یې په ډیره کچه، محور بلل کیږي. یعنې حقوقي وکیلان د مخکنی او ورته معاملې قرارداد په پام کې نیسي او وروسته هغه د خپل پام وړ مورد سره د سمون په موخه، تعدیل او اصلاح کوي؛ ځکه د هغه قرارداد منځپانګه (محتوا) چې د بیلګې په ډول د پلورلو لپاره ترل کیږي، په ټولو حالتونو کې له یوه معیار څخه پیروي کوي او د یوه قرارداد جوړښت د بل قرارداد له جوړښت سره کوم ځانګړی توپیر نه لري. قیمت، د توکو د ویشلو او تهیه کولو لارې چارې، او د ورکړې نیټه ټول هغه مشترک څیزونه دي چې د توکو د پلورلو په هر قرارداد کې باید شامل شي. په پایله کې یوازې هغه مشخصات چې یوازې تر یوې معاملې پورې ځانګړي او مختص وي، له یوه قرارداد څخه په بل قرارداد کې توپیر لري او بس.

په لاندې توګه د ټاکنې د یوه ریښتیني قرارداد نمونه چې په افغانستان کې د یوه فعال شرکت له خوا کارول کیږي، ستاسو لپاره راوړې ده. یو مهم او ګټور مهارت چې یو حقوق پوه او یا وکیل باید له هغو څخه ګټه پورته کړي، دا دی چې باید ټول هغه ټکي او مبهم ځایونه چې په راتلونکې کې امکان لري د قرارداد د لوریو ترمنځ شخړو ته لمن ووهي، په ګوته او معلوم کړي. نو له دې لامله، د قرارداد د مسودې په برابرولو کې، د یوه ښه وکیل(حقوق پوه) موخه باید دا وي چې تر خپلې وسې ابهام له منځه یوسي.

د لاندې قرارداد له ارزونې او څیړنې وړاندې، د هغو شروطو او موادو په اړه چې باید په دغه قرارداد کې ځای پر ځای شي، ښه فکر وکړئ. د یوه قرارداد د لیکلو لپاره مهم او د پام وړ ټکی دا دی چې تاسو ټول هغه معلومات چې د قرارداد لوري یې د قرارداد د اجراء په وخت کې په پام کې لري، باید وړاندې له وړاندې په ګوته کړی. دغې موخې ته د رسیدلو لپاره غوره لاره دا ده، چې تاسو هر یو د قرارداد د یوه لوري په ځای خپل ځان وګڼئ. که تاسو داسې یو کس وی چې د یې دندې په لټه کې یاستی، په قرارداد کې مو د کومو حکمونو ځای پر ځای کول غوښتل؟ کوم ډول ساتنې او مصؤنیتونه مو د ټاکنې په قرارداد کې ځای پر ځای کولې؟

په همدې سلسله، که تاسو داسې یو څوک وای چې غوښتل مو د خپلې سوداګرۍ لپاره یو نوی کارکوونکی وګماری، کوم ډول تشویشونه او خطرونه مو په دې اړه لرل؟ کوم ډول حکمونه مو غوښتل په خپل قرارداد کې ځای پر ځای کړی څو وکولای شي دغه ډول تشویشونه او خطرونه ورک او یا یې کچه را ټیټه کړي؟

## د ګمارلو او قرارداد

دغه موافقتنامه د ----------------- چې له دې وروسته د کارسپارونکی په نوم یادیږي او ښاغلي/ آغلې -------------- --------- چې له دې ورسته د کارکوونکي په نوم یادیږي، چې د دواړو لوریو بشپړه پته په لانده ډول بیانیږي، ترمنځ لاسلیک کیږي.

د کارسپارونکی او کار کوونکي پته:________________________________________

د دغې موافقتنامې مواد او شرطونه د افغانستان د اسلامي جمهوري دولت د کار پر قانون او مقرراتو باندې بناء او په لاندې ډول په مفصل ډول شرح کیږي:

**١ - د دندو لایحه:**

الف. آزمايښتي دوره:د ټولو کارکوونکو لپاره (١) میاشت د آزمايښتي پړاو (دورې) په توګه په پام کې نیول کیږي. د کارکوونکي یوه میاشت آزمايښتي دوره، د کار سپارونکی سره د پرله پسې دیرشو ورځو له کار څخه عبارت ده. د دغه وخت په ترځ کې، کار کوونکی د دندو او مسوولیتونو سره بلدیږي، د کار سپارونکی، د پروژې د چاپیریال او خپلې دندې په اړه معلومات لاسته راوړي. سربیره پر دې، آزمايښتي دوره د کارمند د سرپرست په واک کې لازم او معقول وخت ورکوي څو وکولای شي د هغه کړنې و ارزوي. په آزمايښتي دوره کې، هرکله چې سرپرست پریکړه وکړي چې په یاده شوې دوره کې کار کوونکي یو ښه او د پام وړ پرمختګ نه دی په ګوته کړی او یا د هغه کړنې د قناعت وړ نه دي، د کار سپارونکی له خوا له دندې څخه ګوښه کیدلای شي.

**ب. د کارمند مقام او عنوان:.........................................................................**

**ج. د قرارداد د شرطونو او موادو تعدیل:** د لوریو د شفاهي او یا لیکلي توافق په صورت کې، د دندو لایحه او همدا ډول د ټاکنو د موافقه لیک حکمونه او شرطونه په دوره یي ډول د پروژې د لزوم دید سره سم تعدیل کېدلای شي.

**د. د کار کچه یا حجم:** کارمند د کار د کچې یا حجم د سند چې د دغه قرارداد سره مل او د دغه موافقه لیک یوه نه بیلیدونکې برخه جوړوي او هر مخ یې باید د کار سپارونکی او کار کوونکي له خوا باید لاسلیک شي، د حکمونو سره سم په دنده ګمارل کیږي.

**هـ روغتیايي تصدیق پاڼه:** د دې لپاره چې یو کارکوونکی وکولای شي خپل ځان د کار وړتیا لرونکی معرفي کړي، باید یوه روغتیايي تصدیق پاڼه چې د نوموړي د بشپړ روغتیا څرګندونه کوي، کار سپارونکی ته وړاندې کړي.

**٢ - <u>د موافقتنامې موده</u>**

الف. دغه موافقتنامه د ________ وخت لپاره چې له ______________ پیلیږي او په ______________ نیټه پای ته رسیږي، د اعتبار وړ او د کاري حوزې او بریدونو سره سم، د پروژې د چارو د مخته بولو او د دغه موافقه لیک د ٥ او ٦ د بندونو د حکمونو په پام کې نیولو سره، تړل کیږي.

ب. دغه موافقه لیک د کار سپارونکی او کار کوونکی له خوا د لاسلیک سره سم پلی او اجراء دی.

**۳ – معاش**

الف. د **کارکوونکي میاشتنی** ناخالص معاش ________________ افغانی دی چې معادل یې______________ امریکایي ډالره کیږي. د کارکوونکي معاش به هره میاشت پرې کیږي..

**۴ – امتیازونه/ مالیې**

الف. د عاید/ اشتغال پر سر مالیې: کار ورسپارونکی به د افغانستان د دولت د لارښوونې سره سم، د کارکوونکي له معاش څخه مالیه ګرځوي او د هغه په استازیتوب به یې دولت ته سپاري.

**۵ – کاري ساعتونه، اضافه کاري، رخصتی ا و د رسمي رخصتی ورځې**

الف: **کاري ساعتونه:** د دفتري کار رسمي ساعت د سهار له۰۰: ۸ بجو پیلیږي او د مازدیګر په۳۰: ۴ بجو خلاصیږي او د غرمې د ډوډۍ او لمانځه لپاره کارکوونکی د یوه نیم ساعت تفریح مستحق دی.

ب: **کاري اونی:** د دفتر کاري ورځې له شنبې څخه پیلیږي او په پنجشنبه باندې پای مومي. د جمعې ورځې د غیر کاري ورځو په توګه رخصت دي.

ج. **کلنی (مهالنی) رخصتي:** د قرارداد د هر کال په اوږدو کې کارکوونکی له ______ کاري ورځو څخه د رخصتی په توګه ګټه اخستلای شي. په دغه سوداګرۍ کې د درېیو میاشتو پرله پسې کار وروسته کار کوونکی کولای شي له کلنی رخصتی څخه ګټه واخلي. کار کوونکی باید خپلې کلنی رخصتی ته یو پلان جوړ کړي او د رخصتی له پیل وړاندې لږ تر لږه باید______ ورځې وړاندې د هغه رخصتي منظور شي، د کلنی رخصتی د لاسته راوړلو لپاره، باید د خپل سرپرست لیکلې موافقه ترلاسه کړي خو د هغه سرپرست وکولای شي د کارکوونکي د رخصتی په ورځو کې، د کړنو د پلان سره سم، د هغه د رخصتی اندازه تنظیم کړي. که د کارکوونکي د اشتغال وخت شپږ میاشتې او یا له هغو څخه کم وي د کلنی او ناروغی د رخصتیو استحقاق یې په هیڅ صورت د کار کوونکي په ګټه نه پلی کیږي. له ټولو کلنیو رخصتیو څخه باید د دندې په اوږدو کې ګټه پورته شي او دکلنی رخصتی پاتې ورځې له یوه کال څخه بل کال ته لیږدیږي.

د: **د ناروغی رخصتي:** کار کوونکی کولای شي د هر قراردادیز کال په اوږدو کې له ______ ورځو څخه د ناروغی د رخصتی په موخه، ګټه پورته کړي. د ناروغی رخصتي په هره میاشت کې یوه ورځ محاسبه کیږي. د کارکوونکي په کاري دوره کې، د هغه د ناروغی رخصتی له یوه کال څخه بل کال ته نه اضافه کیږي. که کارکوونکی د درېیو پر له پسې ورځو لپاره ناروغ وي، باید له هغه ډاکتر څخه چې هغه یې تر درملنې لاندې نیولی دی، یو لیکلی تصدیق د خپل ځان سره راوړي. که نوموړی کارکوونکی په دغه کار کې بریالی نه شي، د هغه ناوړه رخصتي، له دندې څخه د هغه د ګوښه کیدلو لامل ګرځي.

هـ: **د ولادت او زږیدلو د ورځو** په اوږدو کې، هرې مور ته ۲۰ کاري ورځې د زږیدلو د رخصتی په توګه ورکول کیږي. د رخصتی په بشپړولو سره، د کار کوونکي له ټول معاش څخه د رخصت ورځو معاش نه وضع کیږي. همدا ډول کار کوونکی کولای شي د زیږیدلو د دورې د تیرولو لپاره له اړونده بنسټ څخه د درېیو میاشتو بې معاشه رخصتی غوښتنه وکړي. که د دندې وخت شپږ میاشتې او یا له هغو څخه کم وي، د زیږیدلو هیڅ ډول رخصتي د کارکوونکي لپاره نه پلې کیږي.

ح:. **ځانګړې بې معاشه رخصتی:** ځانګړې بې معاشه رخصتی باید په لیکلې بڼه د کارکوونکي له سرپرست څخه وغوښتل شي او د هغه له خوا منظور او تأیید شي. د کار کوونکي غوښتنلیک باید د رخصتی د پیل دقیقې ورځې او د ورځو شمیر چې کارکوونکی یې له معاش پرته غواړي، شامل وي.

ط: **رسمي رخصتی:** په هر تقويمي کال کې کارکوونکی —————— ورځو رسمي رخصتيو مستحق دی. هغه رسمي ورځې چې د کار سپارونکی له خوا په رسميت پيژندل شوې دي، د دغه موافقه ليک سره مل دي.

**۶ – د موافقتنامې فسخه کول**

الف: هر لوری کولای شي د —————— ورځو مخکينی خبرتيا په صادرولو، دغه قرارداد باطل کړي. که د کار سپارونکی پروژه د ځينو دليلونو له لامله فسخه شي، دغه قرارداد هم په چټک ډول فسخه کيږي.

**۷ – د شخړو حل او فصل**

الف: د شخړو حل او فصل: ټولې هغه شخړې چې له دغه قرارداد څخه پيدا کيږي، د دوستانه تفاهم او ځايي ( منځگړيتوب) او منل شويو کړنلارو او ميکانيزمونو له لارې حل او فصل کيږي. که د شخړو د حل او فصل په اړه منځگړيتوب او تفاهم کومه اغيزه او گټه نه لري، مساله د دری نفري شورا حکميت ته چې د کار سپارونکی له خوا ټاکل کيږي، راجع کيږي. د دغې موضوع د رسيدنې لپاره نافذ قانون، د افغانستان مروج قانون دی.

ب. **د موافقه ليک ژبه:** د کومې شخړې د راڅرگنديدلو په وخت کې، د ټاکنو د موافقه ليک د ستونزو د څيړنې لپاره مروجه او پلې نسخه، د انگليسي نسخه ده.

**۸ – محرميت**

الف: سري معلومات او مواد، ټولو هغو موادو او معلوماتو ته ويل کيږي چې د عامو خلکو د واکونو په حوزه کې شتون نه لري او دغه ډول مواد او معلومات د کار سپارونکی له خوا کارکوونکي ته تيت کيږي، او يا په يوه کوم بل ډول د کارکوونکي په واک کې ورکول کيږي او يا کارکوونکی د کار او دندې په اوږدو کې د دغه ډول معلوماتو سره مخامخ کيږي او يا د کار سپارونکی سره د خبرو اترو په وخت کې دغه ډول معلوماتو ته متوجه کيږي، ياد شوي معلومات او مواد په ځانگړي ډول هغو معلوماتو او موادو ته شامليږي چې د لاندې يادو شويو مسالو په اړه را غونډ شوي وي، خو د يادونې وړ ده چې يوازې تر دغو موضوعاتو او مسايلو پورې نه محدوديږي:

1. د قرارداد د مقدماتي تدبيرونو او يا ټاکنې په اړه د کار سپارونکی او کارکوونکي ترمنځ د بحث ماهيت او نورې ټولې اړيکې او
2. تر تشکيلاتو، مالي چارو، مالي جوړښت او د کار سپارونکی مالي وضعيت؛ شتمنيو، مالي الزاماتو او د دغه بنسټ اړوند مديرانو، مامورينو او آمرينو؛ لاس لرونکو کسانو او بنسټونو، پانگه اچوونکو، د بنسټ مالي حمايت کوونکو، پور ورکوونکو، ساتونکو، سلاکارانو، د سلاکار خدماتي بنسټ، همکارانو، نمايندگيو او استازو پورې اړوند معلومات.
3. عمليات، د کارکوونکي گټې او پلانونه. د ټولو مسايلو او موضوعاتو ترڅنگ، کولای شو له لاندې مهمو معلوماتو څخه يادونه وکړو: تر سوداگريزو کړنلارو او کړندودونو، د سياليو ځايونو، سوداگريزو اسرارو، توليدي مفاهيمو، نقشو، کلي طرحو، د څيړنو او آزموينو د پايلو، نظري او عملي پوهې او تکتيکونو، تجهيزاتو او توليدي وړتياوو، د محصولاتو پراختيايي پلانونو، مسلکي، توليدي او بازار پيداکوونکو کړنلارو، ويش او نرخ ايښودنې، د موادو لگښت او سرچينو، د څمکې او د هغو د پلانونو او پراختيا لگښتونو، د ساختمان او د هغه د پلان، تعمير او پراختيا لگښتونو، بياپلورل او د چارو د انتظام او نظم قيمتونو او پلانونو، د مالي سرچينو د تهيه کولو پلانونو (او پر هغو اړوند کړنې او گامونه) او مراجعينو يا پيرووډونکو پورې اړوند معلومات.
4. د تدارک د مصوونيت او حراست په برخه کې د کار سپارونکی وړتيا او يا د هغو ناوړه کړنو پر ضد چې د هغه دارايي او يا د هغه مديرانو، مامورينو او کارکوونکو ته متوجه شوي دي، د مصوونيت د برابرولو او يا د هغه هڅې او کوښښونه.

ب: که د کارکوونکي قرارداد فسخه شي، هغه مکلف دی څو د اسرارو او رازونو د ساتلو په اړه له هغو فقرو څخه چې د ۸ په

برخه کې قيد شوي دي، پيروي وکړي. کارکوونکی بايد د هغو معلوماتو او موادو په ګډون چې په ۱، ۲، ۳ ګڼو، الف بند، ۸ برخه، کې ياد شوي دي، تر جايداد چې د کار سپارونکی مالکيت دی، پورې اړوند سري او پټ معلومات، نورو کسانو ته تيت او ښرګند نه کړي.

**۹ – د قرارداد نقض يا سرغړونه**

الف: که ياد شوی کارکوونکی د دغه قرارداد يوه برخه يا يو عنصر مات کړي، کار ورسپارونکی کولای شوی په چټک ډول موافقتنامه فسخ او باطل کړي.

ب: که د کارکوونکي کړنې او ګامونه د قرارداد د ماتېدلو او سوداګرۍ ته د زيانونو د اړولو لامل وګرځي، د کارکوونکي سره د قرارداد د ماتيدلو سربيره، کار ورسپارونکی د لاندې شيانو وړ بلل کيږي: د تأکيدي مرستې د لاسته راوړلو او د قرارداد له ماتيدلو د مخنيوي په موخه له محکمې څخه مرسته وغواړي، (۲) له کارکوونکي څخه د خساراتو د اعادې لپاره دعوا وکړي، (۳) هر ډول لګښتونه چې د مدافع وکيل او محکمې د حق الزحمې په موخه پرې کيږي له کارکوونکي څخه ترلاسه کړي، او (۴) د افغانستان د قوانينو د حکمونو سره سم، په يوه بل داسې فعاليت لاس پورې کړي چې کولای شي د کار سپارونکی لپاره مرستندوی پريوزي.

**۱۰ – د ښه نيت سره مل هڅې**

الف: کارکوونکی بايد هڅه وکړي څو د دندې په اوږدو او د قرارداد له فسخه کيدو وروسته، د کار سپارونکی په وړاندې ښه نيت ولري.

له دې لامله، دغه موافقه ليک د لاندې کسانو ترمنځ لاسليک کيږي:

کار ورسپارونکی: ______________ کارکوونکی: ______________

نيټه:______________ نيټه:______________

## ۶ – د حکومت قراردادونه او د تدارکاتو قانون

په اوس وخت کې افغانستان د يوه ښه انتقال په درشل کې ځای لري او په دغه هيواد کې د بيارغونې او اصلاحاتو په برخه کې زياتې او مهمې هڅې جريان لري. د دغه هيواد په وزارتونو، ښوونځيو، روغتونونو، څلور لارو او داسې نورو برخو کې د زيربناوو چټکه بيارغونه په ځانګړي ډول د يوه حقوقي سيستم او نظام د ايجاد لامل ګرځيدلې ده څو دغه سيستم وکولای شي په بيلابيلو معاملو باندې پلی و اوسي.

څرنګه چې د قراردادونو نوی قانون هغه موافقتنامې چې په خصوصي سکتورونو کې ترسره کيږي، تر غور او څيړنې لاندې نيسي، ولې له حقوقي مسايلو څخه يوه لويه برخه چې د قرارداد په اجراء او پلي کېدو باندې ولکه لري، د دولتي تدارکاتو د قانون په يوه ځانګړې برخه کې پاتې کيږي. دغه مسايل د تدارکاتو په هغه قانون کې څېړل شي چې د ۲۰۰۵ کال د اکتوبر په مياشت کې تصويب شو.

څرنګه چې د ياد شوي قانون په دويمه ماده کې ورڅخه يادونه شوې ( د دغه قانون موخې عبارت دي له(۱) د تدرارکاتو په

پړاوونو (پروسه) کې د روڼوالي تامينول، (۲) د مالي او عامو لګښتونو د چارو اغيزمن کنترولول، (۳) د کيفيت لرونکو توکو، خدمتونو او ودانيزو چارو د برابرولو او تدارک اقتصاديتوب او (۴) په داوطلبيو کې د ټولو وړ داوطلبانو د ګډون لارې چارې برابرول.) د دغه قانون اصلي موخه دا ده چې د دولتي سکتورونو د قراردادونو د پلي کېدو موخې بايد ډېرې مستقيمې وي او هغه په داسې ډول چې د توکو د تهيه کولو او خدماتو د تدارک په موخه د سياليو يو داسې داوطلبي درشل رامنځ ته کړي، چې د قصور او کمی له لامله ډير کم خطرونه په وړاندې ولري.

د افغانستان د تدارکاتو قانون، د دولتي خپلواک، ناسم او نامنظم سيستم د کنترولولو او تر خپلې ولکې لاندې راوستلو په برخه کې د لويو لويو ستونزو سره مخامخ دی. اوس مهال د افغانستان ۲۶ وزارتونه، د چارو په روڼوالي، د قوانينو او مقرراتو په ناهمغږۍ او د معلوماتو د خپرولو په برخه کې د معياري شروطونو د نه شتون او داسې نورو په کنترول کې د يوې لويې ستونزې او ګډوډۍ سره لاس او ګريوان دي. سره له دې چې د دولت مالي وجوه چې له بيلابيلو قرارداد کوونکو څخه توکي اخلي او خدمات لاسته راوړي، ورځ په ورځ پراخه کيږي، نو د لاروڼوالي په موخه د کنترولي تصميمونو او تدبيرونو نيول له يوه ځانګړي اهميت څخه برخمن دي؛ د بيلګې په ډول: سره له دو چې په اقتصاد وزارت کې يوه څانګه د قراردادونو (هغه قراردادونه چې ارزښت يې له ۲۰۰۰۰۰ امريکايي ډالرو څخه زيات وي) د څارنې په موخه پرانستل شوې او فعاليت کوي، خو ولې هغه قراردادونه چې ارزښت يې له پورته ټاکل شوي معيار څخه کم وي په ځانګړي ډول ناسم او بې قانونه پاتې شول.

د هغو خساراتو د مخنيوي په موخه چې د افغانستان د حکومت له خوا د زرګونو ميليونونو ډالرو بې باکه لګښت له امله رامنځ ته کيږي، د افغانستان د تدارکاتو د قانون ۹۳ مادې، د ماليې وزارت په چوکاټ کې د تدارکاتو د پاليسی يو واحد (PPU) پرانيست. د تدارکاتو د پاليسی واحد، د مسلکي او پاليسي جوړونکو چارو د پراختيا په موخه او همدا ډول د تدارکاتو په برخه کې د کړنو د يوه څارونکي ارګان (Performance monitoring) په توګه پرانستل شو. دغه واحد دوې عمده دندې لري: د تطبيقي مقرراتو تسويد او د ټولو وزارتو په تدارکاتي برخه کې د مامورينو روزنه. همدا ډول تمه کيږي چې نوموړی واحد به د تطبيقي مقرراتو د تسويد په وخت کې، د قراردادونو د پريکړو لپاره يو ميکانيزم او کړنلاره ايجاد او همدا ډول د داوطلبی معياري سندونه برابر کړي څو دغه ډول سندونه وکولای شي د دولتي قراردادونو د عقد په برخه کې لازيات روڼوالی او همغږي رامنځ ته کړي.

د يوه سالم دولتي تدارکاتي سيستم د شتون ګټه دا ده چې د قرارداد په برخه کې يو لړ معيارونه وټاکي او دغه معيارونه په خپل وار سره هم د خصوصي سکتور قرارداد کوونکو او هم د دولتي ادارو لپاره چې خصوصي سکتورونه ټاکي، ګټور پرېوزي. همدا ډول د تدارکاتو د يوه دوامداره او اجراء وړ منظم سيستم شتون خلکو ته دا هيله او تمه پيدا کوي چې حکومتي قراردادونه په اجراء او مراقبت باندې معروض او دغه باور په خپل وار سره د حکومت په مشروعيت او د خلکو په وړاندې د ځواب ويلو په وړتيا باندې مثبتې اغيزې پرې باسي.

**د بحث وړ پوښتنې**

- ❖ د دې لپاره چې حکومتي قراردادونه په شفافيت سره د اجراء وړ وي، ستاسو په اند په دې برخه کې کوم شيان له ځانګړي اهميت څخه برخمن دي؟ ولې شفافيت د دولت په لګښتونو کې دومره مهم دی؟
- ❖ د دولتي تدارکاتو مناسبې کړندودونه څنګه کولای شي د خصوصي سکتورونو ترمنځ په قراردادونو باندې اغيزه پرې باسي؟

**تبصره: د قراردادونو د قانون په اړه د اداراتو د کړنو او اجراآتو اهميت.**

په خپله د قانون له ماهیت څخه د قانون اغیزمنتوب ډیر اهمیت لري او له همدې امله د قانون د پلي کوونکو او ملاتړ کوونکو تعهد او زړه سوی، له ډیر او کلیدي اهمیت څخه برخمن دی. حتا که په قراردادونو پلي او لیکلي قوانین سم او سالم هم وي، خو محکمې او ټول اړوند بنسټونه باید د قانون د اجراء ورتیا او علاقه ولري او د قرارداد د لوریو سره، د خپلو حقوقو د ساتنې او حراست په برخه کې مرسته وکړي. که په څرګند ډول وواېو، محکمې او قاضیان باید په خپل ځان کې د قراردادونو د تفسیر وړتیا په خپل ځان کې پیدا کړي څو وکولای شي د سرته رسول شوو کړنو او عمل په اړه په بشپړ ډول قضاوت او پریکړه وکړي او په باوري ډول مناسبې لارې چارې پلي کړي. ټول حقوقي بنسټونه لکه حقوقي کورسونه او ښوونځی او مسلکي ټولنې باید د وکیلانو د ښوونې او روزنې او له هغو څخه د ځارنې وړتیا ولري او باور ترلاسه کړي چې هغوی د قرارداد د مسودې د تهیه کولو او برابولو په برخه کې پوره وړتیا ترلاسه کړې او کولای شي حقوقي شرطونه او اړتیاوې په سم او مناسب ډول ترلاسه کړي.

نو له همدې امله هغه اصلاحي پروګرام چې د قراردادو د ښه والي او اجراء لپاره ځانګړې شوې ده، باید د محکمو د تشکیلاتي اغیزمنتوب، د قاضیانو د وړتیا، د مدافع وکیلانو د کیفیت او اغیزمنتوب او د خصوصي سکتورونو د مرستې او ملاتړ په اړه عملي ګامونه پورته او د مناسبو کړنو لارې چارې برابرې کړي. که ثابته شي چې د قانون ملاتړي او پلي کوونکي چارواکي او بنسټونه په خصمانه توګه چلند کوي او یوه ناهمغږي په ګوته کوي، نو د منفعت طلبه جوړښتونو د معلومولو، چې د سرغړونې ریښې او لاملونه شمیرل کیږي، لپاره احتیاطي او دقیق ګامونه پورته کړل شي. په ډیرو ځایونو کې، د ګټو لرونکي کسان د دې لپاره د قانون او قانون د حاکمیت په وړاندې مقاومت څرګندوي، چې دوی له دې ډاریږي چې له نویو قوانینو څخه د دوی بې خبري روښانه نه شي او یا هم د دوی مقاومت امکان لري په لویو لویو ستونزو کې ریښه ولري چې حتا د دوی د نه وړتیا او فساد سره اړه لري.

سرچینه: USAID؛ د وړو سوداګریو د اصلاح قانون: د برنامې د پلي کېدو لپاره عملي لارښوود، مخ 26، د خپریدلو نیټه ۲۰۰۷ ز کال.

او یا هم د قانون پر وړاندي دښمنی د بهرنیو اشخاصو او یا بنسټونو لخوا مخته بیول کیږی کوم چې فکر کوی چې ددوی سیستماګر که څومره وران ویجاړ هم وی، باید اصلاح شي. د قانون په پلی کونکو نهادو کي د سرسختي او یا هم د تشکیلاتی ګډوډئ په ګوته کولو پړاو ډیر سست روان دی او ډیرئ وخت ځورونکي هم دی. لیکن دا حقیقت چې د اصلاح راوستلو په مخکې هر خنډ باید و پیژندل شی ډیر اړین کار دی او باید ورباندی کار وشی تر څو د بدلون او اصلاح واک په ځان کی پیدا کړي.

## ۷ - د څېړکي لنډیز (پایله):

د قرارداد قانون د ژمنو په اجرا باندی د کتونکي او څارونکي حیثیت لری. هغه ټولنی چی په خپلو ژمنو باندی ولاړی دی هغه وخت پرمختګ کولای شي چي کله یو کس ووایی چی فلانی کار سرته رسوم، نو باید هغه کار په داسې ډول سرته ورسیږي چې ستونزې په وړاندې ونه لري. د ځایي وړو ټولنو جوړښت او ځانګړتیاوو ته په پام، د فشار او ټولنیزو محرکاتو او همدا ډول په یوه ټولنه کي له نورو غړو څخه تمې،په خپلو ژمنو باندی د دریدو انګیزه منځ ته راوړي. هر کله چي د ټولنو لمن پراختیا و مومي، ښارونه او ولایات منځ ته راشي، نو د ټولنیزو اړیکو را پارونکی د ژمنو په سرته رسولو کی ناکافي ثابتیږی. نو ځکه باید یو حقوقی سستم لاندنی کارونه سرته ورسوی.

- په یو قرارداد کی د ژمنو ډلو د حقوقو او دندو تعریف
- د قراردادونو د اجرا او تعمیل لپاره د یو میکانیزم او کړندودونه جوړول

- د قراردادونو د نه اجراء کیدو په وخت کې د حل او فصل مناسبې لارې چارې په ګوته کول.

د یوه ښکاره حقوقي چوکاټ په رڼا کې د قرارداد ایجاد، ترل او پلي کول د اقتصادي پرمختګ او پراختیا یو حیاتی اصل ګڼل کیږی. ښکاره حقوقي چوکاټ کولای شي چی د افغانستان په بازارونو کی یو لوی بدلون راولي. دا ځکه چی په بازاری چاپیریال کی لاس لرونکي کسان تمه او هیله لري چي قانون به ددوی سوداګریز شریکان د خپلو ژمنو سرته رسولو ته اړ کړي. هغه که د پیسو لیږد را لیږد، د توکو ویش او یا هم د خدمتونو وړاندی کول وي. په پایله کي، د سوداګری معاملاتو د سرته رسولو په برخه کې د خطرونو کچه راټیټیږي. او د ګټو د لاسته راوړلو لپاره د بازار بالقوه وړتیاوې پیاوړې کوي.

# اصطلاحات

**سپارنه Assignments**

د قرارداد د اصلي لوري له خوا دریېم لوري ته د قرارداد د حقوقو او امتیازونو رسمي لیږد. دغه عمل د قرارداد د مقابل لوري خوښې او رضایت ته اړتیا نه لري.

**د قانون څخه سرغړونه Breach of Contract**

کله چې د قرارداد یو لوری د قرارداد د کړنو او مکلفیتونو په اجراء کې پاتې راشي، نو دغه حالت ته د قرارداد نقض او ماتیدل ویل کیږي چې قانون ورته د یو لړ درملنو (چارو) غوښتنه کوي.

**وړتیا/ اهلیت Capacity**

د اجراء وړ یوه یو قرارداد د ترلو لپاره د یوه شخص حقوقي واک ته ویل کیږي.

**وړتیا لرونکي لوري Capable Parties**

قانون د لوریو ترمنځ یوزاې د قراردادونو هغه اجراء په رسمیت پیژني چې د خپلو کړنو او ګامونو حقوقي پایلې درک او معلومې کړي.

**غورکتنې Consideration**

هغو شروطو او احوالو ته ویل کیږي چې وړاندیز کوونکی او وړاندیز منونکی یې د قرارداد په وخت کې په پام کې نیسي او یا هغو شروطو او احوالو ته ویل کیږي چې د قرارداد د عقد لامل ګرځي.

**بې معنی ژمنيGratuitous Promise**

هغې ژمنې ته ویل کیږي چې یو قرارداد د سرته رسولو وړ نه وي، ځکه له عوضینو څخه خالي دي.

**د نغښتل شوي اصول Default Rules**

ټولو هغو قاعدو او قوانینو ته ویل کیږي چې د ځانګړو حکمونو په اړه د قرارداد د سکوت او لویدلو په صورت کې عمل ته وړاندې کیږي. که یو لوری نه غواړي څو د پام وړ قرارداد د قصور د اصولو سره سم تفسیر شي، هغه باید په خپل موافقه لیک کې د هغو په اړه قرارداد وکړي.

**واکمنولDelegation**

دریېم لوري ته د یوه لوري له خوا د قرارداد د دندو او مکلفیتونو لیږدولو ته وایي. د ګمارنې سرچپه، دغه عمل د قرارداد د بل لوري رضایت او خوښې ته اړتیا لري.

**زیان رسوونکي اتکاء Detrimental Reliance**

هرکله چې یو لوری ژمنه کوي او د خپلو کړنو په اړه عملي ګامونه پورته کوي څو په ژمنه کې هغه بل دخیل لوری د متکي د کړنو په اړه په اساس قناعت لاسته راوړي. دغې حالت ته قانون، د ځانګړو چارو او درملونو غوښتنه کوي؛ ځکه وړاندې قرارداد د دغې معقولې او منطقي تکیې پر بناء ایجاد شوی دی.

### د تمې وجه الخساره Expectation Damages

د پیسه ایزې مرستې لپاره دا یوه معمولترینه لاره بلل کیږي. د وجه الخسارې له ورکړې څخه د محکمې موخه دا ده څو د قرارداد زیانمن شوی لوری په داسې یوه حالت کې ځای پر ځای کړي چې په سمه توګه د قرارداد د بشپړتیا په صورت کې وکولای شی هغه ځای تر خپلې ولکې لاندې راولي. نو له دې لامله، که زیانمن شوي لوري ته د تمې وجه الخساره ورکړل شي، نو دا داسې معنی لري چې هغه د دومره اندازې پیسو مستحق دی څو خپل ځان په داسې یوه ځای کې برقرار کړي چې که قرارداد په سمه توګه پای ته رسیدلای وی او یا بشپړ شوی وای نو هغه کولای شول هغه ځای تر خپلې ولکې لاندې راولي.

### تعویضي توکيFungible

یو قلم او یا یو توکی هغه وخت د معاوضې او بدلولو وړتیا پیدا کولای شي چې د هماغه جنس په بله نوعه باندې په آزادانه ډول بدل کړل شي؛ د بیلګې په توګه: د بورې یوه دانه مثلي بلل کیږي او په آسانی سره د بدلولو وړتیا لري، ځکه د بورې له بلې دانې څخه نه شي تفکیک کیدلای. ولې یو موټر مثلي (معاوضه پذیر) نه بلل کیږي ځکه د هماغه جنس له یوه بل موټر څخه په آسانی سره تفکیک او بیلیدلای شي.

### ضمني قرارداد Implied Contract

هغه قرارداد ته ویل کیږي چې د یوه معیاري قرارداد ټول شرطونه او اړتیاوې ونه لري ولې په محکمه کې د انصاف د لاسته راوړلو په موخه په هغه باندې تمسک شوی وي.

### اټکل شوی زیان Liquidated Damages

لکه څرنګه چې د هغو خساراتو تعریف چې د قرارداد له نقض څخه پیدا کیږي، یو ستونزمنه مسأله ده، د قرارداد لوري امکان لري داسې پریکړه وکړي چې د خساراتو د نغدیې په احکامو، خپل ځان له بې باروۍ څخه خلاص کړي. د خساراتو د نغدیې د احکامو په شاملولو، د قرارداد لوري مخکې له مخکې پریکړه کوي چې د قرارداد د ماتیدلو او نقض په صورت کې، څومره پیسې د درمل او چارې په توګه د قرارداد لوري ته ورکړل شي. محکمې هغه وخت د خساراتو د نغدیې احکامو ته ارزښت ورکوي چې معلومه کړي چې د قرارداد لوریو په صداقت او د ښه نیت له مخې د خساراتو د نغدیې ټاکنه کړې ده او دغه اندازه واقعا د هغې اندازې سره چې د قرارداد د ماتیدلو او نقض له لامله رامنځ ته کیږي، برابره ده. که محکمه معلومه کړي چې د خساراتو نغدیه یوازې د لوریو د تنبیه او جریمې په موخه وضع شوې ده، نو محکمه هغه نه اجراء کوي.

### د پیسو مرستهMonetary Relief

د درمل او چارې هغه ډول ته ویل کیږي چې محکمه یې د قرارداد زیانمن شوي لوري ته ورکوي. د دغه درمل او چارې محاسبه د مروجو قوانینو د حکمونو سره سم، د هغو خسارې په اندازه کیږي چې زیانمن شوي لوري د قرارداد د نقض له لامله په غاړه اخستي دي. د درمل دا یو معمولترین ډول دی چې د محکمې له لوري زیانمن شوي کس ته ورکول کیږي.

### دوه اړخیزه تفاهم Mutual Consent

هغه موافقې ته ویل کیږي چې د وړاندیز کوونکي او وړاندیز منونکي ترمنځ صورت نیسي او د هغو شیانو سره سم چې د وړاندیز کوونکي له خوا وړاندې شوي، د قرارداد په موادو او شرطونو کې قید شوي دي.

### جبران Remedy

د تاوان او زیان هغه ډول ته ویل کیږي چې د قانون له خوا د زیانمن شوي لوري د زیانونو د پټې په موخه وړاندیز شوی دی. د درمل او چارې اصلي موخه دا ده څو زیانمن شوی لوری په داسې یوه ځای کې برقرار کړي چې که قرارداد په سمه توګه بشپړ

شوی وای، نو هغه به هغه موقف او ځای تر خپلې ولکې لاندې راوستلای وای. په عمومي ډول قانون دوه ډوله درمل او چاره وړاندې کوي: د پیسو مرسته او ځانګړی عمل.

### ځانګړی عمل Specific Performance

ځانګړی عمل د درمل او چارې هغه ډول ته ویل کیږي چې د هغو سره سم محکمه د تړون ماتوونکي لوري ته لارښوونه کوي څو د هغو شیانو سره سم چې په قرارداد کې ورباندې پرېکړه شوې، اجراات وکړي. دغه ډول زیان او تاوان ډېر کم او نادر دی او یوازې په هغو حالتو کې توجیه کیږي چې په هغو کې مالي مرسته د زیانمن لوري د خساراتو بسنه نه کوي. نو په دې وخت کې محکمه کولای شي د ځانګړو کړنو لارښوونه او امر صادر کړي.

### فاعلی اراده Subjective Intention

ریښتینی او واقعي نیت دې ته ویل کیږي چې د قرارداد یو لوری په یوه ځانګړي حال کې، هغه په سر کې ولري. دغه اصطلاح د (عیني نیت) د اصطلاح سره توپیر لري. په عیني نیت کې د قرارداد یو لوری داسې معلومیږي چې که هغه د قرارداد د هغه بل لوري پر ځای وای نو هغه به هم عین شنی درک کړي وي.

# اخځليکونه

د امريکې د قانون انستيتيوت؛ د قانون بيا ليکنه، دويم څپرکى: قراردادونه؛ د خپريدلو نيټه، ۱۹۸۱ ز کال.

USAID؛ د کوچني اقتصاد د اصلاحاتو او سوداګرۍ قانون: د کړندودونه د پلي کېدو لپاره عملي لارښوود، مسوده، د خپريدلو نيټه: ۲۰۰۷ ز کال.

USAID؛ افغانستان، د کړنو لپاره اجنډا: د سوداګرۍ د چاپيريال پراختيا او پرمختيا، د خپريدلو نيټه: ۲۰۰۷ ز کال.

د افغانستان د اسلامي جمهوري دولت مدني قانون

د افغانستان د سوداګرۍ قانون

فلورتجی کلين و ادم پين؛ د پيسو په لټه کې: د افغانستان په ليرې پرتو سيمو کې د پيسو غير رسمي کړندودونه؛ د افغانستان د ارزونې او څيړنې واحد، د خپريدلو نيټه: ۲۰۰۲ ز کال.

کلاد د. راور و انتونی. ام. سکروکی؛ د قراردادونو لب او لباب؛ اس. تی پاول: د لويځ تامسن خپرونې، د خپريدلو نيټه: ۲۰۰۶ ز کال.

نړيوال بانک او نړيوال مالي سهامي شرکت، د سوداګرۍ پراختيا، د خپريدلو نيټه: ۲۰۰۹ ز کال.

د افغانستان پروفايل، واشنګتن دی. سی: د نړيوال بانک د خپرونو اداره، د خپريدلو نيټه: ۲۰۰۷ ز کال.

# پنځم څپرکی: سهامي شرکتونه

## ۱ – سريزه

په افغانستان کې زياتره اقتصادي کړنې د سوداګريزو بنسټونو يا واحدونو د عملياتو له لارې صورت نيسي. د حقوقي بنسټونو سوداګري، په آزادانه ډول کولای شي قرارداد و تړي، د ملکيت او جايداد خاوند شي او په قضايي بهيرکې برخه واخلي، خو په معمولي توګه يو سوداګريز بنسټ دغه ټولې کړنې د خپلو خاوندانو د ګټې د ترلاسه کولو لپاره ترسره کوي.

کومه کيسه مو چې د لومړي څپرکي له پيل څخه شروع کړه، په ياد راوړئ. نجيب الله غواړي چې د خښتو کارخانه پيل کړي. لومړی پوښتنه چې په دې برخه کې وړاندې کيږي هغه داده چې څنګه کولای شي د خپلې سوداګرۍ لپاره پيسې را ټولې کړي. څکه هغه پوره او لازمې پيسې نه لري څو په يوازيتوب سره خپله سوداګري په لار واچوي، نو له دې لامله هغه مجبور دی څو د بهرنيو سوداګرو او پانګه اچوونکو په لټه کې شي. نو آيا نجيب الله نامی به د يو کس په عنوان، د هغو تاوانونو او هسکو ټيټو او لوړو ژورو چې د نوموړي په سوداګرۍ کې پيښيږي، مسوول وي؟ که هغه په يوازيتوب سره يو سوداګر وي، د سوداګرۍ ګټې او تاوانونه به په څه ډول وويشل شي؟ د شرکت ورځنۍ چارې به څوک پرمخ بيايي او څوک به د توکو د پيريودلو لپاره هوډ کوي؟ د کومو بازارونو سره به راکړه ورکړه لري او کوم ډول کارکوونکي بايد وټاکل شي؟ که د شرکت له کړنو څخه يو د سوداګرو او يا هم پانګه اچوونکو څخه خوښ نه وي، کولای شي له شرکت څخه خپله برخه وپلوري؟ که نجيب الله نامی مړ شي؟ په سوداګرۍ کې به يې څه پيښ شي؟ د شرکت قانون غواړي له زياتو قوانينو، حقوقي قواعدو او اخلاقي معيارونو څخه په ګټه اخيستو، پورتنيو پوښتنوته ځواب ووايي او په عين وخت کې کوښښ کوي څو د غړيو لپاره څومره چې ممکن وي بخښنه وکړي څو خپلې قرارداديزې اړيکې په زړه پورې جوړې کړي. لکه څنګه چې تاسو فکر کوی، تر ځانګړو او سوداګريزو اړتياوو پورې تړلي خلك به دغو پوښتنو ته بيلابيل ځوابونه وړاندې کړي.

د شرکت د قوانينو اساسي موخې دادي، ۱،څو سوداګريو ته په لوړه کچه آسانتياوې ور وربخښي، چې وکولای شي خپلې اړيکې د نورو مراجعينو، تهيه کوونکو او پيروودونکو سره په زړه پورې جوړې کړي. ۲، چې په سوداګرۍ کې ښکيل کسان وکولای شي خپل نوښتونه ښه او د يو پياوړي او روغ اقتصاد د پرمختګ لپاره لاره آواره کړي او د خپل شرکت د سمون او مديريت لپاره داسې يو سيستم رامنځ ته کړي څو د سوداګرۍ د خاوندانو لپاره اطمينان ورکړي چې د سوداګرۍ مديران، د قانون په رڼا کې په مسوولانه توګه خپلې چارې په مخ بيايي او د سوداګرۍ د خاوندانو په لګښت، د خپلو شخصي ګټو په لټه کې نه دي.

دا دويمه موخه مهمه ده څکه، چې ډير وخت هغه کسان چې خپله پانګه په سوداګرۍ کې په کار کې اچوي او د سوداګرۍ خاوند وي، د هغو کسانو سره چې د شرکت ورځنۍ کړنې او فعاليتونه پر مخ بيايي، يو شان نه دي. نو له دې لامله، په سوداګرۍ کې د ګټو تضاد په طبيعي ډول رابرسيره کيږي.

په دې څپرکي کې، هغه اصلي قوانين چې پر سوداګريزو بنسټونو حاکم او پلي دي، تر بحث او څيړنې لاندې نيول کيږي. له دې سره سره، مهم ټکی چې بايد په پام کې ونيول شي هغه دادی چې ليکل شوي قوانين، په شرکتونو او کړنو د اغيزې اچولو يوازينۍ سرچينه نه ده، بلکې د قانون ټولې څانګې لکه د قرارداد قانون، د مالياتو قانون، د تاوان او خساراتو قانون، د ملکيت قانون، د جزا قانون، د پيسو قانون او نور مدني طرز العملونه هم پر شرکتونو او کړنو اغيزه اچوي. له هغه وروسته، د دغه څپرکي په اصلي برخه کې، د پرانستلو د څرنګوالي پر کړنلارو، د شرکتونو پر انحلال او پرمختګ، سهامي او محدود المسووليت شرکتونو باندې توجه او تمرکز اچوي. څکه سهامي او محدود المسووليت شرکتونه، د مديريت او د خپلو سوداګريزو کړنو د پرمختګ په موخه، له اصلي خاوندانو پرته په نورو کسانو باندې زياته تکيه کوي. په سوداګرۍ کې د شريکانو ترمنځ د ګټو تضاد او تفاوت په ځانګړې

توګه د ستونزو یو اصلي لامل ګڼل کیږي. نو له دې لامله، د دغه څپرکي په پیل کې به موږ د وخت زیاته کچه د ( نماینده ګیو قانون) ته ځانګړې کړو او له هغه وروسته به حقوقي اصول، کړندودونه او جوړښتونه تر څیړنې او شننې لاندې ونیسو څو په پایله کې د نمایندګیو لګښتونه کم کړي.

د شرکتونو هغه قوانین چې په دغه څپرکي کې تر څیړنې او بحث لاندې نیول کیږي، پر سوداګریزو بنسټونو باندې پلي او د افغانستان د جاري قوانینوپه رڼا کې جوړیږي. کومې سوداګرۍ چې د ټولو سهامي شرکتونو پر ملاتړ ( د (بیلګې په توګه: که چیرې په افغانستان کې د یو کاناډایي شرکت نمایندګي او استازیتوب جوړ او فعالیت پیل کړي)، اړینه نه ده څو د افغانستان د حقوقي غوښتنو په وړاندې، د ګډ مدیریت او ادارې په اړه خپل ځان تنظیم کړي. په حقیقت کې، زیات شمیر لوی شرکتونه چې نن ورځ په افغانستان کې خپل فعالیت ترسره کوي، په ټولو هیوادونو کې په رسمي بڼه ثبت او راجستر دي او د دغو قوانینو په پیروۍ باندې معروض نه بلل کیږي. دا ولې باید داسې وي؟ د ګډ مدیریت او ادارې قوانین د یوه شرکت د راجستر او ثبتولو د ځاي د مهمو او عمده لاملونو څخه شمیرل کیږي. په افغانستان کې د شرکتونو قوانین په زیاته کچه د غوره او نړیوالو لارو چارو سره سمون او مطابقت لري، نو له دې لامله اوس کولای شو د دې هیله ولرو چې په افغانستان کې چې نوي شرکتونه پر فعالیت پیل کوي، د ورځو په تیریدو، په تدریجي بڼه  باید دا هوکړه وکړي چې د ټولو هیوادونو/نړیوالو او د افغانستان د اسلامي جمهوریت د قوانینو سره سم خپل ځان ثبت او راجستر کړي.

دا هم د یادونې وړ ده چې یوازې د شرکتونو د لیکل شویو او مدونو قوانینو پر احکامو تمرکز او توجه، موږ د سوداګریزو قضایاوو او اصلي واقعیتونو له څیړنې او بحث څخه لیرې ساتي. د مدون قانون چوکاټ تر اوسه په داسې کچه نه دی څو وکولای شي د هر ډول سوداګریزو حالاتو او شروطو وړاندوینه وکړي. د مدون او لیکل شوي قانون خلاوې به دې وخت په تیریدو رابرسیره شي. دغه خلاوې او نواقص زیاتره وختونه، د هغو نورمونو له لارې ډکیږي چې د محکمو له خوا منځ ته راځي او د قانون صلاحیت او قدرت ته ارزښت لري. خو په افغانستان کې دغه پروسه د پیل په پړاو کې ده: د مدون قانون زیاتره تشې او نیمګړتیاوې لا تر اوسه نه دي رابرسیره شوې او آن تر دې چې په کمه اندازه د شرکت او سوداګریزې قضیې د محکمو له خوا حل او فصل کیږي. بیا هم باید ووایو چې د هغو چا لپاره ډیر مهم او ښه وخت دی چې د افغانستان په یوه سوداګریزه برخه کې مدافع وکیل وي.

## ۲ – د شرکتونو د قانون سرچینې

په افغانستان کې پر شرکتونو باندې پلي او حاکم قوانین په زیاته کچه شتون لري. چې په دې اړه مهم او کلیدي قوانین په لاندې ډول شرحه کیږي.

### د ۱۹۵۵ ز کال دتجارت اصولنامه

د ۱۹۵۵ ز کال د تجارت اصولنامه د وضعې او تصویب له کال څخه تر اوسه، په افغانستان کې د سوداګرۍ د قانون د لومړنیو سرچینو څخه شمیرل کیږي. د ۲۰۰۴ ز کال اساسي قانون حکم کوي چې: ټول هغه قوانین چې له اساسي قانون څخه وړاندې تصویب شوي دي، تر هغه وخت پورې جاري او د پلي کېدو وړ دي، چې په صریح ډول لغوه شوي نه دي او یا هم نور قوانین د هغه پر ځای نه دي تصویب شوي. خو په ځرګند ډول ویلای شو، چې ځینې احکام چې د (اصولنامې) په یوه ځانګړې برخه کې ځای پر ځای شوي دي، د تل لپاره سم روښانه او ځرګند نه دي.

د تجارت اصولنامه یو ډیر پخوانی قانون دی، د دې لپاره چې وکولای شي د افغانستان نوي ټولنیز، اقتصادي او د حکومتدارۍ تغییرات ځرګند او په ګوته کړي، باید د نن ورځې سره سم نوي او له سره ولیکل شي.

دغې اړتیا ته په پام، د عدلیې وزارت د ۲۰۰۲ ز کال د اګست په میاشت کې د امریکې د مدافع وکیلانو د ډلې ( American Bar Association) اړوند یوې ډلې ته واک ورکړ څو د سوداګرۍ په زوړ او پخوانی قانون له سره غور وکړي او د شرکتونو په قانون کې، چې د تجارت اصولنامې یوه برخه جوړوي، ځینې تغییرات او تعدیلات وړاندې کړي. د امریکې د مدافع وکیلانو چې په رضاکارانه ډول پرته له معاش څخه یې کار کولو، د شرکتونو د قانون یوه مسوده د دې لپاره برابره کړه څو د افغانستان د سوداګرۍ د قانون ځای ونیسي. د شرکتونو نوی قانون په اصل کې د تجارت اصولنامې له متن څخه اخستل شوی دی او هغه یې په دوو نویو لیکل شویو (مدونو) قانونو باندې ویشلی دی: د شراکت او د سهامي او محدود المسوولیت قوانین، چې دواړه یو ځای شوي او د شرکت د قانون په نوم یادیږي. دواړه قانونونه د جمهور رئیس د تقنیني فرمان له خوا د ۲۰۰۷ کال د جنورۍ په میاشت کې لاسلیک او د هماغه کال د مارچ په میاشت کې د ولسي جرګې اقتصادي کمیټې ته ولیږدول شول. د ولسي جرګې اقتصاد کمیسیون شاید یاد شوي قوانین وګوري، خو د دغه درسي کتاب د خپریدو په وخت کې، یاد شوي مخکني قوانین نافذ وو.

سره له دې چې په دغه څپرکي کې، زیات تمرکز او توجه د مشارکت د نوي قانون او د سهامي او محدود المسوولیت شرکتونو په قانون باندې صورت نیولای دی، خو بیا هم د سوداګرۍ د پخواني قانون ځینې برخې معتبرې او د ارزښت وړ دي. د سوداګرۍ د پخواني قانون دویمه ماده، د مهمو احکامو څخه شمیرل کیږي چې دواړه لوري په دې مکلف بولي څو (تجارتی مسئلې د اصولي معتبرو مقاوله نامو په ذریعه، او په هغه صورت کې چې داسې مقاوله موجوده نه وي، نو د تجارتي اصولنامې د صراحت او یا دلالت په موجب حل او فصل کیږي). په بل عبارت، که د ( قرارداد) د اجراء وړ یوه موافقتنامه ونه شي کولای د قرارداد د دوو لورو ترمنځ یوه شخړه پرې کړي، د سوداګرۍ له قانون څخه (د تجارت اصولنامه) باید د قضیو، شخړو د حل او د مناسب او ټاکلو پایلو د لاسته راوړول لپاره د یوازینی مرجع په توګه ګټه واخستل شي. که د پام وړ قضیې په اړه د سوداګرۍ په قانون (تجارت اصولنامه) کې کوم حکم پیدا نه شي، په دې وخت کې (ځانګړو عاداتو او ځایي عرف) ته رجوع کیږي. د سوداګرۍ د قانون لیکوالان وایي، چې د قضیو او معضلو د حل په وخت کې (ځایي او ځانګړي عرف) ته له (عام او ټولنیز عرف) څخه زیاته ترجیح ورکول کیږي، ځکه د بیلابیلو ځایونو عرف، د پام وړ سوداګریزو معاملو د تاریخچې سره سم جوړ او د تکامل درجې ته رسیږي. خو بیا هم که چیرې کوم (عرف او رواج) په یو ځانګړي ځای کې د پام وړ شخړې په اړه په څرګنده توګه شتون ونه لري، د نږدې ځای عرف او عادت باید پلی شي.

د سوداګرۍ د قانون قلمرو او موخې کومې دي؟ په بل عبارت، د خلکو ترمنځ د سوداګرۍ قانون په کومو معاملو، راکړو ورکړو د پلي کیدو وړ دی؟ د سوداګرۍ قانون قلمرو، د دغه قانون په ۱۲- ۲۳ مادو کې څرګند او ټاکل شوې دي، د بیلګې په توګه: د نومووړي قانون ۱۸ او ۱۹ مادو د معاملو یو لړلیک، چې د سوداګریزو راکړو ورکړو عنوانونو لرونکې وي، وړاندې کړی دی چې هغه عبارت دی له: هغو موافقتنامو څخه چې د منقول جایداد د تدارک، د سوداګریزو ډولونو د رامنځ ته کولو، د خلکو او توکو د وړلو او د خدمتونو د تدارک لپاره تهیه کیږي.

که چیرې د سوداګرۍ قانون، ستاسو لپاره له تاریخي ارزښت پرته بل هیڅ ارزښت ونه لري، تاسو باید په خپله د دغه قانون سره بلد شی، د بیلګې په توګه: د (سوداګرۍ د ثبت او راجستر) په اړه ۲۴- ۳۹ مادې، د (سوداګرۍ د عنوان او قبالې) په اړه ۴۰- ۴۵ مادې او د (سوداګرۍ د کتابونو) په اړه ۶۵- ۸۴ مادې له یو ځانګړي ارزښت او اهمیت څخه برخمنې دي. د یاد شوي قانون ۱۱۶- ۴۷۰ مادو بیلا بیلې مسألې لکه مشارکت، سهامي او محدود المسوولیت شرکتونه ترڅیړنې لاندې نیولې دي، چې د شراکت او سهامي او محدود المسوولیت نویو قوانینو د حکمونو پر ځای ټاکل شوې دي.

**د مشارکت او سهامي او محدود المسوولیت شرکتونو قوانین، د ۲۰۰۷ ز کال مصوبه.**

د مشارکت او سهامي او محدود المسوولیت شرکتونو قوانین په ۲۰۰۷ ز کال کې نافذ او خپاره شول چې په اوس وخت کې، د شرکتونو د قانون اصلي متن جوړوي. د دغه لیکل شوي (مدون) قانون حکمونه په تفصیلي بڼه په ۵ او ۶ برخو کې تر بحث او څېړنې لاندې نیول شوي دي.

## د پانګه اچونې قانون ( ۲۰۰۵ ز کال )

د خصوصي پانګه اچونې قانون، د اساسي قانون د ۱۰ مې مادې سره سم په ۲۰۰۴ ز کال کې وضع او تصویب شوو. د اساسي قانون ۱۰ ماده په دې اړه وایي چې د افغانستان دولت او حقوقي سیستم به د تشویقي بازار د اقتصادي نظام پر اساس، له پانګه اچونې او خصوصي تشبثاتو څخه ملاتړ او د هغو د ساتنې ضمانت کوي. لکه څنګه چې د قانون په متن کې ورباندې تصریح شوې ده، د پانګه اچونې د قانون موخه عبارت ده له:

د هیواد د اقتصاد په برخه کې، د کورنیو او بهرنیو خصوصي پانګه اچونو د اغیزې او رول پرمختیا او د هغه د اداري جوړښت سره سم د یو قانوني نظم جوړول، چې د اقتصادي پرمختیا او پراختیا، د اشتغال د لارو چارو برابرولو، د تولید او صادراتي عوایدو د زیاتولو، د تکنالوژۍ د لیږدولو، د عامه خلکو د ژوند د کچې لوړولو او ښه کولو او عامه هوساینې په موخه د پانګه اچوونکو د تشویق، ملاتړ او ساتنې سبب وګرځي

نو له دې لامله، د خصوصي پانګه اچونې له لارې، اقتصادي پرمختګ، د قانون اصلي موخه ده. پورتنۍ موخې ته د رسیدلو لپاره، قانون داسې یوه کړنلاره برابره کړې چې د کورنیو او بهرنیو پانګه اچوونکو لپاره د خوښې وړ او مناسب شرطونه منځ ته راوړي. د یاد شوي سیستم د منځ ته راتګ په موخه، د پانګه اچونې قانون داسې سرچینې او وسایل په ګوته او ځانګړي کوي، چې د هغو پر بناء وکولای شي پانګه اچونې سمې تنظیم کړي. دغه قانون، هغه برخې چې پانګه اچونه په هغو کې منع شوې او یا هم ورباندې محدودیتونه لګول شوي دي، په څرګند او لنډ ډول په ګوته کوي او داسې لارې چارې ټاکي چې د هغو سره په سمون، پانګه اچونه باید اداره او ورڅخه څارنه وشي. د پانګه اچونې قانون داسې حکم کوي چې: (د پانګه اچونې لوړ کمیسیون) یوازنی دولتي بنسټ او واک لرونکی مقام دی چې د پانګه اچونې د قانون د پلي کېدو مسوولیت پر غاړه لري.

د یاد شوي قانون، له کلیدي اړتیاوو ( مخکې شرطونو/پیش شرطونو ) څخه یوه هم داده، چې پانګه اچوونکي د دې لپاره چې په افغانستان کې فعالیت وکړي، باید خپله سوداګري ثبت او راجستر کړي. د دغو اړتیاوو څرنګوالی، د افغانستان د پانګه اچونې د قانون موخو ته د رسیدلو لپاره ډېر اغیزمن او ګټور دی، ځکه د ثبت او راجستر سخت او ستونزمن شرطونه (پیش شرطونه) کولای شي، له هغو پانګه اچوونو څخه چې قانون د هغو په لټه کې دی، مخه ونیسي ( د زیات بحث او څېړنې لپاره دې د ۷ برخې ته رجوع وکړئ ).

د دې لپاره چې د افغانستان د اسلامي جمهوریت په دولت کې یوه خصوصي پانګه اچونه وکولای شي خپل ځان ثبت او راجستر کړي، دولت باید د پانګه اچونې د قانون سره سم یو بنسټ په رسمیت وپیژني. خصوصي تشبثات او پانګه اچونې کولای شي د ا فغانستان او یا نورو ټولو هیوادونو د قوانینو سره سم جوړې او تنظیم شي، خو په هر حال، سوداګري باید په خپله د افغانستان په دولت کې ثبت او راجستر شي. دغه خپلواکي کیدلای شي بهرنیو سوداګریو ته په ګټه پریوزي، ځکه هغه رسما مکلف نه دي څو خپل جوړښت ( تشکیل ) او نورې خپلې لارې چارې د افغانستان د جاري او پلیو قوانینو سره سمې تنظیم کړي، دوی یوازې مکلف دي چې خپلې سوداګرۍ د افغانستان په دولت کې ثبت او راجستر کړي. د افغانستان په دولت کې ثبت او راجستر خصوصي تشبثات کولای شي په پوره توګه د پانګه اچونې او یا هم د خصوصي سکتور د پانګه اچوونکو او د افغانستان د دولت ترمنځ د ګډې پانګه اچونې خاوندان شي. نو له دې لامله، قانون پانګه اچوونکو ته اجازه ورکړې (د دې په پام کې نیولو سره

سره، چې کوم جوړښت د دوی زیاتې سوداګریزې ګټې لاسته راوړلای شي) څو خپل تصمیمونه قاطع کړي چې آیا په خپلواک او آزاده توګه او یا هم د افغانستان د دولت سره د شریک په توګه خپل فعالیتونو ته ادامه ورکړي.

د پانګه اچونې دویم او کلیدي حکم دادی، چې راجستر شوي تشبثات او بهرني پانګه اچوونکي، په افغانستان کې له پانګه اچونې وروسته، له ارزښتناکو او مهمو حقوقو او مسوولیتونو څخه برخمن کیږي. د پانګه اچوونکو مسوولیتونه، د پانګه اچونې اړوند ګټو او انتفاعی خدماتو له درکه، د عایداتو مالیه او ګمرکي عوارضو له ورکړې څخه عبارت دي، خو د یوه پانګه اچوونکي حقوق له پانګه اچونې څخه د هر ډول مالکیت د سلب په خاطر ( چې له هغې لارې د سوداګرۍ کنټرول د حکومت پر غاړه دی ) د دولت له خوا د تاوانونو پټی کولو څخه عبارت دي. همدا ډول پانګه اچوونکي کولای شي، په خپلو قراردادونو کې دا مساله په ګوته او وټاکي، چې پر بدیلو لارو چارو او یا پر حکمیت معروضه سوادګري، په کوم وخت او په کومو ځایونو کې د شخړې د حل وړ ده. څرنګه چې د سوداګرۍ قانون اړوند څېرکي کې ورڅخه یادونه وشوه، همدا ډول پانګه اچوونکي کولای شي، د افغانستان د دولت سره په خپل قرارداد کې، د خپلو سوداګریزو شخړو د حل او فصل لپاره د افغانستان له قانون څخه پرته د نورو هیوادونو قوانین هم پکاروولای شي.. د شخړو د حل او فصل دا شان حقوق، په افغانستان کې د پانګه اچونې د تشویق لپاره له ځانګړې ارزښت څخه برخمن دي. ځکه پانګه اچوونکي په ځانګړي ډول بهرني پانګه اچوونکي کولای شي په آزادانه توګه هغه محکمه او قانون وټاکي، کوم چې کولای شي د دوی له حقوقو او ګټو څخه په ښه توګه ساتنه او ملاتړ وکړي. په پایله کې، په داسې حالاتو او شرایطو کې د دې خطر او احتمال ډیر لیدل کیږي چې بهرني پانګه اچوونکي مجبور شي، خپلې شخړې په داسې یوه محکمه کې پرې کړي، چې د دوی د ګټو پر وړاندې تبعیض په ګوته کړي. د دغه شان ساتنو او مصوونیتونو د شتون په صورت کې، زیات احتمال د دې لیدل کیږي چې د افغانستان پانګه اچوونکي داسې یو ځای پیدا کړي، چې پانګه اچونه په هغه ځای کې ورته زیاته د خوښې او علاقې وړ وي.

## ۳ - د استازیتوب (نمایندګی) قانون.

## الف د استازیتوب (نمایندګیو)لګښتونه او د استازیتوب قانون.

هر وخت چې یو شرکت پراختیا پیدا کوي، په هماغه وخت کې د هغه شرکت څو دفترونه په ټول هیواد او آن تردې چې د ټولې نړۍ په کچه فعالیت کوي، په دې وخت کې د شرکت خاوندان نور نه شي کولای چې د خپلو سوداګریزو چارو د پرمختګ او مدیریت په موخه پر کورنیو اړیکو او ارتباطاتو تکیه وکړي، د بیلګې په توګه: نجیب الله نامی هوکړه کوي څو د خښتو دوې کارخانې ( د خښتو داش ) په هرات او کندهار کې پرانیزي، خو په یادو شویو ولایتونو کې نوموړی کوم د اعتبار وړ خپل، آشنا او ملګری نه لري څو وکولای شي د نجیب الله کارخانې پر مخ بوزي او د هغه له پانګه اچونې څخه ساتنه او محافظت وکړي. له همدې لامله، نوموړی اړتیا لري څو د دواړو کارخانو د چارو د پرمختګ او مدیریت لپاره یو ځایي کس، د مدیر په توګه وټاکي. پورتنۍ قضیې ته په پام، د نجیب الله د شرکت رئیس ( principal ) او ټاکل شوی مدیر چې د رئیس په غیابت کې د نائب په توګه کار کوي، د استازي او یا هم وکیل ( Agent ) په نوم یادیږي.

خو که د ځایي مدیر او نجیب الله نامي ګټې په ټکر کې پریوزي، په هغه وخت کې به څه پیښیږي؟ د بیلګې په توګه: کوم څیزونه کولای شي د کارخانې مدیر، د یو بل کس د ټاکنې پر ځای، چې ډیر په شرطونو برابر دی او د کارخانې لپاره هم ډیر اغیزناک دی، د خپل ورور له ټاکنې څخه مخنیوی کوي؟ د ګټو دغه شخړه نجیب الله نامي ته ډیره زیانمنه پریوزي او زیاتو لګښتونو ته اړتیا لري، دغه لګښتونه د ( نمایندګی د لګښتونو ) په نوم یادیږي. که چیرې خبره را ونغاړو، د نمایندګی لګښتونه له ټولو هغو لګښتونو څخه عبارت دي چې د رئیس یا خاوند تر واک لاندې ملکیت پورې اړوند، د استازي د خطر څخه ډک او محتاط کړنو پورې تړاو ولري.

د نمايندګيو قانون، د ټولنيزو او سوداګريزو ټولنو لپاره يو د ډيرو مهمو مفاهيمو څخه شميرل کيږي. د نمايندګيو قانون د دې لپاره جوړ او وړاندې شوی دی تر څو د توليد او سوداګری لپاره لاره آواره کړي او ځينو کسانو ( استازو ) ته دا وړتيا ور وبخښي، چې د نورو کسانو ( خاوندانو ) په نيابت د دريمو لوريو سره راکړه ورکړه وکړي ( قراردادو کړي ). د نمايندګی قانون هڅه کوي څو د تعريف له لارې د يو استازي د کړنو او فعاليتونو لمن پراخه کړي او په ګوته کړي چې يو استازی د خاوند په نيابت کومې چارې تر سره کولای شي او کومې چارې نه شي تر سره کولای او هڅه کوي څو د نمايندګيو خرڅې او لګښتونه ټيټې درجې ته راټيټ کړي. همدا ډول د نمايندګيو قانون وايي، چې کوم وخت يو مالک مکلف دی څو د خپل استازي د کړنو په وړاندې مسووليت په غاړه واخلي، چې دغه مساله په خپل وار، دريم لوري ډير هڅوي څو د پام او خوښې وړ استازي سره راکړه ورکړه وکړي، قرارداد لاسليک کړي او په سوداګری باندې پيل وکړي.

د ۱۹۵۵ ز کال د تجارت اصولنامې يوه برخه د  نمايندګی د قانون  په نوم شتون لري او تمه کيږي چې د قراردادونو وړانديز شوی قانون به د  نمايندګی قانون  هم د ځان سره ولري. دغه فرعي  برخه،  د نمايندګی د قانونو اصلي او اساسي مفاهيم تر بحث او څيړنې لاندې نيسې او دا روښانه کوي چې د نمايندګی قانون څنګه کولای شي، د خاوندانو، استازو او دريمو لوريو شخړړو ته رسيدنه وکړي. د دغه نظريې ډيرې برخې د نمايندګيو د قانون په دويمه او دريمه ليکنه کې، چې د امريکې د انستيتيوت له خوا خپور شوی دی، د پيدا کولو وړ دي.

## ب: د نمايندګی منځ ته راتګ او د استازي دندې

 د نمايندګيو د قانون دريمه ليکنه، نمايندګي داسې تعريفوي: استازيتوب (نمايندګي) د امانتداري له هغې اړيکې څخه عبارت دی چې پر اعتماد او اعتبار باندې ولاړه ده او هغه وخت منځ ته راځي، چې يو کس (خاوند) خپله خوښه يا موافقه د بل کس (استازي) په وړاندې څرګنده کړي، په دې شرط چې استازی د ( خاوند ) په نيابت کړنې ترسره کړي او کړنې يې د مالک تر کنترول او څارنې لاندې وي او استازی هم خپله خوښه او رضايت په ګوته کوي او يا په بل عبارت، په دغو کړنو خوښه او موافقه بيانوي[11]. په بل عبارت، ( مالک ) او ( استازی ) دواړه په خپله خوښه داسې موافقه کوي چې استازی به د مالک او خاوند په نيابت کار کوي او د استازي کړنې تر هغه وخت پورې پر مالک لازمي دي چې نوموړی استازی د ټاکلو واکونو په قلمرو کې خپل فعاليتونه ترسره کوي.

د امانتداري ( Fiduciary ) اړيکه هغه وخت منځ ته راځي چې دوه کسان د يو او بل سره د يوې نمايندګی چوکاټ ته ور ننوزي. په دې وخت کې استازی د مالک د اعتماد وړ کس جوړيږي. معتمد هغه کس ته ويل کيږي چې د استازيتوب په ټولو اړونده امورو کې ريښتيني او د خپل مالک د ګټو د لاسته راوړلو لپاره خپلې هڅې ګړندۍ کړي ( د نمايندګيو د قانون دريمه ليکنه، ۸۰۱ ). د غه اړيکه، استازي ته دنده سپاري څو د هغو ګټو په وړاندې چې د استازي د ټاکنې څخه منځ ته راځي، حساب ورکوونکی و اوسي، د مالک سره په ټولو اړوندو راکړو ورکړو کې عادلانه عمل ترسره کړي، د مالک (اصلي کس ) له خوښې پرته بايد د مخالف کس په نيابت عمل ترسره نه کړي او همدا شان هغه ته دنده سپاري چې د نمايندګی اړونده چارو کې د مالک ( اصلي کس ) سره په سالمه سيالی پريوزي. د اعتماد داری پر اړيکه سربيره، استازی مکلف دی، چې هر ډول بله دنده چې د استازيتوب په هوکړه ليک کې قيد شوې ده، د مالک لپاره او د هغه د ګټو د را ټولولو لپاره ترسره کړي.

---

[11] – د قانون نوې بڼه، دريم چاپ، نمايندګی، د امريکا حقوقي انستيتيوت، د 206 ميلادی کال خپرونه، 101 پاڼه

د موضوع څرګندوالی: د نجیب الله نامي د خښتو د داش په کارخانه کې یو کار کوونکی د خاورې د پیرودلو د مسوول په توګه دنده ترسره کوي او د پام وړ خاوره د خښتو د جوړولو لپاره کاروي، یاد شوی کار کوونکی په حقیقت کې د نجیب الله د استازیتوب حکم لري. د استازي ( وکیل ) ورور خاوره پلوري، خو هغه نرخ چې نوموړی یې د خاورې د خرڅلاو په وړاندې غواړي، د هغه نرخ چې نور ټول تهیه کوونکي یې د خاورې په وړاندې غواړي، دوه چنده دی. اوس، استازی کولای شي د سمنټو د آماده کولو لپاره د مالک غوښتنې او اړتیاوې، له خپل ورور څخه د خاورې د اخستلو له لارې، پوره کړي، خو د دې سره سره، استازی دلته د مالک د ګټو د لاسته راوړلو لپاره کار نه کوي، ځکه ده کولای شول څو هماغه اندازه خاوره له نورو تهیه کوونکو څخه په ډېر ټیټ نرخ ترلاسه کړي. استازي له خپلې دندې څخه د تیریدلو له لارې، چې د نجیب الله په وړاندې له هماغه کړنو او د خپل ورور په وړاندې د ریښتینولی د ښودلو څخه عبارت دي، د دندې او امانت داری اړیکه یې د مالک ( اصلي کس )پر وړاندې وشلوله.

باید په یاد ولرو، چې هر ډول اړیکه چې په هغه کې یو کس د بل کس لپاره چوپړ ترسره کوي، د اړتیا له مخې د نمایندګی او استازیتوب د پېژندلو او تعریف لپاره بسنه نه کوي. د دې لپاره چې د استازیتوب د تعریف د شروطو سره سم، یوه سوداګریزه اړیکه رامنځ ته شي لاندې درې لوري باید په معامله کې شتون ولري: مالک ( اصلي کس )، استازی او دریم لوری او یا هغه کس چې استازی ورسره راکړه ورکړه کوي[12]. نو له دې لامله، په استازیتوب کې غوره اصل دادی چې استازی باید د مالک ( اصلي کس ) په نیابت کې د ټولو لوریو سره د راکړې ورکړې اختیار او واک ولري.

## ج: د دریم لوری په وړاندې د مالک مسوولیت

یو مالک څه وخت د خپل استازي د کړنو له لامله د دریم لوري په وړاندې مسوول بلل کیږي؟ د استازیتوب د قانون د دریمې لیکنې سره سم، په خپله خوښه معاملو او راکړه ورکړو کې (دبیلګې په توګه: په قراردادیزې راکړو ورکړو) کې **الزام او مسوولیت** د دې مسألې سره اړه لري چې آیا استازي د خپلو واکونو او صلاحیتونو په رڼا کې د یوه استازي په توګه عمل کړی دی او که نه. که یو استازي د خپلو واکونو او اختیاراتو په رڼا کې کار کړی وي، په دې وخت کې مالک (اصلي کس) د ( توکو پیرودلو او پلورلو په ګډون ) د هغو قراردادونو په وړاندې چې استازي یې د دریم لوري سره کوي مسوول او ملزم بلل کیږي. استازی له مالک څخه د نیابت په وخت کې دوه ډوله واکونه لري، **واقعي او ریښتیني واک** او **ظاهري او برسیرن واک**. ریښتیني واک هغه وخت شتون لري چې مالک، استازي ته د یوې ځانګړې راکړې ورکړې د ترلو او ترسره کولو واک ور وسپاري. په دې وخت کې، اصلي کس (مالک) د ټولو هغو مکلفیتونو په وړاندې چې دده په نیابت سره استازي تر سره کړي، مسوول بلل کیږي، ځکه مالک په څرګنده توګه استازي ته واک سپارلی دی څو د هغه په غیاب کې په نیابت سره خپل فعالیتونه ترسره کړي. ظاهري واک هغه وخت څرګندیږي چې استازی په څرګند او صریح ډول د مالک له لوري د یوې راکړې ورکړې د سرته رسولو لپاره نه وي ټاکل شوی، خو د مالک کړنې په داسې شان وي چې دریم کس یې د معاملې د ترلو لپاره را جلب کړی وي او په معقول او منطقي ډول داسې باور پیدا کړي چې استازی د قانوني واک او اختیار لرونکی دی.

د موضوع وضاحت: نجیب الله خپل کار کوونکي (استازي) ته یو ځانګړی یونیفورم او موټر ورکوي او په پرله پسې توګه د هغه لپاره اجازه ورکوي چې د خښتو د خرڅلاو لپاره د پیرودونکو سره قرارداد لاسلیک کړي. یوه ورځ د ورځو نجیب الله نامی خپل کارکوونکي ته لارښوونه کوي چې له دې وروسته باید د شرکت د مشتري ( امیر نامي) سره قرارداد ونه کړي. د دې سره سره، کار کوونکی د نجیب الله له لارښوونې څخه سرغړونه کوي او د امیر سره قرارداد بسته کوي ( دا امکان لري چې د نجیب الله

[12]-فلوید. میکام، د نمایندګی د قانون په اړه کتاب، 27 پاڼه (دویم چاپ، د 1914 میلادی کال خپرونه)

خبرې يې له ياده وتلې وي او يا هم امير يې د خپلوانو له ډلې څخه وي). خو كار كوونكى د شركت يونيفورم په غاړه لري او د شركت موټر ته ناست دى او هر چې امير دى هغه د نجيب الله د لارښوونې څخه چې خپل كار كوونكي ته يې سپارلى دى، خبر نه لري په دې وخت كې كار كوونكي له خپل ظاهري واك څخه ګټه اخستې او د امير سره يې قرارداد كړى دى او په پايله كې نجيب الله نامې د قرارداد د ترسره كولو لپاره مسوول بلل كيږي.

سره د دې، لكه څرنګه چې تاسو د قرارداد د دريېم لوري په وړاندې مسوول او ملزم ياستى، همدا شان ستاسو كاركوونكى د استازي په توګه د ستاسو په وړاندې د خپلې ( د معتمدې دندې ) مسؤليت د ماتولو په خاطر مسوول او ملزم دى كه چيرې تاسو د استازي د ناروا قرارداد د اغيزې له لامله يو شمير پيسې له لاسه وركړې، كولاى شى، اړول شوى تاوان له خپل استازي څخه وغواړى. د يوه مفهوم باندنى واك او اختيار ډير ګټور او اغيزناك دى، ځكه دريېم لورى دې ته هڅوي او مطمئن كوي څو پوه شي چې مالك ( اصلي لورى ) په آسانى نه شي كولاى له هغه قرارداد څخه چې د استازي له لوري تړل شوى، خپلې پښې سپكې كړي. د دغه شان باورونو او اطمنانونو شتون له يوه لوري، د قرارداد دريېم لورى، د استازي سره د سوداګرۍ او قراردادونو د پيل او دوام لپاره زياته خوښې او علاقه څرګندوي او په پايله كې د اقتصادي كړنو د ملاتړ او هڅولو لپاره ښې لارې چارې آواروي او له بلې خوا، د بيروني او ظاهري واك شتون د سوداګرو لپاره د دې فكر پيدا كوي چې د خپلو استازو لپاره څرګندې لارښوونې وسپاري او له هغوى د نږدې څخه څارنه وكړي.

**د ۱۹۵۵ ز كال په تجارتي قانون كې استازيتوب ( نماينده ګي ).**

لكه څرنګه چې د استازيتوب ( نمايندګى ) موضوع، د تجارت په اصولنامه كې تر غور او څيړنې لاندې نيول شوې ده، له دې لامله څو چې بل نوى قانون په تصويب نه وي رسيدلاى، د حقوقي سند په توګه موجود پاتې او د پلي كېدو وړ بلل كيږي. په تجارتي قانون كې، د استازيتوب (نمايندګى) قانون په ۸۵- ۹۷ او همدا شان ۷۶۰- ۸۲۰ مادو كې تر څيړنې او غور لاندې نيول شوى، چې تاسو يې بايد په غور سره ولولئ.
د استازيتوب ( نمايندګى ) قانون، د سوداګرۍ په قانون (۱۹۵۵) كې، د نمايندګى د لومړنى نظريې څخه، كومه چې په مخكې واضح شوه، يو اندازه توپير لري. په عمومي توګه، د سوداګرۍ قانون د نمايندګيو د اړيكو د پيل لپاره يو لړ رسمي پړاوونه لازمي او اړين بولي، د بيلګې په توګه: د تجارتي قانون په ۸۸ ماده كې ويل شوي دي، كه يو نفر ( څرګند استازى ) په پام كې ونيول شي، د استازيتوب اړيكه ( د ريښتيني واك د مفهوم په شان لكه څرنګه چې په پورته ډول څرګنده شوه)، بايد ثبت او راجستر شي. كه چيرې د نمايندګى اړيكه په څرګند ډول نه وي ثبت او راجستر شوې، د نمايندګى اړيكه پټه په پام كې نيول كيږي. په داسې حالاتو كې د استازي حقوق له سوداګر څخه د استازيتوب له لحاظه، ټاكلي نه دي او ټولو هغو معاملو او راكړه وركړو ته شامليږي، چې د سوداګرۍ په ټاكلې دوره كې صورت نيولاى شي.

## ۴ - د سودا ګرۍ(بېزنس) د شكلونو بيا كتنه

كله چې يو پانګه اچوونكى هوډ وكړي څو خپله سوداګري پيل كړي، هغه بايد د مالكيت د څرنګوالي تصميم ونيسي. په بل عبارت، سوداګري به يې خپل ځان ته څه ډول حقوقي شكل غوره كړي؟ په افغانستان كې، پانګه اچوونكي خپلو سوداګريزو اړتياوو ته په پام كولاى شي، د سوداګرۍ له ډولونو څخه يو انتخاب كړي. د افغانستان قانون د سوداګرۍ بيلا بيل ډولونه په رسميت پيژندلي دي، چې هر يو يې په فرد پورې اړوند د ځانګړتياوو لرونكى دى. دلته پانګه اچوونكي سره له دې چې كولاى شي څو هر ډول سوداګري، له هغو ځانګړتياوو سره چې د موخو د لاسته راوړولو لپاره ښه لاره آواروي، انتخاب كړي، همدا شان كولاى شي د خپلې سوداګرۍ شكل په زياته كچه د خپلې خوښې وړ وګرځوي، څو وكولاى شي د هغو اړتياوو ځواب ووايي

كومې چې تر فرد پورې چاپيرې شوي دي. په دې څپركي كې د سوداګرۍ د بيلا بيلو ډولونو ډيرى ځانګړتياوې تر غور او څېړنې لاندې نيول كيږي.

ډير شمير سوداګرۍ يوازې د يوه كس ملكيت وي. چې دا ډول سوداګري د ( **انفرادي مالكيت** ) په نوم ياديږي. په دا ډول سوداګريو كې، د سوداګرۍ يو مالك ټولې ګټې ترلاسه كوي او په خپله د سوداګرۍ د ټولو **پورونو** مسووليت په غاړه لري. كه د دغه شان سوداګرۍ مالك و غواړي چې د خپل مكليت حق وپلوري او يا يې هم ولېږدوى ، خو خپلې سوداګرۍ ته دوام وركوي، دوى كولاى شي ټوله خپله سوداګري په بل لوري وپلوري.

هغه سوداګري چې مالكيت يې تر دوو يا زيات تر دوو نفرو پورې تړاو ولري، د **مشاركت** په شكل په دولت كې ثبت او راجستر كيدلاى شي. مشاركت عمدتا په دوه ډوله دى. كه د سوداګرۍ مالكان په ګټه او تاوان دواړو كې شريك او هر يو يې د سوداګرۍ د لګښتونو، ګټو او تاوانونو په وړاندې مسووليت ولري، دغه ډول سوداګري د ( عام مشاركت ) په نوم ياديږي او پر مالكانو يې د عامو شريكانو د نوم اطلاق كيږي، خو كه د سوداګرۍ يو شمير شريكان، د ګټو او تاوانونو په وړاندې د ځينو مسووليتونو لرونكي وي، په دې وخت كې د ځانګړي مشاركت (يا محدود مشاركت) په نوم ياديږي. له حقوقي اړخه، په ځانګړي (خاص) مشاركت كې، شراكت له ټولو شريكانو څخه ځان ځان ته په پام كې نيول كيږي او په پايله كې، د هر شريك مالي مسووليت د هغه د پانګه اچونې د لومړي مبلغ په اندازه دى. خو د دې سره سره، په عمومي توګه د شراكت هر لورى د ټولو ګټو او تاوانونو په وړاندې پوره مسووليت لري، هر شريك چې د محدود مسووليت خاوند وي، د محدود المسووليت شريك په نوم ياديږي، خو هغه بل شريك چې د پوره مسووليت خاوند وي، د عام شريك په نوم ياديږي. د دغه څپركي په پنځمه برخه كې، شراكت تر پوره غور او څېړنې لاندې نيول شوى دى.

په افغانستان كې ( سهامي شركت ) له سوداګريزو ټولنو څخه يو ځانګړى جوړښت او شكل شميرل كيږي، چې د شراكت په شان د څو مالكانو خاوند دى. په افغانستان كې د محدود المسووليت او سهامي شركتونو قانون، سهامي شركت داسې تعريفوي: ( سهامي شركت هغې سوداګرۍ ته ويل كيږي چې پانګه يې معلومه په څو برخو باندې ويشل شوى وي او د هرې برخې د خاوند مسووليت د هغه د برخې په اندازه ټاكلى وي.) د حقوقي بنسټونو په عنوان، سهامي شركتونه له مالكانو څخه، په ځانګړي ډول په پام كې نيول كيږي. زيات شمير كسان كولاى شي چې هر يو يې يوه برخه د شركت په خپل اختيار كې ولري. په سهامي شركتونو كې د مالكيت دغه برخې معمولا د ( ونډو ) په نوم ياديږي. يو سهامي شركت كولاى شي خپله برخه په پانګه اچوونكو باندې خرڅه كړي او د خرڅلاو د غه حق، سهامي شركتونو ته د يوې سوداګرۍ د پرمختګ لپاره د زياتو پيسو د را ټولولو او جذب او كړنو او يا د كړنو د پراختيا پر بنا د پانګونې اجازه وركوي. همدا شان د ونډو انفرادي مالكان كولاى شي، خپلې ونډې وپلوري او يا يې بل نفر ته ور وسپاري. د سهامي شركتونو مالكان، د شركت د مالي ګټو، تاوانونو او الزاماتو په وړاندې د محدود المسووليت شركتونو په شان، د محدودو مسووليتونو خاوندان دي. كه سوداګري د شكست او ماتې سره مخامخ شي، مالكان يوازې هغه اخستل شوې برخه له لاسه وركوي. سهامي شركتونه د يو مديريتي، مقيد او متمركز جوړښت لرونكي دي، چې د شركت كړنې او فعاليتونه همغږې كوي او د مالكانو او يا برخه لرونكو په وړاندې مسوول او حساب وركونكى دى. د دغه څپركي په پنځمه برخه كې، د سهامي شركتونو شكل او جوړښت، د زياتو جزئياتو او شرحې سره، تر غور او څېړنې لاندې نيول كيږي.

محدود المسووليت شركتونه د سهامي شركتونو سره ورته دي او په عين حال كې، ځينې ځانګړتياوې يې د محدود المسؤليت شركت سره ورته دي. د سهامي شركت په شان، د محدود المسووليت شركت مالكان هم د شركت د تاوانونو، ګټو او الزاماتو په وړاندې، د محدود مسووليت خاوندان دي. خو سره له دې، په دغه ډول سوداګرۍ كې، د سهامي شركت په شان، د مالكيت ګټې او تاوانونه پر برخو باندې نه ويشل كيږي. نو له دې لامله، د سهامي شركتونو سره په توپير، د هر برخه لرونكي مالي التزامات او مسووليتونه د هغه مبلغ په اندازه ټاكل كيږي، چې په هغه باندې يې موافقه كړې ده. همدا شان، بايد وويل شي چې (محدود المسووليت) د شراكت او محدود المسووليت شركتونو تر منځ، يو له اغيزمنو او كليدي توپيرونو څخه شميرل كيږي. خو د

سهامي شرکتونو سره په توپیر، یو محدود المسوولیت شرکت نه شي کولای، چې له ۲ څخه کم او له ۵۰ څخه زیات مالکان ولري، په عام مارکیټ کې یې د ونډو اخیستل او خرڅول منع دي او ونډه لرونکي یې د شرکت د خرڅولو اجازه نه لري او بل چا ته یې سپارلی او یا بدلولی نه شي. محدود المسوولیت شرکتونه، د وړو سوداګریو لپاره معمولاً د تجارت یو غوره ډول او شکل بلل کیږي، ځکه مالکان یې ډیر کم او محدود وي او په افغانستان کې ډیری شرکتونو د همدغه شکل او جوړښت پر بنا فعالیت کوي.

لاندې جدول د سوداګرۍ د څلورو ډولونو، چې پورته یې بحث او څیړنه وشوه، په لنډ ډول توصیف کوي.

| آیا د دولت سره یې ثبتیدل لازمي او اړین دي؟ | د مدیریتي تمرکز جوړښت | د شتون آسانه دوام | د مالکیت آسانه لیږد؟ | انفرادي مسوولیت او الزام؟ | د سوداګرۍ شکل |
|---|---|---|---|---|---|
| نه | نه | هوکې | هوکې | هوکې | انفرادي مالکیت |
| هوکې | نه | نه | نه | نه | شراکت |
| هوکې | هوکې | هوکې | هوکې | نه | سهامي شراکت |
| هوکې | هوکې | هوکې | نه | نه | محدود المسوولیت شرکت. |

**د بحث وړ پوښتنې**

د فردي مالکیت، مشارکت، سهامي او محدود المسوولیت شرکتونو ترمنځ شته توپیرونه د خپل ځان لپاره ولیکئ. آیا تاسو کولای شي د سوداګرۍ د دغو یادو شویو شکلونو لپاره، د سوداګرۍ مناسبې نمونې وړاندې کړئ؟

## ۵ – د مشارکت قانون

مشارکت په افغانستان کې د ۲۰۰۷ ز کال د مشارکت قانونت پوسیله نظیمیږي.. مشارکت د دوو یا له دوو څخه د زیاتو کسانو یو ځای کیدو ته ویل کیږي، چې د ګډو مالکانو په صفت د خپلې سوداګرۍ او د ګټې د لاسته راوړلو لپاره صورت نیسي او د شراکت د موافقه لیك له لارې تنظیمیږي. ( د مشارکت د قانون دویمه ماده ). د موجوده څپرکي دغه برخه، د مشارکت شروط او څرنګوالی، د شریکانو حقوق او مکلفیتونه تر غور او څیړنې لاندې نیسي او وایي چې هر وخت مشارکت فسخ او یا منحل شي، نو څه به پیښیږي؟

## الف د مشارکت رامنځ ته کیدل

د ګډ مالکیت ساده شکل ته مشارکت ویل کیږي. کولای شو داسې پوښتنه وړاندې کړو، چې ولې دوه یا له دوو څخه ډیر لوري، د شراکت د جوړولو لپاره تصمیم نیسي څو د یو ځای کار کولو او د سوداګرۍ د کړندودونه د ټاکلو او له هغه څخه د را منځ ته شویو ګټو د ویش پر سر شخړې کولو پر پیروۍ باندې مجبوره شي؟ د پورتنۍ پوښتنې د ځواب لپاره بیلا بیل دلیلونه شتون لري: یو له دلیلونو څخه د پانګې ډیریدل دي. یو له کسانو څخه ممکن، د سوداګرۍ له لارې د ګټو د لاسته راوړلو مفکوره ولري، خو هغه شاید نغدې پیسې ( یا نور اړین شته لکه جایداد ) په خپل واک کې، په یوازیتوب سره د سوداګرۍ د پیل لپاره ونه لري. یا

امکان لري چې یاد شوی کس پوره پیسې او پانګه ولري، خو نه غواړي چې ټوله خپله پانګه په خطر کې واچوي. یاد شوی نفر کولای شي د خپل ځان لپاره شریک پیدا کړي، څو د سوداګرۍ د پیل له لارې اړینه پانګه لاسته راوړي. بله پوښتنه چې دلته وړاندې کیږي هغه داده چې نوموړی ولې د سنتي پورونو ورکوونکو څخه پیسې په پور نه اخلي څو د ګډ مالکیت له لګښتونو څخه خپل ځان وژغوري؟ هغه په دې دلیل چې د مالکیت خرڅلاو، له یو بانک څخه د مالي وجوهو د پورولو څخه ممکن آرزانتر او راحتتر پریوزي. په بل عبارت، په پور اړوند لګښتونه او د پیسو ورځ په ورځ زیاتیدونکي خطرات امکان لري یو لوی دلیل وبلل شي، ځکه د پور پیدا کوونکی امکان لري د دغه شان خطراتو له ګټو څخه خوند اخلي او له دغه خطراتو څخه پیدا شوي تاوانونه د منلو وړ نه دي. او احتمال لري چې د ګډ مالکیت له لګښتونو څخه تجاوز وکړي.

د مشارکت د رامنځ ته کېدو یو بل دلیل دا دی چې دواړه لوري غواړي څو پرته له پانګې، لکه د یو لړ مهارتونو، خدماتو، مشتریانو **یا نېکه اراده** په یوه سوداګریزه ټولنه کې لاس ته راوړي. سره ددې چې دا ډول شتمنیو ته ارزښت ورکول یو ستونزمن کار دی خو کولای شي یوې سوداګرۍ ته لویه بریا ور په برخه کړي. د بیلګې په توګه: دوه تنه مدافع وکیلان چې هر یو یې په یوه ځانګړې برخه کې وړتیا او تخصص لري ( د بیلګې په توګه یو یې د سوداګرۍ او بل یې د جزا په قانون کې) خو دوی دواړه د یو او بل سره د همکارۍ له لارې کولای شي غوښتونکو ته جامع او ګټور حقوقي خدمتونه وړاندې کړي او د انفرادي فعالیت په پرتله دوی کولای شي زیات مشتریان او مراجعین ځان ته راټول کړي. د هغو پانګو د لیدلو لپاره چې شریکان یې په یوه شرکت کې شریک کولای شي، د شراکت قانون ۷مې مادې ته رجوع وکړئ[13].

**د موضوع روښانتیا:** د نجیب الله یو انډیوال هارون نومیږي چې زیاتې پیسې لري او د پانګونې د یو ښه فرصت په لټه کې دی. همدا شان نجیب الله یوه بله انډیواله د خاطرې په نوم لري چې د خښتو د کارخانې او د هغو د مدیریت سره پوره بلدتیا لري او په ټولنه کې د ښه شهرت او درناوي خاونده ده. اوس، نجیب الله تصمیم نیسي چې یو له انډیوالانو یا دواړه د خښتو په سوداګرۍ کې د شریک په توګه شریک کړي، ځکه یو له هغو کولای شي، د سوداګرۍ لپاره پوره پیسې برابرې کړي او بل شریک یې کولای شي د سوداګرۍ لپاره ښه مراجعین او شرکت د غوره شهرت څخه برخمن کړي.

نو کولای شو چې و پوښتو، چې ولې نجیب الله په یو د افرادو باندې چې ځانګړې پانګه په لاس کې لري، د خپلې برخې د خرڅولو پر ځای، یو ساده قرارداد نه لاسلیک کولو؟ په ځینې حالاتو کې غوره داده چې د خدمتونو د ترلاسه کولو لپاره قرارداد لاسلیک کړي، خو په ځینو وختونو کې احتمال لري چې د خدمتونو د ترلاسه کولو لپاره د قرارداد لاسلیک کولو لګښتونه د مالکیت له لګښتونو څخه ډیر پریوزي. د بیلګې په توګه: که یو شخص د ګډ او مشترک مالک په ځای کې قرار ولري، د هغه حالت په پرتله چې د قرارداد کوونکي په ځای قرار ولري او د ټاکلو خدمتونو فیس لاسته راوړي، د سوداګرۍ د پرمختګ او پراختیا لپاره ممکن زیات کوښښ او هڅه وکړي، ځکه د شریک نوموړی له هغو ګټو څخه چې د هغو دلاسته راوړلو په هڅه کې دی، زیات خوند اخلي. نو له دې لامله، د سوداګرۍ د پانګې د کچې د زیاتولو په موخه، یو کس باید د ګډ مالکیت لګښتونه د شتو د پیداکولو لپاره د قرارداد د لاسلیک کولو د لګښتونو سره پرتله کړي چې کوم یو ډیر د هغه په ګټه باندې پریوزي.

**د بحث وړ پوښتنې**

د ( پانګو د بسپونو ) لیست چې د ستاسو د پوره درسي موادو، د مشارکت د قانون په ۷ ماده کې یاد شوی دی، د خپل ځان

[13]– په دې اړه یو څه محدودیت شته، چې ځانګړې شریکان له کومې پانګې څخه مرسته کولی شي. (۱۴۹ماده)

سره مطالعه کړئ. آیا کولای شی پیدا کړی چې ولې یو کس غواړي د نورو کسانو سره چې هر یو د ځانګړې پانګې خاوند دی، ګډه مالکیت ( مشارکت ) جوړ کړي؟

د مشارکت قانون د شراکت څلورو شکلونه یو له بل څخه بېلوي: عام مشارکت، خصوصي مشارکت، کاري مشارکت او د کاري غوښتنې مشارکت ( د مشارکت قانون ۲۱- ۲۴ مادې ) د مشارکت د یادو شویو ډولونو هر یوه تعریف په لاندې توګه په لنډ ډول بیانیږي، سربیره پر دې، د یادو شویو ډولو څرګند توپیرونه په څرښنده ( فرعي ) برخه کې په ځانګړي ډول یاد او څېړل شوي دي.

**۲۱ ماده: عام مشارکت**

هغه مشارکت ته ویل کیږي چې د سوداګریزو او اقتصادي معاملو او کړنو د پرمختګ په موخه د دوو یا زیات له دوو کسانو تر منځ جوړیږي او ټول لوري د ګډ مسوولیت خاوندان وي. که د عام مشارکت پانګه د ټولو لګښتونو لپاره بسنه ونه کړي، هر یو د شریکانو څخه مسوولیت لري څو د شرکت ټول لګښتونه پرې کړي او هغه شریک یا شریکان چې یاد شوي لګښتونه پرې کوي، له نورو شریکانو څخه د مرستې او تعاوون وړ بلل کیږي.

**۲۲ ماده: خاص او ځانګړی مشارکت.**

خاص یا ځانګړی مشارکت هغه شراکت ته ویل کیږي، چې د دغه قانون د حکمونو سره سم او د یو ځانګړي سند په رڼا کې، د اقتصادي او سوداګریزو کړنو او معاملو د پرمختګ په موخه جوړیږي او په دغه ډول مشارکت کې یو یا زیات د شریکانو د محدود مسوولیت څښتن وي. عام یا نور ټول شریکان د ټاکلې پانګې په کچه د محدود مسوولیت څښتنان دي. د هغو شریکانو پانګه چې د محدود مسوولیت خاوندان دي، په برخو باندې د ویش وړ ده.

**۲۳ ماده: کاري مشارکت.**

کاري مشارکت هغه شراکت ته ویل کیږي چې د یو بل شخص لپاره د یو ځانګړي مکلفیت د بشپړتیا او یا د یو کار د سرته رسولو په موخه دوه یا زیات کسان را ټول شوي وي. له کاري مشارکت څخه تر لاسه شوې ګټې، لکه څرنګه چې د لوریو ترمنځ هوکړې صورت نیولای دی، ویشل کیږي.

**۲۴ ماده: اعتباري مشارکت.**

د کاري غوښتنې مشارکت هغه شراکت ته ویل کیږي چې په هغه کې دوه یا له دوو څخه زیات کسان، د اعتباري (قرضې) په ډول، د توکو د اخستلو او خرڅولو لپاره هوکړه وکړي او له اعتباري مشارکت څخه ترلاسه شوي پورونه او تاوانونو په خپلو منځو کې وویشي. هر یو د شریکانو، د خپلې پانګې او برخې په پام کې نیولو سره، له شراکت څخه پیدا شویو ګټو او تاوانونو په وړاندې مسوول بلل کیږي.

هر هغه سند چې په یو مشارکت باندې حاکم او د پلې کېدو وړ وي، د مشارکت د موافقه لیک یا هوکړه لیک په نوم یادیږي. د مشارکت د قانون د ۴ مادې سره سم، موافقه لیک یا هوکړه لیک کیدلای شي چې هم په لیکلې او هم په تقریري بڼه صورت ونیسي، خو عام او ځانګړي (خاص) مشارکتونه بیا یو لیکلي سند ته اړتیا لري ( د مشارکت قانون ۶۱ ماده)[14]. د شراکت قرارداد باید وکولای شي څو د نورو ټولو مسایلو تر څنګ، د شریکانو نومونه، د هغوی د پانګو د مرستو اندازه او له شراکت څخه د

[14]– که څه هم دوې ډلې یوې رسمې موافقې ته نه دي رسېدلي، محکمه دا نتیجه ترلاسه کولی شي چې مشارکت شتون لري خو دې په دې شرط چې د دواړو لوریو ترمنځ د مشارکت په اړه شفوي څرګندونې شوې وي.

دوی د پورونو او تاوانونو اندازه ځانګړې او په ګوته کړي (۲۵ماده) د قرارداد هوکړه لیک، د مشارکت د قانون سره یو ځای، د مشارکت، د شریکانو ترمنځ اړیکو او د درییم لوري په وړاندې د هغو د مسوولیتونو پر موضوعاتو باندې حاکم او پلی دی. باید په یاد ولرو، چې د شراکت زیات شمیر حکمونه د قصور احکام دي ، چې د قرارداد لوري کولای شي د خپل هوکړه لیک د موادو او شروطو سره یې ځای پر ځای کړي.) په بل عبارت، که د مشارکت هوکړه لیک د یوې موضوع په اړه ګونګ او ساکت وي ( چې په معمولي توګه د دغه عبارت یوه بند ته شامله ده، یا دا چې په کوم بل شان توافق نه وي تر سره شوی )، د قصور حکمونه په موضوع باندې حاکم او پلي دي، خو د قرارداد لوري په آزادانه ډول کولای شي، څو په بل ډول هوکړه وکړي.

لګه څنګه چې د مشارکت قانون په ۲۰ ماده کې بیان شوي، د یو مشارکت حقوقي موجودیت هغه وخت پیلیږي چې د اقتصاد او صنایعو وزارت د مرکزي سوداګرۍ د ثبت په دفتر کې ثبت او راجستر شي. له دې سره سره، که یو مشارکت وړاندې له دې چې د ثبت او راجستر پړاوونه بشپړ کړي، معاملې ته ننوزي، سره له دې چې احتمال لري د دریيم لوري په وړاندې خپل حقوق ترسره نه شي کړای، ولې د خپلو مکلفیتونو په وړاندې مسوول بلل کیږي. نو له دې امله، مهمه داده چې له سوداګریزو کړنو او فعالیتونو څخه وړاندې، یو مشارکت باید خپل ځان ثبت او راجستر کړي. له دې پرته، د مشارکت قانون ۶۳ ماده، دواړه لوري په دې باندې مکلفوي، چې په عنوان کې بدلونونه، د تجارت ځای، د قرارداد واکمن لاسلیک کوونکي شریکان، د شریکانو ایستل او شاملول، د مشارکت د پانګې زیاتول او یا کمول، له ټاکلي وخت وړاندې د مشارکت انحلال، یا له ټاکلي وخت وروسته د مشارکت تمدید او یا په کوم یو بل شرکت کې د ادغام او داسې نورې ټولې مسألې او چارې په حقوقي برخه کې ځای پر ځای او لاسلیک یې کړي او له هغه وروسته یې په اړوند بنسټ کې راجستر کړي.

مشارکت کیدلای شي د یو ټاکلي او یا نا ټاکلي وخت لپاره شتون ولري. که د مشارکت ( قرارداد )په هوکړه لیک کې، د مشارکت شتون د یو ټاکلي وخت لپاره نه وي یاد شوی، مشارکت د شراکتي عنوان په توګه په پام کې نیول کیږي چې وخت یې ټاکلی نه وي ( د مشارکت قانون ۲۶ ماده ).

## ب: د مشارکت حقوق او مکلفیتونه.

هر یو شریک د مالي مرستې د معلومې اندازې ( پانګې ) په بدل کې، د سوداګرۍ په نسبي مالك باندې بدلیږي. په سوداګرۍ کې د هر مالك ګټه او منفعت د ( مالکیت د برخې ) په نوم یادیږي. د مالکیت برخه د ځانګړو حقوقو او مکلفیتونو وړونکې ده.

### ګټې او تاوانونه

د مشارکت د مالك په توګه، هر یو شریك کولای شي څو د سوداګرۍ له ګټو څخه یو څه برخه خپله کړي. کومه پانګه چې شریکان یې د مشارکت لپاره مرسته کوي، شراکت ته لیږدول کیږي او د مشارکت پر ملکیت باندې بدلیږي ( ۱۰ مادې ته دې رجوع وشي ). په افغانستان کې د قصور قاعده داده، چې شریکان د خپلو پیسو د مرستې ( پانګې ) په اندازه، د شرکت له ګټو څخه برخمن او د تاوانونو ګالونکي دي ( ۱۵ مادې ته رجوع وشي ) نو له دې لامله، که د نجیب الله پانګه ( مرسته ) په مشارکت کې ۳۰٪ قیمت ولري، نو نجیب الله باید د مشارکت له ۳۰٪ ګټې برخمن او ۳۰٪ تاوانونه یې وګالي. بې له شکه پورته یاده شوې قاعده د قصور قاعده ده، ولې ټول لوري آزادانه کولای شي د تاوان سلنې په شریکانو باندې په ګوته او وټاکي او یا هم کولای شي چې د مشارکت ټول شریکان په یو شان په ګټو کې شریك و اوسي، د غه فرضیې کیدلای شي د تاوان په برخه کې هم پلې شي. ولې باید په یاد ولری چې په افغانستان کې د قصور احکام ، د نړۍ له ټولو قضایي پریکړو څخه توپیر لري، د بیلګې په توګه: د امریکې ملګرو ملتونو د قصور اصول وایي، چې په مشارکت کې شریکان د مالي مرستې ( لومړۍ پانګې ) د ورکړې څخه وروسته ټول په ګټه او تاوان کې په مساویانه ډول شریك دي.

## د مشارکت د پورونو په وړاندې مسوولیت او التزام

مشارکت یو حقوقي بنسټ دی کولای شي د شتو خاوند و اوسي، قراردادونه و کړي او د جایداد د واکمنی لپاره قباله لاسته راوړي. مشارکتونه ډیر مهم او ارزښتناک دي، ځکه د مشارکت په نتیجه کې د تجارت لپاره یو لږ ځانګړې دارایی د پورونو د تضمین لپاره د لاس رسی وړ وي. د شتو د ایتلاف د شتمنیو د ایتلاف مجموعه، پور ورکوونکي (Creditors) هڅوي څو د مشارکت لپاره پورونه ورکړي، ځکه دوی د پورونو د دویم وار ورکړې په اړه نور هم اطمینان ترلاسه کوي، خو برعکس، پورونه د مشارکت د دې لپاره لاره آوار وي څو خپل سوداګریز فعالیتونه سم او په چټکۍ سره پر مخ بوزي. که مشارکت د پورونو د بیا ورکړو په برخه کې ( قصور ) په ګوته کړي او هر یو شریک په یوازیتوب سره خپله پانګه د پام وړ پور ورکوونکي په واک کې ورکړي، پور ورکوونکي کولای شي څو د بیا ورکړې اندازه د ټولو شتو له مجموعې څخه، هغه چې د مشارکت په تملک کې ده، وغواړي. د مشارکت د دارایی په اړه، د مشارکت پور ورکوونکي د ټل لپاره له انفرادي پور ورکوونکو څخه د لومړیتوب حق لري ( د مشارکت دقانون ۸۵ ماده ).

خو کله چې یو مشارکت د پورونو د بیا ورکړې لپاره پوره پیسې او شته په خپل واک کې ونه لري، نو په دې وخت کې به څه پیښیږي؟ په دې اړه د عام او ځانګړي (خاص) مشارکت قاعدې له یو او بل څخه توپیر لري ( د مشارکت د قانون ۲۲- ۲۴ مادو ته رجوع وشي). په یو عام مشارکت کې، ټول شریکان، عام شریکان دي او هر یو شریک په خپل وار د مشارکت د پورونو د ورکړې په وړاندې مسوول او ملزم دی. دا خبره په دې معنی ده، چې ( یو عام شریک ) باید د مشارکت پورونه له خپلو شتو څخه پرې کړي ( د مشارکت دقانون ۸۶ او ۱۳۴ مادې )[15]. سره له دې کوم، عام شریک چې د مشارکت پورونه پرې کوي، کولای شي له نورو ټولو شریکانو څخه یې بیا ورکړه وغواړي. په ځانګړي (خاص) مشارکت کې، عام شریکان په انفرادي توګه د مشارکت ټولو پورونو په وړاندې مسوول او ملزم دي، خو د خصوصي شریکانو مسوولیت او التزام تر هغه اندازې پورې مقید او تړلی دی چې د مشارکت ( قرارداد ) په هوکړه لیک کې قید شوی دی. په ټولو مشارکتونو کې که چیرې یو شریک مفلس کیږي، د پور برخه یې په مناسبه توګه ( د سرمایې د اندازې په کچه )، په نورو ټولو شریکانو ویشل کیږي (۴۸ماده ). شریکان نه شي کولای په انفرادي ډول قرارداد وتړي یعنی دوی په انفرادي توګه د مشارکت د پورونو د ورکړې لپاره مسوول او ملزم نه دي ( ۴۷ ماده ).

**د موضوع روښانتیا او څرګندوالی:** نجیب الله، هارون او خاطرې یو عام شرکت پرانستلی دی، څو د خوښتو یوه کارخانه فعاله کړي. یو میلیون.۰۰۰.۰۰۰ ۱ افغانی د شرکت قیمت له یوه بانک څخه د پور په ډول قرض اخلي او د پور د بیا ورکړې وخت هم د مالي کال آخر دی. نو په دې وخت کې شرکت زیات اوږد کال مخ په وړاندې لري او د کال په اوږدو کې نه شي کولای څو د پام وړ ګټه لاسته راوړي. خو سره له دې شرکت اړین دی څو بانک ته پورونه واپس کړي. د شرکت یوازینی پانګه، یوازې د خښتو کارخانه ده چې ۷۰۰.۰۰۰ افغانی ارزښت لري. مشارکت کولای شي د خښتو کارخانه خرڅه او د بانک پور واپس کړي، خو بیا هم مشارکت ۳۰۰۰۰۰۰ باقي کیږي ځکه د مشارکت شته د پورونو د واپسی لپاره بسنه نه کوي. نو په دې وخت کې بانک کولای شي د خپلې غوښتنې د ترلاسه کولو لپاره د مشارکت هر یو شریک پانګې ته ورشي. بانک کولای شي د نجیب الله کور او موټر ضبط او توقیف کړي، چې د هغو ټول ارزښت او قیمت ۳۰۰۰۰۰ افغانی کیږي. اوس، نجیب الله کولای شي د خپلې

[15]- په ۱۷۱ ماده کې راغلي، چې د انفرادي شریک دارایی ته د شراکت طلبکار او انفرادي طلبکار یو ډول لاس رسی لري.

پانګې د اعادې او پټې لپاره، له هارون او خاطرې څخه د مالي مرستې د ورکړې غوښتنه وکړي. که د هر يو هارون او خاطرې، د تعاون او مرستې د پانګې اندازه ۳۳، ۳۳ سلنې وي، نو په دې وخت کې نجيب الله کولای له هر يوه هارون او خاطرې څخه ۱۰۰۰۰۰ افغانی وغواړي.

که يو انفرادي شريک، د ځاني پور لرونکی وي او شخصي پانګه يې د پور د بيا ورکړې لپاره بسنه نه کوي، نو په دې وخت کې به څه پيښيږي؟ احتمال لري چې پور ورکوونکي، د نوموړي شريک برخه له مشارکت څخه وغواړي. د يادو شويو شريکانو د ګټو تناسب او اندازه بايد په مشارکت کې د شريک د مالکيت له ګټو څخه، چې د انفرادي پور ورکوونکي له غوښتنې څخه ساتلې وي، تفکيک شي ( ۴۹ ماده ).

خو بيا هم بايد په ياد ولرو چې يو مشارکت د يوه شريک د غفلت او بې خبرۍ له مخې د ستونزو سره لاس او ګريوان کيږي، تر شک لاندې لورې په يوازيتوب سره، د ټولو اړول شويو تاوانونو لپاره مسوول بلل کيږي. ولې دا د قصور د اصولو خبره ده، بلکې شريکان کولای شي څو هوکړه وکړي چې په يو ځايې سره د سوداګرۍ تاوانونه وګالي ( ۱۲ ماده).

## کنترول او تصميم نيول

يو له ستونزو څخه چې په مشارکت کې څرګنديږي، ډير امکان لري چې د مشارکت د شريکانو ترمنځ د نمايندګۍ ( استازيتوب ) د مسألې پر سر وي، ځکه د مشارکت په نيابت هر يو شريک کولای شي، قرارداد وتړي او په دې توګه، نور ټول لوري مسوول او ملزم وګڼي. آيا قانون، د مشارکت په نيابت، د قرارداد د تړلو او د الزام او مسووليت د متحمل کيدلو پر واک او صلاحيت باندې کوم محدوديت بايد وضع کړي؟ ستاسو په نظر، په مشارکت کې څنګه کيدای شي، چې د تصميم نيونې او کنترول توان او واک په ګوته شي؟

د مشارکت قانون ۴۰ ماده وايي چې د يوه شراکت شريکان بايد لږ تر لږه يو شريک او يا يو دريیم کس د مشارکت د چارو د سمون او ادارې لپاره وټاکي. ياد شوی شخص د مدير په نوم ياديږي. سره ددې، د مشارکت قانون، د شرکت شريکانو ته د پام وړ آزادي برابروي، هغه داسې چې دوی کولای شي په خپل منځ کې د تصميم نيولو واک او اختيار په ګوته کړي، د بيلګې په توګه: د مشارکت د قرارداد موافقه ليک کولای شي ( ولې حتمي نه ده ) څو حکم وکړي چې تصميم نيول بايد د زياتو شريکانو له خوا منظور او تصويب شي. که د مشارکت موافقه ليک د اکثريت رأيو اړتيا ولري، په موافقه ليک کې بايد روښانه شي چې هر يو شريک د برابرو رأيو څښتن دی او يا دا چې د دوی رأيې، په مشارکت کې د برخو په اندازه ولاړې دي ( ۴۳ مادې ته دې رجوع وشي ). که چيرې د مشارکت ( قرارداد ) هوکړه ليک په دې برخه کې ګونګ پاتې وي، په دې صورت کې هر يو شريک د برابرو رأيو خاوند دی. خو بالآخره، د مشارکت قانون ۴۴ ماده آن تردې چې د مشارکت موافقه ليک ته دومره خپلواکي او آزادي وربخښي، چې د مشارکت له مديريت څخه شريکان بيرون وساتي.

په عام مشارکت کې، که د مشارکت موافقه ليک، د تصميم نيولو په اړه ګونګ پاتې وي، په دې وخت کې د مشارکت د قانون ۶۹ ماده د پلي کېدو وړ ده. د مشارکت قانون ۶۹ ماده، د مشارکت د مديرانو لپاره د مشارکت د ورځني مديريت او ادارې په اړه د تصميم نيولو واک او اختيار ور بخښي. د غير معمولو مسايلو لکه د خدمتونو او يا د يو محصول او د مشارکت د شتمنيو د لپږد د قيمت په اړه، تصميم نيول د شريکانو د اکثريت رأيو له لارې صورت ونيسي. خو مديران بايد په دومره اندازه له احتياط او پام څخه کار واخلي. همدا شان هر استازی چې د مشارکت په استازيتوب کوم عمل ترسره کوي، بايد په ښه او صاف نيت عمل وکړي (۸۱ماده). ستاسو مخکينی بحث کوم چې د استازيتوب په اړه وو، په ياد راوړئ. ولې قانون بايد، د مراقبت او غور، معيارونو ته شامل وي؟ ځکه دغه ډول معيارونه شريکانو ته دا اطمينان او حوصله وربخښي چې مديران د شرکت د لګښت له لارې، د خپلو ځاني ګټو د لاسته راوړلو په هڅه کې نه دي.

په ځانګړي (خاص) مشارکت کې، خاص شریکان د اړونده سوداګرۍ د پورونو په وړاندې پرته له کوم مسوولیت او الزامیت، د مشارکت په امتیازاتو او ګټو کې برخمن دي. خاص شریکان د دغه امتیاز ( د محدود مسوولیت څخه برخمنتوب ) په بدل کې، د مشارکت په چارو دکنترول او تصرف حق قرباني کوي. د مشارکت پر اداري چارو د کنترول له حق څخه بې برخې کیدل، په حقیقت کې هغه لګښت دی، چې خاص شریکان یې د محدود مسوولیت د ترلاسه کولو لپاره پرې کوي. سره ددې، خاص شریکان کولای شي، د مشارکت د عادي مسایلو پر سر رأیې ورکړي او د مشارکت مالي سوابق وڅیړي ( د مشارکت د قانون ۱۵۸ او ۱۵۹ مادو ته مراجعه وکړئ ). په خاص مشارکت کې د یوه عام شریک سره داسې معامله کیږي، لکه په عام مشارکت کې د یوه عام شریک سره او له همدې امله، هغه د مشارکت د کړنو او ګامونو په وړاندې د محدود مسوولیت څښتن دی. همدا شان عام شریک د مشارکت په اداري چارو او ورځنیو عملیاتو باندې د کنترول او تصروف او د دریېم لوري سره د مشارکت د معاملې د استازیتوب واک او اختیار لري. سره ددې، د مشارکت دقانون د ۱۶۷ مادې سره سم، عام شریک د دې واک لري چې د ځانګړو معاملو لپاره خپل مسوولیتونه، یو بل خاص شریک ته تفویض کړي.

**د بحث وړ پوښتنې**

د شراکتونو مدیریت څنګه صورت نیسي؟ آیا د مدیریت دغه جوړښت د کارولو وړ دی؟ په دغه مدیریتي جوړښت کې تاسو د کومو ستونزو وړاندوینه کولای شئ؟

د نورو شریکانو د تصمیم نیونې سره د یوه شریک د تړاو موضوع کولای شي د چې مشارکت د نورو زیاتو افرادو لپاره د کمې علاقمندی سبب شي. د دغې ستونزې د پټې او ځواب لپاره، د مشارکت قانون شریکانو ته دا آسانتیا برابره کړې ده، چې هر وخت وغواړي کولای شي له مشارکت څخه بهر شي. نو له دې لامله، که یو شریک د سوداګرۍ د حرکت د لوري، بیلې او مخالفې تګلارې او پالیسۍ ولري، په آسانتیا سره کولای شي له مشارکت څخه بهر شي او د مالکیت د ګټې په مقابل کې بدله ترلاسه کړي. دغه یوه لیکلې موضوع ده چې موږ یې تر بحث او څیړنې لاندې نیسو.

## ج: د مشارکت انحلال او د حسابونو تصفیه

د مشارکت قانون، د مشارکت فسخ او انحلال ډیر آسانه کړی دی. دغه څرګننده ( فرعي ) برخه، هغه قاعدې او قوانین شرح کوي چې په عمومي ډول په ټولو مشارکتونو ( عام مشارکت، خاص مشارکت او کاري مشارکت ) باندې د پلي کېدو وړ دي او ځینې نورې ځانګړې قاعدې چې د عام او خاص مشارکتونو پر سر په ځانګړي ډول د پلي کېدو وړ دي، روښانه او په ګوته کړي دي.

**انحلال**

د مشارکت د قانون ۵۰ ماده، د مشارکت د انحلال او یا فسخې لپاره ۸ حالته وړاندې کوي. نو له دې لامله، د یوه مشارکت د انحلال لپاره، په یوه وخت کې د ټولو موجودیت شرط او اړین نه دی.

**۵۰ ماده: د یوه مشارکت انحلال**

یو مشارکت، له لاندې حالاتو څخه د یوه حالت د رابرسیره کیدو په وخت کې منحل او یا فسخه کیږي:

1. د مشارکت په هوکړه لیک ( موافقه لیک ) کې د ټاکل شوي وخت تیریدل.
2. د هغې موخې لاسته راوړل چې مشارکت د هغې د ترلاسه کولو لپاره جوړ شوی دی.
3. د شرکت د ټولې او یا د پانګې د یوې برخې پوره والی او یا حذف، په داسې حال کې چې د کړنو د ادامې په وخت کې د هغو هیڅ ډول ګټه د ځرګندیدو وړ نه وي.
4. د شریکانو له ډلې څخه د یوه شریک مړینه، د محکمې په قطعي حکم، د مشارکت له مالکیت څخه، د یوه شریک محرومیدل او یا هم د مفلس په عنوان، د پام وړ شریک پیژندل او ثبتیدل.
5. له مشارکت څخه، د یوه شریک شاته کیدل او هغه په داسې حال کې چې د مشارکت د فعالیت دوره نامعلومه وي، هغه هم په دې شرط چې نوموړی شریک، نورو شریکانو ته، له مشارکت څخه د شاته کیدلو خپل نیت ۳ میاشتې وړاندې په رسمي بڼه ځرګند کړی وي. پرته له دې، له مشارکت څخه د داسې شریک شاته کیدل د ( ریښتینولی ضد ) عنوان په توګه په پام کې نیول کیږي او یا د هغه شاته کیدل نا مناسبه عمل بلل کیږي، خو دا په هغه صورت کې چې د لوریو (طرفینو) موافقه په بل شان نه وي ترسره شوې.
6. د مشارکت د انحلال په اړه د ټولو شریکانو د رأیو توافق.
7. د محکمې د حکم سره سم، د مشارکت انحلال او یا
8. د مشارکت د افلاس ( بې خرځی ) په اړه د محکمې د ځرګنده او ښکاره حکم خپریدل، او یا دا چې د مشارکت شریکان او پورورکوونکي داسې هوکړه وکړي څو مشارکت مفلس خپور کړي.

دریم حالت او یا شرط له یوې ډیرې ځانګړې پیاوړتیا څخه برخمن دی او دغه حکم یوازې پر هغو مشارکتونو باندې د پلي کېدو وړ دی چې نامعلوم او نا محدود وخت ولري او دغه حالت شریکانو ته حق ورکوي، چې د هر دلیل له لارې کولای شي له مشارکت څخه خپل ځان په شا او لیرې کړي، آن تردې، که اووه نور حالتونه هم د هغه په اړه د پلي کېدو وړ نه وي. په بل عبارت، هر کله چې دا احساس پیدا شي چې د وخت له نظره نامحدود مشارکت نور نه شي کولای، څو د شریکانو ګټې پوره کړي، د پام وړ شریک کولای شي د مشارکت د انحلال د فسخې غوښته وکړي. په عام او خاص مشارکتونو کې، هغه شریک چې غواړي له مشارکت څخه شاته شي، د مالي کال د پای ته رسیدلو څخه، لږ تر لږه ۶ میاشتې وړاندې، باید په رسمي توګه خپله شاته کیدنه خپره او اعلان کړي ( د قانون ۹۳ ماده ) او نور ټول شریکان کولای شي د شرکت د ادامې په اړه خپل تصمیم ونیسي ( د مشارکت دقانون ۹۷ او ۱۰۱ مادې ). په عام مشارکت کې، وروسته له دې چې یو شریک د مشارکت د انحلال او فسخې غوښتنه په قطعي ډول اعلان کړي، د شاته شوي شریک د برخې ګټه په نغدي توګه ورکول کیږي، خو که چیرې د مشارکت ( قرارداد ) په هوکړه لیک (موافقه لیک) کې په بل شان پریکړې صورت نه وي نیولای.

سربیره پر دې، په هغو مشارکتونو کې چې دوره او وخت یې معلوم وي، د شرکت د انحلال او فسخه کیدل، د دغه ډول خپلواکۍ څخه برخمن نه دي. یو شریک نه شوي کولای چې د یو دلیل په لرلو سره، نور شریکان د مشارکت انحلال او فسخې ته اړ کړي. که د پورتنیو ۷ حالتونو او شروطو څخه یو د پلیتابه وړ نه وي، یو د شریکانو یوازې دومره کولای شي، چې د مشارکت د انحلال په اړه د محکمې حکم وغواړي ( د عام مشارکت د قوانینو په اړه ۵۳ او د خاصو مشارکتونو په اړه ۴۹ او ۱۰۲ مادې ). آیا کولای شي ووایی، چې قانون ولې د هغو مشارکتونو چې وخت یې معلوم او محدود او د هغو مشارکتونو ترمنځ چې وخت یې نامعلوم او نا محدود دی، توپیر پیدا کړی او د هر یوه په اړه یې ځان ځان ته کړنې غوره کړې دی؟

**د بحث وړ پوښتنې**

له مشارکت څخه د وتلو پیاوړتیا، ولې دومره اغیزمنه ده؟ آیا تاسو فکر کوی چې قانون دغه کار په کافي اندازه آسانه کړی

دی؟ او یا یې ډېر آسانه کړی دی؟

## د حساب تصفیه

له دې وروسته چې مشارکت منحل شي، د مشارکت د شتمنیو په اړه به څه پېښیږي؟ په عمومي توګه، دغه شان پانګې په نغد ډول خرڅیږي او د هغو له خرڅلاو ترلاسه شوې ګټې، د مشارکت د هوکړه لیک (موافقه لیک) د موادو او شروطو سره سم، د شریکانو ترمنځ ویشل کیږي. نو له دې امله، شریکان په خپله کولای شي د نغد جوړونې او د عایداتو د ویش په اړه پلان جوړ او تصمیم ونیسي چې اضافي پیسې څنګه کیدای شي د دوی ترمنځ تخصیص شي. د مشارکت دقانون ۵۵- ۵۹ مادې، د نغد جوړونې او د عوایدو د ویش عمومي قاعدې وړاندې او روښانه کوي او ۱۱۴- ۱۴۶ مادې، هغه ځانګړې قاعدې، چې په خاص او عامو شرکتونو باندې په ځانګړي ډول د پلي کېدو وړ دي، بیانوي.

نغد جوړونه او له هغو څخه د ترلاسه شویو عوایدو ویش په عمومي توګه داسې مخته بېول کیږي: له هر څه وړاندې محکمه یو د لوریو ته دنده سپاري، څو د مشارکت ټوله شتمنۍ او پانګه خرڅه کړي. دویم، له نغد جوړونې څخه د ترلاسه شویو عوایدو څخه د مشارکت د پورونو د ادا کولو او د حساب د تصفیې لپاره، ګټه اخستل کیږي. دریم، هر هغه څه چې له پورتني پړاو وروسته پاتې کیږي، د شریکانو ترمنځ ویشل کیږي. که د شریکانو ترمنځ د اضافي پیسو ویش، د مشارکت هوکړه لیک (موافقه لیک) له خوا نه وي په ګوته شوې، نو هر یو د شریکانو به، په مشارکت کې د معلومې سلنې په اندازه برخه ترلاسه کوي. سره له دې، که چیرې له نغد جوړونې وروسته د مشارکت د پورونو لپاره پوره پیسې او پانګه شتون ونه لري، شریکان باید پاتې پیسې، لکه څنګه چې پورته روښانه شول، آماده او ورکړي.

د شرکت د شتمنیو او پانګې د ویشلو لپاره تیار او ټاکل شوي لومړیتوبونه ډیر اغیزناک او ګټور دي، ځکه د ټولو هغو بیلا بیلو کسانو لپاره چې په مشارکت کې لاس لري ( د بیلګې په ډول: پورورکوونکي او د هغو مالکان ) دا باور وربخښي چې د ټولو لاس لرونکو کسانو په نسبت، د مشارکت د شتمنیو او پانګې په سر د دوی غوښتنې په مناسب او مرتب ځای کې شتون لري. نو له دې امله، دوی کولای شي څو د شرکت له پانګې او شتمنیو څخه خپلې هیلې په ګوته او وټاکي او د خپلو هیلو سره سم اړونده خطرات تنظیم او مدیریت کړي او په پایله کې، د داسې باور شتون، د دې لامل ګرځي څو دوی له پیل څخه د یوه مشارکت د جوړولو لپاره غوره علاقه او کافي هیله له خپل ځان څخه څرګنده کړي.

**د بحث وړ پوښتنې.**

د یوه مشارکت له انحلال څخه وروسته، د نغد جوړونې ( د شتو او پانګې خرڅلاو ) او د شتو له خرڅلاو څخه د ترلاسه شویو پیسو د ویش لپاره غوره بدیل، د شریکانو تر منځ د شتو او پانګې د مستقیم ویش څخه عبارت دی او دغه عملیه د ( جنسي ویش ) په نوم یادیږي. د بیلګې په توګه: که پانګه د نه نقل کیدونکي جایداد ( د بیلګې په توګه: د سوداګرۍ دفتر ) له ډول څخه وي، د دې پر ځای چې اول جایداد خرڅ کړي او هغه پیسې چې له هغه څخه لاسته راځي وویشي، د شریکانو هر یو کولای شي د دفتر یوه ځانګړې برخه په خپله ولکه کې راولي. ستاسو په نظر، د دواړو قواعدو او قوانینو ګټې او تاوانونه په ځانګړي ډول کومې دي؟ فکر وکړئ چې کومه یوه قاعده کولای شي، د پام وړ شتو او پانګې د مارکیټ قیمت په ښه توګه وټاکي؟ کومه یوه قاعده کولای شي د مشارکت د پور ورکوونکو له حقوقو څخه په ښه شان ساتنه وکړي؟ او آیا په وړو برخو او ونډو د یوه واړه نه لیږدېدونکي جایداد ویشل به د جایداد مجموعي قیمت او ارزښت ټیټ کړي؟

## ۶ – د محدود المسوولیت او سهامي شرکتونو قانون (Corporation)

سهامي شرکت په نړۍ کې او محدود المسووليت شرکت په افغانستان کې د سوداګرۍ معمولترين شکلونه دي. په افغانستان کې د محدود المسووليت او سهامي شرکتونو د قانون په نوم يو قانون، د سوداګرۍ پر دواړو ډولونو باندې حاکم او پلی دی. په دې اړه اوس، دوې پوښتې رامنځ ته کيږي:

- د سوداګرۍ دغه دوه شکلونه، د مشارکت سره څه توپير لري؟
- سهامي شرکت له محدود المسووليت شرکت څخه څه توپير لري؟

لکه څنګه مو چې په مخکينيو بحثونو کې وليدل، مشارکتونه ډير ګټور او اغيزمن دي، ځکه د تشکيل او جوړښت له کبله ډير ساده دي، جوړښت يې کم لګښته دی، د حکومت په مقرراتو معروضه او په مديريتي جوړښت کې يې نرمي په زياته کچه شتون لري. خو سره له دې، مشارکتونه ځينې کمی او عيبونه هم لري: سره له دې چې د يوه شريک د مړينې له لامله، د مشارکت چارې ګډې وډې کيږي او د انحلال او فسخ لامل ګرځي، دغه شان مشارکتونو په اوږد مهاله کې زيات ثابت نه وي. هغه کسان چې د پيسو مرسته او تعاوون کوي ( خپله پانګه د مشارکت په واک کې ورکوي ) په خپله د مشارکت د پورونو د بيا ورکړې لپاره مسوول او ملزم دی او تر سره شوې پانګونه په آسانۍ سره له مشارکت څخه بيرته نه شي اخستلای. دا په خپل وار د دې لامل ګرځي چې که پانګوونکي ونه شي کولای مشارکت منحل او فسخ کړي، نه شي کولای خپله ګټه له مشارکت څخه تر لاسه کړي. او وروسته ټکی دا چې د مشارکت د مديريت په چارو کې د شريکانو مستقيمه لاسوهنه هم د مشارکت د پيچلتيا او ګډوډۍ لامل ګرځي. لکه څنګه چې موږ او ستاسو به يې په راتلونکي بحث کې وګورو، سهامي او محدود المسووليت شرکتونه د دې لپاره جوړيږي څو پورتنيو نيمګړتياوو او عيبوبو ته ځواب ووايي.

څو کليدي او مهم توپيرونه کولای شي، سهامي او محدود المسووليت شرکتونه سره بيل او د دوی ترمنځ توپير پيدا کړي. غوره توپيرونه يې دادي چې محدود المسووليت شرکتونه نه شي کولای په عامو خلکو باندې خپلې برخې وپلوري او نوموړي شرکتونه نه شي کولای له ۵۰ څخه زيات مالکان او برخه وال ولري او همدا شان د محدود المسووليت شرکتونو ونډه لرونکي نه شي کولای څو د اړتيا په وخت کې، شرکت خرڅ کړي ( ۳ ماده ). د دواړو شرکتونو ترمنځ يو بل توپير دادی چې د سهامي شرکت پانګه په برخو باندې ويشل شوې او د ونډه لرونکيو مسووليت او التزام هم د برخو په اندازه دی، په داسې حال کې چې  د محدود المسووليت شرکتونو پانګه په برخو باندې نه ويشل کيږي او هر يو د ونډه لرونکو د هغه مبلغ په اندازه مسوول او ملزم دي، چې په پيل کې يې ورباندې هوکړه کړې ده. په عمل کې دا خبره په دې معنی ده، چې سهامي شرکت د مشارکت د لاره اچولو لپاره غوره ترينه لاره ده، ځکه هڅه کوي څو له عام اولس او خلکو څخه زياتې پيسې ترلاسه او په کار يې واچوي.

په دې برخه کې څلور هغه مهم او اساسي عنصرونه تر غور او څيړنې لاندې کيږي، چې محدود المسووليت او سهامي شرکتونه توصيف او تعريفوي. د دغه کار د ترسره کولو لپاره، دغه برخه، د محدود المسووليت او سهامي شرکتونو د جوړښت او ادارې پورې اړوند قوانين، بيانوي. له هغې وروسته، کوښښ کوي چې د شرکتونو د قانون له لارې، د يوه شرکت د مديرانو او ونډه لرونکيو ترمنځ، د استازيتوب د مبادلې وړ لګښتونو د کچې د راټيټولو لارې چارې په ګوته کړي. دغه برخه، د دې موضوع په اړه چې سهامي او محدود المسووليت شرکتونه څه ډول منحل او فسخ کيږي، د يوه لنډ بحث په واسطه پای ته رسيږي. د دغه څپرکي په راتلونکو برخو کې، د سهامي شرکت (Corporation ) اصطلاح، د دواړو سهامي او محدود المسووليت شرکتونو لپاره کارول کيږي، خو که توافق په بل ډول صورت نه وي نيولای.

## الف د يوه حقوقي ايتلاف عنصرونه.(Corporate Form)

کوم لاملونه دی چې حقوقي ايتلاف يې په نړۍ کې د سوداګرۍ په يوه مشهور ترين شکل او ډول باندې بدل کړی دی؟ د نړۍ

په زياتره برخو کې، حقوقي ايتلافونه له بيلا بيلو اړخونو څخه د ډيرو ګټو او مشترکو ځانګړتياوو لرونکي دي: (۱) دغه ايتلافونه د جدا حقوقي شخصيتونو په عنوان په پام کې نيول کيږي، چې د يوه نه پای ته رسيدونکي وخت لرونکي دي، (۲) د دغه ايتلافونو په قالب کې، پانګوونکي له محدود مسووليت څخه خوند اخلي، (۳) ډير وخت، په دغه شان شرکتونو کې شته برخې په آزادانه او خپلواکانه ډول د سوداګرۍ د لوريو ترمنځ ليږديدلای شي او (۴) دغه ډول شرکتونو د مديره پلاوی له لوري، چې د ونډه لرونکو له لوري ټاکل کيږي، کنترول او مديريت کيږي. دغه ځانګړتياوې به، په خپل وار تر غور او څيړنې لاندې ونيول شي. د مشارکت داريو سره په پرتله، دغه ځانګړتياوې بيلا بيل غوره توبونه لري: پرته له دې چې د سوداګرۍ کړنو او فعاليتونو ته څه زيان او يا اختلال واړول شي، د مالکيت برخې د ليږد وړ دي او د دې لامل ګرځي څو سوداګري په اوږد مهاله کې زيات دوام او ثبات پيدا کړي، د شرکت د پورونو په وړاندې، ونډه لرونکي د محدود مسووليت خاوندان دي، پانګوونکي په آسانی سره کولای شي، څو خپله ترسره شوې پانګه له بانک څخه په نغد ډول بهر وباسي او بالاخره، په دغه ډول حقوقي ايتلافونو کې د مديريت لارې چارې ډيرې متمرکزې، تخصصي او اغيزمنې دي.

## له مالکانو څخه بيل حقوقي بنسټ

د قانون د حکمونو سره سم، سهامي او محدود المسووليت شرکتونه، يو ځانګړی حقوقي شخصيت لري او د يو نه پای ته رسيدونکي عمر لرونکي دي. دغه مسأله يو له هغو ځانګړتياوو څخه شميرل کيږي چې د حقوقي ايتلاف له ټولو ځانګړتياوو څخه ( چې په اړه مو يې پورته بحث وکړ) ملاتړ کوي. لاندې مطالب چې د همدغې موضوع په اړه ځانګړي شوي دي، په پام کې ولرئ.

### د يوه بيل حقوقي بنسټ ګټې (له مالکانو څخه بيل)

سرچينه: ويليم آلن او ري ني ير کاراک من، د سوداګريو د تشکيلاتو د قانون په اړه، غور، کره کتنه او قضيې، د خپريدو نيټه، ۲۰۰۳ زږديز کال.

د بيلګې په ډول: د يوې ټوټې ځمکې د ترلاسه کولو موضوع په پام کې ونيسئ. د ځمکې د اخستونکي په توګه، سهامي شرکت د قانونی او واک لرونکو استازو له لارې د يوې ټوټې ځمکې د ترلاسه کولو ګام اخلي، ياد شوی شرکت کولای شي د مقابل لوري سره داسې قرارداد لاسليک کړي چې الزامي وي، خرخلاو پای ته ورسوي او په خپل نوم ( د شرکت په نوم ) قباله لاسته راوړي. له دې وروسته، د مديره پلاوی د مصلحت سره سم، ياد شوی سهامي شرکت کولای شي څو له ترلاسه شوي جايداد څخه ګټه واخلي. څکه اصلي پانګوونکي د دې اړتيا نه لري څو د ځمکې معامله اجرا او يا د هغه په اړه هوکړه ترسره کړي، د دغې معاملې د پای ته رسولو لپاره، د معلوماتو او همغږيو د ترلاسه کولو پر سر د لګښتونو کچه به ډيره کمه او ټيټه وي. همدا ډول داسې لارې چارې چې د هغو پر بنا، سهامي شرکت د يوه حقوقي بنسټ په توګه، د تملک له حق څخه برخمن او د هغو له لارې وکولای شي د نورو بنسټونو سره قرارداد وتړي، په پام کې ونيسئ، د بيلګې په توګه کولای شي د پورونو د لاسته راوړولو په موخه د بانکونو سره قرارداد لاسليک کړي. اوس، پور ورکوونکي د دې اړتيا نه لري څو وپوهيږي چې د يوه شرکت له لارې د پورونو او ګټو د بيا ورکړې د وعدو او هوکړو تر شا کوم پلان او څه ډول کسان شتون لري. دغه حالت، سهامي شرکتونو ته اجازه ورکوي څو بيلا بيلې پانګې د سوداګريو او تجارتخانو په ګډون په خپله ولکه او تر تملک لاندې راولي، له بله لوريه کولای شي ټولې هغه پانګې چې پور ورکوونکي کولای شي د پورونو د بيا ورکړې لپاره په هغو تکيه وکړي، محدود او په ګوته يې کړي. که چيرې سهامي شرکتونه د بيل حقوقي شخصيت خاوندان نه وای، د شرکت د پور ورکوونکو له ډلې څخه يو پورورکوونکي مجبور او اړين وو څو تر تملک لاندې ټوله پانګه او همدا ډول د ټولو ګډو پانګه اچوونکو د بيا ورکړې وړتيا او اعتبار (credit-worthiness ) په يوازې توګه وڅيړي. د بيلګې په ډول: د پور د ورکړې لپاره، پور وروونکي اړ وو څو د

وندہ لرونکو د هر یوه وړتیا او ظرفیت په بیل بیل ډول وخیږي. نو له دې امله، د یوه مصنوعي بنسټ ( د حقوقي شخصیت لرونکی ) نظري مفهوم او داستان کولای شي څو د قرارداد (قرارداد) د عقد لګښتونه، کوم چې د قرضې د ترلاسه کولو لپاره صورت نیسي، په پراخه کچه کم کړي. د یوه غیر واقعي حقوقي بنسټ په توګه د سهامي شرکت ځای، د پور ورکوونکو د څارنیز لګښتونو د اقتصادي کولو سربیره، د دې لامل ګرځي چې دا ډول شرکت د یوه پای ته نه رسیدونکي عمر خاوند وي او دغه غوره توب او امتیاز د سهامي شرکت د شکل ثبات ته زیادت او پراختیا وربخښي. پرته له دې چې د پیچلیو موضوعګانو په څیړنه او غور باندې ځان بوخت کړو، په آسانه توګه کولای شو ووایو چې د مالکانو له ډلې څخه د یو مالک مړینه، لکه څرنګه چې په مشارکت کې پیښیږي، نه شي کولای د سهامي شرکت د کړنو د دریدلو او یا ګډوډولو لامل وګرځي.

همدا ډول امکان لري چې سهامي شرکت د زیاتو قراردادونو د ترکیب په عنوان په پام کې ونیسو. په بل عبارت، سهامي شرکت د قرارداد کوونکي له نوم او لوري خدمت ترسره کوي نه د ویشونکو او یا توزیع کوونکو، او همدا شان د محصولاتو او خدماتو د مصرفوونکو کړنې او فعالیتونه سره همغږي کړي[16]. نو دغه داستان په دې معنی دی چې سهامي شرکت یو حقوقي شخصیت دی چې د پانګه اچوونکو، قرضه ورکوونکو، توزیع کوونکو، اخستونکو، حکومتي ادارو او په عمومي ډول د عامه خلکو ترمنځ یې یو زیات شمیر مغلق او پیچلي قراردادونو ته همغږي وربخښلې او آسانه کړې یې دي.

څرنګه چې(قرارداد) د یوه مشارکت یو بنسټیز او اساسي سند بلل کیږي، د یوه حقوقي ایتلاف (incorporation) مادې، د سهامي او محدود المسوولیت شرکتونو اساسي او بنسټیز سند هم ګڼل کیږي. د یوه حقوقي ایتلاف حقوقي شتون هغه وخت پیلیږي چې د ایتلاف جوړوونکو له خوا د حقوقي ایتلاف موافقه لیک، لاسلیک او د ( سوداګرۍ د ثبت په رسمي دفتر ) کې ثبت او راجستر شي. د ایتلافي قرارداد مادې باید د حقوقي ایتلاف نوم، د ټولو جوړوونکیو نومونو، د هغو د لومړي مدیر نوم، په افغانستان کې د هغو د ثبت او راجستر پتې، د برخو شمیر هغه چې شرکت یې د صدور واک او اختیار لري او د حقوقي ایتلاف د دوام وخت او نیټې ( خو که د بې پایه شرط پرته، د دوام وخت په نورو شروطو باندې ټاکل شوی وي) ته شامل وي. ( د حقوقي ایتلاف ۲۱ ماده ). د ایتلافي قرارداد مادې د تعدیل وړ دي او د تعدیل څرنګوالی به یې په راتلونکو بحثونو کې تر څیړنې لاندې ونیول شي.

## د شرکت مدیریت

د دغو پورتنیو اړتیاوو سربیره، د حقوقي ایتلاف مادې دا هم په ګوته کوي چې شرکت څنګه کولای شي خپلې اړونده چارې اداره او مدیریت کړي. د حقوقي ایتلاف جوړوونکي (incorporators) او یا مدیره پلاوی یې همدا شان کولای شي څو اړینې اصولپاڼې ( آیینامې) تصویب کړي او دغه شان اصولپاڼې که چیرې د افغانستان د جاري قوانینو او یا د ایتلاف د موافقه لیک د احکامو ( ۲۵ ماده ) سره په ټکر کې وي د اضافي مقرراتو او قواعدو په توګه په شرکت باندې حاکم او د پلي کېدو وړ دي.

یادې شوې اصولپاڼې د شرکتونو لپاره له اندازې زیاته آزادي او خپلواکي وربخښي، څو وکولای شي تصمیم ونیسي چې شرکت په کومو لارو چارو بنه فعالیت کولای شي او چارې یې څنګه اداره شي. د یوه شرکت د بیلا بیلو شریکانو لکه مدیره پلاوی، مدیرانو، ونډه لرونکو او نور ټول لاس لرونکو کسانو د حقوقو او مسوولیتونو طرحې او توصیف او همدا ډول هغه قواعد او کړندودونه چې په یوه شرکت کې د تصمیم نیولو لپار کارول کیږي، د ایتلافي ادارې او مدیریت ( corporate governance ) په نوم یادیږي. د یوه شرکت ایتلافي مدیریت دا په ګوته کوي چې د پام وړ شرکت څنګه کولای شي خپلې موخې وټاکې او لاسته یې راوړي او کړنې یې په څه ډول او دکومو کسانو له خوا باید وڅارل شي. د حکومتولي

[16] رینیر کارآکمن اټ ایل، د شرکت د قانون اناتومي، نشر 2004 میلادی

( governance ) ګټور او مناسب اصول هم ډېر اغيزناک دي، ځکه هر وخت چې يو شرکت د دې باور او اطمينان پيدا کړي چې ټول شرکتونه د داخلي چارو د سمون او تنظيم او همدا شان د درېيم لوري سره د تعامل او قراردادونو لپاره روښانه او ځرګند قواعد او مقررات لري، نو په دې وخت کې د دې اميد او هيله پيدا کوي چې زيات خطر ومني او د افغانستان په اقتصادي برخه کې پانګونه وکړي او د نورو شرکتونو سره د سوداګرۍ زيات قراردادونه ترسره کړي.

## مديره پلاوی

که يو شرکت زيات او بيلا بيل مالکان ولري، يو له جدي ستونزو څخه چې په دې اړه رابرسيره کيږي هغه د شرکت د ايتلافي مديريت او تصميم نيولو د شکل او ډول په اړه ده. نو له دې لامله د يوه شرکت ايتلافي مديريت او تصميم نيول بايد په داسې شان تنظيم او صورت ونيسي څو وکولای شي د استازيتوب لګښتونه کم او د هغو کړنو او فعاليتونو چې د اقتصادي بنسټ په زيان تماميږي، مخه و نيول وشي. دا به ډېره له ستونزو ډکه او ناکامه وي چې د يوه شرکت ټول ونډه لرونکي ګډونوال سره را ټول او د هر ډول تصميم نيونې په اړه خپله رأيه ورکړي، ځکه يو لوی شرکت احتمال لري، چې د ورځې په زرګونو دغه ډول تصميم نيولو ته اړتيا ولري. د يوه لوی شرکت د تصميم نيولو د ښه والي، سمون او پراختيا لپاره، قانون وايي چې د سهامي او محدود المسووليت شرکتونو ونډه لرونکي بايد يو مرکزي بنسټ جوړ کړي چې هغه د مديره پلاوی په نوم يادېږي او نوموړی مرکز او بنسټ به د شرکت چارې اداره او تنظيموي ( د شرکتونو د قانون ۳۳ ماده ). سربيره پر دې، د اغيزمنتوب او مديريت د جوړولو مفهوم او د دې مسألې چې تاسو د مديرانو په واک کې له اندازې زيات صلاحيت ورکړی او دوی د ونډه لرونکو له ګټو سربيره د خپلو ګټو په لټه کې دي، يو لوی او جدي کشمکش شتون لري. څرښنده (فرعي) برخه [ب] دغه مسأله چې قانون او مقررات څنګه کولای شي څو په شرکت کې داسې يوه فضا رامنځ ته کړي څو په هغو کې مديران تصميمونه په داسې شان تنظيم کړي چې په هغو کې يوازې او يوازې د ونډه لرونکو د ګټو لاسته راوړل نغاړلي وي، تر غور او څيړنې لاندې نيسي.

### چک ليست: د شرکت مديره پلاوی

**د ټاکلو لارې چارې:** مدير بايد د ونډه لرونکو له خوا وټاکل شي.

**د مديرانو شمير:** د مديرانو شمير کيدلای شي، د ايتلافي قرارداد يا قرارداد (incorporation ) په موادو او د ونډه لرونکو له خوا تصويب شوې اصول پاڼه کې په ګوته شي، خو مديره پلاوی لږ تر لږه بايد يو مدير ولري ( د شرکتونو د قانون ۳۴ ماده).

**وړتيا او اهليت:** هر څوک کولای شي د شرکت د مدير په توګه خدمت ترسره کړي، خو که چيرې عمر يې له ۱۸ کلنو کم او يا د محکمې په واسطه له خپلو مدني حقوقو څخه محروم شوی وي، له پورتني وړتيا او اهليت څخه مستثنی دی.

**د مديريت وخت او نيټه:** ونډه لرونکي کولای شي په آزادانه ډول د مديريت وخت او نيټه وټاکي، خو په مجموع کې، د مديريت وخت بايد له درېيو کلنو څخه تجاوز ونه کړي ( ۳۶ ماده ).

**د مدير عزل او له دندې څخه ګوښه کيدل:** ونډه لرونکي کولای شي د مستقيمې رأيې اچونې له لارې د شرکت مدير په هغه وخت کې له دندې ګوښه کړي چې ياد شوي مدير دويم ځل د مديريت بست لپاره خپل ځان نوملی ( کانديد کړی ) وي او همدا ډول د ونډه لرونکو په يو ځانګړې ناسته کې چې د مدير د عزل او له دندې څخه د ګوښه کيدو په موخه را بلل شوې وي، کولای شي ياد شوی مدير د مديريت له بست څخه بهر کړي ( ۳۸ ماده ). د ونډه لرونکو دغه حق په دې معنی دی چې که چيرې د ونډه لرونکو زيات شمير د مدير له کړنو څخه ناخوښه وي، دوی د دې واک او صلاحيت لري څو ياد شوی مدير د

مديريت له بست څخه ليرې کړي. د شرکت ونډه لرونکي کولای شي، د يو دليل له مخې او يا پرته له کوم دیل ( يعنې د مدير د کړنو په اړه د معقول دليل د شتون او نه شتون په صورت کې ) مديران له دندې څخه گوښه کړي، خو دا په داسې حال کې چې د حقوقي ايتلاف د قرارداد موادو او يا تصويب شوې اصولپاڼې کوم بل ډول شرط او شروط نه وي وضع کړي. يعنې چې سهامي شرکت له دې قيد او بند څخه چې ونډه لرونکي بايد د مدير د عزل او له دندې څخه د گوښه کولو په وخت کې دليل ولري، آزاد او مستثنی دی.

**خالي بستونه:** د مشارکت د قانون ۳۶ او ۴۰ مادو ته رجوع وکړئ:

هرکله چې مديره پلاوی جوړ شي، د شرکت په استازيتوب او نيابت کولای شي له لاندې دوو لارو څخه په گډه اخيستو تصميم ونيسي: (۱) د مديره پلاوي د ناستو د رابللو له لارې چې پکې د شرکت د ټولو مديرانو – چې شمېر يې د حقوقي ايتلاف په پرېکړه کې راغلی – پر کارونو يا پرېکړې پر مهال د تصميم د نيولو او يا د يوه عمل د ترسره کولو لپاره، د شرکت د مديرانو له ډلې څخه لږ تر لږه بايد زياتره برخه يې په ناسته کې خپل حضور ولري ( د قانون ۴۵ ماده ). په ناسته کې د يوه شرکت د مديرانو د حاضرۍ کم ميزان د ( نصاب د اندازې ) په نوم ياديږي. همدا ډول مديره پلاوی کولای شي وړې وړې کميټې د شرکت د يو شمير مديرانو په غړيتوب، جوړې او يادو شويو کميټو ته ځينې ځانگړي او معلوم مديريتي مسووليتونه ور وسپاري ( ۴۶ ماده ). سربيره پر دې، مديره پلاوی نه شي کولای لاندې مسووليت نورو کسانو يا بنسټونو ته ور وسپاري: تر ونډه لرونکو پورې اړوند اجرايوي کړنې، د يوه بست ډکول او په مديريتي کميټو او پلاوي کې د کسانو ټاکل، په اصولپاڼو او يا د ايتلافي قرارداد په مادو کې د تعديل وړانديز او يا هم د نوموړي شرکت د ادغام او انحلال منظوري. ستاسو په اند، قانون ولې له مديره پلاوی څخه د دغه ياد شويو مسؤليتونو د اجرا مسؤليت اخلي او مديرانو د کميټې له خوا د هغو سرته رسونه ناروا بولي؟

سربيره پر دې چې يو شمير مديران د شرکت د چارو د سمون او رهبرۍ مسووليت پر غاړه ولري، خو د شرکت ورځنی کړنې معمولاً د شرکت د ټولو مامورانو له خوا مديريت کيږي. دغه مامورين د مديرانو له خوا ټاکل کيږي، خو که چيرې د حقوقي ايتلاف د موافقه ليک مادو او يا اصولپاڼو په کوم بل شان نه وي ذکر کړي ( د شرکتونو د قانون ۵۷ ماده ). مامورين معمولاً په ټاکنيزو لارو چارو استخداميږي، ځکه دوی د يوې ځانگړې وړتيا او يا په يوه ځانگړې برخه کې د تخصص خاوندان دي. په ياد ولرئ چې يو کس چې د ونډه لرونکو له ډلې څخه نه وي، په يوه وخت کې کولای شي په يوه شرکت کې هم د مدير او هم د مامور په توگه دنده ترسره کړي.

که د شرکت ورځنی کړنې او عمليات د مامورينو له خوا مديريت شي، نو د مديرانو لپاره څه نقش او کومې دندې پاتې کيږي؟ په بل عبارت، د ( شرکت د چارو سمون او رهبرۍ ) کلمه به بله څه معنی ولرلی شي؟ په عمومي توگه، مديره پلاوی د دې مسووليت او حق لري څو د مامورينو له کړنو او اجراتو څخه څارنه وکړي او همدا ډول مسووليت لري څو هغه تصميمونه چې بالاخره د مامورينو له خوا ترسره کيږي منظور کړي. نو له دې امله، د يوه شرکت مديره پلاوی له اجرايوي او عملياتي مديرانو څخه بيل او متمايز دي، د بيلگې په توگه: يو له معاملاتو څخه چې بايد د مديره پلاوي له خوا منظور او تأييد شي، د شرکت د ونډه لرونکو لپاره د هغوی د برخو صدور دی ( د قانون ۹۱- ۹۴ مادې).

### د شرکت او د ونډو گټه

شرکتونه کولای شي له دوو لارو پانگه ترلاسه کړي: د پور د لاسته راوړلو او يا په نويو پانگه اچوونکو باندې د شرکت د برخو د خرڅولو له لارو. د برخو د صدور په وخت کې، مديره پلاوی آزاد دی چې د هغو ارزښت په گوته او وټاکي او هغه د نغدو برخو او يا ټول جايد لپاره د عوضينو په توگه قبول کړي ( د قانون ۳۰ او ۳۱ مادې ). که يو شرکت د ټولو خلکو لپاره په عمومي

توګه برخې صادروي، باید له هر ډول قاعدو چې د ( سوداګرۍ د رسمي ثبت د دفتر ) او یا نورو رسمي مرکزونو او بنسټونو له خوا منځ ته راځي، پیروي وکړي ( ۳۲ ماده ).

هر څومره چې یو شرکت پرمختګ کوي او زیاتې ګټې لاسته راوړي، په هماغه اندازه ونډه لرونکي زیاته علاقه څرګندوي څو له دغو ګټو څخه یوه برخه ترلاسه کړي. د مطلوبو ګټو د ترلاسه کولو لپاره یو له آسانترینو لارو څخه داده، چې که چیرې د شرکت پرمختګ د شته برخو د پرمختګ او زیادت لامل ګرځیدلی وي، دوی کولای شي چې له برخو څخه یوه اندازه خرڅه کړي. سربیره پر دې، ونډه لرونکي آزاد دي څو خپلې برخې او په شرکت کې پانګونه خرڅ نه کړي.

د ونډو ګټه (Dividends) د ونډه لرونکو لپاره دغه انتخاب برابروي چې د خپلو برخو له خرڅلاو پرته، کولای شي د شرکت یا سوداګرۍ له ګټو څخه برخمن شي. د ونډو ګټه هغو نغدو پیسو یا جایداد ته ویل کیږي چې د یوه شرکت یوې ډلې او یا ټولو ونډه لرونکو ته ور ویشل کیږي، د بیلګې په توګه: که یو شرکت د مالي کال په اوږدو کې ۱۰۰۰۰۰افغانی ګټه لاسته راوړې وي، مدیره پلاوی کولای شي څو پریکړه وکړي چې د شرکت د معمولو چارو د مخته بیولو لپاره ۹۰۰۰ افغانی بس او کافي دي. اوس، نوموړی شرکت کولای شي  څو ۱۰۰۰ افغانی له ورځنیو کړنو او عملیاتو څخه بیرون وساتي او هغه د ونډه لرونکو ترمنځ د ( ونډو د ګټې ) په شکل وویشي. که شرکت د ۱۰۰۰ افغانیو په اندازه برخې صادرې کړې وي، هر یو ونډه لرونکي به ۱ افغانی د برخې د ګټې په توګه ترلاسه کړي. د برخو (ونډو) ګټې کولای شي څو د شرکت د اضافي ونډو او برخو په توګه وکارول شي، یعنې د برخو ګټې کولای شي د شرکت د ملموس او غیر ملموس شتو او پانګې، د شرکت د جایداد د ګټې اخستو او یا د یوه شرکت له خوا د توکو په نرخ کې د تخفیف په توګه صادر شي.

همدا ډول مدیره پلاوی مسوولیت لري چې د یوه شرکت بیلا بیل سندونه لکه د ونډه لرونکو لیستونه، د لومړنۍ پانګې د تعاوون لیست، د شرکت دمدیره پلاوی او ونډه لرونکو د ناستو مینوټ، د شرکت مالي حسابونه او داسې نور تهیه او وساتي ( د قانون ۵۶ ماده ). سربیره پر دې، یو شمیر تصمیمونه دي چې د یوه شرکت د شتو لپاره له حده زیات اړین او اغیزناك او په خپله د ونډه لرونکو تأیید او منظورۍ ته اړتیا لري. دغه تصمیمونه، د شرکت د موافقه لیکونو د تعدیل ( خو که چیرې تعدیلات یوازې تر اداري چارو او جزیاتو پورې نه وي ځانګړې شوي [ ۹۵ ماده] )، د برخو او ونډو زیادت، هغه چې شرکت د هغو د صدور صلاحیت او اجازه لري ( ۹۶ ماده ) او د شرکت له انحلال ( ۱۰۳ ماده ) څخه عبارت دي.

## د شرکت څارنیز پلاوی او استازی

د یوه شرکت له مدیره پلاوي سربیره، محدود المسوولیت او سهامي شرکتونه مکلف دي چې د څارنیز پلاوي  تر عنوان لاندې یو مرکز او بنسټ جوړ او پرانیزي. د مدیره پلاوي سره په پرتله، څارنیز پلاوی له ډیر صلاحیت او واك څخه برخمن دی او په اساسي توګه د لاندې مواردو په وړاندې مسوولیت لري: (۱) د شرکت له مالي او عملیاتي سوابقو او اسنادو څخه لیدنه او (۲) د هغو کړنلارو او ګامونو کتنه او پلي کېدو، کوم چې د مدیره پلاوی له خوا ترسره کیږي ( د قانون ۶۴ او ۶۶ مادو ته دې رجوع وشي). د بیلګې په توګه، څارونکي او سرپرستان باید لږ تر لږه په هر شپږو میاشتو کې د شرکت کتابونه او عملیات وڅیړي، په هرو درېیو میاشتو کې باید د سهامي شرکت د پیسو ذخیره وڅیړي او د شرکت د مالي حساباتو د تهیې او برابرولو په اړه (financial statements ) د مدیرانو سره مرسته وکړي. نو له دې لامله، د ونډه لرونکو په نیابت او استازیتوب، څارونکي د یوه شرکت له مالي سلامتیا څخه لیدنه کوي او د دې باور او اطمینان ترلاسه کوي چې د شرکت مدیران په سمه او ریښتیني توګه خپلې چار پر مخ بیایي. همدا ډول د دې موضوع په اړه، څارونکي د دې مسوولیت لري، څو هغه شکایتونه چې ونډه لرونکي یې د شرکت له مدیرانو څخه لري وګوري او د هغو د څرنګوالي په اړه خپلې څیړنې وکړي. د یادونې وړ ده چې د څارنیز پلاوي پورته یاد شوي صلاحیتونه او واکونه د افغانستان په لیکل شویو (مدونو) قوانینو کې ځای پر ځای او تضمین شوي دي او د یوه حقوقي ایتلاف تر موافقه لیکونو او د شرکت تر اصولپاڼو پورې محدود نه دي.

### د څارنيز پلاوي چک ليست

**د ټاکلو لارې چارې:** څارونکي بايد د کلنی ناستې په اوږدو کې د ونډه لرونکو له خوا وټاکل شي، خو که چيرې د شرکت په موافقه ليک کې په کوم بل شان پريکړه نه وي شوی.

**د شرکت د مديرانو شمير:** څارنيز پلاوی لږ تر لږه بايد دوه غړي ولري.

**وړتيا او اهليت:** څارنيز پلاوی کولای شي په يوه وخت کې هم د شرکت د مدير او هم مامور په توګه خدمت ترسره کړي ( ۵۹ ماد ) او نه که د شرکت د مدير سره د وينې اړيکه ولري، نو له پورتني حکم څخه مستثنا دی.

**په نظارت کې د کار وخت او نيټه:** که د شرکت څارونکي د حقوقي ايتلاف د موافقه ليک سره سم ټاکل شوي وي، د خدمت وخت يې تر يوه کاله پورې دوام کوي. پرته له دې، شرکت کولای شي د څارنيز پلاوي د غړو د خدمت موده تر درېيو کلونو پورې تمديد کړي ( ۵۹ ماده ).

**له دندې څخه ګوښه کول:** کوم شروط چې د مديرانو په اړه وړاندې شول، په هماغه شان ونډه لرونکي کولای شي څو هر وخت چې وغواړي د نظارت د غړيو د برطرفی په اړه تصميم ونيسي.

### د بحث وړ پوښتنې

که مديره پلاوی خپلې دندې په ښه شان ترسره او ټولې هڅې يې د ونډه لرونکو د ګټو د لاسته راوړلو لپاره وي ( د دغې موضوع به په راتلونکي څرښنده [فرعي] برخه کې چې د دندو په اړه راوړل شوی دی، ولولی) ستاسو په نظر د څارنيز غړي او پلاوي شتون او تشکيل حتمي او اړين دی؟ آيا د دغه اضافي مديريتي تشکيل ګټه او ارزښت به څه وي؟ د دغې پوښتنې د ځواب لپاره لاندې ټکي په پام کې ونيسئ: که چيرې ونډه لرونکي په پراخه کچه تيت او پرک وي، په يوه او يا څو تنو ونډه لرونکو باندې په انفرادي ډول اطمينان او باور په آسانی سره نه شي ترلاسه کيدلای، څو وکولای شي د مدير غلطې کړنې وپيژني، ځکه د دغه شان څيړنې مالي او لوژستيکي لګښتونه، په انفرادي توګه د هر يوه ونډه لرونکي په ګټه نه تماميږي او په څيړنه او څارنه کې دغه ډول ناراحتي او ستونزه د ( جمعي کړنو د ستونزې [collective action problem] )په نوم ياديږي ( دغه موضوع به هم د ونډه لرونکو د رأيې اچونې په اړه، څرښنده برخه کې روښانه او وڅيړل شي). نو له دې امله، آيا د بيلا بيلو کسانو څخه جوړې شوې يوې داسې ډلې ته چې هر يو د قانون له مخې مسوول وي څو د مراقبو او څارونکو کسانو په توګه، د ونډه لرونکو ګټو ته کار وکړي، کولای شي دغه ستونزه پرې او همدا ډول د مديرانو د غلطو کړنو په وړاندې د منع کوونکو په صفت کار وکړي.

### <u>د محدود مسووليت معنی او مفهوم</u>

کله چې د يوه شرکت مالك او خاوند د محدود مسووليت څښتن وي، د شرکت د پورونو د ورکړې په وړاندې د هغه مسووليت او التزام هم په ټاکلي او معين ډول محدود دی، معمولا بايد د مالك، د هغه مبلغ په اندازه وي چې په شرکت کې يې پانګونه کړې ده. په سهامي شرکتونو کې دغه اندازه د ونډو تر ارزښت پورې تړاو لري. په محدود المسووليت شرکتونو کې دغه اندازه تر هغه توافق پورې تړاو لري کوم چې د شرکت او پانګه اچوونکو ترمنځ شوی دی. خو د دغه مواردو سرچپه، د يوه واحد مالك او د عامو شرکتونو شريکان د سوداګرۍ د ټولو پورونو د بيا ورکړې په وړاندې ملزم او مسوول دي.

د بیلګې په توګه: داسې وګڼئ چې تاسو د کمپیوټري سامان آلاتو د یوه دکان مالك یاستی، تاسو د کمپیوټرو د سوداګرۍ لپاره یو شمیر پیسې په پور اخیستې دي. وروسته له دې چې تاسو کمپیوټرونه خرڅ کړی، یو غل ستاسو دکان ته ننوزي او ټول کمپیوټرونه ورڅخه غلا کوي، ځایي پولیس هڅه کوي څو غله ونیسي او کمپیوټرونه پیدا کړي، ولې ځایي پولیس د کمپیوټرونو په پیداکولو کې ناکام پاتې کیږي. ستاسو سوداګري پرته له دې چې هغه موجود توکي خرڅ کړي، د پورونو د بیا ورکړې لپاره بله هیڅ چاره او لاره نه لري. اوس، تاسو د سوداګرۍ یوازینی او تنها مالك یاستی، هغه کس چې تاسو ته یې پور در کړی دی، حق لري، د خپلو پورونو د اعادې لپاره، د محکمې د حکم په واسطه، ستاسو کور او موټر، که چیرې ستاسو د پور اندازه زیاته وي، ضبط کړي. خو که ستاسو سوداګري د سهامي او یا محدود المسوولیت شرکتونو له ډلې څخه وي، تاسو هیڅ کله خپل موټر او کور له لاسه نه شی ورکولای.

محدود مسوولیت له زیاتو اقتصادي او سوداګریزو ګټو څخه برخمن دی. دغه حالت خلك دې ته هڅوي څو اړین او احتمالي خطرونه ومني او خپله سوداګري پیل کړي چې هغه امکان لري ښه بریالی او په ټولنه کې اغیزمن او ګټور ځای ونیسي او هم احتمال لري چې د ګټو او مطلوب مکان د ترلاسه کولو په ترڅ کې ناکام پاتې شي. ځکه هغه کس چې د سوداګرۍ پیل کوونکی دی، دا فکر کوي چې که د شرکت په سوداګریزو چارو کې ناکام او شکست وخوري، په خپله په شخصي ډول د پورونو د بیا ورکړې لپاره مسوول او ملزم نه دی. نو له دې لامله د سوداګرۍ د پیل لپاره زیاته علاقه پیدا کوي. له دغه ډول محدود مسوولیت او التزام څخه ټولنه زیاته ګټه پورته کوي، ځکه هر څومره چې ډیر خلك د سوداګرۍ د پیل لپاره خپله تیاري او وړتیا په ګوته کوي، په هماغه کچه د ټولنې او هیواد اقتصاد مخ پر وړاندې درومي، محصولات او خدمتونه پراختیا مومي او د ژوندانه معیارونه ښه کیږي.

د سهامي شرکتونو د قانون دوه پرمخ تللي پوهان فرانك ایستر بوك او دانیل فیشل په دغه بحث کې لږ مخ پر وړاندې تللي دي او د محدود مسوولیت په ملاتړ یې ځینې دلایل راوړي دي. په راتلونکي لنډ متن کې، څه نا څه پیچلی لومړني دلیلونه چې د محدود مسوولیت په ملاتړ یې صورت نیولای دی، وړاندې کیږي.

**پرمخ تللي مطالعه: د محدود مسوولیت لپاره ځینې معقول او منل شوي دلیلونه.**

سرچینه: فرانك ایستر بوك او دانیل فیشل، سهامي شرکتونه او محدود مسوولیت، د خپریدو نیټه، ۱۹۸۵ ز کال.

سهامي شرکتونه چې د عامو خلکو په واك او اختیار کې دي، د کار د ویشلو لپاره ښه لاره آواروي. د پانګې تدارك، مدیریتي کړنې او د خطرونو منل کیدلای شي له یو او بل څخه جدا، تفکیك او بیلا بیلو خلکو ته ور وسپارل شي. له شك پرته، د کارونو او فعالیتونو جدایي او بیلتوب، له لګښتونو پرته صورت نه شي نیولای. د دې لپاره چې د شرکت پانګه اچونه او مدیریتي چارې له یو او بل سره تفکیك او د دوی ترمنځ توپیر پیدا شي، شرکتونه مکلف دي څو داسې لارې چارې ولټوي چې ګډونوال (شرکت کوونکی) وکولای شي له یو او بل څخه څارنه وکړي او د خپلو کړنو سمون تضمین کړي. په یوه سهامي شرکت کې، ونډه لرونکي ډلې معمولا په پوره ډول ریښتینې نه شي پاتې کیدلای. سربیره پر دې، د شرکت مدیران که چیرې د خپلو کړنو پوره ګټې ترلاسه نه کړي، د یوه ګټور او اغیزمن کار لپاره پیاوړې علاقه نه څرګندوي. د سوداګریزو چارو د مدیریت او پانګه اچونې ترمنځ د توپیر لګښتونه احتمال لري چې ډیر زیات او د پام وړ وي. په هر حال، د سهامي شرکتونو بقا او تل پاینښت موږ ته دا په ګوته کوي چې د پانګه اچونې او مدیرانو تر منځ د اړیکو لګښتونه، د هغو ګټو او عوایدو په پرتله چې د نقشونو او کړنو ترمنځ د تفکیك په سر راځي، ډیر درانه پریوزي، **خو ولې محدود مسوولیتونه، د چارو د تفکیك او جدایی لګښتونه ټیټوي.**

لومړی، محدود مسوولیت د (مدیرانو )څارنی اړتیاوو کچه را ټیټیږي. د استازو د کړنو او اقداماتو په موخه، ټول پانګه اچوونکي

دې ته چمتو دي، څو د يوې برخې پانګې له لاسه ورکولو په وړاندې ځينې خطرونه ومني. دوی کولای شي چې ياد شوي استازي له نږدې څخه وڅاري. خو د يادونې وړ ده، چې په هره کچه چې د خطرونو منل زياتيږي، په هماغه کچه د استازو له کړنو څخه ښه څارنه کولای شي. خو له اندازې او کچې زياته څارنه، د هغو لګښتونو چې د استازو د څارنې په موخه لګول کيږي، ارزښت نه شي پوره کولای. محدود مسووليتونه، په يوه شرکت کې تنوع رامنځ ته کوي او ناغېړي ( passivity ) په معقوله ستراتيژۍ باندې اړوي او همدا ډول، د سهامي شرکتونو د کړنو د پراختيا او پرمختيا د لګښتونو کچه راټيټوي.

له شک پرته، هوښيار ونډه لرونکي دا ګواښ ګوري چې د مديرانو کړنې دوی ته تاوان او په بل عبارت په دوی باندې لګښتونه راولي، خو په آسانۍ سره دغه ياد شوي حقيقت او واقعيت ته ځان نه ورکوي. کوم نرخ چې دوی يې د برخو لپاره پرې کوي، په خپله د هغه خطر ځرګندوونکی دی چې هغه يې په مخکې لري. نو له دې لامله، مديران هڅه کوي څو داسې لارې چارې ولټوي چې پرته له دو چې پانګه اچوونکي ورځخه په مستقيمه توګه څارنه وکړي، د هغو اطمينان او باور تر لاسه کړي. د مديرانو هغه ډله چې ياد شوی کار په ريښتيني توګه سرته رسوي، کولای شي د پانګه اچوونکو لپاره زيادترينه ګټه او پانګه راټوله او سوداګريز فعاليتونه په پراخه کچه چټک کړي.

دويم، محدود مسووليت، د څارنې او نظارت د لګښتونو کچه د نورو ونډه لرونکو لپاره ټيټوي. محدود مسووليت تر يوې قاعدې او قانون لاندې، د ونډو پانګه اچوونکي تره يوه اضافي مالي مسووليت او هوکړې لاندې راولي او په هره کچه چې د پانګه اچوونکو پانګه زياتيږي، په هماغه اندازه د دې احتمال کميږي چې د ونډه لرونکو له ډلې څخه دې يو ونډه لرونکي، د محکمې د حکم له لامله اړين او مجبور شي څو خپل شتمني او پانګه له لاسه ورکړي. نو له دې لامله، د يوه شرکت اوسني ونډه لرونکي هڅه کوي څو ټول ونډه لرونکي وڅاري او له دې لارې، باور تر لاسه کړي چې ياد شوی ونډه لرونکو ته د شرکت پانګه نه ليږدوي او يا دا چې د شرکت پانګه په نورو کسانو باندې د لږ پانګې په وړاندې نه خرڅوي. **محدود مسووليت د ټولو ونډه لرونکيو پيژندل اړين نه بولي او له دې امله، له پورته يادو شويو لګښتونو څخه ځان ساتي.**

دريم، محدود مسووليت، د ونډو دليږدليږدد لارو چارو آوارولو له لارې، مديرانو ته دا فکر پيدا کوي څو په اغيزناک او ګټور ډول فعاليت ترسره کړي. موږ تر اوسه پورې  په خپلو بحثونو کې پدې ټينګار کړی دی، چې د وړ او متخصصو استازو (مديرانو، مامورينو او داسې نورو) د کړنو د څارنې لپاره بيل بيل (انفرادي) ونډه وال د کمې تجربې او وړتيا د ستونزو سره لاس او ګريوان دي.ونډه وال په انفرادي ډول هڅه کوي چې د اصلي پانګې د کمښت (Disinvesting ) له لارې، د نمايندګيو د لګښتونو کمی ته ځواب ووايي. پرته له شکه، هغه نرخ چې ونډه لرونکي کولای شي د هغو پر اساس، خپلې برخې وپلوري، د شرکت له موجوده ارزښت څخه استازيتوب کوي کوم چې د وړ او متخصصو استازو د تصميم نيونو له لامله منځ ته راځي، خو د انفرادي پانګه اچوونکو په منځ کې د دغه وړتيا شتون څو وکولای شي برخې وپلوري، ډله ييزو ونډه لرونکو او پانګه اچوونکو ته نوې لارې چارې برابروي او په دې توګه د استازو کړنې او اقدامات مقيد او محدودوي. تر هغه وخت پورې، چې د ونډو په اړه تصميم نيول، تر رأيې اچونې پورې تړلی وي، هغه شرکتونه چې د ضعيفو اجراآتو او کړنو خاوندان دي، کولای شي يو شمير نوي پانګه اچوونکي راټول او خپل ځان ته جلب کړي، څو د يوه پام وړ تخفيف د ايښودلو له امله، لوېې اتحاديې او ډلې جوړې او په شرکت کې نوي مديريتي ټيمونه ځای پر ځای کړي. په شرکت کې د ځای په ځای کولو په اړه د پانګه اچوونکو دغه وړتيا، موجوده مديرانو ته دا فکر پيدا کوي چې د برخو د نرخ او قيمت د لوړ ساتلو په اړه په ګټور او اغيزناک ډول فعاليت وکړي.

څلورم، **محدود مسووليت د نرخ او يا د مارکيټ اقتصاد ته داسې لارې چارې برابروي څو وکولای شي د شرکت د ارزښت او اقتصادي ځای په اړه زيات معلومات راټول کړي.** د محدود مسووليت سره، ونډې نه شي کولای يو شان و اوسي، نو نه شي کولای د زيات وخت لپاره، د مارکيټ عين قيمت او نرخ ولري. نو له دې لامله پانګه اچوونکي مکلف دي څو د يوه شرکت د ليرليد د شننې (تحليل) لپاره زياتې سرچينې مصرف څو وپوهيږي چې آيا ايښودل شوی نرخ سم دی که نه. که د همدغه شروطو

په پلي کولو سره، ټول د معاملې او سوداګرۍ وړتیا ولري، پانګه اچوونکي تر هغې پورې خپلې سوداګرۍ او معاملې ته دوام ورکوي، چې د برخو نرخ د شرکت په اړه د معلوماتو څرګندوی وي. د څېړنې په سر، زیاتره پانګه اچوونکي د سرچینو د لګولو موافق نه دي، دوی په سره کولای شي څو د مارکیټ نرخ ( په هغه شان چې ټاکل شوی دی) ومني او په یوه عادلانه نرخ، د ونډو اخستل ترسره کړي.

پنځم، **محدود مسوولیت د یوه اغیزمن تنوع لپاره لارې چارې برابروي.** پانګه اچوونکي کولای شي له خپلې پانګې او شتمنیو څخه خطرونه، د محصول د یوه متنوع سند په واک کې لرلو سره، کم کړي. شرکتونه کولای شي په ټیټ نرخ باندې زیاته پانګه لاسته راوړي، ځکه پانګه اچوونکي د دې اړتیا نه لري، څو هغه ځانګړي خطرونه چې د یو شان پانګې څخه پیدا کیږي، ومني. خو که د هغه په ځای د محدود مسوولیت ځینې قاعدې او مقررارت او یا نور دغه شان مناسب انتخابونه ځای پر ځای شي، پانګه اچوونکي دې ته چمتو کیږي چې دغه ډول خطرونه ومني. د غیر محدود مسوولیت تر مقرراتو او قاعدو لاندې د شتمنیو او پانګې تنوع، د دې پر ځای چې خطرونه کم کړي، زیادت وربخښي. که یو شرکت د بې خرځی (افلاس/ورشکستګی) سره مخامخ کیږي، یو پانګه اچوونکی په آسانۍ سره خپله پانګه له لاسه ورکوي. نو له دې لامله تر غیر محدود مسوولیت لاندې معقوله او د پام وړ ستراتیژي به دا وي، چې د اخستل شویو تضمیناتو شمیر کم کړي. او په پایله کې به پانګه اچوونکي دې ته اړ شي څو هغه خطرونه چې په پانګو کې د تنوع د جوړولو له لامله یې له هغو څخه ځان ساتلی شوی، ومني او د پانګې د جلبولو په موخه د شرکت د لګښتونو کچه هم لوړېږي.

شپږم، **محدود مسوولیت د پانګه اچونې په برخه کې د غوره تصمیمونو د نیولو لپاره، ښې لارې چارې برابروي.** کله چې پانګه اچوونکي د یو متنوع محصولي سند څښتنان وي، مدیران کولای شي په هغو پروژو کې چې تر اوسه د مثبت ارزښت لرونکي دي، د پانګه اچونې له لارې د پانګه اچوونکو د خوښمنتوب او رضایت کچه لوړه بوزي. دوی کولای شي، چې پرته له دې چې پانګه اچوونکي د مفلسی او ماتې سره لاس او ګریوان کړي، د نویو محصولاتو او اختراعاتو د پراختیا له لارې، ډېرې لویې خطرناکې پانګونې چې د تغییر او بدلون موندلو وړتیا ولري (High Variance)، پیل کړي. هر یو پانګه اچوونکی کولای شي، د ونډو د ساتنې او یا هم په نورو شرکتونو کې د موجودیت له لارې خپل ځان د ماتې او ناکامۍ څخه وساتي. په نړۍ کې د نا محدود مسوولیت د یادو شویو لارو چارو سرچپه، او په توپیر، مدیران خپلې کړنې ترسره کوي. دوی هغه پروژې چې ډېرې خطرناکې وي سره له دې چې اوسمهال له یوه ځانګړي ارزښت څخه برخمنې وي، نه مني، خو پانګه اچوونکي بالعکس له دوی څخه غواړي څو یاد شوی کار ترسره کړي، ځکه داسې پروژې کولای شي د خطرونو کچه ټیټه کړي.

اوس د پورتنیو مواردو سرچپه، هغه دلایل چې د محدود مسوولیت په ضد یې صورت نیولی دی، په پام کې ونیسئ: دغه ډول مسوولیت د خطرونو د رابرسیره کیدلو لپاره زیات لاملونه برابروي او د ټولنې پر ټولو غړو ډیر بې ځایه لګښتونه تحمیلوي، د بیلګې په ډول: په هغه سوداګرۍ کې چې مالکان یې د محدود مسوولیت څښتنان وي، که چیرې مالکان یې د پورونو د بیا ورکړې په ترڅ کې ناکام پاتې شي، هغه بانک چې یاد شوي شرکت ته یې پور ورکړی دی مجبور دی غټه پیسه له لاسه ورکړي ( ځکه چې نه شي کولای له نوموړې سوداګرۍ څخه خپل پورونه او پیسې په رسمي او قانوني توګه وغواړي). د دې لپاره چې نوموړی بانک وکولای شي خپل تاوانونه پټی کړي، باید په خپلو پورونو باندې د سود لوړه اندازه په ټولو سوداګریو باندې کیږدي، حتی په هغو شرکتونو او سوداګریو باندې چې کولای شي خپل پورونه ادا او یا یې ادا کوي. وړ او بریالي شرکتونه، د سود نرخ او هغو پیسو ته چې د ناکامه سوداګریو د پورونو په خاطر یې پرې کوي، په غیر مستقیمه توګه د پای ټکی ږدي.

## د بحث وړ پوښتنې

ټولو هغو دلیلونو ته په پام چې د محدود مسوولیت په اړه یې صورت نیولای دی، تاسو څه فکر کوی چې آیا د افغانستان د

اقتصاد په برخه کې محدود مسوولیت، یو پرمختګ او مثبت اقدام دی که منفي؟

## په آزادانه ډول د مالکیت لیږدول

سهامي او محدود المسوولیت شرکتونه، مالکانو ته دا وړتیا وربخښي، څو پرته له دې چې د شرکت په چارو کې ګډوډې رامنځ ته شي، د خپل مالکیت ګټې په آزادانه ډول و لیږدوي او دغه ډول خپلواکي او آزادای سرچپه د هغو آزادیو، چې مور د مشارکتونو په برخه کې ولوستل او ومو لیدل، د شرکت له انحلال او نورو وروستیو اصلاحي ګامونو څخه مخنیوی کوي. د مالکیت آزادانه نقلول په لاندې توګه یو شمیر ګټې لري: لومړی، د شرکت ارزښت زیات ثبات تر لاسه کوي، لکه څرنګه مو چې د ایستر بوک او فیشل په لیکنه کې ولوستل، د ونډو آسانه او آزادانه نقلول تر ډیره حده پورې تر محدود مسوولیت پورې تړاو لري، که چیرې مسوولیت غیر محدود وي، د ټولو ونډه لرونکو پانګې د شرکت په ارزښت باندې اغیزه اچوي او په پایله کې، د مالکیت د مبادلې حق د شرکت د ارزښت لامل ګرځي.

همدا ډول د مالکیت د حق لیږد، مالکانو ته دا اجازه ورکوي څو خپله برخه په آسانی سره له اقتصادي بهیر څخه بهر وباسي او یا یې په نغدو پیسو بدله کړي. دغه کار په خپل وار سره پانګه ونې ته ډیره خوښي او جذابیت وربخښي، ځکه خلک کولای شي، په شرکتونو کې د خپلې پانګه اچونې او سودا ګری لمن پراخه کړي او په پایله کې په خپلو خطرونو کې تنوع پیدا کړي. همدا ډول پانګه اچوونکي اړتیا نه لري څو د نا معلوم او نا محدود وخت لپاره تر یو ټاکلي شرکت پورې مقید او تړلی پاتې شي. پورتني لاملونه د شرکت لپاره داسې لارې چارې برابروي څو زیاته پانګه خپل ځان ته راټوله او جذب کړي.

بالآخره، د مالکیت آزادانه لیږد، مدیران له شخصي ګټې غوښتنې (Self serving behavior) څخه منع کوي او د استازیتوب ( د مالکانو او مدیرانو اړیکه) لګښتونه را ټیټوي. که مدیران د یوې غلطې کړنې مرتکب وګرځي، پانګه اچوونکي په آسانی سره کولای شي خپلې ونډې وپلوري. اوس، که چیرې زیات ونډه لرونکي خپلې برخې او پانګې وپلوري، د ونډو نرخ او قیمت ټیټیږي، ځکه په داسې حالاتو کې د ونډو عرضه زیاتیږي او تقاضا کمیږي. نو له دې لامله دغه حالت ټول پانګه اچوونکي دې ته هڅوي څو مدیران د ناوړه کړنو په وړاندې خبر او یا هم له دندې څخه لیرې کړي.

په افغانستان کې د قصوراصولو قاعده داده، چې د ونډو مالکان په یوه سهامي شرکت کې کولای شي خپلې برخې په آزادانه توګه ( د شرکت له خوښې او رضایت پرته )و لیږدوی. خو پورته یاد شوی حکم د قصور د قاعدې سره تړاو لري، ولې سهامي شرکتونه کولای شي د ونډو د لیږدولو وړتیا، د خپل شرکت د موافقه لیک ( حقوقي ایتلاف) په موادو کې مقید او محدود کړي ( د قانون ۹۹ ماده ).

**د بحث وړ پوښتنې**

لکه څنګه مو چې په پورتنیو بحثونو کې ولوستل، د مالکیت د آزادانه لیږدولو ګټو ته په پام، ستاسو په نظر، د برخو (ونډو ) د لیږدولو په برخه کې په ونډه لرونکو او پانګه اچوونکو باندې د محدودیتونو لګول به د هغه په تصمیم نیولو باندې څه اغیزې واچوي؟ آیا تاسو کولای څو داسې دلیلونه وړاندې کړی، چې د مالکیت حق د آزادانه لیږد د دومره ګټو سره سره، ولې محدود او مقید شي؟ اشاره: د داسې شرکتونو په اړه فکر وکړئ چې د هغه ونډه لرونکي ډیر کم او محدود وي. آیا هغه قوانین چې سهامي شرکتونو ته اجازه ورکوي څو د برخو د لیږد حق محدود او مقید کړي، ښه قوانین دي؟

## ب: قانون د نمایندګیو د لګښتونو د کچې د را ټیټولو په برخه کې څه ډول هڅې کوي؟

تر اوسه پورې، موږ په دې اړه چې د محدود المسوولیت او سهامي شرکتونو جوړښت څه ډول او په دغه ډول حقوقي مرکزونو او بنسټونو کې، مدیران، مامورین او څارونکي څه ډول رول لوبوي، بحث وکړ. موږ اوس د دې څېړنه کوو چې قانون څنګه کولای شي څو د باور او اطمنان داسې یوه فضا رامنځ ته کړي چې د شرکت مدیران، مامورین او څارونکي په داسې ډول فعالیت کوي چې په هغو ټولو کې د ونډه لرونکو او مالکانو ګټې نغښتې وي.

شرکتونه له دوو لارو پانګه ترلاسه کوي، یا د بانکي پورونو او یا په نورو نویو پانګه اچوونکو (ونډه لرونکو) باندې د ونډو د پلورلو له لارې، څکه دغه انتخاب پانګه اچوونکو ته اجازه ورکوي څو پرته له دې چې خپل شتمني او پانګه د بانکي پور په وړاندې په وثیقه کې کیږدي او یا هم د پور په بیا ورکړه مکلف شي، پرمختګ وکړي. خو په یوه شرکت کې پانګه اچوونکي او ونډه لرونکي د پانګې په اړه خپل خپګان په ګوته کوي، په ځانګړې ډول که چیرې دوی د شرکت په ورځني مدیریت کې لاس ونه لري. په بل عبارت، ونډه لرونکي هغه سوداګر دي چې د خپل شرکت ورځنی چارې، کنترول او مدیریت یې څارونکو، مدیرانو او مامورینو ته ورسپارلې دي. اوس کوم شیان کولای شي چې استازي د ضعیفو او بې ګټې تصمیمونو له نیولو څخه منعه او یا دوی له داسې تصمیمونو څخه وساتي چې د ډله ییزو او شخصي ګټو د لاسته راوړلو په برخه کې په ونډه لرونکو باندې اضافي لګښتونه تحمیل نه شي؟ د بیلګې په ډول: د شرکت مدیر په شرکت کې د برقي ستونزو د پورته کولو او حلولو په موخه د یوه ښه برقي په لټه کې دی، اوس د دې احتمال شته چې نوموړی مدیر د پورتني کار د سرته رسولو لپاره خپل ورور وټاکي او د مدیر ورور سره له دو چې په مارکیټ کې د ښه شهرت خاوند نه دی، له شرکت څخه څو چنده اضافي لګښتونه غواړي. شرکت د اضافي لګښتونو په ورکړه کوم چې باید د ونډه لرونکو له خوا پرې شي، تاواني کیږي. استازی (مدیر، مامور او یا څارونکی )له یوې خوا، په دې برخه کې کوم مالي تاوان نه ګالي ( څکه هغه یوه ټاکلې اندازه د معاش ترلاسه کوي ) او له بلې خوا، د ورور د ټاکنې له لارې کولای شي خپلې کورنی ته اقتصادي ګټې را غونډې کړي.

پورته یاده شوې موضوع، یوه ډیره پخوانۍ او قدیمي موضوع ده، چې د استازو او سوداګرو په اړه رابرسیره کیږي. په یاد ولرئ چې د استازیتوب (نمایندګی) لګښتونه له ټولو هغو ښکاره او پټو لګښتونو څخه عبارت دي چې د استازي د کړنو په پایله کې د ونډه لرونکو او پانګه اچوونکو په شتمنیو او پانګه باندې تحمیلیږي. پانګه اچوونکي د مدیرانو، مامورینو او څارونکو د ناسمو کړنو[17] په وړاندې د خپلې پانګې د ساتنې په موخه قانون ته سترګې په لاره دي، د شرکت مدیریتي قواعد او قوانین، چې د محدود المسوولیت او سهامي شرکتونو د قوانینو او د یوه حقوقي شرکت د موافقه لیک په رڼا کې تدوین او لیکل شوي دي، عبارت دي او هڅه کوي څو د تصمیم نیولو لپاره داسې لارې چارې برابرې کړي چې له یوې خوا د شرکت ونډه لرونکو ته اغیزمنې او ګټورې پریوزې او له بلې خوا، استازي دې ته اړ کړي چې د شخصي ګټو د لاسته راوړول په موخه د شرکت له امکاناتو او په ونډه لرونکو باندې د اضافي لګښتونو له تحمیل څخه ځان وساتي. حقوق پوهان په عمومي ډول د دې ملاتړي دي چې په پولي مارکیټونو او کورنیو شرکتونو کې د سالمو سیالیو د لارو چارو برابرولو ( د شرکتي مدیریت د سم سیستم ) له لارې د پانګه اچونې د روحیې پیاوړتیا ګټوره پریوزي او په پایله کې، د ملي اقتصاد د پراختیا لپاره ښې لارې چارې آوارې شي[18].

---

[17]– هغه څېړنه چې په ۲۰۰۷ کال کې د دویچې، کارډي او سولز لخوا ترسره شوې، دا په ډاګه کوي، چې د حقوقي مصؤنیتونو موجودیت د پانګونې په اړونده پرېکړو په سلو کې ۷۳ اغېز لري. برعکس، د شرکت ځانګړتیاوې بیا د پانګونې په اړونده پرېکړو یوازې له ۴٪ څخه تر ۲۲٪ پورې اغېز شیندلی شي. نړیوال بانک، په ۲۰۰۹ کال کې تجارت. د افغانستان ملي پېژندلیک، ۲۸ پاڼه، د ۲۰۰۹ کال خپرونه.

[18]– بوز، آلن، هاملتون، د تجارت قانون او لوی اقتصادي ااصلاحات، 6 پاڼه، د 2007 میلادی کال خپرونه

د افغانستان قانون د ناسم مديريت او ناوړه رفتار د مخنيوي لپاره دری لارې او اختيارونه په واک کې لري: د ونډه لرونکيو رأيه اچونه، د ونډه لرونکيو د امانتداری دندې او همدا ډول د ونډه لرونکو لپاره د کنترول لپاره د مارکيټ پروسه. چې په نوبت سره، هره يوه يې په لاندې توګه تر غور او څيړنې لاندې نيول کيږي.

## د ونډه لرونکورأيه اچونه

د ونډه لرونکو دغه حق ددې لپاره دی څو وکولای شي د پام وړ او ځانګړي تصميمونه رأيه اچونې ته واچوي، په يوه شرکت کې د مديريتي کنټرول لپاره لومړنی او ساده ترينه لار شميرل کيږي. د قانون له مخې، ونډه لرونکي مکلف دي څو د مديرانو او څارونکو د ټاکنې ( د شرکتونو د قانون ۳۵ او ۵۹ مادې )، د حقوقي ايتلاف د موافقه ليک د موادو د تعديلاتو ( پرته له هغو تعديلاتو چې تر اداري جزئياتو پورې تړاو لري )، د شرکت په ونډو کې هر ډول زيادت او همدا ډول د شرکت د انحلال په اړه، رأيه اچونه ترسره کړي. ولې ونډه لرونکي مکلف دي څو په پورته يادو شويو مسايلو کې چې د استازو (نمايندګيو) د لګښتونو تر کمښت پورې اړه لري، رأيه اچونه ترسره کړي. که يو مدير او يا څارونکی په ناسمی سره کړنې ترسره کړي، ونډه لرونکي او پانګه اچوونکي کولای شي رأيه اچونه وکړي او هغه له دندې څخه ګوښه کړي او د مهمو تصميمونو لکه د شرکت د موافقه ليک په موادو کې تعديل او يا د هغو انحلال په اړه ډير احتمال لري چې د ونډه لرونکو او مديرانو ګټې په ټکر کې ولويږي او د ونډه لرونکو رأيه اچونه دوی ته دا واک او صلاحيت وربخښي څو د مديرانو او څارونکو له فرصت طلبانه کړنو څخه مخ نيوی وکړي او يا په يو بل ډول د هغو سره مبارزه وکړي.

حقوقي لارې چارې په نسبتي ډول سمې او مستقيمې دي. مهمه داده چې ځينې قوانين د قصور په اړه دي او هغه په دې معنی، چې شرکتونه کولای شي څو د ايتلافي تشکيل په موادو کې تغير راولي. ونډه لرونکي کولای شي چې د لاندينيو لارو څخه په ګټه اخستو، رأيه اچونه ترسره کړي: د مهالنيو ناستو او فوق العاده (ځانګړو) ناستو په ترڅ کې او يا هم د کتبي رضايت او خوښې له لارې.

## کلنی (مهالنی) او فوق العاده ناستې

سهامي شرکتونه بايد کلنی ناسته په هر کال کې يو ځل جوړه کړي ( ۶۹ ماده). سربيره پر دې، مديره پلاوی او يا د ونډه لرونکو له ډلې څخه يو ونډه لرونکي چې لږ تر لږه ۱۰ سلنې رأيو مالک وی ( يا کومه بله اندازه چې د ايتلافي شرکت موافقه ليک له خوا ټاکل شوی وی )، کولای شي څو د ناستو د نيولو لپاره غوښتنه وکړي.

### د بحث وړ پوښتنې

ولې هغه ونډه لرونکي چې ۱۰ سلنه او يا زيات له هغو د رأيو څښتن وي، د ناستو د جوړولو د غوښتنې واک او صلاحيت لري؟ ولې په ياد ولرئ چې د ونډه لرونکو ناستې کيدای شي ډير لګښت او وخت ته اړتيا ولري. د هغو کسانو لپاره چې په شرکت کې د زيات مالکيت څښتن وي، ۱۰ سلنه رأيې د دې لارې چارې برابروي څو د شرکت د راتلونکې په اړه خپل وړانديزونه او نيوکې څرګند کړي، خو په عين وخت کې، دغه مسأله هغه ونډه لرونکي چې په شرکت کې د کمې اندازې خاوندان دي، د بې هوده او بې ګټې ناستو د ترسره کولو په موخه له غوښتنو او وړانديزونو څخه محروم او هغه ونډه لرونکي چې د زياتو ملکيتونو يا رأيو خاوندان دي، په دغو بې هوده او وخت ضايع کوونکو ناستو لاس نه پورې کوي. ځکه دوی د بې هوده او بې ګټې ناستو د ترسره کولو له لامله په دوی باندې د مالي زيان زياته سلنه تحميل کيږي. په هر حال دا قانون د قصور قانون دی او سهامي شرکتونه کولای شي د ناستو د جوړولو په اړه، يوه کمه سلنه چې له پورتنی لارې څخه توپير ولري، د ايتلافي

شرکت په موافقه لیک کې ځای پر ځای کړي.

**چک لیست: د ونډه لرونکو ناستې**

**خبرتیا:** هغه ونډه لرونکي چې د شرکت په ناستو کې د رأیو خاوندان دي، له مهالنی ناستې څخه باید لږ تر لږه ۱۰ او له فوق العاده ناستې څخه لږ تر لږه ۵ ورځې وړاندې خبر تر لاسه کړي ( ۷۴ ماده).

**په ناسته کې د ګډون لارې چارې:** که یو ونډه لرونکی ونه شي کولای څو په خپله د پانګه اچوونکو/ونډه لرونکو په ناسته کې ګډون وکړي، د ایتلافي شرکت موافقه لیک کولای شي نوموړي ونډه لرونکی ته اجازه ورکړي څو د ارتباطي وسایلو له لارې لکه (تلیفون او داسې نور) په ناسته کې ګډون وکړي ( ۷۰ او ۷۱ مادې [۴ م بند]). همدا ډول ونډه لرونکي کولای شی څو یوه وکیل ته دنده وسپاري چې د هغه د نه شتون په صورت کې نیابتاً، د شرکت په ناسته/غونډه کې ګډون وکړي.

**د رأیو شمیر:** د قصور د قانون سره سم، دې هرې برخې په وړاندې هر پانګه اچوونکی/ونډه لرونکي د یوې رأیې حق لري ( ۸۱ ماده). خو سربیره پر دې، شرکتونه کولای شي څو داسې غونډې وکړي، چې ونډه لرونکي یې د دوو رأیو حق ولري، د هیڅ رأیې حق ونه لري او یا هم په ځانګړو تصمیمونو کې د رأیې حق ولري. کومې برخې چې بیلا بیل حقوق لري، په معمولي توګه په بیلا بیلو ځانګو ویشل کیږي. یوه بله قاعده چې ډیره مهمه ده هغه داده چې، که د مالکیت برخې تر یو بل سهامي شرکت پورې تړاو ولري، مالك یې د رأیې اچونې حق نه لري. د دې قاعدې سرچپه چې یوه رأیه د یوې برخې په مقابل کې ده، دغه قانون لازمي او اجباري دی.

**د نصاب اندازه:** د دې لپاره چې د ناستې رأیه د اعتبار وړ وګڼل شي، د ونډه لرونکو کم شمیر باید په ناسته کې خپل حضور ولري. د هغوی لږ تر لږه نصاب د ( د نصاب حد ) (quorum) په نوم یادیږي. هر شرکت امکان لري د حقوقي ایتلاف په موافقه لیک کې د نصاب حد وټاکي، سربیره پر دې، د نصاب د سلنې له کبله، ونډه لرونکي نه شي کولای تر ۲۵ سلنه کم وي ( هغه ونډه لرونکي چې د شرکت له خوا صادر شوي وي او د موضوع په اړه د رأیې مستحق ګڼل شوي وي) (۸۴ماده ). که د حقوقي ایتلاف موافقه لیک کوم حد او اندازه د نصاب لپاره نه وي ټاکلې، د قصور قانون دا دی، چې د موضوع په اړه باید د برخو زیاتره مالکان رأیه ورکړي.

**د بریالیتوب قانون:** همدا ډول د ایتلافي قانون مواد (articles of incorporation) کولای شي وټاک/ی چې د وړاندیزې رأیې د بریالیتوب لپاره څومره رأیې اړینې دي. په ځینو مسایلو کې لکه د شرکت پلورل او یا انحلال، شرکت باید داسې یوه طرحه ولري چې د اکثریت رایو( د بیلګې په توګه ۷۵٪ ) له خوا تصویب او یا منظور شوې وي. خو که د ایتلافي جوړښت موادو، د موضوع د تصویب لپاره د سلنې نصاب او اندازه نه وي ټاکلې، نو په دې وخت کې د نصاب زیادتره اندازه اړینه ده. په دې اړه یو له استثناءاتو څخه د شرکت د مدیرانو د ټاکنې موضوع ده چې په دې وخت کې یوازې زیاتره کچه د پلي کېدو وړ ده.

## لیکلي (کتبي) ګامونه

د رأیې اچونې دربیمه لاره، دغه لاره عبارت ده له دې چې له ناستې څخه د غیابت او نه شتون په صورت کې رأیه په لیکلي ډول صورت نیسي (۷۳ماده). کتبي اقدام باید د ونډه لرونکو د هماغه رأیو له خوا چې د هغو تصویب ته اړتیا ده، لاسلیك شي، څو

وکولای شي د ونډه لرونکو په ناسته کې د يوې طرحې په توګه تصويب شي. نو له دې لامله، که پورته ياد شوی اقدام، د حقوقي ايتلاف د موادو د تعديل لپاره وړاندی شوی نظر وي او دغه تعديل په ناسته کې د زياتو رأيو له خوا تصويب ته اړتيا ولري، ونډه لرونکي کولای شي څو د ناستې د جوړولو پر ځای، دغه ډول تعديلات د ليکلي اقدام له لارې تصويب کړي او هغه په دې شرط چې د مستحقو رأيو د اکثريت له خوا لاسليک شي.

## د ډله ييز اقدام ستونزې

په حقيقت کې، د ونډه لرونکو د رأيې ورکولو پروسه، د استازو د ناسمو کړنو په وړاندې د څارنې او څيړنې حيثيت لري، د ډله ييز اقدام د ستونزې په اساس، زيادتره ونډه لرونکي د دې علاقه مند نه دي څو د رأيې ورکولو مسووليتونه ډير سخت او کلک ونيسي. ډير ونډه لرونکي په ځانګړي ډول هغه ونډه لرونکي چې په شرکت کې يې د برخې کچه ټيټه وي، حتی د رأيه ورکولو لپاره هيڅ تکليف نه وباسي. دليل يې دا دی چې يا دوی فکر نه کوي چې د دوی رأيه دې په تصميم نيونه اغيزه واچوي او يا دا چې په غونډه/ ناسته کې د ګډون لګښتونه، له هغې ګټې څخه چې دوی يې په شرکت کې د لږ ا و وړې برخې په پايله کې ترلاسه کوي، درانه پريوزي. نو له دې لامله، کولای شو ووايو چې دغه ډول ونډه لرونکي د رأيه ورکولو لپاره کافي او بس علاقه نه لري.

د دغې ستونزې د ليرې کولو لپاره يوه لاره داده، څو ونډه لرونکو ته اجازه ورکړل شي چې د شرکت سوابق وڅيړي ( د قانون ۸۷ ماده ) او همدا ډول له ناستې څخه وړاندې د ونډه لرونکو پر ليست يوه کتنه وکړي ( ۸۰ ماده ). هغه ونډه لرونکي چې غواړي د شرکت سوابق و څيړي، په ذهن کې بايد يوه مناسبه موخه ولري، داسې يو مقصد چې د شرکت د پانګه اچوونکو او ونډه لرونکو په صفت د دوی د ګټو سره منطقي تړاو ولري. مناسبه موخه په دې معنی، چې ونډه لرونکو ته بايد قانوني او مشروع ګټه شتون ولري څو د هغو پر بنا وکولای شي د شرکت سوابقو ته لاسرسی پيدا کړي. له دې لارې، له يوې خوا کولای شي له شرکت څخه د ونډه لرونکو څارنې ته لاره برابره کړي او له بله لوريه، د شرکت له لاسرسی څخه هغه کسان چې په شرکت کې لږ او ټيټه برخه لري، ليرې پاتې کيږي. ولې په مجموع کې، موږ غواړو د دغه شان څارنو او څيړنو څخه مخ نيوی وکړو، څکه د شرکت لپاره کومه ځانګړې ګټه نه لري، خو په عين حال کې، د دغه شان څيړنو او څارنو سره، د زياتو لګښتونو او د معلوماتو د تيتيدلو خطر هم مل دی.

د شرکت د ونډه لرونکو په اړه چې کومو معلوماتو ته بايد لاسرسی ولري، د شرکت د مديرانو او پانګه اچوونکو د مسووليتونو او تصاميمو د تفکيک په اړه زياتې پوښتنې او جګړې را منځ ته کړې دي. د شرکت سوابقو ته د لاسرسی حق، ونډه لرونکو ته د شرکت د مديرانو، څارونکو او مامورينو څارنه او نظارت آسانه کوي. د ټولو ونډه لرونکو ليست ته د يوه ونډه لرونکي لاسرسی، ونډه لرونکو او پانګه اچوونکو ته د دې وړتيا وربخښي څو په آسانی د يو او بل سره افهام او تفهيم وکړي او که د مديرانو، څارونکو او مامورينو په کړنو کې کومه کمي پيدا کړي، کولای شي د يو او بل ملاتړ تر لاسه او هغه د رأيه ورکونې په ناسته کې را وبولي.

**د موضوع روښانتيا:** نجيب الله تصميم نيسي چې د خپلو د کارخانې لپاره يو سهامي شرکت جوړ کړي، د نوموړي شرکت يو زيات شمير برخې په سوداګرو باندې پلوري. د ونډه لرونکو د مهالنی ناستې په ترڅ کې، د شرکت غړي په يوه نوې او سياله کارخانه کې د نوموړې کارخانې د ادغام په اړه رأيه اچونه ترسره کوي. ونډه لرونکي بايد د دې موضوع په اړه رأيه اچونه وکړي ځکه د يوه شرکت ادغام په بل شرکت کې، د حقوقي ايتلاف ( د سهامي شرکت په موافقه ليک ) په موادو کې تعديل ته اړتيا لري. يو کس د امير په نوم په شرکت کې د پانګې ډيره کمه برخه لري، هغه فکر کوي چې د ادغام مفکوره کومه اغيزمنه او ښه مفکوره نه ده. نوموړی د خپل ځان سره حساب کوي او دې ته رسيږي چې نوموړی له ادغام څخه ۲۰۰ افغانی زيانمن کيږي، په

داسې حال کې چې په ناسته کې د هغه حضور ۱۰۰۰ افغانۍ لګښت لري ( د کار دريدل، د ادغام د ادبياتو په هکله مطالعه او هغه وخت چې د ناستې د ګډون لپاره لګول کيږي). سربيره پر دې، چې امير د ادغام له لامله يو اندازه پيسې له لاسه ورکړي، خو په ناسته کې د ګډون لپاره کومه پرېکړه چې د ادغام لپاره د رأيې اچونې په موخه نيول کيږي، علاقمند نه دی، ځکه هغه په دې ګډون کې زياتې پيسې له لاسه ورکوي.

## د معتمدۍ دندې

### *اساسي دنده*

په دې پړاو کې، تاسو بايد زموږ وړاندينی بحث چې د استازيتوب ( نمايندګۍ ) د قانون په اړه وړاندې شو، په ياد راوړی او مطالعه يې کړئ. د معتمدۍ د دندې موخه داده چې له مالك او سوداګر څخه په نيابت، د معاملاتو د سرته رسولو په برخه کې د استازي آزادي او خپلواکي محدوده کړي او سوداګر هم د استازي د کړنو په وړاندې مقيد او ملزم کړي. دغه قانون ( د معتمدۍ دنده )، د پورته يادې شوې موخې د لاسته راوړلو په موخه، پر استازي باندې د کړنې يو معيار تحميلوي څو د نوموړي د تصميم نيولو پر واک باندې حاکم او پلې وي. په بل عبارت، د سوداګر په وړاندې د استازي کړنې سمې او محدودې کړي. د استازيتوب ( نمايندګۍ ) قانون کولای شي د مدافع وکيلانو لپاره زياتې ستونزې پيدا کړي، ځکه د استازي د کړنو معيار سم روښانه نه دی او په هغه کې دا نه ده په ګوته شوې چې محکمې څنګه کولای شي، څو معلومه کړي چې آيا استازي د خپلو کړنو له معيار څخه پيروي کړې ده که نه. په بل عبارت، داسې لارې چارې معلومې نه دي چې د هغو پر بنا محکمه معلومه کړي چې د استازي د کړنو او ټاکلو معيارونو تر منځ مطابقت او سمون شتون لري او که نه. په نړيواله کچه، هغه قوانين چې د سهامي شرکت د استازو دندې څيړي او تجويزوي يې، ډير وخت يوازې هغه مبهم او نا معلوم معيارونه وړانديزوي چې په سمه او منظمه توګه هغه نه شي پلې کولای. دغه مسأله په افغانستان کې هم شته، د وخت تيريدل به په خپله د دې پريکړه کوي چې د افغانستان محکمې څنګه کولای شي دغه دنده تعريف کړي. د سهامي او محدود المسووليت شرکتونو د قانون د لومړي بند ۴۷ ماده يوازې دومره روښانه کړې ده چې مديره پلاوی بايد د سهامي شرکت او پانګه اچوونکو بهترينې ګټې په پام کې ونيسي او د پانګه اچوونکو په وړاندې خپلې دندې، په ډير ځير او احتياط (due diligence) سره ترسره کړي. همدا شان د شرکت د قانون د لومړي بند ۶۶ ماده وايي، څارونکی پلاوی بايد په ښه نيت او د سهامي شرکت او پانګه اچوونکو د ګټو د راټولولو او جلبولو په موخه، خپلې دندې ترسره کړي. د شرکتونو د قانون ۶۷ ماده وايي، چې په مديرانو باندې لګول شويو تورونو او شکايتونو ته په پام، څارونکی پلاوی بايد شکايتونه په سمه او منظمه توګه وڅيړي او په هغو اړه معقول او د پام وړ کړنې ترسره کړي.

سره ددې چې د ( بهترينې ګټې)، (په کار پسې لازم غور)، ( نېکه اراده) او ( معقول ) کلمې ساده تر سترګو کيږي، خو په عمل کې د پورتنيو کلمو د ځانګړي او مشخص مفهوم په ګوته کول ډير سخت دي. اوس پوښتنه داده، که مديران او څارونکي وغواړي په خپلو دندو کې له تخلف او سرغړونې څخه ځان وساتي، کومو معيارونو ته بايد لاس واچوي؟ د دا ډول معيارونو د تسويد په وخت کې، مهم ټکی دا دی چې مديران بايد د شرکت اړوند ټولو خطرونو له منلو منع نشي. دا مسأله روښانه ده چې اړول شوی مالي زيان او تاوان نه شي کيدای د شرکت د ( بهترينو ګټو ) په مفهوم او معنی باندې تفسير او په پام کې ونيول شي، خو که شرکت هر وخت يوه اندازه پيسې او پانګه له لاسه ورکوي او په مديرانو او څارونکو باندې هغه په تحميل شي، هغه هيڅ وخت به دا ډول خطرونه ونه مني. د ( ارزښتمندې پانګه اچونې ) (value maximizing investment)په اړه زيات شمير تصميمونه چې نيول کيږي، څه نا څه له خطر څخه ډک وي او تر کومه وخته چې دغه ډول تصميمونه د ښه نيت له مخې ترسره نه شي، په هيڅ صورت پانګه اچوونکي نه غواړي څو مديران له دغه ډول خطر څخه ډک تصميمونو څخه منع کړي. د موضوع او مسألې د لا روښانتيا لپاره لاندې بيلګه په پام کې ونيسئ: نجيب الله په يوه پروژه کې ۱۰۰۰۰۰ افغانۍ پانګونه کوي. ۷۰ په سلو کې د دې چانس ليدل کيږي چې د کال په اوږدو کې به ورته ۲۰۰۰۰ افغانۍ وګټي ( يا دا چې ياد شوی مبلغ به ورته ۲۰ سلنه

ګټه لاسته راوړي )، همدا شان د دې چانس او احتمال لري چې نوموړی مبلغ به هغه ته ۲۰ سلنه یا ۲۰۰۰۰ افغانی تاوان واړوي. که د کال په اوږدو کې نوموړې پروژه نجیب الله ته ۲۰۰۰۰ تاوان واړوي، ستاسو په اند، آیا مدیران له دې لامله چې نه دي بریالي شوي او یا یې نه دي غوښتي، د شرکت د ښو ګټو د لاسته راوړولو په موخه تصمیم ونیسي، باید مجازات شي؟ که داسې بیلګې او شواهد شتون ولري چې دوی د ښه نیت له مخې کار کړی دی، نو په دې وخت کې څه باید وکړل شي؟

عقل داسې پریکړه کوي چې ټاکلې دندې، استازی دې ته اړ باسي څو په دومره غور او احتیاط سره کړنې ترسره کړي چې که یو معمولي محتاط کس د هغه په ځای وای، نو دغه کړنې به یې ترسره کړې وای. دغه خبره په دې معنی ده چې مدیران باید د خپلو کړنو په اړه پوره څیړنه وکړي څو د د ګټو او خطرونو په هکله پوره باور او اطمینان لاسته راوړي، د مثال په توګه: هغه باید د شرکت د هغو کار کوونکو چې د اړونده برخې کارپوه وي، د بهرنیو سلاکارانو او یا ټولو مسلکي سلاکارانو سره سلا او مشوره وکړي. د دغه ډیرکي په راتلونکو برخو کې به ولولی چې که یو مدیر د شرکت د ګټو سربیره، په یوه ځانې ګټه لرونکې معاامله کې ښکیل وي، باید له ځینو نورو رسمیاتو څخه پیروي او متابعت وکړي.

### د بحث وړ پوښتنې

وروسته له دې چې موږ معیاري کړنې چې استازي (مدیران، څارونکي او مامورین) باید له هغو څخه پیروي او متابعت وکړي، څنګه قضاوت کولای شي تر څو معلومه کړي چې د دندو د ترسره کولو په پړاو کې، یاد شوي استازي په ریښتیني توګه له معیارونو څخه پیروي او متابعت کړی دی او که نه؟ بیا هم هغه تیره شوې فرضي بیلګه چې موږ مخکې وړاندې کړه، په پام کې ونیسئ: هغه پروژه چې په هغو کې ۷۰٪ د ګټې او ۳۰٪ د تاوان احتمال لیدل کیږي، فرض کړی چې مدیرانو د ګټو او خطرونو په اړه د یوې معقولې او پام وړ څیړنې او څارنې تصمیم نیولی دی ( او له دې امله خپلې دندې یې په پوره غور او د ښه نیت له مخې ترسره کړې دي ). آیا محکمه په دې اړه چې مدیران وایي چو موږ د شرکت لپاره د غوره او ډیرو ګټو د لاسته راوړلو په برخه کې پوره هڅې کړې دي، تسلیم شي او یوازې په هغو ځایونو او مواردو کې لاس ووهي څو معلومه کړي چې د مدیرانو تصمیمونه له ډیرو زیانونو څخه ډک او د هغو سره مل وو او هر هوښیار او معقول کس که په ښه نیت ولاړ وای، نو دغه ډول تصمیمونه یې نه نیول؟ او یا محکمه باید خپل ځان د مدیرانو په ځای وګڼي او شته معلومات وڅیړي او پریکړه وکړي چې مدیرانو څه ډول تصمیم نیولای دی؟ خو په یاد ولرئ چې د شرکت مدیران د محکمې په پرتله له زیاتې سوادګریزې پوهې او تخصص څخه برخمن دي او کولای شي چې د شرکت په صنعت کې ډیر پیچلي لاملونه او د په خپله د شرکت اړتیاوې په ښه او مسلکي توګه معلومې کړي. اوس، یو قاضي د دې لپاره چې وکولای شي څو د یوې پانګه اچونې اهلیت او وړتیا، له تخنیکي اړخه په پوره ډول وارزوي او هغه د شرکت په اړه د ټولو شته انتخابونو سره پرتله کړي، باید د کومو شروطو او ځانګړتیاوو څښتن وي؟ که تاسو د یوه شرکت مدیر او یا هم د څارنې غړی وای، کومې لارې چارې او که تاسو یو پانګه اچوونکی وای، نو کومو لارو چارو ته به مو د لومړیتوب حق ورکړی وای؟

***د مغایرو ګټو درلودونکی مدیر خپله دنده څنګه تنظیموی***

کله چې مدیر د شرکت په یوه معلامله کې ځاني اضافي ګټه ولري، ویل کیږي چې د شرکت مدیر د بیلا بیلو (مغایرو) ګټو خاوند دی او باید له اضافي کړنلارو (کړندودونو) څخه پیروي او متابعت وکړي. د قانون د ۵۰ مادې سره سم، یو مدیر هغه وخت د مغایرو ګټو لرونکی دی چې مدیر په خپله او یا د هغه خپلوان (ښځه، مور او پلار، ورونه، خویندې، زامن، لمسیان او یا نور داسې کسان چې د هغه په کورنۍ کې ژوند کوي )، په رسمي ډول د معاملې په یوه لوري کې واقع وي او یا په معامله کې د کومې مالي ګټې څښتن وي. په داسې حالت کې قانون، د مدیر لپاره ځینې نورې دندې وضع کوي، ځکه د دې شک لیدل کیږي چې د مدیر قضاوت د کوم جوړښت له مخې صورت نیسي او احتمال لیدل کیږي چې هغه به د شرکت په لګښتونو باندې د خپلوانو مالي

ګټې تأمين کړي. نو له دې لامله، په دې وخت کې موږ زياته اړتيا لرو چې د استازو د بدو او ناسمو کړنو په اړه فکر ولرو.

سربيره پر دې، دا به هم مناسب نه وي چې له يوې معاملې څخه يوازې د دې لپاره چې د هغه مدير په کې د مغايرې ګټې څښتن دی، ځان وساتل شي. ځينې داسې معاملې هم شته چې د مغايرو ګټو د شتون سره سره، د شرکت لپاره ارزښتمند او اغيزمنې دي. نو له دې لامله، د معاملو د تمايز او بيلتيا لپاره چې آيا کومې د شرکت لپاره ګټورې او اغيزمنې او کومې د شرکت لپاره زيانمنې او بې ګټې دي، د تفکيک او جدايي لپاره يو اصل او ميکانيزم شتون ولري. قانون د ياد شوي ميکانيزم او اصل د لاسته راوړلو لپاره، هغه مدير ته چې مغايرې ګټې ولري، دنده سپارلې ده څو هغه مغايره ګټه د ټول مديره پلاوي د غړو لپاره په ګوته کړي. دغه پريکړه او مسأله په معامله کې ټولو ښکيلو لوريو ته باور او اطمينان ورکوي چې مديره پلاوی، د دې موضوع په اړه چې آيا معامله ادامه پيدا کړي او که نه، د تصميم نيولو په وخت کې پوره معلوماتو ته لاسرسی لري.

د موضوع د خپريدو او افشا څخه وروسته، که زياتره مديران، له مغايرو ګټو پرته، بيا هم معامله تأييد کړي، معامله د اعتبار وړ ده ( د قانون ۵۲ ماده ). مدير هغه وخت د مغاير او بيل لوري په توګه پيژندل کيږي چې نوموړی په معامله کې د مغاير منفعت څښتن نه وي او يا هم کومه کورنی، مالي او مسلکي اړيکه د هغه مدير سره چې د مغاير منفعت خاوند دی، و نه لري. همدا ډول که زياتره ونډه لرونکي، له مغايرو ګټو پرته، معامله تاييد او ومني، معامله د اعتبار وړ ده ( ۵۳ ماده ). ټولې ونډې مغايرت لرونکي دي، پرته له هغو ونډو چې د شرکت د مدير په تصرف او يا د هغه د اړوندو کسانو په لاس کې وي.

په ياد ولرئ کله چې د مغايرو ګټو نه لرونکو مديرانو له خوا يوه مغايره معامله تصويب شي، محکمه اوس هم کولای شي څو قرارداد منع کړي او يا د مغايرې ګټې لرونکي مدير ته تاوان پټی کړي، خو هغه مغايره معامله چې د مغايرو ګټو نه لرونکو ونډه لرونکو له خوا تصويب او منل شوې وي او محکمې په هغو اړه داسې پريکړه کړې وي چې د سهامي شرکت لپاره عادلانه وي، له دغه ډول مالي او قضايي تحريمونو څخه مصوون اوخوندي ده ( لومړی بند، ۵۱ ماده). نو له دې امله، که يو مدير وغواړي چې محکمه دې د هغه له مغايرې معاملې څخه ساتنه او حراست وکړي، مناسبه لاره به دا وي چې مدير بايد د ونډه لرونکو تأييدي او منظوري لاس ته راوړي او مطمئن شي چې د نوموړي د معاملې سموالی او صحت، د محکمې د يوې عادلانه او خپلواکې څېړنې له خوا تأييد شي.

<table><tr><td>

**د موضوع روښانتيا:** د نجيب الله د خښتو د توليد شرکت او يا د خښتو د توليد ايتلاف (brick incorporated) په دې لټه کې دی څو د بار چالانی يو مشارکت پرانيزي او د افغانستان ټولو ليرې پرتو سيمو ته خښتې ورسوي. د شرکت د مديرانو له ډلې څخه يو هم امير دی، د بار چالانی يو شرکت لري او د خښتو د توليد د شرکت اړتياوو ته ښه مناسب ځواب ويونکی دی. سره له دو چې د نوموړي شرکت د ټاکنې له لارې امير ته مالي ګټه رسيږي، خو بيا هم د حمل او نقل لپاره، د امير شرکت يو مناسب او مثبت تصميم دی، د بيلګې په ډول: د امير د بار چالانی شرکت يوازينی شرکت دی چې کولای شي د افغانستان ټولو ليرې پرتو سيمو ته ورسوي او ويې ويشي. اوس، که امير خپله ځانې ګټه د مديره پلاوي په ناسته کې کې ښکاره کړي، او د مغايرې ګټې نه لرونکي ونډه لرونکي او پانګه اچوونکي د امير معامله تأييد او ومني، نو په دې وخت امير د معتمدی په دنده کې هيڅ کمي نه ده کړې.

</td></tr></table>

***د معتمدی  د دندو انفاذ: د ونډه لرونکو د دعوې اقامه کول.***

د دې لپاره چې د معتمدی دنده ډيره اغيزمنه وي، بايد د سر غړونکو د سزا  په هکله بايدلپاره ځينې ځانګړي اصول او ميکانيزمونه شتون ولري. عادلانه سزاګانې په خپل وار، د دې لپاره په پام کې نيول شوې دي څو مديران او مامورين له سرغړونې څخه ځان وساتي. د استازو د ناسمو کړنو د مخ نيوي لپاره د سزا او مجازاتو اصل، په حقيقت کې د دعوې د اقامې معنی لري.

له شرکت څخه په نيابت، هر يو ونډه لرونکي کولای شی د مدير او مامور په وړاندې چې د معتمدۍ له دندې څخه يې سرغړونه کړې ده، خپله دعوا ثبت کړي ( ۴۸ ماده ). کوم مدير او مامور چې سهامي شرکت يا مالکانو ته زيان او تاوان اړولی دی، په حقيقت کې دغه تاوان ونډه لرونکو ته متوجه دی. نو کوم ونډه لرونکي چې د شرکت په نيابت، نه له خپله ځانه څخه، د دعوې اقامه کوي، دغه ياده شوې دعوه د ( اشتقاقي حکم غوښتنې ) (Derivative lawsuit )په نوم يادېږي، ځکه ونډه لرونکو يا سهم لرونکو ته اړول شوی تاوان د سهامي شرکت له مالکيت څخه را ولاړېږي. نو د دې لپاره چې ياد شوی کس د دعوې د اقامې وړتيا ولري، هغه بايد د سرغړونې په وخت کې حاضر وي.

د اشتقاقي دعوې له اقامې څخه وړاندې، ټول ونډه لرونکي مکلف دي څو له سهامي شرکت څخه غوښتنه وکړي چې د سر غړوونکي او متخلف په وړاندې مناسب او سم ګامونه پورته کړي. دغه ډول سم او مناسب ګامونه په لاندې ډول دي: کورني يا داخلي اصلاحي ګامونه او يا په خپله د شرکت له خوا د دعوې اقامه کول. شرکت بايد د ونډه لرونکو غوښتنو ته د ۹۰ ورځو په ترڅ کې دقيق ځواب ووايي. ستاسو په اند، د حکم غوښتنې لپاره د پورتني شرط تقييد، کومې موخې لاسته راوړلای شي؟ د دغه اړتيا او شرط د مقيدولو دليل دا دی، چې شرکت د يوه مرکز او بنسټ په توګه، له مالي زيان او تاوان څخه په مستقيمه توګه متضرر شوی دی او دا سمه او مناسبه خبر ده چې د ټولو سهم لرونکو په نيابت او استازيتوب د مالي تاوان د پټي او داسې نورو ستونزو د حل لپاره د دعوې اقامه وکړي. همدا ډول دغه شرط ( پيش شرط )، سهامي شرکتونه دې ته هڅوي څو د دعوې له اقامې وړاندې کومه چې له مالي اړخه زيات د زياتو لګښتونو سره مل ده، يو شمير داخلي اصلاحي ګامونه پورته کړي، خو که شرکت د دعوې د اقامې کلک هوډ وکړي او پرې وکړي چې دا يو مناسب عمل دی، نوموړی شرکت مجبور دی څو د دعوې د اقامې د پرانستلو او دوام لپاره کافي او پوره سرچينې ولري. خو بيا هم سهامي شرکت مکلف دی څو د دعوې له اقامې څخه وړاندې ټول سهم ونډه لرونکي په جريان کې واچوي. مديران کيدای شي د يو او بل سره ډير نږدې او صميمي وي او يو پر بل يې زړه سوزيږي، چې په پايله کې احتمال لري چې په خپلو ملګرو باندې د دعوې د اقامې ملاتړي نه وي او په آسانی سره دغه کار ته حاضر نه شي. که شرکت د مناسبو تصميمونو د نيولو په موخه د ونډه لرونکو غوښته رد کړي، نو په دې وخت کې ونډه لرونکي کولای شي د ( اشتقاقي دعوې ) د اقامه کولو لپاره نورو قضايي برخو ته رجوع وکړي.

وروستی ټکی په دې اړه دادی، چې قانون د شرکتونو لپاره اجازه ورکوي ( او په ځينې قضيو او حالاتو کې يې مکلف بولي) څو قضايي لګښتونه، چې د استازي له خوا تر قضايي تعقيب لاندې غوښتل کيږي، تر هغه وخت پورې چې نه وي معلومه شوې چې نوموړي استازي د بد او ناسم نيت له مخې عمل ترسره کړی دی، پرې کړي ( ۵۸ ماده ). قضايي لګښتونه د مدافع وکيل حق الزحمې، د د محکمې د حکم له مخې ټاکل شوی زيان جبيره کول، حکومتي جريمه، او د محکمو له پريکړو څخه پيدا کيدونکيو نور تاوانونو ته شامليږي. د دغه ډول لګښتونو د ورکړې لپاره د شرکت وعده د (غرامت د ورکړې) يا (تاوان ورکړې ) (indemnification) په نوم يادېږي. همدا ډول شرکتونه کولای شي، د استازو له درکه ( چې د رسمي صلاحيت او واک سره سم يې فعاليت کړی دی) د اړول شويو لګښتونو لپاره، بيمه واخلي. په دې اړه تاسې شايد تعجب وکړئ چې شرکتونه ولې مکلف دي څو د خپلو استازيو لپاره تاوان ور کړي، په داسې حال کې چې ( د غرامت او تاوان ورکړه ) ناسم او بدرفتاره استازی له ځاني مسووليت او التزام څخه بخښي او په دې توګه، د هغه د معتمدۍ د دندې لارې چارې ضعيفوي او له بله پلوه،ونډه لرونکي دې ته اړ باسي څو د استازيتوب د اړول شوی لګښتونو د څيړنې او کتنې لپاره، د محکمې د حکم غوښتنه او يا د دعوې اقامه وکړي؟ بيا هم د يادونې وړ ده، چې تاوان اچونه د دې واقعيت او حقيقت سره، چې قانون غواړي د دغه اصل له لارې مديران او مامورين له خطرناکو کړنو او تصميمونو څخه منعه او د ښو او اغيزمنو کړنو او تصميمونه لپاره وهڅوي، سمون لري.

هر کله چې مديران د تصميم نيولو په وخت کې د مسووليت او التزام سره مخامخ شي، دوی له خطر څخه غواړي ځان ليرې وساتي او يا له دې څخه هم سخت، د شرکت د مدير په توګه، د دندې له سرته رسولو څخه تيښته غوره کوي.

**بحث: د معتمدۍ د دندو ارزونه او د ونډه لرونکو له لوري د دعوا اقامه**

ستاسو په اند، د ونډه لرونکو له خوا، د محکمې د پريکړې ( د دعوې د اقامې ) غوښتنه څنګه کولای شي د معتمدۍ د دندو د سرته رسولو او د استازيتوب (نمايندګی) د لګښتونو د کچې په راټيټولو په برخه کې اغيز ولري؟ د دغې موضوع په اړه بيلا بيلې نظريې شتون لري. موږ د ونډه لرونکو له خوا د دعوې د اقامې ګټې په مخکې بحثونو کې وڅېړلې، خو په دغه برخه کې، ځينې هغه دليلونه وړاندې کوو چې وايي د ونډه لرونکي له خوا د دعوې اقامه له کمې ګټې او اغيزې څخه برخمنه ده.

لومړی، ونډه لرونکي په يوازيتوب سره امکان لري چې پوره او کافي پيسې ونه لري څو وکولای شي د شرکت په مديرانو او مامورينو باندې خپله دعوا درج کړي. نو د دې لپاره چې نوموړی وکولای شي خپله دعوا اقامه کړي، د يوه ونډه لرونکي ګټه بايد د قضايي تعقيب له لګښتونو څخه زياته وي ( هغه که د پولي خساراتو لاسته راوړل وي، يا د قرارداد فسخه وي او يا هم د سرغړوونکي استازي له دندې څخه ګوښه کول وي.

دويم، که سهم لرونکي وکولای شي د دعوې اقامه وکړي، بيا هم ناسم او سرغړوونکی مدير يا مامور، تاوان ورکړې او بيمې ته په پام، په آسانۍ سره کولای شي د ځاني مسووليت او التزام له قيد څخه وتښتي. څو چې سرغړوونکي ونډه لرونکي د دعوې د اقامې لپاره پيسې نه وي ورکړې، سهامي شرکت مجبوره دی، څو د دعوې د اقامې لپاره ټول تاوانونه وګالي. همدا ډول سهامي شرکت امکان لري په دې باندې مکلف شي څو د استازي ټول قضايي لګښتونه پرې کړي. که مديران او مامورين په دې پوه شي چې له دندې څخه د سرغړونې په صورت کې د الزام او مسووليت د حکم سره نه مخامخ کيږي، نو دوی د دندې د ترسره کولو په وخت کې، منع کوونکو لاملونو ته پاملرنه نه کوي. سربيره پر دې، کوم لګښتونه چې د سهامي شرکتونو له خوا د دغه شان دعوو د اقامې لپاره ورکول کيږي، بالآخره بايد د ونډه لرونکو له خوا پرې شي. يوه مسأله چې د سهم لرونکو لپاره ډير د پام وړ او عجيبه او د دايرې په ډول په شرکت باندې راګرځېدونکي ده، هغه دا ده چې دوی بيا هم مجبور او مکلف دي څو هغه تاوانونه چې د محکمې د پرې کړې پر اساس پر سرغړوونکو استازو باندې ايښودل کيږي، پرې کړي!

د دغه ټولو نيوکو سره سره، د ونډه لرونکي له خوا د دعوې اقامه ځينې ګټې هم له ځانه سره لرلې دي: دغه مسأله د شرکت د استازو د ناسمو کړنو د پيژندلو لپاره يوه ډيره ښه او رسمي لاره شميرل کيږي چې بالآخره د استازي په عزل او له دفتر څخه د ايستلو لامل ګرځي. همدا ډول، د دعوې اقامه کولای شي د تيرو تاوانونو د پټې لپاره، چې د ونډه لرونکو له خوا ګالل شوي دي، لارې چارې برابرې کړي، ( سره ددې چې نه شي کولای ټول تير تاوانونه پټې کړي، ځکه د دعوې د اقامې او پرمخ بيولو لپاره په خپله ونډه لرونکي پيسې پرې کوي) او همدا ډول د دعوې اقامه، پر استازيتوب ( نمايندګی) چې د بد نيت له مخې يې فعاليتونه ترسره کړي دي، ځينې ځاني مالي مسووليتونه او الزامات وضع کوي. بالآخره، که چيرې هيڅ دليل هم شتون ونه لري او حتی که استازي د انرژۍ او وخت او په داسې نورو لګښتونو چې د شرکت له خوا پرې کيږي هيڅ باک ونه لري، پر مديرانو او مامورينو د دعوې د اقامې يو معقول او منطقي دليل دا دی چې دوی د دغه ګام په واسطه، مديران او مامورين له راتلونکو ناسمو کړنو او سرغړونو څخه منع کوي.

د دعوې د اقامې د شروطو او وړتيا په اړه له بحث څخه جدا بايد ووايو، چې د سيمې د هيوادونو سره په پرتله، افغانستان د پانګه اچوونکو په ساتنه او حراست کې په ډيره ټيټه درجه کې قرار لري. د هغې سروې په اساس چې په ۲۰۰۹ ز کال کې د نړيوال بانك له خوا ترسره شوې او په هغو کې له پانګه اچوونکو څخه د بيلا بيلو هيوادونو د ژغورنې او ساتنې ځانګړتياوې را ټولې شوې دي، د مديرانو له خوا د مغايرې ګټې د اجباري اعلام محدودې (چې په هغو کې مديران په خپله سهامي شرکتونو ته د اړول شوي تاوانونو مسوول او ملزم دي) او هغه محدودې ته چې په هغو کې ونډه لرونکي کولای شي بيلا بيلې او مغايرې معاملې فسخ او په آسانۍ سره په مديرانو باندې د دعوې اقامې آسانتياوو په نظر کې نيولو سره، په ۲۰۰۷، ۲۰۰۸ او ۲۰۰۹ زو کلنو کې،

افغانستان د لسو ټولو نمرو څخه د ۷،۰ نمرو په ګټلو سره، د ۱۸۱ هیوادونو په قطار کې چې اقتصاد یې څېړل شوی دی، وروستنی مقام خپل کړی دی.




Note: The higher the score, the greater the investor protection.

سرچینه: نړیوال بانک؛ د سوداګرۍ پرمختیا: د افغانستان اقتصادي پروفایل، خپور: ۲۰۰۹ ز کال.

## د سهامي شرکت د چارو واکداري کول

په دغه څرښنده (فرعي) برخه کې، موږ د مدیرانو، څارونکو او مامورینو چې د ونډه لرونکو د استازي په توګه دنده سرته رسوي، د کنترول او څارنې لپاره دوې ځانګړې او مشخصې لارې په پام کې نیولې دي: د امانتدارۍ د دندو ایجاد او دونډه لرونکو رأیه اچونه. د سهامي شرکت د تصاحب د استازیتوب (نمایندګۍ) (corporate takeover) د لګښتونو له وروستنۍ څېړنې او بررسۍ څخه شمیرل کیږي. له نظري پلوه کولای شو ووایو، هر کله چې د یوه شرکت مدیران او مامورین یو ناسم عمل ترسره کړي، د شرکت د ارزښت کچه ټیټوي. په دې وخت کې، د شرکت د کنترول په موخه درېیم لوری کولای شي په شرکت کې کافي او پوره برخې ترلاسه او ناسم او بد رفتاره مدیران او مامورین له دندې څخه ګوښه او په ځای نوي کسان ځای پر ځای کړي. د لومړي مدیر په ځای د دویم مدیر ځای په ځای کول باید د شرکت ارزښت لوړ شي، شرکت وکولای شي د درېیم لوري ( د برخو حاصلوونکي) لپاره ښې ګټې وزیروي او د ټولو ونډه لرونکو د هوساینې احتمال پیاوړی کړي.

**د موضوع روښانتیا:** په مارکیټ کې د نجیب الله د خښتو د تولیدي شرکت مدیره پلاوی، د شرکت د سرچینو د ضیاع او د

مديريتي تصميم نيولو له امله، په ډيره کمزورۍ مشهور دی. د نوموړي شرکت مديريت دومره ضعيف او خراب دی چې شرکت د تيرو درېيو پر له پسې کلونو په ترڅ کې، ډيرې پيسې له لاسه ورکړې دي، دا په داسې حال کې، چې په مارکيټ کې د ښتو د اخستلو غوښتنه او تقاضا ورځ په ورځ پورته درومي. اوس، د نجيب الله د شرکت د هرې ونډې ارزښت ۱۰۰ افغانيو ته رسيږي. د مثال په ډول د ښتو يو بل شرکت د افغانستان د ښتو سهامي شرکت (ABC) په نوم، يقين لري چې د نجيب الله د ښتو شرکت تر يوه پياوړي مديريت لاندې په ځو وارې پراخه شوی دی، نو له دې لامله، د افغانستان د ښتو سهامي شرکت د دغه شرکت د ونډو د اخستلو لپاره، د هرې برخې لپاره ۱۱۰ افغانۍ وړاندې کوي. د نجيب الله شرکت د ونډه لرونکو يوه ځانګړې او فوق العاده ناسته دايروي ځو ياد شوی وړانديز وڅيړي. دوی د شرکت د ادغام په تأييد او تصويب باندې رأيه ورکوي او د شرکت د ايتلافي جوړښت او تشکيل مواد د هغه سره سم تعديلوي. اوس، د افغانستان د ښتو سهامي شرکت (ABC) د نوي مالك په توګه، د لومړي شرکت مديره پلاوی د نويو استازو سره ځای پر ځای کوي او په پايله کې، د يوه کال په اوږدو کې شرکت زياتې ګټې ترلاسه کوي او همدا شان د شرکت د هرې ونډې ارزښت ۲۰۰ افغانيو ته پورته کيږي.

سربيره پر دې، په عمل کې لږ تر لږه دوې ستونزې شتون لري چې د سهامي شرکت تصاحب، واك او اغيزمنتوب کمزوری کوي: لومړی، د يوه نوي شرکت له خوا د يوه سهامي شرکت د تصاحب لوژستيکي لګښتونه ډير زيات او د پام وړ دي. په دې وخت کې، د استازو (مديرانو، مامورينو او.....) د ناسمو کړنو ميزان او سختې، بايد دومره بحراني او جدي وي چې د سهامي شرکت د تصاحب او واك ارزښت ولري. نو له دې امله، د استازو ناسمې کړنې سره له دې چې اوس هم د شرکت لپاره تاواني دي، خو که په لومړي پړاو کې له نومړيو ځانګړتياوو سره سمون ونه لري ( يا له اندازې زياتې بحراني وي)، په هيڅ صورت لازمه او مناسبه نه ده چې ( د سهامي شرکت تصاحب، واك او سپارل) د لګښت له لارې کنترول او تر څيړنې لاندې ونيول شي.

دويم: تصاحب او يا په بله معنی، سپارل له دوو لارو څخه صورت نيولای شي. که عهده لرونکي مديران د شرکت له سپارلو څخه ملاتړ څرګند کړي، دغه ډول تصرف او سپارل د ( دوستانه سپارلو) په نوم ياديږي. هيڅ د تعجب وړ خبره نه ده که ژمن مديران او مامورين هڅه وکړي څو د يوه خصمانه تصرف او سپارولو په وړاندې مقاومت وکړي. حتی که تصرف او سپارل د ونډه لرونکو تأييد او منظورۍ ته اړتيا ولري او مديرانو ته د دې فرصت نه وي څو وروستی خبره دوی وکړي، خو سره له دې، د مديرانو مقاومت زيات ارزښت لري، ځکه ونډه لرونکي زياتره وخت د خپل شرکت د مديرانو لارښوونې ته تسليميږي. مديران زياتره وخت د شرکت، د هغه کارخانې او سوداګرۍ په اړه ښه او کره معلومات په واك کې لري او پوهيږي چې ديوه سهامي شرکت له خوا د شرکت تصرف او تصاحب، په راتلونکې کې په شرکت باندې کومې اغيزې پرې باسي. دغه ډول معلومات د ( د عدم تقارن معلوماتو) په نوم ياديږي.

کوم دفاعي ګامونه چې د مديرانو له خوا اخستل کيږي ( په داسې حالت کې چې موخه يې د لوړ نرخ ترلاسه کول، يا د هغو ونډه لرونکو له حقوقو څخه ساتنه چې په جريان کې نه دي او يا هم د شرکت د اوږد مهاله ارزښتونو تأمين وي)، د ونډه لرونکو لپاره يو مثبت او اغيزمن مقاومت شميرل کيږي. خو ځينې وخت دونډه لرونکو له اعتبار څخه په ګټه اخستو، د خپلو ځاني ګټو د لاسته راوړلو لپاره، بده ګټه اخلي. د بيلګې په توګه: مديران غواړي څو خپلې دندې په هره بيه چې وي، پر ونډه لرونکو باندې د هر ډول زيان او تاوان د راوستلو له لارې، وساتي. نو په داسې وخت کې مديران شايد د شرکت د تصرف او سپارلو په وړاندې منفي مقاومت څرګند کړي، ځکه دوی پوهيږي چې په دې وخت کې د دوی پر ځای نور نوي کسان ځای پر ځای کيږي. مديران د دې لپاره چې د شرکت له تصرف او سپارلو څخه مخه ونيسي، احتمال لري چې شرکت د نوي داوطلب په نظر، بې ګټې او کم ارزښته څرګند کړي. ځينې وخت کله چې مديران د شرکت د تصرف او سپارلو د مسألې سره مخامخ کيږي، د شرکت پورونه ډير معرفي کوي. پورونه، شرکت د نوي داوطلب لپاره بې ارزښته او ناجاذبه په ګوته کوي، ځکه داسې حالت د زياتو خطرونو لامل ګرځي، هغه خطرونه چې په څرښنده توګه (ضمني) داسې په ګوته کوي چې شرکت به په ډير نږدې وخت کې د پورونو په ورکړې ناکام او بې توانه شي او په پايله کې به د بې خرڅۍ (افلاس) سره لاس او ګريوان شي. يا احتمال لري چې

مديران يو نوی اخستونکی چې د شرکت لپاره ټيټ نرخ وړاندې کوي پيدا کړي او په بدله کې مديرانو ته وعده وسپاري چې دوی به بياهم په خپلو دندو پاتې کيږي.

بې له شکه، د مديرانو دغه ډول ګامونه به د معتمدۍ د دندو د قانون له خوا تر څيړنې او بررسۍ لاندې نيول کيږي. له نظري اړخه، د معتمدۍ دندې بايد مديران او مامورين له هغو هڅو او کوښښونو څخه چې د ونډه لرونکو په ګټه نه وي، منع کړي، خو په عمل کې، لکه څنګه مو چې وړاندې ورباندې بحث وکړ، د معتمدۍ د دندو ترسره کول يو ستونزمن کار دی او له دې امله، دغه دندې د تل لپاره د مخنيوي يوه اغيزمنه لاره نه ده.

په افغانستان کې لا هم د شرکتونو د چارو د واکداری او سمون موضوع او مسايلو د پام وړ پرمختګ نه دی کړی او يو ليکل شوی (مدون) شکل يې نه دی خپل کړی. بيا هم موږ بايد ووينو او وڅيړو چې د دغه ډول دفاعيو په وړاندې ( سره له دو چې د شرکت د تصرف او سپارلو په وړاندې زيات او پيچلي تکتيکونه منځ ته راوړي) محکمو څومره صبر او حوصله کړې ده..

**د بحث وړ پوښتنې**

د پورته درېيو يادو شويو لارو چارو چې د ونډه لرونکو له رأيې اچولو، د معتمدۍ له دندو او د سهامي شرکتونو له تصرف/سپارلو څخه عبارت دي، د موخو او د ضعف ټکيو ته په پام سره، ستاسو په اند، د پورته يادو شوی لارو چارو څخه کومه يوه، د ونډه لرونکو د ګټو د ساتنې او حراست لپاره ګټوره او اغيزمنه ده او کولای شي د استازيتوب (نمايندګۍ) د لګښتونو کچه را ټيټه کړي؟ آيا تاسو کومې نورې لارې چارې پيدا کولای شی چې د پورته يادو شويو ميکانيزمونو اغيزمنتوب او ګټه زياته او پراخه کړي؟

## ج: انحلال

سربيره پر دې چې د پرانستلو په وخت کې د سهامي شرکتونو عمر دايمي تعريف شوی دی، خو بيا هم ونډه لرونکي کولای شي، وروسته له دې چې خپلو موخو ته ورسيږي او يا داسې پړاو ته ورسيږي چې شرکت نور نه شي کولای د ونډه لرونکو ګټې لاسته راوړي، په داوطلبانه ډول منحل کړي. د يوه سهامي شرکت د انحلال وړانديز بايد زياتره مديران تأييد او منظور کړي او له هغې وروسته، سهم لرونکي د وړانديز په اړه رأيه اچونه ترسره کړي ( ۱۰۳ ماده ).

د داوطلبانه انحلال سربيره، يوه سوداګريزه محکمه کولای شي، د ځينو ځانګړو شروطو له مخې يو سهامي شرکت منحل اعلان کړي (۱۰۷مادې ته دې رجوع وشي ). که سهامي شرکت د ايتلافي موافقه ليک مواد او شروط په فريب سره لاسته راوړي وي او يا نوموړی شرکت له خپل واک او صلاحيت څخه تجاوز وکړي، د اقتصاد او صنايعو وزارت کولای شي د ياد شوي سهامي شرکت د لغوې او انحلال غوښتونکی شي. يو ونډه لرونکي کولای شي په لاندې حالتونو کې د سهامي شرکت د انحلال او لغوې غوښتنه وکړي: په هغه صورت کې چې مديرانو درغلي او غير قانوني کړنې ترسره کړې وي، هر کله چې سهم لرونکي د دوو ناستو په ترڅ کې ونه شي کولای د شرکت مديران وټاکي او يا هم مديران په خپلو منځو کې په شخړه کې ښکيل او په پايله کې ونډه لرونکي او شرکت د يوه داسې تاوان شاهد واوسي چې بيا رغاونه يې ستونزمنه وي. بالآخره، د سهامي شرکت پور ورکوونکي هم که چيرې شرکت د زياتو پيسو د پور غوښتونکی وي او په پوره ډول ناکام (ورشکسته) شوی وي، د ياد شوي شرکت د انحلال غوښتنه وکړي.

## ۷ –نتيج ګيري: د شراکتونو د قانون ارزونه

د مشارکت قانون او د محدود المسوولیت او سهامي شرکتونو قانون چې دواړه د ( شرکتونو د قانون) په نوم یادیږي، د بهرنیو حقوق پوهانو له خوا لیکل شوی دی چې په افغانستان کې یې زیات وخت نه دی تیر کړی او کم معلومات یې د افغانستان د خلکو او سوداګری له خوا راټول او پیدا شوي دي. دغه قانون لږ تر لږه د یوه بهرني حکومتي بنسټ او مرکز له خوا تر نیوکې لاندې نیول شوی دی، ځکه هغه وایي چې دغه قانون پرته له دې چې په افغانستان کې پوره لاسته راوړنې او موندنې ولري، لیکل (تدوین) شوی دی. سربیره پر دې، د دغه قانون ځینې احکام له اړتیا پرته ډیر پیچلي او مغلق دي. د پورته یاد شوي قانون زیاتره احکام، سره له دې چې په نړیوال کچه یې زیاتې او د پام وړ لاسته راوړنې لرلې دي ( چې د بهرنی پانګې اچونې لپاره د هڅو او تشویق لارې برابرې کړې دي )، خو احتمال لري چې دغه قانون ونه شي کولای څو په افغانستان کې تر فرد پورې منحصرو اړتیاوو او شروطو ته ځواب ووایي، د زیاتو معلوماتو لپاره لاندې څیړنې او بحث په پام کې ونیسئ.

**تبصره: د افغانستان د شرکتونو د قانون ښېګڼې او نیمګړتیاوې**

سرچینه: USAID؛ د کړنو لپاره د افغانستان اجنډا، خپرول، 2007 ز کال

د افغانستان د شرکتونو د قانون د سهامي شرکتونو برخه، هغه شرکتي مدیریتي احکام، چې ځانګړی امریکایي ډول لري او د امریکې د متحده ایالاتو د دلاور ایالت په قانون او د سوداګریز ماډل د سهامي شرکت په لایحه (ABA) کې شتون لري، معرفي کوي. دغه احکام د هغو احکامو ځای نیسي چې د افغانستان د شرکتونو په مخکیني قانون کې موجود او د دغه خاورې زیات شمیر موجوده واقعیتونه یې بیانول ( او په خپل زیات کې ډیر پیاوړی او محکم وو). د نوي قانون احکام، د هغو معاملو په اړه چې په هغو کې متغایرې (متضاد) ګټې شتون لري، یو ځانګړی پیش شرط لري او نوموړی پیش شرط وایي په هغه معامله کې چې متضادې ګټې او اړیکې شتون لري، مخکې له دې چې د سهامي شرکت او یوه مدیر ترمنځ پلي شي، باید د هغو مدیرانو او ونډه لرونکو تأیید او منظوري ترلاسه شي چې متضادې ګټې نه لري او یا ثابته کړي چې د سهامي شرکت لپاره نوموړې معاملې ګټورې او اغیزمنې دي. (۶۶- ۶۹ مادې)، د ونډه لرونکو او مدیرانو له خوا باید ثابته شي چې مدیرانو ته دنده سپارل شوې ده څو د ریښتینتوب او احتیاط له مخې خپلې کړنې ترسره کړي. باید ووایو چې دغه موضوع د اامریکا په یوه ځانګړې ژبنیز ډول باندې عبارت بندي شوې او همدا اوس د امریکې د متحده ایالتونو په محکمو کې، په ځانګړې ډول د دلاور په ایالت کې تر تفسیر او تعبیر لاندې دي (۶۳ماده) او همدا ډول باید ثابته شي چې د مدیرانو، مامورینو او څارونکو لپاره، هغه وخت چې د سهم لرونکو له خوا تر قانوني تعقیب لاندې نیول کیږي، د زیان ورکړه (تاوان پرې کول، د ځاني حقوقي حق الزحمې په ګډون) ولګوي (۴۷ماده). د مدیر د ناسمو کړنو په وړاندې د اشتقاقي حکم غوښتنې په اړه ( چې د شرکت په نوم او یا له شرکت څخه په نیابت د یوه ونډه لرونکي له خوا اقامه کیږي) د نوي قانون حکمونه، د مخکیني قانون په پرتله(۶۴ماده) د مفصلو پیش شرطونو لرونکي دي. سربیره پر دې، نوی قانون وایي، هر کله چې د مدیرانو له خوا، ونډه لرونکو ته د برخو د ګټو د ویشلو تصمیمونه، د شرکت د ماتې (افلاس/ورشکستګی) لامل وګرځي، شرکت کولای شي مدیران د خپلو تصمیمونو د پایلو لپاره مسوول او ملزم وبولي (۶۵ماده)، ولې مخکینی قانون دغه ډول احکام نه لري.

سره له دې، په نوي قانون کې ځینې داسې حکمونه شته چې د سهامي شرکتونو د نړیوال مدیریت د اصولو او کړنلارو سره همغږي نه دي او دغه مسأله کولای شي له نویو پانګه اچونو څخه ( په ځانګړې ډول نړیوالو او بهرنیو پانګوونو کې) مخنیوی وکړي. د دغه قانون ځینې احکام سهامي شرکتونو ته اجازه ورکوي څو وکولای شي دخپلو ونډو او برخو په آزادانه لیږد باندې محدودیتونه او قیودات ولګوي ( دغه محدودیت په هغه شرکتونو کې چې زیات سهم لرونکي ولري، مناسب نه دی) سهامي شرکت ته د دغې اجازې ورکړه چې کولای شي په رأیو چې یو ونډه لرونکي یې د ونډه لرونکو په ناسته کې وړاندې کوي، محدودیت ولګوي، د یوه برخه+ یوه رأیه د اصل سره په ټکر کې لویږي.....سهامي شرکت ته د دې اجازه، چې د مدیر د ټاکنې په وخت کې له ونډه لرونکي څخه د علت پوښتنه وکړي او مدیره پلاوي ته د دې اجازه چې د تصمیم نیولو خپل واک او

صلاحيت اداري کميټو ته وسپاري.

**د بحث وړ پوښتنې**

څرنګه چې تاسو اوس د مشارکتونو، سهامي او محدود المسووليت قوانينو د ځينو مهمو او کليدي حکمونو سره بلدتيا پيدا کړې ده، آيا د پورته يادو شويو نظرياتو سره موافقه لرئ؟ يو له تجربو څخه چې د کورنيو د غړو د خپلوانو په اړه يې لرئ، په پام کې ونيسئ. که د نړيوالو حقوقي او افغاني سنتي اصولو ترمنځ شخړه رامنځ ته شي، کوم يوه ته يې ترجيح ورکول کيږي؟

## ۸ – د مهارتونو عملي کارول: کورنۍ کار

### 1. تحليلي کورنۍ دنده

د خپلوانو له ډلې او يا د کورنۍ له غړو څخه داسې يو کس پيدا کړئ چې سوداګري کوي. که د خپلوانو له ډلې او يا د کورنۍ له غړو څخه داسې څوک پيدا نه شي چې سوداګري کوي، هڅه وکړئ لاندې معلومات له يوه دولتي/عامه شرکت څخه ترلاسه کړئ.

- آيا د پام وړ شرکت په سمه توګه راجستر شوی دی؟
- آيا شرکت د ايتلافي جوړښتونو مواد لري؟
- آيا دغه شرکت کومې اصولپاڼې لري؟
- دوې پاڼې مقاله وليکئ او په هغو کې ستاسو د پام وړ شرکت مديريتي احکام او ستونزې تر څېړنې لاندې ونيسئ.

### 2. د کورنۍ دندې لپاره تياري

د يوه شرکت په اړه خپل نظريات او وړانديزونه تيار کړئ!

- ستاسو د شرکت لپاره، ستاسو په اند کوم سوداګريز شکل اغيزمن او ګټور دی، او په کوم دليل؟
- فرض کړئ کومه سوداګري چې تاسو پيلوئ، د مشارکت په شکل به وي. د مشارکت موافقه ليک لپاره تياري ټولو هغه اړين او داسې نور احکام چې ستاسو په اند د شرکت لپاره ګټور دي، شامليږي.
- اوس داسې فرض کړئ چې ستاسو شرکت د سهامي شرکت له ډول څخه دی. د ايتلافي شرکت لومړني احکام ( Articles of incorporation) او ټول هغه احکام چې ستاسو په اند د سهامي شرکت لپاره ګټور تماميږي، تهيه او تدوين کړئ.
- د سهامي شرکت لپاره يوڅو ګټورې اصولپاڼې (bylaws) تهيه کړئ. د يو څو دقيقو لپاره د شرکت د ادارې او مديريت په اړه فکر وکړئ.

### 3. تمثيل

پنځه تنه له ټولګي والو څخه په تصادفي توګه د سهامي شرکت د مديره پلاوي په توګه وټاکئ. نور ټول ټولګيوال به د ونډه لرونکو/ په توګه فعاليت کوي. داسې وګڼئ چې ستاسو شرکت د سمنټو د توليد شرکت دی. پلاوی لاندې موضوعات په پام کې لري څو د ونډه لرونکو په راتلونکې ناسته کې ورباندې خبرې اترې وشي:

- آيا په هرات کې دغه شرکت يوه نوې کارخانه پرانيزي؟
- آيا شرکت هغه وړانديز چې د سمنټو د سيال شرکت له خوا د شرکت د ادغام په اړه ترسره شوی دی، ومني؟

- د نویو مدیرانو ټاکنه

الف. د موضوعاتو له ډلې څخه کومه یوه د ,ونډه لرونکو رأیو ته اړتیا لري؟

ب. درسي ټولګی باید د یوې ناستې جریان تمثیل کړي، خو لاندې موضوعات باید ورسره په پام کې ونیسي:

- د ونډه لرونکو پر ځای، تاسو غواړئ کوم ډول معلومات ولری؟ د پورتنیو موضوعاتو(د ناستې اجنډا) په اړه، کومې پوښتنې غواړی له مدیره پلاوي څخه وکړی؟
- د مدیره پلاوي پر ځای، دغو تیرو شویو پوښتنو ته څه ډول ځوابونه وړاندې کوی؟ په خپلواک او آزادانه ډول فکر وکړئ او هغه اړین معلومات او اسناد چې د دغو پوښتنو د ځواب لپاره اړین دي، برابر کړئ.

ج. د ناستې په ختم کې، ونډه لرونکی باید د هغو موضوعاتو په اړه چې د رأیې اچونې اړتیا لري، رأیه اچونه وکړي. فرض کړئ چې شرکت د (نصاب له حد، قصور [Default quorum] او د بریالیتوب له قوانینو [victory rules] څخه ګټه پورته کوي، ستاسو په اند کومه یوه موضوع مو د پوره رأیو د تصویب لپاره په لاس راوړي ده؟

ټوکې او ټکالې هم ولری!

## اصطلاحات

**ریښتینی واک Actual Authority**

هر کله چې اصلي مالک/ سوداګر [principal] د استازي لپاره واک سپاري ځو یوه ځانګړې معامله پر مخ بوزي، دغه ډول صلاحیت او واک د ریښتیني واک په نوم یادیږي.

**د استازیتوب (نمایندګی) لګښتAgency Cost**

هر ډول لګښت چې د استازي له خوا د مالک/سوداګر د پانګې په اړه د احتیاطي او داسې نورو تصمیمونو پر سر راځي، د استازیتوب (نمایندګی) د لګښتونو په نوم یادیږي.

**استازیAgent**

هغه کس چې د سوداګر سره د هغه تر کنټرول لاندې د نیابت قرارداد کوي، استازی بلل کیږي.

**ظاهري او باندینی واک Appearent Authority**

که چیرې یو استازی د معاملې د سرته رسولو واقعي واک او صلاحیت ونه لري، ولې د اصلي سوداګر/مالک کړنې د معاملې دریم لوري ته داسې څرګنده کړي چې استازي ته د معاملې د سرته رسولو واک ورکړل شوی دی او د همدغه ګومان او فرضیې له مخې د هغه سره معامله ترسره کوي، د استازي دغه ډول واک ته ظاهري واک او صلاحیت ویل کیږي.

**شتتمني (دارایي) Asset**

هر هغه شی چې مثبت ارزښت ولري او د کس او یا شرکت په تملک کې قرار ولري (لکه ساختمان، توکي، د شرکت شته، تکنالوژي او نغدې پیسې ) د شتو (دارایی) په نوم یادیږي.

**پانګه Capital**

هغه مالي ثروت ته ویل کیږي چې د یوې سوداګرۍ د پیل او تداوم لپاره ورڅخه ګټه اخستل کیږي، د پانګې په نوم یادیږي.

**سهامي شرکت Corporation**

هغه سوداګریز بنسټ او مرکز ته ویل کیږي چې پانګه یې معلومه او په برخو باندې ویشل شوی وي او په هغه کې هر یو ونډه لرونکی د ونډې په اندازه مسوولیت ولري.

**پور ورکوونکي Creditor**

هغه بنسټ ته ویل کیږي چې د بل بنسټ او مرکز لپاره پور ورکوي.

**پورDebt**

هغه مکلفیت ته ویل کیږي چې باید پرې شي او یا هم باید په کوم یو بل شکل دریم لوري ته ورکړل شي.

**د ونډو ګټه Dividened**

ونډه لرونکو ته د شرکت د ګټو د یوې بخې ویشلو ته، د ونډو ګټه ویل کیږي.

**مُعتمد Fiduciary**

هغه کس ته ویل کیږي چې د استازیتوب (نمایندګی) اړیکو اړوند ټولو موضوعاتو کې په ریښتیني ډول صادق او د مالک او سوداګر د ګټو د لاسته راوړلو په هڅه کې وي.

**د معتمدۍ دنده Fiduciary Duty**

د اعتماد او اعتقاد یوه اړیکه ده چې د دوو یا ډیرو کسانو تر منځ پیدا کیږي. هیله کیږي چې معتمد به د هغه کس په وړاندې چې نوموړي معتمد ته یې دنده سپارلې ده، صادق او ریښتینی وي. معتمد باید خپلې ګټې له دندې څخه مهمې او غوره ونه بولي او له دندې (امانتداری) څخه بده ګټه پورته نه کړي، مګر دا چې سوداګر خپله رضایت او خوښه څرګند کړي.

**عام مشارکت General Partnership**

هغو سوداګریز بنسټ او مرکز ته ویل کیږي چې په هغو کې مالکان د مشارکت ګټې په خپلو منځو کې ویشي او هر یو د دوی د مشارکت د ګټو، پورونو او تاوانونو په وړاندې مسوول وي.

**نېکه اراده Good will**

له دارایی او پانګې څخه د شرکت لوړ ارزښت (یعنې هغه احترام چې شرکت یې د مشترکینو په نزد لري) ته ویل کیږي.

**محجور/ بې خرڅه (مفلس)Insolvent**

کله چې د شرکت پورونه له دارایۍ څخه واوړي، په دې وخت کې ورته محجور یا مفلس شرکت ویل کیږي.

**زیان ورکوړه ( د غرامت یا تاوان پرې کول) Indemnification**

هغه تضمین ته ویل کیږي که چیرې د شرکت یو غړی تاوان وکړي، شرکت به د هغه پورونه او لګښتونه پرې کوي.

**التزام او مسؤلیتLiabilty**

له دوو شیانو څخه عبارت دي ۱- د پورونو د ورکړې لپاره مسوولیت ۲- پورونه او داسې نور مکلفیتونه چې باید د هغو په خاطر، دریېم لوري ته پیسې ورکړل شي.

**محدود المسوولیت شرکت LLC**

هغه سوداګریز بنسټ او مرکز ته ویل کیږي چې د هغه مالکان (برخه لرونکي) د پورونو د ورکړې په خاطر د محدود مسوولیت او التزام خاوند وي. د ونډه لرونکو مسوولیت او التزام د هغو مبلغ په اندازه دی چې ونډه لرونکي او شرکت ورباندې موافقه کړې وي.

**مشارکPartnership**

د عام او ځانګړي (خاص) مشارکت تعریفونو ته دې مراجعه وشي.

**سوداګر/ اصلي مالک Priciple**

هغه کس ته ویل کیږي چې استازي ته واک ورکوي څو د نوموړي له څارنې او کنترول لاندې، د سوداګریزو چارو په برخه کې نیابت وکړي.

**ونډه (سهم) Share**

په شرکت کې د مالکیت واحد، د ونډې په نوم یادیږي.

**ونډه لرونکي (سهم لرونکی) Shareholder**

هغه کس ته ویل کیږي چې په شرکت کې برخه او سهم ولري او له دې امله د شرکت د نسبي مالك په توګه یادیږي.

**فردي او یوازینی مالکیت Sole Proprietorship**

هغه سوداګریز بنسټ ته ویل کیږي چې د یوه کس په تملك کې قرار ولري.

**ځانګړی (خاص) مشارکت ( مشارکت محدود المسؤلیت) Special (or limited) Partnership** هغه سوداګریز بنسټ ته ویل کیږي چې په هغو کې سهم لرونکي دشرکت د پورونو او تاوانونو لپاره محدود مسوولیت لري. د هر یوه مالك مسوولیت د هغو مبلغ په اندازه دی چې په مشارکت کې یې پانګونه کړې ده.

# اخځليك


د افغانستان د سوداګرۍ قانون، د ۱۹۵۵ ز کال مصوبه

د افغانستان د محدود المسوولیت او سهامي شرکتونو قانون، د ۲۰۰۷ ز کال مصوبه.

د افغانستان د پانګه اچونې قانون، د خپریدو نیټه، ۲۰۰۵ ز کال.

د افغانستان د مشارکت قانون، د خپریدو نیټه ۲۰۰۷ ز کال.

ویلیم الن، ری نی یر کاراک من او ګوهان سوبرامانیان؛ د سوداګریزو جوړښتونو قانون په اړه کره کتنه او مسایل، د ۲۰۰۵ ز کال خپرونه، دویم چاپ، ۲۰۰۷ ز کال.

د امریکې د حقوقو انستیتیوت؛ د قانون بیا لیکنه: دریيمه برخه- د استازیتوب (نمایندګۍ) قانون، د خپریدو نیټه، ۲۰۰۶ ز کال.

بوز الن هامیلتون؛ د وړوکي اقتصاد په برخه کې اصلاحات او د سوداګرۍ قانون، د خپریدو نیټه ۲۰۰۷ ز کال.

ات. ال، ری نی یر کاراک من؛ د سهامي شرکتونو د قانون تفسیر، د خپریدو نیټه، ۲۰۰۷ ز کال

مکم، فلوید آر؛ د استازیتوب (نمایندګۍ) د قانون په باب کې رساله، ۲۷م مخ، دویمه لیکنه، ۱۹۱۴ ز کال.

د امریکې د متحده آیالاتو نړیواله پراختیایي اداره (USAID)، افغانستان، د کرنو موضوع، د خپریدو نیټه، ۲۰۰۷ ز کال.

نړیوال بانک؛ په ۲۰۰۹ ز کال کې د سوداګرۍ سرته رسول، د افغانستان د ملي اقتصاد پروفایل، د خپریدو نیټه ۲۰۰۹ ز کال.

# شپږم څپرکی: تضامني راکړې ورکړې

## ۱ – سریزه

**پور او پور ورکونه** (credit and lending) د یوه پرمخ تللي اقتصاد له کلیدي او مهمو عنصرونو څخه یو هم پور او پور ورکونه ده. نو په دې توګه د اغیزمن پور ورکړې سوداګریزه څانګه هغه وخت صورت نیولای شي څو د پور دواړو لوریو ( پور اخستونکو او پور ورکوونکو ) لپاره یو شمیر روښانه او څرګندې قاعدې او قوانین وضع او پرې پلي یې کړي. د پور ورکړې د یوه اغیزمن سیستم شتون، د سوداګرۍ او اقتصاد په برخو کې ډیرې ګټې لري او د پور ورکوونکو لپاره د دې لارې چارې برابروي څو د پور اخستونکي د شتمني له ذاتي ارزښت څخه ( لکه ځاني جایداد او څمکه )، د تضمین لپاره د وثیقې په توګه ګټه پورته کړي. همدا ډول دغه سیستم د پور اخستونکو لپاره اجازه ورکوي څو د پورورکوونکي د خطرونو د کمولو لپاره، د دارایۍ او پانګې له ذاتي ارزښت څخه د یوې پیاوړې او ګټورې وسیلې په توګه کار واخلي. چې په پایله کې د دې لامل ګرځي څو په ټولنه کې د پانګه اچونې دود پیاوړی او یو اقتصادي تحرک رامنځ ته شي. د تضامني راکړو ورکړو (معاملاتو) ملاتړی سیستم او حقوقي نظام د پور ورکوونکو په اړه ډیر اړین او د اغیزمنو کارونو لپاره د پورونو د ورکړې او شتون لارې چارې برابروي.

د وثیقې په اړه د پور ورکوونکي د حقوقو د پلي کېدو او اجراء لپاره د یوه حقوقي سیستم شتون، دپور اخستونکی د کمی او قصور په صورت کې، ډیر اړین او ضروري دی، موږ هغه چوکاټ چې په هغه کې پور ورکوونکی د خپل پور د مکلفیت د تضمین لپاره، د پوروړي د منقول جایداد پر سر د باالقوه ګټې څښتن دی، د "تضامني پور ورکړې" او یا د "تضامني معاملې" په نوم یادوو.

د آزاد بازار د اقتصاد په لور د افغانستان خوځښت په اړه د معاملاتو د یوه قانون شتون د اهمیت وړ دی.. د هغو پور ورکوونکو لپاره چې خپل پورونه یې نه وي تر لاسه کړي، د یو اغیزمن حقوقي سیستم شتون په حقیقت کې د هیواد په اقتصادي وده باندې ښه اغیزه پرې باسي، څکه کورنۍ او بهرنۍ پانګه اچونه تشویقوي. نړیوال بانک په یوه خپل راپور کې چې د سوداګرۍ د پراختیا (doing business) تر عنوان لاندې په ۲۰۰۹ ز کال کې خپور شو، په دې اړه چې د پلي کېدو وړ تضامني معاملاتو یو سیستم باید کومې غوښتنې پوره کړي، لاندې لارښوونې وړاندې کړې دي:

- ❖ د پور وکړې د دفترونو ترمنځ د معلوماتو د شریکولو پراختیا.
- ❖ د خصوصي پور ورکړې او د وثیقو د ثبت رسمي دفترونو تر منځ د همکارۍ څرګنده رول او اغیزې په روښانه او څرګند ډول تعریف او تجویز کړي. او
- ❖ د قضائیه قوې اداري او تشکیلاتي وړتیا او اهلیت پیاوړی کړي څو وکولای شي د پور ورکوونکو حقوق تضمین او پلي کړي.

د ( تضامني معاملې ) کلمه امکان لري چې ډاروونکې او نا بلده تر سترګو شي، نو له دې امله لاندې حالت د دې لپاره په پام کې نیسو څو په بحث باندې ښه پوه شو:

نجیب الله د تل لپاره په دې لټه کې دی څو د خښتو د تولید او ویش د یوې کارخانې څښتن و اوسي. یوه ورځ نوموړی معلومات ترلاسه کوي چې د دوی د کلي کارخانه د خرڅلاو لپاره وړاندې شوې ده، خو بد بختانه هغه د کارخانې د اخستلو لپاره پوره پیسې په واک کې نه لري. نو نجیب الله تصمیم نیسي څو بانک ته د پور د تر لاسه کولو لپاره لاړ شي او د کارخانې د پیل لپاره لومړنۍ پانګه برابره کړي. بانک نوموړي ته د اړتیا وړ پیسې په پور ورکوي، خو له نجیب الله څخه په بدل کې د داسې یوه

ارزښتناک څیز ضمانت اخلي، که چیرې نوموړی د پور په ورکړه کې ناکام پاتې شي، بانک کولای شي یاد شوی توکی تر خپلې ولکې لاندې راولي. نجیب الله او بانک داسې پرې کړه کوي چې که نجیب الله د میاشتنیو معلومو قسطونو په ورکړه کې ناکام پاتې شي او یا هم له سستی څخه کار واخلي، بانک د هغه د موټر مالکیت په خپله ولکه کې راولي. بانک د هغه موټر پلوري او د موټر د پلورولو څخه ترلاسه شوې پیسې، د نجیب الله د پاتې پور د اندازې سره سمې پلې کوي.

پورتنی کیسه داسې یو حالت دی چې ممکن تاسو په دې اړه د وړاندې څخه فکر او غور کړی وي او د تضامني راکړو ورکړو (معاملو) د یوې نمونې څرګندویې کوي. په لنډ ډول، تضامني راکړه ورکړه (معامله) د قراردادونو یو ځانګړی ډول دی چې د رضایت له مخې د دوو لوریو له خوا ترسره کیږي او له یوه لوري څخه بل لوري ته د شخصي پانګې او جایداد د ګټې د لېږدولو لپاره، د یوه قراردادی مکلفیت (obligation) په عنوان، لارې چارې برابروي. په پورتنی بیلګه کې، نجیب الله د پوروړي او بانک د پورورکوونکي (creditor) په نومونو یادیږي. د پوروړي او پورورکوونکي ترمنځ د اړیکې بیانوونکي شروط او احکام د تضامني موافقه لیک په نوم یادیږي. څکه بانک ته د نجیب الله له خوا د پورونو ورکړه یو مکلفیت او الزام شمیرل کیږي چې په تازه ډول رامنځ ته شوی دی. په پورته معامله کې د نجیب الله موټر د وثیقې (collateral) په نوم یادیږي. په دې توګه که نجیب الله په خپل مکلفیت کې ناکام پاتې شي، بانک د نجیب الله له موټر څخه ګټه لاسته راوړي او دغه ګټه د تضامني لګښت (securing charge) په نوم یادیږي.

اوس، کله چې تاسو د تضامني معاملې او ځینو نورو عبارتونو او اصطلاحګانون د اساسي مفاهیمو سره بلدتیا پیدا کړه، موږ په دغه څېرکي کې، یو ګام شاته درومو او پاتې برخې یې د دغو مفاهیمو او اصطلاحګانو د بنسټونو او اساساتو ګام په ګام څېړنې ته ځانګړی کوو. موږ خپل بحث، په تضامني راکړو ورکړو کې د منقول جایداد په اړه د افغانستان د تضامني راکړو ورکړو د قانون پر سر په یوه څرښنده (ضمني)کتنه باندې پیلوو. له هغې وروسته په دې څېرکي کې به د تضامني معاملې اړوند ټول پراوونه او ګامونه تر غور او څېړنې لاندې نیسو او په څنګ کې به یې د افغانستان د راکړو ورکړو د قانون متناظر احکام او د هر پړاو حقوقي مفاهیم وڅیړل شي. د یادونې وړ ده، چې تضامني راکړه ورکړه د سوداګرۍ د قانون یوه لانجمنه موضوع شمیرل کیږي، خو دا بیا بیخي ډېره مهمه ده چې تاسو د نوموړي قانون اساسات ولولی، څکه په حقیقت کې تضامني راکړه ورکړه د هر ډول معاملې یوه مهمه برخه ده چې د نن ورځې په پرمخ تللي اقتصاد کې ترسره کیږي. سربیره پر دې، په یاد ولرئ چې تضامني معاملې او راکړې ورکړې د قراردادونو یو ځانګړی ډول دی او بې له شک ، د قرارداد د ډولونو په اړه ستاسو پوهه او معلومات، د تضامني معاملاتو په هضم او درک کې زیاته مرسته کولای شي. خو په پای کې، لکه څرنګه چې د تضامني معاملو نظام او قانون د ۲۰۰۹ ز کال په وروستیو کې تصویب شوی دی، دغه څېرکی د تضامني معاملاتو د یوه اغیزمن او ګټور نظام د پرانستلو په برخه کې د کړنلارو او یا د سیاسي موخو د تحلیل او څرنګوالي په اړه، د یوه بحث په وړاندې کولو سره پای ته رسیږي.

## ۲ - د افغانستان د تضامني راکړو ورکړو (معاملو) قانون ته یوه لنډه کتنه

د بانکدارۍ په معاملاتو کې د منقول جایداد په اړه د افغانستان د تضامني معاملو قانون چې له دې وروسته په لنډ ډول د( تضامنی معاملو د قانون ) په نوم یادیږي، د یوه سالم او پیاوړي خصوصي سکتور د پرانستلو او پراختیا په برخه کې د افغانستان د دولت د تعهد یوه بیلګه شمیرل کیږي، چې د خصوصي سکتور پیاوړتیا او پرانستل نه یوازې د افغانستان د دیرش کلنې جګړې ځپلي اقتصاد د ژغورلو لپاره یوه ژوندوني چاره ده، بلکې د دغه هیواد د اقتصاد د پرمختګ، ثبات او تداوم لپاره له یوه ځانګړي اهمیت څخه برخمن دی. د تضامني معاملو لپاره د یوه جامع او مانع چوکاټ د پیژندلو او درک له لارې، د افغانستان د بانکونو د تقنیني اسنادو د تسوید شعبې د (افغانستان د تضامني معاملو قانون) تدوین کړ څو نوموړی قانون وکولای شي هغه سوداګریزې معاملې او بانکونه چې له منقول جایداد څخه د تضمین په توګه ګټه اخلي، تنظیم او د دواړو لوریو حقوق او مکلفیتونه ځانګړي او وټاکي ( د تضامني معاملو د قانون لومړۍ ماده).

د تضامني راکړو ورکړو (معاملو) دویم قانون د ۲۰۰۹ ز کال د می په میاشت کې تصویب او د افغانستان د اسلامي جمهوریت د عدلیې وزارت په ۹۹۰ ګڼه رسمي جریده کې چې په ۲۰۰۹ ز کال کې خپره شوه، چاپ ته ورسیده. همدا ډول تاسو کولای شی د افغانستان د تضامني معاملو قانون په لاندې انټرنټي پته ترلاسه کړی.[19]

د افغانستان د تضامني معاملو د قانون له تصویب وړاندې، د تضامني پورونو لپاره یو جامع حقوقي بنسټ او چوکاټ شتون نه درلود او د قانون دغه برخه د ۱۹۵۵ ز کال د سوداګرۍ او د افغانستان د بانکدارۍ د قوانینو د ځینو احکامو له خوا مدیریت او تنظیمیږي. خو سربیره پر دې، هغه تدابیر چې د پورتني حقوقي بنسټ له خوا ترتیبیږي، پوره نه وو او په تضامني راکړو ورکړو کې زیاتې مسألې ناحل پاتې شوې وې. د بیلګې په توګه: مخکینیو قوانینو د عین جایداد په اړه د سیال د ګټو د ټاکنې لپاره، کوم لومړیتوب او یا د مراتبو سلسله نه ده ځانګړې کړې. سره ددې، مخکینیو قوانینو د وثیقې د ګټو (Collateral interests) د سمون او اجرا لپاره حقوقي بنسټونه په سم ډول نه دي رامنځ ته کړي. یادو شویو قوانینو د تضامنيٍ ګټو د ثبت مساله ( security interests) د دولت رسمي سوابقو ته راجع کړې ده، خو بیا هم له یادو شویو قوانینو څخه هیڅ یوه قانون، د شخصي جایداد په اړه، د تضامني ګټو د ثبت او راجستر د یوه خپلواک رسمي دفتر د جوړښت لپاره وړاندیز نه دی وړاندې کړی. نو له دې امله، دا د محکمې دنده وه تر څو د تضامني ګټو د ثبت، سمون او اجرا لپاره لارې چارې برابرې کړي او دغه غوښتنه په خپل ذات کې له واقعیت څخه لیرې او لاس او پښې قراردادکې پرې وزي. دا خبره ډیره روښانه وه چې د قوانینو د مخکینیو احکامو پټې او پینه کول، په هیڅ صورت نه شي کولای څو د وخت سره سم د تضامني پورونو لپاره په افغانستان کې یو اړین چارچوب برابر کړي.

دغه ډول ناڅرګندتوب چې په پورته پراګراف کې وړاندې شوې، د نورو لاملونو ترڅنګ د دې سبب وګرځیدل څو په افغانستان کې پانګونه له ګواښ څخه ډکه او د خلکو تر پام بده کړي. سربیره پر دې، د تضامني معاملو نوي قانون تدوین ته چې همدا اوس نافذ دی او هغو مصوونیتونو ته چې پور ورکوونکي او پور اخستونکي ته یې برابر کړي دي، په کتو، باید د دې هیله ولرو چې افغانستان به په چټکۍ سره د سوداګرۍ د پیل او تداوم په یوه جذاب ترین ځای باندې بدل شي.

## ۳ –د تضامني معاملو له قانون څخه یو شمیر کلیدي اصطلاحات او تعریفونه

تضامني معاملو په اړه موږ خپل بحث په رسمي توګه د اصطلاحګانو او عبارتونو په څیړنه او غور پیل کوو. له کومو اصطلاحګانو او عبارتونو څخه چې په تضامني معاملو کې ګټه پورته کیږي، ډیرې لنډې او څرګندې دي او د پام وړ ټکی دا دی چې تاسو په دې برخه کې خپل اړین معلومات او پوره بلدتیا لاسته راوړئ. د تضامني معاملو د قانون دریيمه ماده، هغه تعریفونه وړاندې کوي چې په نوموړي قانون کې ورڅخه ګټه اخستل کیږي او د پلي کېدو وړ وي. نو په دې توګه تاسو به ځانګړې او خلاصه شوي او له کاري اړخه ویشل شوي تعریفونه ولولئ چې له شک پرته د تضامني معاملو د مطالعې لپاره به ستاسو لپاره ګټور او اغیزمن پریوزي.

په یاد ولرئ چې د اصطلاحاتو او عبارتونو لیست به د بحث په پیل کې ستاسو لپاره ګیچ کوونکی او پیچلی وي، ځکه تر اوسه تاسو نه شی درک کولای چې دغه اصطلاحات او کلمې په یوه تضامني معامله کې په څه ډول د یو او بل تر څنګ کارول کیږي او د دوی ترمنځ کوم ډول اړیکه شتون لري. نو له دې امله په پیل کې یوازې نوملړ په سر سري ډول مطالعه کړئ څو د هغو اصطلاحګانو سره چې وروسته ورسره مخامخ کیږی، نسبي بلدتیا تر لاسه کړی. همدا ډول د څپرکي په اوږدو کې، که تاسو د

[19] http://www.centralbank.gov.af/pdf/Secured_Transaction_Law_English_06Jan10.pdf

داسې اصطلاح چې لاندې ورځخه خط کش شوی وي او یا د خط اندازه یې لویه وي، سره مخامخ کیږی، نو دویم واري دغه نوملړ (لیست) ته د مرجع په توګه مراجعه وکړئ. کله چې تاسو د تضامني معاملې کړندودونه ولولئ، نو په دې وخت کې تاسو کولای شی، چې د دغو تعریفونو د مراجعې له لارې، په ورځني ډول زیاته بلدتیا پیدا او تاسو خپل ځان د دغو اصطلاحاتو د مفاهیمو او کړن ځایونو سره ډېر راحت احساس کړی.

**دریمه ماده: تعریفونه**

**د یوې تضامني معاملې بنسټیز عنصرنه**

1- « **پور** »( Debt) پور د پیسو له یوې ټاکلې اندازې ځخه عبارت دی چې مدیون یې د کوم رسمي حساب او یا د یوې تضامني معاملې د توافق له لارې، د مالي تدارک له لامله، پور ورکوونکي ته ورکوي. همدا ډول پور لاندې موضوعاتو ته لکه مالي تدارک، جریمې، تاوانونه، لګښتونه او تر دغو مسایلو پورې اړوند نورو الزاماتو او مسوولیتونو ته شاملیږي.

5- « **تضامني موافقه لیک** » (Securing Agreement) له هغه لیکل شوي (مدون) موافقه لیک ځخه عبارت دی چې د پور ورکوونکي او پور اخستونکي (charger and charge holder) ترمنځ، د یوې او یا زیاتو معاملاتو د سرته رسولو لپاره تدوین او ترتیبیږي.

8- « **تضامني لګښت** » (Securing Charge) د منقول جایداد پر سر باندې له هغه حق ځخه عبارت دی چې تر حال او راتلونې دواړو پورې تړلی وي. دغه مسوولیت(Charge)، د پور یو یا زیات ځایونه، چې د تضامني موافقه لیک له لاسلیک وړاندې او یا وروسته منځ ته راځي، تضمینوي.

9- « **وثیقه**» (Collateral) له هغه ریښتیني حق ځخه عبارت ده چې د پور د ورکړې د تضمین په موخه د منقول جایداد پر سر محاسبه کیږي. وثیقه کیدای شي په هیواد کې د ننه او یا له هیواد ځخه بهر ځای ولري او همدا ډول کیدای شي د وثیقې عوایدو ته شامله شي.

10- « **د وثیقې عواید** » (Proceeds Collateral) د منقول جایداد له هغو پیسو او پایلو ځخه عبارت دي چې په مستقیمه او یا غیر مستقیمه توګه له وثیقې ځخه لاسته راځي. همدا ډول د دغه تعریف مفهوم د وثیقې تولیدي عوایدو او د بیمې لګښتونو دواړو ته شاملیږي.

11- « **جایداد**» (Property) له هغو ځیزونو او ملکیتونو ځخه عبارت دی، چې د تملک وړتیا ولري. جایداد، منقول او غیر منقول دواړو جایدادونو ته شاملیږي.

12- « **منقول جایداد** » (Movable Property) هغه جایداد ته ویل کیږي چې له تجزیې او تغییر پرته د لیږدولو وړ وي. منقول جایداد ټولو ملموسو توکو ته لکه قباله، سند، تضمینات، حسابونه، د خپرولو حقوق، سوداګریزې نښې، د امتیاز حقوق او داسې نورو شیانو ته شاملیږي.

13- « **غیر منقول جایداد**» (Immovable Property) هغه جایداد ته ویل کیږي چې له تغییر او تجزیې پرته د لیږد وړ

نه وي. غير منقول جايداد كور، ساختمانونو او ځمكو ته شامليږي.

***د يوې تضامني معاملې د ګډونوالو بالقوه اغيزې او كاري كړنې***

2- « **پور اخيستونكی**» **(Debtor)**هغه كس ته ويل كيږي چې د دين د پرې كولو لپاره مسوول بلل كيږي ( د دين مديون).

3-« **پور وركوونكی**» (Lender) هغه كس ته ويل كيږي چې د هيواد د ننه او يا له هيواد څخه بهر په بانكې چارو لګيا او په بل كس باندې د مالي حقوقو د اعادې او بيا وركړې حقوق او مكلفيتونه لري.

6- « **پور پرې كوونكی** » (Chargor)هغه كس ته ويل كيږي چې د وثيقې ځښتن، په تضامني لګښتونو معروض او په زياتو ځايونو كې ديني مديون بلل كيږي. كله چې د وثيقې مالك او پور ادا كوونكی دوه بيلا بيل كسان وي، د لګښت د پرې كونكي (charger) د اصطلاح اطلاق د وثيقې پر مالك كيږي او پور ادا كوونكی (debtor) هغه كس ته ويل كيږي چې د دين په وړاندې مديون وي.

7- « **د لګښت اخستونكی** » (Charge holder) هغه چا ته ويل كيږي چې تضامني لګښتونه د هغه په ګټه منځ ته راځي.

21- « **مُرسل اليه**» (Transferee) هغه چاته ويل كيږي چې حواله كوونكی هغه ته تضامني موافقه ليك او يا كوم حساب استوي او يا يې حواله كوي.

22- « **حواله كوونكی**» (Transferor) هغه كس ته ويل كيږي چې د تضامني موافقه ليك له مخې د مرسل اليه حساب ته د نورو مديونينو څخه ترلاسه شوې پيسې، حواله كوي.

***د تضامني معاملاتو متفرقه كلمې او اصطلاحګانې***

23- « **خبرتيا**» **(Notice)** هغو ليكلي و معلوماته ته ويل كيږي چې د يوې موضوع په اړه مركزي دفتر او يا د مطلوب كس د اوسيدلو ځای ته استول كيږي او د يادې شوې خبرتيا ترلاسه كول او رسيدل اطميناني او قطعي وي.

24- « **د ثبت او راجستر رسمي دفتر** » (Registry) هغه دفتر ته ويل كيږي چې د منقول جايداد په اړه هر ډول تضامني معاملې ثبت او راجستروي او د هغو سوابق او اسناد په سمه توګه ساتي.

25- « **د ثبت او راجستر خبرتيا** » (Notice of Registration) له هغه فورم څخه عبارت دی چې د تضامني معاملو د ثبت او راجستر د كړندودونو سره سم تنظيم او وړاندې كيږي.

27- « **په وركړه كې قصور**» (Default on Payment) د دين او يا د هغو د قسطونو د اداء كولو په برخه كې هغې ناكامی او شكست ته ويل كيږي چې د تضامني موافقه ليك د وعدې سره سم، صورت ونه نيسي.

28- « **په كړنو او جرااتو كې قصور** »(Default in Performance) هغې ناكامی ته ويل كيږي چې د يوه مكلفيت د سرته رسولو په برخه كې صورت ونيسي (يعنې د تضامني موافقه ليك د موادو او شروطو سره سم كړنې ترسره نه شي).

29- « **د مالکیت سندونه** » (Documents of title) له هغه لیکلي سند څخه عبارت دی چې د قانون د موادو سره سم تهیه او د منقول جایداد د تملک په اړه د مالک حق ثابتوي.

30- « **تضمین**»(Security) له هغه مالي دستاویز څخه عبارت دی چې د راکړې ورکړې وړتیا ولري.

## ۴ - د تضامني راکړې ورکړې بنسټونه

لکه څنګه چې تاسو په مخکینیو پاڼو کې د نجیب الله او بانک د بیلګو په ترڅ کې ولوستل، تضامني معامله له هغه موافقه لیک/ قرارداد څخه عبارت ده چې د هغه له مخې پور ورکوونکی ( هغه کس چې نور کسان ورته د پیسو مدیون وي) د پور د اداء کوونکي (مدیون) د وثیقې له درکه، یوه اندازه پیسې د تضامني لګښت په نامه لاسته راوړي. په عمومي کچه، تضامني معامله پنځه عنصرونه لري چې په لاندې توګه بیانیږي:

1. **پور اداء کوونکی** ( پوروړی)- Debtor
2. **پور ورکوونکی** ( یا تضمین شوی پورورکوونکي) -Lender
3. **وثیقه- Collateral** هغه شخصي او ځاني جایداد ته ویل کیږي چې د پورورکوونکي له خوا د تضامني لګښتونو په ترلاسه کولو معروض وي.
4. **تضامني موافقه لیک**-Securing Agreement -هغه قرارداد ته ویل کیږي چې د تضامني معاملې بنسټ جوړي او د معاملې/ قرارداد د دواړو لوریو ( پور ورکوونکي او پور اخستونکي) لپاره یو شمیر دندې، حقوق او مکلفیتونه منځ ته راوړي.
5. **تضامني لګښت**- Securing Charge -د مدیون د جایداد پر سر د پورورکوونکي حقوقو ته تضامني لګښت ویل کیږي. دغه لګښت له هغو حقوق څخه ساتنه کوي چې پورورکوونکي یې د مدیون پر سر د بیاورکړې له امله لري. که چیرې مدیون د پور په ورکړه کې ناکام پاتې شي تضمین شوی پورورکوونکي کولای شي د نوموړي مدیون د وثیقې مالکیت تر خپله ولکه لاندې راولي.

<u>**د تضامني معاملې ګډونوال**</u>

دوه تنه (پور ورکوونکی او پور اخستونکی) د یوې تضامني معاملې له مهمو لوریو څخه شمیرل کیږي. په ډیرو ځایونو کې، پور ورکوونکی په خپله ( لګښت ورکوونکی ) (Charge holder) او یا تضمین شوی پورورکوونکي وي، عین شکل په ډیر ځایونو کې مدیون په خپله (charger) لګښت ورکوونکی هم وي، یعنې هغه څوک چې په ځاني او شخصي جایداد یې ( هغه چې تضامني ګټې وروباندې وضعه کیږي)، د مالکیت د حق او یا ګټو څښتن وي.

دغه موضوع او د نجیب الله بیلګه چې خپل پور یې په شخصي موټر باندې تضمین کړی دی، د تضامني معاملو د یوه مهم ډول ښه روښانتیا او څرګندویي په ګوته کوي. په یاده شوې قضیه کې، نجیب الله چې د بانک مدیون او پور اداء کوونکی وو، همدا شان د موټر مالک هم وو، نو په دې توګه نجیب الله په خپله لګښت ورکوونکی هم شمیرل کیږي. په همدې ډول بانک هم پور ورکوونکی او هم لګښت اخیستونکی بلل کیږي، څکه که نجیب الله د پور په ورکړه کې ناکام پاتې شي، دغه بنسټ په آزادانه او خپلواکانه ډول کولای شي د نجیب الله د موټر له ګټو څخه برخمن شي.

سربيره پر دو، تاسو کولای شی یوه پیچلې تضامني معامله چې له پورتنی قضیې څخه توپیر ولري، تصور کړی. هغه بیلګه په پام کې ونیسئ چې په هغه کې نجیب الله غواړي له بانک څخه پور ترلاسه کړي، خو هغه موټر چې نوموړی ورڅخه د دین د تضمین په توګه ګټه اخلي د هغه د پلار دی. په پورتنی قضیه کې سره له دو چې نجیب الله مدیون او د پور اداء کوونکی شمیرل کیږي خو لګښت ورکوونکی یې (charger) پلار دی.

## <u>په تضامني معامله کې د ارزښت وړ توکی: وثیقه</u>

تاسو ممکن هغه مقدماتي بیلګه چې په دې څپرکي کې وړاندې شوه په یاد ولری چې د نجیب الله موټر له هغه ځاني او شخصي جایداد څخه عبارت وو چې وربانديې تضامني لګښتونو صورت نیولو او محاسبه کیدل او د وثیقې په نوم هم یادیدل. د نجیب الله په قضیه کې، بانک د هغه د موټر پر سر باندې یو څه تضامني لګښت لري (securing charge) او موخه یې همدا ډول په نجیب الله باندې د پور تضمین دی.

د افغانستان د تضامني معاملو د قانون سره سم، هر ډول منقول جایداد کیدای شي د پور د تضمین په توګه ورڅخه ګټه واخستل شي. منقول جایداد په خپل وار سره په دوو څرښنده برخو ویشل کیږي چې له ملموس او غیر ملموس قلمونو څخه عبارت دي. ملموس قلمونه هغو توکو ته ویل کیږي چې د لمس وړ وي او موټر، سامانونو، اسبابو او برقي وسایلو او داسې ته شاملیږي او غیر ملموس قلمونه هغو شیانو ته ویل کیږي چې د لمس وړ نه وي او د مالکیت سندونو، د چاپ او خپرولو حق، سوداګریزو نښو، د امتیاز حقوقو او داسې نورو ته شاملیږي.

# ۵ – د یوې تضامني معاملې عنصرونه

## الف د تضامني لګښت رامنځ ته کېدل

> **مهم او د پام وړ ټکی:** وروسته له دې چې پوروړی د وثیقې له لارې یو لړ ګټې لاسته راوړي او تضامني موافقه لیک لاسلیک کړي، پور ورکوونکي کولای شي د هغه لپاره یوه اندازه تضامني لګښتونه، په ټولو هغو شیانو چې د دوی ترمنځ پیښیږي، پرانیزي او اجراء یې کړي.

د تضامني معاملو د قانون د ۷ مادې سره سم، تضامني لګښتونه د وثیقې او د هغو پر ضمایمو باندې راځي او وروسته له دې چې لګښت پرې کوونکی او لګښت اخستونکی دواړه تضامني موافقه لیک لاسلیک کړي، نوموړي لګښتونه د لګښت پرې کوونکي پر سر اجراء کیږي، یعنې تر هغه وخت پورې چې د وثیقې پر سر تضامني لګښتونه نه وي رامنځ ته شوي، د قصور په وخت کې پوروړی، پور ورروونکي ته د ځاني ا وشخصي جایداد په ورکولو مکلف نه بلل کیږي. تضامني موافقه لیک هغه موافقه لیک ته ویل کیږي چې د هغه له لارې پوروړی یوه اندازه تضامني لګښتونه د وثیقې له درکه لګښت اخستونکي ته لیږدوي. ډیر وخت دغه مفهوم باید داسې زده کړو چې تر وثیقه لاندې جایداد پر سر د ګټې پرانستل، د دواړو لوریو تر هوکړې او موافقې پورې تړاو لري. د دې لپاره چې تضامني موافقه لیک معتبر وبلل شي، مخکې له مخکې باید یو لړ ځانګړې اړتیاوې پوره او اجراء شي.

لومړی، موافقه لیک باید هغه وثیقه چې ټاکلې ده د پورونو د تضمین لپاره به ورڅخه ګټه واخستل شي، توصیف او روښانه کړي. د وثیقې توصیف او روښانتیا یوه ډیره مهمه موضوع ده، ځکه دغه موضوع د معاملې د ماهیت او ذات په اړه ګټور او اړین معلومات وړاندې کوي. که چیرې دغه شرط او اړتیا نه وای، په ذهن کې به ډول ډول کړندودونه تجسم او تصور کیدلای شوې

چې له هغو څخه په ګټه اخيستو، د معاملې ور بيلابيلو خلکو به غوښتل څو له قراردادونو څخه ناوړه ګټه پورته کړي، د بيلګې په توګه نجيب الله په پام کې نيسو، امکان لري چې نجيب الله يو نوی مرسيډز ماډل موټر د وثيقې په توګه د پور په وړاندې وړانديز کړې وي، او همدا ډول بانک هم احتمال لري چې د نجيب الله موټر يې قيمت کړی وي او د هغه سره سم يې ورته پور ورکړی وي. سربيره پر دې، که د تضامني موافقه ليک دواړو لوريو د وثيقې د روښانتيا او توصيف لپاره يوازې د موټر ساده کلمه کارولې وي، په دې وخت کې هيڅ لامل نه شي کولای څو نجيب الله د بانک د پور له ورکړې څخه منع کړي او کله چې بانک وغواړي موټر تر خپله ولکه لاندې راولي هغه موټر چې نجيب الله يې دوی ته ورکوي دويم لاس موټر دی چې د وثيقې له قيمت څخه يې ارزښت او قيمت څو برابره ټيټ او کم دی.

خو سره له هغه ټينګار او غور چې د وثيقې د سم توصيف او روښانتيا په اړه ترسره شوی، د تضامني معاملې قانون کوم رسمي او تخنيکي شرط او اړتيا نه ده وړاندې کړې. د هغه په بدل کې، قانون په آسانۍ سره دواړه لوري مکلف بللي دي څو په قرارداد کې وثيقه په معقول او منطقي ډول روښانه او توصيف کړي ( د وهم بند اتمه ماده).

د دې لپاره چې تضامني معامله د اعتبار وړ وي دويم شرط دا دی چې پور بايد په سمه توګه روښانه او توصيف شي. د وثيقې د روښانتيا او توصيف سرچېه، په تضامني موافقه ليک کې، د پور اندازه او د بيا ورکړې نيټه بايد په دقيق ډول روښانه او قيد شي (دريم بند اتمه ماده، د تضامني راکړې ورکړې قانون).

بالآخره، وروسته له دې چې لګښت ورکوونکی د وثيقې مالکيت تر خپلې ولکې لاندې راولي او تضامني موافقه ليک لاسليک کړي، تضامني لګښتونه اجراء او د پلي کېدو وړ دي. که په عملي توګه په دې اړه خبرې وکړو، يو وار چې تضامني لګښتونه پلي شي، پورورکوونکي (پور ورکوونکی) د پور اخيستونکي د قصور په وړاندې تضمين کيږي. يعنې هر کله چې پوروړی د پور د ورکړې په چارو کې ناکام پاتې شي او يا هم د کومې کمۍ مرتکب وګرځي، پور ورکوونکي کولای شي د پوروړی په وړاندې ځينې سرچينې په خپل واک کې راولي. سره له دو بايد دغه ټکي ته پوره پاملرنه وکړو چې تضامني لګښتونه په ټولو حالاتو او وختونو کې د پور ورکوونکي له حقوقو څخه حراست او ساتنه نه شي کولای. د تضامني معاملو دغه مفاهيم پوره شرحې او څرګندونې ته اړتيا لري چې انشاءالله په وروستيو راتلونکو بحثونو کې به يې تر غور او څېړنې لاندې ونيسو.

> **د موضوع روښانتيا:** د جنوري په لومړۍ نيټه، نجيب الله له کابل بانک څخه ۱۵۰۰۰ افغانۍ په پور واخستې څو د خپلې کارخانې لپاره يو د اړتيا وړ ماشين واخلي. هغه د کابل بانک سره د جنوري په لومړۍ نيټه يو موافقه ليک لاسليک او هغه ماشين چې ټاکلې وه د کارخانې لپاره يې واخلي د وثيقې په توګه په موافقه ليک کې د نجيب الله د پور د تضمين په موخه تثبيت او وپيژندل شوو. نجيب الله د جنوري په ۲۰ مه نيټه نوموړی ماشين واخستلو، اوس ستاسو په اند تضامني لګښتونه له کومې نيټې څخه د پلي کېدو وړ بلل کيږي؟ [20]

## ب: د تضامني لګښتونو بشپړېدل

---

[20] – پر وثيقه تضامني د جنورۍ له ۲۰ نېټې تضامني لګښت د اجرا وړ دی. ځکه چې نجيب الله په همدې نېټه وثيقه ترلاسه کړې ده.

**د پام وړ او مهم ټکی:** د ټولو پور ورکوونکو په وړاندې یوازې د هغه پور ورکوونکي تضامني لګښتونه د محافظت وړتیا لري چې له وړاندې څخه بشپړ او تکمیل شوي وي.

د تضامني لګښتونو له پرانستلو وروسته، د تضامني لګښتونو بشپړتیا د پور ورکوونکي د حقوقو د تضمین لپاره دویم پړاو بلل کیږي. لکه څنګه مو چې وړاندې ورڅخه یادونه وکړه، د تضامني لګښتونو پرانستل او ایجاد په یوازیتوب سره نه شي کولای څو د پور ورکوونکي له ټولو هغو غوښتنو څخه چې د نورو پور ورکوونکانو په وړاندې، د عین وثیقې پر سر یې لري محافظت او ساتنه وکړي. خو هرکله چې تضامني لګښتونه بشپړ او تکمیل شي، کولای شي د پور ورکوونکي له غوښتنو چې د نورو پور ورکوونکو د غوښتنو په وړاندې یې لري (یعنې په هغه وخت کې چې د نورو پور ورکوونکو تضامني لګښتونه نه وي بشپړ شوي ) محافظت او ساتنه وکړي. په ساده ژبه ویلای شو چې د تضامني لګښت بشپړتیا له هغه پړاو او شرط څخه عبارت دی چې له هغه لارې پور ورکوونکي کولای شي، هغه کسان چې په عین مارکیټ کې کار او بار لري او یا هغه کسان چې په عین جایداد باندې د ګټو خاوندان وي، خبر کړي چې هغه په نوموړي جایداد باندې د تضمین شوي منفعت څښتن دی.

**د بحث وړ پوښتنې**

ولې قانون د پور ورکوونکي د وړتیا خوندي ساتلو ته دومره په لوړه کچه علاقه مند دی او غواړي د هغه سره مرسته وکړي څو پوه شي آیا د پام وړ وثیقې په اړه کوم تضامني لګښت شتون لري او که څنګه؟ آیا تاسو کولای شی، په دې اړه منطقي او معقول دلایل وړاندې کړی؟ ( اشاره: د وړاندې شوې پوښتنې د ځواب لپاره، تاسو لپاره به دا ګټوره وي څو پوه شی چې ولې یو بالقوه پور ورکوونکي دغو معلوماتو ته علاقه مند دی؟

خو په بنسټیز ډول تضامني لګښتونه ډېر مهم دي، ځکه ټولو لوریو ته اجازه ورکوي څو پرته له دې چې د پوروړی په ځان او شخصیت باندې اطمینان وکړي کولای شي په وثیقه باندې د تضامني لګښتونو شتون رابرسیره او له هغو څخه پوره معلومات تر لاسه کړي، د بیلګې په ډول: که نجیب الله د یوه نوي پور ورکوونکي سره لیده کاته ترسره کړي او هڅه وکړي چې هماغه موټر چې مخکیني پور ورکوونکي ته یې د وثیقې په توګه ورڅخه ګټه اخستې، نوي پور ورکوونکي ته یې د ضمانت په توګه استعمال کړي. په دې صورت کې قانون هڅه کوي څو پوره اطمینان او باور ترلاسه کړي چې دویم پور ورکوونکي د تضامني لګښت په اړه چې همدا اوس یې بانک د نجیب الله د موټر پر سر لري، کافي معلومات ترلاسه کړي دي.

د وړاندې شوې موضوع دلیل دا هم کیدای شي، چې د تضامني راکړو ورکړو قانون د نورو سوداګریزو قوانینو په شان داسې ترتیب او تنظیم شوی دی چې سترګې یې د بالقوه پور ورکوونکو د ساتنې په لور دي، ځکه د دغه غوره اصل پیروي د هیواد په اقتصادي او سوداګریزه برخه کې د پانګونې او اقتصادي کړنو لپاره د تشویق یوه غوره لار بلل کیږي. که پیسه لرونکو خلکو د دغه شان مصوونیت او محافظت احساس نه لرلای، نو هیڅ وخت به دوی نه وو حاضر شوي څو په اقتصادي مارکیټونو کې پانګونه وکړي.

د دې لپاره چې د پور ورکوونکو د حقوقو د ساتنې پر اغیزه پوه شو، فکر وکړئ چې که دویم پور ورکوونکي کولای شول چې یوازې او یوازې له نجیب الله څخه، د وثیقې پر سر د تضامني لګښت په اړه پوره معلومات ترلاسه کړي، نو په دې وخت کې به څه پیښ شوي وو؟ که نجیب الله یو صادق القوله شخصیت نه وي، سم له لاسه دروغ وایي او دویم پور ورکوونکي ته اطمینان ورکوي چې د وثیقې پر سر هیڅ ډول تضامني لګښت شتون نه لري. اوس که د نجیب الله د خښتو کارخانه سمه پایله ونه لري او ونه شي کولای څو په ټاکلې نیټه د بانک پورونه پرې کړي، د تضامني موافقه لیک د موادو سره سم بانک کولای شي یاد شوی موټر ضبط او تر خپله ولکه لاندې راولي. په پایله کې دویم پور ورکوونکی هیڅ وثیقه په واک او اختیار کې نه لري څو د نجیب الله د قصور په صورت کې، هغه خرڅ او یا یې تر خپله ولکه لاندې راولي.

که سوداګریزې معاملې چې هره ورځ د دغه شان پورونو سره تړاو لري، دغه شان پایلې ولري، یعنې پور ورکوونکي ونه شي کولای څو له پوروړی څخه د خپل پور په وړاندې کوم شی لاسته راوړي، نو په دې وخت کې به پور ورکوونکو د پور ورکولو لپاره هیڅ لامل او انګیزه نه لرله، چې دغه وضعیت او حالت په تدریجي ډول د هیواد د اقتصاد د پراختیا او پیاوړتیا څخه مخنیوی کوي. نو په دې توګه د تضامني موافقه لیک قانون هڅه کوي څو د دغه شان ستونزو له پیښیدو څخه مخنیوی وکړي.

**دولسمه ماده: د تضامني لګښتونو بشپړتیا**

(1) تضامني لګښت هغه وخت بشپړیږي چې د دغه قانون د ۷ مادې سره سم، تر پام وړ وثیقې پورې مل او له راتلونکو شروطو (پیش شرط) څخه یې یو شرط پوره کړی وي:

1- تضامني لګښت لکه څرنګه چې په دغه قانون کې بیان شوې ده، ثبت او راجستر کړی وي.
2- لګښت اخستونکی او یا د هغه استازی ( چې په خپله لګښت ورکوونکی نه وي )، د تضامني لګښت له لاسلیک څخه وروسته، سم له لاسه د وثیقې فزیکي مالکیت تر خپلې ولکې لاندې راوستلی وي.
3- د دغه قانون له حکمونو څخه یو حکم وایي چې تضامني لګښت څه وخت بشپړیږي.

د تضامني معاملو د قانون د ۱۲ مادې سره سم، کله چې د ۷ مادې حکمونه بشپړ او پوره شي، یو پور ورکوونکي کولای شي چې له لاندې دریو تجویز شوو لارو څخه په ګټه اخستو، خپل تضامني لګښت بشپړ کړي.

**لومړی لاره-** د لګښت ثبت او راجستر. د تضامني راکړو ورکړو د قانون د ۴۴ مادې سره سم، د تضامني لګښت د بشپړتیا لومړی لاره دې ته ویل کیږي چې د لګښتونو د ثبت او راجستر په رسمي دفتر کې (central charge registry) خپل تضامني لګښت ثبت او راجستر کړي. د تضامني معاملو د مخکیني نظام پر اساس چې د سوداګرۍ او مدني قوانینو کې یاد شوی دی، په یوه معامله کې پور ورکوونکی مکلف دی څو د وثیقې فزیکي مالکیت تر خپلې ولکې لاندې راولي. پرته له دې د پور ورکوونکو لپاره هیڅ چاره نه ده پاتې څو اطمینان لاسته راوړي چې د وثیقې پر سر د هغه د ګټې لپاره څوک په احترام او یا ارزښت قایل دي. نو په دې توګه د تضامني راکړو ورکړو نوی قانون پریکړه کوي چې ټول معاملې باید د ثبت او راجستر په مرکزي دفتر کې ثبت او راجستر شي او په همدې توګه پوروړی ته اجازه ورکوي چې د پانګې فزیکي مالکیت کوم چې د وثیقې په توګه ورڅخه ګټه اخستل کیږي د خپل ځان سره وساتي او د هغه لپاره داسې لارې چارې برابروي چې د پام وړ جایداد او پانګې څخه په ګټې اخستو، خپل تولید او عاید ته ادامه ورکړي.

**۴۴ ماده: د تضامني لګښت ثبت**

(1) د ثبت دفتر د افغانستان بانک له خوا پرانستل کیږي.
(2) « د ثبت دفتر » بیلا بیل خدمتونه لکه برېښنایيز ثبت ، د تضامني لګښت د خبرتیا خپرول، د وثیقې د خرڅلاو د ممنوعیت په اړه د لیکونو صادرول او د خبرتیا په اړه څېړنه او داسې نور برابروي. هغه توکي چې د ثبت په رسمي دفتر کې موجود دي، د اعتبار وړ دي.

**دویمه لاره – د وثیقې تملك یا خپلول:** لګښت اخستونکی کولای شي د پوروړی په اجازه د وثیقې د جایداد له لارې، سم له لاسه تضامني لګښت بشپړ او ملکیت یې لاسته راوړي. په دې وخت کې لګښت اخستونکی(charge holder) هغه پور

وروونکي بلل کيږي چې د مالکيت څښتن دی او له دې امله، د وثيقې په اړه د سيالانو او رقيبانو هر ډول غوښتنې او دعوې بايد د هغه له نظره تيرې شي.

**درېيمه لاره- د ليکل شوي (مدون) قانون د حکمونو سره سمې کړنې:** وروستنی لاره وايي چې هر ډول قانونې وسيله چې په راتلونکې کې د تضامني لګښت د بشپړتيا لپاره اړينه وي، بايد کامل او پوره وي. بناءً دغه ډول حکم د تضامني معاملو په قانون کې شتون نه لري.

**د بحث وړ پوښتنې**

هغه توپيرونه چې د بشپړ شويو تضامني لګښتونو او پرانستل شويو تضامني لګښتونو ترمنځ شتون لري، د خپل ځان لپاره څرګند اولنډيز کړئ. د يوه پورورکوونکي په توګه، په لومړۍ قضيه او يا ځای کې کوم ډول مصوونيتونه په واک کې لرئ؟ همدا ډول په راتلونکې قضيه کې تاسو کوم ډول مصوونيتونه په واک کې لرئ؟

## ج: د تضامني لګښتونو ترمنځ د لومړيتوب د حق ټاکل

اوس موږ تر ټولو لويې ستونزې ته چې په يوه تضامني معامله کې پيښيږي، رسيږو او هغه د لومړيتوبونو ترمنځ له ټاکلو څخه عبارت ده او هغه وخت منځ ته راځي چې له پوروړی پرته بل کس د وثيقې لاندې جايداد باندې د ګټې او منفعت دعوا وکړي. ځينې وخت، لکه څرنګه چې په ۲۴ ماده کې ورباندې حکم شوی دی، امکان لري چې يو تضمين شوی لوری موافقه وکړي چې خپل تضمين شوی منفعت بل کس ته وروسپاري.

**څلورويشتمه ماده:** د مادون موافقه (Subordination Agreement)

هغه کس چې د دغه قانون سره سم، په تضامني لګښت کې لومړيتوب لري شايد داسې موافقه وکړي چې د ټولو لګښت اخيستونکو په وړاندې له خپل لومړيتوب څخه تير او يا د خپل لومړيتوب حق تعديل کړي. دغه حالت د حقوقي اړخه د ( مادون يا ترلې موافقه ليک ) په نوم ياديږي.

د مادون موافقه بايد په ليکلي ډول وي او د ثبت او راجستر په رسمي دفتر کې راجستر شي. سربيره پر دې، که چيرې د مادون موافقه ليک اجراء او پلی شوی نه وي، نو په دې وخت کې د لومړيتوب ټاکل د لومړيتوب د قوانينو سره سم پرې کيږي. د تقدم قانون او قاعدې پريکړه کوي چې د کوم يوه مدعي ګټه، د وثيقې له ارزښت څخه د لومړيتوب حق لري. د لومړي ځل لپاره چې کله د لومړي مدعي منفعت حاصل شي، له هغې وروسته ټول مدعيان کولای شي منفعت ته لاسرسی پيدا کړي. بې له شکه ، که چيرې د پورورکوونکي د ګټو د ترلاسه کولو او د مکلفيت د بشپړولو لپاره يوازې لاره دا وي چې پور وروونکي خپله وثيقه تر ولکې لاندې راولي، په دې وخت کې تضمين شوی لوری کولای شي د لومړيتوب له حق څخه برخمن شي. د تقدم او لومړيتوب حق دې ته ويل کيږي چې مستحق کس کولای شي د پام وړ وثيقه، له ټولو منفعت لرونکو څخه وړاندې تر ولکه لاندې راولي او په خپله پوروړی او نور ګټه لرونکي کسان له تملک او تصرف څخه محروم کړي.

د قانون د ۱۵ مادې لومړی بند، لګښت ورکوونکي ته اجازه ورکوي چې د همدغه پام وړ وثيقې له درکه، له يوه ځای څخه زيات، نورو کسانو ته تضامني لګښت ورکړي، د پور وروونکي لپاره غوره لاره چې په تضامني معامله کې د لومړيتوب حق ترلاسه کړي، دا ده چې د وثيقې پرسر د تضامني لګښت له ترلاسه کولو وړاندې، په غور سره پلټنه وکړي او د خپل ځان لپاره

معلومه کړي چې آیا په وثیقه باندې نورې مغایرې ګټې شتون لري او که څنګه، او یا باید د تضامني لګښت په بشپړتیا ( لکه څرنګه چې د قانون په ۱۲ ماده کېورباندې پریکړه شوې )هر څومره چې په عاجله توګه کیږي، لاس پورې کړي.

د دې موضوع د معلوماتو لپاره چې د لومړیتوب د حق په سیالیو کې به څوک وړونکی وبلل شي، په ځای خبره به دا وي چې لومړی باید معلومه شي چې په وثیقه کې ګټه لرونکي پور ورکوونکي د تضمین شوو له ډلې څخه دي که د غیر تضمنی شوو له ډلې څخه. د لومړیتوب قانون د هر یوه احتمال لپاره په لاندې توګه تعریف او ځانګړی شوی دی:

<u>د نا تضمین شوو پور ورونکو په وړاندې تضمین شوي پور وروونکي</u>

**د پام وړ ټکی:** د وثیقې پر سر د تل لپاره تضمین شوی پورورکوونکي له نا تضمین شوي پور وروونکي څخه وړاندې او د تفوق او تقدم له حق څخه برخمن دی.

لکه څنګه مو چې د تضامني لګښت د پرانستلو په برخه کې ورباندې بحث او خبرې وکړې، وروسته له دې چې پورورکوونکي تضامني لګښت په وثیقه پورې مل او ضمیمه کړي، په پوروړی باندې د هغه دعوا د اجراء وړ او نوموړی پور وروونکي په تضمین شوي پور وروونکي بدلیږي. هر کله چې تضامني لګښت تر وثیقې پورې په سمه توګه ضم شي، تضمین شوی پورورکوونکي د ټولو نورو نا تضمین شویو پور وروونکو په وړاندې د تقدم او لومړیتوب له حق څخه برخمن بلل کیږي. نا تضمین شوی پور وروونکي هغه پور وروونکي ته ویل کیږي چې د هغه تضامني لګښت لاتر اوسه په وثیقه پورې نه وي ضم او مل شوی. هر وخت چې لاتر اوسه تضامني موافقه لیک نه وي لاسلیک شوی او یا په داسې حالت کې وي چې وثیقه تر اوسه د پوروړی په واک او مالکیت کې نه وي لویدلې، زیاتره طلبکاران تر وثیقې پورې د تضامني لګښت په ضم کې ناکام پاتې کیږي. همدا ډول تاسو به د ۷ مې مادې محتوا او مطلب په یاد لرئ، تر هغه وخت پورې چې تضامني لګښت تر وثیقې پورې نه وي ضم او مل شوې، د پوروړی پر سر د پلي کېدو او اجراء وړ نه بلل کیږي. نو له دې امله، نا تضمین شوی پور وروونکي، د تضمین شوي پور ورکوونکي په وړاندې په هیڅ وخت کې د تقدم او لومړیتوب حق نه شي پیدا کولای او همدا ډول د وثیقې پر سر د ګټه لرونکو پور ورکوونکو په وړاندې له کومو ځانګړیو حقوقو څخه نه برخمن کیږي.

<u>د نوروتضمین شوو پور ورکوونکو په وړاندې تضمین شوی پور ورکوونکي</u>

**د پام وړ ټکی:** هغه تضمین شوی پور ورکوونکي چې تضمیني مسوولیت یې له نورو پور ورکوونکو څخه وړاندې بشپړ کړی وي، یو پرمخ تللی پور ورکوونکي شمیرل کیږي.

په هغه صورت کې چې دوه یا زیات پور ورکوونکي د عین وثیقې پر سر د اجراء وړ تاميني مسوولیتونو خاوندان وي، نو په دې وخت کې داسې یوې کړندودونه ته اړتیا ده څو معلومه کړي چې کوم یو پور ورکوونکي د زیات حق څښتن او په سیالی کې د تقدم او لومړیتوب له حق څخه برخمن دی. نو په دې وخت کې قانون ( لومړی-وخت ته په کتو) او (لومړی-حقوقو ته په کتو ) پر بنسټ پیژندل کیږي، د دغه قانون سره سم، هغه پور ورکوونکي چې له نورو پور ورکوونکو وړاندې خپل تضمیني مسوولیت بشپړ او یا یې دوسیه بندي کړی دی، له نورو ټولو پور ورکوونکو څخه د غوره توب څښتن دی. نو په دې توګه، هغه قانون چې مور پورته د تضمین شوو او نا تضمین شوو پور ورکوونکو په اړه ولوستلو، یوازې هغه وخت د پلي کېدو وړتیا دی چې د سیالو پو رورکوونکو مسوولیتونه لا تر اوسه نه وي بشپړ شوي. بناءً تاسو داسې یو حالت په پام کې ونیسی چې په هغه کې الف له ب لوري څخه وړاندې خپل تأميني مسوولیت ضمیمه کړی وي. د ب لوری د الف له لوري وړاندې خپله دوسیه د مسوولیتونو د ثبت په مرکزي دفتر کې درج کوي او یا د الف له لوري وړاندې وثیقه ترلاسه کوي. په پورتني حالت کې سره له دو چې د الف لوری د تضمیني مسوولیت د ضمیمه کولو په برخه کې ناکام دی، خو د سیالی په برخه کې وړونکی بلل کیږي. دا ټکی باید د تل لپاره په یاد ولرئ چې بشپړ شوی تضمیني مسوولیت له نا بشپړ شوي تضمیني مسوولیت څخه وړاندې او بهتره دی. د تضامني معاملو د قانون د ۱۵ مادې

دويم بند چې لاندې ليکل شوی هم دی، وايي چې د پور ورکوونکو د تقدم او لومړيتوب د حق په ټاکلو کې باید د مراتبو سلسله تثبيت شي.

**پنځلسمه ماده، دويم بند: د تضامني لګښتونو ترمنځ د لومړيتوب حق**

۱ –بشپړ شوی تضامني لګښت له نا بشپړ شوي تضامني لګښت څخه د لومړيتوب حق لري. د نا بشپړ شوو تضامني مسوولیتونو ترمنځ د لومړيتوب حق، د لومړي تضامني لګښت پر اساس، چې تر وثيقې پورې پيوسته کيږي، ټاکل کيږي.
۲ –د دوو يا زياتو تضامني مسووليتونو ترمنځ د لومړيتوب حق، د هغه ترتيب او سلسلې پر اساس چې لګښت اخستونکي خپل تضامني مسووليتونه ثبت او راجستر کوي، د وثيقې مالکيت تر خپلې ولکې لاندې راولي او يا د هغې سلسلې پر اساس چې تضامني مسووليتونه پرې بشپړيږي، ټاکل کيږي.

**د بيا کتنې پوښتنه:** د جنورۍ په لومړۍ نيټه، نجيب الله د لومړي ځل لپاره له کابل بانک څخه ۱۵۰۰۰ افغانۍ په پور اخلي څو د خښتو د توليد د کارخانې لپاره يو لړ ماشينونه واخلي. هغه د کابل بانک سره يو تضامني موافقه ليک په بشپړتنې نيټه لاسليک او په موافقه ليک کې د پام وړ موټر د ثيقې په توګه د بانک د پور لپاره ټاکي. لومړی کابل بانک د تضامني مسووليت د ثبت او راجستر دوسيه، د نومړوړې مياشتې تر لسمې نيټې پورې د مسووليتونو د ثبت او راجستر په مرکزي اداره کې نه ثبتوي. د جنورۍ په اتمه نيټه نجيب الله د دويم کابل بانک سره يو بل تضامني موافقه ليک د ۱۵۰۰۰ افغانيو پور اخستلو لپاره لاسليک کوي او د دغه موافقه ليک لپاره هم خپل موټر د وثيقې په توګه ټاکي. اوس دويم کابل بانک د تضامني مسووليت د موافقه ليک د لاسليک وروسته خپل ځان د مسووليتونو د ثبت او راجستر په مرکزي کې ثبتوي. دوې مياشتې وروسته نجيب الله د دواړو بانکونو د پور ورکړې په برخه کې ناکام پاتې کيږي او يا هم د کوم قصور مرتکب کيږي. تاسو اوس کولای شی ووايې چې کوم يو بانک د نجيب الله د کارخانې د ماشينونو په اړه د لومړيتوب حق لري؟[21]

## د: د وثيقې لاس ته راوړل: د پور په بيا ورکړه کې د پوروړی د کمی او قصور په وخت کې د پور ورکوونکي د حق لپاره لارې چارې.

**۱ –د پوروړی له خوا کمي او قصور**

که پوروړی د هغو مکلفيتونو په سرته رسولو کې چې په تضامني موافقه ليک کې ياد شوي دي، پاتې را شي، مورږ دغه حالت د پوروړی د قصور او يا کمی په نوم يادوو. هر کله چې پوروړی د خپلو مکلفيتونو په بشپړتيا او اجراء کې خپله کمي او قصور په ګوته کړي، تضمين شوی لوری کولای څو د خپلو پورونو د لاسته راوړلو په موخه وثيقې ته لاس اورد کړي. د دې لپاره چې وپوهيږو چې تضامني لګښتونه، د تضمين شوو ملکفيتونو د تأمين لپاره څنګه په ارزښت او بيه باندې بدليدلای شي، لومړی باید وپوهيږو چې په تضامني لګښتونو کې کوم حقوق نغښتي دي.

تضامني لګښت د تضمنی شوي پور ورکوونکي لپاره، د جايداد پر سر مشروط حق برابروي. دغه حق ته ځکه مشروط حق ويل کيږي چې د پور ورکوونکي يو حق تر څو نه وي بشپړ شوی او يا نه وي ترلاسه شوی، نه شي کولای خپل حق اعمال کړي. د تضامني معاملې په قضيه کې، هغه حق چې باید بشپړ شي، د پور د بيا ورکړې په برخه کې د پوروړی له قصور او کمی څخه عبارت دی. د تضامني راکړو ورکړو په قانون کې د پوروړی کمي او قصور نه دی څرګند شوی، خو دواړه لوري باید هوکړه وکړي چې د دوی په منځ او ځانګړې معامله کې، کوم شيان قصور او

[21]– د 15(2) مادې له حکم سره سم دواړه طلبکاران (لومړی او دويم کابل بانک) په موټر تضامني لګښت لري (د ۷ مادې د حکم مطابق)، مګر څرنګه چې دويم کابل بانک د تضامني لګښت پروسه له لومړي کابل څخه مخکې بشپړه کړې نو دويم کابل بانک د لومړيتوب حق لري.

کمي بلل کيږي او دغه مواد او شروط بايد په تضامني موافقه ليک کې ځای پر ځای کړي. که هغه شيان او مواد چې دواړه لوري يې د قصور په توګه تثبيتوي خو په موافقه ليک کې نه وي راغلي، د پور ورکوونکي لپاره ډېره ستونزمنه ده چې تضامني موافقه ليک په پوروړی باندې اجراء او پلی کړي او وثيقه تر خپلې ولکې لاندې راولي.

په لاندې توګه له ربښتيني تضامني موافقه ليک څخه د قصور د فقرې يوه بيلګه راوړل شوې ده، خو په ياد ولرئ چې دواړه لوري هيڅ وخت له قصور څخه خپل تعريف، په ټاکلي وخت کې د پور په بيا ورکړه کې د ناکامی په مفهوم نه خلاصه کوي. د قصور په لاندې فقره کې، د پور ورکوونکي د حقوقو د تعميل په موخه چې په تضامني لګښت کې شامل شوي ده، د وثيقې پر سر اړول شوی تاوان يو مهم او پوره عامل په پام کې نيول شوی دی. سربيره پر دې، د قصور د بيلګې په (ه) فقره کې ويل شوي دي، په کوم وخت کې چې پوروړی د افلاس او يا مالي شکست سره مخامخ کيږي، قصور او يا کمي رامنځ ته کيږي. که د پور د ورکړې له ټاکلې نيټې څخه وړاندې پوروړی د مفلسی او بې خرڅی سره لاس او ګريوان کيږي، پور ورکوونکي مکلف نه دی څو تر ټاکلې نيټې پورې انتظار وباسي، بلکې هغه کولای شي له ټاکلې نيټې وړاندې د وثيقې د تملک او تصرف لپاره دعوا وکړي. دغه تصميم او تدبير يوازې د پور ورکوونکي د حقوقو د خوندي ساتنې لپاره په پام کې نيول شوی دی. دغه پريکړه د پور ورکوونکي لپاره ځکه په ګټه پريوزي چې هر څومره وړاندې هغه د وثيقې دعوا کوي، په هماغه اندازه د نورو پور ورکوونکو په وړاندې، د وثيقې پر سر د هغه د لومړيتوب د حق اندازه زياتيږي.

**د قصور پيښې : د دغه موافقه ليک سره سم، پوروړی هغه وخت قاصر او کم بلل کيږي چې له لاندې شروطو او واقعو څخه يو شرط او ياپيښه صورت ونيسي:**

الف: د ټولو هغو مکلفيتونو، رسمي قراردادونو او مالي مسووليتونو په اجراء کې کمي او قصور چې په دغه موافقه ليک کې ځای پر ځای او د پوروړی له مکلفيتونو څخه شمېرل کيږي.

ب: هر ډول تضمين، استازيتوب او څرګندونې چې د پوروړی او يا د هغه د استازي له خوا، د تضمين شوي لوري په وړاندې ترسره شوي وي او د هغه د پلي کېدو په وخت کې غلط او ناقص ثابت شي.

ج: د وثيقې هر ډول تاوان، غلا، لوی تاوانونه، تخريب، خرڅلاو، د وثيقې د ګټه اخستلو په اړه هر ډول حقوقي خنډ، اختلال، د جريمې تحميل او د وثيقې پر سر مصادره، ضبط او توقيف.

د: د وثيقې د موجوديت انحلال او فسخ، د افلاس د فدرالي قانون سره سم، د محکمې د غوښتنې لپاره د پوروړی او يا کوم دريم لوري له خوا د دوسيې درج، د سوداګرۍ په چارو کې ناکامي او د جايداد د برخو د تصفيې لپاره د تصفيې د مدير ګمارل او يا د پور ورکوونکي د ګټو لپاره د پور ورکوونکي لخوا د يوه بل کس ګمارل.

و: د هغه قصور او کمی پيښيدل چې د دواړو لوريو له خوا په موافقه ليک کې ځای پر ځای شوي دي.

**د قانوني مسودې د برابرولو تمرين:** د قصور په اړه له پورته يادو شويو فقرو يوځخه په ګټه اخستو، هڅه وکړی څو له بانک څخه د نجيب الله له خوا د پور د پيدا کولو د قضيې لپاره د قصور يوه فقره برابره کړئ. کوښښ وکړی خپل ځان د بانک او يا پور ورکوونکي په توګه وګڼئ او د نوموړي مرکز له نظره يې وليکئ. ستاسو په اند هغه ستونزې او خنډونه چې يو پور ورکوونکي د قصور د فقرې په برابرولو کې ورسره مخامخ کيږي، کومې دي؟

### ۲ - د پور ورکوونکي د جبران حق.

ستاسو به په ياد وي چې د پور ورکوونکي په توګه تاسو لپاره د تضامني معاملو د پلي کېدو له ګټو څخه يوه هم د مصوونيت موضوع ده، چې د پوروړی له خوا د مکلفيتونو د نه پلي کېدو او اجراء په وخت کې تاسو له هغه څخه برخمن کيږی. کله چې په يوه تضامني موافقه ليک کې، پوروړی د کمی او ناکامی مرتکب کيږي، د تضامني موافقه ليک د حکمونو او شروطو سره سم، پور ورکوونکي کولای شي له ځانګړو او په

ګوته شوو حقوقو او حقوقي ګټو څخه برخمن شي. یو پور ورکوونکي خپل مصوونیت له درېیو لاندې حقوقي سرچینو څخه لاسته راوړي:

1. هغه حقوق چې د پوروړي او پور ورکوونکي له خوا په تضامني موافقه لیک کې لاسلیک او تسجیل شوي دي.
2. هر ډول حقوقي کړندودونو او کړنلارو ته د لاسرسی حقوق ( د تضامني معاملو قانون د ۴۲ مادې سره سم چې په وروسته بحثونو کې به وربناندې خبرې اترې وشي). او
3. هغه حقوق چې د تضامني معاملو د قانون د ۲۹ مادې سره سم وربناندې حکم شوی دی.

**۲۹ ماده: د کړنو په پلي کېدو او د پورونو په ورکړه کې د قصور په وړاندې تصمیمونه**

(1) د پور په بیا ورکړه او یا د یوه مکلفیت په تر سره کولو کې د قصور د پیښیدو په وخت کې، لګښت اخستونکی د تضامني موافقه لیک د حکمونو سره سم په مستقیمه توګه کولای خپل حقوق د وثیقې پر سر پلي او اجراء کړي

(2) د پوروړی له خوا د پور ورکړې د قصور په وخت کې، لګښت اخستونکی کولای محکمې ته د خپلو حقوقو د اعادې غوښتنلیک وړاندې کړي.

(3) د تضامني موافقه لیک ټول حقوق، دندې او مکلفیتونه باید د معقولو او منطقي سوداګریزو لارو چارو سره سم، ترسره شي.

دغه مسأله امکان لري چې د وثیقې د دویم مالک لپاره لږ غیر عادلانه په نظر پریوزي، خو بیا هم د دویم مالک د حقوقو او حیثیت اعاده د نجیب الله په څرګندونو او اقرار کې نغښتې ده. د بیلګې په توګه: داسې وګڼئ چې نجیب الله پوهیږي چې هغه د دې وړتیا نه لري چې بانک ته خپل پور ورکړي او په پایله کې نوموړی بانک له دې حق څخه برخمن دی چې هغه موټر چې د پور د تضمین لپاره یې د وثیقې په توګه معلوم کړی دی، تر خپلې ولکې لاندې راولي. په دې وخت کې که نجیب الله هڅه وکړي څو یاد شوی موټر په عبدل باندې خرڅ کړي او له دې لارې موټر بانک ته له سپارلو څخه آزاد کړي او د معاملې په وخت کې ووایي چې په موټر باندې بل هیڅ پور ورکوونکي ادعا نه لري، وروسته له دې کله چې بانک وغواړي خپل تضامني لګښت د عبدل د موټر پر سر پلی کړي، عبدل کولای شي د نجیب الله پر سر د غلطو څرګندونو له امله، د حقوقو د اعادې غوښتنه وکړي.

وروسته له دې چې تضمین شوی لوری د وثیقې د تملک له حق او تر هغه پورې اړوند قانوني ګام څخه برخمن شي، دغه موضوع چې وثیقه تر دریم لوري پورې کوم چې په لومړي تضامني موافقه لیک کې د پور ورکوونکي د قرارداد لوری نه وي، تړلې وي، کوم ځانګړی اهمیت او غوره توب نه لري. سربیره پر دې چې موږ په دې عقیده یو، چې پورورکوونکي باید د آسانتیا په موخه د تضامني لګښت کړنې په پوروړی باندې پلې او اجراء کړي، خو باید په یاد ولرئ چې هغه حقوقي چې موږ یې په همدغه بحث کې په پام کې لرو، د طلبکا او پوروړی ترمنځ شتون لري. نو په دې توګه، که اصلي پوروړی د قصور او کمی په صورت کې هغه وثیقه چې د پور د اخستلو لپاره یې تضمین کړې ده، د له لاسه ورکولو د مخنیوي په موخه وپلوري، تضامني لګښت د وثیقې د پلورلو له امله اخلال او ګډ وډ شو او د پام وړ وثیقه دویم مالک ته لیږدیږي.

سربیره پر دې، د تضامني راکړو ورکړو قانون د لومړي بند ۲۵ ماده هڅه کوي څو پور پورورکوونکي د دغه ډول ناخوالو او پایلو په وړاندې وساتي او هغه په داسې ډول چې پوروړی په خپله مکلف بولي څو په یوه تضامني معامله کې د مسوولیت د لیږد په وخت کې چې د وثیقې د لیږد سره یو ځای صورت نیسي، باید د لګښت اخستونکي/ پورورکوونکي منظوري او خوښه ترلاسه کړي. نو له دې امله، هم بانک او هم عبدل ته باید د تضامني موافقه لیک د نویې اړیکې په اړه خبر ورکړل شي. د داسې شروطو د پلي کېدو په صورت کې، کابل بانک پوهیږي چې د نجیب الله د کمی او قصور په وخت کې خپله ادعا او غوښتنه په عبدل باندې پلي او اجراء کړي او عبدل هم پوهیږي چې نوموړی موټر د نجیب الله د پور ورکوونکي له خوا د تصرف د احتمال سره مل دی. په دې توګه که عبدل له پیل څخه د دغه ډول مسوولیت او التزام د منلو لپاره خوښي نه څرګندولای، نو د نجیب الله د موټر د اخستلو له وړاندیز څخه به یې ځان ساتلی وو.

**۲۵ ماده: د پوروړی او لګښت ورکوونکي د مسوولیتونو لېږد**

(۱): په یوه تضامني معامله کې د پوروړی او لګښت ورکوونکي حقوق او مسوولیتونه په هغه وخت کې درېیم لوري ته لېږدیدلای شي چې د لګښت اخستونکي او پور ورکوونکي موافقه یې په لیکلي توګه ترلاسه کړې وي، خو دا په هغه وخت کې چې د تضامني راکړو ورکړو په قانون کې په کوم بل شان پریکړه نه وي ترسره شوې.

په څرګند ډول، څرنګه چې د لګښت ورکوونکي او پوروړی حقوق او مسوولیتونه درېیم لوري ته نقلیدلای شي، همدا ډول لګښت اخستونکی کولای شي خو د تملک او تصرف حق او قانوني ګامونه چې د یوې تضامني معاملې له لارې تضمین شوي دي او په خپل واک کې یې لري، د دغه قانون د ۲۶ مادې سره سم کولای شي بل درېیم لوري ته نقل کړي. خو باید په یاد ولری چې د پور ورکوونکي د حقوقو او مسوولیتونو نقلیدل، د پوروړی لیکلي موافقې او هوکړې ته اړتیا نلري، خو د لګښت ورکوونکي او پوروړی د حقوقو د لېږدیدلو سرچپه، د لګښت ورکوونکي او پور ورکوونکي د مسوولیتونو او حقوقو نقلیدل داسې لیکلي موافقې ته لکه چې د لګښت ورکوونکي په برخه کې یې صورت نیولو، اړتیا نه لري، بلکې یوازې دومره مکلف دی چې درېیم لوري ته د حقوقو او مسوولیتونو د نقلیدلو په وخت کې پوروړی ته په رسمي توګه خبرتیا او اطلاع ورکړي. خو که په دې برخه کې، پوروړی د نا آرامی احساس وکړي، کولای شي له پور ورکوونکي څخه غوښتنه وکړي څو د اصلي تضامني موافقه لیک اړوند حقوقو او مسوولیتونو د لېږدولو څخه ځان وساتي.

**۲۶ ماده: د لګښت اخستونکي د مکلفیتونو او مسوولیتونو دلېږد حقوق**

(۱) لګښت اخستونکی کولای شي څو د طلبکارۍ او اړوندې وثیقې له درکه د پور د بیا ورکړې حقوق، درېیم لوري ته د پوروړی له اجازې پرته لېږد کړي.

(۲) د پوروړي حساب ته انتقال یا لېږد د لیکلی یادښت له مخې تر سره کیږي. د پوروړی د بانکي حساب پر سر د تضامني لګښت بشپړتیا، رسمي ضمیمه او یا هم د هغو پرانستل، مخکینی خبرتیا او اطلاع ته اړتیا نه لري.

**۳ – له پوروړی څخه د پور ورکوونکي له خوا د وثیقې د پړاوونو د سرته رسولو لارې چارې.**

که په عملي توګه خبرې وکړ، یو پور ورکوونکي د دې لپاره چې وکولای شي خو له خپلو حقوقو څخه برخمن شي، هغه باید د پام وړ وثیقه تر خپلې ولکې لاندې راولي. د قانون ۲۹ ماده ځینې تصمیمونه او تدبیرونه په لنډ او څرګند ډول بیانوي او وایي: چې د پوروړی د قصور او کمی په وخت کې پور ورکوونکي کولای شي وثیقه تر خپلې ولکې لاندې راولي.

که پور ورکوونکي تر اوسه پورې وثیقه تر خپلې ولکې لاندې نه وي راوستلې، کولای شي له مقصر پوروړی څخه غوښتنه وکړي چې د وثیقې کارونه برابر او د دیرشو ورځو په ترځ کې یې د هغه په واک کې ورکړي. خو دا په هغه صورت کې چې په تضامني موافقه لیک کې تر نوموړې نیټې لنډه او یا اوږده نه وي ټاکل شوې. که پوروړی د وثیقې له سپارلو څخه ځان ژغوري، پور ورکوونکي ځینې ځانګړې لارې چارې په واک کې لري څو وکولای شي وثیقه په خپل واک کې راولي، د بیلګې په توګه: هغه کولای شي د موافقه لیک د موادو د اجباري پلي کېدو او اجراء غوښتنه له محکمې څخه وکړي.

وروستنی ټکی دا دی چې ۲۹ ماده دواړه لوري په دې باندې مکلفوي چې د تضامني موافقه لیک ټولو مکلفیتونه او الزامات، د معقولو او منطقي سوداګریزو لارو چارو سره سم عملي کړي. سره له دې چې قانون دغه مسأله چې کومې کړنې او کړندودونه له سوداګریز نظره منطقي او معقولې بلل کیږي، ډیره نه ده روښانه کړې، خو په دې اړه د زیاتو معلوماتو او لارښوونو د لاسته راوړلو په موخه، موږ کولای شو د امریکې عمومي قانون

ته رجوع وکړو او معلومه کړو چې نوموړي قانون منطقي او معقولې سوداګريزې لارې چارې څنګه تعريف کړې دي. د امريکې د تضامني معاملو د قانون سره سم، د تضامني موافقه ليک ټول حقوق، دندې او مکلفيتونه بايد په داسې شان ترسره شي چې له سوداګريز اړخه معقول او منطقي وي. وروسته له دې چې پور ورکوونکي وثيقه تر خپلې ولکې لاندې راولي، د دغو شروطو او اړتياوو د پلي کېدو لپاره، د امريکې محاکم زيات تمرکز او ټينګار د وثيقې د خرڅلاو او يا بل چاته د سپارلو لپاره، د پور ورکوونکي په کړنو باندې کړى دى ( دغه مفهوم په راتلونکو بحثونو کې په مفصل ډول تر څېړنې او غور لاندې نيول شوى دى). يعنې د امريکې محاکم زيات ټينګار د پور ورکوونکي په هڅو او کوښښونو باندې کوي کوم چې د وثيقې د اخستونکو لپاره يې ترسره کوي ( داسې اخستونکي چې د وثيقې لپاره زيات او مناسب قيمت پرې کړي). که د وثيقې سپارل د عمومي ليلام له لارې ترسره شوى وي، محاکم زيات ټينګار پر دې کوي چې آيا د وثيقې د خرڅلاو او ليلام لپاره، د پور ورکوونکي هڅې او کوښښونه د ښه او پاک نيت سره مل دي او که داوطلبانو ته يې د تبليغاتو او نورو رسنيو له لارې کمپاين په لاره اچولى دى څو د وثيقې له ګټو څخه باخبره شي.

که د وثيقې سپارل او خرڅلاو له يوې ځانګړې لارې ترسره شوې وي، په دې وخت کې محاکم زياته هڅه د دې لپاره کوي څو هغه لارې چارې وڅېړي چې پور ورکوونکو د ګټورو لوريو سره ترسره کړې او د هغو سره يې د خرڅلاو تفاهم کړى دى. سربيره پر دې، په يوه تضامني معامله کې امکان لري چې وثيقه يو غير ملموس شى وي او پور ورکوونکي نه شي کولاى هغه تر خپلې ولکې لاندې راولي، بلکې وثيقه د يوه حساب، دليل او يا تضمين په شکل وي. د بيلګې په توګه: د الف په يوه تضامني معامله کې پوروړى په خپله د ب په تضامني معامله کې د پوروړى په وړاندې پور ورکوونکي وي. په داسې قضيه کې د الف معاملې پوروړى کولاى شي هغه بيا ورکړې چې په راتلونکي کې به يې د پور ورکوونکي په توګه له نورو پوروړو څخه ترلاسه کړي، د الف د تضامني معاملې د پورونو د تضمين لپاره وکاروي. د تضامني راکړو ورکړو د قانون د ۳۰ مادې سره سم، د الف تضامني معاملې پور ورکوونکي په مستقيمه توګه کولاى شي، د ب تضامني معاملې له پوروړى څخه ترلاسه کړي. تضمين شوى لورى (پور ورکوونکي) کولاى شي ټول لګښتونه چې د وثيقې د راټولولو لپاره يې متحمل کيږي د هغو لګښتونو په ګډون چې د دريم لوري سره د تعامل په پايله کې رامنځ ته کيږي، د پوروړى په پور وراضافه کړي.

**۲۹ ماده: په کړنو او اجراآتو او يا په بيا ورکړه کې د قصور په اړه تصميمونه.**

(۱) د کړنو او بيا ورکړې په اړه د قصور په وخت کې، لګښت اخستونکى کولاى شي د وثيقې پر سر خپل حقوق، لکه څنګه چې په تضامني موافقه ليک کې ذکر شوي دي، په مستقيم ډول پلي کړي.

(۲) که د پوروړى له خوا د پورونو د اداء کولو په برخه کې قصور او کمي رامنځ ته شي، لګښت اخستونکى کولاى شي څو محکمې ته د پوروړى پر سر د خپلو حقوقو د اجباري پلي کېدو او اجراء غوښتنه وکړي.

(۳) د تضامني موافقه ليک ټول حقوق، دندې او مکلفيتونه بايد د هغو لارو چارو سره سم ترسره شي چې له سوداګريز اړخه اصولي، معقول او حقوقي بلل شوي دي.

**۳۰ ماده: د دستاويز، تضمين او مالي حسابونو راټولول.**

(۱) د قصور په اړه د کمي او قصور د خبرتيا له صدرو وروسته، لګښت اخستونکى کولاى شي ټولو هغو کسانو ته چې د کوم حساب، تضمين او يا دستاويز له امله د لګښت ورکوونکي پوروړي وي، خبر ورکړي چې دغه ډول پيسې په مستقيمه توګه لګښت اخستونکي ته ورکړي.

(۲) هر ډول لګښتونه او مصارف چې پور ورکوونکي يې د دغې مادې د لومړى فقرې د پلي کېدو او اجراء په وخت کې په غاړه اخلي، د لګښت ورکوونکي له مالي وجوهو څخه پرې کيږي.

**۴- د پور ورکوونکي له لوري د تصرف شوې وثيقې خرڅلاو او يا بل چاته ورسپارل.**

وروسته له دې چې پور ورکوونکي په بريالیتوب سره وثيقه تر خپلې ولکې لاندې راولي، هغه کولای شي د وجوهو د لاسته راوړلو لپاره کومې چې د تضامني مکلفيتونو د رفعه کولو لپاره اړينې دي، خرڅه کړي. د تضامني راکړو ورکړو قانون پورورکوونکي ته د وثيقې د خرڅلاو او اجارې او همدا ډول د اجازه ليک د صدرو حق او بل چاته د سپارلو نورو لارو چارو اجازه ورکړې ده. بل چاته د وثيقې د سپارلو معمولترينه لاره له عمومي خرڅلاو ( ليلام او مزايدې) او يا د ځانګړي تفاهم پر سر له معاملې څخه عبارت ده ( د دغه قانون ۳۳ مادې ته رجوع وکړئ ). په ياد ولرئ چې قانون پور ورکوونکي په دې باندې مکلف کړی دی چې د وثيقې د خرڅولو په اړه مديونه ته سم او منظمې خبرتیاوې صادرې او ورولیږي، تر څو پوروړی وکولای شي (که تمايل ولري ) وثيقه بيرته په خپله واخلي، د بيلګې په توګه: د پور ورکوونکي د تضامني لګښت له قيد څخه د وثيقې د خلاصون لپاره، د وثيقې له خرڅلاو وړاندې خپل پور په بشپړه توګه پرې کړي ( د تضامني راکړو ورکړو ۳۵ او ۳۹ مادو ته رجوع وکړئ ).

هر څومره چې د استرداد او بيا اخستلو حقوق له يوه ځانګړي اهميت څخه برخمن دي، خو دغه ډول حقوق په ډيره تيټه کچه د تعميل وړ دي. که يو پوروړی د پور په بيا ورکړه کې کمي او قصور په ګوته کړي، معمولاً داسې معنی لري چې هغه پوره او کافي بيسې په واک کې نه لري څو په ټاکلې نيټه او قسطونو کې د پور ورکوونکي پيسې ورکړي. که قضيه په همدغه شان وي، پوروړی امکان نه لري چې ټول مالي وجوه چې د تضامني لګښت له قيد څخه د وثيقې د خلاصون لپاره اړين دي، د يوه لوی مبلغ په توګه پرې کړي. ځينې وخت امکان لري چې پوروړی هغه پيسې چې د وثيقې د استراد لپاره اړينې دي، د بل پور په ډول لاسته راوړي، خو د وثيقې په توګه د نورې دارايي د نه شتون په صورت کې به پوروړی ته ستونزمنه وي چې دغه ډول پورونه ترلاسه کړي.

وروستی ټکی چې بايد ورڅخه يادونه وکړو هغه دا دی، چې د وړاندينی برخې په پام کې نيولو سره، د وثيقې د خرڅلاو او سپارلو ټولې لارې چارې، له سوداګريز اړخه په معقولو او منطقي لارو چارو باندې مشروط او معروض دي ( د دغه قانون ۲۹ ماده ).

**۳۳ ماده: بل کس ته د وثيقې د ورسپارلو لارې چارې او د هغو اغيزې**

1. ټولې وثيقې له لاندې لارو چارو څخه په ګټه اخستو، بل کس ته سپارل کيږي:

i) عمومي خرڅلاو، ځانګړی خرڅلاو، اجاره او داسې نورې لارې چارې چې د دغه قانون د حکمونو تابع او په هر وخت او هر ځای او د ټولو شروطو سره سم، او د سوداګريزو اصولو له مخې معقول او منطقي وي، پيښيږي.
ii) ( په عمومي بازار کې ) د عمومي خرڅلاو له لارې، د پور ورکوونکي له لوري د وثيقې اخستل، په داسې يوه مناسب نرخ چې د سوداګريز نرخ سره سمون ولري او وثيقه وړاندې په هماغه نرخ اخستل شوې وي.

2. د دغه قانون د حکمونو سره سم، د وثيقې سپارل. تضامني لګښت، لګښت اخيستونکی او د هغه اړوند تضامني لګښتونه او همدا ډول د لګښت ورکوونکي ګټې له وثيقې څخه ليرې کوي او يا يې له منځه وړي.

3. هر هغه کس چې د يوه ضمانت، الحاقی مادې او يا دې ته ورته موافقه ليک له لارې د لګښت اخستونکي په وړاندې مسوول او ملزم وې، پورونه پرې کوي او له لګښت اخيستونکي څخه د وثيقې ليږد تسليموي، د لګښت اخيستونکي د دندو او حقوقو قايم مقام ګرځول کيږي. دغه ډول ليږد د وثيقې د سپارلو په توګه په پام کې نه نيول کيږي.

**۳۵ ماده: د وثيقې د سپارلو په اړه د خبرتيا صادرول.**

(1) پور ورکوونکي یا لګښت اخستونکی به لګښت ورکوونکي او یا یو بل لګښت ورکوونکي ته چې د ثبت او راجستر په رسمي دفتر کې ثبت شوی وي، د وثیقې د سپارلو په اړه خبرتیا صادروي. د خبرتیا او اطلاعیې دغه صدرو باید د ۱۵ ورځو په ترځ کې صورت ونیسي او دغه ډول اطلاعیه او خبرتیا باید لاندې ټکیو ته شامله وي:

(i) د وثیقې روښانتیا او څرنګوالی.
(ii) د پور هغه مبلغ او اندازه چې د تضامني موافقې پر اساس تضمین او لاتراوسه نه دی پرې شوی.
(iii) د لګښتونو او مصارفو اندازه او که د نومړیو لګښتونو اندازه نه وي ټاکل شوې، یوه معقوله اندازه باید تخمین شي.
(iv) اعتراف او څرګندونې ( د پورتني دویم او دریم بند ټول نا پرې شوي مبلغ د ورکړې په صورت کې، هغه کس چې د اطلاعیې او خبرتیا د لاسته راوړولو وړ دی، کولای شي وثیقه بیا واخلي ).
(v) اعتراف او څرګندونې- « کله چې د خبرتیا وړ کس له خوا وثیقه بیا وا نه اخستل شي، بل کس ته د سپارلو لپاره وړاندې کیږي او پوروړی/ لګښت ورکوونکی د ټولې هغې اندازې په وړاندې چې د سپارلو له درکه نه دی ورکړل شوی، مسوول او ملزم دی ).
(vi) د عمومي مزایدې له لارې د هر ډول خرڅلاو ځای، وخت او ورځ او هغه ځای چې هلته نږدې مناقصې وړاندې کیږي، هغه نیټه چې له هغې وروسته مناقصه او مزایده نه منل کیږي او د وثیقې د بل هر ډول سپارلو نیټه.

### ۳۶ ماده: هغه ځایونه چې خبرتیا ته اړتیا نه لري

د وثیقې د سپارلو په اړه په لاندې ځایونو کې، د خبرتیا صدور ته اړتیا نه لیدل کیږي:

أ. لګښت اخستونکی د خپلو دلایلو پر اساس په دې باور لري چې وثیقه له داسې قلمونو څخه جوړه شوې ده چې هغه خرابیږي او یا که وثیقه په عاجله توګه ونه سپارل شي، په پوره توګه خپل ارزښت او اهمیت له لاسه ورکوي.

ب. د وثیقې د ګدام او ساتنې لګښتونه، د وثیقې د ریښتیني ارزښت په پرتله، په غیر مناسب ډول له اندازې زیات وي.

ت. له قصور وروسته هغه کس چې د اطلاعیې او خبرتیا د ترلاسه کولو وړ دی، په لیکلي ډول د وثیقې د سپارلو موافقه کړې وي.

### ۳۹ ماده: د وثیقې د بیا اخستلو لپاره د لګښت ورکوونکي (پوروړی) حق.

(۱) په هر وخت کې، وړاندې له دې چې لګښت اخستونکی وثیقه بل چاته وسپاري، د وثیقې د سپارلو لپاره د بل کس سره موافقه وکړي او یا مخکې له دې چې روښانه شي چې لګښت اخستونکي په قطعي ډول تصمیم نیولای څو وثیقه د خپل ځان سره وساتي، لګښت ورکوونکی (پوروړی) او یا یو بل لګښت ورکوونکی کولای شي ترڅو ټوله نا پرې شوې اندازه لګښت ورکوونکي ته ورکړي او وثیقه ورڅخه واخلي. که امکان ولري، لګښت ورکوونکی او یا یو بل لګښت اخیستونکی باید هغه معقول او منطقي لګښتونه چې د لګښت اخستونکي له خوا د وثیقې د سپارلو لپاره د تیارۍ لپاره په رغاونه، تملک او ضبط باندې لګیږي، هم پرې کړي.

(۲) په کړنو او یا د پور په ورکړه کې د قصور له پیښیدو وړاندې، لګښت ورکوونکی کولای شي د وثیقې د بیا اخستلو د حق په اړه خپل ابراء لیک برابر کړي.

**۵ – د وثیقې له له تملک څخه د پیدا شوو عواید په ویش کې د لومړیتوب حق**

که وثیقه د پورتنیو شروطو سره سم بل چاته وسپارل شي، د تضامني راکړو ورکړو قانون وايي چې د وثیقې له خرڅلاو څخه ترلاسه شوي عایدات باید له ټولو وړاندې د هغو لګښتونو لپاره وکارول شي چې پورورکوونکي د دغه قرارداد د اجراء او د وثیقې د تملک، تصرف او خرڅلاو لپاره په غواړه اخستې دي.

که پورتني لګښتونه ټول پوره شوي وي، همدا ډول د وثیقې له خرڅلاو څخه ترلاسه شوي عایدات کیدای شي د پور د رفعې او بیا ورکړې لپاره پلي شي. په وروستي پړاو کې، که ځینې نوره وجوه له پورتنیو پړاوونو څخه پاتې شوي وي، نو په دې وخت کې هغه پور ورکوونکي چې په دویم پړاو کې شتون لري او په قانع کوونکو لارو چارو یې خپلې دعوې د وثیقې پر سر درج کړې وي، مستحق دي څو د لومړیتوب د حق د سلسلې پر اساس خپلې پیسې لاسته راوړي. د تضامني معاملو قانون د لومړیتوب سلسلې، چې د هغو سره سم باید د وثیقې د خرڅلاو له عایداتو څخه ګټه پورته شي، په لنډ ډول بیان کړي دي.

**۳۲ ماده: بل کس ته د وثیقې سپارل**

تر تضامني موافقه لیک لاندې د قصور د پیښیدو په صورت کې، لګښت اخستونکی کولای شي د وثیقې یوه برخه او یا ټوله وثیقه، له سوداګریز اړخه د هر ډول معقول او منطقي رغاونې او تیارۍ وړاندې، بل کس ته وسپاري. چې له عایداتو څخه یې په لاندې توګه ګټه اخستل کیږي:

(۱) د بیمې د لګښتونو په ګډون، د لګښت اخستونکي د معقولو لګښتونو، مالیاتو او نورو لګښتونو اداء کول چې لګښت اخستونکي د وثیقې د سپارلو په موخه د تملک، رغاونې او د تیارۍ لپاره په غواړه اخستي دي. ټول لګښتونه هغو شیانو ته شاملیږي چې په تضامني موافقه لیک کې ذکر شوي دي.

(۲) د هغه پور د پرې کولو لپاره چې په تضامني موافقه لیک کې تسجیل شوی دی.

(۳) د لومړیتوب د حق په رعایت، نورو لګښت اخستونکو ته د هر ډول وجوهو د ورکولو لپاره.

(۴) لګښت ورکوونکي ته د حکم د درېیم بند پر اساس، د پاتې وجوهو ورکول.

که پور ورکوونکي وثیقه په داسې یوه اخستونکي باندې پلوري چې د وثیقې په اخستلو کې ښه او صاف نیت په ګوته کوي، د قانون ۴۰ ماده نوموړي اخستونکي لپاره ځیني حقوقي مصؤنیتونه برابروي او هغه ته اجازه ورکوي چې د پام وړ جایداد پرته له دو چې د لګښت ورکوونکي او یا دویم درجه لګښت اخستونکو د دعوا سره مخامخ شي، تر خپلې ولکې لاندې راولي.

د افغانستان د تضامني معاملو قانون، د دغې موضوع په اړه چې که پورورکوونکي وثیقه په داسې یوه اخستونکي خرڅه کړي چې په اخستلو کې خپل ښه او صاف نیت په ګوته کړي خو د وثیقې له خرڅلاو څخه ترلاسه شوي عایدات د اصلي پور د اداء کولو لپاره کافي نه وي، هیڅ ډول قانوني حکم نه دی برابر کړی. سره له دو چې د قانون ۴۰ مادې دا روښانه کړې چې د وثیقې اخیستونکی د هغو تفاوت او وضع په وړاندې چې د وثیقې د نرخ او پور ترمنځ شتون لري، مسوول او ملزم نه دی، خو په څرګند ډول یې نه دي ویلي چې کوم لوری د دغه وضع او تفاوت په وړاندې ملزم دی. د امریکې د تضامني معاملو د قانون سره سم، پور ورکوونکی د دغه ډول مالي وضع او تفاوت په وړاندې مسوول دی او پور ورکوونکي کولای شي په هغه باندې د موافقه لیک د ماتولو دعوا وکړي او د قانون منګولو ته یې وسپاري. په دا ډول حالاتو او شروطو کې، په عمومي توګه محاکمو خپله پریکړه صادره کړې او وايي چې پاتې شوې اندازه به پورورکوونکي ته د کسري مبلغ په توګه ورکول کیږي. څرنګه چې تاسو هم په دې اړه پوهیږئ، د افغانستان د تضامني راکړو ورکړو د قانون دا یوه غټه تیروتنه او کمي بلل کیږي، ځکه پور ورکوونکي په خپله دې ته اړ باسي چې تاوان په خپله پټې او جبران کړي. اوس یې هم باید دې ته تمه لرلی چې آیا د افغانستان د تضامني راکړو ورکړو قانون د یوه نړیوال او ملي مشورتي پړاو له لارې تعدیل شي تر څو وکولای شي دغه نا باوره او ځانګړی ځای په پام کې ونیسي او که نه.

## ج: د تضامني معاملې په اجراء او پلي کېدو کې د محکمو رول

په ټول دغه درسي کتاب کې له معمولو لرليدونو څخه يو هم د ليکل شوو (مدونو) قوانينو او بنسټونو تر منځ د تعامل مسأله ده چې د دغو قوانينو د پلي کېدو د ملاتړ لپاره شتون لري. يوازې د تضامني معاملې په برخه کې موږ دوه خالي ځايونه او کمی ليدلای شو چې بايد ډک يې او يا هم ليرې شي، تر څو د تضامني معاملو قانون وکولای شي د هيواد د اقتصاد د پراختيا او پرمختيا لپاره لارې چارې برابرې کړي. لومړی: د ثبت او راجستر يوه پرمختللي او مېړن مرکزي دفتر ته د افغانستان اړتيا او دويم: په دغه برخه کې د يوه اغيزمن او ګټور قضايي سيستم شتون څو وکولای شي د اغيزمنو لارو چارو له طريقه د پور ورکوونکو حقوقو او غوښتنو ته مثبت ځواب ووايي.

سربيره پر دې، هغه پاليسي جوړوونکي چې د تضامني راکړو ورکړو د يوه نظام د ترتيب او سمون لپاره ګمارل شوي دي، لاتر اوسه هم د هغه نقش پر سر چې محاکم يې بايد ولوبوي، په خبرو اترو باندې لګيا او موافقې ته نه دي رسيدلي. هغه کسان چې په تضامني راکړو ورکړو کې د محاکمو د زيات لاس لرلو او تداخل ملاتړي دي داسې فکر کوي چې محاکم له يوه مناسب موقف او ځای څخه برخمنې دي او کولای شي د دغو مسألو په اړه چې آيا په حقيقت کې کومه تضامني معامله شتون لري او که شتون لري د تضامني موافقه ليک کوم مواد وجود لري او همدا ډول دغه موافقه ليکونه بايد په څه ډول پلي شي، په عيني او ځانګړې توګه پرېکړه وکړي.

له بلې خوا، يوه ډله کسان وايي چې د محاکمو لاس لرل او تداخل د تضامني راکړو ورکړو پروسه او سيستم د خنډ سره لاس او ګريوان کوي او په پايله کې، د قرارداد لوري په ساده او آسانه توګه د ستونزې له حلوکولو څخه محروموي. په تضامني راکړو ورکړو کې د محاکمو د کمې مداخلې ملاتړي کسان وايي چې د تضامني راکړو ورکړو قانون بايد داسې حقوقو ته شامل وي چې په ډېره کچه د قرارداد د لوريو له خوا د پلي کېدو وړ وي او دوی ته اجازه ورکړي چې له هغو محکمو څخه چې د تضامني معاملو لپاره د يوه اغيزمن نظام په رامنځ ته کولو کې ګټورې نه دي، مخ واړوي.

**د بحث وړ پوښتنې**

ستاسو په اند د تضامني راکړو ورکړو په چوکاټ کې د محکمو نقش او اغيزه بايد په څه ډول وي؟ د دې لپاره چې تاسو وکولای شی د تضامني راکړو ورکړو د قانون اغيزې بشپړې او پوره کړی، کومو بنسټونو يا ادارو جوړولو ته اړتيا ده؟

**۴۲ ماده: د وثيقې د سپارلو او يا د مالکيت د تصرف لپاره له محکمې څخه غوښتنه**

(1) که لګښت اخستونکی نه شي کولای او يا په خپله نه غواړي چې د وثيقې مالکيت څرنګه چې د قانون په ۱۵ ماده کې څرګند شوی، تر خپلې ولکې لاندې راولي، يا غواړي د وثيقې مالکيت تر خپلې ولکې لاندې راولي او يا هم د قانون د ۲۹ مادې د دويم بند سره سم وثيقه بل چاته وسپاري، هغه کولای شي په ليکلي ډول له محکمې څخه د جبري انفاذ او پلي کېدو غوښتنه وکړي. نوموړې محکمه کولای شي د پورورکوونکي غوښتنې ته د ۱۵ ورځو په ترڅ کې له لاندې لارو چارو څخه په ګډه اخستو، ځواب ووايي:

i) وثيقه بل چاته د سپارلو په موخه، يا لګښت اخستونکي او يا د هغه موکل ته وسپاري.
ii) د وثيقې د سپارلو لپاره حکم صادر کړي.
iii) د قرارداد له لوريو څخه وغواړي چې د هغوی د موافقه ليک د کړندودونه سره سم. حق الزحمې او لګښتونه پرې کړي.
iv) وثيقه ضبط او توقيف کړي.

(2) د محکمې د لارښوونې پر اساس نه محکمه او نه د پولیسو مامور کولای شي، څو د نوموړي قانون د دغې مادې د لومړي بند له قانوني ګام څخه وړاندې، پوروړی ته اخطار او خبرتیا ورکړي. د وثیقې د سپارلو وړاندې، د دغه قانون د ۳۵ مادې سره سم، محکمه کولای شي ورته خبرتیا صادره کړي.

(3) دریم لوری چې د وثیقې پر سر د حقوقو څښتن او د وثیقې له ضبط، توقیف او سپارلو څخه اغیزمن شوی دی، کولای شي د لاندې موخو لپاره محکمې ته خپل غوښتنلیک وسپاري:

i. قانوني ګامونه په هغو شرایطو کې چې قصور لاتر اوسه په کې صورت نه دی نیولای، ودروي.
ii. که لګښت اخستونکي له دغه قانون څخه پیروي نه وي کړې، د محکمې حکم یا پریکړه د لنډ مهال او یا د تل لپاره، تعلیق کړي.
iii. کله چې له وثیقې څخه د ترلاسه شویو عایداتو د ویش دیرش ورځې تیرې شي، د ویش څرنګوالی او کیفیت تعدیل او یا تصحیح کړي.

(4) محکمه د هغه غوښتنلیک په پام کې نیولو سره چې د تضامني معاملو د قانون د دغې مادې د دریم بند سره سم ورته راجع شوی دی، د دویم لګښت اخستونکي د غوښتنلیک له پیل څخه باید د ۱۵ ورځو په ترڅ کې تصمیم ونیسي او خپله پریکړه صادره کړي.

## ۶ - د تضامني معاملو د یوه اغیزمن او وتلي رژیم کلیدي موخې.

دغې مسألې ته په کتو سره چې نافذ او حاکم قوانین څنګه کولای شي د هغو کسانو په کړنو او سلوکو باندې اغیزه کوي ، د قانون جوړونې بهیر ډیر جالب دی. په دغه مفهوم کې نور قوانین په عمومي ډول او تجارتي قانون په ځانګړې توګه ډیر جالب دي، ځکه هغه قوانین چې په غور او دقت سره تسوید شوي دي کولای شي د اقتصاد ښه او پرمختګ ته بدلون ورکړي چې افغانان ورته لېواله دي.

څرنګه چې موږ په دغه څپرکي کې ورباندې بحث او څېړنه ترسره کړه، د دې لپاره چې د تضامني معاملاتو یو چوکاټ وکولای شي په هیواد کې د پور ورکولو او پانګونې ته سمون ورکړي باید وکولای شي چې:

- ❖ سوداګرې او سوداګرانو ته د دې وړتیا وروبخښي څو وکولای شي له هغه ارزښت چې همدا اوس د دوی د جایداد په ماهیت او ذات کې نغښتی دی، د زیاتو پیسو او یا ممکن اعتبار د لاسته راوړلو لپاره ورڅخه ګټه پورته کړي.
- ❖ د ثبت او راجستر له یوه متمرکز او کمپیوټري سیستم څخه په ګټه اخستلو، عامو خلکو ته په جایداد کې د خپلو تضامني ګټو په اړه خبر ورکړي او یا دوی ته د سمې اطلاع د رسولو لارې تأمین کړي.
- ❖ د پوروړی له لوري د قصور او کمی د پېښېدلو په وخت کې، د پور ورکوونکو د لومړیتوب د حق لپاره یو روښانه، څرګند او ځانګړی تصمیم وړاندې کړي.

د دغه څپرکي پاتې برخې مو د ځینو پالیسي جوړوونکو موخو ( چې د تضامني معاملو د قانون د پلي کېدو په وخت کې باید په پام کې ونیول شي ) د څېړنې او غور لپاره ځانګړې کړې دي. د دغې برخې موخه دا ده چې تاسو وکولای شی هغه لارې چارې چې همدا اوس مو په دغه څپرکي تر بحث لاندې نیولې دي، له مفهومي او نظري اړخه ولولی، خو د یادولو وړ ده چې دغه برخه یوازې په نظري مطالعه باندې نه خلاصه کیږي، بلکې په دغه برخه کې نوموړي لارې چارې په داسې توګه وړاندې شوې دي چې د پراختیایي کړندودونه او تضامني راکړو ورکړو د قانون ترمنځ د یوه موجود تعامل څرګندویي کوي.[22]

[22] دغه برخه تر ډېره حده له هغه تقنیني لاربنود څخه اخیستل شوی، چې (د ملګرو ملتونو کمیسیون) د نړیوال تجارت اړونده تضامني معاملاتو په اړه برابر کړی او په ۲۰۰۷ کال کې خپور شوی دی.

1. تضمين شوي پور (Secured Credit)ته د لاس رسي پراختيا

د تضمين شوي پور زيات شتون، بيلابيل خلک او د يوه هيواد اقتصاد ته د دې وړتيا وربخښي څو وکولای شي له دغه ډول پورونو او پيسه ايز اعتبارونو څخه اقتصادي ګټې ترلاسه کړي.

2. د پيسو په يوه پراخ او ممکن شکل کې د پورونو د پياوړتيا او ملاتړ په موخه، دشتمنيو له ذاتي ارزښت څخه د پوره ګټه اخستلو د لارو چارو برابرول.

په تضامني راکړو ورکړو کې د يوه بريالي، پياوړي، پلي او حاکم حقوقي نظام د ايجاد لپاره يوه مهمه او کليدي مسأله دا ده چې بايد د سوداګرۍ د بيلابيلو پراخه ډولونو د جوړښت لپاره مناسبې لارې چارې برابرې کړو څو سوداګريز مرکزونه او بنسټونه وکولای شي د تضامني معاملاتو په يوه پراخ او ممکن شکل کې، د پيسه ايز اعتبار د لاسته راوړلو په موخه، د شتمنيو له ذاتي ارزښت څخه په بشپړ ډول ګټه واخلي. د پورتنۍ موخې د لاسته راوړلو لپاره درې لارې چارې شتون لري: (۱) په سوداګرۍ کې د مقيدو شتمنيو په موخه، له شتمنيو څخه د پراخه ګټه اخستلو لارې چارې برابرول ( د موجوده او آينده شتمنيو په ګډون ). (۲) د سوداګريزو مکلفيتونو د يوه پراخه شکل لپاره د لارو چارو برابرول ( د راتلونکو، مشروط، پيسه ايز او نا پيسه ايز مکلفيتونو په ګډون ) چې بايد د سوداګرۍ اړوند شتمنيو کې د موجودو تضامني حقوقو له خوا تضمين شي. (۳) د اعتباري معاملو، پوروركوونكو او مديونينو پر يوه پراخه او ممکن شکل د حقوقي نظام د ګټو او امتيازاتو پراختيا.

3. د يوې اغيزمنې، ګټورې او ساده لارې څخه په ګټه اخستو، د تضامني حقوقو د لاسته راوړلو په موخه د قرارداد د لوريو د وړتيا د کچې لوړول.

که تضامني حقوق له يوې اغيزمنې لارې په لاس راشي، نو د کريدت د ترلاسه کولو لګښتونو کچه به هم ټيټه شي. له دې امله، د تضامني راکړو ورکړو يو ښه نظام بايد وکولای شي، د تضامني حقوقو د لاسته راوړلو په برخه کې د کړندودونو او کړنلارو د اغيزې د زيادت لپاره ګټورې لارې چارې برابرې کړي او له بله لوريه، د راکړو ورکړو د لګښتونو کچه راټيټه کړي. دغه لارې چارې د نا اړينه او غير ضروري رسمياتو له منځه وړلو او حذفولو، د سوداګرۍ اړوند شتمنيو د بيلابيلو ډولونو په اړه د څو ګونيو تضامني وسايلو پر ځای د تضامني حقوقو د لاسته راوړلو لپاره د يوې واحدې کړندودونه له ايجاد او د راتلونکې دارايي او د اضافي اسنادو له تدارک څخه پرته د راتلونکو پرمختګونو په اړه له تضامني حقوقو څخه د ښې ګټې اخستلو لارو چارو برابرولو څخه عبارت دي.

4. د بيلابيلو کريډيټي سرچينو څخه د يوشان کارولو تأمينول.

سره له دې چې د کريدت د لګښتونو د کچې د راټيټولو لپاره، د پور ورکوونکو ترمنځ سالمه سيالي يوه اغيزمنه لار ده، خو د تضامني معاملو رژيم بايد د بانکونو او نورو ټولو مالي بنسټونو په ګډون، د کورنيو او بهرنيو پور ورکوونکو پر سر په يو شان او مساوي توګه پلی شي.

5. غير تملکي (Non-possessory)تضامني حقونو ته اعتبار ورکول

تضامني حقوق بايد په داسې شان وويشل شي چې د پوروړی او بل اعطاء کوونکي لپاره يې ګټه اخستل ستونزمن او ناممکن نه وي او همدا ډول نوموړي کسان بايد د سوداګريزو عملياتو له تداوم څخه منع نه کړي، له همدې امله، د تضمين شويو معاملاتو يو نظام بايد له شتمنيو څخه په يوه پراخه سلسله کې د غير تملکي تضامني حقوقو لپاره لارې چارې برابرې کړي . سربيره پر دې د تضامني حقوقو اړوند عمومي اعلان لپاره يوه ځانګړې کړنلاره د ثبت او راجستر د دولتي سيستم په شکل، پرانيزي.

6. د شفافیت اووړاندوینې وړتیا خپلولو له لارې د مسوولانه کړنو لپاره د قرارداد د لوریو هڅول.

د تضمین شویو معاملو یو اغیزمن رژیم باید د اعتباري معاملې د لوریو د مسوولانه کړنو او ګامونو لپاره لارې چارې برابرې او له هغو څخه ملاتړ وکړي، دغه نظام باید د یوې معاملې په لوریو کې، روڼوالي او وړاندوینې ته پراختیا ورکړي څو د اعتباري معاملې لوري وکولای شي خپل ټول اړوند حقوقي مسایل وڅیړي او د نه پیروۍ په صورت کې ځانګړې قواعد، قوانین او پایلې په ګوته کړي او همدا شان د محرمیت په اړه اندیښنو ته درناوی وکړي.

7. د لومړیتوب د وړاندوینې څرګنده اصولو تثبیت

کله چې پور ورکوونکي ونه شي کولای په تضامني معامله کې د جایداد پر سر چې تر نورو پور ورکوونکو پورې هم اړه لري، خپل د لومړیتوب حق ثابت کړي، د تضامني حق شتون او موجودیت ډیر کم او یا بیخي ارزښت نه لري. نو له دې امله د تضامني لګښتونو د خبرتیاوو د ثبت او راجستر یو متمرکز او کمپیوټري سیستم له یوه ځانګړي او ژوندوني اهمیت او ګټې څخه برخمن دی. دغه سیستم په خپل وار سره کولای شي یو لړ روښانه او څرګند قوانین او قواعد منځ ته راوړي او له دې لارې پور ورکوونکو ته د یوې تضامني معاملې له پیل څخه د لومړیتوب د حق د تثبیتولو وړتیا وروبخښي.

8. د وړاندوینې وړ او اغیزمنې له لارې د پور ورکوونکو د حقوقو پلي کېدو آسانول.

کله چې یو پور ورکوونکي ونه شي کولای څو خپل تضامني حقوق له یوې اغیزمنې لارې څخه په ګټه اخستو پلي او اجراء کړي، د نوموړي پور ورکوونکي لپاره تضامني حق له ډیر کم ارزښت څخه برخمن دی. نو له دې امله، حقوقي لارښود ځینې داسې کړندودونه وړاندې کوي چې هغه پو روړکوونکي ته د دې اجازه ورکوي څو وکولای شي خپل تضامني حقوق په مناسب ډول پلي کړي. خو البته که مناسبت ولري، د پور ورکوونکي له لوري د حقوقو پلي کېدو، د قضایي بنسټونو او نورو قانوني مقاماتو تر څارنې، لیدنې او کنترول پورې معروض دي. همدا ډول نوموړی لارښود وایي چې د یوه هیواد د تضامني راکړو ورکړو او افلاس د قوانینو ترمنځ باید د پام وړ او نږدې همغږي او همکاري وجود ولري او دواړه یاد شوي قوانین باید د افلاس له دورې او اقتصادي ارزښت هغه چې په خپل نوبت د افلاس د قانون د ځانګړو قوانینو او قواعدو په پیروۍ معروض دي، وړاندې د تضامني حقوقو اغیزمنتوب ته درناوی ولري.

9. په یوه تضامني معامله کې د بیلابیلو اغیزمنو (متأثرو) کسانو د ګټو انډول کول

څرنګه چې تضامني معاملې پر بیلابیلو لوریو لکه پوروړی، اعطاء کوونکو، سیال پو روړکوونکو ( تضمین شوي پور ورکوونکي، د امتیاز وړ پور ورکوونکي او نا تضمین شوي پور ورکوونکي)، د وثیقې اخستونکو، مرسل الیه او همدا ډول په دولت باندې یوه ځانګړې اغیزه پرې باسي، نو له همدې امله د تضامني معاملو اړوند قوانین باید د دغو لوریو مشروع ګټې او اړیکې په پام کې ونیسي او د پورته یادو شویو موخو د لاسته راوړلو لپاره مناسبې لارې چارې چې د پیژندل شوې طریقې له نظره متوازنې وي، ولټوي.

10. د معاملې د لوري د صلاحیت او واک پیژندل او تثبیتول.

د تضامني معاملاتو نظام باید داسې یوه دوامداري برابره کړي څو وکولای شي د اعتباري معاملاتو یوه پراخه شکل ته شامل وي او همدا ډول د معاملاتو نویو او متحولو شکلونو ته ځای ورکړي. نو له همدې امله، اجباري قواعد او اصول باید داسې اندازې ته

ورسول شي څو ټول لوري وکولای شي خپلې اعتباري معاملې د خپلو ځانګړو اړتیاوو سره برابرې کړي. په عین وخت کې د تضامني معاملو رژیم دا مسأله چې ټول تقنیني نظامونه کولای شي د لګښت کوونکی او نورو ټولو کسانو له مشروع ګټو څخه ساتنه وکړي، هم باید په رسمیت وپیژني او د دغه ډول بنسټونو او مرکزونو سره نږدې همغږي او همکاري ولري او باید دغه ډول نور تقنیني لارې چارې له پامه وغورځول شي.

**وروستی کتنې: د تضامني معاملې بهیر**

لاندې خالي ځایونه په مناسبو کلمو او اصطلاحګانو چې مورږ د بیلابیلو تعریفونو لپاره په دغه څپرکي کې تر څیړنې لاندې نیولې دي، ډکې کړئ. په یاد ولرئ چې یوه کلمه او اصطلاح کیدای شي په څو ځایونو کې وکارول شي.

د تضامني معاملې پړاوونه هغه وخت پیلیږي چې ________[23] د پور د ترلاسه کولو لپاره، له ________[24] څخه غوښتنه وکړي. کله چې د پور اخستونکي وړتیا د پور د بیا ورکړې لپاره نا معلومه وي، پور ورکوونکی د دې لپاره څو وکولای شي خپل پور تضمین کړي، د ________[25] غوښتنه کوي. وثیقه کولای شي د منقول جایداد پر سر د ________[26] شکل ځان ته راخپل کړي.

هغه کس چې د وثیقې پر سر د تضامني لګښت خاوند وي او په ډیرو وختونو کې په خپله پور ورکوونکي هم وي، د ________[27] په نوم یادیږي.

________[28] هغه قرارداد ته ویل کیږي چې د تضامني معاملې بنسټ یې ایښی او د پور ورکوونکي او پور اخستونکي لپاره ځینې دندې، حقوق او حقوقي ګټې منځ ته راوړي.

که یو..........................................[29] د خپل پور په بیا ورکړه کې د قصور او کمی مرتکب شي، ________[30] له ځینو حقوقي ګټو لکه د وثیقې خرڅلاو او داسې نورو څخه برخمن کیدلای شي چې د لګښت ورکوونکي له مخکینی موافقې او د محکمې له مداخلې پرته یې ترسره کولای شي.

په ډیرو حالاتو کې یو تضامني لګښت باید په ________[31] کې ثبت او راجستر شي. یو ________[32] د وثیقې پر سر خپل تضامني لګښت، د ________[33] سره یو ځای ________[34]، چې د لومړیتوب خپل حق یې ثابت کړی او د ټولو ________[35] د ادعاګانو او غوښتنو په وړاندې ورڅخه ساتنه وکړي..

---

23- پور ترلاسه کوونکی/ بدهکار
24- پور ورکوونکی/ طلبکار
25- وثیقه
26- تضامني لګښت
27- لګښت ترلاسه کوونکی
28- تضامني موافقه لیک
29- پور ترلاسه کوونکی- بدهکار
30- پور ورکوونکی/ طلبکار/ لګښت اخیستونکی
31- د تضامني لګښت د ثبت رسمي دفتر
32- پور ورکوونکی/ طلبکار/ لګښت اخیستونکی
33- پور ترلاسه کوونکی- بدهکار
34- د تضامني لګښت د ثبت رسمي دفتر
35- پور ورکوونکي/ پورورکوونکي/ لګښت اخیستونکي

## ۷ د شپږم څپرکي نتیجه ګیري

د یوه روان او مخ پر ودې اقتصاد د یوې برخې په توګه ټولې سوداګرۍ ( هغه که د عرضه کوونکو شرکتونو او یا تولید کوونکو شرکتونو او یا مصرف کوونکو شرکتونو له ډلې څخه وي) د دې لپاره چې وکولای شي فعالیت وکړي، نوښت رامنځ ته کړي او په یوه اقتصادي چاپېریال کې په بریالیتوب سره فعالیت وکړي، د نوې پانګې د جلب او پېژندلو اړتیا لري. د افغانستان په څیر په یوه اقتصادي سیستم کې چې همدا اوس یې په تازه ډول له دیرش کلن جنګ وروسته یو نوی ژوند پیل کړی دی، دغه مسأله چې په هره شتمني کې باید موجوده او ذاتي ارزښت ته حرکت ورکړل شي او د هغو کسانو د مفکورو او پلانونو د ملاتړ او تمویل لپاره چې د افغانستان د اقتصاد د بیا رغاونې هیله او آرزو لري، پوره او کافي مالي وجوه پیدا کړي، له حده زیات اهمیت او اغیزمنتوب پیدا کوي.

څرنګه چې موږ د دغه څپرکي په اوږدو کې ورباندې بحث او څېړنه وکړه، یو حقوقي سیستم، د اعتباري معاملاتو د احتمالي خطر د کچې د راټیټولو له لارې، له تضامني راکړو ورکړو څخه ملاتړ کوي او په پایله کې په یوه هیواد کې د کریدت د موجودیت او اقتصادي پرمختګ لپاره لارې چارې برابروي. سربیره پر دې، د تضامني معاملو نظام هغه چې تراوسه مو مطالعه کړ، یوازې او یوازې داخلي او کورنۍ ځانګړتیا لري. څرنګه چې د دې تمه کیږي چې د افغانستان اقتصاد مخ په ښه کیدو دی او دغه هیواد به په نړیوال مارکیټ کې په یوه وتلي لوبغاړي بدل شي، د افغانستان د تضامني معاملو نظام هم باید له دغه پړاو څخه په داسې شان تیر شي څو وکولای شي د افغانستان لپاره د دې لارې چارې برابرې کړي چې په نړیواله سوداګرۍ او له ملي بندرونو څخه د خدماتو او توکو په لیږد کې برخه واخلي. د افغانستان د راتلونکو سیاستمدارانو په توګه په تاسو باندې واجبه ده چې د تضامني معاملې د یوه نوي رژیم په اړه خپلې طرحې او وړاندیزونه ولرئ، چې دغه نوموړی نظام نه یوازې ستاسو د هیواد د کورینو شتمنیو ارزښتونه په حرکت راولي بلکې باید وکولای شي چې د ګډې پانګونې په برخه کې د افغانستان دروازې د نړیوالو همکاریو او مرستو لپاره پرانیزي.

# اصطلاحات

### شتمنيAsset

هر هغه ارزښت لرونکي توکي ته ويل کيږي چې يو بنسټ او مرکز يې په خپل واک کې لري، له هغو څخه ګټه اخلي او يا هم د ګټو د لاسته راوړلو لپاره ورڅخه ګټه اخلي. شتمني کيدای شي د ملموسو او فزيکي توکو له ډلې څخه وي لکه نغدې پيسې، ماشينونه، د کارخانې او شرکت شته، ځمکه او تعمير او همدا ډول کيدای شي د غير ملموسو شيانو له ډلې څخه وي لکه د خپرولو او چاپولو حق، د نوښت حق، سوداګريز نوم او نښان او سرقلفي. هغه شتمني چې د مالک د حساب په خپل صورت کې ښکاريږي، په ساده ډول د نغدو پيسو په کچه درجه بندي کيږي.

### کرېډت يا اعتبار Credit

د قرارداد پر سر له هغو ګامونو او تصميمونو څخه عبارت دی چې د هغو پر اساس، پور ورکوونکي، توکي، خدمتونه او پيسې د پوروړی د وروستيو ورکړو د وعدې په وړاندې مبادله کوي.

### قصورDefault

قصور هغه وخت رامنځ ته کيږي چې د قرارداد يو لوری د قانون او مقرراتو د موادو او احکامو د متابعت په برخه کې ناکام پاتې شي او يا هم د کومې کمۍ مرتکب شي. ځينې قراردادونه د شخړو د حل او تاوانونو د پېټي لپاره د شروطو او کړنلارو سربيره، د قصور د مديريت په اړه ځينې احکام لري ( حقوقي درمان ).

* د مهربانۍ له مخې پورته کلمې او اصطلاحات د افغانستان د تضامني راکړو ورکړو د قانون د حکمونو او تعريفونو د ليست سره په ملتيا بايد ولوستل شي.

# اخځليکونه او سرچينې


د افغانستان د بانکونو د اتحاديې ويبپاڼه چې په لاندې پته ورته لاسرسی کيږي:
http://www.aba.org.af/about.asp

د آسيا پراختيايي بانک: د تضامني معاملو د قانون د کلمو او صطلاحاتو لپاره تخنيکي مرسته، چې په لاندې پته ورته لاسرسی کيږي:
http://www.adb.org/Documents/TARs/REG/31389-TRA-TAR.pdf.

هاملتون، بوز الن؛ د واړه اقتصاد کلمې: د پروګرامونو او برنامو لپاره عملي لارښوود، په لاندې پته ورته لاسرسی کيږي:
http://www.bizlawreform.com/CLIRTeachPub-r2b.pdf.

هاملتون، بوز الن؛ د کړنو لپاره د افغانستان اجنډا، د تجارت او سوداګرۍ د چاپيريال پراختيا، په لاندې پته يې ترلاسه کولای شی:
http://afghanistan.usaid.gov/en/Article.172.aspx

روسل ای.، هاکس؛ د UCC توري: د تضامني معاملاتو د مادې بيا کتل شوی شکل، شيکاګو، د امريکا د حقوق پوهانو انجمن، د خپريدو نيټه، ۲۰۰۰ ز کال.

په بانکي معاملو کې د منقول جايداد په اړه د تضامني معاملو قانون. په لاندې پته يې ترلاسه کولای شی:
http://www.centralbank.gov.af/pdf/Secured%20Transaction%20of%20Movable%20Property%20Law(Eng).pdf.

روز، پی ترسن او مارکويس او اچ ميلتون؛ د پيسو او پانګې مارکيټونه، مالي بنسټونه او د يوه نړيوال مارکيټ د چاپيريال دستاويزونه، نيويارک، د مک ګرا او هيل آروين خپرونه، د خپريدو نيټه، ۲۰۰۶ ز کال.

نړيوال بانک او نړيوال مالي شرکت، په ۲۰۰۹ ز کال کې سوداګري: د افغانستان ملي پروفايل، واشنګټن ډي سي، د نړيوال بانک دخپرونو دفتر: د خپريدو نيټه، ۲۰۰۸ ز کال.

د نړيوالې سوداګرۍ د قانون د کاري ډلې په اړه د ملګرو ملتونو د ټولنې کميسيون، د تضامني معاملو په اداره کې د قانون جوړونې لارښوود، په لاندې پته يې ترلاسه کولای شی:
http://daccessdds.un.org/doc/UNDOC/LTD/V06/585/73/PDF/V0658573.pdf.

# اووم څپرکی: د مالیاتو قانون

## ۱ – سریزه:

حکومتونه مسؤلیت لري چې د خپلو وګړو او اوسیدونکو لپاره د روغتیایي خدمتونو، ښوونې او روزنې او امنیتي خوندیتوب په څیر بېلابېل خدمتونه او جنسونه چمتو کړي، حکومتونه دغه کړنې یوازې هغه مهال ترسره کولای شي چې د هغو د لګښت د پرېکولو لپاره مالي وجوه په واک کې ولري، په ډېرو حکومتونو کې د مالیاتو وضع کول د اړینو مالي وجوهو د جمع کولو لپاره د یو بنسټیز روش په توګه دود وي چې له دغې لارې څخه په ګټه اخیستلو سره د وړ خدمتونو او اجناسو په چمتو کولو لاس پورې کوي.

په دې اساس د مالیې د سیستم لومړی موخه دا ده چې د دولت لپاره عوائد تولید کړي.
ښایي ګڼ شمیر خلک د مالیاتو په ورکولو نیوکه ولري خو هغه اجناس او خدمتونه چې دوی یې له حکومت څخه د چمتوکولو هیله لري، په تولیز ډول د مالیاتو له شتون پرته نه شي تمویلیدلی. په ځانګړې توګه افغانستان تر اندازې زیاته اړتیا لري چې خپل داخلي مالیاتي عوائد لوړ کړي؛ اوس مهال د مالي وجوهو یوه زیاته هغه د پام وړ برخه چې د خدمتونو او اجناسو د لاسته راوړلو لپاره کارول کیږي له کورنیو سرچینو څخه نه بلکې د بهرنیو هېوادونو له بسپنو او مرستو څخه ترلاسه کیږي.




سرچینه: د افغانستان د مالیې وزارت ویبپاڼه: http://mof.gov.af/en

لاندې وړاندې شوې شمیرې په ترتیب سره د هغو عوائدو سلنه په ګوته کوي چې له بهرنیو او کورنیو سرچینو څخه تأمینیږي خو دا اندازه بهرنۍ مالي مرستې د وخت په تیریدو سره ثبات له لاسه ورکوي دا ځکه چې بهرني تمویلوونکي بنسټونه به له افغانانو څخه دا توقع ولري چې د دوی د هېواد لپاره د ملي بودجې چمتوکولو لپاره به لوی مسؤلیت پر غاړه واخلي او په ځانګړې توګه به دافغانستان د بیارغونې او پراختیا په لور لاهم چټک ګامونه واخلي.

د یوه مالي سیستم د پلی کولو او ارزولو پرمهال باید ډېر عناصر په پام کې ونیول شي. لومړی، مالیه ورکوونکي باید ډاډمن وي هغه مالیې چې دولت ته ورکوي، په مشروع موخو کې کارول کیږي؛ آن که چېرې پر هغو کړو وړو توافق هم نه وي شوی چې په دقیقه توګه یې مالیې باید په لړ کې ولګول شي، لږ ترلږه دوی باید دا ډاډ ترلاسه کړي چې ورکړل شوې مالیې د فاسدو

مامورينو په شخصي ګټو کې نه لګول کېږي. تر دې مهمه مساله دا ده چې ماليه ورکوونکي غواړي چې د ماليې ورکولو په بدل کې د خپل دولت له لوري لازم خدمتونه وړاندې شي. دويم، بل مهم ټکی دا دی چې ماليې بايد "عادلانه" وي. د ماليو "عادلانه" کېدل يوه داسې موضوع ده چې د هوښيارو او منطق لرونکو کسانو له بحث او ډېرو جنجالونو سره مل ده چې مالياتي مسؤليتونه يې څرنګه د ټولنې په منځ کې ووېشل شي، او دوی يې په اړه د نظر اختلاف لري. دريم، ماليې بايد د ګټې لپاره راغونډې شي. که چېرې دولت هغه پيسې چې د ماليې راغونډولو لپاره لګوي، د اندازې او مقدار له اړخه د اصلي مالياتو له مبلغ سره برابرې وي، په پايله کې د ماليې لوړولو ته اړ کېږي، په دې صورت کې د ماليې اخيستو ميکانيزم ناچارنده او ناسم خېژي.

همدارنګه بايد د لاسرسي وړ او مشخص قوانين او قواعد شتون ولري تر څو هيوادوالو ته د دې پوهاوی ورکړل شي چې کوم وخت بايد دوی خپل ماليات ورکړي او له کوم روش څخه په ګټې اخيستنې سره څومره ماليات ورکړي. د مالياتي مسؤليت پر وړاندې بې باوري، کولای شي په پانګونه د پام وړ اغيزه وښندي ځکه که پانګه وال فکر وکړي چې د ماليانو د تحميل په پايله کې به د دوی ګټې ډيرې راټيټې شي نو په دې صورت کې به د يوې نوې سوداګرۍ د پرانيستلو لپاره د پانګې په چمتو کولو کې ډېر لږ تمايل وښيي.

دغه څېرکی د ماليې او ماليې ورکولو د مقدماتي تيورۍ په څېړلو او بحث پيليږي او د دې تر څنګ به د هغو مالياتي ډولونو په باب هم کره او ګټور معلومات وړاندې کړي چې د حکومتونو له خوا وضع کيږي. په افغانستان کې په مطلق اکثريت سره هغه دولتي عوائد چې له کورنيو سرچينو څخه ترلاسه کيږي، د هغو په ترلاسه کولو کې له دوو مالياتي لارو کار اخيستل کيږي: په عايداتو او ګمرکي عوارضو ماليه: په عايد ماليه هغه ډول ماليې ته ويل کيږي چې په عايداتو وضع کيږي او د يو کال په اوږدو کې د ماليه ورکوونکي په واسطه ترلاسه کيږي او ګمرکي عوارض هغه ماليات دي چې هيواد ته په وارداتي او يا له هيواد څخه بهر ته په صادريدونکو توکو وضع کيږي. د افغانستان د ماليانو موجوده قوانين پر عايداتو د ماليې قانون او ګمرکي قانون ته شامل دي چې د ۲۰۰۵ ز کال په وروستيو کې تصويب شوي، د نوموړو دوو قوانينو احکام او انفاذ به د دغه فصل په ترڅ کې وڅېړل شي.

## ۲ – په افغانستان کې پر عايداتو ماليه

د افغان دولت لومړۍ عمده عايداتي سرچينه له هغو ماليانو تشکيليږي  چې د ماليه ورکوونکو په وسيله د يوه کال په اوږدو کې ترلاسه کيږي، د هر کال په پای کې بايد پر عايداتو ماليه د هغو عايداتو سره مطابق محاسبه او ورکړل شي چې د نوموړي کال په ترڅ کې ترلاسه شوي دي. د ماليې ورکولو کال له هغه لمريز کال څخه عبارت دی چې د (وري) مياشتې په لومړۍ ( د مارچ له ۲۱) پيل او د کب مياشتې په وروستۍ ورځ (د راتلونې ز کال د مارچ۲۰) پای ته ورسيږي . په عايداتو ماليات په ټوله نړۍ کې دود دي . په نړۍ کې ډېر پرمختللي او د پراختيا په حال کې هېوادونه په عايداتو د ماليه ورکولو يو ډول نه يو ډول لري، که دغه ماليه ورکونه په سمه بڼه طرح کړل شي بنايي د ماليه ورکونې يو عادلانه او منصفانه ډول وبلل شي. په دغه روش کې پر ماليه ورکوونکو د پيسو او هغه اندازه عايداتو مطابق ماليات وضع کيږي چې دوی د تير مالي کال په جريان کې ترلاسه کړي دي.

پر عايداتو د ماليې د ماهيت د پيچلتيا او د هغو معلوماتو د پيچلتيا له امله چې د ماليه ورکونې له قانون سره د ماليه ورکوونکو د مطابقت او نه مطابقت د څېړلو په موخه اړين دي، ډېر ستونزمن کار دی چې پر عايداتو دې ماليات مديريت او کنټرول کړل شي. په ډېرو هېوادونو کې د مالياتي سيستمونو د څارنې په موخه د لوړو لګښتونو په منلو سره لويې بېروکراسۍ رامنځته شوې دي چې په امريکا کې د (کورنيو عايداتو خدمتونه) او په انګلستان کې د (کورنيو عايداتو) په نوم جوړښتونه يې بنې بېلګې دي.

د شپږم څېرکي دغه برخه په افغانستان کې پر عايداتو د ماليې تاريخچې ته يوه کتنه کوي او په عايداتو د ماليې قوانينو، د ماليې د جمع کولو کړندودونو او همدارنګه له اړوندو قوانينو څخه د عدم تابعيت او عدم مطابقت جريمې تر څېړنې لاندې نيسي او نوموړې برخه به په عايداتو د ماليې له ليدلوري د ماليه ورکولو/ماليه اخيستلو د سيستم په ارزونې سره پای ته ورسيږي.

## الف، تاريخچه:

له ۲۰۰۵ ز کال څخه وړاندې، په افغانستان کې د مالیې سیستم، په ۱۹۶۵ز کال کې د مالیې پر تصویب شوي قانون ولاړ ؤ چې بیا وروسته په ترتیب سره په مختلفو دورو کې د ۱۸ بیلابیلو فرمانونو په صادریدو سره تعدیل شوی ؤ. پر عایداتو د مالیې موجوده سیستم د افغانستان پر عایداتو د مالیې د قانون له تصویب سره سم په ۲۰۰۵ز کال کې رامنځ ته شو. د افغانستان پر عایداتو د مالیې قانون د وزیرانو د شورا په واسطه منظور او بیا وروسته د ۲۰۰۵ز کال د نوامبر په ۱۴مه نیټه د ولسمشرۍ مقام له خوا توشیح کړل شو. اوسنی قانون سره له دې چې یو لړ تغیرات لري خو ډیری احکام یې د ۱۹۶۵ز کال د مالیې د قانون مجدد تصویب دی، پر عایداتو د مالیې د ۱۹۶۵ز کال قانون له اساسي قانون سره سم تهیه او تدوین شوی دی.

| د اساسي قانون ۴۲ ماده په صراحت سره داسې حکم کوي: |
|---|
| هر افغان مکلف دی د قانون له حکمونو سره سم دولت ته مالیه او محصول ورکړي. هېڅ راز مالیه او محصول، د قانون له حکمه پرته نه وضع کېږي. د مالیی او محصول اندازه او د ورکړې ډول یې د ټولنیز عدالت په رعایت د قانون په وسیله ښوول کېږي. دا حکم د بهرنیو کسانو او مؤسسو په برخه کې هم تطبیقیږي. هر ډول ورکړ شوې مالیه، محصول او عایدات،دولتي واحدحساب ته تحویلیږي. |

د مالیې وزارت هم پر عایداتو د مالیې داسې یو لارښوود چې پر عایداتو د مالیې قانون د ۱۱۳ مادې د (۲ بند) د هغه صلاحیت سره مطابق لري، صادر کړی دی. پر عایداتو د مالیې لارښوود د عایداتو او مالیې په څینو نورو ریاستونو کې پر عایداتو د مالیې قانون د پلي کولو او تفسیر په اړه یوه رسمي سرچینه بلل کیږي.

## ب: عایداتي سرچینې او د مالیې ورکولو وړ اشخاص

د دې مسئلې د ټاکلو لپاره چې له کومو خلکو او کومو سرچینو مالیه واخیستل شي، باید دوه اصله په پام کې ونیول شي. لومړی اصل د شخص نوعیت دی، قانون د (حقیقي) او (حکمي) اشخاصو تر منځ په تفاووت قایل دی او د مالیې له مختلفو نرخونو سره سم د هغوی د وضعیت ارزونه کوي. حقوقي اشخاص له محدود المسؤلیت شرکتونو، سهامي شرکتونو او نورو حقوقي بنسټونو څخه عبارت دي او حقیقي اشخاص له افرادو، واحدو مالکانو او په یوه مشارکت کې د شریکې سوداګرۍ لرونکو څخه عبارت دي. د خصوصي او عمومي شرکتونو د عوائدو مالیات د هر یوه شریک له خوا په انفرادي ډول داسې ورکول کیږي چې د مشارکت هر یو غړی باید د خپلې هغه ونډې له مخې مالیه ورکړي چې د شرکت په عایداتو کې یې لري(۳۳ماده پر عایداتو د مالیې قانون).

دویم مهم اصل د اقامت دی، حقوقي شخص(سهامي شرکت او یا محدودالمسؤلیت شرکت) د یوه مقیم شخص په توګه په نظر کې نیول کیږي؛ نوموړی شرکت که په افغانستان کې تأسیس شوی وي او یا یې د اداري چارو د مدیریت مرکزیت د مالي کال په اوږدو کې په افغانستان کې موقعیت ولري(۲ماده). حقوقي شخصیت په هغه صورت کې مقیم بلل کیږي چې د مالي کال په اوږدو کې په افغانستان کې د خپل اصلي کار مالك پاتې شوی وي او یا هم نوموړی لږ تر لږه مثلاً د نیم کال څخه د زیات وخت په ډول له ۱۸۳ ورځو ډیر په افغانستان کې حاضر وي او یا خو هم د مالي کال یوه برخه د حکومت کارمند او د یوه کار د اجراء لپاره له هېواده بهر توظیف شوی وي(د بېلګې په توګه د هېواد د بهرنیو چارو وزارت کارمند وي).

افغان وګړي مکلف دي چې د مالیې وړ ټولو عوائدو آن د هغو مالیه هم دولت ته ورکړي چې له بهرنیو سرچینو څخه ترلاسه کیږي، په دې اساس که چیرې یو شخص له خپل بهرني عاید څخه یو خارجي دولت ته مالیه ورکړې وي، نو دغه ورکړل شوې مالیه د عیني بهرني عاید له پلوه دا اعتبار لري چې هغه د افغانستان دولت ته ورکړل شوې(د افغانستان د مالیې د قانون ۵ ماده).

د دې برخلاف هغه کسان چې هغوی په افغانستان کې اقامت نه دی کړی، دوی به دولت ته یوازې د هغو عوائدو مالیه ورکوي چې د افغانستان له سرچینو یې ترلاسه کړي دي یعنې په هغو عوائدو مالیه نشته چې دوی له هېواده بهر ترلاسه کړي دي.(پر عایداتو د مالیې قانون ۷ او ۸ مادې)

سربېره پر دې هغه کسان چې په افغانستان کې یې اقامت نه وي کړی دوی په بشپړه توګه د مالیې له ورکولو معاف کېدلای شي خو په دې شرط چې د هغه اصلي هېواد هم د افغانستان د وګړو لپاره دې ته ورته معافیت ایجاد کړی وي. (۶ ماده) په دې اساس که د X هېواد غیر مقیم افغاني اشخاص پر عایداتو له مالیې څخه معاف کړي وي نو د X هېواد غیر مقیم اشخاص به هم په ورته بڼه په افغانستان کې پر عایداتو له مالیې معاف شي.

لاندې جدول په افغانستان کې د شخص د نوعیت او د هغه د اقامت پر بنسټ د معیاري مالیې مختلف نرخونه په لنډه توګه بیانوي او ځینې ځانګړي نرخونه به وروسته په تفصیل سره وڅېړل شي.

| | مقیم | غیر مقیم |
|---|---|---|
| حقوقي شخص | 20 سلنه نړیوال عاید | 20 سلنه هغه عاید چې په افغانستان کې له مختلفو سرچینو ترلاسه کیږي. |
| حقیقي شخص | 0- 20 سلنه نړیوال عاید | 0-20 سلنه هغه عاید چې په افغانستان کې له مختلفو سرچینو ترلاسه کیږي. |

**د موضوع روښانتیا:** په دې ځای کې دوې داسې بېلګې راوړل شوې دي چې د مقیمو او غیر مقیمو اشخاصو پر عایداتو او همدارنګه پر کورنیو او بهرنیو عایداتو د مالیې تفاوت په ګوته کوي.

1. د کانونو د ایستلو یو سهامي شرکت چې د هغه مرکزي دفتر په کابل کې موقعیت لري، دا چې د نوموړي شرکت مرکزي دفتر په افغانستان کې موقعیت لري نو دغه شرکت په افغانستان کې د یوه مقیم حقوقي شخص په توګه په نظر کې نیول کیږي. په دې اساس دغه شرکت باید د هغو عایداتو له مخې چې په افغانستان او پاکستان کې یې د کانونو د ایستلو په پایله کې لاسته راوړي، مالیه ورکړي. همدې ته په پام سره که یاد شرکت د یو حقوقي بنسټ په توګه په افغانستان کې نه وی تأسیس شوی او مرکزي دفتر یې په کابل کې موقعیت نه درلودی نو یوازې د هغو عوائدو د مالیې د ورکړې مکلفیت یې درلود چې د افغانستان له کانونو څخه یې ترلاسه کول.

2. حمید د یوه کال له مودې څخه ۲۰۰ ورځې په افغانستان کې او د کال پاتې ورځې په ایران کې تیروي؛ دا چې نوموړی د افغانستان اوسیدونکی دی نو باید دی د افغانستان دولت ته د ایران او افغانستان دواړو لاسته راوړو توکو مالیه ورکړي. په دې توګه که دی د ایران دولت ته په هغه هېواد کې د خپلو لاسته راوړنو له مخې مالیه ورکړي دغه مالیه د هغه مالیاتي حساب په توګه په نظر کې نیول کیږي چې ده باید د افغانستان دولت ته ورکړې وی. د دې برعکس که حمید ۲۰۰ ورځې په ایران کې ژوند کوي او یوازې ۱۶۵ پاتې ورځې په افغانستان کې تیرې کړي نو په دې صورت کې که دی د افغانستان د حکومت کارکوونکی نه وي او نه هم دلته کور ولري نو دی مکلف دی چې یوازې د هغه ګټې مالیه د افغانستان دولت ته ورکړي چې په افغانستان کې یې لاسته راوړې ده.

پدې اړوند وروستی مهم ټکی چې باید یادونه یې وشي هغه دا چې هغه حقوقي بنسټونه چې له پورتنیو اصولو پرته، د یولړ ځانګړو شرطونو درلودونکي وي، په بشپړ ډول پرعایداتو له مالیې ورکولو څخه معاف دي.(پر عایداتو د مالیې قانون ۱۰ ماده) خو په دې

شرط چې دغه بنسټونه د افغانستان د نافذو قوانینو مطابق او یوازې او په ځانګړې توګه د خیریه مقاصدو، علمي، ادبي او کلتوري چارو د پراختیا په موخه تأسیس شوي وي او د هغو ملاتړ کوونکي، همکاران، ونډه لرونکي او نور غړي یې د دغه بنسټ له فعالیتونو څخه نورې ګټې او مالي موخې ونه لري.

دا وروستی برخه یو څه مبهمه غوندې بریښي د بېلګې په توګه: آیا د کارکوونکو لپاره د تنخوا ورکول د نوموړي بنسټ لپاره کومه ګټه برابرولی شي؟ اساساً دغه مخکې شرط په خاص ډول له هغو حقوقي بنسټونو څخه د مالیې په ترلاسه کولو باندې د هغه محدودیت ښکارندوی دی چې د هغوی فعالیتونه او پروګرامونه په ځانګړي ډول یوازې د عامه خلکو سوکالۍ ته ځانګړي شوي وي.

**د بحث وړ پوښتنې**

ولې هغه بنسټونه چې په ځانګړي ډول سره د علمي، ښوونیزو، ادبي او کلتوري چارو په موخه تأسیس شوي او یوازې د همدغو کړنو لپاره فعالیت کوي، د مالیې نه ورکولو له امتیازاتو څخه برخمن دي؟ هغه اصل مو په یاد راوړئ چې وایي: (مالیات د ځینو خاصو کړنو له ترسره کولو څخه د مخنیوي د هڅولو لپاره کارول کیږي) ستاسو په اند ولې حکومت د دغه ډول بنسټونو څخه د مالیې نه اخیستلو امتیاز هغوی ته منلی دی؟

## ج: د مالیې عاید (Taxable Income)

د افغانستان پر عایداتو د مالیې قانون، د عایداتو د ډولونو تر منځ –د عایداتو پر سرچینو له تمرکز پرته چې د عایداتو د ملي سرچینې په نوم یادیږي، په تفکیک او تمایز قائلیږي. افراد او په ځانګړې توګه شرکتونه کولای شي چې خپلې پیسې او نور امتیازونه له مختلفو ځایونو او سرچینو څخه ترلاسه کړي. دغه سرچینې د لاس مزد، سود او سهامي سود څخه عبارت دي چې د پانګونې له لارې لاسته راځي. د عایداتو له مختلفو خرڅلاو څخه رامنځ ته شوي سوداګریز فعالیتونه، کرایه او یا دلالي حق یوازې تر هغو پیسو پورې نه محدودیږي چې یو مالیه ورکوونکی یې ترلاسه کوي. که یو مالیه ورکوونکی یو جایداد د عاید په توګه ترلاسه کړي نو د جایداد پام وړ ارزښت د عاید په توګه مطرح کیږي؛ د بېلګې په توګه که مالیه ورکوونکی داسې یو جایداد ترلاسه کړي چې ارزښت یې 10.000 افغانیو ته ورسیږي نو پر عایداتو د مالیې قانون دغه جایداد د یوې داسې معاملې په توګه په نظر کې نیسي چې د نغدو پیسو له مخې ترسره شوې او د هماغه روش مطابق ورسره چلند کوي.

د مالیې وړ عاید (Taxable Income) د یو فرد، سهامي شرکت، محدودالمسؤلیت شرکت او نورو حقوقي اشخاصو د کمښت او معافیت څخه د هغو منفي لاسته راوړنو په توګه تعریفیږي چې پر عایداتو د مالیې قانون په واسطه وضع شوي او مجاز بلل کیږي.(۱۲ ماده). د دې مسألې د درک او فهم لپاره چې کوم عاید له مالیې څخه معاف کیدلای شي او کوم لګښتونه باید وضع کړل شي، لازمه ده چې په دې وپوهیږو چې د مالیې وړ عاید څه ډول محاسبه کیږي.

**له مالیې د معافو او د مالیې وړ عایداتو ډولونه**

**عمومي احکام:**

د عوائدو په لړ کې یو شمېر خاص او ځانګړي عوائد د مالیې وړ معافو عایداتو څخه شمیرل کیږي او له همدې امله له هغو څخه مالیه نه اخیستل کیږي. یو فرد کولای شي د خپل لاسمزد او یا روغتیایي بیمې یوه برخه له خپل کار ګمارونکي څخه ترلاسه

کړي یا کوم تحصیلي بورس د نیم مهاله زده کړو په موخه له کوم نړیوال بنسټ واخلي او یا یوه اندازه سهامي سود د خپلې هغې ونډې له مخې ترلاسه کړي چې په یوه شرکت کې یې لري، له دغه ډول عوائدو څخه کوم یو باید د مالیې وړ ونه بلل شي؟

په افغانستان کې لاندې څو ډوله عوائد د مالیې وړ بلل کیږي: تنخواګانې، لاسمزدونه، لاسته راغلې حق الزحمې او د دلالی حق؛ د منقولو او غیرمنقولو جایدادونو له خرڅلاو څخه لاسته راغلي عوائد، سود (ګټه)، د سهام ګټه، کرایې، د تألیفونو حق، اعطائیې، جایزې، له یوې سیالی څخه لاسته راغلې جایزې، بخششونه (حق الزحمې، انعامونه، دوستانه ورکړې)، ناخالصه عوائد چې د ونډه لرونکو تر منځ د مشارکت له مخې ویشل کیږي او هر ډول بل عاید چې د جسمي کار، سرمایې او یا اقتصادي فعالیتونو په پایله کې ترلاسه کیږي. (پر عایداتو د مالیې قانون ۱۳ ماده)

له بل پلوه، ۱۴ ماده څو ډوله هغه عوائد په لنډه توګه بیانوي چې له مالیې څخه معاف دي او په لاندې توګه په لنډ ډول خلاصه شوي چې عبارت دي له: اعانې (بسپنې)، تحصیلي جایزې، هغه تحفې چې د افغانستان د دولت له خوا ورکول کیږي، خاصې اعانې (Grants) چې د بهرنیو حکومتونو او نړیوالو سازمانونو له خوا ورکول کیږي، هغه تعلیمي او روغتیایي هدیې چې تر حوادثو پورې اړه لري او همدارنګه د بیکارۍ د بیمې امتیازات، د څان د بیمې امتیازات چې د مرګ د پیښیدو په صورت کې د مړي کورنۍ ته ورکول کیږي؛ هغه پیسې چې یو شرکت یې د قرضې او یا د ونډه لرونکو لپاره د برخې د صدور په موخه لاسته راوړي او وروستی ډول هغه سود چې یو شخص یې له دولتي بانکونو څخه د خپلو سپارل شویو ودیعو له مخې لاسته راوړي.

له مالیې ورکولو څخه د عایداتو د دغو خاصو ډولونو د معافیت لپاره څه معقول او منطقي دلیلونه شتون لري؟ په عام ډول ، هغه وخت عاید له مالیه ورکولو څخه معاف کیږي چې حکومت هڅه وکړي څو هغه فعالیتونه چې د نوموړو عوائدو د ایجاد سبب شوي، نور هم وهڅوي او د هغې د ودې او پراختیا لپاره نوره هم لاره هواره کړي. د بېلګې په توګه: د دې لپاره چې په یوه هېواد کې د ښوونې او روزنې وضعیت لاهم د ښه والي په لور لاړ شي، په معمولي ډول تر مالیې پورې اړوند قوانین او په عامه توګه تعلیمي اعانې او تحصیلي بورسونه له مالیې څخه معافوي.

### د پانګې ګټه (Capital gains):

هغه عوائد چې د څانګړو جایدادونو له لېږد، تغییر او تبدیل څخه لاسته راځي، د مالیې ورکولو وړ بلل کیږي چې په څینې هېوادونو کې دې ډول مالیې ته (له سرمایې څخه د لاسته راغلو عوائدو مالیه یاCapital Gains Tax) بلل کیږي. عاید په نرخونو کې له هغه تفاووت څخه عبارت دی چې مالیه ورکوونکی د هغه پر بنسټ جایداد اخلي او وروسته یې خرڅوي. پر عایداتو د مالیې د قانون احکام چې له سرمایې څخه د لاسته راغلو عوائدو د مالیې له قانون سره ارتباط لري، پر عایداتو د مالیې قانون په ۲۱ او ۳۰ مادو کې تسجیل شوی دی.

له خرڅلاو یا د پانګوالې شتمنی له مبادلې (Capital asset) څخه لاسته راغلي عوائد د مالیه ورکونې وړ بلل کیږي، پانګوالې شتمنې هغې دارایی ته ویل کیږي چې ډېری مهال د پیسو د تولید په موخه کارول کیږي یعنې د لګښت په موخه نه کارول کیږي؛ نغدې پیسې، شتمنی او ارزښت لرونکې پاڼې د دې ډول دارایی ښې بېلګې بلل کیږي. سربېره پر دې د لاندې جایدادونو د خرڅلاو، مبادلې او لېږد څخه لاسته راغلي عایدات هم د مالیې ورکونې وړ عوائد بلل کیږي: سوداګری، کارخانې (د تجهیزاتو، ماشینونو، ساختمانونو او څمکې په ګډون)، هغه تجهیزات او وسائل چې د جایداد او اشخاصو د لېږد په سوداګرۍ کې کارول کیږي، په سهامي یا محدودالمسؤلیته شرکتونو کې موجوده برخې او یا د محدودالمسؤلیته او سهامي شرکتونو هغه شتمنی چې له هغې وروسته په مساوي ډول شرکت حسابیږي. (د بشپړ نوملړ د کتنې لپاره دې د قانون ۴۴ مادې ته مراجعه وشي). د شتمنی د خرڅلاو، مبادلې او لېږد روش د مالیې په مقدار او اندازه تر هغې پورې هیڅ ډول اغیز نه لري تر څو چې د شتمنی لېږد د ارث ښه خپله نه کړي او یا هم د مالیې مورد د پلې کیدو وړ نه وي. د شتمنی د مالیې ورکولو لپاره باید د شتمنی ارزښت د هغه ارزښت پر

بنسټ و ټاکل شي چې هماغه جنس په بازار کې د هغه له مخې خرڅ، مبادله او یا لېږد شوی وي. (۲۵ماده)

مور د پانګوالي عوائدو موضوع په جلا توګه په تفصیل سره څېړو؛ ځکه دا ډول عوائدو یوه برخه د دې پر ځای چې هغه باید د هغو مالیاتي معیاري نرخونو تابع وي کوم چې د (د) لیست په فرعي برخه کې ذکر شول، دوی د ځانګړو مالیاتي نرخونو تابع دي. د ساختمان په څېر د غیر منقول جایداد لپاره مالیاتي نرخ یوه سلنه کې ثابت او د تراکتور او نورو عوائدو په څېر د منقول جایداد د خرڅلاو لپاره مالیاتي نرخ دوه سلنه کې ثابت دی.(۳۰ ماده) هغه شتمنی چې له خرڅلاو یا لېږد مخکې لږ تر لږه د ۱۸ میاشتو لپاره وساتل شي او له لاندې شرائطو سره مطابقت او سمون ولري، د ځانګړي مالیاتي نرخ وړ بلل کیږي: هر کله چې له خرڅلاو یا د میراث له کومې شیوې پرته لېږد رامنځته شي یا هم د خرڅلاو د یوې برخې په توګه د یوې سوداګرۍ د نغدولو په ترڅ کې لېږد رامنځته شي او یا هم لېږد شوې شتمني پانګوالي شتمني وي، نو په دې ټولو حالاتو کې د خاص مالیاتي نرخ د محاسبې بهیر په ۲۹(۳) مادې کې د لاسته راوړلو وړ دی.

د بحث وړ پوښتنې

د دې مسئلې په اړه نقادانه فکر وکړئ چې ولې د عوائدو ځینې خاص ډولونه له مالیې معاف او ځینې نور یې معاف نه دي؟ ستاسې په اند دا ډول عایدات له مالیې څخه د معافیت د شرائطو درلودونکي دي که نه؟

## د وضع کېدو وړ لګښتونهDeductible Expenses

ښایي یو شرکت له خپل پېرودونکي څخه د خپل ځانګړي محصول له مخې ۲۰۰ افغانۍ ترلاسه کړي خو شونې ده چې دغه شرکت۱۰۰ افغانۍ هغه شخص ته ورکړي چې د نوموړي محصول یې ورکړی دی او ۵۰ افغانۍ هغه کارکوونکي ته ورکړي چې محصول یې رامنځته کړی؛ ستاسې په اند اوس شرکت باید د ټولو ۲۰۰ افغانیو او که یوازې د ۵۰ افغانیو خپلې ګټې له مخې مالیه ورکړي؟

د افغانستان د مالیاتو قانون سوداګریزو بنسټونو ته اجازه ورکوي چې ځینې ځانګړي لګښتونه له خپلو مالیې وړ عوائدو څخه وضع کړي؛ د لګښت وضع له مالیې وړ عوائدو څخه د لګښتونو د منفي کولو په معنی دی. دغه وضع او د عوائدو د اندازې کمښت چې د مالیاتي وضعیت تابع دی، راټیټیږي او په پایله کې یې د مالیې هغه اندازه چې د پام وړ شرکت یې پورووړی دی، کمیږي. په عام ډول مالیه ورکوونکي کولای شي هغه لګښتونه وضع کړي چې د عایداتو د تولید پر مهال رامنځته شوي دي.

**د سوداګرۍ معمول او اړین لګښتونه**

قانون د وضع یا د ټولو هغو معمول او اړینو لګښتونو د کمولو اجازه ورکوي چې د حقوقي او حقیقي شخصیتونو د تولید، جمع کولو او ساتنې په پایله کې رامنځته کیږي. (۱۸ماده) یا په بله وینا ټول حقیقي او حقوقي شخصیتونه کولای شي هغه لګښتونه چې د عایداتو د تولید د یوې برخې په توګه پیداکیږي له خپل عاید نه وضع کړي خو په دې شرط چې د نظر وړ لګښت د مالیې ورکولو د کال په اوږدو او یا له تېرو درېو مالیاتي کالونو څخه د هغه په یوه کې رامنځته شوی وي.

دا ډول لګښتونه عبارت دي له: هغه دستمزدونه چې کارکوونکو ته ورکول کیږي، د هغو توکو لګښت چې د یو محصول د جوړولو لپاره استعمالیږي، هغه سود چې د سوداګریزو پورونو په بدل کې ورکول کیږي، هغه کرایه چې د سوداګریزې ګټې اخیستنې په موخه تر استفادې لاندې جایداد ته ورکول کیږي، د ونډو هغه سود چې (د اضافي ونډو پرخلاف) په نغد ډول ورکول کیږي، هغه مالیات چې د یوې سوداګرۍ د اړینو برخو په توګه په نظر کې نیول کیږي. د بېلګې په توګه د سوداګریزو رسیدونو

مالیه او آن هغه زیانونه چې د اورلګېدنې، زلزلې او یا کوم بل طبعي ناتار له مخې پر سوداګرۍ واردیږي.( د وضع منونکو لګښتونو د بشپړ لیست د کتنې لپاره دې ۱۸ مادې ته مراجعه وشي).

**د موضوع روښانتیا:**

د دغه فرعي بحث په پیل کې ذکر شوي مثال ته په پام سره ویلی شو چې شرکت اجازه لري څو ۱۰۰ افغانۍ چې د نظر وړ محصول توزیع کوونکي یا ورکوونکي او ۵۰ افغانۍ چې تولید کوونکي شخص ته یې ورکړې وې، له عوائدو څخه وضع کړي؛ په دې اساس نوموړی شرکت به یوازې د هغه ۵۰ افغانیو مالیه ورکوي چې د سوداګرۍ ګټه بلل کیږي. همدارنګه که د یوې لارۍ چلوونکی د یو بار د لیږد او توزیع له امله ۱۰۰ افغانۍ ترلاسه کوي اما ۵ افغانۍ د پټرولو او یا سون موادو لپاره لګوي، په دې صورت کې نوموړی باید د پټرولو هغه لګښت وضع کړي، چې له لاسته راوړو پیسو څخه دی په نتیجه کې د مالیې وړ پیسې یوازې ۹۵ افغانۍ بلل کیږي او پټرول په حقیقت کې هغه لګښت دی چې د عاید د تولید په جریان کې د مالیه ورکوونکي په غاړه پروت دی.

په دې اساس د لګښتونو نور ډولونه د وضع کولو یا کمېدو وړ نه دي، په عمومي ډول وضع نه منونکي لګښتونه هغه لګښتونه دي چې چې د شخصي ګټو او موخو لپاره رامنځته کیږي لکه د اوسیدو لګښت، خواړه او یا د مالیې وړ بوختیاوې.( د دغه ډول لګښتونو د بشپړ لیست د کتنې لپاره دې ۱۹ مادې ته مراجعه وشي) ښایي تاسې استدلال وکړئ چې د شخصي لګښتونو له ډلې څخه د ځان د بیمې روغتیایي لګښتونه چې په احتمالي ډول د عاید د تولید او د کار د استخدام له مسئلې سره تړاو لري، او همدارنګه کار ته د تګ او راتګ شخصي لګښتونه باید له وضع منونکو عوائدو څخه وي؛ په داسې حال کې چې دا ډول لګښتونه اوسمهال د وضع وړ نه بلل کیږي ځکه کله چې مالیه ورکوونکی د خپل ځان لپاره پیسې لګوي نو د هغو پیسو په توګه په نظر کې نه نیول کیږي چې د عاید د تولید لپاره مصرف شوې دي.

**پانګوالي زیانونه:**

په یاد ولرئ چې د یو لړ خاصو شتمنیو د مبادلې او خرڅلاو څخه لاسته راغلي عوائد ( پانګوالي عایدات) مالیه لازمونکي نه بلل کیږي. په دې اساس هغه زیانونه چې د دغسې خرڅلاوونو په پایله کې رامنځته کیږي، د مالیې وړ عوائدو د محاسبې په وخت کې له وضع منونکو عوائدو څخه دي، خو په دې شرط چې د مالیاتي کال له پاره (۱) داسې وضع واقع شي چې په هغه کې یو خرڅلاو شوی وي او (۲) کسرونه په هغه صورت کې چې مبادله یا خرڅلاو په عوائدو منتج شوی وي او دا ډول عاید پانګوالي مالیې وړ عاید بلل کیږي. پورتني اصل ته په پام سره که تاسو یوه تجارتخونه په 100.000 افغانیو واخلئ او د 80.000 افغانیو په بدل کې یې وپلورئ، تاسو کولای شئ چې 20.000 افغانۍ له مالیې وړ عوائدو څخه وضع کړئ. په دې قاعده کې یوه استثناء هم شته چې هغه تر سهام سره پورې اړه پیدا کوي؛ له ونډو څخه لاسته راغلی عاید له نورو عوائدو بېل په نظر کې نیول کیږي او د ونډو تاوانونه د عوائدو د نورو ډولونو برعکس یوازې له مالیې وړ عوائدو څخه وضع کیدلی شي. (۲۸ماده) که چیرې د یوه مالي کال په اوږدو کې ستاسې له ونډو څخه پیدا شوي تاوانونه له عوائدو زیاتیږي، تاسو کولای شئ خپل تاوانونه د عوائدو له اندازې سره سم وضع کړئ خو د ونډو تاوانونه د عوائدو د نورو ډولونو حساب ته لیږدولی نشئ.

**د محدودالمسؤلیته او سهامي شرکتونو عملیاتي لګښتونه:**

محدودالمسؤلیته او یا سهامي شرکت چې د یوه مالیاتي کال په اوږدو کې یو عملیاتي خالص تاوان یا ( Net Operating loss) په غاړه اخلي، د دې مستحق دی چې د دریو کلونو وروسته مالیې وړ عوائدو تاوانونه وضع کړي یعنې کولای شي چې د موجوده کال یو پر درییم تاوان د درې کاله وروسته مالیې وړ عوائدو څخه وضع کړي (۴۲ ماده). دغه عمل په اصطلاح کې (

وروسته کال ته د تاوان لېږد یا carry over loss) په نامه یادیږي او دغه قاعده شرکتونو ته اجازه ورکوي چې د خپلو تاوانونو یوه برخه، د خپلو راتلونکو کلونو د مالیاتي مسؤلیتونو او الزاماتو د اغیزمنې را ټیټونې له لارې رفع کړي، دغه کړنې په خپل ذات کې د شرکتونو له پاره داسې انګیزه ایجادوي چې له مخې یې داسې پروژې انتخاب او پلې کړي چې یو ډول ستونزمنې خو په عیني حال کې له ټولنیز اړخه لوړ ارزښت ولري.

## د مالیاتو د محاسبې تګلاره

د مالیې اخیستلو او مالیې ورکولو لپاره د حساب او محاسبې روش د خورا زیات ارزښت درلودونکی دی، ځکه چې د همدې روش په واسطه په یوه ټاکلي وخت کې د عوائدو مالیاتي موخې تثبیتیږي. ښایي یو څوک د عوائدو د پیسو په اندازه د مالیه ورکوونکي پوروړی وي او ممکن په دې صورت کې مالیه ورکوونکی د هغې په ترلاسه کولو کې وځنډیږي؛ خو په دې ځېرکي کې د محاسبې په دغه روشونو د بحث مجال نشته. د یادولو وړ ده چې د مالیې ترلاسه کولو پرمهال له محدودالمسؤلیته او سهامي شرکتونو سره د نورو اشخاصو په پرتله د یوه ځانګړي روش له لارې چلند کیږي. سهامي او محدودالمسؤلیته شرکتونه مکلف دي چې خپل د مالیې وړ عوائد د زیاتوالي (Accrual Method) روش په کارولو سره، چې له مخې یې عوائد او لګښتونه د هغه نیټې مطابق په ښکاره توګه په یو یو د طرفینو پسې قید شوي وي، تثبیتیږي. پورتني شرکتونه مکلفیت لري چې خپل د مالیې وړ عوائد د دغه روش په کارولو سره محاسبه کړي (پرعایداتو د مالیې قانون ۳۷ ماده).که عوائد او لګښتونه په خپله ټاکلې نېټه ورنه کړل شي نو نور اشخاص باید د خپلو عوائدو د محاسبې لپاره باید د نغدي روش (Cash Method) څخه کار واخلي؛ په دغه روش کې عوائد او لګښتونه د هغې نېټې له مخې تثبیتیږي چې په واقعي توګه د هغو په ترڅ کې ورکړل شوي وي (۳۸ماده).

په دې لړ کې د مهمو مفاهیمو له ډلې څخه یو هم دا دی چې: که ټولې راکړې ورکړې که د معاملې د طرفونو ترمنځ په بې پرې ډول(Unconnected parties) سره رامنځته شي، نو باید د مالیاتي موخو لپاره ارزښت ټاکنه وشي. ډیری مهال، دغه معاملې ته ناتړلې (Arms-length) معامله ویل کیږي؛ د بېلګې په توګه فرض کړئ چې د احمد له شرکتونو څخه د هغه یو شرکت خپل محصول هغه شرکت ته چې د هغه خاوند هم احمد دی، د تخفیف په یو نرخ (۱۰۰ افغانیو) خرخوي؛ په دې ځای کې د معاملې دواړه لوري سره پیوستون پیداکوي، که دلته تخفیف نه وی شوی په هغه صورت کې د نوموړي محصول ارزښت به ۲۰۰ افغانی وي. د بېلګې په توګه (د مارکېټ نرخ) پر عایداتو د مالیې قانون د ۱۰۲ مادې له مخې هغه شرکت چې خپل محصول یې خرڅ کړی، باید چې د محاسبې پر مهال خپل د مالیې وړ عاید ۲۰۰ افغانی محاسبه کړي.

## د: مالیات او نرخونه

پر عوائدو د مالیاتو قانون د مالیاتو مختلف ډولونه په خپله لمن کې رانغاړي چې هر یو یې د مختلف نرخ درلودونکی دی. د پورتني بحث په ترڅ کې چې د پانګوالي عوائدو په اړه ترسره شو، تاسو د مالیې له یو ډول او د هغو له نرخ سره اشنا شوئ. د مالیې د یو مشخص نرخ له ټاکلو څخه هدف دا دی چې د دولتي خدمتونو او ارزښتمنو اقتصادي فعالیتونو څخه د لاسته راغلو عوائدو تر منځ توازن او انډول ایجاد کړي. هوښیار او منطقي خلک د دغه انډول په اړه چې باید څه ډول وي، مخالفت کوي ځکه هغوی د عوائدو د هغو اندازې په باره کې چې باید یو حکومت یې را جمع کړي، یو له بله سره د نظر اختلاف لري او دغه وضعیت په خپل وار سره د دې موضوع په اړه چې آیا حکومت باید د خلکو لپاره لازم خدمتونه وړاندې کړي او که نه، په یوه لانجه اوړي. د مالیې نرخونه کولای شي چې له سیاسي، اقتصادي او ټولنیزو اړخونو کیدای شي په یوه لانجمنه موضوع واوړي.

### عادلانه مالیه څه شی ده؟

د دې لپاره چې وپوهیږو چې وضع شوې مالیه تر کومه بریده عادلانه ده، باید په دې پوه شو چې مالیاتي مسؤلیت یا لګښت د

وګړو او تر قضاوت لاندې اوسېدونکو تر منځ څه ډول ویشل کیږي. دغه اصل چې آیا مالیات د ورکړې د توان مطابق پر مالیه ورکوونکو وضع کیږي او یا په عام ډول په ډیرو هېوادونو کې د مالیاتو په اړه د بنسټیزو تدابیرو( عدالت او انصاف) څخه د یو اساسي تدبیر په توګه په نظر کې نیول کیږي. خو د دې عبارت لنډه معنا وړاندې تر دې چې په ښکاره او لومړي نظر ساده وبریښي، خورا پیچلې ده.

د بیلګې په توګه د (مالیې د ورکړې د توان) مفهوم له دې پرته په دوو نورو اصلونو هم تجزیه کیږي: افقي انصاف (Horizontal equity) او عمودي انصاف (Vertical Equity). افقي انصاف حکم کوي چې له هغو مالیه ورکوونکو سره چې په عیني حالت کې وي، باید پر عوائدو د مالیې قانون مطابق ورته چلند ورسره وشي. د بېلګې په توګه هغه مالیه ورکوونکي چې د مشابه عاید درلودونکي دي، باید د مالیې ورته اندازه ورکړي، په داسې حال کې چې (عمودي انصاف) د مالیې له قوانینو غواړي څو د هغو مالیه ورکوونکو چې یو له بله په جلا وضعیت کې دي، یو له بله په توپیر قائل شي. د بېلګې په توګه د الف، و، ی او ز اشخاص په نوموړي مثال کې باید د مالیې مختلفې اندازې ورکړي تر څو د هغوی د عوائدو مختلفې کچې منعکسې کړي. په دې اړه فکر وکړئ چې په لاندې مالیاتي نظامونو کې افقي او عمودي انصاف تأمینیږي که نه؟

د مالیې تر ټولو ساده ډول، سرانه مالیه (Head tax) ده، سرانه مالیه د مالیې هغه اندازه ده چې په هر شخص باندې په برابر ډول وضع کیږي یا په هر هغه چا باندې وضع کیږي چې د کار کولو وس ولري. ښایي یو زیات شمېر مالیه ورکوونکي خلک دغه طرز نامنصفانه وبولي ځکه هغه مالیه ورکوونکي چې په مختلفو مالي شرائطو کې ځای لري، ښایي د هغه کره مالیه یې اندازې له ورکړې سرغړونه وکړي چې د دوی له حال سره مناسبه ده. په دې اساس هغه مالیه ورکوونکي چې د لږ شتمنی او کم عاید درلودونکي دي، له هغه چاسره د پرتلې په صورت کې چې ډیره شتمني او زیات عاید لري، پر اوږو به یې د مالیې درونده بار او مسوولیت پریوزي.

**د موضوع روښانتیا:** فرض کړئ چې الف هېواد د دریو مختلفو وګړو درلودونکی دی: الف بزګر یو داسې وګړی دی چې په یوه کال کې ۱۰۰۰ افغانی ګټه کوي. ( ب) هېواد داسې پروفیسور دی چې په یو پوهنتون کې درس ورکوي او هر کال ۱۰۰۰۰۰ افغانی لاسته راوړي. دریم (ج) وګړی چې د غوړو د یوه لوی شرکت خاوند دی او په کلني ډول ۱۰۰۰۰۰ افغانی ترلاسه کوي؛ اوسمهال که الف هېواد 200 افغانی سرانه مالیه وضع کړې وي په دې صورت کې به د الف، ب، و او ج هریو شخص د مالیې په ډول د پیسو عیني اندازه پرې کوي، دا په داسې حال کې ده چې د (ب) شخص له الف څخه لږ زیات شتمن او د ج شخص د الف او ب په پرتله د پام وړ اندازه ډیر زیات شتمن دی. په بله وینا د سرانه مالیې پر عوائدو قوانین په غیر عادلانه ډول سره یو زیات شمیر مختلف السویه خلک تر څېړنې لاندې نیسي ځکه دغه قانون له ټولو مالیه ورکوونکو سره د عین روش له مخې معامله کوي؛ پرته له دې چې په دوی کې د مالیه ورکونې توان په نظر کې ونیسي. هر کله چې 200 افغانی په 1000 افغانیو وویشو، د الف شخص مالیاتي مسؤولیت د ده د عوائدو له 20 سلنې سره برابر دی؛ دا په داسې حال کې چې که 200 افغانی په 100.000 افغانیو وویشو د (ج) شخص مالیاتي مسؤولیت له 0.5٪ سره برابر دی.

دویم ډول عبارت دی له تصاعدي مالیې(Progressive tax) څخه چې په هغې کې د مالیې نرخونه د مالیه منونکو عوائدو له زیاتوالي سره په همهالي توګه جوخت زیاتیږي. په دې توګه له تصاعدي مالیې سره مطابق هغه مالیه ورکوونکی چې د ډیر عاید درلودونکی وي، نه یوازې دا چې د کم عایده شخص په پرتله ډیره مالیه ورکوي بلکې د خپل عاید یوه زیاته برخه هم د مالیې په بڼه ورکوي.

**روښانتیا او تمرین:** د الف هېواد په خپلو مالیه ورکوونکو افرادو درې ډوله مالیاتي نرخونه وضع کوي: په سلو کې صفر په هغه

مالیې وړ عاید چې د کال په پیل کې له صفر شروع او د کال تر پای پورې 5000 افغانیو ته ورسیږي، 20 په سلو کې په هغه مالیې وړ عاید چې د کال په جریان کې تر پورې35000 ورسیږي او 40٪ سلنه په هغه مالیې وړ عاید چې د مالی کال په اوږدو کې له 35000 افغانیو زیاتیږي. اوس ستاسې په اند هغه شخص چې په مالي کال کې د هغه عاید 1000 افغانی وي، الف مالیه ورکوونکی به دولت ته د څومره مالیې پوروړی وي؟ (ب) مالیه ورکوونکی چې د مالیې وړ عاید یې په یوه مالي کال کې 10.000 افغانی دی، څومره اندازه مالیه پوروړی به وي؟ او (ج) مالیه ورکوونکی چې د مالیې وړ عاید یې په مالي کال کې 100.000 افغانی دی، څومره مالیه باید دولت ته وسپاري؟ ښکاره ده چې الف مالیه ورکوونکی به د مالیې ورکوونکي د قانون له مخې د مالیه ورکولو وړ نه وي ځکه چې په ده نافذ مالیاتي نرخ ( هغه نرخ چې د هغه مالیه یې اندازې ښکارندوی دی چې واقعاً (الف) شخص هغه ورکوي او د ده په مجموعي عاید ویشل کیږي) صفر په سلو کې به وي. (ب) مالیه ورکوونکی د هغو 5،000 افغانیو له مخې چې د ده د عاید لومړی برخه تشکیلوي، د مالیې په ورکولو به مکلف نه وي. مګر دی به مکلف وي چې د خپلو 5،000 اضافي افغانیو عاید له مخې به20 په سلو کې مالیه ورکوي. په دې اساس دی به 1،000 افغانی مالیات (0.2X5,000) ورکړي او په واقعیت کې به 10٪ مالیاتي نرخ د ده پر مالیې وړ عوائدو نافذ وي چې کله 1،000 افغانی مالیات د ده پر 10،000 افغانیو کلني عاید وویشل شي. په پایله کې به (ج) مالیه ورکوونکی هم د هغو 5،000 افغانیو له مخې د مالیې په ورکولو مکلف نه وي چې د ده مالیې وړ عوائد تشکیلوي. مګر دی به مکلف وي چې د خپل وروستي عاید (35،000 افغانیو) له امله 20 سلنه مالیه او د خپلو نورو 60،000 افغانیو له امله باید 40 سلنه مالیه ورکړي. په دې اساس دی مکلف دی چې 31،000 افغانی د مالیاتو په بڼه (0.2X35,00+0.4X60.000) دولت ته مالیه ورکړي چې په پایله کې به په ده نافذ مالیاتي نرخ 31 سلنه وي او هغه 31،000 افغانی چې د مالیې په توګه ورکول کیږي، د 100،000 افغانیو عاید په واسطه ویشل کیږي.

څرنګه چې په افغانستان کې له حقیقي شخصیتونو څخه د مالیې ترلاسه کولو لپاره د مالیې تصاعدي طرز کارول کیږي، نو مناسبه او په ځای به وي چې د یو څو شیبو لپاره هغه استدلالونه چې د نوموړي طرز پر بنسټ د مالیې اخیستلو لپاره کارول کیږي، تر څیړنې لاندې ونیسو. پوهان او سیاستوال په تصاعدي مالیه کې د انصاف د اصل رعایتولو په اړه یو له بله بحث او د نظر اختلاف لري، د تصاعدي مالیې پلویان استدلال کوي چې دا ډول طرز عادلانه مالیه ده؛ ځکه چې د اضافي مالیاتو ورکول، بډای او شتمن مالیه ورکوونکي دې ته اړ کوي چې د بې وزلو مالیه ورکوونکو په پرتله دوی له ځانه ځانګړې میړانه وښیي او قرباني وښیي. همدارنګه دا ډول پوهان استدلال کوي چې یاد شتمن خلک له دولتي خدمتونو څخه په نا انډول (نامتناسب) ډول سره ګټه اخلي او په ځانګړې توګه د هغو قوانینو له اجراء او انفاذ څخه ویریږي چې د خصوصي جایدادونو او خدماتي اجناسو د لاسته راوړلو له لارې د انباشت او تولید لامل کیږي نو له همدې امله باید د خپل عاید یوه غیرمتناسبه برخه دولت ته د مالیې په ډول ورکړي. په پایله کې د تصاعدي مالیې طرز او جوړښت په بشپړه ټولنه کې د عایداتو او شتمنۍ د دویم ځلي ویش له لارې، د اقتصادي نابرابرۍ د راټیټولو په لاره کې د یوه محرک په توګه ونډه اخلي.

د تصاعدي مالیې مخالفان استدلال کوي چې د دغه واقعیت یوازینی معنی او مفهوم چې (شتمن خلک کولای شي د خپل عاید یوه زیاته برخه د مالیې په بڼه ورکړي) د انصاف او عدالت اصل ته په پام سره داسې نه دی چې دوی مجبور شي او په دومره کچه نرخونه پرې کړي. د دغه برداشت یوه بله برخه چې وایي شتمن مالیه ورکوونکي د ډیرې اندازې مالیې په ورکولو سره لږ قرباني ورکوي او یا دا چې بډای مالیه ورکوونکي په نا انډوله توګه له دولتي خدمتونو ګټه پورته کوي، دغسې څرګندونې له ستونزې سره مخ کوي. د کتونکو یوه بله ډله استدلال کوي چې افراد په دوديز ډول سره د دې وړ دي چې د خپلو عوائدو او لاسته راوړنو ثمره له خپل ځان سره وساتي او د دولت په واسطه له یوه شخص څخه بل ته د عوائدو او شتمنۍ دویم ځلي توزیع په خپل ذات کې یو غیرعادلانه کار دی. په دې توګه هر څوک داسې استدلال کولای شي چې د مالیې اخیستلو هر هغه سیستم چې د نورو په پرتله پر یوه شخص ډیر زیات مالیات وضع او تحمیل کړي، له بنسټه غیرعادلانه دی او د مالیې اخیستلو یوازې هغه سیستم چې په هغه کې ټول افراد یا لږ تر لږه هرڅوک د خپل لاسمزد له مخې د مالیې ټاکلې اندازه ورکړي، عادلانه او منصفانه بلل کیږي.

د ماليې ورکولو دوه نور طرزونه هم د يادولو وړ دي، لومړی هغه چې پر عايداتو يوشان ماليه(Flat income tax) وي چې د هغو له مخې د مختلفو اشخاصو پر عوائدو يو شان ماليه وضع او پلې کيږي. د دې قاعدې پر بنسټ هغه شخص چې د لوړ عايد درلودونکی وي، مکلف دی چې يوه اندازه زياته ماليه ورکړي خو په دې مکلف نه دی چې د خپل عايد يوه زياته برخه د ماليې په توګه ورکړي. په دې توګه که پر عوائدو د ماليې نرخ په مساوي ډول 20 سلنه وي، نو الف ماليه ورکوونکی به 200 افغانی د ماليې په توګه او (ج) ماليه ورکوونکی به 20،000 افغانی د ماليې په توګه ورکوي. د دې ډول ماليې مدافعين استدلال کوي چې پر عايداتو يوشان د ماليې طرز کې د افقي صداقت او انصاف اصل مراعات کيږي. ځکه دا قاعده هغه ماليه ورکوونکي چې د عوائدو په مختلفو سطحو کې ځای لري، مکلفوي چې له بريده زياته اندازه ماليه دولت ته ورکړي.

د ماليې اخيستنې دغه طرز هم له عيب او کمزورتياوو خالي نه دی؛ ځکه هغه ماليه ورکوونکي چې د مختلفو عوائدو درلودونکي دي (آن تر دې که د عوائدو د ورته کچې درلودونکي هم وي) نه شي کولای چې د ماليې عيني نرخ ورکړي. د بېلګې په توګه د (الف) او (ب) ماليه ورکوونکي له پاره به د (ج) ماليه ورکوونکي په پرتله ستونزمنه وي چې 20٪ ماليه ورکړي؛ که لږ نور هم عمومي وغږيږو، دا مسأله روښانه نه ده چې ولې مختلف ماليه ورکوونکي د دوی د عوائدو مختلفو کچو ته له پاملرنې پرته، عين مالياتي نرخ ورکوي. په افغانستان کې د يوشان ماليې طرز پر حقوقي اشخاصو کارول کيږي.

د ماليې د نورو بديلونو څخه يوهم، د محور د لګښت ماليه(Consumption Tax) ده، دا ډول ماليه د دې پر ځای چې په عوائدو وضع شي تر ډيره د ماليه ورکوونکو په لګښتونو راڅرخيږي. د محور د لګښت ماليات پر (عوائدو مالياتو) په پرتله ډير عادلانه طرز بلل کيږي؛ ځکه چې دغه طرز په هغو خلکو چې ډير لګښت کوي، د هغو کسانو په پرتله ډير ماليات وضع کوي چې هغوی يې ذخيره کوي. د بېلګې په توګه فرض کړئ چې (و) او (ی) دوه ماليه ورکوونکي د يوه مالي کال په اوږدو کې 10،000 افغانی لاسته راوړي او په الف هېواد کې چې د تصاعدي ماليه اخيستنې سيستم درلودونکی دی، ژوند کوي. د نوموړي سيستم له مخې د (و) او (ی) دواړه ماليه ورکوونکي مکلف دي چې 10،00 افغانی د عوائدو د ماليې په توګه ورکړي. (و) ماليه ورکوونکی هوډ کوي چې 500 افغانی د خپلو رخصتيو لپاره مصرف کړي، په داسې حال کې چې (ی) ماليه ورکوونکی تصميم نيسي چې له خپلو عوائدو څخه 500 افغانی په داسې يوه پس انداز واله حساب کې ذخيره کوي چې ده ته سود ورکوي. څرنګه چې له سود څخه لاسته راغلی عايد ماليې وړ بلل کيږي نو (ی) ماليه ورکوونکی مکلف دی چې د خپل سود (ګټې) له مخې ماليه ورکړي؛ په داسې حال کې چې (و) ماليه ورکوونکی مکلف نه دی څو د هغو پيسو له مخې ماليه ورکړي چې ده په رخصتيو کې لګولې دي؛ د محور د لګښت ماليې پر خلاف. دا ډول ماليه اخيستنه د افقي انصاف د اصل پر خلاف بلل کيږي، ځکه دا ډول ماليه له هغو خلکو سره چې د عين عايد درلودونکي دي پرته له دې چې دوی له لګښت څخه ډډه کوي او يا يې ژر مصرفوي، د مختلفو روشونو د کارولو له لارې چلن کوي. د محور د لګښت په ماليه کې، په هغو پيسو چې په پس انداز ډول ساتل شوې دي، دې ته په پام چې د ماليې اخيستنې د سيستم له مخې (لګښت) په نظر کې نيول کيږي او که نه، بنايي ماليه وضع او يا وضع نه شي. په دې اساس به د محور د لګښت ماليه په خپل وار سره د دې پر ځای چې د ستونزو د حل يوه لاره شي، لاهم ستونزې رامنځته کوي.

ځکه هرکله چې دوه اشخاص سره ورته عايد ولري، هغه شخص چې د پس انداز او د خپلو پانګونو له امله يې يوه اندازه اضافي عايد ترلاسه کړی له شک پرته چې د ده په شتمنی کې هم د پام وړ زياتوالی رامنځته شوی دی (په عيني حال کې د ده د ماليې ورکونې ځواک هم زيات شوی دی) او له همدې امله دغه شخص له هغه شخص سره چې په شتمنی کې يې زياتوالی نه دی راغلی، په يوه مالي دريځ کې نه دی؛ ځکه خو بنايي د محور د لګښت ماليه له افقي اړخه مناسب روش نه وي، سربېره پر دې د محور د لګښت مالي مسؤوليت ډيری په هغو اشخاصو تکيه کوي چې د ټيټ عايد درلودونکي دي او دا د دوو دليلونو له مخې:
۱- د ټيټ عايد درلودونکي اشخاص د خپلو اړتياوو د تأمين لپاره مجبور دي چې د شتمنو خلکو په پرتله د خپلې شتمنی يوه زياته برخه د خدماتو او اجناسو د ترلاسه کولو لپاره ولګوي. ۲- او دويم دا چې د ډير عايد درلودونکي اشخاص د هغه خلکو په پرتله چې د لږ عايد خاوندان دي، د پانګونې او ذخيره کولو لپاره د ډير توان څخه برخمن دي او کولای شي له دې اړخه زيات عوائد

ترلاسه کړي. اوس که ستاسې لپاره دغه وړاندې شوي استدلالونه د قناعت وړ وي، داسې ښکاري چې تاسې ته به هم په دې قناعت کول سخت وي چې د محور د لګښت مالیه د تصاعدي مالیې په پرتله ډیره عادلانه دهو.

که په خلص ډول ووایو دا پوښتنه چې د مالیې اخیستلو کوم روش اوطرز ډیر عادلانه دی، یو اوږد او پراخه بحث ته اړتیا لري.

**د بحث وړ پوښتنې**

د مالیې اخیستنې لپاره ستاسو لپاره کوم یو سیستم ډیر منطقي او عادلانه بریښي؟ په دغه فرعي برخه کې د هېوادونو د ځانګړو شرائطو له په نظر کې نیولو پرته تاسو ته د مالیې اخیستنې مختلف سیستمونه وړاندې شول، ستاسو په اند د افغانستان د وګړو منحصرو شرائطو او د هغو د پراختیا شته کچې ته په پام سره له نوموړو سیستمونو څخه کوم یو د افغانستان لپاره ګټور او معنی لرونکی دی؟ راځې و پوهیږو چې آیا د افغانستان حکومت هم ستاسو له نظر سره همغږی دی که نه؟

## د افغانستان مالیاتي نرخونه

### د معیاري عاید مالیه

حقوقي اشخاص (سهامي شرکتونه، محدودالمسؤلیته شرکتونه او نور حقوقي بنسټونه) د خپلو مالیې وړ عوائدو درلودلو له مخې مکلف دي چې د نرخ (20٪) مطابق خپله مالیه ورکړي (پر عوائدو د مالیې قانون ۴ ماده). په دې اساس شرکتي مالیه(Corporate tax) پر عایداتو د یوشان مالیې له ډولونو څخه ده. د دې پر خلاف له مالیاتي نرخونو سره د لاندې حقیقي اشخاصو پر مالیې وړ عوائدو، مالیه محاسبه کیږي او دغه مورد د تصاعدي مالیې له ډولونو څخه دی.

| مالیې وړ عوائد | مالیاتي بیې |
|---|---|
| ۰ – ۱۵۰۰۰۰ افغانی | له مالیې ورکولو څخه معاف دي |
| 150000- 1200000 افغانی | 10 په سلو کې هغه عوائد چې له 150000 افغانیو څخه زیات وي. |
| 1200000 او له دې څخه زیات | 105000 په اضافه ډول20 په سلو کې هغه پیسې چې له 1200000 افغانیو څخه زیاتې وي. |

په یاد ولرئ چې د مالیې راټولولو په قضیه کې هغه سوداګریز شرکتونه چې د یوه مالك لرونکي دي (چې په هغو کې ځانګړي افراد د تجارتخانې درلودونکي وي او دوی په خپله یې چارې پرمخ بیایي) او د مشارکتونو غړي د دې پر ځای چې د حقوقي بنسټونو په توګه په نظر کې ونیول شي، د حقیقي اشخاصو په حیث په نظر کې نیول کیږي. دا کار تر یوې اندازې په ځای هم دی، ځکه د یوه مالك لرونکي شرکتونه او مشارکتونه د محدودالمسؤلیته او سهامي شرکتونو په شرائطو برابر نه وي. دغه افراد د مالیې ورکولو له قواعدو او مزایاوو څخه برخمن کیږي، که څو تجارتونه د یوه مالکیت او داسې مشارکت درلودونکي وي چې د هغو مالیې وړ عاید له 12،00،000 افغانیو څخه نه زیاتیږي نو دوی پر شخصي عوائدو د 20٪ مالیاتي نرخ تابع دي یعنې د محدودالمسؤلیته او سهامي شرکتونو دنرخ؛ خو د دوی د عاید لوړی 1200،000 افغانی به د حقیقي شخص د مالیاتي نرخونو د ټیټې مالیې اخیستنې د نرخ تابع وي.

**له سوداګریزو رسیدونو سره متناسبه مالیه**

له سوداګریزو رسیدونو سره د متناسبې مالیې (BRT) د قانون احکام، پر عایداتو د مالیې قانون د لسم څپرکي په ۶۴ او ۶۷ مادو کې ځای شوي دي، له سوداګریزو نرخونو سره د متناسبې مالیې (BRT) نرخ له وړاندې شویو خدماتو سره تړاو لري، په عام ډول له سوداګریزو رسیدونو سره د متناسبې مالیې نرخ په لاندې ډول دی:

- ناخالصو رسیدونو (له هر ډول وضعیاتو وړاندې) دوه سلنه مالیه چې د محصولاتو، اجناسو او شتمنیو څخه په لاس راځي؛ د ودانیو د جوړولو او حمل نقل تر یوه قرارداد لاندې موادو د تدارک رسیدونه، تجهیزات او خدمات؛ د حق البیمې رسیدونه او عامو خلکو د حق دخول/شمول له خرڅلاو څخه ترلاسه شوي رسیدونه.
- پنځه په سلو کې له کرایې څخه ترلاسه شوو رسیدونو له پاره ( له هغه هر ډول کرایې پرته چې د قانون د ۵۹ مادې مطابق ترلاسه کیږي)، د حق التألیف یا حق امتیاز رسیدونه، حق الزحمې یا کمېشن، سود، دونډو سود او د هغو ورته بنې.

له سوداګریزو رسیدونو سره متناسبه مالیه (BRT) پر حقوقي شخصیتونو او یوازې هغو حقیقي اشخاصو د پلي کیدو وړ ده چې په یوازې ځان سره د سوداګرۍ مالك وي.

په دې اساس له څلورو سکتورونو څخه ترلاسه شوي عوائد ( د نړیوالو هوایي کرښو د مسافر وړلو خدمتونه، مخابراتي اړیکې/اینټرنېټي خدمتونه، د هوټلونو او رستورانتونو خدمات په هغه صورت کې چې د هغوی میاشتنۍ اندازه عاید لږ تر لږه 100،000 افغانۍ وي؛ په دوی د 10٪ نرخ به مخې مالیه ایښودل کیږي (64(2)، 65(1) او 65(2) مادې). که چېرې له پورتنیو خدماتو څخه په یوه میاشت کې ترلاسه کیدونکی عاید له 100،000 افغانیو څخه کم وي، په دې صورت کې د مالیې عمومي نرخ 2٪ چې په پورتني بند کې ذکر شوی، په هغوی پلی کیږي. له سوداګریزو رسیدونو سره په متناسبه مالیه کې څلور ډوله خدماتي سکتورونه په ټولو حقیقي او حقوقي اشخاصو د پلي کېدو وړ دي.

> **د موضوع روښانتیا:** احمد په تنهایي سره د یوې سوداګرۍ مالك دی او په کابل ښار کې د یوه رستورانت کاروبار کوي، د نوموړي رستورانت میاشتیني خرڅلاو د کال په دریو میاشتو (تلې، لړم او لیندۍ) کې په ترتیب سره 90،000 افغانۍ، 104،000 او 80،000 افغانۍ دي. څرنګه چې د احمد د رستورانت د تلې اولیندۍ میاشتو فروشات له 100،000 افغانیو څخه کم دي، نو په مالیاتي بنسټونو د مالیې ورکولو په موخه د نوموړو میاشتو لپاره دغه تجارت د سوداګریزو رسیدونو سره د متناسبې مالیې (BRT)، پوروړی (پوروړی) نه دی او دغه تجارت یوازې د عقرب میاشتې د عاید لپاره د (سوداګریزو رسیدونو سره د متناسبې مالیې (BRT)) په وړاندې د مسؤولیت او التزام درلودونکی دی. په دې دویمه قضیه کې د رستورانت د استفادې وړ مالیاتي نرخ به 10٪ وي چې په ټولو 104،000 افغانیو پلی کیږي. په دې اساس د عقرب میاشتې لپاره به د سوداګریزو رسیدونو سره د متناسبې مالیې (BRT) نرخ 10،400 افغانۍ وي.[36]

په عاید د معیاري مالیې پر خلاف، له سوداګریزو رسیدونو سره د متناسبې مالیې (BRT) نرخ د ناخالص عاید پر بنسټ ارزول کیږي او دا په دې معنی نه دی چې معمولي او اړین سوداګریز لګښتونه، د سوداګرۍ تاوانونه او له مخکینیو کلونو څخه پاتې عملیاتي تاوانونه، د روان کال له مالیاتي الزاماتو څخه وضع کیدلای نه شي. په معیاري مالیه کې، هغه تاوانونه چې د مخکې کلونو په جریان کې پر سوداګرۍ وارد شوي دي، شونې ده

[36] –وزارت مالیه، د عوایدو ریاست، ۳ نمبر لارښود، مالیه په خدمتونو د تجارتي رسیداتو مالیه، د ۲۰۰۶ کال خپرونه

چې په پام وړ ډول سره د یوه مالیه ورکوونکي بشپړ مالیاتي مسؤولیتونه او الزامات راتلونکو کلونو ته راتیټ کړي په داسې حال کې چې له سوداګریزو رسیدونو سره متناسبه مالیه (BRT) پرته له دې چې دې ته پام وشي چې مالیه ورکوونکي ګټه او که تاوان کړی، باید هرکال ورکړل شي. مالیاتي ورکونې (پرداختونه) په ربع وار ډول سره د هرې ربع په وروستیو 15 ورځو کې ورکول کیږي (93 (5) ماده).

په یاد ولرئ چې له سوداګریزو رسیدونو سره متناسبه مالیه (BRT) ډېره بحث پاروونکې ده، ځکه تاسې مجبور یاست چې په مالي کال کې د خپلې ګټې او تاوان له په نظر کې نیولو پرته، په الزامي ډول هغه ورکړئ.

**ثابت مالیات**

پر عوائدو د مالیې قانون، په ځینې مشخصو سوداګریزو فعالیتونو باندې د معیاري مالیې د نرخ پر ځای، په ثابت عاید مالیه وضع کوي (68 -81- مادې). د هغو سوداګریزو فعالیتونو بېلګې چې د ثابتو مالیاتو تابع دي، عبارت دي له صادراتو او وارداتو ( 2- تر 3 سلنه د جنس د ارزښت)، د مسافرو او اجناسو حمل او نقل (له 2600 افغانیو پیل آن له 18500 افغانیو تر ډېرو پورې، په هر موټر د هغه عرادې نوعیت ته په پام سره)، له سوداګریز جواز پرته دولتي قراردادونه ( اووه په سلو کې)، د اوړو ژرنده (10 په سلو کې ناخالص عاید) او ډاکتران (6،000 افغانی تر 15،000 افغانیو پورې د هغوی تخصص او تجربې ته په پام سره). دکانداران او نورې کوچنی سوداګری به هم د ثابتې مالیې له نرخ سره مطابق مالیه ورکوي. باید وویل شي چې د ثابتې مالیې نرخ د نهو معیارونو پر بنسټ ټاکل کیږي چې عبارت دي له: د اجناسو او وړاندې شوو خدماتو نوعیت، د سوداګری تخمیني حجم، ورکړل شوې کرایه، د اجناسو او خدماتو د تقاضا کچه (میزان)، د اجناسو تخمیني ارزښتونه (قیمتونه) او همدارنګه تخمین شوی خالص عاید. په دې اساس که سوداګری خپل سوابق په منظم ډول سره نه وي ساتلي، په هغه صورت کې به پر عاید د مالیې ثابت نرخ له (2 تر 6 سلنه) پورې وي. وروستی مهم ټکی چې یادونه یې وشي هغه دا چې د دلالانو او کمیشن کارانو په شمول هغه اشخاص چې د سوداګری لپاره ټاکلی ځای نه لري، مجبور دي څو د هغه ثابت مالیاتي نرخ له مخې مالیه ورکړي چې د مالیې وزارت له خوا تعین شوی دی.

تاسې څه فکر کوئ چې لاندې فعالیتونه یوازې د ثابتې مالیې اخیستنې لپاره مناسب دي؟ آیا دغه فعالیتونه په خپل منځ کې سره مشترکات لري؟ لاندې توضیحات په نظر کې ونیسئ! دغه ثابت مالیات، پر عاید د معیاري مالیې له هغه 20٪ نرخ څخه کم دي چې د حقوقي شخصیتونو له پاره په نظر کې نیول شوي دي، آن تر دې چې د هغوی شمېر پر عاید د معیاري مالیې له هغه 10٪ نرخ څخه هم کم دی چې د حقیقي اشخاصو لپاره کارول کیږي. دغه سوداګری په دودیز ډول له هغو معاملاتو سره سروکار لري چې حجم یې لوی او مفاد یې ټیټ وي او پر دې باندې د 10٪ او یا 20٪ فیصده مالیې نرخ وضع کول بنایي د دې لامل شي چې دغه سوداګری له اقتصادي اړخه بې ثباته شي. په دې اساس دغه سوداګری ارزښتمن فعالیتونه دي چې موږ نه غواړو مخنیوی یې وکړو؛ سربېره پر دې د هغو د سوابقو د ساتلو ستونزې او د هغو اړینو اسنادو راټولونه او څارنه چې په هر کال کې د دغه سوداګری د معیاري او مالیې وړ عوائدو لپاره ضروري ده، ډېر لګښت غواړي.

**د بحث وړ پوښتنې**

مالیاتي نرخونه چې کله یو له بله سره پرتله کیږي نو ډېرې پوښتنې رامنځته کوي، آیا تاسې فکر کوئ چې پورتني مالیاتي نرخونه وړ او مناسب دي؟ آیا نوموړي مالیاتي نرخونه د دولت د عوائدو تر منځ له یوه اړخه او د ټولنیزو فعالیتونو تر منځ له بله پلوه انډول رامنځته کولای شي؟
آیا له محدودالمسؤولیته او سهامي شرکتونو (حقوقي اشخاصو) څخه د نورو انفرادي اشخاصو په پرتله (چې له هغو څخه د مالیې اخیستنې نرخ له صفره تر 10 سلنې دی) په یوه مالیاتي نرخ (20 فیصده) مالیه راټوله کړل شي؟ ولې او ولې نه؟
ستاسې په اند له محدودالمسؤولیته او سهامي شرکتونو څخه د کوم داسې نرخ په کارولو سره داسې مالیه ترلاسه کړل شي چې له دې څخه اغیزمنه او زیاته وي؟
د محدودالمسؤولیته او سهامي شرکتونو (حقوقي اشخاصو) لپاره 20 فیصده مالیاتي نرخ تعین شوی دی، دغه نرخ له اندازې زیات او که له حده کم دی او یا هم په بشپړه توګه مناسب او وړ دی؟

آیا د دوی (حقوقي اشخاصو) مالیاتي نرخ یوه اندازه (Flat) وي او که په تصاعدي ډول د یو شخص له عاید سره په متناسبه بڼه لکه د حقیقي اشخاصو لپاره د نرخ په شان مخ په زیاتېدو وي؟ آیا هغه افراد چې په یوه کال کې له 1،00،000 افغانیو څخه زیات عاید ترلاسه کوي، له هغو کسانو سره چې په کلني ډول د 150،000 او 1،200،00 افغانیو شاوخوا ګټه کوي، د یوه لوړ 20٪ مالیاتي نرخ پر بنسټ مالیه ورکړي؛ په داسې حال کې چې هغوی اوس هم د مالیاتو یوه زیاته ټولیزه اندازه ورکوي؟ آیا څوک په عوائدو له مالیې ورکولو معاف شي؟ (د بېلګې په توګه: هغه څوک چې په یوه مالي کال کې له 150،000 افغانیو څخه کمې پیسې ګټه کوي.)

## ج: مالیه راټولونه

د دې لپاره چې د مالیې قوانین په اغېزمن ډول سره اجراء او مدیریت شي، په عمومي توګه د یوه هېواد ټول وګړي مکلف دي چې د مالیې له قوانینو څخه په داوطلبانه ډول پیروي او متابعت وکړي. د یوه حکومت لپاره به ډېره ستونزمنه وي چې دولت ته د هر پوروړي وګړي مالیه تعین او هماغه ټاکل شوې اندازه له دوی څخه راټوله کړي. د دغسې سیستمونو لګښت به په احتمالي توګه په راټوله شوې مالیه پام وړ پیسې لاهم زیاتې کړي، او د دې پر ځای د مالیې اخیستنې ډېری سیستمونه په مالیه ورکوونکو اتکا کوي څو دوی په خپله د خپلو عوائدو په اړه دولت ته معلومات وړاندې او په داوطلبانه شکل سره خپله مالیه ورکړي. د مالیې اخیستنې د یوه سیستم د ښه اغیز لپاره، له حکومت سره د مالیه ورکوونکو همکاري ډېره اړینه او مهمه ده. په دې اساس که له واقعي لیدلوري خبرې وشي، د مالیې اخیستنې په هر سیستم کې د هغه اندازه پیسو ترمنځ چې مالیه ورکوونکي یې باید ورکړي(هغه اندازه پیسې چې دوی یې دولت ته پوروړي دي) او د هغو ترمنځ چې حکومت یې په عملي ډول له دوی ترلاسه کوي، یوه تشه/مالي واټن شتون لري.

د دې لپاره چې د مالیې اخیستنې یو سیستم وکولای شي هغه خپل اراده کړي عوائد ترلاسه کړي او د دې لپاره چې هغه د یو هېواد د ټولو وګړو ترمنځ په عادلانه ډول سره وویشل شي، حکومت باید دا وړتیا ولري څو هغه اندازه مالیه چې د مالیې تر قانون لاندې یې په وګړو وضع کړې، راټوله کړی شي. که مالیات په اغېزمن ډول سره راټول نه کړل شي او یا یوازې له ځینې وګړو (مالیه ورکوونکو) څخه راټول او نورو ته پرېښودل شي ، په دې صورت کې د مالیې قانون ښایي حکومت ته په کافي تولید کې پاتې راشي او یا د ځینې مالیه ورکوونکو پر اوږو د لګښتونو درووند پېټی کېږدي. د مالیې د یو ښه مدیریت او ادارې سیستم، هغه سیستم دی چې د هغو مالیه ورکوونکو شمېر لاهم زیات کړي چې د مالیې ورکولو له قوانینو څخه پیروي کوي.

د مالیې له قانون څخه د مالیه ورکوونکو د نه متابعت لپاره مختلف دلائل شتون لري، یو له دغو دلائلو څخه دا دی؛ چې د مالیې قانون ډېر پیچلی وي او یا د مالیه ورکوونکو د ترلاسه کولو وړ مالیاتو اندازه پیچلو محاسبو ته اړتیا لري. ښایي مالیه ورکوونکي ونه پوهیږي چې دوی دولت ته د مالیې ورکولو له مخې پوروړي دي او یا هم شونې ده چې د مالیې په قانون ونه پوهیږي. د مالیې له قانون څخه داوطلبانه متابعت هغه مهال ښه والی پیداکوي چې د مالیې اخیستنې قوانین او اداري اسناد ډېر ساده او واضح وي، هر کله چې مالیه ورکوونکي د مالیې ورکولو په وخت کې مکلف وي چې ځینې اسناد او مدارک خانه پري کړي، دا ډول اسناد باید ډېر ساده وي څو هغه اندازه وخت لاهم راکم کړي چې له قانون څخه د پیروۍ او متابعت لپاره لازم دی. همدارنګه د مالیې ساده قوانین د مالیې اخیستنې د سیستم مدیریت د دولت او اجرائیوي بنسټونو لپاره نور هم ساده کوي.

په دې اساس ښایي په ډېرې آسانۍ سره یو شمېر مالیه ورکوونکي د دې له امله د مالیې له قانونه پیروي ونه کړي چې د مالیې ورکولو ته میلان نه لري. په قصدي ډول سره د مالیې له قانون څخه پیروي نه کول د فرار یا له مالیې څخه د تیښتې په نامه یادیږي. په ټولیز ډول چې کله یو مالیه ورکوونکی دولت ته هغه مالیات ورنه کړي چې دی یې پوروړی دی، نو په ده باندې د مالیې اخیستلو سیستتم یو لړ جریمې وضع کوي (ښایي دغه جریمې له مدني جریمو او یا هم/جنایي مجازاتو څخه وي). که حکومت په

اغيزمن ډول سره دغه جريمې نافذې او اجراء نه شي کړى، دوى هم د خپل مانع په وړاندې اغيز له لاسه ورکوي. په دې اساس د ماليې د مديريت له اړخونو څخه يو هم له ماليه ورکوونکو څخه څارنه کول دي څو مشخص شي چې کوم ماليه ورکوونکي د ماليې له قانون پيروي کوي او کوم نور هغه يې نه کوي.

يو مهم او اغيزمن لامل چې د ماليې له قوانينو څخه د ماليه ورکوونکو د پيروۍ او نه پيروۍ پر مسأله اغيز لري، دا دى چې د حکومتي مشروعيت او د ماليې د هغه سيستم پر وړاندې چې نوموړې ماليه وضع کوي، د دوى درک او تصور څه ډول دى او هغوى د هغو لارو چارو د مشروعيت په اړه څه فکر او تصور لري چې له مخې يې دوى خپل مالياتي عوائد مصرفوي. د بېلګې په توګه: که ماليه ورکوونکي فکر کوي چې د دوى په شان ډېرى ماليه ورکوونکي خپل ماليات دولت ته نه ورکوي او يا شتمن او مخور خلک خپل ماليات نه ورکوي او له قانون څخه د نه پيروۍ له امله هم نه مجازات کيږي، بيا دوى هم د ماليې له قوانينو څخه د پيروۍ په اړه خپله علاقمندي له لاسه ورکوي. که د ماليې قوانين غيرعادلانه او اجباري ښکاره شي او يا هم په داسې روش سره اجراء او پلي شي چې خلکو ته غير عادلانه وبريښي، ماليه ورکوونکي به ډېر لږ تمايل دې ته پيداکړي چې په داوطلبانه ډول په دې برخه کې همکاري وکړي، بالآخره که ماليه ورکوونکي فکر وکړي چې حکومت له يوې نامشروع لارې څواک ته رسيدلى او يا له راټولو شوو ماليات څخه د فاسدو دولتي چارواکو په وسيله ناوړه ګټه پورته کيږي، دوى به د ماليې په ورکولو کې متردد شي او د ماليې ورکولو په لاره کې به خنډونه لاهم زيات شي.

د دې له پاره چې حکومت په اغيزمن ډول سره مجازات او جريمې پلي کړى ، نو په کار ده چې د ماليې په سيستم کې د ښه مديريت لوړې څانګړنې ولري، د ماليې د مديريت له ارزښتمنو اړخونو څخه يو هم دا دى چې د ماليه ورکوونکو په اړه هر اړخيز کره معلومات راټول شي. په لومړي سر کې مخکې تر دې چې حکومت دا موضوع تعين کړى شي چې ماليه ورکوونکي د ماليې له قانون څخه پيروي کوي او که نه، بايد په دې پوه شي څومره کسان ماليه ورکوونکي دي. يو زيات شمېر هېوادونه د خپلو ماليه ورکوونکو د راجستر کولو لپاره يو سيستم ايجادوي او په زيات شمېر نورو هېوادونو کې ماليه ورکوونکي د خپلې ماليې ورکولو پر مهال مکلف دي څو هغه اسناد او مدارک چې (د ماليې رسمي رپوټ(Tax return) بلل کيږي) دولت ته وړاندې کړي. دغه معلومات حکومت ته لاره اواروي څو هغه محاسبې وڅېړي چې ماليه ورکوونکي ترسره کړې او حکومت بايد مشخصه کړي چې ماليه ورکوونکي خپله ماليه په بشپړ ډول سره ورکړې که نه. که حکومت د ماليه ورکوونکي له خوا د ورکړل شوو معلوماتو په اړه شک او ترديد پيداکړي، کولاى شي چې ماليه ورکوونکي راوپلټي (تفتيش يې کړي). د تفتيش په بهير کې بايد ماليه ورکوونکى ثابته کړي چې دولت ته د ده له خوا وړاندې شوي معلومات کره او صحيح دي او هغه اندازه ماليه چې ده محاسبه کړې هغه هم دقيقه او سمه ده. د ماليې اخيستلو په ځينې سيستمونو کې، ځينې نور واحدونه مسؤليت لري چې د حکومت لپاره لازم معلومات وړاندې کړي. دغه دريم واحدونه يا لوري د غوښتنې په صورت کې کولاى شي چې يو معلوماتي رپوټ درج کړي او په هغو کې د نورومالیه ورکوونکو د معاملو په هکله مفصل معلومات وړاندې کړي. د بېلګې په توګه: که يوه سوداګري يو کارکوونکي ته 100 افغانى ورکړي، ښايي نوموړى سوداګريز بنسټ مکلف وي چې هر کارکوونکي ته د خپلو ورکړل شوو پيسو په اړه دولت ته معلومات وړاندې کړي، له دې وروسته معلوماتي اجرائيوي مدير کولاى شي هغه معلومات په پرتليز ډول سره وڅېړي چې د يو کارکوونکي له خوا ورکړل شوي دي او په پايله کې دى ترلاسه کړي چې آيا نوموړي کارکوونکي د خپلو ماليانو په اړه رپوټ ورکړى دى که نه.

## تشکيلات (Organisation)

د افغانستان د ماليې وزارت د عوائدو معينيت هغه اداره ده چې د ماليې د قانون د اجراء او مديريت او د مالياتي مکلفيتونو د ټاکلو مسؤليت په غاړه لري او د افغانستان د اسلامي جمهوريت د ماليې وزارت په اډانه (چوکاټ) کې ځاى لري. کورني ماليات په ولايتي مستوفيتونو او په ولسواليو کې د هغو په اړوندو دفترونو کې راټولوي او وروسته مکلف دي چې راټول شوي ماليات مرکزي حکومت ته واستوي، د عوائدو معينيت چې په کابل (ماليې وزارت) کې ځاى لري، د ملي مرکزي دفتر په توګه کار کوي

او د مالیاتو راټولولو کړنې په ولایتونو کې رهبري او همغږې کوي.

<u>د راټولولو کړندودونه</u>

**دکال په اوږدو کې راټول شوي ماليات**

د نورو هېوادونو په څېر افغانستان هم په خپلو کار ګمارونکو (کارفرما) تکيه کوي څو په عوائدو هغه معياري ماليه چې کارکوونکي يې دولت ته پوروړی دي، له دوی څخه وضع او له خپل ځان سره يې وساتي. که په مشخص ډول سره وويل شي، ټول هغه حقيقي او حقوقي اشخاص چې دوه يا له دوو زيات افراد استخداموي مکلف دي څو يوه اندازه له هغه لاسمزد څخه چې خپلو کارکوونکو ته يې ورکوي، وضع کړي کومه مالياتي اندازه چې د نوموړي لاسمزد له مخې د ده کارکوونکي دولت ته پوروړی کيږي. ( د قانون 17، 46 او 58 مادو ته دې مراجعه وشي).

د هرې مياشتې په وروستيو لسو ورځو کې کار ګمارونکي بايد يو داسې رپوټ دولت ته تسليم کړي چې د ده د کار کوونکو د لاسمزدونو او وضع شوو مالياتي اندازو په اړه د کره معلوماتو درلودونکی وي او کار ګمارونکي بايد هر ډول هغه ماليات د ماليې وزارت ته ولېږدوي چې له خپلو کارکوونکو يې وضع کړي دي. د حمل مياشتې په وروستۍ ورځ (د مالي کال له ختمېدلو يوه مياشت وروسته)، بايد کار ګمارونکي د هر کارکوونکي د وضع شوې ماليې او لاسمزد په اړه خپل پام وړ کارکوونکي او د ماليې وزارت ته يو رپوټ تسليم کړي. (په عوائدو د ماليې قانون 46 او 61 مادې).

**د موضوع روښانتيا:** د ماليې د ساتنې او يا وضع قاعده له کار ګمارونکي څخه غواړي چې د پيسو له هر هغه مقدار څخه چې دی يې پام وړ ماليه ورکوونکي ته پوروړی دی، وضع کړي او نوموړي ماليات حکومت ته ولېږدوي. د بېلګې په توګه: که يو کارکوونکی له يو شرکت سره د کار له مخې 10،000 افغانۍ لاسته راوړي او له ترلاسه شوي عايد څخه هم د 10٪ نرخ په کارولو سره ماليه واخيستل شي، په دې صورت کې به شرکت مکلف وي چې 1،000 افغانۍ د نوموړي کارکوونکي له پرداختي چک څخه وضع او د افغانستان حکومت ته يې ولېږدوي. په دې اساس نوموړی کارکوونکی مستحق دی چې له خپل کار ګمارونکي څخه يوازې 9،000 افغانۍ ترلاسه کړي. په دې حالت کې نوموړی کارکوونکی د خپل عايد له مخې دولت ته د نورې ماليې پوروړی نه وي ځکه چې د ده مالياتي مکلفيت د کار ګمارونکي له خوا ورکړل شوی دی.

د کار ګمارونکي له خوا په وضع شوو مالياتو سربېره ځينې نور ماليات هم د مالي کال په اوږدو کې په دوره يي شکل سره ورکول کيږي. د ماليې قانون 93(5)-(8) ماده او همدارنګه د هغې (10) بند، د نورو اضافي مالياتو په اړه يو بشپړ نوملړ چمتو کوي؛ د بېلګې په توګه: له سوداګريزو رسيدونو سره متناسبه ماليه، په ربع وار ډول سره د هرې ربعې په وروستيو 15 ورځو کې ورکول کيږي، په عايد د ثابتو مالياتو يوه برخه په ربع وار او آن په مياشتيني ډول سره ورکول کيږي. د کرايي عوائدو يوه برخه هم چې په لاندې جدول کې تر بحث او څېړنې لاندې نيول کيږي، بايد په مياشتيني شکل سره ورکړل شي.

**ځانګړې پېښه: د کور (جايداد) د څښتن کرايي عايد**

هغه نرخونه چې د ځانګړو جايدادونو له مخې ترلاسه کيږي، د ځانګړې ماليې اخيستنې د ګړنلارې او د هغې د راټولولو د روش د څېړلو تابع دي. (59ماده). کرايي جايداد بايد د حقيقي او يا حقوقي شخص په واسطه د سوداګريزو اهدافو لپاره استعمال او د کرايې اندازه هم بايد له 15،000 افغانيو څخه ډېره وي. که دغه شرائط د ځانګړي جايداد د کرايې په اړه موجود وي، نو د کور مالک د لاسته راغلې ماليې له مخې، دولت ته د 20٪ فيصده ماليې پوروړی دی. او له همدې امله مستأجر (کرايه نشين) بايد خپله

ماليه د ماليې د ورکړې له اندازې څخه وضع او حکومت ته يې ولېږدوي. په دې اساس به د کور څښتن د 20 سلنې په وضع سره له هغه څخه واقعي کرايه ترلاسه کړي؛ او د مالي کال په پای کې هغه ماليه دولت ته ورکول کيږي چې د مستأجر په واسطه وضع شوې ده او پام وړ پيسې د مالياتي مسؤوليتونو او ټولو الزاماتو له حساب سره د کور د څښتن تر محاسبې پورې اړونديږي.

ډېری هغه ماليات چې د مالي کال په اوږدو کې د تجارتخونو د اړوندو ځانګو له خوا راټوليږي (له سوداګريزو رسيدونو سره د متناسبې ماليې او ياهم په عوائدو د ثابتې ماليې د وضع او ساتنې له لارې) د سوداګريزو بنسټونو په واسطه دولت ته ورکول کيږي. د ټول مالي کال په معينو زماني واټنونو کې، د دغه ډول مالياتو راټولونه د دوو مشخصو موخو لپاره ترسره کيږي. لومړی: له يوه پلوه دغه کړنلاره د دولت د ماليه اخيستونکو بنسټونو منځ ته د مالي کال په اوږدو کې داسې يو ملايم او دوامداره عايداتي جريان روانوي چې دولت هم په خپل وار له هغه نه په ګټې اخيستنې سره د هغو خدماتو او اجناسو په بدل کې د ورکړې (پرداخت) لپاره استفاده کوي چې د هغوی د ورکولو وخت را رسېدلی دی. دويم: دا روش د دې لامل کيږي چې د ماليې له قوانينو څخه پيروي د کارکوونکو په واسطه په سم ډول سره رعايت شي. هغه شرکتونه او مختلف بنسټونه چې د درناوي او حقوقو په خاطر په پانګونه او مديريت کې يوه برخه لري، د شخص او افرادو د حالتونو په پرتله د مالياتي قوانينو څخه پيروۍ ته ډېر تمايل ښيي او د دغسې حقوقي اشخاصو او بنسټونو له ماليه ورکولو څخه ځارنه کول ډېر اغيزمن او ساده دي. همدارنګه د کارکوونکو له عايد څخه د مالياتو وضع او ساتنه، د انفرادي ماليه ورکوونکو لپاره داسې کاري آسانتياوې رامنځته کوي چې په پايله کې يې دوی له مالياتي قوانينو څخه پيروي کوي؛ ځکه د هغې ماليې اندازه چې افراد يې دولت ته پوروړی دي، اوس مهال د دوی د کار ګمارونکو په وسيله تعين او ساتل شوې ده، په دې صورت کې کارکوونکي مکلف نه دي چې خپل ماليات په خپله محاسبه کړي او په څه او څومره پسې يې سر وګرځوي.

### هغه ماليات چې د کال په پای کې راټوليږي

د مالي کال په اوږدو کې، هر ماليه ورکوونکی چې خپلې تنخواګانې/لاسمزدونه له يوه او يا له يوه څخه زياتو کار ګمارونکو څخه ترلاسه کوي او يا له تنخواګانو او لاسمزدونو څخه پرته له نورو سرچينو عايد ولري، بايد چې پر خپل عايد د ماليې په اړه يو رپوټ درج او خانه پوري کړي. البته بايد وويل شي چې نوموړی رپوټ هغه سند دی چې د ماليې ورکوونکي د عايد، وضعياتو ، هغه مالياتو چې د کار ګمارونکيو په واسطه وضع او ساتل کيږي، هغه ماليه چې د ورکولو نېټه يې را رسېدلې وي او نورو اړينو معلوماتو درلودونکی وي. هغه خلک چې په تنخوا او لاسمزد سره د دوی عايد له يوه کار ګمارونکي څخه ترلاسه کيږي او ماليات يې هم د هغه په وسيله وضع شوي وي، نوره اړتيا نه لري چې مالياتي بسټ ته دغسې رپوټ وړاندې کړي؛ دا ډول افراد د دې لپاره چې خپل مالياتي مکلفيتونه بشپړ کړي، يوازې په دې مکلف دي چې د هغه تنخوا او هغه اړوندې ماليې يې، د هېواد مالياتي بنسټونو ته تسليم کړي چې د دوی د کار ګمارونکيو له خوا تصديقيږي. (62 او 92(2 )مادې). هر څوک چې د ماليې په خاطر پوروړی وي (هغه ماليه که د کار ګمارونکي په واسطه وضع شوې وي او که نه) بايد د ماليه ورکوونکو د نبناني کولو د شمېرې (TIN) د ترلاسه کولو لپاره د ماليې وزارت ته خپل غوښتنليک ورکړي. (91 او 110 مادې). د مالياتي رپوټونو د تسليمولو لپاره وروستۍ ورځ، د روان مالي کال له ختمېدو يوه نيمه مياشت وروسته ده، (62 ماده). که چېرې په دې اړه قوانين يولاس نه وي نو (93(1) ماده) په صراحت سره بيانوي چې مالياتي رپوټ بايد د راتلونکي کال د جوزا مياشتې په آخر (د د راتلونکي هجري لمريز کال دريمه مياشت) کې تسليم شي.

که مالياتي رپوټ وښيي چې ماليه ورکوونکو ملايه نده ورکړې، نو ماليه بايد د مالياتي رپوټ د تسليميدو په مهال ورکړل شي.. د کړندودونه له مخې له ماليې سره د يوې رسمي بررسۍ (د بېلګې په توګه: د هغې اندازې چې ماليه ورکوونکی يې پوروړی دی) په توګه چلن کيږي او مالياتي رپوټ له هماغې بررسۍ څخه د يوې خبرتيا په توګه په نظر کې نيول کيږي. (پر عوائدو د ماليې قانون 92 ماده).که د ماليې وزارت درک کړي چې ماليه ورکوونکي له هغې اندازې زياته ماليه ورکړې چې دی يې پوروړی دی، نو نوموړی وزارت اضافي ورکړل شوې ماليه، د نوموړي د هغو نورو مالياتو يا ګمرکي عوارضو لپاره محاسبه کوي چې دی

یې دولت ته پوروړی دی او له هغې اضافه بیرته نوموړي ته ورکوي (پر عوائدو د مالیې قانون 95 ماده). د دې پر خلاف که د مالیې وزارت درک کړي چې د مالیې اندازه نیمګړې او یا ناسمه ده، په دې صورت کې یاد وزارت کولای شي چې مالیه له سره محاسبه او مالیاتي رپوټ یې تعدیل کړي ((4)92 ماده). پر دې سربېره که د رپوټ تسلیمولو په اړوند مکلف مالیه ورکوونکي، غفلت کړی وي او یا په خپل کار کې پاتې راشي، نو په دې صورت کې د مالیې وزارت په خپله، مالیه محاسبه کوي او د هغو پیسو په اړه د نوموړي له ادرسه یوه خبرتیا صادروي چې مالیه ورکوونکی یې پوروړی دی ((5)92 ماده). له همدې امله د تېر کال د مالیاتو د څېړلو د خبرتیا د تعدیل او یا صدور په اړه د مالیې وزارت د واک او توان په تړاو، یو زماني محدودیت شتون لري. د مالیې وزارت یوازې کولای شي چې د پنځو کلونو په ترڅ کې د مالیې د رسمي څېړنې په اړه یوه خبرتیا صادره او یا تعدیل کړي. (که څه هم دغه زماني محدودیت په هغه صورت کې د پلي کېدو وړ نه دی چې یو مالیه ورکوونکی د خپل رپوټ په وړاندې کولو کې پاتې راشي او یا هم له مالیې څخه د تېښتې په نیت وزارت ته غلط مالیاتي رپوټ وړاندې کړي.) مالیه ورکوونکی د مالیې وزارت له خوا شوې درسمي ارزونې په اړه د دعوا او تعدیل حق لری. په مالیې وزارت کې د لانجې او یا دعوای د حل بهیر پیل کیږي او شونې ده چې نورو محاکمو ته هم وغزول شي، د عدالت غوښتنې او یا استیناف غوښتنې بهیر په 94 ماده کې په خلص شکل سره بیان شوی دی.

وروستی مهم ټکی دا چې ټول حقیقي او حقوقي اشخاص باید د ټولو معاملاتو د سوابقو، منقول او غیرمنقول جایدادونو او خپلو عوائدو ساتنه وکړي او دوی باید د مالیې وزارت د غوښتنې پر مهال دغه سوابق د هغه په واک کې ورکړي. (36 او 96 مادې). ښایي د مالیې وزارت دغه سوابق د نوموړې مالیې د ثبت او درج د څرنګوالي د تشخیص او تدقیق په موخه او یا هم د مالیه ورکوونکي د مالیې وړ عاید د تخمین په غرض وڅېړي، او د مالیې وزارت هم باید دغه وړ معلومات چې د مالیه ورکوونکو په مالیاتي رپوټونو کې ځای شوي دي، په پټه بڼه وساتي.

ولې د مالیاتو د ورکولو او مالیاتي رپوټونو د تسلیمولو کړندودونه دومره رسمي بڼه لري؟ کړندودونو پورې تړلې مخ اړتیاوې څکه د اهمیت وړ دي څو ډاډ ترلاسه شي چې له مالیه ورکوونکو سره په عادلانه ډول چلن وشي او د دولتي چارواکو له خوا له ناوړه ګټې اخیستنې مخنیوی وشي، په ځانګړې توګه هغه مالیه ورکوونکي چې د مالیاتو له قوانینو څخه یې پیروي نه ده کړې، ښایي له سختو مجازاتو سره مخ شي (دا موضوع لاندې څېړل شوې ده). مالیه ورکوونکي د مالیه ورکولو له سیستم څخه باخبر وي او تر هغې چې د مالیې ورکولو له قانون او جریان څخه پیروي کوي، دوی باور لري چې په هیڅ ډول به هم د حکومت له خوا په اجباري بڼه مجازات نه شي.

**له لویو مالیه ورکوونکو سره ځانګړې مرسته**

ټول مالیه ورکوونکي په مساوي او برابر ډول سره مالیه ورکوي، ځینې مالیه ورکوونکي په ځانګړې توګه لوی شرکتونه د دولت د ډېرو مالیاتو پوروړی وي او له همدې امله دغه عوائد دولتي جوړښتونو ته د ورود او جریان لپاره ډېر اړین او حیاتي بلل کیږي. له لویو مالیه ورکوونکو څخه د دغو مالیاتو راټولولو د اسانتیا په موخه، دولت د ( د لویو مالیه ورکوونکو دفتر LTO) ایجاد کړی چې د مالیې وزارت په اډانه او کابل ښار کې موقعیت لري. لوی مالیه ورکوونکي په دغه خدماتي پروګرام کې د ګډون لپاره، د دوی د هغه کلنۍ اندازې عوائدو له امله چې دوی یې دولت ته پوروړی دي او همدارنګه هغه ریسکي مقدار چې د هغو نه ورکول پر دولتي عوائدو تحمیلیږي، انتخابیږي. د لویو مالیه ورکوونکو دفتر د لویو مالیه ورکوونکو مالیاتي مسؤولیتونه اداره کوي او د هغوی لپاره ښوونیز خدمات او پروګرامونه چمتو کوي او همدارنګه د خپلو زیات شمېر کارکوونکو فعالیتونه له هغوی سره د مشورې او همکارۍ لپاره ځانګړې کوي.

**اجرائیوي کړندودونه او مجازات**

په عايداتو د ماليې اهميت ته په پام سره په کار ده چې حکومت له هغې څخه په ګټې اخيستلو سره د وګړو لپاره لومړني او بنسټيز خدمتونه چمتو شي، پر عوائدو د ماليې قانون، د عوائدو معينيت په واک کې يو لړ وسائل او ځواک ورکوي څو له هغې نه په ګټې اخيستلو سره له سرغړوونکو ماليه ورکوونکو (چې د مالياتو له قانون پيروي نه کوي) وضع شوي ماليات راټول کړي. د دغو کړندودونو موخه دا ده چې د هېواد د مالياتي بنسټ ساتنه او حراست وکړي، د يادولو وړ ده چې دغه کړندودونه په هغو اشخاصو د پلي کېدو وړ دي چې د مالياتي رپوټ په تسليمولو او د مالياتو په ورکولو يا هم د دوی تر امر لاندې اشخاصو څخه د مالياتو په ساتنه او وضع کې ناکام شوي دي. دغه کړندودونه د لاندې پړاوونو درلودونکې دي:

- ارزوني/څېړني: څرنګه چې په مخکې فرعي برخه کې بحث وشو، په هغه صورت کې چې يو ماليه ورکوونکی د خپل مالياتي رپوټ په وړاندې کولو کې پاتې راشي او يا هم دولت ته د خپلو مالياتو ناسم رپوټ وړاندې کړي نو د ماليې محترم وزارت کولای شي چې د څېړنې امر صادر او يا هم مالياتي رپوټ تعديل کړي. سربېره پر دې که د ماليې وزارت باور لري چې د ماليې وړ سرې د هېواد د پرېښودو په حالت کې دی يا غواړي خپله سوداګري ودروي او يا هم خپل جايداد به ولېږدوي، د ماليې وزارت بايد د مالي کال تر پايه ورته تم نه شي او په هر وخت کې کولای شي چې د څېړنې امر صادر کړي. (92(7) ماده).
- د دريمو لورو څخه د ماليې راټولونه: د ماليې وزارت کولای شي د ماليې هغه ناورکړل شوي ماليات له پوروړو اشخاصو يا هغو خلکو څخه ترلاسه کړي چې د ماليه ورکوونکي پيسې له ځان سره ساتي (د دوی د عوائدو او لاسمزدونو په ګډون) (97ماده).
- له مديرانو او ونډه لرونکو څخه د ماليې ترلاسه کول: هرکله چې يو شرکت د خپلو مالياتو په ورکولو کې ناکام شوی وي، د ماليې شرکت کولای شي چې ناورکړل شوې ماليه د نوموړي شرکت له هماغه مدير څخه ترلاسه کړي چې مالياتي مسؤليتونو ته په ځواب ويلو کې د نوموړي شرکت له خوا د خپلو مکلفيتونو په اجراء کې پاتې راغلی او يا هم د ماليې وزارت ناورکړل شوې ماليه له هغو ونډه لرونکو څخه ترلاسه کړي چې لږ تر لږه په دغه شرکت کې د 10٪ سلنې مالکيت ګټې برخه ولري خو په دې شرط چې دوی له دغه شرکت څخه د سهام ګټه ترلاسه کړې وي، همدارنګه له بل هر ډول هغه شخص څخه د ماليې وزارت ناورکړل شوې ماليه اخيستلی شي چې د تېرو دريو کلونو په جريان کې يې د نوموړي شرکت يوه برخه شتمنئ د بازار له نرخ څخه په ټيټ ارزښت پېرودلې وي (98 ماده).
- بهر ته د نظر وړ شخص له تګ څخه مخنيوی: په هغه صورت کې چې پام وړ ماليه ورکوونکی تر 20،000 افغانيو پورې د دولت د ناورکړل شوې ماليې پوروړی وي، د ماليې وزارت کولای شي چې اړوندو چارواکو ته رسمي دستور صادر کړي څو هغوی بهر ته د نوموړي ماليه ورکوونکي د وتلو څخه مخنيوی وکړي. (99 ماده).
- د سوداګرئ بندول: هرکله چې يو ماليه ورکوونکی د خپل مالياتي رپوټ په تسليمولو کې ناکام شي او يا يې خپل ماليات په خپل وخت نه وي ورکړي او يا هم د کار ګمارونکي په توګه د ماليې په وضع/ساتنه کې ناکام او يا يې ځنډ کړی وي، د ماليې وزارت کولای شي چې د ليکلي خبرداري له صادرېدو څخه 7 ورځې وروسته د نوموړي ماليه ورکوونکي د سوداګرئ د تړلو پرېکړه صادره کړي. (100 ماده).
- د جايداد په اړه اقدامات: هرکله چې يو ماليه ورکوونکی د مالياتي رپوټ په تسليمولو، په خپل وخت د ماليې په ورکولو او يا د کار ګمارونکي په توګه د خپلو کارکوونکو د مالياتو په ساتنه کې ناکام شوی وي، د ماليې وزارت کولای شي له محکمې څخه غوښتنه وکړي چې د ماليه ورکوونکي په منقول او غيرمنقول جايداد تر هغې د قيد او منع حکم صادر کړي تر څو چې خپل ټول ماليات يې نه وي کړي. (101ماده).
- هرکله چې د محکمې د دستور او حکم څخه د 30 ورځو تر تېريدلو وروسته بيا هم ماليه ورنه کړل شي، د ماليې وزارت کولای شي چې له محکمې غوښتنه وکړي څو د نوموړي د جايداد د خرڅلاو دستور صادر کړي.
- هر ډول لاسته راوړنه/عايد چې د جايداد له خرڅلاو څخه ترلاسه کيږي او د ماليې تر مالياتي کچه لوړيږي، بايد بېرته ده ته

ورکړل شي.

- د ماليه ورکوونکي د جوازپاڼو د وخت له غزېدو څخه مخنيوی: په هغو مواردو کې چې ماليه ورکوونکی د خپلو مالياتو په ورکولو کې ناکام شي، د ماليې وزارت کولای شي واکمنو حکومتي بنسټونو ته د جوازپاڼو د صادرېدو په اړه خبر ورکړي چې د ماليه ورکوونکي د جوازپاڼو او اجازه ليکونو له تمديد څخه مخنيوی وکړي. (114 ماده)

له پورتنيو کړنلارو سربېره چې د ناورکړل شوو مالياتو په اړه پلې کيږي، په عوائدو د ماليې قانون د ماليې وزارت د عوائدو رياست ته اجازه ورکوي څو پر هغو ماليه ورکوونکو چې له قانون سره په مطابقت او پيروی کې ناکام شوي، يو لړ مجازات او جريمې وضع کړي. (103–112 مادو ته دې مراجعه وشي). په دې برخه کې مجازات او جريمې لاندې مواردو ته شامليږي:

- په هغو اشخاصو چې د ماليې په ورکولو کې ناکاميږي، 0.1 سلنه هغه اضافي ماليه وضع کول چې دی يې بايد د هرې ورځې له مخې دولت ته ورکړي.
- په هغو اشخاصو د اضافي مالياتو وضع کول چې د ماليې په ورکولو کې غفلت کوي، تر اندازې زيات ځنډ او غفلت کوي او يا په ښکاره داسې ښيي چې د ماليې ورکولو وس نه لري، او يا پر هغه شخص چې له کوم موجه عذر او دليل پرته، خپلو سوداګريزو معاملو ته د لاسرسي د زمينې په مساعدولو کې پاتې راشي، د مالياتي رپوټ په تسليمولو کې ناکام شي او يا په هغه مالياتي وضع او ساتنه کې پاتې راشي چې بايد ترسره کړي يې وی او يا هم هغه شخص چې د ماليه ورکوونکي د نښاني کولو د شمېرې (TIN) په ترلاسه کولو کې پاتې راشي.
- هرکله چې يو شخص (ماليه ورکوونکی) په داسې يو کار او اقداماتو لاس پورې کړي چې له هغې څخه يې موخه ماليه تېښتونه وي، د ماليې وزارت کولای شي په ده اضافي ماليه وضع کړي او د نوموړي سوداګري وتړي.
- که يو ماليه ورکوونکی په بشپړه توګه د ماليې په ورکولو کې ناکام شوی وي يا د خپلو معاملو د سوابقو په ساتنه او يا هم د ماليې وزارت ته د هغې په سپارلو کې له کوم موجه عذر پرته ناکام شي او يا هم د مالياتي رپوټ او د خپلو کارکوونکو د ماليې په ساتلو کې پاتې راشي او د هغې له مخې نيت او اراده ولري چې له ماليې وتښتي، نو د ماليې وزارت کولای شي نوموړی 250،000 افغانۍ جريمه کړي او يا يې هم د دوو کالو لپاره په جيل کې واچوي.

له ماليه ورکوونکي سره د چلند هغه قانون چې له ماليې څخه د تېښتې په لاره کې د يو ډول شعوري نيت ښکارندوی وي، ډېر اندېښنه پاروونکی او محتاط دی او له همدې امله د اضافي مالياتو وضع کول، جريمې او جېل ته اچول هغه خوښونې دي چې په همداسې شرائطو کې د پلي کېدو وړتيا لري.

وروستی ټکی دا دی چې پر عوائدو د ماليې قانون په دې هڅه کې دی چې د ماليې او ماليې اخيستلو څخه د دولتي چارواکو د ناوړه ګټې اخيستنې او فساد د پېښېدو مخنيوی وکړي او له همدې امله خو هر کله چې د مالياتي چارو مقامات د شخصي ګټې په موخه د ماليه ورکوونکو هغه پټ معلومات افشاء کړي يا د شخصي ګټو له پاره له خپل دريځ څخه ناوړه ګټه پورته کړي، نو قانون په داسې اشخاصو آن تر 225،000 افغانيو پورې ډېره درنده جريمه او د دريو زندان تسجيل کړيدي(۱۱۱ ماده.)

**د بحث وړ پوښتنې**

ستاسې په اند آيا مجازات/په عوائدو د ماليې قانون پورې اړوندې جريمې مناسبې دي، له اندازې زياتې دي او يا ډېرآسان چلنده دي؟ له يادو شويو مجازاتو څخه کوم يو يې له اندازې ډېر سختګير او يا ډېر اسان چلنده دی؟ ولې او څه ډول؟

## و: ارزونه (پایله)

یوه مبصر او د نظر خاوند لاندې ستونزې د 2005 ز کال څخه د مخکې مالیاتي سیستم په اړه په نښه کړې دي[37]:

- افغان وګړي د نړۍ په مختلفو سیمو کې د مالیې وړ بلل کېدل، په دې معنی چې هر افغان وګړي چې په بهر کې ژوند کاوه او کله یې چې خپل هېواد ته د راتلو اراده کوله، نو د مالیې یو د پام وړ مالیاتي بیل به یې د هغه عاید له امله پرې کاوه چې په بهر کې یې ترلاسه کړی دی.
- په شخصي عایداتو تر ټولو لوړ مالیاتي نرخ به 60٪ سلنې ته رسېده چې د مالیې اخیستنې له هر ډول معیار څخه لوړ نرخ دی او دا په خپله مالیه ورکوونکي د مالیې له قوانینو څخه نه پیروي کولو ته اړباسي او یا یې هڅوي.
- په پخوانۍ مالیه کې له 32 څخه ډېرو مالیاتي نرخونو شتون درلود چې له مدیریت پرته هغه د دولت لپاره ستونزې زیږوونکی و.
- له سوداګریزو رسیدونو سره متناسب نرخ (BRT) له اندازې ډېر محدود (ګټوون نه منونکی) و او هغه خدمات پکې نه شاملېدل چې د افغانانو لپاره تر هېواده بهر له لوړ عاید سره تولیدېدل.

| د بحث وړ پوښتنې |
| --- |
| پر عوائدو د مالیې د 2005 ز کال قانون څه ډول دغو ستونزو ته ځواب وایي؟ |

د 2005 ز کال څخه وروسته د عوائدو د مالیې رژیم ډېر ساده دی، دغه قانون د مالیه ورکوونکو او دولت لپاره د دې زمینه مساعده کړې چې مالیه په ارامه اداره او په عوائدو د مالیې قانون څخه پیروي وکړي. د هغو کسانو لپاره چې دولت ته د مالیې پوروړی دي، د دې په اړه چې کوم څیزونه مالیې وړ او کوم معاف دي، په دې اړه چې کوم لګښتونه باید له مالیې څخه وضع شي؛ په دغه قانون کې واضح او روښانه قواعد شتون لري او همدارنګه د دې مسألې په اړه مشخص روشونه شته چې د مالیې وړ عوائد د مالیې د ورکړې په موخه څه ډول محاسبه او صفیه شي. د دغه قانون له مخې حکومت د مالیاتو یوه برخه د روان مالي کال په اوږدو کې ترلاسه کوي او په دې اساس اړتیا نه لري چې د کال تر پایه صبر وکړي او په دې توګه وکولای شي څو هغه عوائد ترلاسه کړي چې د بودجې لپاره یې اړین دي. حکومت د متخلفانو د مجازات او له قوانینو څخه د پیروۍ په موخه بېلابېل وسائل په واک کې لري، د 1965 ز کال (په عوائدو د مالیې قانون) په پرتله ډېر لږ مالیاتي نرخونه او ټیټ نرخونه شتون لري او همدارنګه دغه قانون په افغانستان کې د مقیمو او غیرمقیمو وګړو ترمنځ په تمایز قائل دی.

مالیاتیرژیم هم د یوه مناسب ځای په توګه د یوه هېواد په جذابیت او نه جذابیت او د پانګونې (کورنی او بهرنی) لپاره ډېر لوی اغیز لري؛ نوموړي قانون د افغانستان وروستي اصلاحات له دې اړخه ډېر جذاب کړي دي. د بېلګې په توګه: د افغانستان، په عوائدو د مالیې په نوي قانون کې بهرنۍ سوداګرۍ مکلفې نه دي چې د هغو عوائدو مالیه ورکړي چې له افغانستان څخه د باندې سرچینو څخه یې تولید او ترلاسه کوي. د بهرنیو شرکتونو څانګې د عین مالیاتي نرخ پر بنسټ مالیه ورکوي، د یو تر بل تړلیو بنسټونو تر منځ معاملې د مالیې اخیستنې په موخه د بې پرې مالیاتي نرخ مطابق ارزول کیږي او ارزښت یې ټاکل کیږي او همدارنګه له مالیې تښتېدونکي اشخاص په سخت ډول مجازات کیږي[38]. ویلای شو چې یوازې د مناسبو قوانینو یوه ټولګه او یو حکومت چې د دغو قوانینو اجراء او انفاذ ته ژمن وي، په افغانستان کې د قانون د حاکمیت لپاره یو شین چراغ بلل کیږي او شونې

37– تیري کلفون؛ تشکیلاتي اصلاحات: په نړیوالي وجهي صندوق کې د مالي ادارو رامنځ ته کول، د افغانستان بیا رغونه، د ۲۰۰۵ کال خپرونه

38– د مالیې وزارت ، د عوایدو ریاست، ۴ لارښود: د پانګوالو او انفرادي اشخاصو مالیې ته څغلنده کتنه، د 2006 میلادی کال خپرونه.

ده چې د افغانستان په اړه د پانګه والو اعتماد لاهم زيات کړي.

په دې اساس اوس هم د نوموړو قوانينو د ساده کولو له پاره ډېرو اقداماتو ته اړتيا محسوسيږي، چې وکولای شي په افغانستان کې هغه بې اغيزې ماليات له منځه يوسي. د افغانستان د سوداګرو د څرګندونو او نظرونو مطابق، د افغانستان په عوائدو د مالېې قانون هغه زيات شمېر ماليات او حق الزحمې په خپل لړليک (فهرست) کې نه دي شاملې کړې چې د دولت د بېلابېلو څانګو لخوا يې پر سوداګرۍ وضع کړې دي. ډېرى وختونه د دغو ماليانو او حق الزحمو مشروعيت پوښتنه پاروونکى وي، او په پايله کې هغه سيستم دى چې په هغه کې نه ماليه ورکوونکى او نه هم د هغې ترلاسه کوونکى پوهيږي چې آيا هغه ماليه او حق الزحمه چې ترلاسه کيږي، په سم او اغيزمن ډول سره پلې او تائيديږي او که نه. دا ډول قانوني ناخوالې نه يوازې دا چې په سوداګرۍ مستقيم لګښتونه واردوي بلکې يو شمېر غيرمستقيم لګښتونه هم د عدم يقين په نړۍ کې په سوداګرۍ تحميلوي. په داسې حالت کې، که د دولتي حق الزحمو او مالياتو له کليدي لګښتونو څخه يو هم د وړاندوېينې وړ نه وي، ډېره ستونزمنه به وي چې وکولای شو زيات شمېر اجناس پروژه بندي کړو[39].

په داخلي عوائدو د مالياتو راټولونه بيا هم د يوه عمده خنډ او دېوال په توګه پاتې ده. د مالېې راټولونه اوس هم د قومي او دولتي چارواکو تر نفوذ او اغيز لاندې ده، چې له شک پرته د فشار دغسې وسائل او سيمه ييز رسوخ په هغه ماليه اغيز لري چې دولت يې ترلاسه کوي او د دغو لاسته راوړنو زمانبندي هم اغيزناکه ده. د افغانستان د مالېې وزارت د څرګندونو مطابق، ولايتي مستوفيت او د هغه اړوند دفترونه چې په ولسواليو کې موقعيت لري، د يو لړ محدودو فزيکي زېرساختونو درلودونکى دى او په دغسې دفترونو کې اداري تجهيزات ډېر کم دي او معمولاً ځانګړى جوړښت نه لري. د څوکلنو کورنيو جګړو په پايله کې، په دې هېواد کې انساني وړتيا له اندازې زياته کمزورې شوې او د پام وړ چارواکو د مهارتونو کچه ډېره ټيټه ده، منځنى لاسمزد په تقريبي ډول سره 35$ ډالرو ته رسيږي او د مالېې اخيستلو د چارواکو تر منځ د مالياتو په راټولونه کې د سيستماتيک اداري فساد شتون، د مالېې راټولولو بهير ته يو جدي ګواښ بلل کيږي. لارې چارې، سيستمونه او د مالياتو د مديريت لپاره کاري تمرينونه ناکافي دي او په پايله کې هغه د مالياتو د ادارې او مديريت د مدرنو کړنلارو انعکاسوونکي کيږي. يو ډېر کم شمېر ماليه ورکوونکي د مالېې له قانون څخه په داوطلبانه ډول پيروي نه کوي، د مالياتي قوانينو اجراء او انفاذ د ولايتي چارواکو او د هغه ولايت د پوليسو پر مسؤولينو پورې اړه لري چې دوى هم په خپل وار سره د مرکزي حکومت په وړاندې مسؤول او ځواب ويونکي دي. د عوائدو د لوى رياست او نورو وزارتخانو ترمنځ د همکارۍ او همغږۍ کچه ډېره ټيټه ده، د مالېې اخيستنې بهير د عيني کولو لپاره هڅې به ادامه ولري او په دې لاره کې سمونې او اصلاحات د پلي کېدو په حال کې دي.

## ۳ – په افغانستان کې ګمرکي عوارض

ګمرکي عوارض له هغو مالياتو څخه عبارت دي چې په بهر کې په توليد شويو توکو او افغانستان ته په واردېدونکو توکو وضع کيږي چې دا ډول اجناس د وارداتو په نامه ياديږي. په دې اساس هغه اجناس چې په افغانستان کې توليديږي او د خرڅلاو په موخه بهرنيو هېوادونو ته ليږدول کيږي (صادرات)، ماليات نه پرې وضع کيږي. ګمرکي عوارض له هغې مستقيمې مالېې څخه عبارت دي چې له سرحد څخه په عبوري سوداګرۍ (Tax-boarder) په لګښت او کورني عايد وضع کيږي. په افغانستان کې ګمرکي عوارض ډېر زيات اهميت لري، ځکه چې دغه عوارض د افغانستان د دولت تر ټولو لويه عايداتي سرچينه بلل کيږي. د بېلګې په توګه: د 2005 ز کال له مارچ مياشتې تر جون پورې د افغانستان ګمرکي عوائد 41،45 ميليونه ډالر محاسبه شوي دي،

---

[39]- د امريکا د متحده ايالاتونو نړيواله پراختيايي اداره، افغانستان، د چارو اجنډا؛ 102 پاڼه، د 2007 ميلادى کال خپرونه.

چې دغه شمېره په خپل وار سره د افغانستان د ټولو 71،16 میلیون ډالري کورنیو عوائدو 53٪ سلنه جوړوي[40].

په دې برخه کې موږ د ګمرکي عوارضو او د هغو د راټولولو په وړاندې د ستونزو تاریخچه تر څېړنې لاندې نیسو، ورپسې په دې څېرکي کې د افغانستان د ګمرکي عوارضو د ادارې په شته تشکیلاتو بحث کوو او په تدریجي ډول سره د ګمرکي حساب د تصفیې بهیر په لور وړاندې ځو. همدارنګه په دې فصل کې د ګمرکي عوارضو د محاسبې روش، جریمې یا د ګمرکي قوانینو څخه د تخلف مجازات او په هغو پرېکړو د استیناف غوښتنې بهیر چې د ګمرک د ادارې لخوا ترسره کیږي، تر بحث او څېړنې لاندې نیول کیږي. په ګمرکي عوارضو پورې اړوند ډېرى قوانین، له کړندودونو او نورو څرګنده قوانینو سره ټړاو لري، د دې پر خلاف هغه قوانین چې د قراردادونو او سهامي شرکتونو په اړه شتون لري، په دې قوانینو کې ډېر لږ ابهام موجود دی او د شخصي تعبیرونو او تفسیر لپاره ډېره محدوده ساحه پکې شته ده.

## الف: د ګمرکونو تاریخچه او ستونزې

د دولتي کورني عاید لپاره د ګمرکونو د اهمیت سره سره، د عوارضو راټولول تل یوه ستونزمنه چاره ده. لومړی ګمرکي عوارض د ولایتونو په کچه راټولیږي او له همدې ځایه ده چې د ګمرکي عوارضو قوانین همېشه په ټول افغانستان کې په یوه کچه نه پلي کیږي. دویم: د افغانستان د ګمرکاتو اداره د ناروزل شویو کارکوونکو د شتون، بې تجربې مدیرانو او ناکافي امکاناتو او تجهیزاتو له امله له ستونزو سره مخ ده. دریم: د ګمرکاتو اجرائیوي کړندودونه په پام وړ ډول سره د مدیریت شوو مدیرانو په لاس په ډېرسست او کنډ ډول سره پر مخ وړل کیږي چې دا په خپل وار سره په چارو کې د اضافي ځنډ او بې ځایه لګښتونو باعث کیږي. څلورم: فساد د ګمرکاتو د چارواکو ترمنځ یوه جدي ستونزه ده، که په لنډ ډول سره ووایو، سوداګران د هېواد له پولو څخه د تېریدو په وخت کې له یو غیرڅرګندو کړنلارو، د ټیټې کچې زده کړو درلودونکو کارکوونکو او همدارنګه تر قانون لوړو لګښتونو او بروکراتیکو ځنډونو سره مخ کیږي.

د ګمرکاتو د ادارې په جوړښت کې د افغانستان د اقتصادي ودې او پراختیا لپاره د تخصص او ملي معیاري جوړونې د اصل لاښه کول او لوړول یو ډېر حیاتي او اړین کار دی. د افغانستان حکومت خپله دغه نیمګړتیا پېژندلې او له همدې امله یې د ګمرکاتو سمونې (اصلاح) ته په خپلو کاري لومړیتوبونو کې ځای ورکړی. په 2003 ز کال کې، د افغانستان حکومت د ګمرکاتو ریاست د وضعیت د لاښه والي په موخه یو پنځه کلن پلان په لاس کې ونیو او د ګمرکي چارواکو د زده کړې او روزنې، د کړنلارو سمونې (اصلاح)، او همدارنګه په هغو ګمرکي عوائدو تمرکز کول یې په دغه پلان کې سره راغونډ کړل چې په مختلفو ولایتونو کې راټولیږی. همدارنګه د افغانستان حکومت د اروپایي اتحادیې د ګمرکي نظام پر بنسټ، د هېواد په پنځو کلیدي ولایتونو کې د ګمرکي حساب د تصفیې لپاره واحد اداري سند معرفي کړ. د 2005 ز کال د مارچ په میاشت کې، د افغانستان دولت د معلوماتو د راټولولو لپاره د ملګرو ملتونو د خودکار سیستم (ASYCYDA) په پلي کولو لاس پورې کړ، د غه سیستم د ګمرکي عوارضو راټولولو لپاره یو کمپیوټري شوی سیستم دی چې شفافیت زیاتوي او هغه فرصتونه راټیټوي چې له هغو څخه په ګټې اخیستنې سره ګمرکي چارواکي غیر رسمي لګښتونه (لکه بډې) چې له سوداګرو څخه د فریب او چل له لارې په اجباري بڼه اخلي. او د عوارضو راټولولو کړندودونه هم معیاري کوي. همدارنګه د افغانستان دولت د جوازپاڼو د صدور یو پروګرام هم پلی کړی دی چې د هغې له لارې د ګمرکي مشروع دلالانو یوه شبکه ایجاد کړي او په پایله کې یې وکولای شي چې د مالونو له واردوونکو څخه د ګمرکي حساب د تصفیې لپاره په آسانۍ او قانوني بڼه استازیتوب وکړي.

---

40- د امریکا د متحده ایالاتونو نړیواله پراختیایي اداره، افغانستان، د چارو اجنډا؛ 111 پاڼه، د 2007 میلادی کال خپرونه.

د ګمرکاتو د نظام د معياري کولو او رسمي کولو په لاره کې د افغان دولت تر ټولو لوی او مهم اقدام په 2005 ز کال کې د افغانستان د ګمرکاتو د اصولنامې له تصويب سره هم هاله پيل شو. ګمرکي اصولنامه د اساسي قانون د 42 مادې د حکم پر بنسټ تصويب شوه چې د ملي ګمرکاتو د چارواکو په واسطه د عوائدو راټولولو ته زمينه برابره شي. دغه اصولنامه د ګمرکي خدماتو د تشکيل په اړه حکم صادروي، د ګمرکي چارواکو د صلاحيت اډانه تعريفوي او له افغانستانه بهر ته د اجناسو د لېږد د کنټرول او څارنې په اړه يو لړ شرائط او احکام وړانديز کوي او په دې توګه هڅه کوي چې د ګمرکي قوانينو د تخلف له مواردو څخه مخنيوی وکړي. دا چې نوموړې ګمرکي اصولنامه د ګمرکي عوارضو د شته قانون د زياتو برخو انعکاسوونکې ده، څکه خو به نوموړی قانون په دې بحث کې تر څېړنې لاندې ونيسو. که څه هم د وروستيو کلونو په بهير کې ګمرکي کړنلارو بهبود پيداکړی، خو له دې سره اوس هم دغه کړندودونه پيچلې، ناهمغږې او ناکافي بريښي او تر ډېره بريده د اداري فساد ارتکاب ته لاره هواروي.

## ب: د ګمرکاتو تشکيل او کړندودونه

کله چې اجناس د هوا او يا اوبو له لارې ولېږدول شي، د ګمرکي عوارضو پلي کول ډېر اسانه وي، معولاً هوايي ډګرونه او بندرونه کولای شي د مالياتو لپاره لازمي شونتياوې رامنځته کړي، د دې پر خلاف کله چې دګاونډي هېواد څخه د ځمکې له لارې لېږدول کيږي، د ګمرکي عوارضو ټولول او لاسته راوړل يې يو څه ستونزمن وي، خو که دولت د هوايي ډګرونو او بندرونو په څېر هم دولت کولای شي د پولې په يوه ټاکلې نقطه کې اړينې پوستې (Checkpoints) ايجاد کړي. په عام ډول سره هېوادونه د « د ګمرکاتو رياست » په نامه يو بنسټ يا بېله اداره تشکيلوي چې نه يوازې د ګمرکي عوارضو راټولولو مسؤوليت پر غاړه لري بلکې دوی دنده لري چې د هېواد د صادراتي او وارداتي اقلامو مشروعيت هم تثبيت کړي.

د ګمرکاتو د اصولنامې 2 ماده، د ګمرکاتو د عوائدو راټولونه او د اصولنامې او نورو اړوندو قوانينو د پلي کولو ضمانت د جمهوري اسلامي افغانستان د ماليې وزارت ته محول کوي. د اصولنامې 4 ماده په صراحت سره بيانوي چې ګمرکي قوانين بايد په ټول افغانستان کې په يولاسي او مساوي ډول سره پلي شي. دا حکم په دې معنی دی چې قوانين بايد په ټولو سوداګرو اشخاصو او افرادو د هغوی د ولايت له په نظر کې نيولو پرته په مساويانه توګه پلي شي. په دې اساس که يو سوداګر له هرات او يا کندهار څخه اجناس را لېږدوي، د نوموړي په وړاندې نه بايد کوم حقوقي مزيت يا عدم مزيت په نظر کې ونيول شي.

د ماليې په محترم وزارت کې د افغانستان د ګمرکاتو لوی رياست (ACD) يو عمده بنسټ يا د سرحدي عايداتو د چارو د کنټرول اداره بلل کيږي. د ګمرکاتو د رياست مرکزي دفتر په کابل کې موقعيت لري او د 14 رسمي سرحدي عبوري مرکزونو له چارو څخه څارنه کوي او د هېواد په مختلفو ولايتونو کې د 18 ګمرکي ولايتي خونو درلودونکی دی چې په هغه ځايونو کې اجناس بررسي کيږي او ګمرکي عوارض يې ترلاسه کيږي. د افغانستان د ګمرکاتو لوی رياست په ټول افغانستان کې په تقريبي ډول سره د 16،00 کارکوونکو شاوخوا کارکوونکي لري. د ګمرکاتو د اصولنامې دويم فصل، د افغانستان دګمرکاتو د ادارې مسؤوليتونه په ګوته کوي. د افغانستان د ګمرکاتو رياست تراوسه طرزالعملونه، لايحې او مختلفې مقررې تصويب کړې دي څو د هغو په کارولو سره د ګمرکي اصولنامې احکام بشپړ کړي او د جزئياتو په اړه يې لازيات توضيحات ورکړي، د ګمرکاتو د رياست کړندودونه او مقررې په لاندې سايټ کې د لاسرسي وړ دي: http://www.customs.gov.af/customs_codes.

ټول واردوونکي چې افغانستان ته له نورو هېوادونو څخه اجناس راوړي، بايد هېواد ته د هغو د واردولو په وخت کې خپل ګمرکي عوارض تصفيه کړي. ګمرکي څارنه او کنټرول د سرحد په ټاکليو ګمرکي ساحو کې ترسره کيږي او په هماغه ځای کې ګمرکي عوارض هم ترلاسه کيږي. ګمرکي ساحې په داسې ځايونو کې موقعيت لري چې له هغو سيمو/په هغو سيمو کې هېواد ته د مالونو لېږدوونکي ډېر وارديږي، لکه د سرحدي عبورځايونو نقطې، نړيوال هوايي ډګرونه، له ګمرکي عوارضو څخه آزاده سيمې (duty free zones) او د ګمرکاتو ګدامونه. د ګمرکاتو ټاکلې نقطې، يوازې هغه ځايونه بلل کيږي چې د هغو

له لارې هېواد ته په قانوني ډول اجناس را واردېږي (10 ماده). په دې اساس 14 ماده د هېواد د ګمرکاتو رياست ته اجازه ورکوي چې په ځانګړو شرائطو کې د اجناسو په واردوونکو ګدام خونو هم څارنه او کنټرول ولري.

د ګمرکاتو قانون (11 ماده) د ګمرکاتو د ادارې مسؤليتونه د لړليک (فهرست) په ډول لاندې داسې بيانوي:

**11مه ماده**

1. د اجناسو د ارزښت ټاکل او د اړوندو ګمرکاتي پورونو راټولونه؛
2. د موادو او اجناسو له قاچاق څخه مخنيوی، ريوټ ورکول، کشف او څارنه؛
3. له دغه قانون څخه د تخلف د مواردو کشف او ارزونه؛
4. له ګمرکي مقررو او قوانينو سره په مطابقت کې د ګمرکي مسائلو په اړه د نړيوالو قراردادونو او هوکړه ليکونولاسليک او د هغو په تدوين او چمتو کولو کې ګډون؛
5. د بهرنی سوداګرۍ د آماري اطلاعاتو چمتوکول، تدوين او راټولونه او د ماليې وزارت د توافق ترلاسه کولو وروسته، د ملي اقتصاد او نورو دولتي بنسټونو ته د هغو وېشل؛
6. د دولت په ټول قلمرو کې له ګمرکي اجناسو څخه څارنه؛
7. په ګمرکي سيمو کې د ګمرکي کنټرول پلي کول؛
8. دګمرکاتو ريکاردونه حفظ کول
9. د ټولو هغو فعاليتونو پرمخ وړل چې د ګمرکاتو په قانون کې قيد شوي دي.

که لږ په جزئياتو بحث وکړو، کله چې يوه سوداګريزه باروړونکې وسيله (لکه الوتکه يا د باربرۍ موټر) يوې ګمرکي سيمې ته ننوزي، له موټروان يا پيلوټ څخه غوښتنه کيږي چې د نوموړو توکو په اړه له لازمو معلوماتو سره يوځای د بارشويو موادو يو لړليک (manifest)، په نوموړې وسيله کې د اړوندو توکو او سپرو افرادو، د هويت، بيرغ او همدارنګه د سوداګريزو مالونو د پېژندنې لپاره، هغه اړين معلومات، د ګمرکاتو مسؤولو افرادو ته تسليم کړي.[41] په دغه پړاو کې اجناس او يا بار وړونکې وسيله په ګمرکي ساحه کې د سوداګر د اقامت تر موديې پورې، د څارنې او کنټرول په موخه د ګمرک د چارواکو په واک کې ورکول کيږي (34 ماده). کله چې د لومړي ځل لپاره اجناس ګمرکي ساحې ته را رسيږي، د ګمرک چارواکي صلاحيت لري چې د کره ارزونې او تشخيص په هدف له محصول څخه بېلګه اخيستنه وکړي خو بيا هم واردوونکی مستحق بلل کيږي چې د بېلګو د پرانيستلو له بهير څخه څارنه وکړي. (د قانون 47 او 58مادو ته دې مراجعه وشي). د اجناسو واردوونکی د معاينې او کتنې ځای ته د بېلګو د جنس د لېږ لګښت، د هغو پرانيستل، د هغو تلل (وزن کول)، د بار دويم ځلي تړل او همدارنګه د هر ډول هغو کړنو لګښت په خپله غاړه اخلي چې د بېلګې اخيستنې او کتنې لپاره ترسره شوي دي.

همدارنګه 53 ماده ګمرکاتو ته ډېر پراخه صلاحيت ورسپاري څو د (ټولنيزو اخلاقو د رعايت، ټولنيز امنيت، د ژوند د چاپېريال د ساتنې، د انسانانو د ژوند او روغتيا، د حيواناتو او نباتاتو د ساتنې، د هغو ملي خزانو ساتنه چې د هنري او تاريخي هويت او د لرغونتيا درلودونکې وي او يا هم د صنعتي، دولتي او سوداګريز جايداد او نورو دولتي تګلارو د ساتنې د دلائلو له مخې، پر صادراتي او وارداتي اجناسو ممنوعيت او يا قيودات وضع کړي. هرکله چې د يوه جنس صدرو او يا ورود د 53(3)مادې د حکم

[41] – د « ګمرکاتو رياست » مقررات چې معلومات لري او يو فارمټ وړاندې کوي. په لاندې پته ترلاسه کېږي.
http://www.customs.gov.af/customs_codes.php.

له مخې منع او بند شوي وي او ياثابت شي چې نوموړی جنس قاچاق کيږي، گمرکات صلاحيت لري چې د مسؤلو چارواکو په واسطه له نهايي تصميم وروسته نوموړی جنس وپلوري او يا يې په اړه نور اقدامات ترسره کړي. سربېره پر دې گمرکات کولای شي چې د غوښتنې پر بنسټ او يا د سوداګريزې نښانې (Trademark) د لرونکي د غوښتنې له مخې د انحصار حق يا تر جايداد پورې نور اړوند حقونه، کولای شي د دغسې اجناسو له خرڅلاو او خپرېدو څخه مخنيوی وکړي خو په دې شرط چې دا ثابته کړل شي نوموړی جنس په جعلي توګه وارد شوی او يا د قاچاق په بڼه تيت او خپور شوی دی.

د اجناسو د واردوونکي بل مکلفيت دا دی چې د گمرکي حساب د تصفيې په اړه يو بشپړ سند تسليم کړي. هرکله چې واردوونکي ونه شو کولای چې گمرک ته د اجناسو د تسليمی د يوه ساعت په ترڅ کې د گمرک څرګندپاڼه بشپړه کړي، دی کولای شي چې د يوه بديل اختيار په توګه يوه داسې لنډه څرګندپاڼه وړاندې کړي چې يوازې د اجناسو د عمومي شرحې، ټوليز حجم او مجموعي ارزښت ته اړتيا ولري. (48 ماده)[42]. يوه بشپړه گمرکي څرګندپاڼه د لنډې څرګندپاڼې تر تسليمولو وروسته، بايد د پنځو ورځو په ترڅ کې تسليم شي اوله سوداګر څخه د بشپړې گمرکي څرګندپاڼې له ترلاسه کولو وروسته د 48 ساعتونو په ترڅ کې بايد د گمرک چارواکي هغه مالياتي اندازه محاسبه کړي چې سوداګر يې گمرک ته پوروړی دی (د افغانستان د گمرکي عوارضو د قانون 151 ماده).

څرنګه چې د اجناسو د مختلفو ډولونو ماليات د متفاوتو نرخونو پر بنسټ ورکول کيږي، گمرکات بايد هر ډول هغه اجناس او د هغوی د مختلفو ډولونو شمېر وپېژني چې په باروړونکې وسيله کې موجود دي. تر څو وکولای شي چې د سوداګر د مالياتي وړ توکو دقيقه او کره محاسبه وکړي. په دې اساس د ټول شوو بار وړونکو وسائلو د ډلبندي کولو بهير او د دې ټاکل چې په کوم ډول اجناسو کوم ډول مالياتي نرخ د پلي کېدو وړ دی، يوه ډېره وخت لګوونکې پروسه ده. دې مسألې ته په پام سره چې ځنډ او تعلل که له 24- 48 ساعتونو پورې وخت ونيسي، بنايي پر معاملو او سوداګرۍ يو ډېر تاوان اړوونکی اغيز ولري. د قانون 67 ماده گمرکاتو ته اجازه ورکوي چې د اجناسو د واردوونکي د توافق په صورت کې، په عمومي ډول سره د بارليږدوونکې وسيلې په هر ډول اقلامو او اجناسو باندې تر ټولو لوړ يو ډول مالياتي نرخ وضع او محاسبه کړي. دغه کار يوه جنس د هر هغه واحد د نرخ له ټاکلو څخه مخنيوی کوي چې د بېل بېل نرخ درلودونکی دی، ځکه چې په ټولو اجناسو عين مالياتي نرخ پلی کيږي. په هغه صورت کې چې تر ټولو لوړ مالياتي نرخ د هغه لګښت څخه ټيټ وي چې د ده په سوداګريزو چارو کې له ځنډ او تأخير څخه راپيدا شوی دی، له دغه وړانديز سره به موافقت وکړي.

د گمرکي تصفيې بهير، د سوداګر د مالياتي توکو د عوارضو په ورکړې او د سوداګريز مال د حرکت د اجازې په ترلاسه کولو سره پای ته رسيږي. د بارليږدوونکې وسيلې له خوشې کېدو وروسته نوموړي اجناس د افغاني اجناسو په توګه په نظر کې نيول کيږي نه د بهرنيو توکو په حيث. (65 ماده). د مالياتي لګښتونو د ورکړې لپاره له بديلو اختياراتو څخه يو هم دا دی چې گمرکات کولای شي چې د 137-144 او 154-158 مادو د حکم پر بنسټ د سوداګرو لېږد ته اجازه ورکړي څو يو تضميني امانت (Security Deposit) را مخې ته کړي چې په راتلونکي کې د سوداګر په واسطه د مالياتو ورکړه تضمين کړي. گمرک صلاحيت لري څو د هغې مودې په جريان کې چې د ماليې ورکړه ځنډول شوې، يو 0.01 سلنه يا دې ته ورته لګښت چې د ماليې وزارت له خوا ټاکل کيږي، د ځانګړي لګښت يا حق الذمت په توګه په سوداګر باندې وضع او محاسبه کړي.( 156 ماده)

له پورتني سيستم پرته د گمرکاتو رياست صلاحيت لري چې داسې يو ګرځنده ارزوونکی او څېړونکی ټيم ايجاد کړي چې سوداګريزې ليږدوونکې وسيلې د افغانستان د سړکونو په اوږدو کې د اجناسو د تشخيص او څېړنې په موخه دغه وسيلې ودروي او

---

[42]- د « گمرکاتو رياست » مقررات چې په دې اړه ډېر معلومات وړاندې کوي او هم يو ځانګړی فارمټ هم لري. په لاندې پته يې وګورئ:
www.customes.gov.af/customes_codes.php

ویې څېړي چې آیا دغه اجناس د ګمرک له خوا له صادرو شویو اسنادو سره مطابقت لري که نه. خو له دې سره سره قانون، په ځانګړې ډول سره د ګمرکي چارواکو لخوا د دوی له دریځ څخه د ناوړه ګټې اخیستلو له مخې د نامشروع شتمنۍ ترلاسه کولو او یا داسې سوداګریز فعالیت ترسره کولو مانع شوی دی چې د دوی له وظیفوي اجراآتو سره مغایرت لري. (9 ماده) خو هغه سیمه ییزې پوستې چې د سړکونو په څنګ کې پرتې دي، په خاصه توګه د ګمرکي چارواکو په لاس کې دا فرصت ورکوي چې فاسدو او غیرقانوني کړنو ته لاس واچوي.

**پرمختللې مطالعه: افغانستان او د (WTO) نړیوال سوداګریز بنسټ (سازمان)**

سرچینه: USAID، د افغانستان د سوداګریزو کړنو لپاره اجندا، د خپرېدو نېټه؛ 2007.

هغه داوطلب هېوادونه چې غواړي د (WTO) نړیوال سوداګریز سازمان غړیتوب ترلاسه کړي، باید خپل ګمرکي قوانین د (GATT) یا (د سوداګرۍ یا تعرفو په اړه عمومي هوکړه لیکونو) اړونده مختلفو هوکړه لیکونو پر بنسټ تدوین او تصویب کړي چې د ګمرکاتو د مدیریت لپاره حیاتي ګڼل کیږي. د نړۍ زیات شمېر هېوادونو د خپلو مدونو سوداګریزو او ګمرکي قوانینو د تسوید پر مهال د (GATT) له ادبیاتو او موادو څخه په مقطعي او مفصل ډول استفاده کړې. د بېلګې په توګه: په هغو هېوادونو کې چې د نړیوالې سوداګرۍ د سازمان غړیتوب لري، د اجناسو د ارزښت ټاکنې لپاره سوداګریز ارزښت/د هغوی راکړه ورکړه د یو بنسټ په توګه کارول کیږي. د نړیوالې سوداګرۍ سازمان د ارزښت ټاکنې هوکړه لیک، د ګمرکاتو د ټاکنې یو داسې سیستم ایجاد کړی دی چې په بنسټیز ډول د اجناسو ګمرکي ارزښت د واردو شوو اجناسو د راکړې- ورکړې پر بنسټ تعینوي او د معاملې ارزښت معنی او مفهوم (Transaction Value) له هغه واقعي نرخ څخه عبارت دی چې د جنس د پېرودلو له پاره ټاکل شوی او یا هغه نرخ چې واردوونکي هېواد ته د نوموړي جنس د صدرو په وخت کې د لړ تغیراتو په راوړلو سره ترلاسه شوی دی. د افغانستان دولت د جنس د غیر واقعي ارزښت ټاکنې څخه د هغه اندیښنې له امله چې د بالقوه عوائدو د له لاسه وتلو لامل کیږي، د دوی د منلو وړ ارزښتونو له نوملړ څخه او همدارنګه د ارزښتونو د کتلاک او د نړیوالو توکو د بېلګو په توګه، له پورتنیو عناصرو په ارزښت ټاکنه کې ګټه اخلي. سربېره پر دې، د دې لپاره چې افغانستان وکولای شي خپل سیستم د (GATT) په معیارونو برابر کړي، باید ځینې نور قانوني او مقرراتي تغیرات هم په خپل قانون کې رامنځته کړي څو له هغو نه په ګټې اخیستلو سره د اجناسو د غوښتنې له قواعدو او قوانینو، همغږو تعرفو، د معنوي شتمنیو حقوقو او سوداګریزو هوکړه لیکونو نومونه د یادونې وړ دي چې باید زموږ د هېواد په قانون کې ځای کړل شي.

د (GATT) له معیارونو سره د یوه مدون قانون تصویب او د تطبیقي او تعریفي فرمانونو د صدور مسأله له هغو مهمو ګامونو څخه عبارت دي چې له نړیوالې سوداګرۍ له سازمان سره د افغانستان د پیوستون لپاره تر اوسه نه دي ترسره شوي او باید بشپړ کړل شي. په سوداګریزو پروسو کې د تغیراتو راوستل، د ګمرکاتو د کارکوونکو روزنې لپاره د نویو قوانینو اجراء او انفاذ او د افغانستان د سوداګرو ټولنه به له هغو ستونزو څخه وي چې د افغانستان د ګمرکاتو ریاست د هغې د بشپړتابه او پلي کېدو د پړاو په پیل کېدو ورسره لاس او ګریوان شي. دا چې د افغانستان دولت د دغه هېواد د مدرن کولو لپاره هڅې کړې او لا تراوسه دوام لري، نو په همدغه هڅو سره یې د مسؤلیتونو د سپکولو په لاره کې د نړیوالې سوداګرۍ له سازمان سره د پیوستون په موخه عملي اقدامات پیل کړي دي. په افغانستان کې همدا اوس د ګمرکي تعرفو نرخونه ډېر ټیټ دي او د افغانستان دولت په ډېره عاقلانه بڼه هوډ کړی دی چې د دغو کړندودونه په خپلولو سره د دغه هېواد نوي ملي صنعتونه لاهم غښتلي کړي. په دې اساس د افغانستان د دولت لپاره به د شونتیا وړ نه وي چې د ګمرکاتو د قانون له تغیر پرته د کره څارنې اجراء، د پلانګذارۍ د سیستمونو ایجاد او ارزونې او همدارنګه د نړیوالې سوداګرۍ د سازمان د پراخو معیارونو د تصویب او کارولو پرته په نږدې زماني واټن کې د نوموړي سازمان غړیتوب ترلاسه کړي.

## ج: د ګمرکي عوارضو محاسبه

د د هغه سیستم په درک سره چې پر بنسټ يې ګمرکي عوارض ترلاسه کیږي، اوس به موږ وڅېړو چې ګمرکي عوارض (مالیه) څه ډول محاسبه کیږي. د ګمرکي اصولنامې 23 ماده په صراحت سره وایي چې د مالیې وزارت، د افغانستان د ګمرکاتو ریاست د توصیې له ترلاسه کولو وروسته به د (ګمرکاتو تعرفه) په نامه یوه خپرونه نشر کوي او په نوموړي سند کې به د هر ډول اجناسو ګمرکي عوارض هم وټاکل شي. د سوداګریزو اجناسو له ډلې څخه د هغوی د هر یوه نرخ د افغانستان د ګمرکاتو ریاست د سایټ په لاندې کرښه د ترلاسه کولو وړ دی http://www.customs.gov.af/download_tariff.php. ګمرکي تعرفې په 22 برخو کې له له ژوندیو ژویو پیل تر منسوجاتو، فلزاتو او د هنري کارونو او پوځیانو لپاره د تجهیزاتو تر حمل او نقل پورې اړوند موضوعات پکې تنظیم او ډلبندي شوي دي. د ګمرکي اصولنامې 27 مادې هغه اجناس چې له ګمرکي عوارضو معاف شوي دي( د بېلګې په توګه په افغانستان کې د بهرنیو وګړو د استفادې وړ هغه اجناس او محصولات چې د افغانستان دولت د چارواکو له خوا بهرنیو هېوادونو ته د سفر پر مهال ترلاسه شوي دي) په مشخص ډول سره لیک لړ کړي دي.

ګمرکي عوارض په دې دلیل چې پر جنسي ارزښت ولاړ دي، د مالیه ورکوونکي د ځانګړنو له مخې د مالیاتو له نورو ډولونو څخه متفاوت دي او د اجناسو په واردوونکي یا صادروونکي باندې وضع کیږي. څرنګه چې د اجناسو واردوونکی/صادروونکی د مالیې(ګمرکي عوارضو) د جبران لپاره د اجناسو د پېرودلو نرخ زیاتوي، د اجناسو پېرودونکی/مصرفوونکی په غیر مستقیمه بڼه مالیات ورکوي.

د ګمرکي عوارضو مالیات د یو ډول نرخونو درلودونکي دي، ځکه په هر ډول اجناسو عین مالیاتي نرخ وضع کیږي، په مالیه کې تفاوت یوازې د جنس تر ځانګړنو پورې اړه لري نه د مالیه ورکوونکي تر خصوصیاتو پورې. څرنګه چې په هر جنس یو ډول مالیاتي نرخ وضع کیږي، د بېلګې په توګه د یو ډبې سګرټو او د هغو د ورته اندازې مالیه په یو ډول سره ورکول کیږي). دا ډول مالیه په خپل ذات کې عادلانه ښکاري، همدارنګه په خرڅلاوونو مالیات، په هغو خلکو ګمرکي عوارض ډېر اغیزمن دی چې د لږ عاید درلودونکي دي، د هغو نورو په پرتله چې ډېر عاید لري. د بېلګې په توګه: که په کونیو اجناسو مالیه (Excise tax) د دې باعث شي چې په هر ډبې سګرټو کې نرخ دوې افغانۍ زیات شي، نو هغه شخص چې په یوه اونۍ کې 100 افغانۍ ګټه کوي، نوموړی نه شي کولای چې په یوه اونۍ کې 3000 افغانۍ وګټي او په دې توګه د عین قطیو سګرټ وپېري، خو له شک پرته چې دویم شخص د سګرټو ډیر قطي پیري او د هغې له مخې زیاته ګټه ترلاسه کوي.

په افغانستان کې د ګمرکي عوارضو نرخ له صفر نه پیل او تر 25 سلنې پورې ارقام په ځان کې رانغاړي. په یاد ولرئ چې دغې مسألې له تیر وخت نه تغیر کړی دی؛ له هغه وخته چې 150٪ د مالیې تر ټولو لوړ نرخ وضع کېده. دغسې لوړ مالیاتي نرخونه د ځانګړو لګښتونو او مزایاوو درلودونکي دي. مالیات د هغو ښکاره بېلګو څخه دي چې د هغو پر بنسټ سړی پوهیدای شي چې مالیات د اشخاصو پر چلند او نفوذ څه ډول اغیز لري. پر وارداتي اقلامو د ګمرکي عوارضو یو لوړ نرخ (د بېلګې په توګه د موټرو ډولونه) د دغو اقلامو قیمت ډېر لوړوي او ښایي مصرفوونکي دې ته وهڅوي چې د بهرنیو اجناسو د پېرودلو په ځای خپل کورني اجناس را وپېري؛ خو له بله اړخه د پولو تر کچې د سوداګریو اوښتي د مالیات لوړ نرخونه د سوداګرۍ په وړاندې خنډونه پیداکوي. له ګمرکي تعرفو څخه راپیدا شوي خنډونه کولای شي د یوه هېواد لپاره ګټور واقع شي، خو دا هم په هغه وخت کې چې د هغوی حکومت هڅه وکړي څو د خپل هغه نوي پر پښو ولاړ کورني کلیدي صنعیت څخه ملاتړ وکړي چې د نشتون له امله یې دوی نه شي کولای چې د بهرنیو محصولاتو په وړاندې مقاومت وکړي او یا ارزانه محصولات او اجناس تولید کړي. که څه هم د ګمرکي عوارض اهمیت د نړیوالې سوداګرۍ سازمان د اغیزو او د ازادې سوداګرۍ په اړه د شویو تفاهماتو په پایله کې، راټیټ شوی، خو له دې سره بیا هم ګمرکي عوارض په ټوله نړۍ کې یو دودیز او کار دی. په هره اندازه چې د نړۍ هېوادونه د سوداګرۍ له نړیوال سازمان سره پیوسته کیږي، په هماغه کچه نوموړی سازمان د ګمرکي تعرفو اندازه راټیټوي او په نتیجه کې موږ له ډېرو کمو سوداګریزو ستونزو سره مخ کیږي او په دې توګه کولای شو چې په ټولو نړیوالو پولو کې د اجناسو له ازادانه

بهير څخه برخمن شو. په دې اساس اوس هم زموږ هېواد هڅه کوي چې خپل کليدي صنعتونه د بهرنيو توليداتو د سيالۍ په وړاندې د لوړو ګمرکي تعرفو د وضع کولو له لارې وساتو او ملاتړ يې وکړو.

**تمرين او مفهومي څېړنه :** که تاسې اينټرنېټ ته لاسرسی لرئ، نو د څو شيبو لپاره خپل وخت له لاندې سايټ څخه د ګمرکي عوارضو د مختلفو برخو د پرانيستلو په موخه ځانګړی کړئ. http://www.customs.gov.af/download_tariff.php
آيا هغه مختلف نرخونه چې د بېلابېلو محصولاتو لپاره په نظر کې نيول شوي دي، له منطقي اړخه معنی او مفهوم لري؟ په دې مسأله فکر وکړئ چې ولې په ځينې مشخصو محصولاتو ټيټ مالياتي نرخ او په ځينې نورو يې لوړ مالياتي نرخ پلی کيږي؟ آيا دغه توپير له دې حقيقت سره چې ځينې اجناس د شتمنو خلکو د سوکالۍ او راحت لپاره لګول کيږي، څه تړاو لري؟ د بېلګې په توګه: د پلاستيکي محصولاتو نرخ 5 سلنه، د ژونديو ژويو مالياتي نرخ 2.5 سلنه او د ځينې نورو تازه سبزيو ډېری مالياتي نرخونه هم 2.5 سلنه دي. په دې اساس د تزييني نباتاتو او ګلانو مالياتي نرخونه 16 سلنه، د موټرو مالياتي نرخ له 16 نيولې تر 25 ٪ سلنې پورې او د ځينې چمتو شويو خوراکي توکو (لکه چاکلېټ، کيک، آيسکريم، مشروبات او تنباکو) له 10 تر 20 سلنې پورې، د هنري اثارو مالياتي نرخ 16 سلنه او د وسلو مالياتي نرخ هم 16 سلنه دی. ستاسو په اند له کومو محصولاتو څخه د ماليې اخيستلو نرخ ډېر لوړ دی؟ د کومو محصولاتو نرخ تر اندازې ډېر ټيټ دی؟

**له ګمرکي عوارضو څخه ازادې سيمې او دکانونه**

افغانستان يو شمېر داسې سيمې رامنځته کړې چې په هغو کې بهرني اجناس د وارداتو له اړوندو ګمرکي عوارضو څخه، ازاد دي. د ګمرکاتو د قانون 124 ماده په صراحت سره بيانوي چې له ګمرکي عوارضو څخه ازادې سيمې، ګدامونه او له ګمرکي عوارضو څخه ازاد دوکانونه د دولت د ګمرکي قلمرو له بېلو برخو څخه دي چې په هغو کې غير افغاني اجناس (Non-Afghan goods) د ګمرکي عوارضو د مقاصدو او د سوداګريزې پاليسۍ د تدابيرو لپاره، د افغانستان له ګمرکي قلمرو څخه د د خارجو اجناسو په توګه په نظر کې نيول کيږي. يا په بله وينا، په هغو بهرنيو اجناسو باندې چې په دې سيمو کې ځای لري، هغه ډول ګمرکي عوارض نه وضع کيږي چې په معمولي ډول سره په نورو خارجي اجناسو وضع کيږي. بايد وويل شي چې په عين حال کې نوموړې سيمې اوس هم د افغانستان د ګمرکاتو رياست (ACD) تر څارنې او کنټرول لاندې دي تر څو ډاډ ترلاسه شي چې د نوموړو سيمو له مزاياوو څخه ناوړه ګټه وانه خيستل شي. يعنې اوس هم ګمرکونه کولای شي هغه اجناس، خلک او بارليږدوونکې وسيلې بررسي کړي چې په نوموړو سيمو کې شتون لري. (دقانون 126 او 127 مادې ).

د ماليې وزارت له ګمرکي عوارضو څخه د ازادو دوکانونو او سيمو د ټاکلو مسؤوليت پر غاړه لري (له ګمرکي عوارضو څخه ازاد دکانونه ډېری په هوايي ډګرونو او نورو ځايونو کې د لاسته راوړلو وړ دي). له ګمرکي عوارضو څخه د ازادو سيمو چې ډېری وختونه د ځانګړو اقتصادي سيمو په نامه هم يادېږي، د ايجاد موخه دا ده چې د اقتصادي فعاليتونو او پانګونې لپاره زمينه مساعده کړي. شرکتونه کولای شي خپل صنعتي، سوداګريز او خدماتي فعاليتونه له ګمرکي عوارضو څخه په ازادو سيمو کې د ګمرکي عوارضو له ورکولو پرته پر مخ بوزي. موږ له مخکې بحث څخه پوهيږو چې حکومت د هغو اجناسو د مختلفو ډولونو لپاره چې افغانستان ته وارديږي، مختلف مالياتي نرخونه ټاکي، موږ کولای شو د مالياتي نرخونو پر بنسټ استنباط کړو چې د افغانستان دولت او خلک مختلفو اجناسو او صنعتونو ته له کوم ليدلوري ګوري.

موږ پوهيږو چې داسې مالياتي نرخ له کومه ځايه ترلاسه کولای شو؛ اوس ددې وخت را رسېدلی دی چې موږ و پوهيږو چې د افغانستان د ګمرکاتو چارواکي د څه ډول اجناسو د ارزښت ټاکنه کوي، ځکه که دغه قيمتونه (ارزښتونه) د هغو له مناسبو مالياتي نرخونو سره ضرب شي نو د هغو ماليې (پيسو) اندازه به څرګنده کړي چې موږ يې دولت ته پوروړی يو. د ګمرکاتو اصولنامه د

افغانستان د ګمرکاتو له چارواکو څخه غواړي چې د پېرودل شويو بهرنيو اسعارو پر بنسټ د اجناسو د ارزښت ټاکنې په موخه د اسعارو د تبادل د بازار او د هغې د مياشتينۍ تجديد شوې بيې څخه، ګټه واخلي (25 ماده). د اسعارو د بازار نرخ د افغانستان د تېرو دورو په پرتله (يعنې هغه دورې چې افغانستان د اسعارو د تبادل له يوه مصنوعي نرخ څخه استفاده کوله) د دغه هېواد په اقتصاد کې د يوه پرمختګ ښکارندويي کوي.

## د: له قانون څخه د تخلفاتو لپاره مجازات/جريمې

د ګمرکاتو اصولنامې د ګمرکاتو د پوليسو په نامه د پوليسو يو ځانګړی ځواک ايجاد کړی او هغو ته يې مسؤوليت ورکړی دی چې د ګمرکي اصولنامې څخه د تخلف موارد کشف او له پېښېدو څخه يې مخنيوی وکړي. په دې اساس قانون په عين وخت کې د ګمرک د پوليسو اغيز، د کورنيو چارو وزارت له تشکيلاتو سره د هغو په تړلو سره محدود کړی دی؛ لکه څرنګه يې چې د افغانستان د ګمرکاتو رياست صلاحيتونه له ماليې وزارت سره د هغو په تړلو محدود کړي دي (164 مادې ته دې مراجعه وشي). د افغانستان دګمرکاتو رياست او د ګمرکاتو پوليسو ته دنده سپارل شوې چې يو له بل سره د نږدې همکارۍ په ترڅ کې کار وکړي؛ خو له شک پرته چې له مختلفو وزارتونو سره د دوی تړاو، د دوی د همغږۍ په مسأله کې يو لړ ستونزې را ولاړې کړې او د دوی ترمنځ د کشمکش او لانجې لامل کيږي.

ستاسو په اند د ګمرکاتو له قانون څخه متخلف افراد بايد څه ډول مجازات شي؟ ګمرکي تخلفات په دوو ډلو وېشل کيږي: اداري تخلفات او د قاچاق تخلفات. اداري تخلفات په خپل وار سره بيا په دوو ډولو وېشل کيږي چې د قانون په 166 ماده کې نوملړ شوي دي. د اداري مجازاتو په ډله کې يو شمېر هغه نغدي جريمې هم شامليږي چې د دتخلفاتو د درجې له شدت او د نغدي جريمو له پيسو او اندازې سره هم زياتيږي. تاسې بايد 166 او 167 مادو ولولئ؛ ځکه نوموړې مادې اداري تخلفات او د هغو اړوند مجازات توضيح کوي. دلته په لنډ ډول سره د ځينې تخلفاتو څېړنه کوو:

- لومړۍ ډله اداري تخلفات چې په ټاکل شوي وخت کې د ګمرکاتو د ليکنيو چارو څنګ ته شامليږي. د بېلګې په توګه د لنډې څرګندپاڼې (اظهار پاڼې) ترلاسه کول او يا د ګمرکي څرګندپاڼې بشپړول) او يا د سوداګريز مال د ارزښت او کيفيت په اړه د هغه ناسم نظر څرګندولو ته شامليږي چې په خپل وار سره د ګمرکاتو د طلبکارۍ او تنزيل پر کميدو اغيز لري.
- په داسې حالاتو کې متخلفان مسؤل دي چې يوه اندازه جريمه تر هغې پورې ورکړي چې په سلو کې تر يوه حده ورکړل شوی ارزښ ناسم دی. له دې سربېره هغه ګمرکي عوارض هم بايد دولت ته ورکړل شي چې په عادي حالت کې يو شخص د هغو په ورکولو مکلف دی. په دې اساس که سوداګر ښه نيت مراعات کړی وي خو په غير شعوري ښه تېروتلی وي، د ګمرکاتو چارواکي بايد له هغه صرف نظر وکړي.
- د اداري تخلفاتو دويمه ډله؛(د تأخير پرضد) ګمرکاتو ته د اجناسو د وړاندې کولو او د ګمرکي څرګندپاڼو وړاندې کول دي. د تخلفاتو د دويمې ډلې لپاره جريمه د مالونو د ټولې محمولې د ۱۰ –٪۵۰ ارزښت څخه عبارت ده..
- د اداري تخلفاتو دريمه ډله؛ ګمرکاتو ته د معلوماتو په بيان کې هغه قصدي اشتباه څرګندولو ته شامليږي چې له مالياتو څخه د تېښتې او يا هم د ټېټو ګمرکي عوارضو د لاسته راوړلو په موخه ترسره کيږي. په دې ډله مجازاتو کې له 50 څخه تر 100٪ پورې د ټول بار د ارزښت راځي.

د ګمرکي تخلفاتو دويمه ډله له هغه قاچاق څخه عبارت ده چې د قانون په 172(1) ماده کې په صراحت سره تعريف او توضيح شوی دی.

| **172(1) ماده** |
|---|
| د لاندې فعاليتونو ترسره کول يا انجام قاچاق بلل کيږي او متخلف له دغه قانون او د ګمرکاتو له نورو قوانينو سره مطابق مجازات کيږي. |

- د دغه قانون او نورو ګمرکي قوانينو د احکامو سره د تخلف په صورت کې د هېواد داخل ته د ګمرکاتو د څارنې او کنټرول څخه د تېښتې په نيت د اجناسو راوړل او يا له هېواد څخه بهر ته لېږدول.
- د اړوندو مسؤولو چارواکو د اجازې له ترلاسه کولو پرته د واردولو، صادرولو او يا ذخيره کولو په موخه د ممنوعه اجناسو لېږد.
- د ترانزيتی کالی پرته له کومه ګمرکی محصول نه پيرودل.

د قاچاق لپاره مجازات عبارت دي له: ۱- د قاچاق شوو اجناسو ضبط او مصادره. ۲- د دوه برابره او يا پنځه برابره هغو ګمرکي عوارضو جريمه چې د هماغه اجناسو له مخې دولت ته عايد کېدل. ۳- په خاصو شرائطو کې قيد او زندان، د قيد او زندان تېرول د قاچاق تر اجناسو پورې اړه لري او دا مسأله چې آيا نوموړي اجناسو د افغانستان په قانون کې منع وو که مجاز (د جزئياتو لپاره دې 179 مادې ته مراجعه وشي). سربېره پر دې هرکله چې په نوموړي قاچاق کې ډېر خلک سره شريک وي او يا هم د هغوی د نيولو په وخت کې وسله وال مقاومت رامنځته شوی وي او يا د ګمرک چارواکي د قاچاقچيانو له خوا وژل شوي وي، د متخلف د زنداني کېدو نېټه ورسره زياتيږي. ياد شوي عوامل د تشديدوونکو شرائطو (Aggravating Circumstances) په نامه ياديږي او د قانون په 180 ماده کې په مفصل ډول سره څېړل شوي دي. همدارنګه که کوم دولتي مامور له نوموړي سره په قاچاق کې برخه اخيستې وي، نو د زندان موده به يې نوره هم زياته شي. (181 ماده). په دې اساس تر ټولو سخت او شديد مجازات، د ازادۍ له حق څخه د متخلف محروموول دي او دغه مجازات يوازې او يوازې د ډېرو سختو او کرکجنو ګمرکي تخلفاتو په پايله کې پلي کيږي. په ياد ولرئ، چې د موټر يو چلوونکی چې په قاچاق کې دخيل وي، د ده له لوري د واردو شويو ضررونو او جرم څخه د هغه د خبرتيا کچې ته په پام، سره د يو لړ بېلو مجازاتو د پلي کولو وړ بلل کيږي (د موضوع د جزئياتو لپاره دې 175 مادې ته مراجعه وشي).

په دې اساس په هغو مواردو کې چې د قاچاق شوو موادو ارزښت له 10،000 افغانيو څخه کم وي او تشديدوونکي شرائط د هغو په اړه شتون ونه لري، د قانون 168مه ماده ګمرکاتو ته اجازه ورکوي چې د هغه جرم د اداري تخلفاتو د درېمې ډلې مطابق کړي. که د قاچاق شوو اجناسو ارزښت له 10،000 افغانيو څخه زيات وي، ګمرکات کولای شي چې نوموړې قضيه قضايي چارواکو ته له رجوع کولو پرته حل او فصل کړي؛ خو په دې شرط چې: ۱- د جرم تشديدوونکي شرائط شتون ونه لري. ۲- د قضيې په اړه قضايي تعقيب نه وي پيل شوی. ۳- د اجناسو ګمرکي عوارض له 20،000 افغانيو څخه کم وي. ۴- متخلف د ګمرکي عوارضو او نغدي جريمو ورکولو ته چمتو وي. ۵- متخلف د استيناف غوښتنې له خپل حق څخه تېر شي.

ګمرکي تخلفات د مضاعفو( تصاعدی) جرائمو له ډلې څخه دي، په دې اساس هغه شخص چې څو تخلفونه په تکرار سره ترسره کړي، په بېل ډول سره به د ده له لوري د واردو شويو ضررونو په مقابل کې مجازات کيږي( (3)173 ماده). ګمرکات مکلف دي چې د اجناسو د لېږدوونکو د ټولو ګمرکي تخلفاتو يوه دوسيه او ليکلی رپوټ چمتو کړي او په هغو کې د تخلف نوعيت شرح کړي او په فوري توګه مشکوک متخلف باخبر کړي او د تخلف د ماهيت په اړه د 72 ساعتونو په ترڅ کې يوه استماعيه ناسته دائره کړي (184)ماده. متخلفان حق لري چې چې د هغو پروسې په طی کولو سره استيناف غوښتنه وکړي چې د 18مې مادې په احکامو کې بيان شوې ده، او د هغو له مزاياوو څخه برخمن شي.

**د بحث وړ پوښتنې**

ستاسې په اند، آيا هغه مجازات او جريمې چې د افغانستان د ګمرکاتو په قوانينو کې ځای شوې دي مناسبې دي، ډېرې سختې دي او يا هم ډېرې سهلګيرانه دي؟ له نوموړو مجازاتو څخه کوم يو له اندازې ډېر اسانه دی؟ آيا تاسې موافق يئ چې د اجناسو قاچاق د يو جرمي ضرر په توګه په نظر کې ونيول شي؟ ولې او ولې نه؟

**د قاچاق د اجناسو لپاره د مصادرې کړندود**

د قانون په واسطه حکومت ته د دې صلاحیت ورکول چې د قاچاق مشکوک اجناس مصادره کړي، ښايي د ګمرکاتو ناپوهو او استفاده غوښتونکو چارواکو ته د دې بلنه وي چې له مصادرې او ضبط څخه د غلا په موخ د افرادو له شخصي جايدادونو څخه ناوړه ګټه پورته کړي. 176 ماده په دې اړه يو لړ حفاظتي کړندودونه وړانديزوي او د دوی اصلي موخه له داسې ناوړه ګټو اخيستو څخه مخنيوی دی. د ګمرک چارواکي د خلکو له خصوصي جايداد او شتمنيو څخه د قاچاق د اجناسو د توقيف يا مصادرې څخه مخکې بايد د محکمې دستور ترلاسه کړي. خو که د قاچاق عمل جريان ولري او د ګمرک کارکوونکي هم د هغو په شتون شاهد وي، نو ټول توقيفي او يا مصادره شوي اجناس بايد د اړوندې ولسوالی مقام له دفتر څخه د ګمرک د نوموړې ادارې په واسطه د يوه رسيد د ترلاسه کولو په بدل کې توزيع او يا تسليم شي. 178 ماده د هر ډول هغه زيان لپاره د خسارې جبران ردوي چې د ګمرک د چارواکو په واسطه د مالونو د مصادرې او توقيف پرمهال رامنځ ته کيږي.

## هـ: د استيناف غوښتنې بهير

د قانون 18 ماده افرادو ته دا حق ورکوي چې د ګمرک د چارواکو د تصميم نيونو په اړه د دوی د نه موافقت او يا د هغه نغدي جريمې په صورت کې استيناف غوښتنه وکړي چې د دوی له خوا تثبيت شوې ده.

لومړی استيناف غوښتنه بايد له پيښې وروسته د 10 ورځو په ترڅ کې د افغانستان د ګمرکاتو په رياست کې درج شي چې په ماليه وزارت کې ځای لري. د افغانستان د ګمرکاتو لوی رياست بايد د استيناف غوښتنې مکتوب تر بياکتنې وروسته بررسي کړي او د 20 ورځو په ترڅ کې خپل تصميم اعلام کړي. په هغه صورت کې چې واردوونکی او يا سوداګر بيا هم اعتراض ولري، دی کولای شي د 15 ورځو په ترڅ کې د ګمرک د حکميت ادارې ته د عدالت غوښتنې لپاره عريضه وکړي. خو يوه اندازه هغه پيسې به نوموړې ادارې ته ورکوي چې د نوموړې شخړې د (2) سلنې سره برابرې وي. د ګمرک د حکميت اداره يو درې کسيز بنسټ دی چې د ماليې وزارت په دفتر کې ځای لري او د هغو غړي د ولسمشر د مسقيم فرمان په واسطه انتصابيږي. د ګمرک د حکميت د ادارې پرېکړه او يا نظريه نهايي بلل کيږي خو که تر شخړې لاندې پيسې له 50،000 افغانيو څخه زياتې وي او يا د هغو مقدار له يادو پيسو څخه ډېر وي، د منازعې شاکي اړخ مستحق دی چې د قانون د 20 مادې مطابق يوې سوداګريزې محکمې ته مراجعه وکړي.

## ۴ – د مالياتو نور ډولونه

درې ډوله داسې ماليات شتون لري چې د افغانستان دولت تصميم نيولی څو د هغو لاسته راوړل تعقيب نه کړي، دغه ماليات په نورو هېوادونو کې هم دود دي او له همدې امله يو لنډ بحث ته اړتيا لري.

## الف. پر شتمنی ماليه/د شخصي جايداد ماليه

پر شتمنی ماليه، د يوه ماليه ورکوونکي په واسطه د نوموړي د شتمنی د هغه خالص ارزښت له مخې ورکول کيږي چې د شتمنيو له مالي مسؤوليتونو او ټولو معاملو له وضع وروسته ترلاسه شي. په معمول ډول شتمنی منقولو جايدادونو(ځمکې، کورونو او نورو ودانيو)، نغدو پيسو، مالي تضميناتو او بانکي حسابونو(ارزښت لرونکې پاڼې او سهام) ته شامليږي. الزامات په عمومي ډول ټول پورونه لکه د کور د ګروی او نور بانکي پورونو ته ويل کيږي. په شتمنی ماليه معمولاً يا د شخص پر خالص قيمت او يا هم د يوې ټاکلې اندازې پيسو د خالص ارزښت پر بنسټ وضع

کيږي. (د بېلګې په توګه د پيسو هغه ارزښت چې له 500000 افغانيو څخه زيات شي، د دغسې مالېې تابع دی.)

په عام ډول سره په شتمنۍ ماليه، د عمودي انصاف او عدالت تأمين ته لاره برابروي ځکه هغه کسان چې ډېره شتمني لري، ډېره ماليه به ورکوي. دغه ميکانيزم د دې لامل کيږي چې د ماليه ورکوونکو تر منځ طبقاتي تمايز او تو پير را کم او په عين حال کې د دولت د مالياتي عوائد اندازه لوړه شي. همدارنګه په شتمنۍ ماليه افقي عدالت غښتلی کوي، ځکه چې دغه ماليه د يو لړ پراخو خصوصياتو پر بنسټ ولاړه ده. که ماليه يوازې تر عايد او تر خاصې زماني دورې پورې تړلې وي، په ساده ګۍ سره داسې شرايط رامنځ ته کوي چې په هغو کې هغه اشخاص چې د متفاوتې شتمنۍ درلودونکي او يا د ورته عايد درلودونکي وي(او له همدې امله د مالياتو په ورکولو کې د مختلفو توانونو درلودونکي وي) په مساوي ډول به ماليه ورکوي. په دې اساس په شتمنۍ ماليه کولای شي چې تر ډېره دغه نابرابري له منځه يوسي ځکه په دې روش کې هغه څوک چې د سره ورته عوائدو درلودونکي او شتمني يې سره تو پير ولري، مجبور دي چې يو له بله متفاوت ماليات ورکړي.

په عمل کې په شتمنۍ د مالېې، راټولونه او مديريت ډېر ستونزمن دی، د اصلي ستونزو تر څنګ د ماليه ورکوونکو لخوا د دوی ورکړل شوی ريوټ او له هغو سره متناسب ورکړل شوي ماليات، په شتمنۍ ماليه د ستونزې(د شتمنۍ د اندازې اخيستلو) له امله ډېر ستونزې پاروونکی کار دی. څرنګه چې پورته وويل شول، شتمني د مختلفو ډولونو درلودونکې ده، بنايي چې دغسې زيات شمېر شتمنۍ د بازار د ارزښت درلودونکې او ځينې نورې يې د بازار د ارزښت درلودونکې نه وي. سربېره پر دې، ماليه ورکوونکي کولای شي خپلې يو شمېر مشخصې شتمنۍ د مالېې اخيستلو له چارواکو پټې کړي. پر عوائدو د مالېې د راټولونې او مديريت ستونزه يو له هغو دلائلو څخه دی چې په ډېره نادره توګه ترې استفاده کيږي. په عوائدو ماليه، د ناروې، هندوستان او فرانسې په ګډون د يو محدود شمېر هېوادونو په واسطه وضع او ترلاسه کيږي.

په عوائدو د مالېې د هغه پام وړ او غيرشعوري اغيزو او پايلو څخه يو هم دا دی چې د شتمنۍ د تشبث په ترڅ کې د انفرادي ماليه ورکوونکو د علاقې کچه راټيټوي. هرکله چې د مالېې مختلفو نرخونو ته په پام سره د شتمنۍ د زياتوالی له مخې د مالياتو کچه لوړه شي، د ماليه ورکوونکو لپاره به دومره ارزښت ونه لري چې د شتمنۍ د راټولولو او انباشت لپاره ډېرې هڅې وکړي. کله چې دا ډول ماليه پلې شي، بايد هڅه وشي چې د هغو په وضع کولو کې توازن مراعات شي. په شتمنۍ د مالېې بل اغيز بنايي دا وي چې دخيريه مرستو د وېشلو او کمکونو لپاره به زمينه مساعده کړي. دولت کولای شي د خيريه ځانګو د هڅونې لپاره د مالېې وړ شتمنۍ د کچې راټيټولو په موخه، د مالېې کچه لوړه کړي.

## ب: په غيرمنقول عايد ماليه

په غير منقول عايد ماليه، له هغه مالېې څخه عبارت ده چې د غيرمنقولو جايدادونو د مالکانو په واسطه د همغه جايداد د ارزښت ورکول کيږي. د غيرمنقول جايداد عمومي معنی د هر هغه پر مځکه پورې سريښ شي څخه عبارت ده چې د لېږد وړ نه وي لکه ودانۍ، کورونه او آن هغه حبوبات چې د ځمکې په سر شنه کيږي. ۱-د نوموړي جايداد ارزښت معمولاً د هغه نرخ په بررسۍ سره ټاکل کيږي چې په نږدې وخت کې خرڅ شوی وي او يا هم د يو داسې ارزوونکي پلاوي (Appraiser) په واسطه چې د جايداد ارزښت تخمينولی شي. په غير منقول جايداد کې شخصي جايدادونه(اسباب، وسائل، موټر او زيورات) او يا هم غير ملموس جايدادونه(لکه پيسې، سهام، بانکي وديعې او ارزښت لرونکې پاڼې) راځي.

يو له هغو نيوکو څخه چې په غيرمنقولو جايدادونو د مالېې په اړه مطرح کيږي، دا دی چې دا ډول ماليه د جايداد د ارزښت پر بنسټ ټاکل کيږي او سره له دې چې بنايي د مالي کال په اوږدو کې يې کومه ګټه او سود نه وي توليد کړي، د هغه مالک مجبور دی چې له مخې يې ماليه ورکړي. د بېلګې په توګه په غير منقول جايداد بنايي د اوسېدو په يوه کور وضع شي، که د نوموړي کور څښتن د مالېې د ورکولو لپاره کافي پيسې په واک کې ونه لري، بنايي مجبوره شي چې د کور د مالېې چمتوکولو لپاره همدغه کور خرڅ کړي. سربېره پر دې ممکن د بازار اوضاع او شرائط د کور د قيمت د لوړېدو لامل شي او په پايله کې به هغه ماليه هم لوړه شي چې د نوموړي کور له مخې ورکول کيږي. په دې صورت کې به ماليه ورکوونکی چې د مالېې په توګه ډېرې زياتې پيسې ورکړي؛ په داسې حال کې چې ده له هغه څخه کوم ملموس عايد نه دی ترلاسه کړی. بې له شک چې په هغو

مواردو کې چې د جایداد ارزښت سقوط کوي او مالیات هم له کمښت سره مخ کیږي، د دې سرچپه قضیه هم تحلیل کیدای شي. خو جایداد اوس هم د خپل په واسطه د ورته هدف لپاره د ګټې اخیستنې وړ دی. د نیوکو له ډلې څخه یو هم دا دی چې په جایداد مالیه د هغو کسانو لپاره عادلانه نه ده چې د هغوی په عوائدو کې پام وړ تغیر رامنځته کیږي. د بېلګې په توګه: یو بزګر ښایي د یوه کال په جریان کې ډېر کم عاید له خپل کښت څخه ترلاسه کړي، خو مالیاتي بار یې عین هغه اندازه وي چې په مخکې کلونو کې یې د حاصلاتو په ښو شرائطو کې هغه پیسې ورکړې دي.

په منقولو جایدادونو د مالیاتو له ګټو څخه یوه هم دا ده چې د دې ډول مالیاتو راټولونه د نورو ډولونو مالیاتو په پرتله ډېره اسانه ده، د مالیې اخیستنې له بنسټونو څخه د منقولو جایدادونو پټول ډېر ستونزمن دي او د مالیې اخیستنې چارواکي په دوديز ډول سره دا واک لري چې د مالیاتو د نه ورکولو په صورت کې غیرمنقول جایداد توقیف او یا مصادره کړي. په دې اساس ډېره ستونزمنه ده چې مالیه اخیستونکي چارواکي په دې وتوانیږي چې د جایداد د سوابقو د ساتنې او د غیر منقول جایداد د ارزښت د ارزونې لپاره یو مناسب او ړو سیستم رامنځته کړي؛ ځکه چې د داسې سیستم ایجادول لویو لګښتونو ته اړ او په جایداد د مالیې پلي کولو پر وړاندې د یو هراړخیز خنډ په توګه کار کوي.

په عام ډول سره، په جایداد مالیات شفاف وي او مالیه ورکوونکي په آسانی سره د هغو د ورکولو معنی او روش درک کولای شي. د دې ډول مالیې له پیچلیو عواملو څخه یو هم دا دی چې د مالیې وړ جنس د ارزښت اخیستنه په مارکېټ یا بازار کې وي. ډېری وختونه هغه روشونه چې د مالیې د ارزونې لپاره کارول کیږي، عین هغه څه نه دي چې د غیر منقولو جایدادونو د دلالانو او یا د نوموړي جایداد د بالقوه پېرودونکي په واسطه کارول کیږي او دغه حالت په خپل ذات کې د مالیه ورکوونکو لپاره یو ډول سرخوږی جوړوي. په هر صورت د مارکېټ د ارزونې او تناوب د شمېر په اړه یوه روښانه پالیسي په غیرمنقول جایداد د مالیې د شفافیت او تأمین لپاره ډېره اړینه ده.

د امریکې د متحده ایالتونو په ګډون په کاناډا، هالنډ او زیات شمېر نورو هېوادونو کې پر جایدادونو مالیه کارول کیږي خو ډېری وختونه په عوائدو مالیه د سیمه ییزو حکومتونو او دولت ښارونو په واسطه وضع کیږي؛ نه د ملي یا فدرالي حکومتونو په واسطه. په جایدادونو د مالیاتو سیمه ییزه اداره په آسانی سره د جایدادونو د ارزښت ارزونې مسؤولیتونه او لګښتونه را کمولی شي؛ ځکه د ملي او فدرالي حکومت په پرتله یو سیمه ییز حکومت له هغه جایداد څخه ښه خبرتیا لري چې په نوموړې سیمه کې دی. په افغانستان کې په منقولو جایدادونو مالیه نشته.

## ج: په داخلي اجناسو مالیه

په داخلي اجناسو مالیه، په هغو اجناسو وضع کیږي چې په هېواد کې د ننه تولیدیږي او په هېواد کې د ننه پلورل کیږي. په داخلي اجناسو مالیه د ګمرکي عوارضو په شان ده او دا ډول مالیات هم د جنس په ارزښت ولاړ دي نه د مالیه ورکوونکو په خصوصیاتو. سره له دې چې دا ډول مالیه د جنس په تولیدوونکو وضع کیږي خو له دې سره سره بیا هم د هغو مصرفوونکی په غیر مستقیم ډول دولت ته مالیه ورکوي؛ ځکه چې تولیدوونکي د هغو مالیې اندازې ته په کتو سره د نوموړو اجناسو د پېرودلو نرخ لوړوي، دا ډول مالیه په مصرفوونکو باندې یوه نهایي غیر مستقیمه مالیه بلل کیږي.

په جایداد مالیات، د ګمرکي عوارضو په شان د سره ورته مالیاتو(Flat taxes) له ډلې څخه دي، ځکه د اجناسو د سره ورته ډلو لپاره مشابه مالیاتي نرخ وضع کیږي. د مالیاتي نرخونو توپیرونه د جنس پر خصوصیاتو پورې اړه لري؛ نه د مالیه ورکوونکي پر ځانګړنو. دا چې د یوې ډلې هر جنس د یو ډول مالیاتي نرخ درلودونکی دی، (د سګرټو یو ډبی د هغه د یو بل ډول ډبي سره عین مالیاتي نرخ لري) نو دا مالیه هم په خپل ذات کې عادلانه برېښي؛ لکه په فروشاتو مالیه، په داخلي اجناسو کې مالیه په هغو کسانو چې د ډېر ټیټ عاید درلودونکي دي د هغو کسانو په پرتله چې د لوړ عاید درلودونکي دي، ډېر زیات او سخت اغیز لري. د

بېلګې په توګه که په بهرنيو اجناسو ماليه د دې لامل شي چې د سګرټو په هر ډبي کې 2 افغانۍ زياتوالی راشي، په دې صورت کې هغه شخص چې په يوه اونۍ کې 100 افغانۍ ګټه کوي د هغه شخص په پرتله چې په اونۍ کې 3000 افغانۍ ګټه کوي، ډېر لږ سګرټ اخيستلای شي او د دې پر خلاف دويم شخص ډېر سګرټ پېرودلی شي.

په بهرنيو اجناسو د ماليې مديريت يوه اندازه اسانه دی، خو په دې شرط چې د يوه څرګند جنس توليدوونکی وي. همدارنګه په داخلي اجناسو ماليه ډېری وختونه په لږو اجناسو پلې کيږي؛ نه په فروشاتو د ماليې په څېر چې په ټولو اجناسو پلې کيږي او له شک پرته چې دغه معيار د ماليه اخيستونکو چارواکو اداري مسؤوليت راکموي.

د ګمرکي عوارضو په څېر، په خارجي اجناسو ماليات د ماليه ورکو په کردار او چلند د ماليې د ټاکونکي رول له بېلګو څخه شمېرل کيږي. په امريکا او اروپايي اتحاديه کې په سګرټو ماليات، له سګرټو څخه د خلکو د واټن رامنځته کولو په موخه د يوې وسيلې په توګه کارول کيږي. په سګرټو د لوړ مالياتي نرخ وضع کول د هر يوه ډبي سګرټ ارزښت او لګښت زياتوي، چې د هغو قيمت په خپل وار سره د سګرټو خرڅلاو راکموي او په پايله کې به له سګرټو څخه د خلکو د زړونو د سرېدو لامل شي. هغه شيان چې په دوديز ډول سره په بهرنيو اجناسو د مالياتو تابع دي، تنباکو، جګره ييزو وسائلو او پټرولو ته شامليږي. زيات شمېر هېوادونه د سوداګريزو اجناسو ماليات د هېواد په داخلي اجناسو پلي کوي؛ چې په مشخص ډول سره د امريکې متحده ايالتونه، جاپان او اروپايي ملتونه داسې کړنې ترسره کوي.

> **د بحث وړ پوښتنې**
>
> تاسې د شتمنۍ په هکله او پر جايداد او داخلي اجناسو د مالياتو په اړه څه فکر کوئ؟ آيا تاسې فکر کوئ چې افغانستان بايد دغه ماليات تر يوې اندازې پورې وکاروي؟

## ۵ - د مهارتونو عملي کارونه: کورنۍ دنده

*شننه، څېړنه او د کورنۍ دندې سپارښتنه*

1. د يو بل هېواد د ماليې اخيستنې د سيستم په اړه يوه مقاله پيداکړئ. يوه درې مخيزه مقاله وليکئ او هغه څه مو چې د اړونده هېواد د ماليې اخيستنې د سيستم په اړه زده کړي، د افغانستان د ماليې اخيستنې له سيستم سره يې پرتله او د کومو دلائلو پر بنسټ ويلی شئ چې د افغانستان د ماليې اخيستنې سيستم د ډېرو ګټو او مزاياوو درلودونکی دی؟د کومو دلائلو پر بنسټ د افغانستان د ماليې اخيستنې سيستم بې ګټې بريښي؟ د خپلې څېړنې د معلوماتي موندنو ته په پام سره د خپلو ټولګيوالو لپاره يو پنځه دقيقه يي نندارېز-متن (Presentation) چمتو کړئ. د دغه روش په کارولو سره يو درسي ټولګی د مختلفو هېوادونو د ماليې اخيستنې د سيستمونو په اړه په نظري توګه يو څه زده کولای شي.
2. د هغو مختلفو مالياتي ډولونو له مرور وروسته چې يو هېواد يې کارولای شي(په عوائدو ماليه، ګمرکي عوارض، په شتمنۍ ماليه، پر غير منقول جايداد او داخلي اجناسو ماليه) په اړه يوه درې مخيزه مقاله چمتو او په هغو کې د افغانستان د مالياتو د مختلفو ډولو د نيمګړتياوو او مزاياوو په اړه بحث وکړئ. همدارنګه تاسې کولای شئ د مالياتو د نرخ د ټاکلو د کړنلارو د ټاکلو(سرانه ماليه، تصاعدي ماليه، له عايد سره برابره ماليه او د محور د لګښت ماليې په اړه بحث په خپله مقاله کې ځای کړئ.

3. د افغانستان د ګمرکي عوارضو د کړندود په اړه یوه درې مخیزه شننه چمتو کړئ. د ګمرکي عوارضو د راټولونې د کړنلارو هغه اړخونه چې په دغه پروسه کې ځانګړې اغیز لري او یا بې اغیزې دي، معرفي کړئ او واضح کړئ چې په کومو مواردو کې د اداري فساد لپاره شونتیا شته؟ تاسې څه ډول کولای شئ چې د مالیاتو د ترلاسه کولو کړندودونه تعدیل کړئ څو دغې تشې ته ځواب ورکړئ او د فساد شونتیا له منځه یوسئ؟

## اصطلاحات

**د ارزونې جريمه يا د مالياتو پيسې Assessment**
هغه پيسې چې پر بنسټ يې د يو قلم جنس د ارزښت ټاکنه کيږي.

**سرمايه Capital**
هغه مالي شتمني چې د يوې سوداګرۍ د پيل او تداوم لپاره کارول کيږي.

**پانګه والي شتمنيCapital asset**
هغه ډول شتمني چې د پيسو د توليد لپاره، د ارزښت لرونکو پاڼو، ونډو، نغدو او خپلو نورو مختلفو بڼو سره کارول کيږي.

**دونډو سود Devi dent**
د يوه شرکت يوه برخه هغه عوائد چې د هغو د ونډه لرونکو د مختلفو ډلو ترمنځ وېشل کيږي.

**له عوارضو څخه ازاده سيمه Duty free zone**
هغه خاصه سيمه ده چې په هغې کې/له هغې نه اجناس د ګمرکي عوارضو له ورکولو پرته د هېواد داخل ته راړل کيږي څو په دويم ځلي توګه طی مراحل او يا صادر شي.

**صادرات Export**
هغه اجناس چې په يوه هېواد کې توليديږي او نورو هېوادونو ته لېږد او هلته وپلورل شي.

**ناخالص رسيدونهGross receipts**
د عايداتو هغه ټولګه چې د لګښتونو له وضع وړاندې او يا د مالياتو د وضع او ساتنې سره يو ځای د مالياتو کارکوونکو ته ورکول کيږي.

**افقي عدالت Horizontal Equity**
هغه اصل چې له ماليه اخيستونکو بنسټونو څخه غواړي څو له هغو ماليه ورکوونکو سره چې د عايد د عين وضعيت درلودونکي دي، د ماليې له قوانينو په پيروۍ دې ورته چلن ورسره وکړي( هغه ماليه ورکوونکي چې د سره ورته عايد درلودونکي دي، بايد مشابه ماليات ورکړي).

**وارداتImport**
هغه اجناس چې په بهر هېوادونو کې توليديږي او د خرڅلاو لپاره يو بل هېواد ته ليږدول کيږي.

**اشخاص حقوقی Legal persons**
سهامي شرکتونه، محدود المسؤليته شرکتونه او نور حقوقي بنسټونه.

**حقيقي اشخاصNatural persons**
افراد، د واحد مالکيت لرونکې سوداګرۍ او د يوه مشارکت شريکان.

**خالص عايدNet income**

هغه عايد چې يو اقتصادي بنسټ يې د خپلو ناخالصو عوائدو څخه د لګښتونو تر وضع وروسته په واک کې لري.

**عملياتي زيانOperating loss**

هغه زيان چې د يوه اقتصادي بنسټ له بنسټيزو عملياتو وروسته پيداکيږي خو د سود په شان لګښتونو او عايد ته نه شامليږي.

**مقيمResident**

هغه شخص چې اصلي کور يې د روان مالي کال په جريان کې په افغانستان کې وي او يا د روان مالي کال په اوږدو لږ تر لږه د ۱۸۳ ورځو لپاره په افغانستان کې وي او يا هغه شخص چې اصلاً د دولت کارکوونکی وي خو د يوې ځانګړې دندې په موخه د روان مالي کال په يوه برخه کې په کوم بهر هېواد کې توظيف شوی وي.

**تضميني وديعهSecurity deposit**

هغه پرداخت چې بل لوري ته د کړنو د تضمين او يا د مکلفيت د تضمين په موخ ورکول کيږي.

**تعرفهTariff**

د اجناسو د مختلفو ډلو لپاره د مالياتي نرخونو اډانه(چارچوکاټ).

**عمودي عدالت Vertical Equity**

هغه اصل چې په عوائدو د ماليې په قانون کې له ماليه اخيستونکو بنسټونو څخه غواړي څو د هغو ماليه ورکوونکو تر منځ په توپير او تمايز قائل شي چې يو له بله په متفاوت حالت کې ځای لري. د بېلګې په توګه هغه ماليه ورکوونکي چې د عوائدو د مختلفو اندازو درلودونکي دي، بايد مختلفې اندازې ماليات ورکړي.

# ماخذونه او سرچينې


د افغانستان ګمرکي اصولنامه، د خپرېدو نېټه 2005 ز کال؛

د افغانستان پر عوائدو د ماليې قانون، د خپرېدو نېټه 2005 ز کال؛

د افغانستان په عوائدو د ماليې لائحه، د خپرېدو نېټه 2006 ز کال؛

د ماليې وزارت، د افغانستان د عوائدو رياست، 04 شمېره لارښوود: د افرادو او پانګه والو د مالياتو بررسي، د خپرېدو نېټه 2006 ز کال؛

د ماليې وزارت، د افغانستان د عوائدو رياست، 03 شمېره لارښوود، د سوداګريزو رسيدونو پر بنسټ د خدماتو ماليه، د خپرېدو نېټه 2006 ز کال؛

د ماليې وزارت، د افغانستان د عوائدو رياست، 09: 2٪ شمېره لارښود، او 5٪ ماليه د سوداګريزو رسيدونو پر بنسټ، د خپرېدو نېټه، 2006 ز کال؛

د ماليې وزارت، رياست د افغانستان د عوائدو رياست، د 2005، ز کال په عوائدو د ماليې قانون کې د بدلونونو خلاصه، د خپرېدو نېټه 2005 ز کال؛

د ماليې وزارت وېبپاڼه: http://www.mof.gov.af/en؛

کالفون تی یری؛ ساختاری اصلاحات: د پیسو په نړیوال صندوق کې د پیسو اداره؛ د افغانستان بیا رغاونه، د 2005 میلادی خپرونه؛

د امريکې د متحده ايالتونو د نړيوالې پراختيا اداره(USAID)؛ افغانستان اجندای برای عملکرد؛ د خپرېدو نېټه 2007 ز کال؛

# اتم څپرکی: د افغانستان مالي نظام او د هغه اړوند قوانین

## ۱ – سریزه

**د مطالعې محور او تمرکز**

د یوه هیواد د پراختیا په برخه کې د مالي سیستم رول او اغیزه څه ده؟ ولې زموږ لپاره د مالي سیستم د فعالیت او څرنګوالي مساله دومره مهمه ده؟ د مالي سیستم د اغیزمن فعالیت د تضمین په برخه کې، قانون څه رول لوبولای شي؟

یو آزاد، په خپلو پښو ولاړ او بشپړ اقتصاد، د یوه هیواد د خلکو د نیکبختی او خوشالي لپاره ډیر اړین او حیاتي بلل کیږي. د دغه ډول پراختیا د پیاوړیتوب لپاره، په یوه پیاوړې حقوقي چوکاټ کې باید یو سم او سالم مالي سیستم چې د کلکو او دقیقو مقرراتو پیرو وي، شتون ولري. موږ همدا اوس د دغه سیستم مجرد مفاهیم د افغانستان د سوداګریو قانون د رسمي سیستم په اساساتو کې تر څیړنې لاندې ونیول. په پنځم څپرکي کې، موږ د سوداګریو د پراختیا او پرمختیا په موخه د قرارداد د پلي کېدو د اهمیت په اړه بحث وکړ. همدا ډول په څلورم څپرکي کې، په سوداګریزو ټولنو د حاکمو قراردادونو د حقوقي شکل، پانګونو او د پور ورکونو د قراردادونو او همدا ډول نورو موضوعاتو په اړه بیلابیل مطلبونه مطالعه او ومو موندل چې کوم کسان سوداګریزو ګټو او شتمنیو ته د لاسرسي حق لري. سره ددې، د افغانستان د اقتصاد د فعالیت په اړه د یوه بشپړ او کلي تصویر د تجسم لپاره دا ټکی هم ډیر مهم بلل کیږي چې د تنظیموونکو طرحو سره یو ځای ( Regulatory schemes) چې د افغانستان د دولت له خوا عملي کیږي، سوداګریز بنسټونه او ټولنې او د قرارداد حقوقي مفاهیم په څه ډول تعامل کولای شي.

موږ پلان لرو څو په دغه څپرکي کې په هغو قوانینو او مقرراتو تمرکز وکړو چې د افغانستان په پرمختګ کوونکي مالي سیستم باندې حاکم او پلي وي. د افغانستان اقتصاد په ډیره چټکۍ سره د پراختیا او پرمختګ په درشل کې دی. هغه سوداګرۍ او معاملې چې د افغانستان خلک یې ترسره کوي، د هرې ورځې په تیریدلو سره پیچلې کیږي او په خپل وار سره د افغانستان په مالي او سوداګریزو مرکزونو او بنسټونو باندې فشار پرې باسي ترڅو د کورنیو اړیکو او ټولنیزو منل شویو انګیزو او لاملونو له برید څخه چې له ډیر وړاندې وختونو څخه تر نن ورځې پورې یې د معاملو په وخت کې د خلکو کړنې تر خپلې ولکې لاندې راوستلې دي، مخ په وړاندې ګام پورته کړي او بې له شکه ، د نویو سوداګریزو چارو او کړنو د سمون لپاره، افغانستان یو لړ هر اړخیزه قوانینو ته اړتیا لري. ولې اوس مهال، د افغانستان د یوه تل پاتې او په خپلو پښو ولاړ اقتصاد د پراختیا لپاره د یوه روڼ او همغږي حقوقي سیستم شتون یوه ډیره حیاتي او مهمه موضوع شمیرل کیږي، په ځانګړې ډول دې ته پام چې د افغانستان دولت اړتیا لري څو داسې یو سالم او پراخه چاپیریال چې د بهرنیو سوداګرو او پانګه اچوونکو لپاره ډیر جذاب وي، منځ ته راوړي.

دغه څپرکی، د یو لړ پرمخ تللیو مالي سیستماتیکو چارو او کړنو په اړه په یو شمیر مقدماتي بحثونو باندې پیلیږي. له هغه وروسته، په دغه څپرکي کې د افغانستان د بانکدارۍ قانون او همدا ډول د افغانستان د افلاس (مالي ورشکستګی) قانون تر غور او څیړنې لاندې نیول کیږي. د بانکدارۍ د قانون د څیړنې په برخه کې، موږ په یوه مالي سیستم کې د بانکدارۍ د بنسټونو په رول او اغیزه باندې بحث کوو او له هغه ورسته به د مرکزي بانک د ګټو او اغیزو په اړه خبرې اترې وکړو او همدا ډول د بحث په اوږدو کې به د سوداګریزو بانکونو د کړنو په اړه په مفصل ډول خبرې وکړو. د دغه څپرکي د بانکدارۍ برخه د نویو قوانینو چې په مرکزي او نورو سوداګریو بانکونو باندې پلي او نافذ دي، په اړه په خبرو اترو باندې پای ته رسیږي. د تضامني معاملو په برخه کې، وړاندې له دې چې د پور اخستنې په قلمرو د نافذ او پلي حقوقي چوکاټ په اړه خبرې وکړو، د مالي اعتبار ځینې بنسټیز مفاهیم تر غور او څیړنې لاندې نیسو. څرنګه چې همدا اوس په افغانستان کې د افلاس هیڅ ډول قانون نافذ نه دی، د اوسني څپرکي د دغه

برخې موخه به داوي څو وکولای شي تاسو د یوه پرمختګ کوونکي اقتصاد په برخه کې د افلاس د قانون د موخو او کړنلارو سره بلد کړي. همدا ډول د څېرکي دغه برخه د افلاس د سیستم پر سر د ځینو لاروښوودونو او لوایحو په اړه د یو لړ وړاندیزونو په وړاندې کولو سره پای ته رسیږي.

بالآخره، دغه اتم څپرکی په افغانستان کې د غیر رسمي اعتباري مارکیټونو څخه د یوه لنډ بحث او همدا ډول د هغو اغیزو په څېړنه چې د دغه هیواد د مالي سیستم پر سر یې د وړو نړیوالو پورونو(Micro credit) نوښتونه او ګامونه ځای پر ځای کړي دي، پای ته رسیږي. د دوو اقتصادي سیستمونو په اړه خبرې اترې امکان لري ستاسو په ذهن کې د افغانستان د تګلارې په اړه چې ټاکلې ده په راتلونکې کې به یې طی او له دغه لارې به د افغانستان په اقتصادي پرمختګ لاس پورې کړي، یو لړ ډیرې مهمې پوښتنې او ګروهګڼې پیدا کړي.

## ۲ - د مالي سیستم بنسټیز مفاهیم

فرض کړئ تاسو په داسې یوه نړۍ کې ژوند کوی چې په هغه کې هیڅ مالي بنسټ، بازار او شتمني نشته. پدې ډول نړۍ کې د توکو تعویض او خدمات شاید یوازینی سرچینه او د لاسرسي لاره وي چې ارزښتونه په دې اساس له یوه کس څخه بل کس ته نقل کیږي. په دغه ډول نړۍ کې که تاسو وغواړئ یو کور او یا یو موټر واخلئ او یا هم یوه سوداګري او درس پیل کړئ او پیسو ته اړتیا ولرئ، نو په هیڅ صورت نه شئ کولای څو د خپل آینده عاید په بدل کې له یوه کس څخه پور ترلاسه کړئ. له سوداګریز بانک او پیسو پرته، هیڅ لاره نه شته څو د خپل موجود عاید یوه برخه د راتلونکو لګښتونو د مدیریت لپاره وسپموئ او همدا ډول تاسو به د اضافه کارئ د پیسو لپاره د سپما وړتیا ونه لرئ.

د دغې تشې د ډکولو او همدا ډول نورو یو لړ پوښتنو او حیاتي اړتیاوو د ځواب ویلو لپاره چې د پرمخ تللي صنعتي اقتصاد د غوښتنو له منځ څخه، د سرچینو د ګټه اخستلو، د خدمتونو او توکو د تولید او د دغه ډول خدماتو او توکو د ریښتیني لګښت تر منځ د جدایي او تفکیک په موخه یې صورت نیولای، رامنځ ته شوي دي. په بل عبارت، مالي سیستم، له بیلابیلو بازارونو، مالي بنسټونو، قوانینو، مقرراتو او همدا ډول له تخنیکونو څخه یوه شبکه ده چې لړ پیدا کیدونکې سرچینې لکه ځمکه، د کار قوه، مدیریتي او د پانګونې وړتیا او داسې نور د ارزښت او فعالیت لوړې کچې ته رسوي او له هغې لارې د توکو او خدماتو تولید ته چې د هرې ټولنې له اړتیاوو څخه شمیرل کیږي، پراختیا ورکوي.

د مالي سیستم د فعالیت د څرنګوالي په اړه، د لازیاتو معلوماتو د لاسته راوړلو لپاره لاندې حالتونه په پام کې ونیسئ: فرض کړئ چې تاسو د یوې رادیو مالک یاستی. د تعویض (بارتر) په سیستم کې، تاسو امکان لري داسې وړاندیز وکړئ چې د رادیو د لاسته راوړلو په مقابل کې به د ګاونډي له ماشومانو څخه د یوې اونۍ لپاره مراقبت او ساتنه کوئ. له دې وروسته کله چې تاسو رادیو ترلاسه کړئ، نه شئ کولای د یادې شوې رادیو ارزښت وسپموئ او یا په آسانۍ سره هغه په یوه بل شي باندې تعویض کړئ؛ د بیلګې په ډول: فرض کړئ تاسو د کور لپاره د یوه کاري میز د اخستلو اړتیا لرئ. اوس تر هغه وخت پورې چې تاسو داسې یو کس پیدا کړئ چې هغه د میز مالک وي او غواړي خپل میز یې د تاسو په رادیو بدل کړي، نه شئ کولای خپل د اړتیا وړ میز ترلاسه کړئ. دغه ساده بیلګه په روښانه ډول د تعویض د اقتصادي محدودیت څرګندویې کوي.

مالي سیستم دغه ډول محدودیتونو د څلورو کلیدي کړنو او فعالیتونو د اجراء له لارې حلوي:

- ❖ د سپما فعالیت،
- ❖ د ثروت د تولید فعالیت،
- ❖ د نغدیې جوړونې فعالیت،

- ❖ اعتباري (کريدت) فعاليت
- ❖ د ورکړو (تأدياتو) فعاليت
- ❖ حفاظتي فعاليت ؛
- ❖ د پاليسی جوړونې فعاليت

## الف: د سپما فعاليت( Savings Function)

د بازارونو او مالي بنسټونو نړيوال سيستم، د ټولو خلکو لپاره د سپما يو مناسب ځای او سيستم برابروي. د سپما د روښانه او څرگندو لارو چارو لکه بانک ته د پيسو سپارلو سربيره، په دغه سيستم کې ارزښتونه د با ارزښت پاڼو، برخو او نورو مالي غوښتنو په شان، ذخيره کيدلای شي.

## ب: د ثروت د توليد فعاليت (Wealth Function)

په داسې حال کې چې سپما د مالي جريان ښکارندويه ده، نو هغه سپماوې چې د ونډو او ارزښت لرونکو پاڼو په توگه ساتل کيږي او هغه سپماوې چې د نورو پانگو په شکل د وخت په تيرېدو سره ډيريږي د ثروت يا شتو په نوم ياديږي. کله چې سوداگر او افراد د سپما لپاره هوډ کوي، دې هدف ته د رسېدو لپاره تر ټول غوره لاره داده چې دوی په بازار کې خرڅېدونکي دستاويزونه رانيسي، دا کار د لگښت تر وخته د پانگې ساتنې ته لاره همواره وي. که څه  د موټر، کور او نورو توکو اخيستل د پانگې د ساتلو لپاره عامه طريقه دا ده، خو دغه توکي د وخت په تيرېدو سره ازرښت له لاسه ورکوي او د ډېر ريسک متحمل کيږي. د با ارزښته پاڼو، ونډو او نورو مالي وسايلو گټه په دې کې ده، چې د له گواښ سره نه مخ کيږي او استهلاک کيږي هم نه او د ثروت د نورو ټولو ډولونو د ساتلو په پرتله يې د زيان خطر هم لږ دی.

## ج: د نغديې جوړنې فعاليت (Liquidity Function)

اوس چې موږ خپلې پيسې د مالي دستاويزونو په ډول ذخيره کړې، نو کله چې د هغې لگښت ته اړتيا پيدا کيږي مالي سيستم زموږ لپاره دا وسيله او اسانتيا رامنځته کړې، چې دغه مالي وسيلې په نقدو پيسو بدل کړو. دې ته د نغديې جوړونې فعاليت وايي. د بېلگې په ډول: که تاسې ارزښت لرونکې پاڼې ولرئ او وغواړئ چې موټر رانيسی مالي مارکېټ تاسې ته دا زمينه برابره کړې چې تاسې خپلې ارزښت لرونکې پاڼې په نقدو پيسې تبديل کړئ او موټر ورباندې واخلئ.

## د: د اعتبار يا کرېډېټ فعاليت ( Credit Function)

د نغديې جوړونې او د پانگې د توليد په موخه د سپما د جريان د اسانتيا تر څنگ مالي سيستم د مياشتنيو لگښتونو لپاره پور او پولي اعتبار هم زموږ په واک کې راکړی. پولي اعتبار عبارت دی د مالي وجوه له پور څخه چې د يوه تعهد له مخې يې بايد په راتلونکي کې ورکړي. په دوو عادي او معولي حالاتو کې مصرف کوونکي پور ته اړ کيږي. لومړی دا چې د اسانتيا او راحت د رامنځته کولو لپاره د بېلگې په ډول: په ډېرو هېوادونو کې خلک د ورځنيو توکو د اخيستو لپاره له دې امله چې د نغدو پيسو له ليږد نه يې ځان خلاص کړي وي د اعتبار کارت يا Credit Card کرېډېټ کارت کاروي. کرېډېټ کارت يا د اعتبار کارت له مصرف کوونکو سره مرسته کوي، څو په مارکېټ، کتابتون او نانوايي کې په آسانی او راحت سره خپل د اړتيا وړ توکي رانيسي. دوی به ټولې هغه پيسې چې د مياشتې په جريان کې يې د خپلو ورځنيو توکو د اخيستلو لپاره استفاده کړې په يو ځای ورکړي. د پور اعتبار يا د اعتبار کارت  د استفادې بل ځای دا دی چې د لوی توکو لکه موټر او کور د اخيستو لپاره هم د

مصروف کوونکو لپاره زمينه برابروي. ډېری وختونه مصرف کوونکي د اړتيا په وخت کې پوره پيسې په لاس کې نه لري، په دې حالت کې کرېډېټ دوی ته دا زمينه برابروي چې دوی خپل د اړتيا وړ توکي واخلي او پيسې يې بيا په راتلونکې کې ورکړي. تاسې کولای شي هغه پوروونه چې په راتلونکي يې تر لاسه کوي د هغې په اړه هم همدغه قضيه په پام کې ونيسی.

## هـ: د ورکړې( تادیې) فعالیتPayments function

مالي سيستم د توکو او خدماتو په بدل کې د پيسو د ورکړې لپاره هم يو ځانګړی او مشخص ميکانيزم جوړ کړی دی. لکه څرنګه چې پورته ووېل چې داعتبار کارت يا کرېډېټ کارت د عادي خدمتونو له ډلې څخه دی چې بانک يې له خپلو مشتر يانو سره د توکو په اخيستو کې د مرسته په موخه وړاندې کوي. د هغه يوه بله نمونه له موعود پرته د اعتبار کارت دی، دا کارت داسې فعاليت کوي چې کله مشتري خپل د اړتيا وړ توکي اخلي د توکو د بيې په اندازه پيسې د انټرنېټ له لارې د ده له حساب څخه کمېږي. او بلاخره، چک دريمه مالي وسيله ده چې بانکونه يې د نغدو پيسو پر ځای د خدمتونو د وړاندې کولو لپاره کاروي. د نړۍ مالي سيستم ورځ تر بلې د الکترونيکي ورکړې خواته روان دی، نو په دې اساس د چک کارونه په تدريج سره کمېږي.

## و: له ګواښ څخه د مخنيوي فعاليت(Risk protection function)

لکه څرنګه مو چې په پنځم څپرکي کې ولوستل سهامي شرکتونو د تجارت د زيان منلو کچه ونډه لرونکو او مالي بنسټونو ته د يو شان زمنيو په برابرولو سره محدودوي، څو هغوی وکولای شي خپلو پانګونو ته پرمختګ او تنوع ورکړي. په همدې اساس مالي سيستم تجارانو، مصرف کوونکو او دولت ته فرصت ورکوي څو د زيان د شريکولو او کمولو له لارې د زيان منلو کچه ټيټه کړي. د زيان شريکول هغه وخت رامنځته کېږي چې يو کس د زيان منلو احتمال (Risk exposure ) د يوه نرخ ( بيمي) په بدل کې و مني. په داسې حال کې چې د زيان کچه هغه وخت راټيټېږي چې ثروت په بېلابېلو بڼو و ويشل شي او په دې توګه د ټولېز زيان خطر کم شي.

له ټولو مهمه دا ده چې مالي سيستم د سوداګر او مصرف کوونکي لپاره دا زمينه برابروي چې د بيمي له لارې د خپلو راتلونکو زيانونو لپاره د مخنيو لارې چارې برابرې کړي.

## ز: د پالیسی جوړولو فعالیت(Policy function)

او د پای ټکی هم دا چې مالي سيستم دولت ته داسې شبکه په لاس ورکوي چې وکولای شي له دې لارې خپلې ګټې(سودونه) لوړې کچې ته پورته کړي، د بېلګې په توګه، کولای شي د ثبات د ميکانېزم له لارې اقتصاد ته پر مختګ ورکړي او اقتصادي اسانتياوې رامنځته کړي، خو د مالي تورم څخه بايد مخنيوی وکړي. په هغه مقررو کې چې له دې وروسته به يې په دې څپرکي کې مطالعه کړو وبه ګور چې د افغانستان حکومت د مرکزي بانک له لارې پر لګښتونو او د عامو خلکو پر پور اخيستلو نفوذ کوي، د بوختياوو پر پرمختګ اغېز کوي او همدا رنګه د يادې پاليسی نه په ګټې اخيستلو سره توليد او د نرخونو کنټرول په مرکزي بانک کې تنظيموي.

**د بحث وړ پوښتنې**

د مالي سيستم د اوو فعاليتونو په اړه چې همدا اوس مو يې په اړه بحث وکړ کوم يې ستاسې په فکر نوی دی؟ ستاسې په اند له فعاليتونو څخه کوم يو يې دافغانستان په مالي سيستم کې ډېر کمزوری دی؟ که تاسې د فعاليتونو د ښه والي لپاره کار کولای له

دې ډلې مو کوم يو ټاکه او ولې؟ څنګه کولای شی د فعاليتونو د بشپړولو لپاره لارې چارې تر سره کړی؟

**مالي بنسټونه**

**په اقتصاد کې د پيسو بېلابېل رولونه**

يو پر مختللی صنعتي اقتصاد په هيڅ ډول نه شي کولای چې له پيسو پرته کار وکړي. بارتر چې توکي له خدمتونو او خدمتونو له خدمتونو سره تبادله کوي، لا هم کولای شي د خلکو لپاره د محصولاتو د مبادلې لپاره يوه موثره لار وي. د بېلګې په توګه: په کلو او بانډو کې چېرې چې خلک ډېری داسې اجناس لکه ژوي لري په آسانی سره کولای شي دغه توکي ( ژوي) په نورو توکو او خدمتونو بدل کړي.خو په ښارونو کې د خلکو په مېشت کېدو سره دغه تجارتي لار هم ستونزمنه کېده.له دې امله چې په ښارونو کې د ژويو په څېر توکي نه شي ساتل کېدای، نو پيسې ورو ورو په تجارت کې پر بوې مهمې او موثرې وسيلي واوښتې.
له دې سره په يو وخت چې پيسې په راکړه ورکړه کې په غوره وسيله بدلې شوې نو بانکداری هم په اقتصاد کې مهم رول ولوباوه. خلک له دې امله چې که يې کله پيسو ته بيړنی اړتيا پيدا کيږي پيسې په بانک کې ساتي او بانک هم د دوی د پيسو په بدل کې شخص ته يوه اندازه ګټه ورکوي. بانک هم د خلکو پيسې تجارتي بنسټونو ته په پور ورکوي څو هغوی خپل تجارت ورباندې پياوړی او لوی توکي ورباندې رانيسي. له دې لارې بانکونه يوه زياته اندازه ګټه تر لاسه کوي او له دغو پيسو يوه برخه يې هغو کسانو ته ورکوي چې په بانک يې پيسې اېښې دي. بانک د پور په ورکولو سره تجارانوته دا زمينه برابروي چې دوی ګټورو سرچينو ته لاس رسی پيدا کړي، چې د بانک د نه مرستې په صورت کې تجاران هغې ته لاس رسنی نه شي پيدا کولای.
دغه ټول معلات د اقتصادي پرمختګ لپاره زمينه برابروي او تجارت خلکو ته د بوختياوو په پيدا کولو کې مرسته کوي، مخ پر ودې سوداګري ډېر کله د نورې سوداګری د ايجاد سبب کيږي، څکه دغه سوداګري او تجارت د خپلو اړتيا وړ توکو د توليد لپاره نور توکي اخلي.
پر دې سربېره پيسې کولای شي د يوه اغېزمن معيار په توګه ارزښت پيدا کړي. هر څومره چې اقتصاد وده او پرمختګ کوي او محصولات ډېرېږي، په محصولاتو پورې اړوند ارزښت د بارتر له لارې په سوداګری کې سختيږي. کېدای شي يو څوک وپوهيږي چې يوه تجار دوې ګامېښې له يوه بل تن سره په اتو پسو بدلې کړې، خو دغه کار نوموړي ته دا نه شي څرګندولای چې د يو مېښې د اخيستو لپاره څو کيلو ګرامو وريجو ته اړتيا ده. خو کله چې راکره ورکړه په پيسو وشي د خرڅلاو دوه ډولونه په ډېره آسانی د پرتلنې وړ دي.
د بېلګې په توګه: که له ما وړاندې بل کس په ۵۰۰۰ افغانی يو کمپيوټر اخيستی وي، زه هم د يوه کمپيوټر د اخيستو لپاره پر همدې اندازه پيسو په هکله فکر کوم.

## ۳ - د بانکداری قانون

## د بانکداری سيستم ته يوه لنډه کتنه

### الف: سريزه

د ۲۰۰۲ کال د اکټوبر په ۷ د افغانستان لنډ مهاله اداري د افغانستان بانک له لارې د نوو بانک نوټونو لومړی کليزه و لمانځله. د افغانستان بانک په ۱۹۳۸ کال جوړ شوی، د دې بانک اساسي دنده د بانک نوټونو جوړول او صادرول او په ټولو ښارونو او بانکونو کې د دولتي پورونو تنظيمول دي. په ۱۹۷۵ زېږديز کال کې په افغانستان کې د جامع قانون د نه شتون له امله چې د پور

اخیستونکو او پور ورکوونکو لپاره څرګند شرایط وضع کړي، ټول بانکونه ملي اعلان شول.

په افغانستان کې د امنیت د همکاری بین المللي ځواک (ایساف) په لارښوونه د لومړي ځل لپاره دونډو د پرمختللي تبادلې (Stock Exchange) لپاره پلانونه پلي شول. په تېرو وختونو کې هغه ځای ته د ونډو بازار ویل کېده چې خلک به په کې د ونډو او بانکي تضیمناتو لپاره سره ټولېدل، خو اوس د ونډو د تبادلې بازار معمولاً د یوې رسمي ارتباطي شبکې په توګه د اقتصادي فعالیتونو لپاره زمینه برابروي او د نغدیې د پیدا کېدو سبب کېږي. د کابل د ونډو نړیوال بازار د نغدو ونډو تبادله د بهرنیو اسعارو له تبادلې سره یو ځای کړې او د لومړي ځل لپاره یې د مالي معاملو او تضمیناتو د تجمع ګاه په توګه په کار پیل کړی[43]. له دې وړاندې چې د افغانستان په اړه څېړنه وکړو په سر کې د یوې فعالې بانکدارۍ د سیستم دوه جزه یا مولفې تر بحث لاندې نیسو، دغه دوې مولفې یو مرکزي بانک دی او بل د تجارتي بانکونو شبکې دي.

## ب: مرکزي بانک

د نن ورځې په پرمختللي اقتصاد کې مهمترین مالي بنسټ مرکزي بانک دی. مرکزي بانک د یوه هېواد هغه دولتي اداره ده چې د هغه هېواد مالي سیستم، پولي پرمختګ، د اجراتو ډېر والی او اقتصادي کړنې تر څار لاندې نیسي او پالیسي جوړونکی رول لري. که په لنډ ډول ووایو مرکزي بانکونه لاندې چارې تر سره کوي

- د پیسو د عرضې کنټرول؛
- بازار او مارکېټ ته ثبات ورښنل؛
- د ستونزې وروستی حل کوونکی؛
- تاسیس، اجرا او د اقتصادي پالیسی مراقبت

د مرکزي بانک یو تر ټولو مهمه دنده چې دغه بانک یې د یوه هېواد په مالي سیستم کې تر سره کوي د شدید انفلاسیون(Inflation) د مخنیوي لپاره د پیسو د عرضې تنظیم دی. انفلاسیون د نرخونو ( د اجناسو او خدماتو) نابېره پورته والی دی، چې معمولاً د پیسو د حجم د زیاتېد په پایله او د پولي اعتبار یا کرېډېټ په شتون کې رامنځته کېږي. په داسې حال کې د پیسو د چاپ د کنټرول لپاره اغېزمن تدابیر نه وي، د کاغذي بانک نوټونو په بڼه پیسې عملاً له حد نه ډېرېږي. په یاد ولرئ چې د پیسو یوه دنده دا ده چې د ارزښت د خزانې (store) په توګه عمل کوي. کله چې حاشیه وي لګښتونه (marginal cost) د اضافي واحدونو د پیسو صفر رامنځته کوونکي وي، که چاپ شوې پیسې د هېواد د اقتصاد د ظرفیت او د توکو د تولید او خدماتو څخه تجاوز وکړي، په دې صورت کې پولي انفلاسیون رامنځته کېږي او په داسې حالت کې د پیسو توزیع بې ارزښته ده. له همدې امله دا د افغانستان بانک مسولیت دی چې د هرې افغانۍ چې د افغانستان په اقتصاد کې په دوران کې ده، د هېوادوالو له اقتصادي ظرفیت سره په ارتباط او دتوکو د تولید او خدماتو په واسطه یې ملاتړ وشي.

د مرکزي بانک دویمه دنده پیسو او سوداګریزو مارکېټونو (Capital markets) ته ثبات ورښنل دي. د دې لپاره چې دغه ثبات تحقق او دوام پیدا کړي، مالي سیستم باید په مالي بنسټوکې شته سپماوې د هغه سوداګرو او پانګولو چې مالي وجوه ته اړتیا لري ولېږدوي، څو په دې وسیله د هېواد اقتصاد پرمختګ وکړي. د دې لپاره چې دغه لېږد تر سره شي، عام ولس باید پر مالي بنسټونو اعتماد وکړي، څو مالي بنسټونه وکولای شي سوداګرو او پانګه والو ته د خپلو سپماوو په لېږد کې ژمن پاتې شي. په دې اساس که که مارکېټونه د پولي واحد د نه ثبات له امله چې مالي بنسټونه سم نه دي نتنظیم شوي، بې ثباته او د وړاند وینې وړ نه

---

[43]- په افغانستان کې اسعار او بانکداری، په لاندې پته یې وګورئ:
https://www.afghanistans.com/information/economy/currenctybanking.htm.

وي، دغه وضعيت له شک پرته د عامو خلکو د بې اعتمادۍ سبب کېږي چې د سالمې پانګونې مخنيوی کوي، چې په پای کې دا کار د هېواد اقتصادي پرمختګ مخه نيسي. مرکزي بانک د مالي وجوه يا پيسو پر ثبات د څارنې او د پانګې اچونې اړتياوو ته په ځواب ورکولو سره له بېلابېلو لارو په بازار کې د مداخلې او د پولي اعتبار د موجوديت او مارکېټ ته د اړتيا په وخت کې د نوې پانګې د تزريق له لارې د ملي اقتصادي د پرمختګ لپاره ومينه برابروي[44].

همدارنګه د يو شمېر نورو مرکزي بانکونو اساسي دنده چې ناجی پور ورکونه(( lender of last resort)) ده، تر سره کوي. د مرکزي بانک دا دنده نورو مالي بنسټونو ته د تدارک او نغدې مالي وجوه د ورکولو مستلزمه ده، البته په داسې حال کې چې بديلي تمويلونکې منابع د افغانستان په دولت کې له منځه تللې وي.
د مرکزي بانک دا دنده يا فعاليت هغه مهال ډېر اړين دی، چې د اقتصادي ګډوډۍ پر وخت چې د نغدېي د نه شتون ويره رامنځته شي.مرکزي بانک مالي بنسټونو ته د لازمو مالي وجوه په برابرولو سره، چې هغوی وکولای شي له دې لارې خپل لنډ مهالي پاته والی، له منځه يوسي مالي سيستم حتا په يوه متزلزل اقتصاد کې هم فعال ساتلی شي.

د پای ټکی دا چې مرکزي بانک کولای شي د مالي سيستم پر شرايطو د اغېز او د دولت د اقتصادي پاليسی پر اجرا او مراقبت د نظارت له لارې د دولت په اقتصادي پاليسی کې حياتي رول ولوبوي. بانکونه کولای شي د لاندې تغيراتو په رواوړلو سره د دولت پر پاليسی د نفوذ له لارې خپلو مخو ته ورسيږي:

- په لګښتونو او د اعتبار په شتون کې د تجارانو، مصرف کوونکو او حکومت لپاره د بدلو راوستلو د ګټو د نرخ په دست کاري کولو سره؛
- د پيسو د غرضې په حجم او نرخ کې د بدلو په راوستلو سره؛
- د پانګوالو په ثروت کې د بدلو له لارې، چې ارزښت يې په بازاري جايدادونو کې منعکسيږي؛
- د کورنيو او بهرنيو اسعارو په بيو کې د بدلون له لارې؛
- او د عامو خلکو په غوښتونو کې د هغوی د راتلونکو پيسو د اعتباري شرايطو او په ارزښت کې د بدلو له لارې؛

دغه تغيرات او بدلونونه معمولا د مرکزي بانک د پاليسۍ د وسايلو په نوم ياديږدي . د بېلګې په توګه، فرض کړی چې د مرکزي بانکويني چې د توکو او خدمتونو د اخيستو لپاره د عامو خلکو تقاضا کمه شوې، نو مرکزي بانک له دې کمښت سره د مطالبقت لپاره مجبور دی د هېواد د اقتصادي رشد او ودې نرخ هم ورو کړي. اوس که مرکزي بانک د ګټې يا سود نرخ لوړ کړي، پوره وړې په دې صورت کې پوهېږي چې پور يا مالي اعتبار ته لاس رسی به لږ شي او که لاس رسی هم ورته پيدا شي ډېر لګښت ته يې اړتيا پيدا کيږي. په دې اساس دوی پور اخيستو او لګښتونو ته ډېر تمايل نښيي، چې دا په خپلل وار سره د اقتصادي نرخ د ودې او رشد د ورو والي سبب کېدای شي.

د دې حالت پر خلاف که مرکزي بانک وغواړي، چې د هېواد د اقتصاد حرکت او پرمختګ ته وهڅوي، څه بايد وکړي؟ دې هدف ته د رسېدو لپاره يوه وسيله چې مرکزي بانک ورڅخه ګټه پورته کولای شي دا ده چې د اسعارو د تبادلې نرخونه کنټرول کړي. مرکزي بانک کولای شي د بهرنيو سودونو پر وړاندې د کورني سود د بيو په راټيټولو سره د سپما پر ځای د لګښت علاقه پياوړې کړي، چې دا کار په خپل نوبت سره د پيسو په دوران کې اچولو باندې اغېز ښندي. دغه اقدام به همدارنګه د دې سبب شي، چې د کورنيو اسعارو نرخ د بهرنيو اسعارو پر وړاندې سقوط وکړي او په پايله کې د هېواد صادرات ارزانه او په بهرنيو

---

[44]- رُز، پيترسن او مارکويز، ميلتون. ايچ؛ د پانګې پيسې او مارکېټ: په نړيوال مالي مارکېټ کې اداري او مالي اسناد، نيويارک، د مک ګرا هل آروين خپرونه، 2006 ميلادی کال

هېوادونو کې د هغه د اخیستو لپاره تقاضا ډېره شي په دې اساس به په هېواد کې د تولید او کار موندنې لپاره غوره زمینې برابرې شي.

**د مرکزي بانک د پالیسی اغېزې:**



## ج: تجارتي بانک

تجارتي بانک د خصوصي مالي بنسټونو څخه دی چې د عامو خلکو د پيسو سپارلو په برخه کې د اړتيا وړ خدمتونه وړاندې کوي. په ډېرى پرمختللو هېوادونو کې تجارتي بانکونه د هېوادونو په مالي سيستم کې ډېر حياتي رول لري. ياد بانکونه د خلکو لپاره د اعتبار کارتونو له لارې د پيسو ساتلو او د پيسو د الکترونکي لېږد په موخه وسيلې او اسانتياوې رامنځته کوي. همدارنګه بانکونه کولای شي د هغه ورسپارل شوو توکو په واسطه چې خلکو دوی ته سپارلي، ډېرې پيسې توليد کړي. بانکونه کولای شي خپلې اضافي ذخيرې د پور په بڼه په نوو پانګونو سره د هېواد په اقتصاد کې په جريان کې وساتي او له دې لارې يو لوی درامد پيدا کړي. پر دې سربېره تجارتي بانکونه د کوچنيو او متوسطو سوداګريو لپاره سوداګرو او افرادو ته د پورونو ورکو لو تر ټولو لويه منبع شمېرل کېږي.

له ۲۰۰۳ کال وړاندې د افغانستان بانکونه له يوې کنډوالې پرته بل څه نه وو چې يوازې يو شمېر محدود او رسمي فعاليتونه يې تر سره کول. د ۲۰۰۳ ز کال په وروستيو کې د افغانستان بانک د کورنيو او بهرنيو تجارتي بانکونو د تشکيل لپاره د جواز ورکول يو ځل بيا پيل کړل. د ۲۰۰٤ کال په سپټمبر کې د مرکزي بانک په مرسته د افغانستان د بانکونو ټولنه ( ABA) جوړه شوه چې اته بانکونه يې غړيتوب لري. د دې ټولنې له جوړولو نه موخه داوه چې د افغانستان د بانکدارۍ د سيستم کړنو ته ښه والی ور وبښي. اوس مهال د ۱۷ په شاوخوا کې بانکونه د يادې ټولنې د غړيتوب جواز لري.[45]

په ۲۰۰۳ ز کال کې د يوه غوره مالي سيستم د جوړېدو په موخه چې وکولای شي د هېواد له اقتصادي پرمختګ څخه ملاتړ وکړي دوه قانونونه په رسمي بڼه تدوين او تصويب شول: د افغانستان بانک قانون او د افغانستان د بانکدارۍ قانون.

### د افغانستان بانک قانون: لنډه کتنه او د فعاليتونو حدود يې

د افغانستان بانک د قانون په دويمه ماده کې افغانستان بانک د هېواد مرکزي بانک پېژندل شوی او د يوه حقوقي شخص په توګه دا صلاحيت لري چې مربوط قرار دادونه عقد او منقول او غير منقول جايداد دريم کس [ بنسټ يا دريم شخص] ته وسپاري او همدارنګه خپل ځانګړي ضمانتونه صادر کړي، او يا د دې پر عکس کولای شي پيسې پور واخلي او حقوقي طرف واقع شي. د دې سربېره د افغانستان بانک د پولي سيستم او د بانکي امورو د تنظيم دنده هم پر غاړه لري.

لکه څرنګه چې د افغانستان بانک په قانون کې ويل شوي د افغانستان بانک موخه دا ده چې (( د کورني نرخ ثبات و ساتي)) او يا په بل عبارت د افغانستان بانک دنده دا ده چې د افغانستان په مارکېټ کې د نرخونو له انفلاسيون څخه مخنيوی وکړي. د افغانستان بانک ټولې موخې او اهداف عباردي دي له (( د نغدېې پياوړتيا، د پور د ورکړې پياوړتيا همدارنګه د يوه باثباته مالي سيستم جوړه ول چې پر ازاد بازار ولاړ وي او تادياتويا ورکړو لپاره د يوه مصؤن مالي سيستم جوړه ول)) پورته ليکل شوې موخې په غيرې مستقيم ډول دا ښيي چې د افغانستان بانک مسؤل دی چې يوه اندازه کافي پيسې په مالي سيستم کې داخلې او تزريق کړي څو ازاد بازار وکولای شي په سمه توګه خپل فعاليتنو ترسره کړي.

د افغانستان بانک قانون په ډاګه کوي چې د افغانستان بانک ټولې موخې او مقاصد د هغه د اصلي هدف او موخې تابع دي، چې په هېواد کې نرخونو ته د ثبات ورکولو له لارې د اقتصادي انفلاسيون مخنيوی دی. همدې ته ورته د افغانستان بانک دنده لري چې د افغان دولت له اقتصادي پاليسيو ملاتړو وکړي او خپلې دندې ته په درناوي سره چې همغه نرخونو ته د ثبات ورکولو له لارې د انفلاسيون مخنيوی دی د افغانستان د

---

[45] – د افغانستان د بانکونو د ټولنې ويبپاڼه، په دې پته مراجعه وکړئ: <<http://www.aba.org.af/>>

اقتصاد د دوامدار پرمختګ لپاره مناسې لارې چارې برابرې کړي. په دې اساس د افغانستان بانک باید د خپلو موخو تر منځ انډول رامنځ ته کړي. که چېرې بانک د مالي سیستم لپاره ډېرې پیسې تیارې کړي په دې صورت ک د پور اخیستونکو لپاره پولي اعتبار ارزانه کېږي. مالي سیستم ته د ډېرو پیسو تیارول د نغدیې د ډېروالي سبب کېږي چې په پایله کې له یوه لوري په اقتصادي پرمختګ کې چټکوالی رامنځته کېږي او له بل لوري یو شدید او غښتلی انفلاسیون رامنځته کېږي. که چېرې د مالي سیستم لپاره لږ پیسې وړاندې شي د پور اخیستونکو لپاره د پولي اعتبار د پور بیه ټیټېږي چې په دې صورت کې د اقتصاد وده کمېږي، خو د انفلاسیون له امله د رامنځته شوي فشار کچه هم کمېږي. په د اساس د افغانستان بانک د باید هڅه وکړي څو د پیسو د توزیع کچه یو ډول وساتي او په دې ډول په هېواد کې د معقول اقتصادي پرمختګ لپاره زمینه برابره شي، له دې پرته چې له حد نه ډېر مالي انفلاسیون رامنځته شي.

**د افغانستان بانک د قانون دویمه ماده**

1. د افغانستان بانک اساسي موخه د داخلي نرخونو ثبات او دغه ثبات دوام دی؛

2. د افغانستان بانک ټولې موخې او اهداف چې د لومړي او اساسي هدف تابع دي، د نغدیې له غوره والی، د بدهکاری د ساتنې پیا وړتیا او د یوه داسې مالي سیستم د مدیریت ساتنې څخه عبارت ده چې د آزاد بازار پر بنسټ ولاړ وي او همدارنګه د پرداختونو( ورکړو) او اجراآتو لپاره د یوه موثر، سالم او کار ورکوونکي مالي سیستم جوړونه او پیاوړتیا ده.

د افغانستان بانک له دې پرته چې خپله دنده هېره او یا ورته په سپکه سترګه وګوري د افغان دولت له اقتصادي پالیسی ملاتړ کوي او د هېواد د اقتصادي او تل پاتې پرمختګ لپاره زمینه برابروي.

۱- د افغانستان بانک اساسي دندې چې پر وړاندې یې افغانستان بانک مسؤل دی، په لاندې ډول دي:
۲- د افغانستان د پولي پالیسی تدوین، تصویب او اجرا؛
۳- د بهرنیو اسعارو لپار د پالیسی تدوین، تصویب او اجرا او د افغانستان د داخلي اسعارو د تبادلې لپاره لازم اقدامات؛
په افغانستان کې د بهرنیو اسعارو د رسمي ذخیرو جوړه ول او ساتنه؛
۴- د افغانیو د بانک نوټونو چاپ او صادرول؛
۵- د بانکداری په برخه کې د مشورې خدمت د افغانستان د پولي استازي په توګه؛
۶- د جوازنامو صدرو او ثبت او پر بانکونو، صرافانو، د پولي خدمتونو پر وړاندې کوونکو، تادیاتو، د بانکي ضمانتونو پر برابرونکو، د ضمانتونو د لېږد سیستم او دې ته پر ورته بنسټونو څار او اړوند نظارتي بورد ته د راپور وړاندې کول؛
۷- د تادیاتو، د ضمانتي لېږد چې د دولت په واسطه یا د افغانستان بانک له لارې صادرېږي او همدارنګه د حسابي معملاتو او له دې سره اړوندو ضمانتونو لپاره د سالمو او کار ورکوونکو مالي سیستمونو تاسیس، ساتنه او پرمتخګ؛

او د پای ټکی چې ستاسې لپاره باید وویل شي هغه دادی د افغانستان بانک د قانون لومړی ماده یو شمېر داسې کلیدي اصطلاحات تعریفوي چې کېدای شي تاسې په راتلونکي کې له هغه سره مخ شی، دا له تاسې سره مرسته کوي په ځانګړې توګه په راتلونکې کې د افغانستان په مالي سیستم کې په جدیت سره دخیل و اوسی.

**د بحث وړ پوښتنې**

د ګټو یا منافعو تضاد څه شی دی؟ ستاسې په اند په دې برخه کې د قوانینو غفلت څومره کولای شي پر حکومت د خلکو اعتماد کمزوری کړي؟ ستاسې په اند ولې د ګټو تضاد د اجرایي بنسټونو په جوړښت په ځانګړې توګه د افغانستان بانک په جوړښت کې حیاتي ارزښت لري؟ څه

فکر کوی چې ۲۵ مادې په دې برخه کې ټولو پښتو ته ځواب ویلی دي؟ که وایی چې نه، تاسې د کومو تصمیمونو وړاندیز کولای شی؟

## د افغانستان بانک تشکیلات

د دې کتاب دویم څپرکی د افغانستان بانک د تشکیلاتو اړتیا او شرطونه روښانه کوي. د افغانستان بانک په قانون کې تر ټولو د پام وړ مسئله د دغه بانک د عالي شورا جوړښت دی چې په دغه بانک کې د پالیسی جوړولو تر ټولو با صلاحیته ارګان دی، دا ارګان اوه غړي لري او اوه واړه غړي یې د ولسمشر او ولسي جرګې په توافق د پنځو کلونو لپاره ټاکل کیږي (۷ ماده). د افغانستان بانک د قانون له ٦ مادې تر ۲٦ پورې د بانک د عالي شورا د فعالیتونه، کړنې، صلاحیتونه، د عضویت شرایط او د غړو امکانات تر بحث لاندې نیسي. د دې قانون ۲۵ ماده په ښکاره د ګټو د تضاد موضوع تر بحث لاندې نیولي او د افغانستان بانک له خپلواکی او استقلال یې په څرګندو ټکو ملاتړ کړی دی.

**د افغانستان بانک د قانون ۲۵ مه ماده**

**د مصلحتونو ټکر**

1. د افغانستان بانک رئیس، مرستیالان او د ټولو ناظر به ټول کاري او مسلکي ظرفیت په افغانستان بانک کې لګوي او په هیڅ صورت د بل بست لپاره، څه که هغه معاش ولري او یا یې هم و نه لري، چې له بانک څخه د باندې وي نه شي قبولیدای، مګر دا چې په هغه بنسټ کې د افغانستان بانک د استازي په توګه دنده تر سره کړي.

2. پخوانی رئیس، مرستیالان او د ټولو ناظر له دندې تر ګوښه کېدو یو کال وروسته هم د افغانستان بانک د شورا له لیکلې موافقې او رضایت پرته په بله مالي موسسه کې دنده نه شي اخیستلای.

3. د افغانستان بانک کارکوونکي له لیکلي موافقې پرته د افغانستان بانک په بله ادره کې له معاش سره یا له معاش پرته استخدام شي.

4. د افغانستان بانک رئیس، مرستیال، لوړ پوړي مامورین او ټول کارکوونکي نه شي کولای ډالی یا پور چې په دنده کې د هغه پر بېطرفي باندې اغېز کولای شي، د ځان یا بل چاته چې ده ته منسوب وي او یا له ده سره تجارتي، مالي او کورنۍ اړیکه لري، ومني.

## د افغانستان بانک د تجهیزاتو یا د لوژستیکي اجراتو فعالیت

د افغانستان بانک د قانون په دریم څپرکي کې د افغانستان بانک د مالي مدیریت د څرنګوالي په اړه موضوعات ځای پر ځای شوي دي.د دغه قانو په ۲۷ ماده کې افغانستان بانک د ځان لپاره ۸ میلیارده افغانی لومړی مجازه سرمایه ټاکلې او همدارنګه په دې څپرکې د محاسبې او د بانک د خالصې ګټې د تخصیص او زیانونو په اړه هم ضروري لارښوونې شوې دي. ( ۲۷-۲۸ مادې) د افغانستان بانک د قانون په ۳۱ ماده کې د مالیې وزارت له لوري د کمبود په صورت کې مرکزي بانک ته سرمایې د تزریق په اړه هم احکام ځای پر ځای شوي دي. څلورم څپرکی هم د افغانستان د پولي واحد بېلابېل اړخونه او د پیسو اړونده جرایم څېړلي دي.

## د افغانستان بانک د پولي سیاست فعالیت

بالاخره موږ د افغانستان بانک د قانون تر ټولو مهمې برخې ته رسیږي. په یاد ولرئ چې د پولي سیاست تطبیق د مالي سیستم له اووه ګونو فعالیتونو څخه دی چې موږ یې په اړه د کتاب په تېر څپرکي کې بحث وکړ. مرکزي بانک د مالي سیستم د دغه فعالیت په ترسره کولو او تطبیق کې ډېر کلیدي او مهم رول لري. د افغانستان بانک د قانون پنځم څپرکي هغه وسایل. چې د افغانستان بانک د خپلو پولي سیاستونو د پلي کولو لپاره ورته

اړتیا لري معرفي او توضیح کوي.

د افغانستان بانک د قانون ٦٢ ماده کې په ډاګه شوي چې دغه بانک د هېواد پر پولي سیاست نافذ او څارونکی دی: (( د افغانستان بانک د هېواد د پولي سیاست د طرحې، تطبیق او پلي کولو مسئول دی.)) او په همدې ترتیب په ٦٩ ماده کې د اسعارو د نرخ د تعین سیاست په اړه افغانستان بانک ته ورته صلاحیتونه، مرکزي بانک ته هم ورکړل شوي دي.

## له دولت سره د افغانستان بانک اړیکه

اووم او اتم څپرکي په ترتیب له دولت او نورو بانکونو سره د افغانستان بانک د اړیکې په اړه خبرې او توضیحات دي. د قانون ٧٦ ماده حکم کوي چې د افغانستان بانک د مشاور بانکدار او د دولت د پولي استازي په توګه دنده تر سره کوي. اووم څپرکی د مالیې وزارت او مرکزي بانک ترمنځ نږدې اړیکې ټینګوي او له مالیې وزارت څخه غواړي چې د خپل کلني بودجوي پلان د جوړولو په وخت کې د کورنی او بهرني پور اخیستنې اړوند د هغه مبالغو په شمول چې تر هماغه پلان لاندې د قرار داد لپاره صورت نیسي او ترسره کېږي او همدارنګه د دې ډول پورونو په تړاو د شرایطو او احکامو په اړه د افغانستان بانک سره مشوره وکړي( ماده٧٧).پر دې سربېره، د افغانستان بانک مکلف دی په هرو شپږو میاشتو کې پارلمان ته خپله پالیسي پاڼه (POLICY STATEMENT) وړاندې او خپره کړي او همدارنګه دغه بانک باید د پالیسی په پاڼه کې هغه سیاستونه چې په راتلونکو شپږو میاشتو کې به یې تعقیب کړي توضح کړي، د دې ترڅنګ د تېرو شپږو میاشتو پولي سیاست چې له دې سند نه وړاندې تدوین شوی توضیح او څرګوالی یې په ډاګه کړي ( ١٠٥ماده ٢)) له دې سره سره، د افغانستان بانک او دولت ترمنځ نږدې اړیکه په قانون کې تسجیل شوي، دغه قانون په څرګند ډول د افغانستان بانک ته له دولت سره د هرډول معاملې په خاطر مرسته یا د دولت د ګټو په موخه ( ٧٦(١))ماده له دولتي بنسټونو سره مالي مرسته منع بلل شوې ده ( ٨١ماده).

## له نورو ټولو بانکونو سره د افغانستان بانک اړیکې

د مرکزي بانک د قانون د اتم څپرکي ٨٣او ٨٤ مادو د جواز صدور، د کورنیو بانکونو تنظیم او پر کړنو یې نظارت او همدارنګه له ټولو بهرنیو څارونکو چارواکو سره چې په افغانستان کې نماینده ګی ولري د مرستې چارې افغانستان بانک ته ورکړل شوې دي. له څرنګه چې مخکې وویل شول د مرکزي بانک ډېری وختونه د ناجي پور ورکوونکي (LENDER OF LAST RESORT) دنده تر سره کوي. دا مسئله د بانکدارۍ د قانون په ٨٦ماده کې هم لیکل شوې ده.

<table><tr><td>

**ورروستی پور ورکوونکی**

د افغانستان بانک کولای شي د شرایطو او احکامو سره سم د وروستی پور ورکوونکې منع په توګه کورنیو او بهرني مالي بنسټونو ته چې د حساب څښتنان وي د افغانستان بانک له لارې مالي مرسته یا د هغوی د ګټو د تامین لپاره چې له دریو میاشتو ډېره نه وي د پور، معاوضې، بیا پلورنې او مشروط قرضې په توګه چې په ٦٩ ماده کې درج ده ورکړي، مګر دا چې د افغانستان بانک تصمیم ونیسي چې په استثنایي حالت کې بې ضمانته پور ورکول موجه او معقول نه دي. د افغانستان بانک په واسطه پور او تعهد د لاندې شرایطو له لارې ورکول کېږي: (الف) —هغه قرضه او تعهد چې د نغدیې د احکامو په منظور حساب لرونکی وي او د عامه ګټو د تامین لپاره وي. ( ب ) —د مالیې وزیر د دې مادې په الف جز کې د درج شوې قرضې یا تعهد سره د پیشنهاد له رسېدو وروسته ٢٤ ساعتونو کې له افغانستان بانک سره موافقه کړې وي. د قرضې او تعهداتو معیاد او وخت هغه وخت تمدیدای شي چې په افغانستان بانک حساب لرونکې، شرایط او د نغدیې ( سیالیټ) یې رعایت او د دغه بنسټ د قناعت وړ کرځېدلي وي.

</td></tr></table>

## د منازعاتو د حل کمیسیون

تر دې ځايه درته څرګنده شوې وي چې د يوه هېواد مرکزي بانک لوی صلاحيتونه لري. په دې اساس د خپلو سرو کړونو د مخنيوي لپاره به د مرکزي بانک د قانون وروستی برخه لولو، چې د قانون شپږم څپرکی کېږي او دغه څپرکی د يوې څار ګرې کمېټې يا کميسيون حکم کوي، چې د مرکزي بانک د ټولو مسئوليتونو ترمنځ د دغه بانک د تصميم نيول او فرمانونه د قضايي صلاحيت درلودونکي دي. دغه کمېټه له دريو وکيلانو او دريو محاسبينو څخه جوړه ده، چې د افغانستان بانک د رئيس او ماليې وزارت په وړانديز د ولسمشر له لوري په دايمي بڼه انتصابېږي. ( ۱۰۸ ماده) پر دې سربېره دې کميسيون ته دا صلاحيت ورکړ شوی چې د مالي بنسټونو ترمنځ د منازعې په وخت کې د دوی ترمنځ قضاوت وکړي البته هغه وخت کله چې دوی ( مالي بنسټونو) په ليکلې بڼه د دوی پر قضاوت رضايت ښوودلی وي( ۱۰۷ ماده).

**د بحث وړ پوښتنې**

ستاسې په اند قانون جوړه ونکو چې ۸۶ ماده تسويد کوله چې د افغانستان بانک يوازې هغه وخت بې ضمانته تعهدات ترسره کولای شي چې د عامه ګټې د داسې يو شي ايجاب وکړي، منظور يې څه وو؟ ستاسې په باور د افغانستان بانک به څه شی د عامه ګټو په توګه په نظر کې ونيسي؟ تاسې څه شی د عامه ګټو په توګه په نظر کې نيسی؟

## د افغانستان د بانکدارۍ قانون: لنډه کتنه او د فعاليتونو حدود

د افغانستان د بانکدارۍ قانون د ۲۰۰۳ زکال د مرکزي بانک له قانون سره په يو وخت تصويب شوي او د تصويب موخه يې د تجاراتي بانکدارۍ سيستم د تنظيم په موخه د يو منظم چوکاټ رامنځه کول وو چې له مخې يې د بانکدارۍ سيستم تنظيم شي. د بانکدارۍ قانون په تجارتي بانکونو پورې اړوند بېلابېل مسايل تر څېړنې او بحث لاندې نيسي. دغه قانون ټول هغه فعاليتونه چې د بانکونو او نورو ټولو غير بانکي بنسټو ته ممنوع دي او همدا رنګه هغه تحريمونه چې د بانکدارۍ له قانون څخه د سرغړونو له امله دي معين او څرګندوي او د بانکي مقررو د تصويب لپاره عمومي مشوره وړاندې کوي. پر دې سربېره د بانکدارۍ قانون هغه شرايط چې له لارې يې بهرني بنسټونه کولای شي په افغانستان کې پر بانکدارۍ پانګونه وکړي معين او مشخصوي او په ښکاره حکم کوي چې په افغانستان کې فعال بانکونه بايد د بهرنيو بانکونو له تنظيموونکو سره مرسته وکړي.

د بانکدارۍ قانون د افغانستان بانک ته د دې قانون د نافذ او مجري ځای ورکړی او صلاحيت يې ورکړی چې د بانکدارۍ د صنعت لپاره مقررې تدوين او اعلان کړي. همدارنګه دغه قانون يو شمېر پراخه اجرايوي کړندودونه د افغانستان بانک په اختيار کې ورکړې څو په هغه صورت کې چې بانکونه اړتياو ته په ځواب ورکولو او د بانکدارۍ په حقوقي شرايطو کې ناکام شي يا تعلل وکړي، هغوی تطبيق کړي.

د افغانستان د بانکدارۍ قانون يو شمېر څپرکي، پيش نيازونه او شرايط چې په افغانستان کې ټول فعال بانکونه يې بايد پوره کړي وړاندې او توضيح کړي دي. دغه کړندودونه د بانکونو د ثبت او راجستر، د جواز پاڼې او اجازه پاڼې چې ټول بانکونه يې بايد تر سره کړي توضيح کوي. همدارنګه دغه قانون د هغه شرکتونو لپاره چې نوي جوړ شوي او له وړاندې يې وجود نه درلود ځانګړې کړلارې ايجاد کړې، څو هغوی وکولای شي د بانکدارۍ په صنعت کې د فعاليت په موخه صلاحيت او تجويز پاڼه تر لاسه کړي. د دې سربېره د افغانستان د بانکدارۍ قانون يو شمېر داسې معيارونه هم وړاندې کړي چې دغه شرکتونه يې بايد د خپل قانوني فعاليت لپاره پوره کړي. که چېرې يو بانک د قانون له احکامو سره مطابقت ونه لري، د دې ډول بانکونو د جواز پاڼې او اجازه پاڼې د ابطال لپاره ځانګړې کړنلاره شته او همدارنګه د دې ډول ابطال او باطلېدو لپاره وړاندوينې او شوې چې په داسې حالاتو کې تطبيق کېږي. دغه اقدامات د بانک څښتن ته دا ډاډ ورکوي چې د بانک جواز يې يوازې هغه وخت باطل کېدای شي چې مالک يې له قانون څخه سرغړونه کړې او بس.

د بانکونو ماليکيت او مديريت هغه مهمې او اساسي برخې دي چې د بانکدارۍ قانون يې تر بحث او څېړنې لاندې نيسي.
دا قانون مشخصوي چې يو بانکي بنسټ څه ډول جوړېږي او د دې کار ( د بانک د جوړېدو) لپاره کومو اسنادو لکه منشورونو او نظامنامو ته اړتيا

ده. دغه اسناد او قوانین په یوه بانک کې دننه د داخلي دندو لایحه مشخصوي چې د هغې پر اساس دغه بانک خپل فعالیتونه پر مخ وړي. همدارنګه بانکونه مکلف دي چې د پانګې یو شمېر ځانګړې جوړښتونه له ځانه سره وساتي څو له هغې نه په ګټې اخیستنې سره د خپل احتمالي (( افلاس )) څخه مخنیوی وکړي. دا په دې معنی ده چې هر بانک باید په هر وخت کې عملا څرګنده کړي چې د پانګې اندازه یې د بدهکارۍ په پرتله ډېره ده؛ له بانک سره شته پانګه لږ تر لږه په هغه اندازه وي چې په پیل کې د بانک مالکانو پر دې بانک باندې پانګونه کړې وه.

د افغانستان د بانکدارۍ قانون له بانکدارانو غواړي چې هېڅ بانک باید د مرکزي بانک له اجازې پرته نه شي کولای خپله ذخیره کړې یا ساتلې پانګه د سهم یا ونډې د بیا اخیستو له لارې توزیع او یا د هغه مالکانو ته کمه کړي. د بانک مدیریت اړ دی چې د قانون د بېلابېلو احکامو او اصول نامو د پلي کولو لپاره یو ځانګړی هیئت او بېلابېلې کمېټې جوړې کړي، څو د مدیرت د ټیم او مالکانو په واسطه د بانک پر فعالیتونو غوره او مناسب څارنه تر سره کړي. د مالکیت او کنټرول موضوع د اضافي اصولو په واسطه تنظیمیږي د هغه اصولو او لارښوونو په واسطه چې د بانکدارۍ قانون څرګند کړي: مدیران باید د هر ډول متضادو ګټو په اړه معلومات له مدیره هیئت سره شریک او کارکوونکي باید له هغو پټو معلوماتو څخه چې په بانک کې یې د کار په موده کې یې تر لاسه کړي، د خپلو شخصو ګټو لپاره ونه کاروي.

د یوه بانک عملیات او کړنې د بېلابلو اصولو تطبیق ته اړتیا لري. هغه مجاز فعالیتونه چې یو بانک یې باید تطبیق کړي ډېر محدود دي او د دې محدودیت موخه او هدف هم دا دی چې د خلکو د عامه ګټو د خوندي کولو لپاره غوره زمینه برابره شي. د بانکدارۍ په کلیدي اصولو کې یو شمېر ځانګړې پیش نیازونه او شرایط شامل دي؛ د بېلګې په توګه: ټول هغه شرایط چې د قانون په واسطه وړاندیز شوي، د جواز شرایط او یا هغه شرایط چې مرکزي بانک یې له نورو بانکونو څخه غواړي او همدا رانګه بانکونه باید یوه اندازه نغدې پیسې او د سرمایې یوه برخه نغده وساتي، خپل سوابق په ښه توګه وساتي او د تجارت او پانګونې د احتمالي ګواښ نظارت او څارنه وکړي.

هغه فعالیتونه چې په عمومي ډول یې بانکونه تر سره کولای شي عبارت دي له: د پیسو اخیستل( دریافت سپرده های بانکي)، د پور ورکول، د مالي وسیلو یا دستاوېزونو او مالي توکو پلورل او پېرل، د بانکي ضمانتونو او اعتبار پاڼو ورکول، په پیسو پورې د اړوندو خدمتونو وړاندې کول، ضمانتونه او ټولې مالي وسیلې، د با ارزښته توکو ساتنه او د مالي معلوماتو تهیه او تدارک.

د بانکدارۍ د قانون وروستی برخه د ماتې او ( افلاس) لپاره یوه ځانګړې کړنلاره تعریف کړې چې یوازې پر هغه بانکونو او اختیار نامو باندې د طبیق وړ ده چې پر هغو د ماتې او ورشکستګۍ نور ټول قوانین د پلي کېدو وړ نه وي. اساسا دغه کړنلاره د افغانستان بانک ته تر ځانګړو شرایطو لاندې دا اجازه ورکوي چې د هغه بانکونو لپاره چې خپل حقوقي مسئولیت نه شي تر سره کولای د ځان له لوري ( د افغانستان بانک) له لوري مدیر وټاکي. دا چې د یوه بانک ناکامي او ماتې د هغه بانک پر مشتریانو ډېر ناوړه اغېز کوي، د افغانستان بانک دغه کړنلاره له دې امله تدوین کړې چې د یوه لوی او مهم بانک د ناکامی په وخت کې وکولای شي د دې کړندودونه په پلي کولو سره د بانک د مشتریانو له حقوقو او د ټول هېواد له اقتصاد څخه ساتنه او حفاظت وکړي.[46] بانکونه معمولا د هېواد د اقتصاد د ټولو برخو لپاره ډېر مهم دي له دې امله ډېری سوداګرۍ او تجارتونه پر بانکونو متکي دي او بانکونه باید د هغو د عملیاتو لګښت تمویل کړي. کله چې یو بانک له ماتې سره مخ کېږي او سوداګرۍ پوره مالي اعتبار په لاس نه شي راوړی، په دې صورت کې د بانک ناکامي د دې سبب کېږي چې یو زیات شمېر سوداګر او تجارتونه د سوداګرۍ له کړۍ خارج شي.

له دې امله چې د بانک ماتې او ناکامي پر سوداګرۍ بالقوه اغېز لري، دا یو دلیل دی چې د بانکونو د ماتې ځانګړې کړنلاره یوازې پر بانکونو د پلي کېدو وړه ده.

---

[46]- لاندې پته وګورئ: <<http://www.centalbank.gov.af/pdf/6banking%20law%20_english%20version_%20final_Dec_.pdf>>

**ژوره مطالعه: د افغانستان د مرکزي بانک له رئیس انورالحق احدي سره مرکه**

د ډیوېد ګروګ په واسطه
د اسیا د توسیعه یې بانک د ارزونې خلاصه، ۳۵ شمېر، د ۲۰۰۳ زېږدیز کال خپرونه

**سریزه**

د افغان دولت د نورو ځانګو په څېر بانکي سیستم هم د تېرو شل کلنو جګړو پر مهال ویجاړ شوی دی. هغه کسان چې د دې ویجاړ شوي بانکي سیستم رغول یې پر غاړه دي د افغانستان د مرکزي بانک رئیس ښاغلی انورالحق احدي او د آسیا په پرمختیایي بانک کې د افغانستان علي البدل مشر دي. ښاغلی انورالحق احدي چې ۲۳ کاله یې په امریکا کې د بانکدار او پروفیسور په توګه کار کړی دی، د ۲۰۰۲ ز کال په مارچ کې افغانستان ته راغی او تر اوسه یې پر خپله دنده پاتې دی.
نوموړي له ډیوېد کروګر سره د افغانستان د مرکزي بانک د پرمختګونو په اړه چې تر اوسه یې کړي دي او همدارنګه د هغه ستونزه په اړه چې دغه بانک په راتلوکي کې ورسره مخ دی خبرې کړي. د دې مرکې لنډیز به تاسې ته وړاندې کړو:

**له هغه وخت چې افغان ولسمشر حامد کرزی په کابل کې واک ته رسېدلی تر اوسه ۱۸ میاشتې تېرې شوی، په افغانستان کې د بیارغونې چارې څنګه پر مخ ځي؟**

تاسې کولای شی دغه حکومت ته د بنسټونو او یا هم فزیکي جوړښت له لارې وګورئ. د بنسټونو د جوړولو او تشکیلاتو له اړخه د افغانستان بانک لږ تر لږه په ځان جوړونه پیل کړی دی. د پولي واحد د بدلو کار مو پای ته رسولی، د لوی اقتصاد د څېړنې برخه مو بیارغولې ده، دغه برخه موږ ته د مالي سیاست په اړه معلومات راکوي. موږ د څارنې په موخه یوه ځانګه جوړه کړې چې د دې ځانګه جوړونه موږته د دوه مخه بانکي سیستم (TWO TIER) د جوړولو لپاره اړینه وه، چې په هغه کې تجارتي بانکونه له مرکزي بانک نه بېل فعالیت کوي. همدا رنګه موږ د اسعارو یو ټاکلی او ثابت نرخ لرو. سږ کال بیې په ریښتیا را ټیټې شوې، تر کومه ځایه چې په مرکزي بانک پورې اړه لري، فکر کوم چې موږ پرمختګونه کړي دي. تر یو حده د بانکدارۍ د یوه نوي سیستم جوړېدو ته نږدې شوي یو. دا په دې معنا ده چې موږ لږ تر لږه له دریو بانکونو څخه غوښتنې تر لاسه کړې او موږ حاضر یو هغوی ته جواز نامې ورکړو، خو موږ دې ته منتظر یو چې دغه جواز نامې پاس شي.

**د مرکزي بانک د قانونو په ځانګړې توګه د بانکدارۍ قانونه ته تم یو تر ټولو لویه ستونزه چې د افغانستان مرکزي بانک همدا اوس ورسره مخ دی کومه ده؟**

زموږ تر ټولو لویه اړتیا او ستونزه داده چې د بانکدارۍ یو نوی سکتور جوړ کړو چې له پخواني سره توپیر ولري. په تېر وخت کې زموږ تجارتي بانکونه د مرکزي بانک برخې وې، اوس موږ غواړو داسې تجارتي بانکونه ولرو چې له مرکزي بانک څخه بېل وي. زه فکر کوم موږ په دې برخه کې ډېر پرمختګ کړی او زه پوره مطمئن یم چې د سږ کال تر پایه به موږ په افغانستان کې د بانکدارۍ یو متحرک سیستم ولرو چې مالکیت به یې خصوصي بڼه ولري. زموږ اصلي ستونزه بشري ځواک دی، موږ په افغانستان کې زیات شمېر مسلکي او پیاوړي کسان نه لرو، خو موږ په دې هڅه کې یو څو هغه افغانان چې په یو شمېر ګاونډیو او بهرنیو هېوادونو کې یې تحصیل کړی، ښه کاري وړتیا او تخصص لري استخدام کړو.

**ستاسې په اند د تجارتي بانکونو شتون به د افغانستان د دولت او خلکو لپاره څومره ګټور وي؟**

دغه بانکونه اړ دي چې له یو بل سره رقابت وکړي او موږ هیله من یې چې هغوی به د خلکو لپاره غوره خدمتونه وړاندې کړي او په ټیټ نرخ د بانکدارۍ یو مشتري محوره او دوستانه محیط به رامنځته کړي. په حقیقت کې دا یوه ګټه ده چې پر ازاد بازار له ولاړ یوه رقابتي اقتصادي محیط څخه یې تاسې تمه لرلای شی. د تجارتي بانکونو بله ګټه افغان دولت ده او هغه دا چې دغه بانکونه که کله له زیان سره مخ کېږي افغان دولت په

کې دخالت او مسئولیت نه لري. موږ هیله من چې افغانستان د بانکدارۍ فرهنګ چې بېروکراتیک کړندودونه وربانديې حاکم دي، په یوه داسې فرهنګ بدل کړو چې په هغه کې خلاقیت، رقابت او پایله غلبه ولري.

**تاسې باوري یاست چې د افغانستان نوي پولي واحد د افغان ولس د منلو او قبول وړ ګرځېدلی دی؟**

د نوو افغانیو وړاندې کول ډېر بریالي وو. موږ وکولای شول په دریو میاشتو کې زاړه بانکنوټونه په نوو بانکنوټونو بدل کړو. د افغانستان نوي بانکنوټونه په ټول هېواد کې خپاره او رواج شوي دي. بې له شکه لا هم شمېر معاملې په امریکایي ډالرو او پاکستانی کلدارو بانديې کېږي، خو زه فکر کوم په افغانیو د معاملو کړل مخ په پراخېدو دي. په تېرو شپږو میاشتو کې د اسعارو تبادله تر ډېره باثباته وه او زه فکر کوم چې موږ وکړای شول پر نوي پولي واحد د خلکو اعتماد تر لاسه کړو. زه هیله لرم چې د یوه او یوه نیم کال په شاوخوا کې زموږ پولي واحد په لویو تجارتي معاملاتو کې هم رواج شي.

**د نوي پولي واحد د جوړولو یوه موخه داوه، چې تاسې وکولای شي د خپل هېواد پر پولي سیاست ډېر کنټرول پیدا کړی؟ ایا تاسې دغه موخې ته رسېدلي یاست؟**

هو یقینا. موږ په تېرو وختونو کې د پیسو پر چاپ او خپرولو هېڅ کنټرول نه درلود. په حقیقت کې موږ نه پوهېدو چې په هېواد کې مو څومره پیسې د ګردش په حال کې دي. د سالمو اقتصادي بنسټونو پر اساس د پولي سیاست جوړول ستونزمن کار و. اوس زه هره ورځ پوهېږم چې په هېواد کې څومره پیسې د دوران او چلند په حال کې دي، د اسعارو د بدلون او تبادلې نرخ څو دی، زه باید څومره پیسې بازار ته وړاندې کړم.... اوس زه کولای شم دا ډول پرېکړې په ډېر اعتماد سره د غوره معلوماتو په رڼا کې وکړم.

**حکومت د کسر د نه شتون پالیسي اتخاذ کړې، کېدای شي په دې اړه چې دغه پالیسي څه شی او موخې یې کومې دي توضیح کړئ؟**

له کسر پرته پالیسي یا(NO-DEFICT) هغه پالیسي ده چې له مخې حکومت د تولید کړو عوایدو لویه برخه نه مصرفوي.
په تېرو وختونو کې د افغانستان حکومت د ترلاسه کړو عوایدو ډېره برخه مصرفوله، د دې کار تر ټوله بد عیب دا و چې د پیسو کسر د پیسو د چاپ په واسطه تمویلېده. له همدې امله د افغانۍ ارزښت په ډېره تېزۍ سره کمېده. د دې لپاره چې تاسې د افغانۍ پولي تاریخ په اړه یوه کتنه ولرئ، افغانۍ په ۱۹۷۰ کلونو کې په نظر کې ونیسئ، په یاد ولرئ چې د کمونستانو له کودتا وړاندې یو امریکایي ډالر ٤٠ افغانۍ کېده. خو له دې وړاندې کله چې ما د افغانستان بانک د رئیس په توګه دنده پیل کړه یو امریکایي ډالر ٤٠٠٠٠ افغانۍ وو، د افغانۍ د بیې د ټیټېدو علت دا دی چې په افغانستان کې ډېر زیاتې پیسې چاپ شوې دي. په ۱۹۷۰ کلونو کې یعنی قدرت د کمونیستي رژیمونو له رسېدو وړاندې د افغانستان په بازارونو کې ١٦ ملیارده افغانۍ په ګردش او دوران کې وې، خو کله چې د ولسمشر کرزي په مشرۍ لنډ مهال اداره رامنځته شوه دغه اندازه ۱۳۰۰۰ ملیارده افغانۍ ده. په حقیقت کې دا هغه پیسې دي، چې د بهرنیو اسعارو له ملاتړ پرته چاپېدې له همدې امله د افغانۍ ارزښت په ډېرې تېزۍ سره ټیټ شو. که چېرې ټاکل شوې وي چې حکومت د پیسو په چاپ او خپرولو کې له کسري سیاست څخه ګټه پورته کړي او وضع یې هم په پیسو تبدیل کړي، یقینا همدا څه د نوي پولي واحد په اړه هم پېښ شوي دي.

**د هېواد امنیتي وضعیت ستاسې د پولي پالیسیو په اړه د تصمیم پر نیولو او د دغه پالیسیو پر پلي کولو څه ډول اغېز لري؟**

د اقتصادي سوکالي لپاره امنیت یو د مخ شرطونو څخه ګڼل کېږي. کېدای شوای امنیت له دې هم په څلونو ښه وای او باید هم ښه وای. زه فکر کوم امنیت باید زموږ د هېواد لومړی لومړیتوب و بلل شي. زه په آسانی سره دا استدلال نه شم منلای چې د اقتصاد پرمختګ کولای شي امنیت ته هم پرمختګ ورکړي. زه فکر کوم تر څو چې په هېواد کې امنیت نه وي امکان نه لري چې اقتصاد دې پرمختګ وکړي. امنیتي وضعیت څومره چې باید ښه وی نه ده ښه، خو زه فکر کوم چې حکومت دا واقعیت درک کړی او اوس یې امنیت خپل تر ټولو لوی لومړیتوب ټاکلی دی.

**يوه له هغو برخو چې دآسيا پرمختيايي بانک په افغانستان کې کار پرې کوي، د ورکړو( پرداخت ها) مالي سيستم دی. څنګه کېدلای شي دغه بهير پرمخ ولاړ شي؟**

زموږ د هېواد د ورکړو ( پرداخت ها) په سيستم کې درې عنصره ځای لري: له دې درې ګونو عناصر يو يې هم بين المللي دی او زه فکر کوم چې که مرکزي بانک د هر ډول نړيوالو ورکړو( پرداخت ها) توان ولري، موږ له بهر څخه پيسې تر لاسه کولای شو او له افغانستان هم پر وخت پيسې استولی شو او موږ په دې برخه کې کومه ستونزه نه لرو. په کابل ښار کې هم بايد موږ ورکړې تر سره کړو. بيا هم بايد ووايم چې مرکزي بانک د دې ډول ورکړو ( پرداختونو ) په برخه کې هم کومه ستونزه نه لري. له دې وروسته داسې ورکړې شته چې په ولايتونو کې بايد تر سره شي. په دې برخه کې هم کومه ستونزه نه لرو. د افغانستان د مرکزي بانک څانګې د هېواد په ټولو برخو کې شته او هر څانګه يې خپل کارکوونکي لري، خو د دې لپاره چې دغو څانګو ته پيسې ولېږلی شو امنيتي وضعيت بايد ښه شي. له ولسمشر څخه غوښتې چې په دې اړه له واليانو سره خبرې وکړي، څو د بانکونو لپاره غوره امنيت رامنځته کړي، زه فکر کوم ولسمشر له دوی سره خبرې کړې او هغوی هم منلې چې دا کار کوي. موږ په دې وروستيو کې په ولايتونو کې له ۳۲ څانګو سره اړيکې ټينګې کړې دي. موږ اوس د کمپيوټر اوسپوږمکی له لارې له دغو څانګو سره اړيکې نيولي، خو اوس هم يو شمېر وسايلو او تجهيزاتو ته اړتيا لرو څو خپلې ولايتي څانګې ترميم کړو. له همدې امله موږ د اسيا له پرمختيايي بانک څخه غوښتي چې د دې پروژې په پلي کولو کې زموږ مرسته وکړي.

د نور معلوماتو لپار:

د افغانستان د مرکزي بانک د رئيس انورالحق احدي د دې جالبې او په زړه پورې وينا د لوستلو لپاره چې د ۲۰۰۲ زکال په سپټمبر کې يې د پيسو د نړيوالو صندق په مقر کې کړې دې سايټ ته مراجعه وکړئ:
http://www.imf.org/external/am/2002/speeches/pr41e.pdf.

## ۴- د ماتې( افلاس) قانون

لومړی دا چې د پور اخيستونکی له ماتې يا افلاس سره مخ شي او نه شي کولای چې په ټاکلې موده خپل پور ورکړي، د ماتې قانون په دې حالت کې د نوموړي د پانګې د نغدېې (Liquidation) کولو لپاره زمينه برابروي تر څو خپل پورونه خلاص کړي. په داسې حال کې چې د تجارت د بقا چانس موجود وي، د ماتې يا ورشکستګۍ قانون د بيا جوړېدنې او د نظر وړ پر پورونو او د تجارتونو پر پانګو د تجديد نظر زمينه مساعدوي، څو له دې لارې هغوی د غوښتونکو له تعقيب نه وژغوري.

د پرمختګ په حال کې د يوه اقتصاد لکه د افغانستان په اقتصاد کې دا مسئله ډېره مهم ده چې د ماتې ورشکستګۍ يا افلاس لپاره کار وركوونکی او وړ سيستم ولرو. د اجباري توب يو دليل يې دا دی چې د ماتې يا افلاس قانون د پورونو د سرچينو د بيا تخصيص لپاره زمينه برابروي او په دې ترتيب سره د هغه تجارتونو د داوم مخنيوی کوي چې دوام داره نه وي او پانګې د ګټور وېش له ستونزو سره مخ کوي، مخنيوی کوي.

له دې ادعا سره په تړاو بل دليل دا دی چې له وړاندې تعين شوي قواعد چې د ماتې او نقدې جوړونې په ارتباط حاکم دي، پانګې اچوونې ته د تشويق زمينه رامنځته کوي او غوښتونکي ته باور ورکوي چې که چېرې يو شرکت ګټه او فايده توليد نه کړي د دوی پولي ادعاوې او غوښتنې مصئونې او محترمې شمېرل کېږي. د شرکتونو له قانون پرته چې په کې نقدينه سازي ( سياليت) تر بحث لاندې نيولی شوې، په افغانستان کې تر اوسه د ماتې لپاره ځانګړي او بېل قانون نه دی تصويب شوی. په هغه څېړنه کې چې په ۲۰۰۹ زکال کې د بانکونو په اړه شوې، افغانستان د نړۍ د ۱۸۱ هېوادونو ترمنځ په ټيټه درجه کې ځای درلود؛ د بانکونو په اړه دغه څېړنه په هېوادونو کې د تجارت خانو د تړولو پر بنسټ شوې وه. د ماتې يا ورشکستګۍ د قانون نه شتون د هغه خلکو لپاره چې هڅه کوي نوي تجارتونه پيل کړي د ګواښ اندازه ډېره وي، او دغه کار په خپل وار سره د دې سبب کېږي په هېواد کې د کارموندنې پر وړاندې خنډونه رامنځته او مخه يې ونيول شي؛ ځکه دوی مطمئن نه دی چې که چېرې خپل تجارت بندوي خومره لګښت به وربانديې راشي. په داسې حال کې چې د ماتې او ورشکستګۍ د سيستم په تدوين کې ډېر ټيټ لوموړيتوبونه د

ټولو ډېرېدونکو تقنيني اړتياوو چې افغانستان ورسره مخ دی تر شا په پام کې نيول کيږي، خو دغه وضعيت له هغه وروسته چې د افغانستان پولي اعتبار او تجارتي پورنه پراختيا ومومي د هېواد اقتصاد خپلې ودې او پرمختګ ته ادامه ورکوي، بدلون مومي.

له دې امله چې د بانکدارۍ صنعت ورځ تر بلې پرمختګ کوي، د ماتې او ورشکستګۍ د قانون پلي کول هم ورځ تر بلې د هېواد په اقتصاد او معاملاتو کې اهميت پيدا کوي، ځو له دې لارې بانکونه وکولای شي د خپلو تضمين شوو معاملاتو پورونه ورکړي او تضمين شوي غوښتونکي يا طلبکاران هم وکولای شي د يوه تجارت د ړنګ کېدو په صورت کې، د نورو پور اخيستونکو ترمنځ د لومړيتوب حق تر لاسه کړي.

له ۲۰۰٤ کال را په دېخوا افغان حکومت د خپلو مالي بنسټونو لپاره د ماتې او ورشکستګۍ د قانون د تسويد په بهير کې دی، چې دا قانون هم تر ډېره د امريکا د متحده ايالاتو د ماتې يا ورشکستګۍ پر اصولنامه متکی دی. د ماتې او ورشکستګۍ په قانون کې د تمرکز وړ ټکی دا دی چې کله هم يو شرکت چې مفلس او ماتېږي، د دغه شرکت د دارايي د توزيع لپاره وسايل او لارې چارې رامنځ ته کړي. د داسې يوه قانون تدوين او تصويب د هغه کسانو لپاره چې غواړي نوی تجارت پيل کړي د دې زمينه برابروي چې له دې قانون نه په ګټې اخيستنې سره په پيل کې د خپل تجارت د ړنګ کېدو لګښت له پيله دقيق وڅېړي.

---

**تبصره: په پراخ سيستم د تجارت قانون په پراخ سيستم کې د ماتې يا ورشکستګۍ د قانون ادغام**

*د تجارت او لويو اقتصادونو د قانون لنډيز:* د پروګرامونو د پلي کولو عملي لاربنوود ۲۰۰۷ ز کال د دې لپاره چې د ماتې او ورشکستګۍ قانون عملي بڼه پيدا کړي بايد د هېواد له ټولو حقوقي سيستمونو سره مطابقت او همغږي ولري.

دا چې د ماتې او ورشکستګۍ قانون د اقتصادي موخو او مالي ثبات په تثبيت او د پانګونې د ګواښ له کمولو سره مرسته کولای شي او که نه، تر ډېره د شرکت په مديريت، د قراردادونو په ترسره کولو، د جايداد په قانون او د ضمانتي معاملاتو په قانون پوې اړه لري. د ماتې او ورشکستګۍ قانون او نور ټول تجارتي قوانين يو شمېر ګډې اړتياوې لري چې دلته يې په لنډه د يو شمېر نومونه اخلو: پلي کېدو او انفاذ ته اړتيا، د منقول او غير منقول جايداد د راجستر لپاره باصلاحيته رسيمي بنسټونو ته اړتيا، د پلي کوونکو او ملاتړ کوونکو سالمو بنسټونو شتون لکه محاکم، کارکوونکو، ځانګه والو يا متخصيصينو او مسلکي کسانو ته اړتيا او داسې نور.

په ځانګړي ډول د ضمانتي معاملاتو په قوانينو کې اصلاحات، کولای شي چې د ټولنې د هغو برخو چې په اوس وخت کې د لويو اقتصادي فعاليتونو څخه د باندې دي او له مجبورۍ پر غيرې رسمي پور ورکولو باندې متکي دي، مالي پورونو ته پراختيا ورکړي.

پر دې سربېره د دې لپاره چې د ماتې او ورشکستګۍ قانون په غوره بڼه پلی شي، يوه کړنلاره، د ماتې او ورشکتګۍ سيستم او همدا رنګه يو شمېر بديلو قواعد هم بايد د محاکمو او مربطو ادارو د ظرفيت په پام کې نيولو سره تهيه او تصويب شي.

---

## ۵ – د رسمي پور ورکولو سيستم د غيري رسمي سيستم پر وړاندې

د بېلابېلو اجتماعي، سياسي او تاريخي دلايلو له مخې د افغانستان اقتصادي سيستم يو غير رسمي اقتصادي سيستم دی، له دې امله بنسټونه، شبکې او غير رسمي روابط چې لا هم په دولت کې ثبت او نظيم شوي نه دي د افغانستان پر اقتصاد غلبه او سلطه لري. تر اوسه دغه کتاب تر ډېره د غير رسمي سيستم پر ځای پر رسمي سيستم ټينګار کاوه؛ ځکه رسمي سيستم هغه بنسټ او تهداب دی چې د افغانستان دولت ورباندې جوړ شو دی. له دې سره سره د پورو ورکولو سکتور د ټولنيز ژوند يوه لويه او څرګنده بېلګه ده چې په هغه کې رسمي او غير رسمي سيستم په آسانۍ سره له يو بل نه تفکيک کېدای شي.

**د بحث وړ پوښتنې**

د افغانستان د پرمختګ په حال کې دولت اقتصاد ته په کتو، د ماتې او ورشکستګی د داسې یوه قانون چې په بیړه لیکل شوی وي، ښیګڼه او غوره والی څه دي؟ ماتې او ورشکستګی یو قانون څنګه کولای شي د افغانستان په مالي سیستم کې ثبات او امنیت منځ ته راوړي؟ د ماتې او ورشکستګی یو قانون په افغانستان کې پر بهرنی پانګونې کومې پېش بیني شوې اغېزې کولای شي؟ دغه قانون پر محلي او هېوادنیو پانګونو چې د افغانانو له لوري صورت نیسي کومې اغېزې لرلی شي؟

د رسمي پور مفهوم په ډېره ساده ګی سره د پوهېدو وړ دی چې د یوه ټاکلي سیستم او قانون تر قاعدو لاندې توزیع او بېرته اخیستل کېږي. د رسمي پور ورکونې منابع عبارت دي له بانکونو، غیر دولتي سازمانونه چې واړه پورونه ورکوي اوآن خپله حکومتونه. له بل لوري غیر رسمي پور هغه قرضه ده چې د منظمو رسمي سیستمونو له پولو بیرون اخیستل او ورکول کېږي او دغه ډول پور تر څارنې او نظارت لاندې نه ده. دغه ډول پور او قرضه معمولاً د دوستانو، خپلوانو او هغه کسانو تر منځ چې په ټولنه کې له یو بله سره اړیکه لري اخیستل او ورکول کېږي، د دغه ډول پور له لارې د افغانستان ډېری اوسېدونکي پیسو ته لاس رسی پیدا کوي. د غیري رسمي پور لویه ځانګړنه د انعطاف پذیری لوړه کچه ده، که هغه د ترلاسه کوونکي له لوري وي او یا د ورکوونکي.

په افغانستان کې د غیري رسمي پور د هڅونې یو محرك مذهبي او اخلاقي مکلفیتونه دي چې د اسلام په سپېڅلي دین کې ورباندې امر شوی او هغه د محتاجو کسانو لاس نیوی دی. پر دې سربېره غیر رسمي پورنه تر ډېره د معامله کوونکو ترمنځ پر ټولنیزو اړیکو باندې ولاړې دي او په دې ډول پور کې د ورکړې یا پرداخت شرایط له وړاندې نه تعینېږي او په دغه معاملاتو کې د ورکړې یا پرداخت په برخه کې نیمګړتیاوې هم ډېرې کمې دي. په عمومي ډول د دواړو لورو ترمنځ له ټولنیز یوالي څخه ساتنه او مراقبت د معاملاتو د ذاتي اهمیت په پرتله د دواړو لورو د راتلونکو اړتیاوو د تضمین اهمیت ته ارجحیت او لوړوالی ورکوي.

په پایله کې پور اخیستونکي پور هغه وخت د پور ورکوونکي ته ورکوي، کوم وخت چې یې توان پیدا کړ او پور ورکوونکی هم دغه توافق مني او دا تمه لري چې که په راتلونکي کې د ده هم پیسو ته اړتیا پیدا کېږي نو دی به هم هغه چاته چې پیسې یې ترېنه په پور اخیستي هغه وخت خپل پور وکوي کله یې چې وس پر ورسېږي. په افغانستان کې د قرضې ورکونې په برخه کې یو پراخ باور د بهرنیو خیریه موسسو ترمنځ د دې سبب شو چې په دغه هېواد کې په یو ډول رسمي قرضې واوړي چې د مالي امورو چمتو کولو په نوم د وړو پورونو له لارې چې (Microcredit Financing) په نوم یادېږي تر سره کېږي.

له دې سره سره د هغو کسانو باور چې وایي واړه پورونه د غیري رسمي پورونو ځای ناستي دي یو ډول ساده باور دی. په داسې حال کې چې واړه پورونه په کاري برخه کې د نوښت او خلاقیت د ایجاد په موخه ورکول کېږئ، خو د د هغې څېړنې له مخې چې د افغانستان د څېړنو او ارزیابی د بنسټ له لوري شوې ښیي چې غیر رسمي پورونه تر ډېره د لګښتونو د پوره کولو لپاره وي چې شخصي او فوري دي نه د دې لپاره چې موږ د هېواد د پرمختګ په موخه پر هغې کوم تجارت پیل کړو.[47] غیرې رسمي پورونه چې تر ډېره د ژوند د معمولي لګښتونو او یا د ژوند یو شمېر مهمو پېښنو لکه واده ته د تیارۍ په موخه دي، په کورنی ژوند کې یو لړ مهم رول هم ادا کوي چې ډېری وختونو د درامد تولید له زیاتوالي سره هم هېڅ راز اړیکه نه لري. د یاد بنسټ د څېړونو له مخې داسې نه ښکاري چې د رسمي پورنو په رامنځته کېدو سره دې غیر رسمي پورونه په بشپړ ډول له منځه ولاړ شي.

دویمه مفکوره دا ده چې وایي رسمي پورونه د غیر رسمي پورونو لپاره تر ټولو وړ او مناسب ځای ناستی سیستم دی، دا مفکوره د غیرې رسمي

---

[47]– کلیچ، فلورېټ جی او پین آدم؛ « د پیسو لټون: د افغانستان په بازارو کې د غیر رسمي پورونو تګلاره»، د افغانستان د څېړنې او ارزونې اداره، جون 2007 میلادي کال، ۶ پاڼه.

پورونو يو شمېر ښکېنې چې دغه پورونه یې لري په نظر کې نه نیسي. په دې پورونو کې د خطر نه شتون او دغه پورنو ته لاس رسی د دې ډولو پورنو تر ټولو مهمې ښکېنې دي. په حقیقت کې لکه څرنګه چې تاسې زموږ په مخکیني بحث کې د ضمانتي معاملاتو په اړه ولوستل د پور رسمي سیستم له دې امله چې ضمانت او وثیقي ته اړتیا لري د ټولنې یو زیات شمېر فقیر وګړي چې د دې توکو د برابرولو وړتیا ونه لري او یا هم څمکه نه لري تر ډېره له پور اخیستنې بې برخې کوي.

پر دې سربېره د دغه بنسټ موندنې د هغه مفکورې نیمګړتیاوې او عیبونه ښیي چې وایي د پور رسمي او غیر رسمي سیستمونه په موازې ډول د اړو خلکو د اړتیاوو د پوره کولو په برخه کې خدمت کوي. شته ثبوتونه او اسناد ښیي چې د پور رسمي سیستم په حقیقت کې د پور پر غیري رسمي سیستم طفیلي حیثیت لري. د وړو پورنو اخیستونکي ډېری وختونه د پور وروکوونکو له لوري د د پور ورکولو لپاره د شدید مهال وېش د فشار له مله بېرته غیر رسمي پورونو ته مخه کوي څو د خپلو رسیمي پورونو پر وړاندې خپل مکلفیت ته ځواب و وایي. د دې برعکس چې رسمي پورونه د متقاضیانو پورونه کم کړي، د هغوی پور اخیستنې نورې هم ډېره وي.

**د بحث وړ پوښتنې**

ستاسې په اند کېدای شي په افغانستان کې د پور رسمي او غیرې رسمي سیستمونه سره همغږې کړو؟ تاسې کولای شی په افغاني ټولنه کې په نورو برخو کې هم داسې څه پیدا کړی چې د رسمي او غیرې رسمي سیستمونو تر منځ دومره ضاد موجود وي لکه د پور د سیستمونو تر منځ چې شته؟ هغه ټکي چې دلته مو د دې دواړو سیستمونو په اړه ولوستل د پوراخیستنې د غیرې رسمي سیستم پر وړاندې د رسمي سیستم په اړه ستاسې په تصور کې کوم بدلون راوست او که نه؟ که هو، په کومو لارو او دلایلو؟

# اصطلاحات

**شتمني Asset**

هر هغه ارزښت لرونکي توکو ته چې یو بنسټ یې مالك وي، له هغه ځخه ګټه پورته کړي او یا د تولید لپاره هغه وکاروي، ویل کیږي. دارایي کیدای شي (۱) چې فزیکي او ملموس شیان لکه نغدې پیسې، ماشینونه، د اجناسو موجودي، ځمکه او ودانۍ، او یا (۲) غیر ملموس شیان لکه د خپرول او چاپ حق، سوداګریز نښان او یا سر قفلي وي. هغه دارایي چې د مالکانو د لګښتونو او عاید په صورت [Balance sheet] کې ښکاریږي، په معمولي ډول په هغه آسانه لار چې هر یو یې په نغدو پیسو بدلیدلای شي، درجه بندي کیږي.

**بارتریا جنس په جنس بدلول Barter**

هغه معاملې او سوداګرۍ ته ویل کیږي چې د نغدو پیسو له ګټه اخستو پرته په خدماتو او توکو کې معاوضه کیدلای شي.

**ارزښت لرونکې پاڼې Bonds**

هغه لیکلې او لاسلیك شوې ژمنې ته ویل کیږي چې په ټاکلي وخت کې د یوې معلومې اندازې د پرې کولو او یا هم د یوه معلوم او ځانګړي شرط د اجرا کولو لپار کارول کیږي. ټولو مستند قراردادونه او د پور موافقه لیکونه د باارزښته پاڼو لرونکي دي.

**د پانګونې مارکیټونهCapital markets**

هغه مالي مارکیټونه چې د پانګې د عرضې او تقاضا د یوه مرکز او ځای په توګه فعالیت کوي، د پانګې د مارکیټ په نوم یادیږي. په دغه ځای کې هغه پیسې چې د بانکونو (عرضه کوونکو) له لارې پور اخستونکو (تقاضا کوونکو) ته ورکول کیږي، د یو لړ تضمیناتو ( باارزښته پاڼې، برخې) له لارې نقل کیږي.

**پولي اعتبارCredit**

د داسې یوه قرداد اقدام دی چې له مخې یې پور ورکوونکي خپل توکي، خدمتونه او یا پیسې د بدهکارۍ یا قرض د وعدې په بدل کې چې په راتلوکي کې د قرضدار له لور ورکول کیږي تبدیلوي.

**طلبکار یا پور ورکوونکيCreditor**

هغه بنسټ او یا کس ته ویل کیږي چې داین وي. هغه بنسټونو چې د مدیونینو لپاره، د بیاورکړې د ژمنې په بدل کې، پورونه برابروي.

**انفلاسیونInflation**

د کال یا میاشتې په اوږدو کې د عمومي نرخونو زیادت چې د پولي واحد د ارزښت د کمیدلو او ټیټیدلو سره مل وي.

**د ګټې/سود نرخونه Interest rates**

د پور هغه لګښت چې په کال کې د سلو له مخې پر اصلي پانګه یا سرمایه حسابیږي ګټه یا سود بلل کیږي. سوداګریز یا تجارتي بانکونه عموما پر هغه پیسو چې قرض یې ورکړې د ګټې یا سود نر ټاکي او د هېواد مرکزي بانك هم کولای شي د خپلې ګټې نرخ تعین کړي. په عمومي ډول د سود یا ګټې نرخونه د انفلاسیون، پور یا قرض ته د ډېر غوښتنې یا تقضا له امله، د پیسو د توزیع پر وخت د سختو شرایطو او په بانکونو کې له حد نه د ډېرو پیسو د ذخیرو پر مهال رامنځته کیږي. د سود یا ګټې د نرخونو لوړوالی د تجارتي فعالیتونو د ورو والي سبب کیږي، ځکه چې په داسې حالت کې د پور قیمت لوړیږي.

**د نغدېې یا ( سیالیټ) نه شتون Illiquidity**

د تعریف لپاره نغدیې ته مراجعه وکړئ.

**ماتې ( افلاس) Insolvency**

د تعریف لپاره(( د پورونونو د ورکړې وړتیا یا توانایي پرداخت بدهي)) ( Solvency) ته مراجعه وکړئ.

**د نغدیې جوړونه Liquidation**

هغه پروسه ده چې له مخې یې یو شرکت د خپلو پورونو د ورکړې په موخه خپله دارایې یا پانګه پلوري. د نغدیې جوړنې بهیر یا د ونډوالو له خوا پیلېږي او یا هم د محکمې له اجازې وروسته د غوښتونکو یا پورورکوونکو له خوا پیلېږي.

**نغدیه Liquidity**

په شرکت کې د یوه اندازه نغدو پیسو شتون چې د شرکت لنډ مهالو او فوري مالي مکلفیتونو ته ځواب ووایي. د نغدیې نه شتون له هغه ستونزې څخه عبارت ده چې یو حقوقي بنسټ نه شي کولای خپله پانګه په نغدو پیسو بدله کړي او نه شي کولای چې خپل پولي مکلفیتونو او اړتیاوې پوره کړي.

**څنډیز لګښتونه یا حاشیه اي لګښتونه Marginal cost**

د تولید په لګښتونو کې د زیاتوالی یا کموالی چې د یوه واحد اضافي قلم د تولید او جوړېدو له امله رامنځته کېږي.

**ضمانتونه Securities**

د پانګې یا سرمایه ګذارۍ هغه وسیلې دي چې مالي بازار ته روړل کېږي او خرڅېږي لکه ارزښت لرونکې پاڼې اوونډې.

**د پور یا بدهی د ورکړې وړتیا Solvency**

مالي سلامتي یوه بنسټ ته اجازه ورکوي چې په ټاکلي وخت خپل مالي ملکلفیتون ترسره او پوره کړي. افلاس هغه نا تواني ده چې یو بسنټ په ټاکلي وخت د خپلو مالي ملکفیتونو د ترسره کولو وړتیا و نه لري.

**سهام/شتون Stock**

دا اصطلاح په ونډو (( Shares)) هم مشهوره ده. سهام د یوه بنسټ د مالکیت له ثبتونو او اسنادو څخه عبارت دي چې د یوه شرکت سره د تړاو یا د شرکت د سرمایې استازیتوب کوي.
د ونډو لرونکي مستحق دي چې د شرکت له ګټو د مساوي برخې غوښتونکي شي او له همدې امله د شرکت د زیانونو او پورونو پر وړاندې هم مساوي مکلفیتونه لري.

**د ونډو بازار Stock exchange**

له هغه منظم او قانوني مارکېټ څخه عبارت دی چې په هغه کې ضمانتونه، لکه ( ارزښت لرونکې پاڼې، سهام او.... ) د عرضې او تقاضا د پیاوړتیا له امله په راتلونکي کې رامنځته کېږي پلورل کېږي.
د ونډو بازار عموما په دوه ډوله خدمت کوي:
(۱) د لومړیو بازارونو په توګه چې په هغه کې سهامي شرکتونه، حکومتونه، ښاروالی، او شرکتي بنسټونه کولای د پس اندازونو د انقال او جاري کولو له لارې په خطر لرونکو معاملاتو کې سرمایه تر لاسه کړي.
(۲) دویم ثانوي مارکېټونه چې په هغو کې پانګوال خپل مالي ضمانتونه په نور پانګوالو د نغدو پیسو په بدل کې پلوري، او په دې ترتیب سره د خپلې پانګونې د خطر په کمولو سره په خپل مالي سیستم کې د اړتیا وړ نغدیه ( سیالیت) ساتي.

## مأخذونه او سرچینې


تارنما او یا د افغانستان د بانک لرونکو ویب پاڼه چې په لاندې پته د لاسرسي او موندلو وړ ده:
http://www.aba.org.af/about.asp.

د افغانستان د بانکدارۍ او اسعارو ویب پاڼه چې په لاندې پته د لاسرسي او میندلو وړ ده:
http://www.afghanistans.com/Information/Economy/CurrencyBanking.htm

آسیایي پراختیایي بانک؛ د افغانستان اسلامي جمهوریت ته د آسیایي پراختیا د مالي وجوهو ورکړې: د خصوصي سکتور او مالي مارکیټ د پراختیا پروګرام؛ د خپریدلو نیټه: د ۲۰۰۶ ز کال، نوومبر. په لاندې پته موندل کیږي:
http://www.adb.org/Documents/RRPs/AFG/37393-AFG-RRP.pdf.

سهامي شرکت برونز الن هامیلتون؛ د وړو اقتصادونو او سوداګریو د قانون اصلاحات: د برنامې د پلي کېدو لپاره د عملي لارښوود مسوده، په لاندې پته یې موندلای شی:
http://www.bizlawreform.com/CLIRTechPub-r2b.pdf.

سهامي شرکت ان هامیلتون؛ افغانستان د تګلارې لپاره اجنډا: د سوداګرۍ او معاملاتو د چاپیریال پراختیا. په لاندې پته ورته لاسرسی کولای شی:
http://afghanistan.usaid.gov/en/Article.172.aspx.

د افغانستان بانک قانون. چې په لاندې پته یې موندلای شی:
http://www.centralbank.gov.af/pdf/7Latest%20approved%20DAB%20law%20English%20ver%20%20Dec.pdf.

کی لین، فلورت ژی و پین آدم؛ د پیسو پیدا کول: د افغانستان په لرې پرتو سیمو کې د غیر رسمي پورونو لارې چارې، د افغانستان د څیړنې او ارزونې واحد (AREU)، د خپریدلو نیټه: ۲۰۰۷ ز کال، جون.

دوید، کروګر؛ په افغانستان کې بانکداري: د انور الحق احدي سره مرکه، د آسیایي پراختیاي بانک څیړنه، ۳۵ ګڼه، ۲۰۰۳ ز کال چې په لاندې پته یې تر لاسه کولای شی:
http://www.adb.org/Documents/Periodicals/ADB_Review/2003/vol35_5/interview.asp.

په افغانستان کې د بانکدارۍ قانون، په افغانستان کې د قانکدارۍ د قانون موقته ژباړه، د ډیسمبر ۱۴، ۲۰۰۳ ز کال چې په لاندې پته یې تر لاسه کولای شی:
http://www.centralbank.gov.af/pdf/6Banking%20Law%20_english%20Version_%20Final_Dec_.pdf.

یی ترسن، انا و بلی وت جمیز؛ د چارو سم او ناسم ترتیب؟: په افغانستان کې اقتصادي اصلاحات او خصوصي جوړونه؛ د افغانستان د څیړنو او ارزونو واحد (AREU)، نوومبر، ۲۰۰۶ ز کال

روز، پی ترسن، مارکویز، اچ. میلتون؛ د پانګې او پیسو مارکیټونه: په نړیوال مارکیټ کې مالي بنسټونه او دستاویزونه؛ نیویارک، د مک ګراو خپرونه- هیل آروین، د خپریدلو نیټه: 2006 ز کال

نړیوال بانک او نړیوال مالي شرکت؛ په ۲۰۰۹ ز کال کې سوداګریزې چارې: د افغانستان تاریخچه؛ واشنګتن دی. سی؛ د نړیوال بانک چاپتون، د خپریدلو نیټه: ۲۰۰۸ ز کال.